


# د علي قدر ډاکټر حنیف خلیل صېب فیسبوکي لیکنې ــــ

راټولونکی : مظلومیار محسودي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يو كلام دوه شاعران--- دوه قلندران-- دوه مومندان**

**هر قلندر ته سكندر د مچ وزر ښكاري**
**نادانه تهٔ د لېونو هوښياري څهٔ پېژنې**

**دا د قلندر ملنګ د بډه بېر مشهور شعر دے چې خلق ئې د متل په حېثيت وائي دا يوه مصرعه خو بالكل متل جوړ شوے دے چې (هر قلندر ته سكندر د مچ وزر ښكاري)**
**زما مقصد دا دے چې قلندر ملنګ په عام اولس كښې ډېر مقبوليت لري، ډېر شهرت لري، ډېر مشهور دے او شاعري ئې اولس ته رسېدلي ده خو په علمي طبقه كښې هغسې مقبوليت نه لري زهٔ په دې موقع يو خبره بله هم كول غواړم چې مونږ سره په پښتو ادب كښې د قلندر په نامه ډېر شاعران او ليكوالان تېر شوي دي. يو قلندر په كلاسيكي دور كښې د پښتو يو ډېر اهم او ډېر لوے شاعر تېر شوے دے چې خوشحال بابا هم ستاييلے دی - يو قلندر چې د ميرا سره د هغهٔ واقعات مشهور دي د هغهٔ د مينې داستانونه مشهور دي نو د ميرا او قلندر په نامه باندې يادېږي. دا يو بل قلندر دے. د دغه كلاسيكي دور نه پسته هم د قلندر په نامه باندې ځيني شاعران را روان وو. خو زمونږ په شلمه صدئ كښې دوه قلندران زيات مشهور دي او زيات اهم هم دي. او اتفاق دا دے چې دواړه د مومندو قبيلې سره تعلق لري. البته يو قلندر ځان سره مومند ليكي او بل قلندر ئې نهٔ ليكي، سلطان محمود قلندر د بډه بيرې ځان سره مومند نهٔ ليكي هغه سلطان محمود قلندر دے او په ملنګ مشهور دے. او يو قلندر قلندر مومند، صاحبزاده حبيب الرحمان ئې خپل نوم دے. د بازيدخېلو د مومندو تپې ډېر لوے نوم دے. نو هغه ځان سره ليكي قلندر مومند، دا دواړه قلندران بيل بيل قلندران دي او دواړه د مومندو قبيلې سره تعلق لرونكي قلندران دي. د دواړو ذكر مې ځكه ضروري اوګڼلو چې زمونږ په ادبي حلقو كښې كله كله دواړه قلندرانو كلام يو بل سره ګډ وډېږي. د قلندر مومند شاعري چې خلق اوري نو د ډېرو ګمان دا كېږي چې دا به د قلندر مومند شاعري وي او كه دا به د سلطان محمود قلندر شاعري وي او چې د سلطان محمود قلندر شاعري وي نو ډېرو ګمان دا كېږي چې دا به د قلندر مومند شاعري وي. خو دواړه بيل بيل شاعران دي. دواړه مومندان دي- د دواړو خپل خپل انداز دے، خپل كتابونه ئې دي، خپله شاعري ئې ده، البته يوه مسئله شته چې ځيني كلامونه ئې متنازعه دي، او بيا تر دې حده متنازعه دي چې د قلندر مومند په كتاب كښې هم شته او د قلندر ملنګ په كتاب كښې هم شته. اوس دا فېصله ګرانه ده چې دا كلامونه وړومبے كوم قلندر ليكلي دي. او اصلي شاعر يې كوم قلندر دے- يو داسې كلام تاسو ته وړاندې كوم چې هغه كلام د قلندر مومند هم ګڼلے شي او د قلندر ملنګ هم ګڼلے شي. د دواړو په نوم باندې مشهور دے. فېصله به لوستونكي كوي كلام دے چې:**

**ستا له دره چې په بل لوري قدم ږدم**
**ګويا هر قدم په لور د جهنم ږدم**
**زهٔ چې شونډې په سرو شونډو د ګلفم ږدم**
**د حيات په چينه باندې جام د جم ږدم**
**پيچ د زلفو دے كه خم د نرو شونډو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سر کشه سر په دغه پیچ و خم ړدم
په اوربل کښې دې د ګل د پاسه ګل ړده
زخمي زړۀ کښې به د غم د پاسه غم ړدم
قلندره چې په دار هم سر بلند وۀ
هغه سر به اوس په پښو کښې د صنم ړدم

دا کلام د سلطان محمود قلندر صبب په کلیات کښې چاپ دے، او یوه حلقه دا کلام د قلندر ملنګ ګڼي- زمونږ لوستونکي او زمونږ د پښتو ادب سره علاقه لرونکي چې څومره خلق دي، څومره حلقې دي زیات دا شعر د قلندر مومند ګڼي - د قلندر مومند په کتاب رڼائي کښې په ۲۴..۲۵ مخونو چاپ هم دے او اسلوب یې هم د قلندر مومند دے- ما دا غزل د سلطان محمود قلندر ملنګ د کلیات نه رانقل کړو - د دې مطلب دا دے چې د دې څه ریکارډ او پس منظر به د سلطان محمود قلندر ملنګ د خاندان سره ضرور وي - د هغۀ په ډائرو کښې د هغۀ په کاپۍ کښې د هغۀ د شاعرۍ په مجموعه کښې یا قلمي مسوده کښې به دا کلام وي نو په دې وجه د قلندر مومند ګڼل ئې غور غواړي- هر څو که زه پخپله هم په کوم باوري سند دا فیصله نه شم کولے چې د دې کلام اصلي شاعر څوک دے-- او داسې کول نه غواړم چې د قلندر ملنګ مریدان ووایي چې د قلندر ملنګ دی او د قلندر مومند مریدان ووایي چې د قلندر مومند دے-- سکوته کره او ثابته فیصله یې پکار ده ځکه چې دواړه د خپل خپل اسلوب او مزاج اهم شاعران دي-- قلندر ملنګ مشر او قلندر مومند کشر دے-

---

د تخلص هنري راوړنه او کاکاجي صنوبر

کاکاجي صنوبر حسین مومند په پښتو کښې د دیارلسو کتابونو لیکونکی دی چې څه چاپ او څه ناچاپ دي-- هغه د کمال شاعر هم وو خو نن هم ډیر خلق تر دې چې زمونږ دانشوره طبقه هم د هغه په ادبي خدماتو او قد قامت ناخبره ده او یا چپ ده--بغیر د څو کسانو-
د کاکاجي دغه شاهکار غزل نن هم څوک د خوشحال بابا ګڼي او څوک یې د غني خان ګڼي چې-

د ملا په نصیحت به څوک غوږ کیږدي
تر ممبره چې چغار ستا د پښو ځي
چې کوم ځاې کښې د زمرو نوکي رژیږي
عاشقان هلته په څوکو د ښو ځي
او دغسې د دې غزل نور شعرونه هم د کمال دي- خو په شاعرۍ کښې د کاکاجي لوې کمال دا هم وو چې د تخلص هنري راوړنه په باقاعده ډول د کاکاجي نه راشروع کیږي-- خاطر اپریدی یې پالنه کوي او بیا نور شاعران هم په دغه لاره تګ کوي- کاکاجي ته خو لږ فکر وکړئ چې د خپلې سیمې د باړې سیند په غاړو ابادو کلو باندو کښې د خپل کلي --کړې ولې-- ذکر څنګه کوي-- د ولو یا نهرونو په غاړو چې د سروې صنوبر ونې زرغونیږي نو کاکاجي ورسره د خپل ذات او شخصیت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونې سره خپل تخلص او خپل کلي --کړې ولې-- او باړې سیند او دغه باړې نه راوتو ولو ذکر څومره په شاعرانه مهارت کوي چې وايي-

یو سروه صنوبر یې هم په غاړه زرغون نه شو
راوتې له باړې خو نورې هم کړې ولې دي-
او بیا کاکاجي چې د پیرنګي سامراج خلاف په هر حال کښې نیغ ولاړ وو لکه د سروې صنوبر ونه چې په هر حال کښې نیغه ولاړه وي تر دې چې په خزان کښې هم دغه د صنوبر ونه تروتازه او ایغه نیغه وي- سر یې لکه د نور خزان زېلو ونو راټیټېږي نه- نو دغه تناظر کاکاجي په شعر کښې څنګه بیانوي-- غور ورته وکړئ-

چې یې چړې سر خزان وته ټیټ نه شو
په رښتیا پرې ادې نوم صنوبر کیښود
دغه کاکاجي که د خپل بنیادي هدف یعني سیاسي او عملي مبارزې نه لږ وخت غزل لیکلو ته هم ورکړی وی نو اندازه وکړئ چې د کوم لوړ معیار شاعر به وو--- دا خو دې د اروابناد دوست محمد خان کامل او حمزه بابا چار بنه وي چې د هغو په تحریک کاکاجي دغه څو غزلې لیکلې دي او هر څو که دواړه ترې کشران وو خو بیا هم د یو صادق انسان غوندې یې اعتراف هم کړی دی چې-

تا خو صنوبره هیڅ غزل نه وې
دا خو د کامل او حمزه چارې دي
روح یې بناد--- راځئ چې شاعر صنوبر هم دریافت کړو-

---

شاید زما د فیسبک ملګرو زما دا لیکنه نه وي لوستې چې پخپله سلیم راز صاحب هم پرې ډېر خوشحاله وو- لیکنه لږه اوږده ده بخښنه غواړم-

تنقیدي کربښې ـــ پښتو تنقید او سلیم راز

په جنورې ۱۹۹۹ کښې د تنقیدي کربښې په چاپ کولو ښاغلي سلیم راز د پښتو تنقید د یوې اوږدې مودې په جمود یو درونډ ګوذار کړے وۀ ـ دغه تنقیدي اثر په کال نومبر ۲۰۰۰ کښې په دوېم ځل او د پښتو تنقید سره تړلي دانشوره طبقه کښې د دې کتاب د ضرورت او اهمیت د احساس په نتیجه کښې اوس په درېم ځل چاپ کېږي ـ له هر څخه نه وړاندې زۀ د خپل درونډ او قدرمند مشر سلیم راز صاحب د دې پېرزونې ، مینې او اعتماد منت بار یم چې د تنقیدي کربښې درېم چاپ له پاره د سریزې ، یا تنقیدي رائې لیکلو اعزاز ئې ماته راکړو او په ډېر درناوي ئې ماته موقع راکړه چې زۀ د تنقید او په خصوصي توګه پښتو تنقید په حقله د دومره اهم کتاب په حقله خپله رائې څرګنده کړم ـ د تنقیدي کربښې په یوه یوه کربښه کښې پوره یو جهان پروت دے ـ یوه نظریه، یوه فلسفه ، یو فکر، یو معنوي نظام ، یو علمي او ادبي پس منظر ، یو تاریخ ، یو تهذیب او ټولنه ، یو ارتقائي صورت حال ، د فن یو جهان د سماجي شعور یو تحریک ، د ټولنیزو علومو یو منظر نامه او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر اړخونه د دې کربښو په معنوي تل کښې څرګونه وهي ـ ځکه دا کربښې راسپړدل غواړي او د دې کربښو معنويت ، افاديت او اهميت د پښتو تنقيدي ، علمي او ادبي حلقو ته په لا زيات صراحت سره جوتول او رسول غواړي ـ په ورومبي نظر خو دا کربښې د څو چوڼ کړے شوو پښتنو شاعرانو او دانشورانو د ذات ، فکر، نظرياتي اساس تخليقي زور ، فني کمال او هنري صلاحيتونو يوه تنقيدي جائزه ښکاري ـ خو خبره دومره ساده او اسانه هم نهٔ ده ـ ځکه زهٔ د سليم راز صاحب د دې تنقيدي کربښو اصلي او بنيادي هدف ته د راتللو نه مخکښې ځنو هغو محرکاتو ته اشاره کول غواړم چې د دې کربښو پس منظر کښې ئې وضاحت ضروري دے او د دې کربښو په تفهيم کښې زمونږ مرسته کولے شي ـ

دا خبره فطري علومو (Natural sciences) هم جوته کړې ده او سماجي علومو (Social Sciences) هم چې ټولنه ، دا زمکه زمونږ شمسي نظام ، دا وېر کائنات او په کائنات کښې هره ذره د ارتقاء او حرکت سره مخ دي ـ په کائنات کښې جامد هېڅ هم نشته ، نهٔ ماده ، نهٔ خيالات او نظريات او نهٔ د کائنات لوې او واړهٔ عناصر هر څهٔ ، په هره لمحه حرکت کوي او ارتقائي مرحلو نه تېرېږي ، بلکې مخ په وړاندې ځي ، پراخېږي او وسعت مومي ـ د طبيعاتو (Physics) ماهرانو د دې کائناتو د ګېسونو د مرحلو نه د توانائۍ او مادي بدلون د ارتقاء او وسعت کوم سفر جوت کړے دے ، نن مونږ د دغه سفر په نتيجه کښې د کائناتو په يوه انتهائي وړه او معمولي ذره يعني زمکه باندې ژوند کوو چې زمونږه د شمسي نظام برخه ده او شمسي نظام پخپله د ملکي وے (Milkyway) کهکشان د (ستورو انجمن) برخه ده او دغسې دغه ملکي وے (Milkyway) کهکشان د نورو غټو کهکشانونو برخه ده چې شمېره ئې د کروړونو او اربونو نه هم زياته ده ـ اوس غور وکړئ چې دغه هر څهٔ په هره لمحه حرکت هم کوي او وسعت هم مومي، نو زمونږ په زمکه ، ژوند ، نظام ، تهذيب ، خيالات ، فکر، فن او شاعري به څنګه جامد پاتې کيږي ـ د دې هر څهٔ حرکت ، ارتقاء او وسعت د يو خاص فطري قانون ترمخه روان دي او دغه فطري قوانين د کائنات په هره ذره خپل اثر لري ـ په دغو فطري قوانينو کښې يو بنيادي قانون دا دے چې دغه حرکت او ارتقاء د منفي او مثبت د تصادم نتيجه ده ـ دغه د منفي او مثبت تصادم په ماده کښې هم دے ، توانائی کښی هم ، د ژوند په ټول مرتب نظام کښې هم ، خيالاتو او تصوراتو کښې هم او دغسې د ټولنې په تهذيبي ارتقاء ، فني او جمالياتي سفر کښې هم ـ دا مونږ چې څهٔ وينو او محسوسو ئې د دې هر څهٔ ابتداء د توانائۍ د صفر نکتې نه شوې ده ـ د طبيعاتو عالمانو جوته کړې ده چې د کائنات ماده کهٔ په توانائۍ کښې بدله شي او توانائي په برقي چپو کښې بدله شي نو پوره نيمه توانائي به منفي وي او پوره نيمه به مثبت ـ دغسې بنيادي اکائي به ئې صفر وي ـ د هم دغه صفر د اکائۍ نه د منفي او مثبت تصادم دَ دې مادي نظام او وېر کائنات ابتدا کړې ده او دغسې په هره لمحه د ارتقاء په صورت کښې وسعت مومي ـ د علامه اقبال په قول :

په کائنات ابھی ناتمام ہے شايد
که آ رہی ہے دما دم صدائے کن فيکون

دغسې ارتقاء او وسعت په موجوده لمحه کښې مونږ ته د فطري او سماجي علومو ډېر رازونه پرانستي دي چې نن هم مونږ په دغو علومو د هم دغو فطري قوانينو په رڼا کښې غور کوو او په دې زمکه هم د سماجي ارتقاء ، تهذيبي سفر ، او فني ، جمالياتي او شعوري سفر برخه يو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فطري او ټولنيز علوم د هم دغه ارتقاء او وسعت مطالعه کوي چې په ټولنيزو علومو کښې بيا يوه ځانګه د ژوند د مسلسل حرکت تغير ، ارتقاء او وسعت مطالعه د فنونو او په خصوصي توګه د لطيفو فنونو په واسطه کوي ـ په دې توګه د فطري علومو رشته د سماجي علومو سره او دَ سماجي علومو رشته د فنون لطيفه سره تړلے شي ـ دغسې د فطري علومو ، سماجي علومو او فنون لطيفه د دغه تکون مرکز او محور انسان او انساني ټولنه جوړيږي ـ هسې خو ټول لطيف فنونه (Fine Arts) لکه مصوري ، سنګ تراشي ، موسيقي ، رقص ، وغېره د انسان او انساني ټولنې نه چاپېره چورلي او ټول لطيف فنونه د حسن او صداقت ترجماني کوي ـ خو هر کله چې شعر او ادب هم د دغو لطيفو فنونو برخه ده او د ټولو نه موثره ذريعه او وسيله ده نو ځکه مونږ په فنون لطيفه کښې هم شعر او ادب ته زياته پاملرنه کوو او د شعر و ادب سره تړلي شخصيات او هنرمند د ټولنې انتهائي اهم ، حساس او د تخيل ، تصور ، جذبې او احساس بهترين استاذي او نمائنده ګڼو ـ د فنون لطيفه په حواله چې مونږ په خصوصيت سره د حسن او صداقت په لور کومه اشاره وکړه دا پخپله يو اوږد تفصيل او وضاحت غواړي چې په راروان بحث کښې به ئې په خپله موقع وضاحت وشي ـ دلته په فنون لطيفه کښې د شعر او ادب په لور توجه کول غواړم چې خبره د سماجي بدلون ، ارتقاء او حسن و جمال د فنکارانه عکاسۍ په لور راشي او په دغه ترجمانۍ کښې د شعر او ادب د کردار څرګندونه وشي ـ

په لطيفو فنونو کښې چې کله مونږ د ادب د کردار خبره کوو نو له هر څۀ اول زمونږ توجه د ادب او نظرئيې په لور راځي ـ د نظرياتي اساس نه بغېر د دنيا يو عمل هم مخ په وړاندې نۀ شي تلے ـ دا وير کائنات پخپله د يوې منصوبې ، سکيم يا پلان (Plan) نتيجه ده ـ هم دغسې د هر عمل په منظر کښې يو سوچ ، فکر يا منصوبه محرکه وي چې مونږ ورته نظرياتي اساس وايو هر سوچ ، فکر يا نظريه د اظهار نه پس د عمل شکل اخلي ـ همدغه قانون د ادب هم دے او د نورو علومو او فنونو هم په ادب کښې د نظرياتي اساس اظهار پخپله د شخصيت اظهار وي ـ يعني په مجموعي توګه خو داسې وئيلی کېدے شي چې ادب د شخصيت د سوچ ، کردار او ذات د اظهار يوه فني رويه وي چې د مختلفو ادبي صنفونو په شکل ئې څرګندونه کېدے شي بلکې د مغربي دانشور بفن (Baffon) په قول اسلوب پخپله شخصيت وي يعني (Style is the man itself) خو په خصوصي توګه مونږ دا وئيلی شو چې ادب د شخصيت د مرکزي او بنيادي تصور او نظرياتي اساس ترجمان دي ـ ګويا ادب د شخصيت او ذات د اظهار او بيا د شخصيت د نظرياتي اساس او تصور نه بغېر هېڅ هم نه وي ـ

هر کله چې خبره د ادب او شخصيت راغله نو مونږ ته دا هم پته ده چې د شخصيت يا فرد د ټولنې نه بغير تصور نۀ شي کېدے يعني فرد او ټولنه يو بل سره لازم او ملزوم دي ـ ټولنه په افرادو جوړيږي او افراد د ټولنې شناخت وي ـ په دې توګه په ادب کښې چې د شخصيت د اظهار خبره کېږي نو ګويا چې په ادب کښې د يو اجتماعي ټولنيز شعور د اظهار خبره کېږي ـ د هم دغه اجتماعي ټولنيز شعور د اظهار نه د سماجي علومو (Social Sciences) دوه غټې ځانګې وجود مومي چې مونږ ورته نفسيات ( Psychology) او عمرانيات ( Sociology) وايو ـ ګويا په دې طريقه ، ادب شخصيت او معاشره په يو ځاې د يو بل سره تړلي روان وي ـ

نفسيات او سماجيات هسې خو دوه بېل بېل سماجي علوم ښکاري چې يو د انسان د داخلي جهان مطالعه کوي يعني انساني شعور او لاشعور ، جذبات او احساسات ، فکر او نظريه وغېره د انسان داخلي دنيا سره تعلق لري او دويم سماجي علم سماجيات يا عمرانيات د انسان د خارجي دنيا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطالعي نوم دے ـ چې پکښې د ټولنې او سماج د مختلفو اړخونو يعنې سياسي او سماجي شعور ، د ژوند کړۀ وړۀ او کلتور ، تهذيب او تمدن وغيره ـ ادب د دغو دواړو سماجي علومو هنداره وي او دغه دواړه سماجي علوم په خپلو کښې هم يو بل نه بيل او جدا نۀ شي پاتې کېدے ځکه چې د فرد ذات او داخلي جهان د ټولنې او خارجي عواملو نه اثر اخلي او دغسې د يو فرد د ذاتي او داخلي دنيا نه علاوه د يوې ټولنې ، قام او ملت اجتماعي نفسيات هم وي چې تعلق ئې نېغ په نېغه د ټولنې او سماج سره وي هم دغه رنګ د يوې ټولنې ، قام او ملت د نفسياتو سماجي او کلتوري مطالعه هم کېدلے شي ـ په دې توګه ځنګه چې فرد او معاشره د يو بل نه بېلېدے نۀ شي دغه رنګ نفسيات او سماجيات يا په نورو ټکو کښې د انسان داخلي او خارجي جهان هم د يو بل نه بېلېدے نۀ شي او خبره چې ادب ته راشي نو ادب بيا د دغو دواړو اړخونو د ترجمانۍ وظيفه په داسې انداز تر سره کوي چې فني او جمالياتي اړخ هم ځرګند شي او د ټولنيز شعور او اجتماعي نفسياتو محرکات هم مخې ته راشي ـ د دغو داخلي او خارجي جهانونو د ترجمانۍ او مطالعې په وخت د سماجي علومو ځنې نور اړخونه هم مخې ته راځي لکه سياسيات ، مذهبيات ، اقتصاديات ، اخلاقيات وغيره ـ هر کله چې ادب د دغو ټولو اړخونو ترجمان دے نو ګويا چې ادب د ټول ژوند ترجمان دے ـ نۀ يواځې ترجمان بلکې په ژوند کښې د ښائست حسن و جمال ، تهذيب او تمدن ، ټولنيز شعور کلتوري ارتقاء د ترجمانۍ وظيفه هم ادب ترسره کوي او په هم دغه تناظر کښې د مغربي دانشور او اديب مېهټيو آرنلډ دا قول د غور ور جوړيږي چې ونيلي ئې وۀ چې:

"Literature is the criticism of life"

يعنې ادب د ژوند تنقيد دے ـ ځکه چې ادب د ژوند ټولې بدرنګۍ ختمول غواړي ، ژوند کښې د حسن و جمال اضافه کول غواړي ـ ژوند کښې د جمود خاتمه او مسلسل حرکت ، حرارت ، ولوله او پرمختګ غواړي ـ په ژوند او معاشره کښې تهذيب او اخلاقي اقدارو ته وده ورکول غواړي ـ ژوند کښې پريوتې طبقې راپورته کول غواړي او د يو ترقي پسند تصور په نتيجه کښې د يوې مهذبې ، خوشحاله ، پرامن او ترقي يافته معاشرې قيام غواړي ، دا هر څۀ د ادب وظيفه ده خو ورسره دا هم ياد سائل پکار دي چې ادب دا وظيفه هله تر سره کولے شي چې يو صحت مند او مثبت تنقيدي شعور وده موندلې وي ـ ځکه چې ادب ترجماني خو کوي خو د دغه ترجمانۍ په وخت د ارتقائي او صحت مند شعور وظيفه تنقيد تر سره کوي ـ په ټولنه کښې کۀ تنقيدي شعور نۀ وي نو ټولنيز اقدار به د جمود ښکار کيږي ـ د تهذيب د ارتقاء لړۍ به په ځائے ودريږي د حسن وجمال تصور به له مينځه ځي ـ ګوپا کۀ په ټولنه کښې تنقيدي عمل نۀ وي نو نن به دا انساني معاشره هم نۀ وه ـ نۀ به دا ارتقائي شعور وۀ او نۀ دا تهذيب او اخلاقي معيار ـ د

تنقيدي شعور د عدم موجودګۍ په صورت کښې به نن هم انسان د هم هغه حيواني خصلتونو نمائنده او د غارونو او ځنګلونو باشنده وۀ ـ مطلب دا چې مونږ د کائناتي ارتقاء کومه خبره شروع کړې وه هغه مو تر معاشرتي ارتقاء را ورسوله ـ ځنګه چې کائناتي ارتقاء د فطري قوانينو ترمخه کيږي دغسې معاشرتي ارتقاء هم د سماجي قوانينو او د تهذيبي اقدارو د فطري بدلون سره تعلق لري ـ د ټولنې او تهذيب د بدلون ، حرکت او حرارت قوانين مثبتې نتيجې په هغه وخت ځرګندوي چې په ټولنه کښې تنقيدي تصور وجود لري ـ د هم دغه تنقيدي تصور په وجه ادب هم د ټولنيزو اقدارو نمائندګي په داسې انداز کښې کوي چې د انساني ټولنې د تهذيب په لور پرمختګ سره سره ادبي رجحانات ، موضوعات او بنيادي محرکات هم پرمختګ کوي . په دغه پس منظر کښې د ټولنې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د شخصیت ، ادب او تنقید درې ګوټیزې دائرې په هره لحظه او هره زمانه کښې په نوو نوو شکلونو نمود کوي ـ

د ادب په حقله مباحثو کښې د تصوراتي ادب او مقصدي ادب خبره کیږي یا د رومانوي دبستان او حقیقت پسندو دبستان بحثونه کیږي ـ دغسې په تنقیدي مباحثو کښې هم دا سوال همېشه سر پورته کوي چې تنقید علم دے کهٔ فن ؟تنقید سماجي سائنس دے او کهٔ تاثراتي رویه ؟ تنقید د متعین اصولو پامته دار دے کهٔ نه تنقید یو تخلیقي عمل دے ؟ کله چې مونږ په دغو پوښتنو غور راز

کوؤ نو دې نتیجې ته رسو چې تنقید د دغو دواړو اړخونو نمائندګي کوي ـ د تنقید مختلف دبستانونه مونږ ته دا ښائي چې دا د یو سماجي سائنس په شکل هم مخې ته راځي او د یو تخلیقي عمل په شکل هم ـ تنقید خپل اصول او ضوابط هم لري او د یوې نوې تهذیبي او ارتقائي فضا تخلیق هم کوي . په دغو دواړو روئیو کښې مشترکه خبره دا ده چې تنقید په هر صورت او هر شکل کښې د فرد او معاشرې په بدلون ، ارتقاء او د ټولنې په اخلاقي ، تهذیبي ، فني او جمالیاتي اقدارو کښې دَ بنیادي محرک حېثیت لري ـ ادب او تنقید په عمومي توګه خو یو عظیم مقصد لري خو کهٔ ادب او تنقید محض د انساني مسرت ، خوشحالئ ذوق او داخلي جهان د تسکین سبب هم جوړ شي نو دا پخپله د یو اهم مقصد د تکمیل په لور قدم دے ـ خو کله چې تنقید د ادب رخ د ټولنیز شعور د ودې او انساني اخلاقي معیار ، سیاسي او سماجي بدلون ، اقتصادي او طبقاتي خوشحالئ په لور راولي نو ګویا چې ادب د مقصدیت نمائنده جوړولو کښې تنقید خپله بنیادي وظیفه په احسنه توګه ادا کوي ـ

ادب او تنقید زیات زور د حسن و جمال په تخلیق او فني روئیو راوړي ـ خوبه دې هم غور پکار دے چې د حسن و جمال تصور هم په هر دور ، هره ټولنه او هر قوم او ملت کښې یو رنګ او په یوه پیمانه نهٔ وي ـ ادب او تنقید کهٔ د خپل خپل دور ، خپل خپل ملت او خپلې ټولنې بنیادي غوښتنو او پوښتنو ته مثبت جواب ورکړي نو ګویا چې د خپل فطرت ترمخه ادب او تنقید د حسن و جمال نمائندګي هم کوي او د عصري غوښتنو ترجماني هم ـ

اوس چې خبره د شخصیت ، ادب او تنقید راغله نو مونږ په دې بحث کښې هغه مرحلې ته راورسېدو چې د ښاغلي سلیم راز صاحب د تنقیدي کرښې د مندرجاتو جائزه واخستے شو ـ په دغه پس منظر کښې مونږ په دې خبره غور کولے شو چې د راز صاحب تنقیدي کرښې ، ادبي کرښې هم دي او د هغو ټولو ارتقائي منزلونو په لور اشارې هم ، چې مونږ ئې د فطري علومو او کائناتي ارتقاء نه تر معاشرتي ارتقاء یوه لنډه خاکه وړاندې کړه ـ د راز صاحب دا تنقیدي کرښې د نظري تنقید په لاره د عملي تنقید یوه داسې زړهٔ راښکونکې نمونه ده چې د څو چونې کړے شوؤ شخصیاتو ، د فکري محرکاتو نظریاتي اساس ، سوچ او فکر ، علمي او ادبي رجحان ، ژبې او ادب له پاره د هغوي د خدماتو او په مجموعي توګه د سماجي بدلون ، ارتقاء ، تهذیبي او اخلاقي ودې او پرمختګ په لړ کښې د دغو شخصیاتو د داخلي او خارجي جهان یوه تجزیه ده چې په پښتو تنقید کښې دَ موضوع په حواله هم او د لیک او اسلوب په حواله هم یوه ځانګړې اضافه ده ـ د ښهٔ او بد د تمیز کولو یا د کره او کوټه معلومولو شعور هر انسان سره وي خو پیمانې او معیارونه ئې بدل وي ځکه هر انسان په څهٔ نهٔ څهٔ پیمانه خو تنقیدي ذوق او شعور لري خو په دغو انسانانو کښې فنکار د اظهار سلیقه او وسیله هم لري ـ کوم فنکار چې په کومه پیمانه زیات حساس وي او د حسن و جمال ملکه لري ، په هم هغه پیمانه د خپل تنقیدي بصیرت اظهار د خپل فن او هنر په ذریعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي ـ ښاغلے سلیم راز صاحب چې یو فنکار او تخلیق کار دے نو ورسره یو بالغ نظره سیاسي شعور لرونکے ، د صحافت د مېدان عملي غړے ، او د سماجي سائنس یو باخبره لوستونکے هم دے ـ هغه د خپل تنقیدي شعور او بالغ نظر اظهار په هره سطح او هر پلیټ فارم کوي ـ هغه کهٔ شعر لیکي نو هم ئې د ټولنې په اجتماعي نفسیاتو نظروي او کهٔ نثر لیکي نو هم د خپل متوازن تنقیدي نکته نظر څرګندونه کوي ـ مونږ چې د هغه د رپورتاژ مطالعه کوو نو هم د یو بې رویه بې ریا نقاد په توګه را مخې ته کېږي او کهٔ د مختلفو مضمونونو ، مقالو ، تبصرو او تجزیو مندرجاتو ته ئې ګورو نو د هغهٔ د تنقیدي تصور او نظرئیې عکس راته جوتېږي ـ

سلیم راز صاحب کهٔ په اصنافو لیک کوي نو هم ئې د خپل تنقیدي سوچ او نظرئیې په تناظر کښې جائزه اخلي او کهٔ په شخصیاتو څهٔ لیکي نو هم ئې د سماجي شعور او نظریاتي اساس په تناظر کښې تنقیدي جاج اخلي ـ د هغوي دا موجوده کتاب تنقیدي کربښې د شخصیاتو د نظریاتي اساس او سماجي شعور د تجزئیې په شکل یو تنقیدي دستاویز دے ـ چې په پښتو تنقید کښې یوه نادره اضافه ده او د راز صاحب د تنقیدي بصیرت سفیر او غماز دے ـ دا کتاب مونږ ته دا اعتماد راکوي چې په پښتو کښې د یو باقاعده ، کل وقتي ، او پیشه ور نقاد په حېث مونږ سلیم راز صاحب او د هغه تنقیدي هڅې ډېر په ویاړ سره پېش کولے شو ـ

هر څو کهٔ په پښتو کښې د تنقید هغه روایت په نظر نهٔ راځي کوم چې په انګریزي ، اردو او نورو ترقي یافته ژبو کښې لیدے شي خو بیا هم داسې نهٔ ده چې پښتو ژبه او ادب د تنقیدي نظریاتو د بازګشت نه خالي او عاري ده ـ پښتو کښې د تنقید وړومبی نخښې خو د خوشحال خان خټک ، رحمان بابا ، حمید بابا او کاظم خان شېدا نه علاوه د کلاسیکي دور د نورو شاعرانو په افکارو کښې هم لیدے شي ، خو په منظوم ادب کښې دغه تنقیدي افکارو ته مونر باقاعده تنقیدي روایت نهٔ شو وئیلے ـ پښتو کښې دَ جدید تنقید د رواج سهره د اولسي ادبي جرګې ، په خصوصي توګه د کاکاجي صنوبر حسېن ، امیر حمزه شینواري او دوست محمد کامل مومند په سر ده ـ او بیا د اولسي ادبي جرګې د سپوري لاندې چې د دغو ذکر شوؤ شخصیاتو نه چا د تنقید روایت په وراثت کښې تر لاسه کړو هغو کښې د اجمل خټک ، قلندر مومند ، همېش خلیل ، ایوب صابر او څو نورو نقادانو نومونه هم اخستلے شو ـ خو په دغو ټولو کښې چاته هم مونږ یو کل وقتي او پېشه ور نقاد بیا هم نهٔ شو وئیلے ـ څنګه چې په اردو کښې مونږ د تنقید په حواله د پروفیسر ممتاز حسېن ، سید احتشام حسېن ، پروفیسر مجتبیٰ حسېن ، پروفېسر غلام حسېن ذوالفقار ، ډاکټر وحید قریشي ، اختر حسېن رائے پوري ، مجنون ګورکهپوري ، ډاکټر محمد علي صدیقي ، ډاکټر سید. عبدالله ، ډاکټر وزیر آغا ، ډاکټر سلیم اختر او نور ګڼ شمېر نومونو ته ګورو نو دغه شخصیات راته د تنقید د مېدان کل وقتي او پېشه ور نقادان ښکاري ـ په پښتو کښې چې د جدید تنقید آغاز د کاکاجي صنوبر حسېن نه کوؤ نو تر سلیم راز صاحب پورې د تنقید په سفر کښې راته اکي یو سلیم راز داسې لیکونکے ښکاري چې د کله نه ئې د شعور سترګې پرانستې دي د هغه وخت نه تر موجوده لمحې ئې د تنقید لمن کله هم نه ده پرېښې او دغسې ئې په حقه د یو کل وقتي او باقاعده نقاد وظیفه تر سره کړې ده ـ چې د تنقیدي افکارو یوه بنیادي حواله ئې دا کتاب تنقیدي کربښې هم ده ـ د پښتو د عملي او نظري تنقید په سفر کښې په کتابي شکل ځنې مثالونه زمونږ په مخکښې شته چې پکښې د سید رسول رسا ,,ادبي تنقید،، ، د افضل رضا ,,تخلیق او تنقید،، ، د سحر یوسفزي ,,ادب څهٔ دے،، ، د محمد صدیق روهي ,,ادبي څېړنې،، ، د ربنواز مائل ,,ادب ، تنقید او فکر ،، د طاهر بخاري ,,تنقیدي مفردات،، ، د پروفېسر عارف نسیم ,,ادبي تنقید،، او ځنې نور د دغه مزاج کتابونه موجود دي خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو تنقيدي هڅو په موجودګۍ کښې هم د سليم راز تنقيدي کرښې خپل انفراديت ، اهميت او ضرورت لري چې د پښتو تنقيد يو ځانګړي اړخ ته اشاره کوي ـ د راز صاحب دا کتاب د مقصدي او ترقي پسند تنقيدي دبستان يوه غوره نمونه ده چې په پښتو کښې د اجمل خټک کتاب ژوند او فن سره چاپ شوي تنقيدي ليك ,,ژوند او فن،، نه پس د ترقي پسند تنقيد دوېمه نمونه ده چې د پښتو په تنقيدي ادب ئې پېرزو کړې ده ـ راز صاحب خپل دغه کتاب سره په ابتدا کښې تنقيدي ليکنه د ژوند ، ادب او تنقيد په نوم شامله کړې ده چې د دغه ليکنې په تناظر کښې ئې د خپل کتاب نورو ليکونو له پاره يو تنقيدي بنياد او ادبي جواز پيدا کړے دے ـ په دغه ليک کښې راز صاحب د ټولني ، ژوند ، ادب او تنقيد دَ پس منظر څرګندولو سره هغه اصول او معيارونه هم متعين کړي دي د کومو په رڼا کښې ئې چې د مختلفو شخصياتو دَ تنقيدي نظرياتو جاج اخستے دے ـ دغه شان په دغه ليک کښې هغهٔ د ژوند ، ادب او تنقيد په هغه زاويو يو مجموعي بحث هم کړے دے چې په پښتو تنقيد کښې د مقصدي او ترقي پسند تنقيد سمت سموي او بيا د ترقي پسند تنقيد په ميزان ئې د کاکاجي صنوبر حسين ، دوست محمد کامل ، فارغ بخاري ، سيده بشره بېګم (س ب ب ) ، ايوب صابر ، سېف الرحمن سليم ، ربنواز مائل ، ډاکتر امين الحق امين ، هاشم بابر او طاهر اپريدي د تخليقي ، علمي ، ادبي او تنقيدي نظرياتو او هڅو جاج اخستے دے ـ په دغو شخصياتو کښې ځنې نقادان ، ځنې شاعران ، ځنې د افسانوي ادب نمائنده او ځنې په مجموعي توګه د دانشورۍ طبقې نمائنده او ترجمان دي ـ ځکه سليم راز صاحب د هر شخصيت د فکر سر چشمې د هم هغوي د مزاج ، ادبي سفر ، تخليقي جوهر ، سماجي شعور او تنقيدي بصيرت مطابق څېړلي او د خپل تنقيدي ميزان په تله تللي دي د راز صاحب په دغو تنقيدي تجزيو کښې د نفسياتي او عمراني دواړو تنقيدي دبستانونو نخښې ليدے شي ـ مونږ وړاندې بحث کښې اشاره کړې ده چې د نقاد او تخليق کار داخلي جهان ، ذات او شخصيت ، فکر و نظر د ټولنيز اجتماعي شعور نه رڼا او ځلا اخلي او دغسې د خپل فني او فکري شخصيت رغاونه ترې سازوي ـ ځکه راز صاحب هم يو خوا خو د دغو شخصياتو په ذات او د هغوي د فکر و فن په داخلي جهان کښې خپل ځان جذب کړے دے او بل خوا ئې ورسره خپل ټولنيز شعور او فکر و دانش ملګرے کړے دے او بيا ئې د يو سماجي سائنسدان وظيفه هم تر سره کړې ده او د يو فنکار او ادبي نقاد وظيفه هم ـ چرته چې د يو تخليق کار په تخليق کښې د ټولنيز شعور بازګشت محسوس شوے دے نو راز صاحب ئې د هغهٔ د تخليق په تناظر کښې دَ فکر و نظر تجزيه کړې ده او چرته ئې چې د يو ليکونکي په ليک کښې دَ سماجي سائنس ، تنقيدي شعور او اجتماعي فکر و دانش څرکونه ليدلي دي نو راز صاحب ئې په هم هغه تناظر کښې تجزيه کړې ده ـ په دې توګه د تنقيدي کرښې په هر ليک کښې هغه متعلقه شخصيت هم په نظر راځي د چا د فکر و فن جائزه چې اخستلى شي او پخپله د سليم راز صاحب ذات او شخصيت هم په هر ليک کښې په داسې انداز را مخې ته کېږي چې د راز صاحب د شخصيت مختلفې زاوئې ترې څرګندې شي ـ تنقيدي کرښې کښې شامل په شخصياتو ليکونه نهٔ خو ژوند ليکونه يا سوانح عمري ده او نهٔ شخصيت نګاري ، نهٔ خاکې دي او نهٔ د شخصياتو د هلو ځلو داستان او روداد ـ البته د دغو ټولو ادبي توکو څهٔ نه څهٔ عکس پکښې چرته چرته ضرور محسوسيږي ـ په حقيقت کښې دا ليکونه د شخصياتو د داخل او خارج يوه داسې مطالعه ده چې د متعلقه شخصياتو د نظرئيې ، فکر و نظر او سماجي شعور په تناظر کښې دَ هغوي د عملي غرزو پرزو يوه تجزياتي مطالعه ده چې د دغو شخصياتو د ذات انکشاف هم کوي او په ټولنه کښې د هغوي د مثبت کردار د اثراتو جاج هم اخلي ـ د دغو شخصياتو د فني سرګرمو به تجزيه کښې د هغوي د شخصيت عکس هم ښکاري او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوي د شخصيت په مطالعه کښې د هغوي د فن تصور او تولنيز شعور هم منعکس کېږي ـ خو دا هر څهٔ سليم راز صاحب په دومره هنر کړي دي چې خبره يواځې د شخصيت د ذات او د هغهٔ فن پورې محدوده نهٔ پاتې کېږي ـ خبره په ټولنه کښې د ادب او اديب کردار ته رسي او په معاشره کښې د تنقيدي بصيرت او ادبي هڅو اهميت ته رسي د دې ليکونو په ذريعه راز صاحب په غېر محسوس طريقه د غورو فکر بلنه ورکوي ـ راز د ټولنې د وګړو په مړ ضمير ګوذار کول غواړي ـ د دغو ذکر شوؤ شخصياتو د جدوجهد په تناظر کښې راز صاحب فکري جمود ماتول غواړي ، د يو پرامن ، تهذيب يافته او خوشحاله معاشرې قيام غواړي ـ د ادب او تنقيد په تناظر کښې د عصري غوښتنو شعور عام کول غواړي او په مجموعي توګه د ژوند ، ادب او تنقيد په رشته ، تعلق او تړون د غور و فکر احساس ورکول غواړي چې دغسې په ژوند کښې د يو صحت مند جمالياتي رجحان او فني دائره کښې د ژوند او ټولنې د ارتقاء دا لړۍ روانه وي ـ په ژوند کښې دَ مقصديت او صداقت ، او په ادب کښې د حسن و جمال د افادي او مقصدي تصور د عام کولو په ذريعه ادب هم صحت مند وي ، ټولنه هم او د ټولنې هر وګړے هم ـ

د راز صاحب د تنقيدي کرښې ليکونو نه د مثالونو پېش کولو سره ما د خپل موقف تائيد په اسانه کولے شو خو دا کار مې ځکه ضروري ونهٔ ګڼلو چې د راز صاحب په مختلفو شخصياتو دغه ليکونه لوستلو نه پس لوستونکي زما په موقف غور وکړي او د خپلې پوهې او شعور په رڼا کښې پخپله زما د رائے تائيد يا ترديد وکړي ـ زهٔ په دې موقع صرف دومره قدر وئيل غواړم چې راز صاحب د تنقيدي کرښې په ليکلو په پښتو تنقيد کښې د يو ځانګړي اسلوب يوه نادره اضافه کړې ده چې د پښتو تنقيدي روايت ته ئې نوے رخ او نوې زاويه وربخښلې ده ـ پښتو تنقيد ته د دې انداز او اسلوب او د دې قسمه نظرياتي او مقصدي ليکونو نور هم ضرورت دے ـ زمونږ د عصر زلمي او نوې تنقيدي حلقې بايد چې د راز صاحب د دغه اسلوب پېروي وکړي او ورسره نوې نوې اضافې هم وکړي ـ د راز صاحب تنقيدي کرښې په خپل ذات کښې خو هغه بې پنا اهميت لري چې په علمي ، ادبي او تنقيدي مباحثو کښې به همېشه له پاره د سليم راز د شخصيت پېژندګلو او يوه بنيادي حواله وي ـ خو زما خواهش دا دے چې د دغو ليکونو او د دې کتاب تنقيدي کرښې د اهميت او افاديت احساس او اندازه بايد زمونږ نوي کول او د دې دور نوؤ تنقيدي حلقو ته هم په هغه پېمانه وشي چې دَ دې کتاب د مندرجاتو او ښاغلي سليم راز صاحب د اهليت ، صلاحيتونو ، مطالعې ، مشاهدې او د هغهٔ د ژوندي احساس او ټولنيز شعور حق ادا شي ـ

**حنيف خليل**
**قائد اعظم يونيورستي**
**اسلام آباد**
**۸ دسمبر ۲۰۱۸**

---

فارسي بانو د حيرت ګوتې په غاښ کړې
چې حميد سخن سازي کړه په پښتو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موشګاف او نازک خیال شاعر عبدالحمید مومند سرېښي په دغه شعر کښې دوه خبرې د غور وړ دي-- یوه --فارسي بان-- او دویمه --سخن سازي---
اصل کښې دغه سخن سازي یعنې په شعروسخن کښې باریکي نزاکت او د کمال هنر د فارسي غزل خاصه ګڼلی شوه چې د فارسي شاعرۍ په څلورو معروفو مکتبونو --عربي-- عراقي-- خراساني او هندي مکتب کښې د یو پیچلي او دقیق مکتب -- سبک هندي یا هندي مکتب -- ځانګړتیا ګڼلی شوې ده-- د دغه هندي مکتب سر په فارسی کښې د بابا فغاني نه رانښلي او د طالب املي -- غني کشمیري-- صایب تبریزي-- شوکت بخارائي او بیدل دهلوي پورې رارسي-- ژوره مشاهده-- تازه ګوئي-- مثالیه اسلوب یا مدعا مثل--حس امیزي-- د تشبیه استعارې ندرت-- کایناتي اسرار--او په مجموع کښې شعري لطافت ندرت او جدت د دغه هندي مکتب څرګندې ځانګړتیاوې بللی شوي دي-- دغه هنري توکي هر څو که په پښتو کښې د خوشحال بابا او رحمان بابا په شاعرۍ کښې چرته چرته لیدی شو خو د سخن سازۍ د کمال درجې ته حمید بابا رسولي دي- دومره کمال ته چې پخپله فارسي بان هم ورته ګوته په خله پاتي شوي دي-
اروابناد سید تسنیم الحق کاکاخیل چې د کامګار خټک دیوان چاپ کولو نو په خپله مقدمه کښې یې بحث داسي کړی وو چې د نازک خیالۍ او سبک هندي دغه پېکی په پښتو کښې د کامګار خټک په سر وتړي او حمید د کامګار پیرو او مقلد وښائي- ما تقریبن دیرش کاله پخوا د کامګار په دیوان د کاکاخیل صاحب په مقدمه مقاله لیکلې وه چې هغه دور کښې په لیکوال مجله کښې چاپ شوې وه او د کاکاخیل مرحوم تحقیق او موقف سره مې مکمل اختلاف څرګند کړی وو- چې زما موقف په هغه دور کښې په انګریزي اخبار فرنټیر پوسټ کښې چاپ شو نو د تسنیم الحق صاحب کشر ورور او د پښتو لوې محقق سید تقویم الحق کاکاخیل زما د راې په تایید کښې په همدغه فرنټیر پوسټ اخبار کښې لیک وکړو او خپل مشر ورور سره یې اختلاف څرګند کړو چې دا د تقویم صاحب علمي عظمت او ما د پاره د ویاړ خبره وه چې زه د ادب په میدان کښې بیخي مبتدي وم-- زه نن هم وایم چې دغه شمله د حمید بابا د سر نه څوک هم نه شي کوزولی- د حمید بابا دغه دعوا هم څوک نه شي رد کولی چې

د حمید د ساده شعر کمال ګوره
چې شمله شوه د تمام سرېښي

پخپله د کامګار د دیوان نه د داخلي شهادت په توګه به بې ووایم چې---

چرې نه چې باد خبر عبدالحمید کا
چې کامګار غزل دا ستا په مضمون ووې

---

نرګسیت-- ذاتیت-- او شاعرانه تعلي

په نفسیاتو کښې د نرګسیت اصطلاح ډېره مروج ده چې مطلب ئې خپل ځان ته متوجه کېدل. په خپل ذات کښې ډوبېدل او د خپل ځان نه متاثره کېدل دي. په نورو ټکیو کښې به ورته خود پرستي او انانیت ووایو. د دغه خودپرستی، انانیت او ذاتي محرکاتو د اظهار په ذریعو کښې یوه ذریعه شاعري هم ده . د نرګسیت دغه نفسیاتي اصطلاح نه د شاعرانه تعلې ادبي اصطلاح زیږېدلې ده او بیا په ادب کښې هم شاعرانه تعلي دوه غټ قسمونه لري. یو د ذات تعلي دوېمه د فن تعلي . د ذات تعلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفس سره نيغ په نيغه تړون لري او د فن تعلي بلاواسطه ځکه  چې فن هم د ذاتي رجحان او مېلان په نتيجه کښې خپلې لارې وباسي. په دغه وجه د فن تعلي هم د ذات سره تعلق لري خو دلته بايد د نرگسيت، ذاتيت او  شاعرانه تعلي فرق نور هم واضح کړے شي. نرگسيت لکه چې ووئيلے شول د خپلې هرې ادا نه متاثره کېدل دي که هغه ښهٔ وي او که بده خو په نرگسيت کښې مبتلا انسان ته ښهٔ ښکاري. ذاتيت هر هغه کېفيت سره تعلق لري چې د ذات برخه وي. ښهٔ څيزونه هم ذات سره تړلي وي او خراب هم خو هر خراب څيز لکه د نرگسيت ښه نه شي گڼلې- او شاعرانه تعلي محض خپل ځان په شعري قوت يا نورو څيزونو کښې اعلىٰ او اوچت گڼل دي. د تعلي لفظ د عربئ  د اعلىٰ او د قرآن پاک د عليون او عليين سره نسبت لري چې معنىٰ ئې ده اوچت او اعلٰى گڼل يا خپل ځان يا خپل فن اوچت او اعلى گڼل. په دې خبره غور کول پکار دي چې شاعر تعلي ولې کوي؟ د دې نفسياتي محرک څهٔ دے. او نفسياتي پس منظر ئې څهٔ دے. د انساني جبلت مطالعه که وشي نو معلومه به شي چې خالق د دهٔ په خټه کښې د انانيت يا خود پسندئ زړے اچولے دے او بيا ورته د خپل ځان د پېژندنې ترغيب هم شوے دے. د دغه پس منظر په رڼا کښې د انساني جبلت تقاضه دا ده چې دے په نهٔ يواځې ځان ته متوجه کېږي بلکې  د ځان ښهٔ اړخونه به هم ورته واضحه ښکاري او په مختلفو موقعو د دغه ښهٔ اړخونو د ښودلو جذبه هم د دهٔ د جبلت برخه ده. او بيا په انسانانو کښې فنکار خو له هر چا نه زيات حساس وي. ځکه د دهٔ زيات د ځان په لور هم خيال وي. هر کله چې فنکار سره يو جبلي صلاحيت او جوهر هم وي نو د دغه جوهر ښکاره کول هم د دهٔ فطري تقاضا ده. په دې وجه شاعر چې کله شعر وائي نو د خپل جوهر د ښودنې په وخت کله کله د خپل جوهر اهميت او نورو خلقو سره خپل امتياز هم په گوته کوي د څهٔ په نتيجه کښې چې شاعرانه تعلي په وجود کښې راځي. شاعر چې کله شاعري شروع کړي نو د هغهٔ مشاهده او مطالعه محدوده وي.

هغهٔ ته خپل فن ډېر نادر او اوچت ښکاري او په دغه چرت کښې د شاعرانه تعلی لاره خپلوي. کله چې شاعر تر يوهٔ حده معيار پيدا کړي. شعر يې د فن او فکر دواړو له مخه يو ښهٔ انفراديت يا جدت پيدا کړي نو په داسې حال کښې هغه د وړاندې  نظر اچولو په موډ کښې نهٔ وي. بلکې شاته نظر واچوي او د خپل ابتدائي وخت د شاعرئ سره سره ورته له ځانه واړه شاعران زيات په نظر راځي.

په داسې وخت کښې د دهٔ داخلي محرک دا وي چې دهٔ خو ډېر سفر کړے دے او ډېر خلق ئې شاته پرېښې دي. دغه محرکات هم هغهٔ ته د شاعرانه تعلي لاره سموي او هر کله چې شاعر د شعري عروج دور ته ورسي نو هغهٔ ته د خپلې زمانې ادب ډېر سطحي ښکاري. په داسې حال کښې هغه ضرور د شاعرانه تعلئ په ذريعه خپله برتري ښودل غواړي. گويا د خپل هنري سفر په درې واړو پړاوونو کښې د تعلئ بيل بيل احساس لري- کله کله چې شاعر په خپل محيط يا خپل قام کښې د خپلې اندازې  شاعران ويني نو د نورو ژبو او قامونو شاعرانو سره د تقابلي تعلئ مظاهره کوي. لکه په پښتو کښې چې خوشحال خان خټک، حميد بابا او کاظم خان شېدا کړې ده. داسې وخت هم راځي چې د شاعر زمانه او ماحول د هغهٔ د فن قدر نهٔ کوي. يا ئې په قدر نهٔ پوهېږي په داسې حال کښې شاعر د ډېرې غصې نه انتقامي قسمه تعلي کوي چې پکښې د خپل ځان درناوي سره سره د نورو د سپکاوي عنصر هم شامل وي. د ځينو شاعرانو په وړاندې خپله شانداره ماضي پرته وي. د اسلافو کارنامې او وقار ئې په نظر کښې وي. په داسې حال کښې هغه يو خو په خپله د خپلې شاندارې ماضي او اسلافو کارنامې په خصوصيت سره ستائي او يا که کوم شاعر ئې په  اسلافو يا ماضي کوم تنقيد يا اعتراض کړے وي نو د دهٔ جبلي محرک دے مجبوروي چې انتقامي قسمه تعلي په کار راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاعرانه تعلي دغه ټول محرکات د انسان د داخلي رجحان نه نۀ شو بيلولے ځکه چې انسان ته که داخلي تحريک ورکړے شي او که خارجي خو د دۀ ذات په کښې شريک وي. دے د هر پس منظر په رد عمل کښې چې کوم اظهار کوي. هغه د دۀ د ذات اظهار وي. دے هر تحريک د خپل ذات په سمندر کښې ډوبوي او بيا ئي د يو غورځنګ په حېث خارج کوي او د دغه اخراج لارې لطيف فنونه دي چې شاعري ئې له هر څۀ زياته مؤثره او صفا لاره ده هم دغه وجه ده چې تعلي هم په فنونِ لطيفه کښې په خصوصيت سره د شاعرۍ سره تړلې ده. نور فنونه لکه مصوري، رقص، سنګتراشي، موسيقي وغېره د تعلي نه عاجز دي.
د شاعرانه تعلی دغه ټول قسمونه مونږ په خوشحال بابا رحمان بابا حميد کامګار نجيب شيدا او په شلمه صدۍ کښې په حمزه بابا کښې په اولسي شاعرانو کښې علي حيدر جوشي کښې په ځانګړي ډول ليدی شو او په نورو کښې هم شته۔

---

د غني خان نفسياتي تاثر----- خالق او تخليق

د ځينو ادبي تحريکونو او صنفونو د مزاج په حواله چې تنقيدي مباحث مخې ته راغلل نو ورسره د شاعرانه داخليت او خارجيت حوالې هم رامخې ته شوې. په ادبي تحريکونو يا مکتبونو کښې ترقي پسند تحريک، حقيقت پسندي يا **Realism** په مخصوص ډول د خارجيت ترجمان وګڼلے شو او په مقابله کښې ئې د رومانويت تصوريت، سريلزم او نيچرليزم وغيره اصطلاحات د داخليت د ترجمانۍ له پاره استعمال کښې راغلل. دغه شان په ادبي، اصنافو کښې هم په منظوم ادب کښې غزل د داخليت اونظم د خارجيت په حواله زيات د بحث لاندې راغللو. په دې مباحثو کښې چې د داخلي ادب يا داخليت په حواله څومره هم خبرې شوي دي يا کېږي د هغې تر شاه يو نفسياتي تاثر حرکت کوي.
ادب هسې هم د خارج او داخل دواړو نه ځان نۀ شي بيلولے. خو ښۀ ادب هغه دے چې په دواړو کښې د توازن او د دواړو د امتزاج رنګ په کښې وي. هم دغه وجه ده چې ځينو نقادانو، د داخليت او خارجيت د امتزاج او د جدت په حواله د وحدت فن نظريه هم پېش کړې ده.
د غني خان په شاعرۍ چې نظر اچوو نو په کښې هم دغه امتزاجي رنګ وينو هغه د معاشرتي مسئلو او خارجي شواهدو ترجماني هم کړې ده او ورسره ئې خپل داخلي کېفيات هم يو ځائے کړي دي. خو ځينې نظمونه ئې داسې دي چې ډېر په خصوصيت سره د انساني نفسياتو څرګندونه کوي او دا د غني په انسان شناسۍ او نفسيات دانۍ ګواهي هم ورکوي. د غني نظريه دا ده چې د مکان او لا مکان د تخليق مرکز هم انسان دے او د هر څۀ وجود د انسان له پاره دې. او بيا دا هم وائي چې د دې هر څۀ وجود تصور هم د انسان له پاره دے. او بيا دا هم وائي چې د دې هر څه د وجود تصور هم د انسان د داخل نۀ راولاړېږي او هم د انسان په داخل کښې جوړېږي وائي:

دا مکان او لا مکان
دواړه جوړ زما د ځان
دا جانان او بُت او رب
زما تنده او ايمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نفسیاتو عالمانو په دې نکته بحثونه کړي دي چې د خالق تصور هم د هر انسان په ذهن کښې جدا جدا وي او د هغهٔ د خپل ذهن په رسایۍ اډانه لري. په دې وجه غني هم دا نظریه ښائي او وائي:

زهٔ یم ناست ځان له جانان یو تصور کښې جوړوومه
کله ئې سترګې تورومه، کله ئې شونډې ښکلوومه
زهٔ یم ناست د غم په هاړ کښې د رڼا بڅري پېمه
خم درنګ کښې لا خمار شته زهٔ ترې لپې ډکوومه
د سخي ګوتو دې ځار شم څنګه ښکلے وېش دې وکهٔ
زهٔ یو څاڅکے خو ځېګر کښې دریابونه ګرځوومه
زر او زرو او تخت دې واغشت خېش نظر او خیال دې راکهٔ
د سرور په سور طوفان کښې دې کړه ډوبه لوړه طمعه
دا یو غم د وېشه پاتې چرته پټ تیارهٔ کښې ناست وو
رو رو پټ مې زړهٔ له راغے لکه مار د ښکار په سمه
په دې هرڅهٔ دې رضا یم د لعلونو زرو خانه
غم څهٔ، مرګ مې هم قبول دے په خندا ئې قبلوومه
دا خو تا اور اورکے یو د سرور ماته بخښلے
ځکه زهٔ دې تور محل کښې خپل خوبونه بلوومه
خلق وائي لاړ بُوډا شو غني خپلې مستۍ وخوړ
زهٔ یم ناست د یارو پېښو کښې د نرګس ګلونه ږدمه
مرګه ځه چرته ورکېږه زهٔ لا نهٔ یمه اوزګار
خم د رنګ کښې لا خمار شته زهٔ ترې لپې ډکوومه
غني د دې قائل دے چې انسان د هر قسمه تخلیقاتو خالق پخپله دے خو دا تخلیقات د کېفیاتو او مجرداتو سره تعلق لري یعني هر قسمه فکري او خیالي تخلیقات انسان د خپل تصور په بنیاد کوي.
خپل یو نظم پېدائش کښې وائي:

او ما ځان له ساز کهٔ په خپله جوړ
د خپل خوب نه د خپل خیال نه
د خپل غم نه د مستۍ نه
د خپل تول نه د خپل تال نه
او ما ځان له یار کهٔ په خپله جوړ
د خپل سوز نه د ارمان نه
د خوبونو نه د رنګونو نه
د ګلونو نه د خزان نه
د امید نه د رڼا نه
د تیرو نه د ښېرونه
د غمونو نه دې سودا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ما ځان له مرګ کۀ په خپله جوړ
د ژوندون نه د مستۍ نه
د سپرلي د زیرو ګلونو نه
د لعلونو نه د ځوانۍ نه

---

همېشه وي د ممسک قبض په بسط کښې
په دریاب کښې شېدا ګوره ګردابونه

د تورو معنې:
قبض او بسط: قبض او بسط د تصوف اصطلاحات هم دي او خپلې لغوي معنې هم لري. دواړه د عربۍ توري دي. قبض نه مراد دے بندش او تنګي، یعني د فیض او ورکړې په لاره کښې خنډ، شومتیا. او د بسط مطلب دے، بسیط کېدل، فراخه کېدل، ورکړه کښې سخاوت، یعني د فیض عام کېدل.

ممسک: ممسک تورے هم عربي ده. مطلب ئې دے شوم، کنجوس.

ګردابونه: ګرداب په دریاب کښې د اوبو چکر ته وائي چې اوبۀ له ډېره جوشه په خپل ځائے چورلي.

شرح:
د شوم سړي رویه هم عجیبه وي. همېشه په ډېر دولت کښې هم ورکړه نۀ کوي. ګویا د هغۀ بسط یعني غني توب هم د قبض یعني شومیتا په مثال وي. د دغه شوم سړي مثال هم په دریاب کښې د ګرداب غوندې وي. چې ښۀ ډېرې اوبۀ وي. ښۀ په زور او قوت کښې وي. خو په خپل ځائے چورلي. ګردش کوي. مخکښې نۀ ځي. د چا په کار نۀ راځي. نو بس دغه مثال د کنجوس انسان هم دے چې ښۀ ډېر دولت وي ورسره خو دغه دولت ئې په یو ځائے جمع وي. په خپل ځائے چورلي. د عام وګړي د ګټې د پاره بهر نۀ راوځي. نو ځکه خو د شوم سړي دغه بسط هم د قبض په مثال وي.

نور وضاحت:
دې شعر کښې د شېدا مشاهده هم د کمال ده او تشبیهات هم. او شېدا چې عملي صوفي وو نو دغه د بسط او قبض اصطلاحات ئې په صوفیانه تناظر کښې هم راوړي چې کله مرشد د بسط په کېفیت کښې وي نو د علم او روحانیت فیض ئې عام وي او مریدان ترې استفاده کوي. خو کله چې مرشد د قبض په حالت کښې وي نو علم او روحانیت ئې تر هغۀ محدود وي. بل چا ته ترې ګټه نۀ رسي. ګویا دغه وخت کښې د پیرو مرشد مثال هم د ممسک یا شوم سړي وي چې چا ته ترې فیض نۀ رسي. د پیر و مرشد نه علاوه پخپله سالک هم د قبض او بسط د دغو مرحلو سره مخ وي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شوم دولت مند او سرمایه دار انجام به څه وي د قران حکیم په سوره همزه کښې ورته غور وکړئ او بیا د شیدا په دغه شعر یو ځل بیا نظر واچوئ-

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ (1)
هر غیبت کوونکي او پیغور ورکوونکي د پاره هلاکت دی

اَلَّذِىْ جَمَعَ مَالًا وَّعَدَّدَهٗ (2)
هغه خلق چې مال جمع کوي او هر وخت يې شماري-

يَحْسَبُ اَنَّ مَالَـهٗٓ اَخْلَدَهٗ (3)
د هغه خیال وي چې دغه مال به يې همیشه ساتي

كَلَّا ۖ لَيُنْبَذَنَّ فِى الْحُطَمَةِ (4)
هیڅکله هم نه-- د دغه مال په وجه به حطمه ته غورزول شي-

وَمَآ اَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ (5)
او تا ته څه پته ده چې حطمه څه شی دی-

نَارُ اللّـٰهِ الْمُوْقَدَةُ (6)
دغه د الله له خوا تیار شوی اور دی-

اَلَّتِىْ تَطَّلِـعُ عَلَى الْاَفْئِدَةِ (7)
چې زړونو ته به رسي-

اِنَّـهَا عَلَيْـهِـمْ مُّؤْصَدَةٌ (8)
بې شکه دا به له څلورو واړو خواو نه په ده راغوندولی شي-

فِىْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ (9)
د اوږدو اوږدو ستنو او اډانو په صورت کښې-

د شیدا په دې شعر د سرمایه دارانه نظام د جدید دور د مباحثو په تناظر کښې هم غور وکړئ چې-----
په دغه نظام کښې سرمایه په دوه څلورو طاقتورو لاسونو کښې راغوندولی شي او همدغو لاسونو کښې گردش کوي چې سرمایه د سرمایې په زور زیاتولی شي او د عام اولس په کار نه شي راوستلی بلکې هغه خوارې کښې اولس هم ترې محروم ساتلی شي د چا په خوارئ او محنت چې دغه سرمایه او دولت کښې اضافه کولی شي-
اوس غور وکړئ چې د شیدا دوو مصرعو کښې څومره لوې مقصد راغونډ شوی دی او د څومره زاویو نه يې جاج اخستلی کیدی شي- خو شرط دا دی چې د شعر غوټې يې پرانستلی شي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په فیسبک زما لوستونکي

زما د چاپ کتابونو لوستونکي به څومره وي او د کوم مزاج او معیار به وي دا خو راته اندازه نشته خو په فیسبک د خپلو لوستونکیو د مزاج معیار او مقدار اندازه راته کیږي- ما سره پنځه زره ملګري او شپاړس نیم زره پالونکي یا څارونکي دي- څرګنده خبره ده چې دوئ ټول بیل بیل مزاج او میدان لري- زه خو زیات لیکونه د ادب تاریخ کلتور ژبپوهنې مذهب سیاست قامیت او ورسره نورو اړوند موضوعاتو په حقله کوم نو دغه ټول خو زما په لیکونو کښې دلچسپي نه لري او دا کیدی هم نه شي- خو بیا هم یو لوی شمیر لوستونکي لرم بلکې ګڼ شمیر مینه وال لرم چې مختلفې درجې یې کیدی شي-لکه دا چې-

۱--- یو شمیر ملګري داسې دي چې زما هر پوسټ ته رسپانس ورکوي-- زه هره ورځ یو پوسټ کوم او دغه ملګري نژدې نژدې هره ورځ خپله راې د کمنټ په صورت کښې شریکوي-- د دغو ملګرو د مینې او توجو منت بار یم-

۲--- دغو کښې یو شمیر داسې هم دي چې په تسلسل سره کمنټ کوي او پوره تفصیل سره کوي-- دومره ګټور کمنټ چې زما د پوسټ نه یواځې تشریح او وضاحت وي بلکې د پوسټ نه زیات معلومات هغه کمنټ کښې وي-- دغه ملګرو ته ډیر درناوی لرم-

۳---- ګڼ شمیر ملګري داسې وي چې زما موقف سره اتفاق لري او په درنو لفظونو ستاینه کوي-- اتفاق او ستاینه دواړه یې په دلیل او جواز اداېه وي او یا په ذوق او مینه اداېه وي--- دغه هم ډیر درانه د لوړ ذوق او سنجیده ملګري دي-

۴-- یو شمیر زده کوونکي دي چې زما د پوسټونو نه د زدکړې اعتراف او مننه پوره دیانت او روغ نیت سره کوي- دغه ملګري هم خپله سرمایه ګڼم-

۵--- یو شمیر داسې دي چې زما پوسټونه په خپلو والونو او مختلفو ګروپونو کښې شریکوي چې دغسې زما فکرونظر زیاتو خلقو ته رسي-- د دغو ټولو هم منندویه یم-

۶--- یو شمیر داسې دي چې زما موقف سره یې کله کله اختلاف راشي نو په ډیره مهذبه لهجه د خپل دلیل او جواز سره خپل د راې اختلاف څرګند کړي- دغه مهذب درانه او روغ نیته ملګري دي او ما ته ګران دي-

۷--- څه ملګري داسې دي چې هر کله یې د مزاج لیک مخې ته راشي نو خپله مثبت راې څرګنده کړي که میاشت دوه پس هم وي او هسې هم کمنټ کول لازم نه وي لیک کتل مهم وي-- خو یو شمیر داسې هم شته چې زما ټول پوستونه ګوري خو انتظار دې ته کوي چې کله به کومه اختلافي نکته پیدا کړي چې مخې ته راشي- دغسې ملګري زیات غایب وي خو د اختلافي نکتې د پاره چرته میاشت دوه پس راڅرګند شي که نکته یې سمه وي او که ناسمه خو اختلاف به ضرور کوي یو دوه نور هم پکښې داسې کسان منشن کړي چې د ده ترې د اختلاف یا شرارت کولو امید وي-- د دغو په نیت هم شک نه کوم ځکه چې د نیتونو علم خداې سره دی-

۸--- داسې پکښې هم شته چې کج بحثي کول غواړي مقصد یې څه مثبت هدف نه وي خو بس څه وییل غواړي او بار بار یې وییل غواړي- دغسې ملګرو ته هم یو نیم جواب ورکوم خو اوږده بحثونه نه کوم-

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹-- ځنې خو داسې هم وي چې ډېر زر ورسره د قالو سلاما پیروي وکړم او بحث نه یې ډډه وکړم-
۱۰--- داسي هم وي چې بیخي د جواب ورکولو زحمت ورسره نه کوم
۱۱-- یو شمیر داسي هم وي چې د حسد اندازه یې راته ډیره زر وشي هر څو که زما اندازه غلطه هم کیدی شي - د هغوئ په حال هم د رحم احساس راته وشي او همدردي مې ورسره پیدا شي-
۱۲-- داسې به هم وي چې مقصد یې خپل شهرت کول وي نو بس هغه د شهرت ترلاسه کولو لارې اختیار کړي-
دغه روش مې د لیکلو پوسټونو نه علاوه ویډیو ګانو او لیکچرو وغیره سره هم کیږي-
ځنې نور قسمونه یې هم شته خو دغو کښې د هر قسم ملګرو ممنون ځکه یم چې په هر نیت وي خو لیک او پوسټ مې ګوري-- لیکچرونه مې اوري- څوک خپل عکس العمل ښایي او څوک نه-- څوک لویه سینه لري او څوک تنګ نظر--زه د چا نوم نه اخلم هر ملګری په ایینه کښې ځان لیدی شي- زه ټولو ته دعا ګو یم او هڅه مې دا وي چې د هر کمنټ او هرې راې قدر وکړم-- اهمیت ورکړم-- او جواب ورکړم--بیا هم که زما د فیسبک ملګرو کښې ما نه څوک خفه وي ګیله لري یا مې ورته توجو سمه نه وي کړې زه ترې د زړه له کومي بخښنه غواړم-- زما عقیده دا ده چې دنیا په مینه اباده ده-- مینه عام کول پکار دي - څوک چې هر څومره پوهه لري ویشل یې پکار دي او درناوی هر چا ته ورکول پکار دي-

---

موسیقي
په زړه یوناني میتهالوجي کښې د نرو خدایانو او ښځو خدایګنو دواړو تصور موجود وو-- د فن او هنر یعني ساز شاعری او رقص خدایګنې نوم ماوسایک **Mousike** وو- دغه خدایګنه د ماوسا **mousa** په نوم هم یادیده چې بیا یواځې د ساز او ترنم خالقه وګڼلی شوه - نو دغسې د ساز او ترنم د پاره دغه یوناني نوم ماوسایک رواج شو چې په زړه لاطینی ژبه کښې موسیکا **musica** شو-لاطینی نه فرنچ ته هم د **musica** موزیکا په شکل راغلو- او په انګریزی کښې میوزیک **music** شو چې اردو او نورو مشرقي ژبو ترې موسیقي جوړ کړو-- تر دې چې په عربی او فارسی کښې هم وکارولی شو-- هسې د عربی خپل نوم الغنا دی چې د فارسی نغمه او غناییت هم له دغې الغنا نه جوړ شوی دی-- پښتو کښې ورته خپل نوم سندارا هم کارولی شي چې جرړه یې سندره ده-- سندره کښې پخپله د غږونو دغه غناییت نغمګي او رواني موجوده ده-- پښتو کښې ټنګ ټکور اصطلاح هم شته خو دا ترکیب دی د ټنګ او ټکور چې ټنګ پکښې اواز د پاره دی او ټکور داسې اواز د پاره چې زړه پرې ټکور شي یعني دردیدلي زړونو ته ملهم شي-
په اسانو ټکو کښې موسیقي د اوازونو د توازن ترتیب او اعتدال نوم دی چې هغه د الاتو اوازونه هم کیدی شي او انساني یا د مارغانو او قدرتي مخلوقاتو هم -- دغه توازن د یو دروند او یو سپک غږ د رایوځای کولو نه زیږي چې اوچت او ټیټ یا سپک او دروند غږ یا زیر و بم هم ورته ویلي شي-- د سپک او دروند غږ دغه توازن ترتیب او اعتدال که نه وي نو بیا اوازونه شور وي خو موسیقي نه وي-
اوس چې دا جوته شوه چې موسیقي یواځې د اوازونو د ترتیب او توازن سره اړه لري نو باید دا نظر کښې وساتو چې دغه موسیقی سره که کومه فحش او بیهوده شاعري وییلی شي نو دا د شاعری خرابي ده د موسیقی نه-- دغسې دغه موسیقی سره که کوم بیهوده رقص او ډانس کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي نو دا د رقص خرابي ده د موسيقۍ نه-- دغه خرابۍ د ساز او اواز نه بغير هم خرابۍ دي-- پوچ بيان بغير له سازه هم پوچ وي- ځکه دغه نورې خرابۍ موسيقۍ پورې تړل درست کار نه دی-- که چرې يواځې ساز او اواز هم داسې شي چې د ټولنې د خرابۍ انتشار او اړي ګړي سبب شي نو دا به د موسيقۍ قصور وي خو يواځې يو مترنم غږ او منظم ساز به ټولنه څنګه له دغو خرابيو سره مخ کړي-- د ټولنې د خرابولو نور عوامل په نظر کښې ساتل ضروري دي- هر ناوړه عمل په موسيقۍ ورتپل هم مناسبه رويه نه ده- د موسيقۍ ديني او شرعي حيثيت څه دی- دې نه مخکښې دا پيژندل ضروري دي چې موسيقي په بنيادي توګه دی څه شی او کوم قسمه موسيقي-

---

د کاظم خان شيدا عکس

زما لوستونکيو ته پته ده چې شيدا سره مينه او عقيدت زما د هغه وخت نه دی چې د ادب ميدان کښې مې وړومبی قدم ايښودی وو- د هم هغه وخت نه مې چې د شيدا مطالعه کوله نو د هغه په کلام کښې به مې د هغه ذات او شخصيت لټولو- همدغه تناظر کښې به زما د ذهن په تختۍ د هغه يوه خاکه جوړيده - بيا چې مې د شيدا په اړه د يو داسې شخصيت معلومات تر نظره شول چا چې شيدا په خپلو سترګو ليدلی وو او بيا د خپلو سترګو ليدلي مشاهده يې په لفظونو کښې هم بيان کړې وه- زما مراد د هند تذکره نګار قدرت الله شوق رامپوري دی چې د شيدا د ذات او شخصيت په اړه يې خپله مشاهده داسې بيان کړې ده-
"خان عالي شان کاظم خان رئيس قوم افاغنه ختټک يعني انسان متمثل به صورت ملک ، زاهد ، متورع ، عابد ، متشرع ، بسيار عالي حوصله و خوش سليقه ، نازک دماغ ، صاحب تمکنت ، نهايت بردبار ، کوه تحمل و وقار ، موصوف به جميع صفات انساني ، مجمع هنر و قابليت و سخنداني ، صاحب فضل و کمال ، شاعر خوش مقال نازک خيال ، معني ياب تازۀ نزاکت هند ، متلاشي مضامين دلپسند و بلند ، تا حال در قوم افاغنه روه چنين شخص خوش فکر و خوش ګو پيدا نه شده و نه خواهد شد . چند سال شد که ازين جهان فاني رحلت به عالم جاوداني نمود."
نو بس زړه ته مې راغله چې د شيدا د کلام او بيا د هغه د همعصر شوق رامپوري د اشارو نه يوه ايډيا جوړيدلی شي چې د شيدا يو خيالي عکس پرې جوړ کړی شي لکه څنګه چې د خوشحال بابا او رحمان بابا عکسونه جوړ شوي دي او د اولس نفسياتو منلي دي-- هر څو که د شيدا دوه عکسونه مخکښې هم جوړ شوي دي خو په يو هم زړه اوبه نه څښې- ياده دې وي چې د شيدا په عکس جوړولو کښې د شيدا زمانه او پښتني کلتور-- د هغه عمر چې زما د څيړنې ترمخه په ۱۱۲۵ کښې د پيدايش په حساب يو کم اويا کلونه د راوړتي او نورو څيړونکيو تر مخه ۱۱۳۵ کښې پيدايش په حساب يو کم شپيته او ۱۱۴۰ کښې پيدايش په حساب څلور پنځوس کلونه جوړيږي نو د عکس د پاره مونږ دغه يو کم شپيته کلونه مناسب وګڼلو -- دغسې بيا پښتني جلال-- د ختټکو د قبيلوي سردارۍ پس منظر-- ديني او صوفيانه مزاج-- د صورت ښکلا او د سيرت پاکوالی-- او د شوق رامپوري په قول--- متمثل به صورت ملک-- يعني د فرشتي په صورت کښې انسان --- دغه ځانګړنې هم دغه عکس د پاره په نظر کښې ساتل ډيرې ضروري وې -- زما خيال وو چې زه خپله دغه ايډيا په کوم مصور انځور کړم خو بيا مې ذهن ومنله چې په اوسنۍ زمانه کښې خو دا کار اے ائي يعني مصنوعي ذهانت هم کولی شي-- نو بس خپل کشر عباس خليل مې ځان سره کړو-- خاکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ورته بیان کړه-- په اے ائي مو عکسونه جوړول شروع کړل خو په یو مو هم تسلي نه کیده-- لس اته تصویران مو جوړ کړل او رد کړل-- څو میاشتي مو مسلسل ریاضت وکړو- بدلونونه به مو پکښې کول-- اخر هم دغه عکس مو زړه ته پریوتو چې د شیدا په اړه دستیاب اشارو او معلوماتو عکاسي یې کوله نو بس د شیدا عکس تیار شو-- د خپلو ملګرو جوهر خلیل او شیر احمد خلیل تسلي مې هم پرې واخسته- اوس یې تاسو هم وګورئ-

---

پښتو څانګه پیښور پوهنتون-- خدشې او وسوسې

د پښتو څانګې پیښور پوهنتون د وړومبي سیشن د ماسټر سند اخستونکیو دغه تاریخي عکس سره څو خبرې هم د پښتو او پښتنو خواخوږو سره شریکول غواړم-
هسې خو د پښتونخوا په تعلیمي ادارو کښې وړومبی د پښتو څانګه په اسلامیه کالج پیښور کښې د کالج د جوړیدو ۱۹۱۳ نه څو کاله پس وجود کښې راغلې وه خو دا د کالج څانګه وه چې د ماسټر په سویه تدریس پکښې نه وو- د ماسټر په سویه تدریس د پیښور پوهنتون پښتو څانګې په ۱۹۶۱ کښې شروع کړی وو چې په وړومبي سیشن کښې یې د خواجه محمد سایل افضل رضا عبدالدایان سعید خلیل عبدالجبار خلیل ارباب یعقوب سرور خټک داور خان عبدالحق نسیم نور شاه جهان انور نواز حسرت او محمد اعظم اعظم غونډې ادیبان پښتو ته ورکړي وو- ورپسې نزدې کلونو کښې یې هم ډیر لوې خلق په پښتو پیرزو کړل- د استاذانو په حیث پکښې د مولانا عبدالقادر پریشان خټک او جهانزیب نیاز غونډې خلق شامل وو-چې پخپله یې لا پښتو کښې د ماسټر سند نه لرلو خو پښتو سره تړلي سینیر دانشور هم وو او نورو تولنیزو علومو کښې یې سندونه هم لرل- په ۱۹۷۹ کښې دغه څانګې د ایم فل او په ۱۹۸۳ کښې د پي ایچ ډي اغاز وکړو- خبره دې ته راغله چې دغې څانګې نه فارغ شوو استاذانو د صوبې په نورو ګڼو پوهنتونونو کښې د پښتو څانګې پرانستي - تر دې چې د صوبې نه بهر د ملک په نورو پوهنتونو کښې هم د پښتو تدریس په غټو سطحو شروع شو او لا روان دی چې په سوونو استاذانو پروفیسرانو ډاکټرانو د وقار او روزګار بنیادي سبب او ذریعه د پیښور پوهنتون دغه څانګه ثابته شوه-- په ۲۰۱۱ کښې د پښتو څانګې په پښتو اکیډمی کښې د شاملولو یوه هڅه وشوه چې زر ناکامه کړی شوه او په دغه کال د عدالت عالیه فیصله هم راغله چې دغه څانګه په بله کومه اداره کښې ضم کیدلی نه شي-- اوس بیا حالات داسې جوړ شوي دي چې د دغه تاریخي څانګې د ختمولو او چرته ضم کولو څه نه څه لارې به لټولی شي خو دا دې په نظر کښې وي چې دغه هڅې به بیا هم شنډې پاتي شي ځکه چې د عالي عدالت فیصله به د توهین عدالت په زمره کښې راځي-او دا هم نظر کښې ساتل پکار دي چې د پوهنتونونو سرمایه علم خورول وي پیسه ګټل نه--- ځکه مناسبه لار دا ده چې د دغه تاریخي څانګې مالي مسلو ته باید توجو وشي-- د کلونو راسې د ریټایرډ شوو پروفیسرانو خالي ځایونه باید ډک کړی شي- ځکه چې د دې څانګې بقا یواځې د یو سرکاري اداري بقا نه ده بلکې د پښتو مسله هم ده- دعلم او ادب مسله هم-او د پښتو علمي او ادبي روایت د کلونو تاریخ او وقار مسله هم ده- هر څو که دغه مسلې حل کول د سرکار انتظامي امورو سره اړه لري خو د پښتو ژبې ادب کلتور او تاریخ سره تړلي دانشور شاعران لیکوال او ادیبان هم دا د خپلې دلچسپی ژبې او ادب سره د تړون او بقا مسله ګڼي-زما د دې لیک مقصد هم د پښتنو دانشورو سیاسي مشرانو او مقتدره حلقو توجو دې لور ته را اړول دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په دغه لار کښې کلک اودريدل دي چې دغه تاريخي څانکه دې تل غوړيدلې پاتې شي چې تل د پښتو ژبې او ادب ګلان راټوکوي او خوشبو يې په پښتنه سيمه خورېږي- نور کار د سرکار دی-- څوک چې بادار دی هم هغه سره اختيار دی او هم د هغه لاس کښې مهار دی- زمونږ خو محض د خپلې راې دغه اظهار دی-

---

ترکستان نه تر طاهره

د اپريديو په قبايلي ټولنه کښې د دره ادم خيل د بوړې په سوکړه کلي کښې چې د مير اکبر خان په کور کښې د ترکستان په نوم يو ماشوم په څلورم جون ۱۹۳۹ سترګې وغړولې نو تر سپينې ږيرې ژوند کښې يې د تخلص په توګه د اثر اخستو سره د طاهر اثر اپريدي صورت اختيار کړو-په ډير عجيبه حيرانوونکي ډول- د سکول او مدرسې دروازه يې هم نه وه ليدلی خو پلار به ورله کورته څه رسالې اخبارونه راوړل چې هم هغې نه يې الف ب وپيژندل-- ټکي توري جوړول يې زده کړل-- جملې جوړول او ليکل يې زده کړل او د قيصو لوستلو نه خوند اخستل يې زده کړل- تر دې چې د ژوند په يو ويشتم کال يې په ۱۹۶۰ کښې يوه قيصه وليکله چې دغه قيصه يې نوموړي اديب او صحافي ولي محمد طوفان په غنچه مجله کښې چاپ کړه-- هغه ورځ وه چې د ترکستان مخه د شاعرۍ نه قيصه ليکنې ته وګرځيده او د تخلص اثر نه يې هم ځان بې اثره کړو- اوس ترکستان طاهر اپريدی شو-- په داسې رفتار يې د ادب په ميدان کښې ګامونه پورته کړل چې دنيا ورته حيرانه شوه-- په کراچۍ کښې د ميشته کيدلو سره يې د ټرانسپورټ خواري مزدوري هم کوله او د اردو ادب لوست يې هم شروع کړو- تر دې چې د اردو هم نامتو ليکونکی شو-- په مخه روان وو- پښتو کښې يې د افسانو مجموعه د محلونو خوا کښې چې چاپ کړه نو په تسلسل سره يې لس نورې مجموعې چاپ کړې- اردو کښې يې افسانې وليکلې او مجموعه ديدن يې چاپ کړه- سفرنامو ته يې مخه کړه- دوه سفرنامې يې چاپ کړې-- رپورتاژونو ته يې مخه کړه يو شمير رپورتاژونه يې چاپ کړل-- ناول ته يې مخه کړه څو ناولونه يې چاپ کړل-- په اردو او پښتو دواړو ژبو کښې-- د کتابونو ترجمې يې وشوې-- پخپله يې هم ترجمې وکړې- ادبي صحافت ته يې مخه کړه - د لوې معيار ادبي مجله جرس يې په کلونو وچلوله چې د غزل او نظم ځانګړې ګڼې يې نن هم معتبره حواله ګڼلی شي- تنظيمي خدماتو ته متوجو شو په کراچۍ کښې يې جرس ادبي جرګه جوړه کړه- د سليم راز صاحب سره په شريکه يې د پښتو وړومبي پاکستاني فلم د پاره قيصه مکالمې او سندرې وليکلې چې دغه فلم ګل څانګه تکميل ته ونه رسيدی شو- تکلونه يې وليکل-- خاکې يې وليکلې-- ډرامې يې وليکلې-- سريزې ديباچې يې وليکلې-- په سوونو ليکونکيو ته يې ادبي خطونه وليکل-- شاګردان او اديبان يې وروزل-- د وفات نه يو کال پس په صدارتي ايوارډ ونمانځلی شو - عجيبه نالوستی ترکستان وو چې تر طاهره سفر يې خلق حيران کړل-- بس اوس طاهر اپريدی يو داسې نوم دی چې پخپله د هغوئ په ژوند او کار کتابونه ليکلی شي-- د ايم فل او پي ايچ ډي سندونه پرې ورکولی شي-- بس خو د سبق او پيغام اخستلو د پاره يې شخصيت اولس ته يو مثال او علامت دی-- يو رول ماډل دی او د دې هر څه نه زيات دا چې هغه ترکستان اوس د طاهر اپريدي په شکل په زړونو کښې ساتلی شي--زه يې هم په رفاقت او اوږده موده نزديکت ويارم-- زما په زلميتوب کښې يې ماته موقع راکړې وه چې د هغوئ په ناول کانو کښې رګونه مې سريزه ليکلې وه-- هغوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله ګڼو کتابونو کښې زما يادونه په ډيره مينه او درناوي کړې ده- ما سره يې تل د پدرانه شفقت ځرګندونه کړې وه- دغسې يو لوی انسان ته به الله ضرور د روح ابدي سکون او قرار هم وربخښلی وي-- په نن ورځ څلور کاله مخکښې زمونږ نه جدا شوی وو خو هغه فارسی کښې وايي کنه--

رفتيد و لے نه از دل ما

---

قوم او ملت

خيل يا قبيله نسل امت او قوم ټول بيل بيل دي-- ډير خلق خيل يا قبيلې ته هم قوم وايي او نسل يا امت ته هم--- د قوم تعريفونه هم په سياسي مذهبي او ټولنيزو علومو کښې بيل بيل دي--- چرته د مذهب او عقيدې په بنسټ--چرته د جغرافيې -- چرته د ژبې او چرته د وينې په بنياد--- خو دغه ټول تعريفونه په څه نا څه حواله بيا هم نيمګړي پاتې شي-- ما ته پخپله د روسي ليکونکي سټالن تعريف د نورو په نسبت زيات عقلي او مناسب ښکاري--- هغه شپږ داسې بنيادي نکتې په ګوته کړې دي چې د انسانانو د يوې ډلې نه قوم جوړوي---وړومبی دا چې دغه انساني ډله د يو تاريخي تسلسل نه راتيره وي---دويم دا چې دغه تاريخي تسلسل يو اوږد دوام هم ولري-- دريم دا چې دغه ډله يوه شريکه ژبه هم ولري-- څلورم دا چې دغه ډله شريکه او ټړلې سيمه يا جغرافيه هم ولري---پنځم دا چې دغه ډله مشترکه معاشي نظام او شريک مفادات يا شريکې ګټې هم ولري-- او شپږم دا چې دغه ډله يوه شريکه نفسياتي رغاونه هم ولري چې د اولس د کلتوري او تهذيبي ژوند نه يې وجود موندلی وي---

دغو نکتو سره اختلاف هم کيدی شي خو په يوه انساني ډله کښې که دغه ټولې نکتې شتون ولري نو قوم بللی کيدی شي--که يوه نکته هم پکښې کمه وي نو بيا قوم نه دی--په دغه پيمانه مونږ پښتانه په کوم مقام يو -- دا مونږ پخپله غور کولی شو--- البته خوشال بابا دغو کښې څو نکتو ته ډيره پخوا اشاره کړې وه چې ځنې يې په دې يو شعر کښې هم درک کولی شو--

درست پښتون له کندهاره تر اټکه

سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار

ملت--- ملت د عربی ټکی دی- جمع يې ملل ده- جرړه يې مل ده چې املا هم ترې جوړه ده-- املا يعني ليکل-- فارسی کښې ورسره د ميل جول-- شريک ژوند او ټولنيز يو والي تصور هم ملګری دی- دغسې د ملت معنا ده د يو قانون ضابطې او لارې ټاکل او ليکل لکه د ژوند د ايين او منشور چې په خپل ژوند کښې يې اجتماعي پيروي وشي-- دغه پيروی د پاره نه خو د قوم هغه شپږ نکات او شرطونه لازمي دي او نه نور کوم شرايط-- بنيادي شرط يو دی چې د ژوند تيرولو د پاره لاره يا قانون او ضابطه ټاکل او بيا دغه لاره او ضابطه پالل چې پکښې د هر نسل ژبې جغرافيې او کلتور وګړي شامليدی شي- دغه ضابطه د خداې له خوا د کوم پيغمبر په واسطه هم راوړلی کيدی شي او د کوم بل مشر حکيم او پوهه انسان يا اولس له خوا هم- لکه ملت ابراهيم او يا بيا ملت افغان وغيره- د ملت تصور کښې د منلو تسليمولو او عقيدې عنصر زيات شامل وي چې دغه عنصر د قوم د پاره لازمي نه دی-- البته د پيغمبر نه علاوه د کوم مشر حکيم او سردار له خوا د لارې ټاکلو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کومې دیني عقیدې تصور ضروري نه دی خو په دنیاوي توګه پکښې مثل او تسلیمول بیا هم ضروري وي-

---

هوښیار مه ګڼه هوښیار د دې دنیا
بې وقوف دي وقوف دار د دې دنیا
رحمان بابا
د ښاغلي الیاس احمد خان په غوښتنه مې د رحمان بابا د دغه شعر وضاحت وکړو-

وضاحت--
انسان د پاره یوه دا مادي دنیا ده او یوه د اخرت روحاني دنیا- قران حکیم وایي-
وَمَا الْحَیٰوةُ الدُّنْیَآ اِلاَّ لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ط وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لِّلَّذِیْنَ یَتَّقُوْنَ ط اَفَلاَ تَعْقِلُوْنَo

(الأنعام)
مفهوم يې دا دی چې د دې دنیا ژوند لهو لعب دی یعني کهیل تماشا ده - ګټه د هغه چا ده چې د اخرت کور د پاره يې تقوا اختیار کړه-- ایا تاسو عقل نه لرئ-
نو اوس غور وکړئ چې د قران له مخه عاقل او هوښیار څوک دی او بې وقوف او بې عقله څوک- د دې دنیا اخستونکی او که د هغه دنیا اخستونکی-- رحمان بابا خو خپله فیصله کړې ده چې-
رحمان هسې بې وقوف سوداګر نه دی
چې د دین متاع بدله په دنیا کا
او دغه فیصله يې د قراني تعلیماتو سره سمه کړې ده- که څوک قران او رحمان سره نه وي متفق نو هم د رحمان بابا په صحبت به يې څه اثر وشي--- که یو فلسفي او مفکر د ټول عمر فکروتدبر نه پس هم دا وایي چې زه ایله دومره پوهه شوم چې زه نه پوهیږم---- نو په عامو خلقو کښې به د دې نه غټ بې وقوف څوک وي چې په دې دنیا ورته ځان هوښیار او وقوف دار ښکاري-

---

اروابناد سلیم راز صاحب هغه شخصیت دی چې د پښتو ادب صحافت سیاست په ګڼو اړخونو يې د قدر وړ او د لوړ معیار لیکونه کړې دي-- ټول ژوند يې د یو کل وقتي لیکوال او عملي مبارز په توګه تیر کړی دی-- د هغه یو شمیر کتابونه د هغوئ په ژوند چاپ شوي دي او یو درجن ته نزدې کتابونه د هغه بچو په ځانګړې توګه د افتاب سلیم په هڅو مخې ته راغلل چې یو تازه کتاب پکښې -- خپل اتل ته به اتل وایمه-- دی-- دې کتاب کښې د پښتني سیاست صحافت او ادب سره تړلي یو شمیر شخصیات څیرلی شوي دي چې دا د سلیم راز صاحب د بیلابیلو وختونو او موقعو لیکونه دي د کوم منظم کتاب په نیت نه دي لیکلی شوي- دېو کښې څه خو داسې شخصیات دي چې مخکښې هم پرې ډیر مواد او معلومات وو خو د سلیم راز صاحب د کتلو زاویه ورته بیا هم خپله ده- یو شمیر بیا داسې شخصیات هم پکښې شته چې ډیر مواد پرې نه تر لاسه کیږي په هغو د راز صاحب تبصره او تجزیه لا زیات اهمیت لري لکه حسین بخش کوثر محمد خان کاکا عباد خا لالا او خوشحال خان کاکاجي- ځنې سیاسي شخصیات لکه بشیر بلور عزیز ماما وغیره هم ډیر معلومات نه لرل-او یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شمیر بیا داسي دي چې هغه همه ګیر شخصیات دي لکه پیر روښان خوشحال بابا احمد شاه ابدالي او نور-- دغو ټولو ته راز صاحب اتلان ویبلي دي چې زه پکښې راز صاحب هم ورشریکوم چې راز صاحب پخپله زمونږ اتل دی-- د خپل کار عمل او جدوجهد په حواله-- خپلې نظریې او تصور سره د تړون په حواله-- خپل لیک او عمل کښې د صداقت په حواله--**
**زه په کوم کتاب پوسټ یا لیک ډیر نه کوم خو د دې کتاب د لوستلو بلنه ورکوم خپل اولس او ټولو ذوق لرونکیو ته- دلته باید دا یادونه هم وکړم چې د راز صاحب په ژوند او مبارزه د ډاکټر سید محسن شاه محسن د ډاکټریټ مقاله هم چاپ شوه چې هغه هم ډیر ګټور معلومات لري او د قدر وړ دي- د راز صاحب روح دې ښاد وي-**

---

**د رحمان بابا د پیدایش او وفات کلونه**
**حنیف خلیل**

**نوټ---**
**د رحمان بابا د پیدایش او وفات په کلونو دغه مقاله ما د قلندر مومند صاحب د موقف په جواب کښې خپله د زلمیتوب په زمانه کښې دوه کم دیرش کاله پخوا لیکلې وه چې هم هغه دور کښې مې د قلندر صاحب موجودګۍ کښې د ساهو لیکونکیو مرکه کښې تنقید ته وړاندې کړې وه- بیا د کراچۍ په جرس مجله کښې چاپ شوه بیا په امیل مجله رحمان بابا ځانګړې ګڼه کښې چاپ شوه- اوس یې د امیل ادارې یوې یادګیرنې سره خپلو د فیسبک ملګرو سره هم شریکول غواړم- مقاله اوږده ده ذوق لرونکي ملګري یې ښه په قلاره وګورئ او د قلندر مومند صاحب او زما د موقف په اړه خپله ازاده رای هم قایمولی شئ-**

**یادګیرنه:  دا مقاله په "درې میاشتنی جرس کراچی" اکتوبر_دسمبر ۱۹۹۷ء کښې د ٦١ نه تر ٨١ مخ پورې چاپ ده. په دې کښې چې د املاء کومې غلطۍ وې دلته د هغې تصحیح وکړے شوه.**
**ورسره د د رحمان بابا د پېدائش د کال په اړه چې د قیاساتو په ضمن کښې کومې سهوې شوې وې د هغې هم درستګي وشوه. د رحمان بابا د پېدائش او وفات په اړه چې کومې څېړنې شوې وې د هغې یو انتقادي جاج په دې مقاله کښې اخستے شوے دے او د داخلي او خارجي سندونو په اساس د رحمان بابا د پېدائش او وفات په کلونو زړهٔ پورې بحث شوے دے.  (اداره)**

**پټه خزانه کښې محمد هوتک بن داوُد د رحمان بابا د پېدائش کال ۱۰٤۲هـ  او د وفات کال ۱۱۱۸هـ لیکلے دے (۱)**
**په دې دواړو کلونو وړومبے تنقید مرحوم دوست محمد خان کامل مومند کړے دے (۲).په دې حقله ښاغلیو تقویم الحق کاکاخېل، حبیب الله رفیع  او قلندر مومند هم مقالې ولیکلې. (۳)**
**په دغه مقالو کښې د قلندرصېب مقاله " د رحمٰن باباد پېدائش او  وفات کلونه" زمونږ د بحث بنیادي محرک دے.**
**قلندر صېب د یو اوږد بحث او خپلو دلیلونو پېش کولو نه پس د رحمان بابا د پېدائش کال ۱۰۸۱هـ او د وفات کال ۱۱٦۳هـ  ښودلے دے.(٤)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مونږ د قلندر صیب ښودلي شوي دغه کلونه صحیح یا صحیح تاریخونو ته نزدې وګڼو نو ځنې تاریخي شواهد او واقعات به د دې مرسته ونهٔ کړي. د قلندر صیب د اساسي د لیل له مخه د هغهٔ خیال دے چې:
" که په ۱۱۱۹هـ کښې مونږ د رحمان بابا عمر ۵۵ کاله فرض کړونو د رحمان بابا د پیدائش کال (به) ۱۰٦٤هـ راوځي او که داسې وي د خوشحال بابا د وفات په وخت ۱۱۰۰ هجري کښې به د رحمان بابا عمر ۳٦ کاله منل پکار وي حالانکې داسې کول به ډیر غلط وي ځکه چې که چرې د خوشحال بابا د مرګ په کال رحمان بابا د شپږ دیرش کالو وے نو دا به ډیره غیر اغلبه خبره وه چې خوشحال بابا به ئې د شاعر په حېث ذکر نهٔ کولو. (۵)
د شاعرانو د ذکر په حواله چې قلندر صیب د خوشحال بابا کوم شعرونه پیش کړي دي په هغې کښې د قلندر، واصل او دولت نومونه راغلي دي. دې نه علاوه د خوشحال بابا په کلام کښې د ارزاني خوېشکي، مرزا خان انصاري، او ځینو نورو لیکونکو نومونه هم ذکر شوي دي خو که د قلندر صیب په جوړه کړے شوې دغه فارمولا د شاعرانو د درو تعین کول لازمي وګڼلے شي نو ورسره به د ځینو شاعرانو حېثیت مشکوک شي. که نور هر څهٔ په ځائے پرېږدو او صرف د مخلص (صاحبِ دیوان شاعر) ذکر د خوشحال بابا په کلام کښې ولټوؤ نو په نظر به رانهٔ شي. خو بیا هم د قلندر صیب په دغه دلیل یا رائے بحث پکار دے او دا بحث مونږ په دې طریقه کولے شو.
۱--- خوشحال بابا د چا ذکر کړے دے؟ او د چا ئې نهٔ دے کړے؟
په دې حقله د محترم تقویم الحق کاکاخېل رائے ډېره وزني ده چې "د خوشحال بابا د شاعرۍ دوه دوره دي. یو د مغلو درباري دور او دوېم د مغلو خلاف د قلمي او عملي مبارزې دور – په وړومبي دور کښې خوشحال بابا د مختلفو شاعرانو ذکر هم کړے دے او د مستۍ او رندۍ شاعري ئې هم کړې ده او بیا دوېم دور کښې ئې محض د مغلو خلاف رزمیه او انقلابي شعرونه وئیلي دي ځکه چې د هغهٔ ټوله توجه په دغه وخت کښې د مغلو په حاکمانه رویه مرکوزه وه. دې وخت کښې ورسره د شاعرانو تذکرو وغېره د پاره فرصت نهٔ وو". (٦)
په دې حقله مرحوم دوست محمد کامل صیب لیکلي دي چې: " د خوشحال بابا په علمي او ادبي آثارو کښې د رحمان بابا غوندې باکماله شاعر د ذکر نشتوالے یا خو د خوشحال بابا د مخصوصې وضع دارۍ له کبله دے او یا یو افسوسناک اتفاق دے."(۷)
د تقویم الحق کاکا خېل او کامل صیب رائے ډېرې موزونې او معقولې دي او له دې نه معلومیږي چې د خوشحال بابا په ژوند هم رحمان بابا د یو ښهٔ شاعر په حېث ښهٔ مقام پیدا کړے وو او دا خبره مرحوم کامل صیب نور په صراحت سره داسې لیکلې ده:
"له پورتنو سندونو خصوصاً د اشرف خان هجري د نظم نه ښکاره شوه چې د رحمان بابا د شعر شهرت چې کوم وخت په پښتونخوا کښې خور شوے وو نو غالباً چې خوشحال بابا هم حیات وو. دا بیله خبره ده چې خوشحال بابا چې هېڅ ئې له پام، خیال او قلمه نهٔ دي پاتې د رحمان بابا او د هغهٔ د شاعرانه کمال ذکر په خپلو تصانیفو کښې نهٔ کوي."(۸)
د پښتو د دوؤ سترو محققانو له دغو رایو نه هم معلومېدے شي چې رحمان بابا کم نه کم د ۱۰۸۱ هـ نه ضرور مخکښې زیږېدلے وو.

۲--- رحمان بابا په خپله شاعرۍ کښې د ارزاني خوېشکي، مرزا خان انصاري ، دولت لواڼي او خوشحال خان خټک ذکر کړے دے:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرزا د ارزاني دعوې به پرې کا
قدر دان د شاعرانو رحمان راغے

خوشحالا او دولتا مي غلامان دي
زهٔ رحمان په پښتو ژبه عالمګير يم

دا هغه شاعران دي چې شاعري ئې رحمان بابا نه پټه نهٔ ده او هغهٔ سره نزدې وړاندې دور کښې تېر شوې دي. که چرې د رحمان بابا د پيدائش نېټه د قلندر صېب د تحقيق مطابق ۱۰۸۱هـ وګڼو او ژوند ئې تر ۱۱٦۳هجري پورې متعين کړو نو بيا به د دهٔ په هم عصرو شاعرانو کښې د اشرف خان هجري، عبدالقادر خان خټک، صدر خان خټک، سکندر خان خټک، عبدالحميد مومند، قلندر او خواجه محمد بنګش نه علاوه ..... مصري خان ګګيانے، معزالله خان مومند، کامګار خان خټک، سعيد خټک او ځنې نور شاعران هم شمېرو. په داسې حال کښې که رحمان بابا د ارزاني، مرزا، دولت او خوشحال ذکر کوي نو په دغو همعصرو شاعرانو کښې د يو شاعر ذکر هم ولې نهٔ کوي؟ خصوصاً په داسې حال کښې چې په دغو کښې ځينو د رحمان بابا شاعرانه عظمت هم منلے او په شعرونو کښې ستائيلے دے. يقيناً چې په داسې حال کښې د دې شاعرانو ذکر نهٔ کول به ډېره غېر اغلبه خبره وه. خو اصل صورتِ حال دا دے چې په دغوکښې چې کوم واقعتاً د رحمان بابا همعصر دي د هغوي شاعرانه مقام او شهرت دومره نهٔ وو چې رحمان بابا ئې ذکر کړے وے او يا ئې پرې تنقيد کړے وے ځکه چې د رحمان بابا په نزد خو مرزا، دولت، ارزاني او خوشحال هم له دهٔ نه اوچت مقام نهٔ لرې. بيا د دهٔ د وروستيو خو هډو سوال نهٔ پېدا کېږي او کوم شاعران چې رحمان بابا نه د دور په لحاظ وروستو دي د هغوي د ذکر کولو امکان خو د مخکښې نه ختم شوے دے.
له دې نه هم معلومېږي چې رحمان بابا ۱۰۸۱هـ نه ضرور مخکښې زېږېدلے دے بلکې په دغه کال خو ئې شاعري هم شروع کړې وه.
۳: اشرف خان هجري د کال ۱۱۰۰ او ۱۱۰٦ تر مېنځه د رحمان بابا ذکر د يو پوخ او سنجيده شاعر په حېث کړے دے.

د رحمان په وئيل ځائے د لقب نشه
چې ئې ما شعر منظور کړ معتبر دے

د قلندر صېب د تحقيق مطابق به دا وخت د رحمان بابا عمر ۲۵ کاله وو. او که دا نظم په ۱۱۰۱ هـ کښې وئيلے شوے وے نو بيا به د رحمان بابا عمر شل کاله وو. مونږ به دا ووايو چې دغه وخت کښې به رحمان بابا د شلو او پنځويشتو کالو تر مېنځه وو. که په دې عمر کښې هجري د رحمان بابا ذکر ضروري ګڼي نو بيا د رحمان بابا همعصرو کښې د بل کم شاعر ذکر ولې نهٔ کوي؟. لکه چې وړاندې د دغو همعصرو ذکر وشو چې پکښې د حميد بابا، مصري خان ګګياني، معزالله خان مومند، کامګار خان خټک، خواجه محمد بنګش او سعيد خټک وغېره نومونه هم شاملېږي. د دې شاعرانو په شاعرانه مقام کښې به څوک شک وکړي. هر کله چې د دې شاعرانو مقام هم اوچت دے او د رحمان بابا همعصر هم دي نو بيا هجري به په هم دغو شعرونو کښې آخر دا شعر څنګه وئيلو چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نور قابل د یادو نۀ دي په دا ذېل**
**نۀ ئې شعر سنجیده نۀ د باور دے**

**که نور تول په ځائے پرېږدو نو آخر د حمید بابا، کامګار ختک او مصري خان ګګیاني شعر به څنګه سنجیده او د باور وړ نۀ وي چې هجري ئې د یادولو قابل نۀ ګڼي.**

**دې نه ښۀ په آسانه معلومېږي چې رحمان بابا له دغو تولو شاعرانو نه د عمر او شاعرانه معیار دواړو په لحاظ وړاندې وو او په ۱۰۸۱ هـ کښې د پېدا کېدو په بنیاد به ئې عمر دومره کم نۀ وو چې هجري د دۀ د ذکر ضرورت نۀ وے محسوس کړے.**

**٤: د پښتو ستر شاعر او د خوشحال بابا زوے عبدالقادر خان ختک د رحمان بابا ذکر داسې کړے دے.**

**زۀ ختک دیار په غم تازه تازه یم**
**غوریا خېل رحمان که شو ورځنې ستړے (۹)**

**د مرحوم عقاب ختک په خیال د عبدالقادر خان دا شعر د رحمان بابا په دې شعر د طنز کولو د پاره وئیلے شوے دے چې:**

**ما له دېرې ناچارۍ ویار ته شاکړه**
**سړے عذر دے په دېره ناچارۍ کښې (۱۰)**

**خو خبره داسې نۀ ده. د دې شعر په پس منظر که غور وکړے شي نو دې نه هم اندازه کېدے شي چې رحمان بابا ۱۰۸۱ هـ نه ضرور مخکښې زېږېدلے وو.**
**عبدالقادر خان ختک چې دا شعر په کوم غزل کښې وئیلے دے، دا غزل ئې د رحمان بابا د غزل په زمکه لیکلے دے او د رحمان بابا د هغه غزل په شعرونو که غور وکړے شي نو معلومه به شي چې دغه غزل د رحمان بابا د ژوند د وروستۍ برخې غزل دے ځکه چې په دغه غزل کښې هغه خپل مرګ ته اشارې کوي. د هجر کېفیت داسې بیانوي لکه چې ښۀ ئې ورله زړۀ ستړے کړے وي او نور ئې توان نۀ لري. دغه غزل کښې هغه د دنیا خلقو نه هم فریاد کوي او د خپل ژوند نه ئې هم طمع غوڅه شوې ده. د دغه غزل ځینې شعرونه دا دي:**

**د اشنا له لاسه ناست یم په زړۀ ستړے**
**په فلوس مې پکار نۀ دے درست وګړے**

**چې په ژوند ئې طمع پرېکړے شي له ژونده**
**نور به څۀ باندې ویرېږي سر پرېکړے**

(c) ketabton.com: The Digital Library



له احواله ئې ورو ورو پوښتئ يارانو!
بېلتانۀ د رحمان وار دے خطا کړے (۱۱)

او دا اندازه د عبدالقادر خان له شعره هم کيږي چې رحمان بابا د يار غمونه دومره عمر وژړل چې نور ترې زړۀ ستړے شو ځکه خو ئې دا مصرعه وئيلې ده چې:
" غورياخېل رحمان که شو ورځنې ستړے"
د وړومبۍ مصرعې نه دا اندازه هم کيږي چې عبدالقادر خان دغه غزل د عمر په وړومبۍ برخه کښې وئيلے دے ځکه چې هغه لا د يار غمونه دومره نۀ دي ليدلي چې لکه د رحمان بابا ترې زړۀ ستړے شي بلکې هغه خو په داسې حال کښې دے چې په دغه غمونو د تازه کېدلو خبره کوي.
دعبدالقادر خان د پېدائش کال ۱۰۶۳هـ دے. دۀ که چرې دغه غزل د خپلې شاعرۍ په وړومبۍ برخه کښې وئيلے وي (لکه چې د غزل د اسلوب نه اندازه کيږي) نو تقريباً ۱۰۸۵هـ ته نزدې وختونو کښې به ئې وئيلے وي ځکه چې دغه وخت کښې به د دۀ عمر شلو کالو نه اوړېدلے وي. د قلندر صېب د تحقيق تر مخه دې وخت کښې به د رحمان بابا عمر څلور کاله وو او په داسې حال کښې د عبدالقادر خان له خوا د رحمان بابا د غزل په زمکه غزل ليکل څۀ جواز لري او که د ډېر احتياط له مخه د عبدالقادر خان دغه شعر د عمر د وړومبۍ برخې ونۀ منو نو بايد چې دا خبره خو ومنو چې د خوشحال بابا تر مرګه ۱۱۰۰هـ خو به ئې ضرور وئيلے وي ځکه چې له دې نه پس داسې حالات نۀ وو چې عبدالقادر خان د يار په غم د تازه کېدلو خبره کړے وے. په دې وخت کښې به د عبدالقادر خان عمر درې کم څلوېښت (۳۷) کاله وو او ښۀ پوخ او سنجيده شاعر به وو نو که داسې وي نو بيا هم د قلندر صېب دا خبره غلطيږي چې ګڼي د خوشحال بابا په ژوند د رحمان بابا شاعرانه مقام د يادولو جوګه نۀ وو.
دې شعر ته که د يوې جدا زاويې نه وګورو نو شايد چې خبره نوره هم واضحه شي. لکه چې وړاندې مو وئيلي دي چې د رحمان بابا دغه غزل د هغۀ د ژوند د وروستۍ برخې غزل دے. قلندر صېب د رحمان بابا عمر دوه اتيا کاله تخمين کړے دے. ديوان کښې د هغۀ اوږد عمر ته اشارې شته خو د شمېر په لحاظ خپل عمر د ۵۵ نه اوړېدلے ښائي. که د رحمان بابا دغه غزل د اتيا کالو د عمر غزل وګڼو نو د قلندر صېب د تحقيق مطابق به دا غزل په کال ( ۱۰۸۱ هـ + ۸۰ = ۱۱۶۱ هـ) کښې وئيلے شوے وي. که د دې غزل وئيلو په وخت د رحمان بابا عمر ۵۵ کاله وګڼو نو بيا به دا غزل په کال ( ۱۰۸۱ هـ + ۵۵ = ۱۱۳۶) کښې وئيلے شوے وي. نو که ډېر فياضانه قياس هم وکړو او د دې غزل وئيلو په وخت د رحمان بابا عمر ۴۵ کاله وګڼو نو د دې غزل د وئيلو کال به ( ۱۰۸۱ + ۴۵ _ ۱۱۲۶ هـ) راوځي. په دې ټولو صورتونو کښې د رحمان بابا د غزل په زمکه د عبدالقادر خان له خوا غزل وئيل د امکان نه خارج خبره ده ځکه چې د کال ۱۱۲۵هـ نه پس د عبدالقادر خان ژوند د تاريخ نه چرته هم نۀ دے ثابت.
د عبدالقادر خان د يو شعر نه د هغۀ عمر تر ۱۱۲۵هـ پورې ثابت دے. (۱۲)
داسې معلوميږي چې په هم دغه کال وفات شوے دے ځکه چې په دې کال د دۀ ورارۀ افضل خان خټک دے ګرفتار کړے وو او د ګرفتارۍ نه پس د ژوند په حقله ئې تاريخِ مرصع کښې هم څۀ نشته. افضل خان د دۀ د ګرفتارۍ په حقله ليکلي دي: " په سن زر سل پنځويشت، مياشت د جمادي الاول عبدالقادر او شهباز د فرزندانو سره او عبدالله او محمدمې واړه قېد کړل." (۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کله چې له دغه کال نه پس د عبدالقادرخان ژوند د تاریخ (خصوصاً د تاریخِ مرصع) نه نهٔ دے ثابت نو بیا هغهٔ د خپل مرګ نه وروستو څنګه د رحمان بابا د غزل په زمکه غزل ولیکلو؟.
۵: د دغه دور یو بل شاعر صدیق د رحمان بابا د یو غزل په ځواب کښې هم د هغهٔ د غزل په زمکه غزل لیکلے دے چې متعلقه شعر ئې دا دے:

بل غزل په انتخاب چې کړې صدیقه
د رحمان د غزل بس دے دا جواب

صدیق په یو غزل کښې د پښتنو او مغلو تر مېنځه هغه مشهور جنګ ته اشاره کړې ده کوم چې په ۲ محرم کال ۱۰۸۳هـ کښې شوے وو. دغه جنګ کښې د مغلي لښکر مشر د کابل صوبیدار محمد امین وو چې صدیق ئې په دغه غزل کښې ذکر کړے دے. د دغه غزل متعلقه شعرونه پېش کوو:

حق د پښتنو دے چې اوس بیا د حق د پاره
سور په شهزاده کا دغه تور خوني خېبر

په دغه وخت کښې صدیق ځان ته هلک (زلمے ) وائي:
وړاندې زهٔ هلک وم چې پرې ډوب محمد امین شو
ښهٔ ښهٔ شهیدان وو ډېر مغل شول پرې ډېر

هر کله چې په کال ۱۰۸۳هـ کښې صدیق هلک وو نو شاید چې دغه وخت کښې ئې ایله د شاعرۍ تازه ابتدا کړې وي نو که د خپلې شاعرۍ په وړومبیو ورځو کښې ئې د رحمان بابا ذکر کړے وي( لکه چې عموماً د شاعرانو فطرت دے) نو د قلندر صېب د تحقیق مطابق په دغه وخت کښې رحمان بابا د دوو کالو ماشوم وو او که د احتیاط له مخه فرض کړو چې صدیق د خپلې پخې او سنجیده شاعرۍ په دور کښې د رحمان باباد غزل جواب کړے دے نو د پنځلسو کالو یوه اوږده موده به ورسره نوره هم شامله کړو. داسې کولو سره به د رحمان بابا عمر اولسو کالو ته ورسي او په دغه عمر کښې هم رحمان بابا دومره لوئے شاعر نهٔ شي کېدلے چې صدیق ئې جواب وکړي او که فرض کړه دې وخت کښې رحمان بابا دومره لوئے شاعر دے نو دا وخت د خوشحال بابا وفات ته دوه کاله پاتې وو، باید چې هغهٔ ئې ذکر کړے وے(لکه چې قلندر صېب ئې ضروري ګڼي).
مونږ که د صدیق له خوا د رحمان بابا د غزل جواب ډېر وروستو د هغهٔ د شاعرۍ د وروستي دور هم وګڼو نو ایله به رحمان بابا د خپلې شاعرۍ دویم پړاؤ او منځنې دور کښې قدم اېښودے وي.
داسې وخت کښې د صدیق له خوا د رحمان بابا د غزل جواب ناممکن یاغېر اغلب نهٔ دے خو د رحمان بابا د کتاب (دیوان) ذکر کول ضرور غېر اغلب دي ځکه چې دیوانونه عموماً د عمر او شاعرۍ په آخري وخت کښې ترتیب کولے شي. صدیق نهٔ یواځې د رحمان بابا د دیوان ذکر کړے دے بلکې ورسره ئې یو رنګ د خوشحال بابا د کتاب ذکر هم کړے دے او بیا ئې خپله شاعري د غو دواړو نه اوچته ګڼلې ده لکه چې په لاندېني شعر کښې یې د کرلاڼ او سړبن د ذکر نهٔ معلومېږي:

سړبن، کرلانے دواړه پښتانهٔ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وېنا د هېڅ يوۀ په کتاب نشته (۱٦)

په دې شعر کښې د سړبن نه مراد روښانيان هم اخستلے کېدے شول خو د "دواړو" لفظ نه صفا معلومېږي چې دواړه يو خوشحال بابا او دوېم رحمان بابا ياد شوے دے او که داسې وي نو په آسانه دا اندازه کېدے شي چې رحمان بابا د صديق نه که مشر نۀ وي نو کشر يا ترې کمزورے شاعر به هم نۀ وي او که مونږ رحمان بابا د صديق همځولے همعصر هم وګڼو نو د قلندر صېب تخمين کړے کال ۱۰۸۱هـ نه به کم نه کم پنځلس کاله وړاندې پېدا شوے وي ځکه چې ۱۰۸۳هـ کښې صديق هم زلمے هلک وو.

٦: که چرې رحمان بابا په کال ۱۰۸۱هـ کښې پېدا شوے وي نو په کال ۱۱۳۷هـ کښې به د هغۀ عمر ( ۱۱۳۷ منفي ۱۰۸۱ = ٥٦ ) شپږ پنځوس کاله وو چې ښۀ پوخ او سنجيده عمر دے. په دغه کال د خوشحال خان خټک کړوسے کامګار خان خټک هم په يو شعر کښې وائي چې عمر مې تېر شو (يعنې د بوډا والي عمر ته رسېدلے يم):

عمر تېر شو لا تر اوسه، ستا د وصل تمنا کړم
سن زر سل درې کم څلوېښت دے چې زۀ دا تازه انشاء کړم (۱۷)

له دې نه معلومېږي چې رحمان بابا او کامګار خټک د يو دور شاعران او تقريباً همځولي وو نو هر کله چې رحمان بابا د خوشحال خان خټک غوندې ستر او نابغه شاعر د شاعرانه دعوۀ ځوابونه کوي نو د هغۀ د کړوسي کامګار خټک د شاعرانه دعوۀ ځوابونه به ئې څنګه نۀ کول. که خوشحال بابا وائي چې :

سل سړبني دې تر دا يو غزل ځارېږي
نن چې دا پښتو ده کرلاني خوشحال وئيلي

نو رحمان بابا يې ځواب داسې کوي:
يو خوشحال يو کم سل خټک نور په طبعيت کښې
ځار شه د رحمان سړبني له يوه فردا

هر کله چې د کامګار خټک په ديوان کښې هم دا شعرونه موجود دي چې:

دا غزل چې کامګار ووې په پښتو کښې بې له خانه
لا داهسې کښلے نۀ دے هېڅ شاعر پخپل ديوان يو(۱۸)

په پښتو ژبه محال دے چې پېدا شي
د کامګار غوندې شاعر بې له خټکه (۱۹)

هسې دُر کامګار خټک نۀ دي پئيلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې غوري خشتي به غوړ ځنې ډک نهٔ کا(۲۰)

په وړومبي او دوېم شعر کښې خوشحال خان خټک او خپل ځان ته لوئے مقام ورکړے شوے دے او د خوشحال بابا مقام رحمان بابا د مخکښې نه رد کړے دے او بیا درېم شعر کښې د غوري خشتي ذکر سره خو د رحمان بابا ځواب کول بېخي لازمي ځکه شي چې رحمان بابا پخپله هم غوریا خېل دے. په داسې حالاتو کښې آخر هغه کوم امر وو چې رحمان بابا ئې د کامګار د ځواب کولو نه منع کړے وو؟ بغېر له دې نه بل څهٔ کېدے شي چې کامګار خټک نه رحمان بابا د دور او شاعرانه معیار په لحاظ ډېر وړاندې وو بلکې کامګار خو د دولسمې صدۍ هجرۍ د اواسطو شاعر سعید خټک هم خپل پېش روګڼلے دے چې وئیلي ئې دي :

د کامګار ئې و جواب ته څهٔ امکان دے
چې سعید په پښتو شعر تذئین کېښود

له دې نه نوره هم واضحه شوه چې کامګار خټک رحمان بابا نه ډېر وروستو دے ځکه ئې د رحمان بابا له خوا د شاعرانه دعوؤ د جواب هدو سوال نهٔ پېدا کېږي.
ددغو دليلونو په بنیاد مونږ دې نتیجې ته رسو چې د قلندر مومند صېب له خوا د رحمان بابا د پېدائش ښودلے شوے کال ۱۰۸۱ هـ صحیح نهٔ دے. د پېدائش قریباً صحیح کال معلوملو د پاره د رحمان بابا په دیوان کښې یو شهادت داسې شته چې هغه زمونږ مدد کولے شي او هغه د مغل بادشاه اورنګزېب عالمګیر د مرګ په حقله د رحمان بابا یو غزل نما نظم دے، دکوم په حقله چې محترم تقویم الحق کاکاخېل او مرحوم عقاب خټک هم په دغه تناظر کښې بحث کړے دے.
د دغه نظم وئیلو کال محققینو ۱۱۱۹هـ ثابت کړے دے او په دغه نظم کښې رحمان بابا په هغه وخت کښې خپل عمر ۵۵ کاله نه اوړېدلے ښودلے دے.

تر پنجاو پنجه تېر شوې
تهٔ لا ځان بولې پسر

په دغه حساب تقویم الحق کاکا خېل صېب د رحمان بابا د پېدائش کال (۱۱۱۹ – ۵۵ = ۱۰٦٤هـ) راویستے دے (۲۲)
په دغه کال ښاغلي حبیب الله رفیع دا اعتراض کړے دے چې په ځنو نسخو کښې دا بېت غلط یا په نورو شکلونو هم راغلے دے کوم کښې چې رحمان بابا خپل عمر ښودلے دے (۲۳)
د رفیع صېب خبره درسته ده خو د دغو نسخو په حالت او حېثیت هم غور پکار دے. دې لړ کښې که د پښتو اکېډمۍ لائبرېرۍ کښې موجودو او د اسلامیه کالج پېښور لائبرېرۍ کښې پرتو د رحمان بابا د دیوان قلمي نسخو باندې غور وشي نو د نسخو حالت او صحت نه هم اندازه کېدے شي او یوه نتیجه تر لاسه کېدے شي. پښتو اکېډمۍ کښې په ق ۳۸٤ نمبر موجوده قلمي نسخه کښې ددې شعر متعلقعه مصرعه داسې راغلې ده:

"تر پنجا تر رنجا تېر شوې"

(c) ketabton.com: The Digital Library



(قلمي نسخه ص ٥٠)
په ق ۷۵۸ نمبر قلمي نسخه کښې هم دا شعر په پورتني شکل راغلے دے خو دغو دواړو نسخو حېثيت او صحت د سند وړ نهٔ دے ځکه چې دواړو نسخو کښې ډېرې زياتې غلطۍ دي او د دې وجه دا کېدے شي چې دا نسخې د رحمان بابا دور نه ډېرې وروستو (نقل درنقل) ليکلے شوې دي. په وړومبۍ نسخه تاريخ نشته البته په دوېمه نسخه د کتابت کال ۱۲۷۳ هـ ليکلے شوے دے. دې نه د وړاندېني او د رحمان بابا دور ته نسبتاً نزدې نسخو کښې دغه متعلقه شعر درست راغلے دے لکه د اسلاميه کالج د لائبرېرۍ يوه نسخه چې په ۱۹۲۱ نمبر موجوده ده او په کال ۱۲۲۹ هـ کښې کتابت شوې ده. دغه نسخه کښې د شعر متعلقه مصرعه داسې ده:
"تر پنجا تر پنجه تېر شوې"

په شعر کښې د مصرعې دغه شکل نه علاوه په بل شکل کښې شعر نه هېڅ معنیٰ نهٔ راووځي.
داسې معلومېږي چې دغه نسخه که نقل در نقل هم ده خو سلسله ئې ډېره اوږده نهٔ ده ځکه چې د غلطيو امکان پکښې هم کم دے. په دغه بنياد د دې قسمه نسخو هر شعر د سند وړکېدے شي خو بيا د دغه شعر په بنياد د تقويم الحق صېب له خوا متعين کړې کال ۱۰۶٤ هـ سره دومره قدر اختلاف کېدے شي چې د نظم وئيلو کال ۱۱۱۹ هـ نه پوره ۵۵ کاله کم نهٔ کړو بلکې کم نه کم(۵٦) پنځوس او زيات نه زيات ۵۹ کاله ترې کم کړو ځکه چې رحمان بابا د ۵۵کالو نه خپل عمر اوړېدلے ښائي او شپېتو کالو ته رسېدلے ئې نهٔ ښائي. کومو نسخو کښې چې د "پنجا و شسته تېر شوې" خبره ده نو د دغه نسخو صحت مشکوک دے ځکه چې هغه د ډېر وروستي دور دي او د نقل در نقل په وجه پکښې غلطۍ ډېرې دي او بله دا چې اعتماد زړې نسخې ته حاصل وي. په دغه حساب د رحمان بابا د پېدائش کال به د ۱۰٦۰ هـ او ۱۰٦٤ هـ تر مېنځه کلونو نه لرې هېڅکله نهٔ وي.
محترم قلندر صېب د رحمان بابا د نظم د وئيلو په کال ۱۱۱۹ هـ دا تنقيد کړے دے چې د دې تاريخ د ۱۱۱۹ هـ نه ډېر وروستو هم کېدے شي ځکه دا شعر سند نهٔ شي کېدے خو لکه چې ښاغلي رفيع صېب هم ورته اشاره کړې ده. (جرس: جولائي، ستمبر ۹٤) چې په دغه نظم کښې يو بېت داسې هم شته چې د شاه عالم دورِ حکومت (۱۱۱۹ هـ - ۱۱۲٤ هـ) شروع کېدلو ته پکښې اشاره شوې ده، شعر دا دے:

اوس نوبت د شاه عالم دے
دور طور شو دګر

نو معلومه شوه چې دا شعر وروستو نه بلکې د ۱۱۱۹ هـ سره نزدې ليکلے شوے دے البته د قلمي نسخو په حواله چې مونږ کومه خبره وکړه په دې لړ کښې که کومه نسخه کښې چې د ۱۲۲۹ هـ نه مخکښې او د رحمان بابا دور ته نوره هم نزدې ليکلے شوې وي، دا شعر په بدل شکل وي نو بيا بايد چې هغه څهٔ ومنلے شي کوم چې هغه شعر نه ووځي. فی الحال له دې نه سېوا هېڅ نهٔ شي وئيلے کېدے.

د وفات کال :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک بن داؤد د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸هـ ليکلے دے چې اوس د کتابت د غلطۍ په وجه ۱۱۲۸ هـ منلے شوے دے او بيا دغه ۱۱۲۸ هـ کال د يونس د يو شعر نه هم استخراج کړے شوے دے. دغه کال قلندر مومند صيب غلط ياد کړے دے او وئيلي ئې دي چې د يونس د شعر نه دا کال د اوسنۍ رائجې املا نه د ابجدو په حساب استخراج کړے شوے دے او بيا ئې د نافع المسلمين په حواله د قائم د مرثيې په مناسبت د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۶۳ هـ ښودلے دے.
هر کله چې د رحمان بابا د پيدائش کال د ۱۰۶۰هـ او ۱۰۶٤ هـ تر مېنځه ثابتيږي نو بيا ئې ژوند تر۱۱۶۳ پورې نۀ شو اوږدولے ځکه چې د هغۀ په ديوان کښې د ۵۵ کالو بلکې د څلوېښتو کالو عمر ته هم اوږد عمر وئيلے شوے دے ځکه نو مونږ وئيلے شو چې په دې حقله د ښاغلي حبيب الله رفيع هغه رائے سره دا دليل رد کېدے شي کومه ئې چې په دغه مناسبت په خپله مقاله (جرس جولائي، ستمبر ۱۹۹٤ء صفحه ٤۹ ، ۵۰ ) کښې ښودلې ده.
د يونس د شعر په حقله دا خبره صحيح ده چې د رحمان بابا د مرګ ذکر پکښې شوے دے خو د وفات کال ښودل ئې صحيح نۀ ښکاري ځکه چې پخوانو شاعرانو په دا قسمه شعرونو يا معمو وئيلو کښې که نور هيڅ نۀ وي کړي نو کال ته اشاره خو ئې ضرور کړې ده. په دې حقله د رفيع صيب خيال دے چې د يونس ټولې معمې ډېرې ژورې او دقيقې دي او د اشارې ضرور ت ئې نۀ دے محسوس کړے خو که داسې هم وي نو مونږ د يونس شعر سند نۀ شو ګڼلے ځکه چې د يونس د نورو ډېرو شعرونو نه به هم دغه متعلقه کال يا د نورو اهمو واقعاتو کلونه راووځي خو داسې کول به يقيناً چې غېر محتاط عمل وي.
د رحمان بابا د وفات د کال په حقله به وړومبے د دې خبرې تکرار وکړو چې د تاريخِ مرصع په سند د ګل خان او جمال خان د واقعې په مناسبت د رحمان بابا عمر تر ۱۱۲۳هـ خو په هر لحاظ يقيني دے.
بله خبره دا کېدے شي چې رحمان بابا د خپلو ليدلو بادشاهانو په نظامِ حکومت او د هغه وخت په حالاتو ضرور څۀ خو وئيلي دي. د شاهجهان دورِ حکومت ختمېدو ته رحمان بابا ډېر نزدې وو ځکه لا دغه حالات تازه وو او چې رحمان بابا په ښۀ بد پوهېدو نو د شاه جهان د دور خبرې لا ختمې شوې نۀ وې. د اورنګزېب ټول دور رحمان بابا پخپله ليدلے وو ځکه ئې د دغو دواړو دورونو په حقله په شاعرۍ کښې اشارې موجودې دي. اورنګزېب نه پس د ۱۱۱۹ هـ او ۱۱۲٤ هـ تر مېنځه د شاه عالم دورِ حکومت وو خو د رحمان بابا په شاعرۍ کښې د دغه دور متعلق صرف دومره اشاره شته چې :

اوس نوبت د شاه عالم دے
دور طور شو د ګر

خدائے زده څۀ بازۍ شي پېښنه
عاشوره شي که اختر

د دغه دور په حقله د رحمان بابا په کلام کښې د اشارو د عدم موجودګۍ په بنا دا اندازه هم کېدلے شي چې شايد رحمان بابا له دې نه پس د شاعرۍ کولو جوګه نۀ وي پاتې او يا شايد وفات شوے

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وي. په دې بنياد د يوې غېر محتاط اندازې مطابق دا هم ممکنه ده چې رحمان بابا د ۱۱۲۳هـ او ۱۱۲٤هـ تر مېنځه وفات شوے وي. مرحوم عقاب خټک هم دغه رائے په خپل کتاب کښې ښودلې ده او وئيلي ئې دي چې د دې رائے مرسته دا خبره هم کوي چې رحمان بابا اوږد عمر ته نۀ دے رسېدلے ځکه خو ئې په شاعرئ کښې شپېتو کالو نه د زيات عمر په حقله اشاره نشته او هسې ئې هم څلوېښتو کالو ته اوږد عمر وئيلے دے.**

**اوس مې ځائے په دا جهان کښې پاتې نۀ شو**
**خوزېدلے تر څهل او تر پنجاه يم**

**هر څو که دا يوه اندازه کېدے شي خو محتاطه رائے او پوخ دليل بيا هم نۀ دے او دغسې د يو پوخ دليل د نشتوالي په وجه موڼږه د رحمان بابا ژوند په يقيني توګه د ۱۱۲۳هـ نه نۀ شو اړولے او که خامخا ئې له دغه کال نه اړوؤ نو بايد چې مضبوط دلائل پېش کړو. په موجوده حالاتو کښې موږ له دې نه سېوا بله رائے نۀ شو قائمولے چې رحمان بابا د کال ۱۰۶۰هـ او ۱۰۶٤ هـ تر مېنځه زېږېدلے دے او د وفات کال ئې نا معلوم دے.**

**حوالې**

**۱- پټه خزانه مخ ۹٤ دوېم چاپ (۱۳۳۹ هـ ش).**
**۲- رحمان بابا مخ ۹ دوست محمد کامل**
**۳- رحمان پوهنه مخ ۹ ، ۱۷، ۲۹ ( ۱۹۹۳ء) رحمان ادبي جرګه پېښور.**
**۴- هم دغه کتاب مخ ٤۷.**
**۵- هم دغه کتاب مخ ۳۲ .**
**۶- تقويم الحق سره خبرې**
**۷- رحمان بابا – دوست محمد کامل مخ ۳۲ د**
**۸- هم دغه کتاب مخ ۳۱**
**۹- ديوان عبدالقادر خان خټک مخ ۲۱٦ همېش خليل، وړومبے اشاعت ۱۹٦۷ء .**
**۱۰- رحمان بابا، عقاب خټک مخ ۱۲۵ ۱۳۷۸هـ.**
**۱۱- ديوان عبدالرحمان (اردو ترجمه) مخ ۳۲۱ دوېم چاپ ۱۹۸۷ء)**
**۱۲- ديوان عبدالقادر خان خټک مخ ۳٦۹ دوېم چاپ ۱۹۸۷ء).**
**۱۳- تاريخ مرصع مخ ٤۰۸ تاليف د افضل خان، مقابله تصيح او نوټونه دوست محمد خان کامل مومند يونيورسټي بک ايجنسي.**
**۱۴- د صديق ديوان مخ ۷۷، د دوست شنواري په زيار.**
**۱۵- هم دغه کتاب،مخ ۱۰۷**
**۱۶- هم دغه کتاب،مخ ۱۵۵.**
**۱۷- ديوانِ کامګار خان، مخ ۱۰۹-۱۱۰.**
**۱۸- هم دغه کتاب،مخ ۱۳٦.**
**۱۹- هم دغه کتاب،مخ ۹٦.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰- هم دغه کتاب ۱۰۰.
۲۱- هم دغه کتاب ،مخ ۸۲
۲۲- رحمان پوهنه، مخ ۱۱.
۲۳- جرس، جولائي-ستمبر ۱۹۹٦ء، مخ٤٥.
۲۴- رحمان بابا(عقاب خټک)، مخ ۲٤.

---

سیاست یعنې څه

کله کله سیاست په منفي معنو کښې مکر فریب او چالاکی ته وییلی شي - مثبت معنا یې څه ده- غور وکړئ-- سیاست اصل کښې د عربی ټکی دی- مطلب یې دی هغه صلاحیت قوت پوهه او زیرکتیا لرل چې د یو ملک قام او ملت مشري نګراني او سمبالول پرې وشي-- عربی کښې ګورنر او د ملکي امورو سمبالوونکي ته مسیاس وایي- یعنې سیاست لرونکی یا سیاسي اهلیت لرونکی-- دغه سیاست ټکی په اردو فارسی او ترکی ژبو کښې هم په دغو معنو کښې راوړلی شي--
انګریزی کښې پالټکس **politics** دی چې جرړه یې یوناني ده-- یونانی کښې پالس **polis** د یو ښار نوم دی چې د دغه ښار وسیدونکي یا شهري ته به یې پالټیز **polites** وییلو- او د دغه ښار د وسیدونکیو د پاره طور طریقې نظام او انتظام جوړولو او چلولو ته به یې پالیټیکاس **politicos** وییلو چې په لاطینی او فرنچ کښې بیا پالیټیک **politique** شو-- دغه پالیټیک بیا د پولټیکل **political** یعنې سیاسي د پاره هم استعمالیدل شروع شو چې انګریزی ترې پالټکس **politics** او پولیټیکل **political** اصطلاحات جوړ کړل-
دغسې پالټکس **politics** دوه غټې برخې لري چې یوه یې تهیوریټیکل یعنې نظریاتي ده چې پکښې اصول قوانین او طور طریقې ټاکلی شي او دویمه برخه یې عملي ده چې د هم هغو جوړو شوو اصولو قوانینو او طریقو تر مخه په عملي توګه یوه ټولنه ملک یا سیمه چلولی او پرمختګ سره مخ کولی شي--
خو زمونږ اولس په عمومي ډول سیاست دې ته وایي چې بجلي بمبې او سړکونه جوړوه نوکرۍ ترلاسه کوه سفارشونه کوه او ووټ اخله-- قانون نظریه او ټولنیز پرمختګ ورته سیاست نه ښکاري- او یا بس خپل مخصوص سیاسي ګوند د پاره هره جایزه او ناجایزه سیاست ګڼلی شي یعنې په هر حال جیالا کیدل سیاست دی-- د حق مرسته د راې مثبت او مهذب اختلاف او د مجموعي قامي ترقی نوم او مثالي نظام او انتظام او دې مقصد پاره نظریاتي اساس ورته سیاست نه ښکاري- لکه بغیر د نظریې سیاسي عمل-- لکه بغیر د بنیاد نه عمارت---
بې بنیاده عمارت خو سمون نه کا

---

ما چې ستا ښایست او نمر سپوږمی سره په تول کړه
تللي تر اسمانه په میزان کښې سپوږمی نمر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رحمان بابا په دې شعر د څه ویيلو نه مخکښې دا وضاحت هم کول غواړم چې د شاعر عظمت د هغه د بیان په سلیقه شعري تکنیک او عالي تخیل کښې وي په موضوعاتو کښې نه-- موضوعات فلسفي ساینسدان او سیاستدان سره د شاعر نه هم اهم وي خو د بیان سلیقه بیا شاعر سره وي چې د یو معمولي مضمون نه په خپل هنر تکنیک او تخیل یو عالي مضمون جوړ کړي-- د مینې او جمال موضوع به په سوونو زرګونو شاعرانو تکرار کړې وي خو د رحمان بابا دغه شعر کښې د هغه تکنیک او تخیل ته چې ځیر شو نو دغه دعوې منلو ته یې هم غاړه کیږدو چې وایي--
زه په واړو کښې اول یم دویم نه یم
خپله دعوی به یې هم پریږدو - په خپل هنر او تخیل غره کاظم خان شیدا ته به متوجو شو چې له ځانه لوې شاعر په پښتو کښې یو هم نه مني خو د رحمان د غزل په یو مصرعه زړه بایيلي او وایي د رحمان په دا مصرعه د شیدا زړه دی
ته پري یې که اهو یې که جادو کړې-
ګنې د غزل پلار حمزه بابا ته به غوږ شو چې وایي-
حمزه غږ وکړو چې واړه لاس په نام شئ
قدردان د شاعرانو رحمان راغی-
نو بس د پورته یاد شوي شعر وضاحت ته به یې هم غوږ شو-

وضاحت-
د کلاسیکي شاعری یو خاصیت دا دی چې د خپل محبوب د ښایست تمثیل کولو د پاره د کاینات مشاهده کوي او د تشبیه استعارې یا علامت په توګه د کاینات نه مثالونه راخلي لکه په زمکه کشمیر بخارا سمرقند کوه قاف ختن وغیره او په اسمان کښې نمر سپوږمۍ وغیره. د مبالغې انداز یی داسې وي چې نور شاعران ترې عاجز پاتې شي لکه د فارسی د ټولو نه لوې منلی شوی شاعر حافظ شیرازي چې د سمرقند او بخارا د ښایست مثال ورکوي او د محبوب د زنې په یو تور خال یی قربانوي
اګر ان ترک شیرازي بدست اورد دل ما را
بخال هندویش بخشم سمرقند و بخارا را
او بیا خوشال بابا د دې نه زیاته حسن مبالغه کوي او وایی
سمرقندوبخارا څه هغه زه یم
چې جهان بخښم د ښکلي مخ په خال.
اوس رحمان یابا ته غور وکړئ چې هغه د محبوب د حسن تصویر کشی د پاره د کاینات مشاهده او بیا تمثیل نګاري د حسن مبالغې په کوم انداز وړاندې کوي او د کوم نادر او عالي تخیل څرګندونه کوي.
هر شاعر نمر او سپوږمی د حسن علامت ګڼي خو رحمان بابا یی د محبوب د حسن په مقابله کښې دومره حقیر او سپک ګڼي چې د میزان یعنې تلې په یو چاړي کښې یی د محبوب ښایست اچولی دی او بل کښې د ښایست علامتونه نمر او سپوږمۍ- شاعرانه جواز خو دا هم دی چې حسن غرور لري او د غرور له مخه نمر سپوږمۍ چې پاس اسمان کښې دي نو ګویا دا ځان ته اوچت ګوري ځکه پاس اسمان کښې ګرځي - خو رحمان بابا جواز دا پیش کوي چې دا نمر او سپوږمۍ چې دومره اوچت دي او پاس اسمان کښې دي نو دا ځکه چې د تلې مخالف چاړي کښې ورسره زما د محبوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حسن پروت دی.یو چاپړی دومره دروند چې په زمکه یعني زما د محبوب ښایست او بل چاپړی خپل ښایست کښي دومره سپک چي اسمان ته ورسیدو یعني نمر او سپوږمی - د رحمان بابا د تخیل دا کرشمه هم وګورئ چې د اسمان شکل هم لکه د تلي د چاپړي دی چي پکښي د کاڼو په ځاې نمر او سپوږمۍ پراته دي- دا انداز دی د رحمان بابا د خپل محبوب د حسن د ستاییلو - دغه شاعرانه تخیل دی او دغه د بیان سلیقه ده د رحمان بابا چې زما په خیال هر شاعر به ترې عاجز وي ځکه خو رحمان بابا وایی ---**

**چي منکر پرې اعتراض کولی نه شي**

**دا دې شعر دی رحمانه که اعجاز-**

---

**دویم حمید**

**ما د شرعه الاسلام ترجمې په حواله ویلي وو چې دا د نازکخیال عبدالحمید ماشوال نه شي کیدی او ورسره مي دا هم ویلي وو چې دا په کلاسیکي شاعرانو کښي د بل کوم حمید کیدی شي نو دلته د عبدالحمید ماشوال دور ته نزدې د یو بل حمید یادونه هم کول غواړم-**

**د اشنغر د سیمي نازک خیال پښتو کلاسیک شاعر بیدل اشنغري د پښتو په کلاسیک شاعرانو یو نظم د تقابلي تنقید په صورت کښي لیکلی دی چي درې برخي لري-**

**١---- د بیدل پیشرو پښتو کلاسیک شاعران**

**٢---- د بیدل همعصر پښتو شاعران**

**٣---- د بیدل د کلي اتمانزو دوه ځلوېښت شاعران چې بیدل یې له معیاره پریوتي ګڼي-**

**د خپلو پیشرو شاعرانو په اړه وایي-**

**چي مشهور یې په پښتو ژبه میزان دی**

**شعراو کښي هغه عبدالرحمان دی**

**قلندر عبدالحمید خواجه محمد دی**

**هم غفور اشرف خلیل او کامګار خان دی**

**مسلم په شعر دا دي و هر چا ته**

**چي هر یو له دیو واړو نکته دان دی**

**خصوصن عبدالحمید پکښي حمید دی**

**چي ویښته چوي په فکر هسي ځوان دی**

**که خوشحال ختک اشرف او که مرزا دی**

**ارزاني که ورسره بل مصري خان دی**

**یو نیم لفظ یې په شعر کښي ښه مونده شي**

**نور له واړو صادر شوی پوچ بیان دی**

**له دغو پیشرو شاعرانو نه پس د خپلو همعصرو شاعرانو یادونه داسي کوي-**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چې دي زما د عصر هغه دا دي
چې هر یو پکښې خوش خویه سخندان دی
صاحبزاده محمدي علي خان ګوره
هم سعید له میا اکبر سره عیان دی
محمدي تر حمید زیات وینم کم نه دی
هر چې زړونه پرې غوځیږي علي خان دی
چې ممتاز زما د عصر دي هم دادي
نور بې شماره دي د واړو ښه بیان دی
بیا د خپل کلي اتمانزو د دوه ځلوېښتو بې معیاره شاعرانو په حقله وایي-

څه حاجت دی چې بیان وکړم د واړو
دو ځلوېښت زما د کلي چې اتمان دی

په دغو شعرونو زما تبصره

وړومبی خو زمونږ ځیرونکي د بیدل اشنغري دغو شعرونو نه ډیر خبر نه دي--- او څوک چې ترې خبر دي هغوئ دغو شعرونو کښې یاد شوي دوه حمیدان یو حمید ګڼلی دی-- غور وکړئ-
۱--- بیدل د یو حمید ذکر خپلو پیشرو شاعرانو کښې کوي او د بل خپلو همعصرو کښې-
۲--- پیشرو شاعرانو کښې نوم عبدالحمید اخلي چې دوه واره راغلی دی او دواړه واره عبدالحمید دی- او همصرو کښې نوم حمید اخلي
۳--- عبدالحمید ته لوې مقام وروركوي او وایي
چې ویښته چوي په فکر هسې څوان دی
تر دې چې په پیشرو یادو شوو شاعرانو کښې یې له ټولو اوچت او خاص ګڼي چې وایي
خصوصن عبدالحمید پکښې حمید دی
خو خپلو همعصرو کښې یاد شوی حمید د صاحبزاده محمدي نه هم کم ګڼي- په دغه ډله کښې لوې شاعر علي خان یادوي-
۴--- د خپل کلي اتمانزو دوه ځلوېښت شاعران خو د یادولو قابل هم نه ګڼي-
نو اوس چې بیدل د دغو شاعرانو عصر ته نزدې هم دی او هغه هم د عبدالحمید او حمید ذکر د دوو بیلو شاعرانو په حیث کوي--- او په شرعه الاسلام کښې د مترجم نوم هم حمید راغلی دی
عبدالحمید چرته هم نه دی راغلی نو بیا شرعه الاسلام د دغه دویم حمید ولې نه شي کیدی یا د بل کوم حمید ولې نه شي کیدی او د نازک خیال عبدالحمید ماشوال څنګه کیدی شي-
نوټ--- د کلاسیک شاعرانو د شاعرانه معیار په اړه د بیدل تنقیدي پیمانه د هغه خپله ده-- زه پرې بحث نه کوم ځکه چې دلته زما موضوع د دویم حمید دریافت او شرعه الاسلام په اړه ده-

---

وروستی برخه-
د اعتراف نورې ترجمې او زما ترجمه---

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اعتراف زما د مقدمې دا شېږمه او وروستۍ برخه ده-- ما وکتل چې د ډېر د لوړ ذوق ملګرو او د لوړ معيار ليکوالو په دغو ټولو برخو ډېرې درنې علمي او د قدر وړ راې شريکي کړې--- پښتنو ليکوالو مشرانو او کشرانو دواړو نه مې زړه ډېر ښه شو--

## VI

لکه چې وړاندې بحث کښې جوته شوې ده چې د اعتراف يواځې په انګرېزۍ کښې هم ګڼ شمېر ترجمې شوې دي. ما په پښتو کښې ترجمې د پاره د انګرېزۍ دوه ترجمې وکتې. يوه د لويس ماوډ (Louise maud) او ايلمر ماوډ(Aylmer maud) ترجمه چې دغه دواړه ليکوال ښځه خاوند هم دي. دا ترجمه څو واره چاپ شوې ده چې وروستے اشاعت ئې ګلوبل ګرے (Global grey) ادارې له خوا په کال (2018ء) کښې چاپ شوے دے.دې نه علاوه ما بله انګرېزي ترجمه د ډېوډ پيټرسن (David patterson) وکتله چې په وړومبي ځل د نارټن اېنډکمپنې نيويارک (Norton & company new york) له خوا په کال (1983ء) کښې په امريکه کښې چاپ شوې ده او وروستو هم څو واره چاپ شوې ده. زړهٔ راښکونکې خبره دا ده چې دغو دواړو انګرېزي ترجمو کښې د يو لفظ فرق هم نشته. دواړه بس يوه ترجمه ده خو نومونه پرې بدل بدل دي. داسې ښکاري چې پيټرسن هم هغه د ماوډ ترجمه دوباره د خپل نوم سره چاپ کړې ده. دې نه علاوه ما د اردو هم دوه ترجمې وکتې. يوه د بابو شيون چرن لال ترجمه چې په انډيا کښې چاپ ده او دوېمه د ثوبيه طاهر ترجمه چې پاکستان کښې چاپ ده. دغو ترجمو کښې هغه يو رنګ والے نشته کوم ته چې د انګرېزي ترجمو په حواله اشاره وشوه. البته د شيون چرن لال په ترجمه کښې ځينې نومونه او اصطلاحات هم بدل کړے شوي دي لکه د مثال په توګه عيسائي مذهب ته ئې يوناني مذهب وئيلے دے او داسې نور هم دي او بيا د انګرېزۍ ځينې اقتباسات ئې ښېځي مختصر کړي هم دي. تر دې چې د اعتراف خلاصه ټالسټائي د يو خوب په تمثيل سره بيان کړې ده. دغه اردو ترجمه کښې د دغه خوب تمثيلي بيان هډو شامل نهٔ دے.

ما پښتو کښې د "اعتراف" د ترجمې د پاره بنيادي نسخه د ډېوډ پيټرسن انګرېزي (A confession) وټاکله او ورسره مې د شيون چرن لال اردو ترجمه هم په نظر کښې وساتله. د ډېوډ پيټرسن د انګرېزي ترجمې بنياد ګرځولو مقصد مې دا وو چې دغه ترجمې سره مترجم د اعتراف يوه لنډه پېژندګلو هم ليکلې ده. ما خپله پښتو ترجمه کښې د پيټرسن دغه پېژندګلو هم شامله کړه او په ساده، عام فهمه او روانه پښتو کښې مې د ترجمه کولو هڅهٔ وکړه، سره د دې چې دا پښتو ترجمه د روسۍ نه انګرېزۍ او بيا انګرېزۍ نه پښتو ته شوې ده چې بنيادي طور د ترجمې ترجمه ده.ځکه د ټالسټائي د خپل اسلوب خوند به په کښې نهٔ وي خو بيا هم ما دې پښتو ترجمې ته د تخليقي رنګ ورکوّلو هڅه کړې ده البته اصلي روح ئې مجروح نهٔ دے. د دغه ترجمې نه علاوه ما دا هم ضرورت محسوس کړو چې د ټالسټائي اعتراف سره دې يوه مقدمه هم شامله شي چې په دغه مقدمه کښې ما څو برخو ته زياته توجه وکړه. يوه دا چې د روسي تمدن او سياسي، تاريخي او کلتوري پس منظر ته دې لنډې اشارې وشي. بيا دې د روسي ادب يوه لنډه خاکه هم وړاندې کړے شي. دغه شان دې د ټالسټائي د مجموعي ادبي خدماتو او د ژوند د نشيب او فراز يوه لنډه خاکه دې هم دغه مقدمه کښې شامله شي. د ټالسټائي د کتابونو او ليکونو د مجموعي ترجمو دې ځان له يادونه وشي او بيا دې د "اعتراف " د ترجمو په حقله هم وضاحتي خبرې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هر ځۀ ما ځکه ضروري وګڼل چې یو خو په پښتو کښې د روسي ادب په حقله مجموعي بحثونه ډېر کم شوي دي څومره توجه چې د مغرب انګرېزي ادب ته ورکړے شوې ده دومره روسي ادب ته نۀ ده ورکړے شوې. ځکه زمونږ د پښتو لوستونکي روسي ادب نه هغسې خبر هم نۀ دي څومره چې د انګرېزي ادب نه خبر دي. بیا دا هم جوته ده چې د ټالسټائي د "اعتراف " په پښتو کښې دا وړومبی ترجمه ده نو باید چې دغه یاد شوي تفصیلات هم ورسره شامل شي نوځکه ما دغسې وکړل او خپل پښتون اولس ته مې وړاندې کړل.

دې مقدمې لیکلو د پاره چې ما د کومو ماخذونونه استفاده کړې ده د هغې په لوړ به هم دلته اشاره وکړم چې په خصوصي ډول دغه لاندېنې ماخذونه زما په نظر کښې وو.

[A.L tolsoty [Daughter] A life of my father [London 1953.1
[D.S Merezkhovosky, Tolstoy as a man and artist [London 1902 .2
[Steiner, E. A, Tolstoy,the man and his massage [New york 1908 .3
[Mirsky, D.S, Tolstoy [London 1949.4
Daire ,D, Russian literature and modern English fiction .5
[[University of chicogo 1965
6.ڈاکٹر محمد یاسین، ٹالسٹائے، نیشنل بک ٹرسٹ انڈیا نئی دہلی(1976ء)
7. ٹالسٹائی کی آپ بیتی ، ترجمہ محمد مہدی فیکشن ہاوس (2018ء)
8- محمد طیب ، روسی ادب (جلد اول و دوم) انجمن ترقی اردو پاکستان (1940ء)
9. داعتراف مختلفې ترجمې (انګرېزي او اردو)
10. انټرنېټ ذریعې

تر څو چې د دې پښتو ترجمې د نوم خبره ده نو ما په پښتو کښې د دې د پاره د "مننه" ځان سپارنه یا سپارښتنه غونډې سُوچه پښتو نوم اېښودلے شو خو ما ته داسې ښکاري چې کوم معنویت په "اعتراف" کښې دے هغه په دغه نورو نومونو کښې نشته. ځکه د دې وړومبی پښتو ترجمې نوم مې هم "اعتراف" غوره وګڼلو.

ما چې وړاندې اشاره کړې ده چې د دې ترجمې په وخت ما هڅه کړې ده چې په پښتو نثر کښې هم فطري رواني، سادګي او تخلیقي رنګ په نظر اشي خو بیا هم وایم چې د اعتراف سوچه او ساهو خواږۀ به هغه خلق محسوسوي چې نېغ په نېغه په روسی ژبه پوهېږي او د ټالسټائي د لیک او اسلوب نه نېغ په نېغه خوند اخستے شي.

---

د ټالسټایي د ټولو لیکونو ترجمی د انګریزی جرمنی فرنچ او چینایي نه علاوه د نړی په نورو کومو کومو ژبو کښې شوې دي چې ټول کار یې لس کم سل جلدونه لري او ټالسټایي ته یې د یو نړیوال شخصیت مقام وربخښلی دی- په اعتراف زما د مقدمي پنځمه برخه وګورئ- اخیري یوه برخه سبا انشاالله-

V

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټالسټائي د ګڼ شمېر کتابونو ترجمې د نړۍ په ګڼ  شمېر ژبو کښې شوې دي . هرڅو که هغه تر ډېرې مودې پورې د روس په  ادبي حلقو کښې يو اهم ليکونکے ګڼلے شو خو کله چې د هغهٔ د ليکونو ترجمې په انګرېزۍ کښې  وشوې نو نوره نړۍ هم د هغهٔ ليکونو ته متوجه شوه او داسې ټالسټائي پواځې د روس نه بلکې د نړيوالې درجې د يو لوے ليکونکي په حېث ومنلے شو. هر څو که ټالسټائي د انګرېزۍ ترجمو نه مخکښې هم په فرانس کښې پېژندلے شوے وو خو دغه پېژندګلو ئې د ترجمو په لاره نهٔ وه بلکې په فرانس کښې د روس د افسانوي ادب د اهميت احساس د ډېر مخکښې نه موجود وو او بيا چې ټالسټائي انګرېزۍ کښې ترجمه شو نو د انګرېزۍ  په لاره د جرمنۍ، سپېنش،او د برطانيې ځينو نورو ژبو ادبي منظرنامې ته هم د هغهٔ فن او فکر ورسېدو.
هنري جېمس د انګرېزۍ داسې ليکونکے وو چې په مجموعي توګه هم د روسي ادب محقق او مترجم وو او بيا ورسره د ټالسټائي ګڼ شمېر کتابونه ئې هم  د روسۍ نه انګرېزۍ کښې ترجمه کړل. هنري جيمس په روسي ليکونکيو کښې د ټولو نه  زياته توجه ترګنيف او ټالسټائي ته کړې وه خو د جېمس نه مخکښې د ټالسټائي مشهور ناول "اناکري نينا" په انګرېزۍ کښې کلارابل (Clera Bell) هم ترجمه کړے وو چې دا د انګرېزۍ ادب يوه زنانه ليکواله  او مترجمه وه خو دا خبره دې ياده وي چې کلارابل دغه ناول د روسۍ نه نېغ په نېغه نهٔ وو ترجمه کړے بلکې د فرانسيسۍ د ترجمې ترجمه ئې په انګرېزۍ کښې  کړې وه. هر کله چې دغه ترجمه نېغ په نېغه نهٔ وه نو ځکه ئې تاثر هم هغه نهٔ وو کوم چې  د ټالسټائي د فن کمال کښې پټ وو او په هم دغه وجه په انګرېزي نړۍ دغه ترجمې سره د ټالسټائي کوم لوے اثر شوے هم نهٔ وو خو کله چې جېمس نېغ په نېغه د روسۍ نه انګرېزي ترجمې وکړې نو انګرېزي نړۍ د ټالسټائي نه د ادب ديوتا جوړ کړو. وروستو چې د امريکي ليکونکيوکښې يو جين شيلر (Eugene schuyler) او نېتهن هسکل (Nathan Haskell)د ټالسټائي  د انا کري نينا ترجمې په 1878ء  او 1886ء کښې وکړې نو په امريکه کښې هم د ټالسټائي د فن جادو خبرې شروع کړې خو ټالسټائي ته په دغو ملکونو کښې هم  زيات شهرت د هغهٔ مذهبي، اخلاقي او سياسي کتابونو وربخښلے وو. په خصوصي توګه:

What I believe
The kingdom of God is within you
A confession

داسې کتابونه وو چې انګرېزي ترجمو سره ئې ټالسټائي د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسېدلے وو. دې سفر کښې د ټالسټائي د ترجمو په لړ کښې د يوې انګرېزي ليکوالې کانسټنس ګارنټ (constance garrnet) او د هغې خاوند اېډورډ ګارنټ  (Edward garrnet) کردار هم ډېر اهم دے چې د ترجمو په ذريعه ئې په يورپي نړۍ کښې د ټالسټائي په شهرت کښې ډېره اضافه کړې ده. دغه شان لوېس ماؤډ (louise maud) يوه بله انګرېزهٔ ليکواله ده چې د خپل خاوند اېلمر ماؤډ (Aylmer maud) په مرسته ئې د ټالسټائي د څو کتابونو انګرېزي ترجمې کړې دي. د دوي په ترجمو کښې په ابتدائي دور کښې دا کتابونه شامل وو.
Resurrection.1
What is art.2
A confession .3

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو دریو شاهکارو کتابونو کښې د ټولونه زیات شهرت دغه د اعتراف انګرېزي ترجمې د (A confession) په نوم موندلے دے. لوېس ماؤډ (Louise maud)بیا ورپسې د اناکري نینا(Anna karenina) او جنګ او امن (war and peace) ترجمې هم په انګرېزۍ کښې وکړې چې د ټالسټائي شاهکار ناولونه دي. او بیا د ماؤډ دغه کارنامه د ټولو نه زیاته بې مثاله وه چې د ټالسټائي ټول کتابونه ئې په انګرېزۍ کښې ترجمه کړل او په کال (1928ء) کښې ئې د ټالسټائي د زېږون د ورځې په مناسب د دغو یوویشت جلدونو مخ کتنه هم وکړه. په دغه کال د ټالسټائي د ټولو کتابونو نورې ترجمې چې متفرقو خلقو کړې وې د ټالسټائي د "جمع شوو کارونو" (collected works) په نوم په لس کم سل جلدونو کښې مخې ته راغلې. دغه شان د انګرېزۍ نه د نړۍ نورو ژبو ته هم د ټالسټائي د ترجمو لاره خلاصه شوه چې دغه لړ کښې د چین لیکوال او ناول نګار کاؤینګ (cao ying) په چیني ژبه کښې د ټالسټائي د ټولو کتابونو ترجمې وکړې او په چیني نړۍ کښې ئې هم دغه لوے لیکونکے او ادیب خور او مشهور کړو. دټالسټائي د ټولو کتابونو د ترجمو سره په ځانګړې توګه د اعتراف د ترجمو ځان له کار هم روان وو چې یوه ترجمه په کښې د ډېوډ پیټرسن (David patterson) انګرېزۍ ترجمه د (A confession) په نوم شامله ده. او په انګرېزۍ کښې یو شمېر نورو لیکونکیو هم د اعتراف ترجمې په انګرېزۍ او ځینو نورو ژبو کښې کولې. د اعتراف په دغو ځانګړیو ترجمو کښې انطونیوس بشیر دغه ترجمه په عربۍ ژبه کښې او علي رضا مجیدي په فارسۍ ژبه کښې وکړه چې په عربي او ایراني نړۍ کښې د ټالسټائي د شهرت سبب جوړې شوې . په هند و پاک کښې د اعتراف ترجمې په اردو کښې وشوې چې وړومبۍ لکهنوٗ کښې کال (1917ء) کښې په نولکشور پرېس لکهنو کښې چاپ شوه. دا ترجمه بابو شیو چرن لال کړې وه او دغسې یو شمېر نورې ترجمې ئې هم په اردو ژبه کښې وشوې چې وروستۍ ترجمه ئې په پاکستان کښې ثوبیه طاهر کړې ده .ثوبیه طاهر خپلې دغه ترجمې سره د اعتراف نه علاوه د ټالسټائي د نورو دریو داسې کتابونو ترجمې هم شاملې کړې کوم چې په اخلاقي او مذهبي موضوعاتو اډانه وو. دغه ترجمې ئې د "مذهب اور اس کی روح کیا هے، مذهب اور اخلاق، قانونِ محبت اور قانونِ تشدد" په نوم شاملې کړې دي. دا خبره هم باید چې په نظر کښې وساتلے شي چې د اعتراف په عربۍ، فارسۍ، او اردو کښې ترجمې نېغ په نېغه د روسۍ ژبې نه نهٔ دي شوې بلکې زیاتې د انګرېزۍ د (A confession) نه شوې دي البته د نړۍ په نورو ژبو خصوصاً په فرانسیسۍ، انګرېزۍ او جرمنۍ کښې دغه ترجمې نېغ په نېغه د روسۍ ژبې نه شوې دي. په هر حال ټالسټائي په مجموعي توګه او د هغهٔ اعتراف په خصوصي توګه اوس د نړۍ ګوټ ګوټ ته د ترجمو په لاره رسېدلے دے

---

ټالسټائي نه مخکښې د اعتراف په نوم په نړیواله منظرنامه کښې نور کتابونه چا لیکلي دي- هغې کښې څه وو او د ټالسټائي په اعتراف کښې څه دي-- د لیکلو ضرورت او پس منظر یې څه وو-- دې څلورمه برخه کښې یې کتلی شئ-

**IV**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیو ټالسټائي نه مخکښې د Confessions یعني اعترافات په نوم د معروف لاطیني دانشور سېنټ آګسټائن (Saint Augustine) کتاب چاپ دے چې په 400ء کښې لیکلے شوے دے. دا ضخیم کتاب په اصل کښې د آګسټائن د خپل ژوند حالات او مذهبي مباحث لري چې په دیارلسو جلدونو مشتمل دے. کتاب په لاطینۍ ژبه کښې دے چې په ګڼو ژبو کښې ئې ترجمې شوې دي.
یواځې په انګرېزۍ کښې ئې هم یو شمېر ترجمې شوې دي چې زیات شهرت په کښې د اېډورډ بي پاوسے (Adward. B. Pusey) د ترجمې شوے دے. د آګسټائن د اعترافات نه پس د ژان ژېک روسو (Jean Jaques Rousseau) اعترافات (Confessions) په کال 1782ء کښې په فرانسیسی ژبه کښې چاپ شو چې دغه وخت د روسو د مرګ څلور کاله شوي وو. دا کتاب هم لکه د آګسټائن د روسو د ژوند په حالاتو او مذهبي سماجي او فلسفیانه بحثونو مشتمل دے. د دې فرانسیسي کتاب هم ګڼ شمېر ترجمې په انګرېزي ژبه کښې شوې دي چې ورومبی انګرېزي ترجمه ئې په کال 1790ء کښې چاپ شوې ده. د روسو د اعترافات نه پوره سل کاله پس د ټالسټائي "اعتراف" مخې ته راځي چې نړیوال شهرت ئې په برخه کېږي.
اعتراف د ټالسټائي په هغه کتابونو کښې شامل دے کوم ئې چې په دیني ،اخلاقي، روحاني،صوفیانه او ټولنیزو مسئلو لیکلي دي. د دې کتاب نوم په روسی ژبه کښې اسپایوف (Ispove) دے چې دغه روسي تلفظ په انګرېزۍ (Ispoved) هم لیکلے شي.د روسي لغت ترمخه د اسپایوف مطلب دے په خپلو غلطیو، کوتاهیو او ګناهونو نادم کېدل او د مذهبي لارښود (پادري) په مخکښې دغه هر څهٔ منل. د دغه  هر څهٔ اعتراف کول او دغه هر څهٔ نه مخ اړول. هر څو که د مذهبي دود له مخه دغه اعتراف د پادري په مخکښې په ګرجه (د عیسایانو په عبادت خانه) کښې کولے شي خو په علامتي توګه دغه اعتراف د خدائے په حضور کښې وي . ګویا د اسپایوف اصلي مفهوم دا دے چې خپل خالق او مالک ته حاضري کول. د هغهٔ په مخکښې د خپل جرم او ګناه اعتراف کول او بیا د پاره دغه جرم او ګناه نه توبه کول. دا نزدې نزدې هم داسې ده لکه په پښتني دود کښې چې څوک ننواتي کوي . یعني د خپلو ظلمونو او ګناهونو اعتراف کولو د پاره چې د مظلوم کور ته ورځي. بغېر وسلې او طاقت نه خپل ځان هغهٔ ته حواله کوي او د خپلو جرمونو د اعتراف نه پس د معافۍ خواست هم کوي او د خپلوجرمونو هر قسمه سزا ته غاړه هم ږدي خو دغه خپل مظلوم دُشمن ته د هغهٔ حاضري او د ګناه اعتراف په حقیقت کښې د هغهٔ خپل ضمیر ته د ملامتیا اظهار هم وي او جزا د قانون نه ویره هم وي.
ځکه دغه قسمه اعتراف ته په انګرېزۍکښې د کنفېشن (Confession) نوم ورکړے شوے دے او د ټالسټائي د کتاب روسی نه انګرېزۍ کښې ترجمې ته هم د (A confession) نوم ور کړے شوے دے.د دې کتاب د لیک آغاز ټالسټائي په (1879ء) کښې کړے وو او په (1882ء) کښې ئې بیا دا کتاب په ورومبي ځل په روسی ژبه کښې چاپ کړے وو.هر څوکه د دې کتاب په روس کښې چاپ کولو کښې هم ستونزې وې او په خپله ټالسټائي هم ورومبے خو د دې کتاب د لیکلو نه پس د چاپ په حق کښې نهٔ وو خو بیا هم دا کتاب په (1882ء)کښې په خارج کښې چاپ شو. دا کتاب د ټالسټائي د هغه وخت لیک دے چې هغه د ډېر شدید ذهني او روحاني انتشار سره مخ وو. هسې خوهغه په دې کتاب کښې د خپلې عقیدې د ارتقائي سفر قصه لیکلې ده چې شروع ئې د الحاد نه کېږي او اختتام ئې د خدائے او عقیدې په منلو کېږي خو د دغه قصې په بیان کښې د ټالسټائي د لیک انداز او د واقعاتو بیان دومره زړهٔ راښکونکے دے چې لوستونکے ترې په یوه لمحه هم سترګې نهٔ شي پورته کولے. اعتراف هسې خوکوم ناول نهٔ دے خو د قصې او واقعاتو بیان په کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره په زړهٔ راښکونکي انداز شوے دے چې دغه لیک ئې د ناول مقام ته رسولے دے . مونږ ته د اعتراف د لوست نه دا اندازه هم کېږي چې د ټالسټائي توجه خپل ژوند او نفسياتي محرکاتو ته ډېره په غېر معمولي ډول وه او يواځې اعتراف هم نه د هغهٔ په زياتو ليکونو کښې دغه رحجان جوت دے چې د خارجي عواملو په ترجمانئ کښې د هغهٔ داخلي ذات په ډېر شدت سره د هغهٔ په هر ليک کښې ځان ښائي او هسې هم د اوچت معيار ليکونه د ليکونکي د ذات عکس ضرور پېش کوي. په دې کتاب کښې ټالسټائي يو بنيادي سوال راپورته کړے دے او هغه دا چې "د ژوندمعنیٰ څهٔ ده"؟. دغه بنيادي سوال سره هغهٔ څو نور ضمني سوالونه هم ملګري کړي دي لکه دا چې د ژوند سره سره د مرګ څهٔ حقيقت دے؟. زهٔ ولې ژوندے يم او مقصد ئې څهٔ دے؟. ما نه علاوه د انساني ژوند انجام به څهٔ وي؟. زما په ذات کښې موجود د خېر او شر څهٔ مطلب دے؟. او دغو سوالونو سره تړلې د ژوند په اړه نورې خبرې ئې هم رامخې ته کړې دي. د دغو سوالونو جواب پسې ټالسټائي سرګردانه وو او دغه سرګرداني ئې د کلونو په موده محيط وه. هغهٔ دغه جواب د پاره د يو کرب او اضطراب د کېفيت نه تېرېدلو. هغهٔ اطمينان غوښتو. د سکون په لټون وو خو هر خوا د مايوسئ سره مخ کېدو. دغه اضطراب ،مايوسي او بې سکونه لمحې ئې داسې مقام ته رسېدلې وې چې آخر ئې د خودکشئ اراده وکړه خو د روح په يوه خانه کښې ئې د اميد تته شان پلوشه موجوده وه نو ځکه ئې ځان سره تماچه ساتل هم بند کړل او د خپلې کمرې نه ئې رسئ هم بهر کړه چې چرته ځان په ډز يا تېزندئ ختم نهٔ کړي. د اميد د دغه تتې پلوشې په بنياد ئې د خپلو سوالونو د جواب لټون شروع کړو. فلسفه ئې په ژور نظر ولوسته. په خصوصي توګه د شوپنهاور، کانټ او پاسکل فلسفيانه افکار ئې ډېر په ژور نظر ولوستل خو فلسفې نه مايوسه شو ځکه چې فلسفې سره د هغهٔ د سوال جواب نهٔ وو. بيا ئې سائنس ته مخه وکړه خو سائنس هم د مايوسئ سره مخ کړو او د ټالسټائي د سوال جواب سائنس سره هم نهٔ وو. د مذهب او عقيدې نه تپوس کول، هغهٔ سره اوس دغه يوه روحاني لاره پاتې وه ځکه چې د هغهٔ په ژوند کښې هغه داسې پړاؤ ته رارسېدلے وو چې يا به ئې د خپل سوال د اطمينان ترحده جواب ترلاسه کولو او يا به ئې خودکشي کوله. د هغهٔ په روح کښې د اميد پټې پلوشې هغهٔ ته د مذهب او روحانيت نه د تپوس کولو ووئيل. ټالسټائي په خپله خو په عيسائي عقيده کښې پېدا وو خو د خپل سوال جواب د پاره ئې د عيسائي عقيدې نه علاوه بدهـ مت، چيني عقائد او د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم تعليمات هم وکتل. وړومبے چې د بدهـ مت په لور ئې مېلان زيات شونو د اسلام تعليماتو ته ئې توجه کمه شوه. په بدهـ مت کښې د امن او محبت پېغام کتلو ته ئې زياته توجه کوله خو ورسره د عيسائي مذهب مطالعه ئې د ټولو نه زياته کوله. داسې وګڼئ چې د خپلې مطالعې د پاره ئې د مذهب برخه ټوله د عيسائي مذهب مطالعې ته وقف کړه. د بائبل غرقه مطالعه ئې وکړه. تر دې چې د بائبل د تفسير ليکلو اراده ئې هم کړې وه خو د خپل سوال د جواب سرګردانئ له هر څهٔ نه ويستے وو. په عيسائي عقيده کښې ورته څهٔ رښتيا او څهٔ دروغ ښکاره شو. په اضطراب کښې ئې څهٔ خو کمے راغلو خو اطمينان ئې بيا هم نهٔ کېدلو ځکه چې په دغه عيسائي مذهب کښې ئې چې چرته چرته دروغ ليدل هغه په عمومي ډول د ګرجې په مشرانو، پادريانو، سرمايه دارو او د مذهب په ټېکه دارانو کښې وو. په دغه وجه د مذهب نه هم د فرار تر پړاؤ رارسېدلے وو تر دې چې چرچ په خپله هم ټالسټائي د مذهب نه باغي او خارج اعلان کړے وو. خو ټالسټائي په خپل روح کښې هم هغه د اميد تته شان پلوشه بيا هم محسوسوله نو بس د هم دغه عيسائي عقيدې لرونکيو غريبو، مفلسو، خواري کښو، دهقانانو، نالوستو او ساده عام اولس د وګړو په لور ئې توجه وکړه. دغه طبقې سره ښېخي نزدې شو. ښهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نزدې نه ئې د دغه طبقې د ژوند مشاهده وکړه. تر دې چې خپل ژوند ئې هم د دغو خلقو غوندې اختيار کړو. دا هغه پړاؤ وو چې د ټالسټائي مسئله هواره شوه. هغۀ ته د دغه خواري کښو ناالوستو،دهقانانو اوغريبو ساده خلقو په ژوند کښې د ژوند معنیٰ معلومه شوه. هغۀ وليدل چې دغه خلق په خپله عقيده کښې صادق هم دي او په خپل ژوند مطمئن هم. د دغو خلقو په وېنا او عمل يا قول او فعل کښې هېڅ تضاد نشته. دغه د صفا نيت او سپين زړۀ لرونکي دي. هر څو که دغه خلق د خپلې عقيدې د صداقت د پاره کوم دليل هم نۀ لري تر دې چې د ټالسټائي په قول د دغو خلقو په وېنا کښې ځينې عقيدوې خبرې عقل ته اپيل هم نۀ کوي خو د دغه خلقو عملي ژوند د هغوې د عقيدې عملي او رښتونے عکس ضرور پيش کوي ځکه دغه د ايمان خاوندان دي چې په ژوند کښې ئې سکون دے. په رنځ او بيمارئ هم خوشحاله او په سکون او راحت هم صبر او شکر کوي. تر دې چې د مرګ نه ئې هم څۀ خوف نۀ محسوسېږي. بل خوا د فلسفيانو، دانشورو او لوستو خلقو په قول وفعل او ذاتي ژوند کښې ټالسټائي په هر قدم مفاد پرستي، دروغ ګوئي،منافقت، ظلم او جبر او مکر و فريب ليدلے وو چې دا د ژوند مقصد او مفهوم هېڅ کله نۀ شو کېدے.
زما خپله رائے دا ده چې ټالسټائي که د خپل اضطراب د شروع په زمانه کښې د سائنس او فلسفې په ځاے مذهب او عقيدې ته رجوع کړے وے او بيا په مذهبونوکښې ئې د بدھ مت،جين مت او عيسائيت نه مخکښې د اسلام او قرآن تعليمات کتلے وے نو شايد چې د ژوند د عذاب او اضطراب دغه اوږده موده ئې په سکون او راحت تېره شوے وے خو دلته مونږ په لنډه توګه دا وئيلے شو چې د عذاب او اضطراب دغه ژوند ټالسټائي ته د "اعتراف" غوندې يوه نادره فنپاره ورکړه چې مونږ ئې اوس مطالعه کوو او د يو لوے ليکونکي د يو شاهکار ليک درجه ورته ورکوو.

---

ټالسټائي څوک وو-- ادبي بخښنې يې څه دي-- څنګه يې ژوند کړی وو او څنګه له نړۍ لاړو-- د هغه په اعتراف زما د مقدمې دريمه برخه کښې يې وګورئ--

**III**

مونږ ته پته ده چې ټالسټائي د روسي ژبې يو ډېر اهم شاعر هم وو خو د هغۀ نثري خدمات دومره زيات او غېر معمولي دي چې شاعر ټالسټائي ئې د خپل سيوري لاندې راوستے دے. په دغه نثري کار کښې ئې په سائنس او فلسفه هم ليکونه شته او په دين او مذهب هم خو دلته بايد دا هم ووايم چې په نثري ليکونو کښې ئې هم غالب اړخ د افسانوي ادب دے او په افسانوي ادب کښې هم بيا د ناول په مېدان کښې هغه هدو مثال نۀ لري. البته ځانګړې او زړۀ راښکونکې خبره دا ده چې د هغه په هر قسمه ليکونو کښې هغه خپل ذات ، ذاتي تجربو،ذاتي ژوند او ورسره ترلو نفسياتي محرکاتو او عواملو ته ډېر په شدت سره متوجه دے. دلته زۀ د ټالسټائي د ژوند او مجموعي خدماتو يوه لنډه شان خاکه د مختلفو ماخذونو نه د استفادې په بنياد وړاندې کووم.
د هغۀ اصل نوم کاونټ ليونيکولائي وچ ټالسټائي وو. ټالسټائي د هغۀ د قبيلې نوم هم وو او د هغۀ د علاقې نوم هم وو. د پلار نوم ئې کاونټ نيکولائي ايليچ ټالسټائي وو او د مور نوم ئې کاؤنټيس ماريه ټالسټائي ووالبته د هغۀ کور وداني چې د ټالسټائي خاندان نه بهر وه نو نامه ئې هم په بدل رنګ وه. د کور وداني نوم ئې صوفيه بهرس وو. د صوفيه نه داسې اندازه کېږي چې دا به مسلمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه خو خبره داسي نهٔ ده. کور وداني ئې هم لکه د هغهٔ د نورې کورنۍ د عسیائي عقیدي سره تعلق لرلو. دغې صوفیه سره ئې چې وادهٔ کولو نو د ټالستائي عمر څلور دېرش کاله او د صوفیه عمر اتلس کاله وو.مطلب دا چې ټالستائي نهٔ یواځې دا چې وادهٔ په پوخ عمر کښې کړے وو بلکې د خپلې کور وداني نه شپاړس کاله مشر هم وو. د ټالستائي او صوفیه ټول بچي دیارلس وو. ټالستائي په 9 ستمبر(1828ء) کښې د روس په صوبه ټُلا کښې پیدا شوے وو. د کلي نوم ئې تامه پولیانا وو. د دوؤ کالو ماشوم وو چې مور ئې په حق ورسېده. دا د کال (1830ء) زمانه وه - په (1837ء) کښې ئې کورنۍ د صوبه ټلا نه ماسکو ته لاړه او هلته آباده شوه. په هم دغه کال ئې پلار هم په حق ورسېدو او ټالستائي د نهو کالو په عمر کښې یتیم هم شواو یسیر هم. د پلار د مرګ نه څلور کاله پس ئې د ماسکو نه د کاژان په لور مخه وکړه. په کال (1844ء) کښې ئې د مشرقي ژبو په څانګه کښې کاژان یوینورسټۍ کښې داخله واخسته خو د ژبو په تعلیم کښې ئې سندونه ترلاسه نهٔ کړے شول او په امتحان کښې ناکامه پاتې شو. یو کال پس ئې د قانون تعلیم شروع کړو. دغه دوران کښې د ذهني او بدني ناروغیو سره مخ شو نو د قانون تعلیم ئې هم نیمګړے پرېښو او واپس ماسکو ته راغلو. د ناروغۍ نه چې خلاص شو نو په ماسکو کښې ئې د مستۍ او عیاشۍ ژوند تېرول شروع کړو. په کال ( 1849ء) کښې ټالستائي پیټرزبرګ ته لاړو او هلته ئې په یونیورسټۍ کښې داخله واخسته خو د خپل عیاش فطرت په وجه ئې هلته هم د تعلیم د حصول په ځاے په جوارۍ او نورو عبث مشغلو کښې وخت تېرولو چې آخر هم څوکاله ضائع کولو نه پس واپس ماسکو ته راغلو او په خپل کلي یاسنا پولیانا کښې ئې ژوند تېرولو. دا د زلمي توب دور وو نو د ښکار شغل به ئې هم کولو او نورې مستۍ هم. البته په کال (1851ء)کښې خپل ورور سره ئې د قازقستان سفر هم وکړو چې واپس خپلې سیمې ته راغلل نو فوجي ملازمت ئې اختیار کړو. تر( 1856ء) ئې د فوج له خوا په ګڼو جنګي مهماتو کښې هم برخه واخسته خو په دغه کال ئې فوجي نوکري هم پرېښوه او پیټرزبرګ ته راغلل چې خپله زیاته توجه خپل لیک لوست ته ورکړي.
دې دوران کښې ئې روسي لیکونکیو ترګنیف او نکراسات سره نزدېکت شروع کړو او نورو ادبي حلقوته ئې هم رسائي وکړه . په باقاعده توګه ادبي کارونه او صلاحیتونه ئې رامخې ته شول . دې دوران کښې ټالستائي د یوې روسۍ جینۍ ارسي نیوا (Arsen eva) سره د مینې لړۍ هم رامخې ته شوه او د وادهٔ خیال ئې هم له زړهٔ نه ووتو. د شاعرۍ او موسیقۍ سره ئې ډېر شوق او نسبت پیدا شو او نثري لیکونه به ئې هم کول. دا هغه دور وو چې ټالستائي ځینې بهرني سفرونه هم وکړل چې په کښې د فرانس، جرمني او سوېټزرلېنډ سفرونه هم شامل وو. د فرانس په پیرس کښې ئې هم د مستۍ او عیاشۍ نه مخ نه اړولو. چې واپس یاسناپولیانا ته راغله نه د کر کروندې سره ئې شوق شو. او ورسره ئې د موسیقۍ شغل هم دوامدار ساتلے وو.په ماسکو کښې ئې د موسیقۍ یوه اداره جوړه کړه او په خپل کلي یاسناپولیانا کښې ئې د کروندګرو د هګانانو د پاره سکول پرانستو چې د کر کروندې درس په کښې ورکړي. څهٔ موده پس په ( 1860ء)کښې ئې په جرمني فرانس او اټلي کښې ځینې لیکچرې ورکړې . او یوه د تدریس مجله ئې هم شروع کړه .
د ټالستائي په شاهکار ناول جنګ او امن ، هغهٔ په کال (1863ء) کښې کار شروع کړو. دې وخت کښې ئې یو کال مخکښې وادهٔ هم کړے وو. جنګ او امن د هغهٔ یو لوے پراجېکټ وو چې په (1868ء) کښې ئې د دغه ناول وړومبي څلور ټوکه چاپ کړل او وروستي ټوکونه ئې بیا یو کال پس چاپ کړل.په کال 1870ء کښې ئې د خپل دوېم شاهکار ناول اناکري نینا منصوبه تیاره کړه. دې دوران کښې ئې یوناني ژبه هم زده کړه او د یوناني ډرامې غرقه مطالعه ئې هم وکړه. په اناکري

(c) ketabton.com: The Digital Library



نینا ئي کار جاري وساتلو او وړومبے ټوک ئي په (1875ء) کښې چاپ کړو. کال پس ئي د دغه ناول څو نور ټوکونه چاپ کړل او بیا وړپسې وروستي ټوکونه ئي هم په کال (1877ء)کښې چاپ کړل. دا هغه دور وو چې په ټالسټائي ذهني او روحاني اضطراب غلبه کوله. دې دوران کښې هغه د مستئ او عیاشئ نه د مذهب او روحانیت په لور هم مائل کېدلو. د هغهٔ ځینې مذهبي او اخلاقي لیکونه هم مخې ته راتلل شروع شول او د هغهٔ شاهکار کتاب "اعتراف" لیکلو منصوبه هم په کال (1879ء) کښې مخې ته راغله چې په کال (1882ء)کښې دغه کتاب د تکمیل نه پس په چاپ شکل هم مخې ته راغلو. په کال (1883ء) کښې د ټالسټائي د مذهبي او اخلاقي لیکونو یوه بله نمونه په روسئ ژبه کښې "زما عقیده" په عنوان مخې ته راغله چې په انګرېزئ کښې د (what I believe) په نوم دغه کتاب ترجمه شوے او چاپ شوے دے.د هغهٔ د دغه کتاب په روسئ کښې په چاپ کېدلو پابندي وه نو کور وداني ئې په اټلي کښې چاپ کړے وو او ورسره ئې د ټالسټائي کلیات یعني د هغهٔ د لیکونه مجموعه هم چاپ کړه. دا د کال 1884ء زمانه وه چې کلیات ئي مخې ته راغلهٔ. په دغو کلونو کښې ئې په مذهبي او اخلاقي موضوعاتو ځینې افساني هم چاپ شوې. ټالسټائي به سګرېټ هم ډېر څښل. دې دوران کښې ئي سګرېټ هم پرېښول او شراب څښل ئې هم پرېښول خو د مذهبي انتشار په وجه ئي خپلې ښځې سره ناچاقي پېدا شوه. د ریسر اېکش (Resurrection) په نوم بل مذهبي او اخلاقي لیک ئې هم په کتابي شکل مخې ته راغلو او په سیاسي ،اخلاقي او مذهبي موضوع ئي یو بل کتاب هم ولیکلو چې موضوع ئې وه چې د حکومت او اقتدار حق صرف خداے ته حاصل دے. دې دوران کښې د مذهب او وطن دوستئ په موضوع لیکلے شویو د موپاسان د افسانو ترجمې ئي هم وکړې. (1895ء) کښې ئي نومیالي روسي لیکونکي چیخوف سره دوستي جوړه شوه. د هغهٔ په ملګرتیا ئي د موسیقئ ځینې محفلونه وکړل او څو ډرامې ئې هم ولیکلې . په (1897ء) کښې ئې یو بل شاهکار کتاب (what is art) چاپ شو. د دغه کتاب ګټه ئې دغریبو عیسایانو او قحط زپلو د پاره وقف کړه. دې دوران کښې ئې مېګسم ګورکي سره هم دوستي پېدا شوه او د یو بېن المللي ټالسټائي سوسائټي بنیاد ئې هم کېښنو. په کال (1902ء) کښې (what is religion) ولیکلو او د خپلو انقلابي مذهبي او عقیدوي خیالاتو په وجه عیسائي طبقې ټالسټائي د عیسائیت نه خارج وګڼلو. یعني د کفر فتویٰ ئې پرې جاري کړه. په کال (1905ء) کښې ئې یو شمېر خوارهٔ لیکونه او افسانې په مختلفو مجلوکښې هم او ځان له په کتابي شکل هم مخې ته راغلې. په ځینې سیاسي او جنګي موضوعاتو او د روسي انقلاب په اهمیت ئي هم خوارهٔ مضامین چاپ کېدل. په کال (1909ء) کښې ئي ذهني انتشار دومره زیات وو چې کور وداني سره ئي حالات ډېر خراب شول. د خودکشئ هڅې خو ئي د مخکښې نه هم د مذهبي تصور په بنیاد کړې وې خو دا ځل ئي ښځې سره د اختلاف په وجه د خودکشئ اعلان کړے وو تر دې چې په دغه کال ئې وصیت نامه هم لیکلې وه. د کال (1910ء) د نومبر په میاشت کښې د خپلې ذهني ناروغئ او انتشار په وجه له کوره غائب شو. د رېل د سفر په دوران کښې نور هم بیمار شو. تر دې چې د استوپاف (Astopove) په سټېشن د یو سټېشن ماسټر په کور کښې په حق ورسېدو. دې وخت کښې د ټالسیټائي عمر دوه اتیا کاله وو او دغسې یو پریشانه روح د ابدي قرار په لور سفر وکړو خو د خپل ځان نه وروستو ئي هغه افکار، تعلیمات، کتابونه او لیکونه پرېښودل چې ټالسټائي ته ئې د نړئ د یو لوے لیکونکي،ادیب او دانشور مقام وربخښلے دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ټالسټائي په اعتراف زما د مقدمې دويمه برخه چې په روسي ادب پکښې مجموعي خبره شوې ده-**

**II**

**هر څو که زمونږ د مشرقي ژبو په ادب د روسي ادب نهٔ خو هغسې اثرات ليدے شي او نهٔ هغسې تفهيم، څنګه چې د مغربي ادب ليدے شي. البته په مغرب کښې په يو شمېر ژبو کښې د روسي ادب د ترجمو په لاره دغه ادب د نړۍ يو اهم ادب ضرور ګڼلے شي او بيا په خصوصي توګه د شاعرۍ نه زيات افسانوي ادب خو د نړيوال ادب سالار ګڼلے شي . دا هم معلومه ده چې د روسي ادب ترجمې زياتې په انګريزۍ ژبه کښې شوې دي خو دغه ادب زيات مقبوليت په فرانس ، جرمني او چين کښې تر لاسه کړے دے. د فرانس او روس ادب او بيا په ځانګړې توګه افسانوي ادب خو يو بل ته په ډېرو حوالو نزديکت لري خوکه مونږ نيغ په نيغه د روسي ادب جرړې او تاريخي سفر لټوو نو راته به جوته شي چې په روسي ټولنه کښې د سياسي عدمِ استحکام غوندې د هغوي د ادب هم کوم منظم ارتقائي صورت حال مخې ته نهٔ راځي .**

**البته دومره وئيلے شو چې د نړۍ د زياتو ژبو غوندې په روسۍ ژبه کښې هم وړومبۍ نخښې د اولسي يا عوامي ادب تر نظره کيږي. دغه عوامي ادب کښې زيات جوت اړخ د شاعرۍ يا منظوم ادب دے . دې لړ کښې د روسۍ ژبې ځينې سندرې چې د مذهبي رسمونو زياته ترجماني کوي، د هغه وخت نه تر نظره کيږي چې روسۍ ټولنه کښې لا عيسائي مذهب هم غزوني نهٔ وې کړې.**

**دا هغه دور وو چې روسيانو به د نمر، سپوږمۍ، ځنګلونو او غرونو وغېره پرستش کولو. دغو سندرو کښې به مافوق الفطرت يا اساطيري جرړې هم وې. د پېريانو، ديوانو، ښاپېرو او د قدآورو انسانانو قصې به په منظوم شکل په ځينو تهوارونو، مېلو او مختلفو غوندو کښې وئيلے شوې.**

**دغه اساطيري روايات هسې هم د کوهِ قاف سره تړلے شوي وو چې د مېتهالوجي نه علاوه په حقيقي معنو هم د کوهِ قاف د غرونو لړۍ د روسي رياستونو پورې غزېدلې ده. د کاکېشيا په نوم هم يادېږي .**

**د دغه اساطيري روايت نه پس چې په لسمه عيسوي پېړۍ کښې په خصوصي توګه د ولادجي مير کسُيف (970ء _ 1015ء ) په زمانه کښې په روس کښې د عسيائي مذهب خورونه شروع شوه نو ورسره د هغه دور مطابق د علم خورونه هم شروع شوه .د درس او تدريس، وعظ او تبليغ لړۍ هم را ونښيلېدې. د تصوف تعليمات راغلل ،د خانقاه تصور عام شو او دغسې ورسره د ادب مخه هم بدله شوه. بيا يوه مرحله داسې راغله چې پيټراعظم (1682 ء-1725ء) د حکمران په حېث د روسي ټولنې مخ د مذهب نه د دُنيا په لور واړولو نو يو ځل بيا په ادب کښې د روحانياتو ځائے زمکني حقيقتونو ونيوو. هم دا هغه زمانه وه چې پکښې د اعلیٰ مقصدي ادب با قاعده آغاز وشو. بلکې داسې وئيل به زيات مناسب وي چې د روسي ادب تاريخ په صحيح معنو له دغه ځايه شروع کيږي. په دې دور کښې په شاعرۍ کښې هغه د اوچت معيار نمونې مخې ته راغلې چې نن هم پرې روسي ادب فخر کوي. په ګڼ شمېر کښې رزميه نظمونه وليکلے شول. انقلابي شاعري مخې ته راغله . د خوارې کښو او دهقانانو مسئلې د ادب برخه جوړه شوه اوځينې لوې ادبي نومونه مخې ته راغلل چې په کښې د ميخائيل لومونوف ( 1712 ء1765-ء) نوم د ټولونه اهم وو خو لومونوف د دومره اهميت باوجود هم زيات شهرت تر لاسه نهٔ کړو. د روسي ادب په ابتدائي دور کښې چې کوم شاعر او اديب زيات نوم ګټلے دے هغه الېګذنډر سرګے يوُوچ پُشکين وو چې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتلسمي عسیوي پېړۍ د وړومبیو لسیزو شاعر او ادیب وو. پشکین په فرانسیسي ژبه هم پوره عبور لرلو ځکه چې وړومبۍ زده کړې ئې د فرانسیسي استاذانو نه کړې وې. پشکین په روسي ټولنه کښې د ډېر زیات شهرت سره سره مقبولیت هم لرلو او د ادبي حلقو نه علاوه د عام اولس په زړونو کښې ئې هم عزت او وقار پیدا کړے وو. د هغهٔ په عصر کښې په ادبي نړۍ کښې یو داسې شاعر هم وو چې په پشکین د زړهٔ نه مئین وو. په یوه موقع چې د پشکین د یوې حادثې خبر خور شو او داسې ښکاریده چې د بچ کیدو نهٔ دے نو په روسي ټولنه کښې د ماتم ماحول جوړ شو او د یو زلمي شاعر د غم نه ډک نظم په ښار او کوڅو کښې د اولس په ژبه وو. دا نظم د روسي شاعر میخائیل لابرجے وچ لرمنتوف (1811 ء-1841ء ) وو چې د پشکین په عصر کښې بل اهم شاعر وو.

د روسي شاعرۍ دغه دور کلاسیکي دور هم بللے شو چې د شاعرۍ سره سره په کښې افسانوي ادب هم وده موندله. دې دور کښې د روسي شاعر چیوچف شهرت هم ډېر شوے وو . دا شاعر چیخوف نهٔ وو بلکې چیوچف وو چې مقصدي او انقلابي شاعرۍ کښې ئې کمال تر لاسه کړے وو . البته دومره ده چې د چیوچف د شاعرۍ ډېرې کمې نمونې محفوظ پاتې شوې دي. د شاعرۍ کومه برخه ئې چې دستیاب ده هغې کښې د انقلاب او بغاوت نه علاوه د حسن وجمال او فطرت نګارۍ ښکلې نمونې هم شته چې د نړۍ په ځینو ژبو کښې ئې ترجمې شوې دي . د روسي شاعرۍ او ادب دغه زرین دور کښې رئیل بیئیف،تئیسکي،او نګراسوف هم د اوچت معیار شاعري کړې ده. دې نه علاوه د ګوګول، اکیسایوف ، ګونچروف ، تورګنیف ، دستایفسکي ، سالتي کوف، لسکوف او مېګسم ګورکي نوموړنه هم د روسي ادب د زنې خالونه دي او بیا د ټالسټائي ادبي غلبه خو په روسي ټولنه داسې خوره شوې ده چې شاعري ئې هم کوله او د افسانوي ادب هم یو غېر معمولي او لوے نوم وو. د دغه عصر کارنامې د ټالسټائي نه وروستو هم دوامدارې وې چې د ټولو نه غټه نامه پکښې د ټالسټایي همعصر چیخوف ګڼلې وه خو د چیخوف اصلي مېدان د شاعرۍ نهٔ وو بلکې په افسانوي ادب او بیا په خصوصي توګه په ډرامه کښې ئې هغه لازوال کردار لوبولے دے چې سیال ئې پیدا کیدل محال دي. مونږ داسې وئیلے شو چې ټالسټائي که د ناول او افسانې لوې نوم دے نو چیخوف د ډرامې یو قدآور نمائنده لیکونکے دے خو دلته به د روسي ادب د تفصیلاتو په ځائے نېغ په نېغه د ټالسټائي ادبي خدماتو ته راشو او بیا به د هغهٔ د "اعتراف" په حقله هم وضاحت کوو.

---

د روسي دانشور او لوې ادیب لیو ټالسټایي کتاب کانفشن مې چې د انګریزۍ نه پښتو ته د اعتراف په نوم ترجمه کړو نو ورسره مې په شپږو برخو کښې یوه مقدمه هم ولیکله چې پکښې-- روس خاوره او خلق-- روسي ادب-- د ټالسټایي مجموعي ادبي بخښنې-- د ټالسټایي د کتابونو ترجمې-- د کانفشن نورې ترجمې-- او زما ترجمه اعتراف--- د بحث موضوع جوړه شوې ده-- زمونږ توجو روسي ادب ته لږه کمه ده او شاید ډیرو ملګرو زما دغه مقدمه کتاب سره لوستې هم نه وي ځکه دغه مقدمه خپلو د فیسبک ملګرو سره هم شریکول غواړم خو شپږ واړه برخې بیلې بیلې- ځکه چې ټوله مقدمه اوږده ده - نن یې وړومبۍ تعارفي برخه شریکوم--

(I)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسنـے روس یو داسي وطن دے چې په ډېره خوره رقبه پروت دے او د سوونو کالو تاریخي او تمدني پس منظر لري . د دومره لوے او پراخ وطن په یو سر د یورپ اثرات دي او په بل سر ئې د ایشیا اثرات دي . مونږ که د دې وطن په تاریخي او تمدني پس منظر نظر غورزوو نو راته معلومیږي چې د څلورمې عیسوي پېړۍ نه مخکښې د تمدن او کلتور ډېره رنګارنګي لري. په څلورمه عیسوي پېړۍ کښې چې په روسي وطن کوم خلق قابض شول هغه په بنیادي توګه یورپي نسلونه وو. دغو یورپي نسلونو کښې یو نسل داسې وو چې اصل ئې جرمنـے وو او مشر ئې د هرمانرش په نوم یادېدو.دغه هرمانرش په وړومبي ځل روس ته د یو سلطنت حېثیت ورکړو. دغه نسل نه پس په روس د یورپ له خوا ډېرې حملې شوې دي چې په کښې د جرمن او سکېنډې نېوین نسلونه مخکښې مخکښې وو. د نهمې عیسوي پېړۍ نه تر یوولسمې پېړۍ په روس د سلاف نسل حکمراني پاتې شوه. دې دوران کښې تاتاریانو هم په روس ډېر ناتارونه کړي دي. دغسې دریاګ نسل هم د روس په "کیف" سیمه حکمراني کړې ده خو غټه غلبه بیا هم د جرمنیانو پاتې شوې ده. د کیف د حکمران مجبوري دا وه چې قسطنطُنیه سره هم تجارتي رابطه وساتي ځکه په روس اسلامي اثرات هم یو فطري خبره وه. د دغو اسلامي اثراتو په نتیجه کښې په روسۍ ژبه کښې د عربۍ او فارسۍ ډېر الفاظ هم داخل شول. تر دې چې په روسۍ کښې د زړې پښتو توري هم موندلے شي. ځکه چې د روسي ریاستونو تاجکستان،ازبکستان، کرغېزستان، ترکمنستان وغېره غاړې د پښتنو سیمې سره هم لګېدلې وې. تر دې چې په روسي لهجو او رشته دارو ژبو کښې د اوسېټک (Osatic) په نوم ژبه پښتو ته ډېره نزدې ده او بیا یو شمېر روسي لیکونکي په خپله د پښتو ژبې او ادب څېړونکي او ماهران پاتې شوي دي. تر څو چې د مذهب او عقیدې خبره ده نو هر څو که په روس کښې د اسلام، بدهـ مت او جین مت اثرات هم شته خو غالب مذهب او عقیده ئې د عیسائیت ده. د دغو ژبو، کلتور او عقائدو اثرات په روسي ادب کښې د پخوا نه راروان دي او تر ننه ئې جرړې مضبوطې دي.

---

شرعه الاسلام د نازک خیال حمید مومند ترجمه نه ښکاري

شرعه الاسلام د بخارا د مفتي امام الواعظ رکن الاسلام محمود بن ابي بکر الحنفي په عربي ژبه لیکلی کتاب دی چې بیا په فارسۍ کښې هم ترجمه شوې دی - پښتو ترجمه یې هم د مثنوي په شکل شوې ده چې په ۱۳۶۶ هجري کال د سر محقق دوست شینواري په زیار د افغانستان د علومو اکادمي له خوا چاپ ده او د پښتو نازک خیال شاعر عبدالحمید مومند ماشوال ته منسوب ده خو زه دغه ترجمه د عبدالحمید مومند نه ګڼم چې دغه لړ کښې ما خپل معروضات د محمد اصف صمیم صاحب مرتب کړي د حمید مومند کلیات د پاره لیکلې خپله مقدمه کښې درج کړي وو خو زما دغه معروضات زما مقدمې نه حذف کړی شول او مقدمه دغه کلیات سره نیمګړې چاپ شوه--بیا ما هغه نکات خپل اردو کتاب --- پشتو زبان و ادب کی تاریخ--- کښې شامل کړل چې لوې استاد او محقق همیش خلیل صاحب یې خپل کتاب -- د پښتو شعري ادب-- کښې تایید وکړو او هلته یې شامل کړل- بیا نومیالي څېړونکي ډاکټر زبیر حسرت هم په حمید بابا لیکلي خپل کتاب کښې زما دغه موقف د حوالې په توګه راواخستو- دغه نکات دلته هم په لنډه توګه راوړم-
۱--- د شرعه الاسلام په ترجمه د مترجم په حیث په څرګندو ټکو د عبدالحمید مومند ماشوال نوم نه دی لیکلی شوی بلکې یواځې حمید لیکلی شوی دی چې دا کوم بل حمید هم کیدی شي- او په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دور کښې د پښتو ليکوالو په حيث د يوولسو نورو حميدانو يادونه ښاغلي زلمي هيوادمل صاحب-- د حميد ياد-- نومي کتاب کښې کړې هم ده

۲--- دا نسخه نيمګړې ده او پاې کښې يې کاتب يا ناقل پوره معلومات کال سيمه وغيره هم نه دي ښودلي ځکه چې هغه پاڼې ورکې دي-

۳--- نازکخيال حميد خپلو نورو ترجمو کښې د محرک شخصيت نوم ښايي لکه د شاه و ګدا قصه يې چې د اخونزاده غلام محمد په خواهش کړې وه خو دلته د کوم محرک شخصيت نوم هم نه ښايي- البته اروابښاد رشاد صاحب د دې ترجمې د محرک په حيث بغير کومې حوالې د دير رياست غلام محمد نوم اخستى دى چې دير او د حميد کلى ماشو هم ډير نسبت او نزديکت نه لري-

۴--- د دې ترجمې معيار نه خو د حميد د نورو ترجمو غوندې دى او نه د هغه د نورې شاعرۍ غوندې-

۵--- دې ترجمه کښې د بحر وزن نه پريوتي شعرونه هم شته چې د استاد او نازکخيال حميد نه يې توقع نه شي کيدى-

۶--- دا مثنوي ټوله په اته سيلابونو کښې ده خو چرته چرته پکښې د اوو سيلابونو بيتونه هم راشي لکه د مثنوي دا وروستى بيت چې--

دلې ختم شه کلام
په ثنا صلات سلام

۷--- نازکخيال حميد نه خو په خپله عام شاعرۍ کښې او نه په خپلو ترجمو کښې د خپل تخلص په شکل يا د نوم د برخې په شکل فقير او عاجز تورى پکارولى دي خو شرعه الاسلام کښې فقير او عاجز ګنو بيتونو کښې راغلى دى لکه

که کا خداې دا فيروزي
د حميد فقير روزي

او دا چې

ما عاجز دى خپل کرلى
تا قادر خداې ته سپارلى

وګورئ دلته هم يو بيت د اوو سيلابونو دى او بل د اتو سيلابونو چې په يوه مثنوي کښې دغه کوتاهي د نازک خيال حميد نه څنګه شوې ده-

۸--- د شرعه الاسلام ترجمه په ۱۱۴۸ کښې شوې ده او تر دغه کال پورې د حميد بابا د ژوند بى له دغه ترجمې بل هيڅ سند او ثبوت نشته-

دغه زما معروضات دي چې اتفاق او اختلاف دواړه ورسره کيدى شي-

---

د سحر غوندې مي شير په کام کښې خون شو
په شپدا د فلک کار عجب واژون دے

شرح:

شير پيو ته وائي او کام حَلق ته. يعني زهٔ چې خُلې ته پى واچوم نو هغه مې هم په حَلق کښې وينې شي ځکه چې فلک يا مقدر راسره اپوټه کار روان کړے دے. واژون اپوټه او مخالف ته وائي. او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ورسره شېدا د سحر د وخت ذکر هم کړے دے چې عموماً خلق پی یا د پیو چائې د سحر په وخت څښي. خو شېدا ته دغه پیَ یا چائې هم د فلک یعنې تقدیر د لاسه وینې څښل جوړ شي.
نور وضاحت:
فني باریکیو ته ئې هم غور وکړئ. شپې نه پس د سحر وخت او ورځ راتلل د خپل سپین والي یا سپینې رڼا په وجه د پیو سپین رنګ سره مشابه راوړلے شوے دے خو د سحر په وخت د نمر پلوشې سرې وي او د وینو رنګ هم سور وي. نو بیا وئیلے شوي دي چې ما ته خو د پیو نه هم سرې وینې جوړې شي. لکه د سحر د نمر سپینې پلوشې چې راته سرې ښکاري او دا کار راسره فلک کوي، مقدر کوي. اوس دې ته هم غور وکړئ چې سحر او نمر یاد شوي دي. نو نمر خو هم په آسمان کښې دے. یعني فلک کښې دے. او نمر ته د سپینو شغلو په ځائے د سحر په وخت د سرو شغلو دغه رنګ خو هم فلک ورکوي. ګویا فلک دا هم اپوټه کار کوي یا واړون کوي. او بیا دې ته هم غور وکړئ چې د فلک یا آسمان شکل هم داسې دے لکه جام چې نسکور پروت وي. ګویا جام اپوټه پروت وي. نو دا خو بیا د فلک واړون شو یعني فلک په خپل فطرت کښې اپوټه دے. ځکه ئې د مقدر په حېث کار هم اپوټه دے. بیا دې ته هم غور وکړئ چې د فطرت له مخه خو وینې نه پیَ جوړېږي خو شیدا د پاره فلک دا کار هم اپوټه کوي چې د پیو نه ورته وینه جوړه شي- او بیا دې ته هم غور وکړئ چې شیر یعني پیَ او خون یعني وینه خو هم په یو لوښي کښې وي یعني جام کښې وي. نو چې د فلک جام هسې هم اپوټه دے. نو بیا ئې هر کار هم اپوټه دے. د سپینو پیو نه سره وینه جوړه کړي. ځکه چې سپینې پلوشې یې د سور رنګ ښکاري او شېدا سره خو هم دغه رویه لري چې هغه د پیو ګوټ کول غواړي خو چې تر کام یعني تر حلقه ئې ورسي نو هغه پیَ هم ورته وینې جوړې شي. د پیو ګوټ ئې د وینو په ګوټ بدل شي. دغه کار د فلک دے، دغه ئې مقدر دے.او همدغه د شیدا نصیب او تقدیر دے- هر وخت اپوټه-

---

بې باوره مقدسات

زمونږ ډیر پخواني مقدسات د عقیدت په نتیجه کښې خوندي ساتلی شي خو کوم باوري سند او اعتبار نه لري-- د مثال په توګه د ترکي او مصر نه راواخله تر بادشاهي مسجد لاهور پورې په شلګونو عجایب ګهرونو او جماتونو کښې د حضور اکرم ص ویښته مبارک خوندي کړی شوي ښودلی شي - نو دا د حضورپاک ص ویښته مبارک دې د پاره وو چې د دنیا په شلګونو عجایب ګهرو ته ولیږلی شي- بیا هر عجایب ګهر کښې د حضور د شین رنګ پګړی کمبلې پیزار او کونټۍ هم پرتې دي-- نو دا څنګه امکان لري چې د حضور به سلو نه زیات پټکي وو او دغه هومره یې کمبلې پیزار او کونټۍ هم وې چې بیا هر عجایب ګهر ته ورسیدې-- دا هم وګورئ چې چرته د کوم غر د پاسه یو لوې راپریوتونکی کاڼی وینو چې د لاس د پنجې نخښه وي پرې نو بس وییلی شي چې دا د حضرت علي کرم الله وجهه د لاس پنجه ده چې کاڼی راغورزیدو خو حضرت علي په خپله پنجه را ایسار کړو-- نو حضرت علي د کومو کومو سیمو غرونو ته دغو کاڼو را ایسارولو له تلی وو- داسې کاڼي خو بلها ډیرو سیمو کښې دي- چرته چې اوږده قبرونه وینو چې د خپلې زمانې د مجبورۍ او ضرورت تر مخه اجتماعي قبرونه جوړ شوي وو یعنې یو قبر کښې به ډیر مړي ښخولی شول-- مونږ دغو قبرونو نه د ګزونو په حساب نوګزي بابا او چهل ګزي بابا جوړ کړل چې دا خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهه گزه دنګ او څلويښت ګزه دنګ بزرګان او بابا ګان وو- تر دې چې اوس د خپلو رنځونو علاجونه هم په دغو مزارونو کوو-- کله سليمان عليه السلام پښتون کړو او دې ته نه ګورو چې بيا خو به د حضرت سليمان پلار حضرت داود هم پښتون وو نو په هغه نازل شوی کتاب زبور بيا ولې پښتو کښې نه دی-- کله حضرت ابراهيم عليه السلام په جمرود کښې اور ته اچوونکی يادوو او جمرود د نمرود نه مشتق يادوو- کله قيس عبدالرشيد د پښتنو نيکه کړو خو دې ته نه ګورو چې د قيس مور او پلار د عربي تهذيب نه څه خبر وو چې په زوې يې عربي نوم قيس عبدالرشيد ايښودو او د قيس نه مخکښې دا پښتانه بيا د چا اولاد دی-- کله خالد بن وليد پښتون کړو چې په عربو کښې يې خپله بني مخزوم قبيله معلومه ده- کله د بت شکن په نوم محمود غزنوي پښتون کړو چې پلار يې سبکتګين او نيکه يې الپتګين مشهور ترکان وو-- داسې ګڼ شمير نور مثالونه دي چې مونږ يې د تاريخ او کتاب برخه هم جوړو او د تحقيق او څيړنې نوم هم ورکوو---پښتانه او غير پښتانه دواړه دغه عمل کوو- بس د عقيدت له مخه-- د مقدسو دروغو په شکل-- خو رښتيا اوريدلو ته غاړه نه ږدو چې چرته ګناهګار نه شو-

---

دين که مذهب

د فيسبک يو ګروپ کښې پوښتنه شوې وه چې دين او مذهب کښې څه فرق دی-- ما ورته دغه وضاحت وکړو-

هر څو که دين او مذهب دواړه د عربۍ توري دي خو دواړه معنوي فرق لري--- قران حکيم چرته هم اسلام د پاره د مذهب اصطلاح نه ده راوړې هر ځای يې د دين اصطلاح راوړې ده- دين او مذهب کښې معنوي فرق دا کيدی شي-

۱--- دين د ژوند تيرولو کامل نظام ته وايي چې د رسمي عباداتو نه علاوه پکښې اقتصاديات سياسيات قوانين فلسفه ساينس او نور علوم و فنون زده کول او ژوند کښې عملي کول هم شامل وي او مذهب اوليت رسمي عباداتو مونځ روژه ذکر اذکارو وغيره ته ورکوي نورې خبرې بيا وروستو راځي

۲--- دين د خداې له اړخه راغلي د قوانينو او تعليمانو مجموعه وي چې تر څو د انساني لاس وهنې نه پاکه او محفوظ وي نو دين وي او چې انساني لاس وهنې پکښې وشي نو دين په مذهب بدل شي-

۳--- دين خدايي لار وي او مذهب د انسان له خوا جوړې شوې لارې وي-

۴--- دين کامل او جامع وي او مذهب جزوي او نيمګړی وي-

۵-- دين ټول انسانيت د پاره يو وي او مذهبونه ډير او ګڼ شمير

د دغو څو توپيرونو په رڼا کښې دا هم بايد جوته وي چې د حضرت ادم نه تر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم پورې هر نبي خدايي پيغام د دين په شکل راوړی دی ځکه د هر نبي راوړی پيغام په خپل اصلي شکل کښې دين وو او دغه هر يو پيغام اسلام وو-- خو وروستو چې انسانانو پکښې لاس وهنه وکړه نو هر دين په مذهب بدل شو او د اسلام نه خبره يهوديت نصرانيت مجوسيت عيساييت وغيره ته راغله -- اسلام يواځې د حضرت محمد ص راوړی پيغام پاتې شو او يواځې د حضرت محمد ص وحي دين پاتې شو نور هر څه په مذهبونو بدل شو---

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره نوره مخکښې لاړه چې په اسلام کښې د څلورو امامانو فقهي دانش ته د مذهبونو نوم ورکړی شو--
خبره دې نه هم مخکښې لاړه چې دغه مذهبونه هم بيا په مسلکونو بدل شو--
خبره دې نه هم مخکښې لاړه چې دغه مسلکونه په فرقو بدل شو--
خبره نوره هم مخکښې لاړه چې هره فرقه په ذيلي څانګو تقسيم شوه--
خبره نوره هم مخکښې روانه ده الله دې خير کړي--
بس دين يو دی -- دين اسلام دی--خو چې په خپل اصلي او محفوظ شکل وي--- نور مذهبونه مسلکونه فرقې د فرقو څانګې وغيره دي چې دين سره يې هيڅ تعلق نشته - دغه هر څه د انسان جوړې کړې لارې دي د خداې لار نه ده-- د خداې لار يوه وي- شل نه وي او شل واړه خپلو کښې متضاد هم نه وي--

---

قامپالي

زه د قامپرستی نه قامپالي اصطلاح زياته مناسب ګڼم چې د پرستش عنصر پکښې نه وي بلکې د پاللو عنصر پکښې جوت وي-- دغه قامپالي زه کوم مخصوص سياسي ګوند پورې هم محدوده نه ګڼم- د يو قام او ملت ژبه پالل ورته وده ورکول د بقا او ارتقا احساس يې لرل او عملي هڅې کول زه اصل قامپالي ګڼم - په دې بنياد د پښتو هر ليکونکی چې په دغه جذبه عملي او قلمي هڅې کوي زه يې قامپال بولم- که سياسي اړيکي يې هر ګوند سره وي خو ژبه او قام پالي نو قامپال دی- په دغه پيمانه په سياسي حواله مسلم ليګي حمزه بابا زه ډير لوې پښتون قامپال ګڼم-- دوست محمد خان کامل مرحوم ډير جوت پښتون قامپال ګڼم--تر دې چې اسلم خان کمالي خان مير هلالي قمر راهي پير ګوهر او ځنې نور هم پښتانه قامپال ګڼم چې دغه ټول مسلم ليګيان وو-- زمونږ د عصر عبدالسبحان خان او د هغه د فکر نور ملګري هم قامپالو کښې شاملوم-- دغسې د کاکاجي صنوبر او د هغه ملګري چې په سياسي حواله د کيڼ لاس سياست کوونکي يا کميونزم نه متاثره پښتانه وو خو د پښتون قام او پښتو ژبې د بقا او ارتقا احساس يې هر وخت ملګری وو لوې قامپال ګڼم-- بل خوا داسې هم ډير کيدی شي چې د قامپالنې په نوم پيژندلي سياسي ګوند کښې به شامل وي خو د پښتون قام او پښتو ژبې د بقا او ارتقا به ورسره نه خو احساس وي او نه به يې عملي سياست کښې دغه عنصر شامل وي- نو دغسې خلقو ته به پښتون قامپال څنګه ووايو--- د مفادو سياست او د پښتون قامپالنې نظرياتي سياست بايد چې بيل بيل وساتو او د قامپالنې فيصله د قام پالنې يعنې قام او ژبې پاللو سره تړلې وشميرو-

---

املا او رسم الخط ( ليکدود)کښې فرق

ډير خلق املا او رسم الخط يا ليکدود کښې فرق نه کوي- ځکه د مبتدي زده کوونکيو د پاره مې د لنډ وضاحت ضرورت محسوس کړو-

(c) ketabton.com: The Digital Library



املا د ژبپوهنې سره تعلق لري.او رسم الخط (ليکدود) د ښکلو هنرونو يا ارټ او خطاطۍ سره- په ژبپوهنه کښې د ګرافيم او فونيم اصطلاحات رائج دي چې ګرافيم د ګراف په مناسبت شکل يا علامت او نخښې ته وائي او فونيم آواز يا غږ ته وئيلے شي. د هرې ژبې خپل خپل آوازونه وي. په ګڼو ژبو کښې ځينې آوازونه مشترک هم وي. په خصوصي توګه د يوې کورنۍ يا ډلبندۍ ګڼو ژبو کښې ډېر آوازونه يا غږونه مشترک وي او يو رنګ ادا کيږي خو په ځينو ژبو کښې بيا يو شمېر داسې آوازونه يا غږونه هم وي چې صرف په هم هغه ژبه کښې ئې ادائېګي سمه کېدلے شي. په نورو ژبو کښې د دغو مخصوصو غږونو ادائيګي په سمه توګه نۀ شي کېدلے. دغو آوازونو يا غږونو د پاره چې په متعلقه ژبه کښې کوم شکلونه علامتونه يا نخښې ټاکلے شي، هغه که د نورو ګڼو ژبو خپلو کښې مشترکه وي او که د مخصوصو ژبو د مخصوصو غږونو د پاره ځانګړي وي خو په هر حال دغه شکلونه علامتونه يا نخښې د دغو غږونو د پاره ګرافيم وي چې مونږ ورته په آسانو ټکو کښې الفبا **Alphabets** يا د عربۍ حروف تهجي وايو. دغه الفبا يا حروف تهجي د متعلقه ژبې املا ګڼلے شي. يعنې فونيم د پاره ګرافيم يا غږ د پاره شکل او ګراف-

خو رسم الخط يا ليکدود د دې نه جدا څيز دے. رسم الخط په اصل کښې د ليکلو يا خط طريقې، سليقې، انداز يا دود ته وئيلے شي چې د ژبپوهنې نه زيات تعلق ئې آرټ او هنر، خطاطۍ او مصورۍ يا د کتابت طريقو سره وي ځکه مونږ په رسم الخط کښې د ځينو مشهورو او معروفو خطونو نومونه چې اخلو نو مونږ وئيلے شوچې خط کوفي، خط شامي، خط رقاع، خط نسخ، خط نستعليق، رومن، يوناني، لاطيني وغېره د رسم الخط يا ليکدود نومونه دي چې په تاريخي تناظر کښې د دغو ټولو نه وړومبے د مېخي خط رواج وو. ځکه مونږ بايد چې د املا او رسم الخط يا ليکدود دغه بنيادي فرق په نظر کښې وساتو.

---

د دروند شخصيت او عالم فاضل مشر ليکوال ډاکټر سيد چراغ حسين شاه صاحب دغه ليک راته اوس ګران دوست احمد جان مروت راوليږلو- هر څو که زه ځان د دغو درنو لفظونو قابل نه ګڼم خو د دروند ډاکټر صاحب مينه خپل افتخار ګڼم نو ځکه دغه ليک خپلو ملګرو او مينه والو سره هم شريکول غواړم--

حنيف خليل د صبا ميکسم ګورکي

ډاکټر سيد چراغ حسين شاه

حيات اباد 8.5.2023

د ډاکټر اسرار سره دفتر کښې ناست وم ـ تپوس ئې وکړو ګاډے دې راوستے دے، ما ويل او ـ ده اوويل : راځه چې قلندر مومند صيب ته ورشو، هغه د ځان سره واخلو او د هميش خليل ځائ ته ورځو- څوک نزدې ښځينه ئې په حق رسيدلي ده ـ هغه ورځو کښې د قلندر او د هميش په منځ کښې د " پټه خزانه" په اصليت يو تود ادبي قلمي جنګ روان وه ـ د اسرار صيب مدعا دا وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې به د خپل وخت د پښتو دوه ادبی اتلانو، چې پکښې د پیر روښان او اخوند درویزه په رنګ یوه مبارزه روانه ده ، هغه به ئې په ملګرتیا او رورولئ کښې بدله شی ـ قلندر صیب راسره روان شو او د همیش صیب د غریب آباد کور ته ورغلو ـ دعا مو اوغوښته ـ چې واپس راتلو نو همیش صیب غلي شان یوه کتابچه راکړه چې د کتاب نوم ورباندې "نام خق" لیکلے وه ـ او دا تصنیف همیش صیب خوشحال ته منسوب کولو۔ ورسره ئې اووې دا کتاب پټ درکوم " دا خلق ئې نه منی" ـ ما کتاب د ځان سره سنمبال کړو۔ دا وخت د همیش صیب په ترخ کښې یو زلمے هلک چپه خوله ولاړ وه او دا هرڅه ئې د فکر او مشاهدې په زور په ذهن کښې سوګه کول ـ څو ورځې پس د کاغذونو یوه پنډه راغله ـ لیکلی ئې وه دا د حمزه بابا د لاسه د حضرت علی کرم الله وجهه (رض) ته منسوب مشهور کتاب نهج البلاغ د پښتو ترجمې مسوده ده ـ مونږ دا خوهش لرو چې ته د دې کتاب دیباچه یا پیژندګلو ولیکې ـ د خط په اختتام کښې د مکتوب نګار خپل نوم حنیف خلیل لیکلے وه ـ دا د زلمی حنیف خلیل سره زما اولنۍ پیژندګلو او د تعلق پېل وه ـ کال شاید 1996 یا 1997عیسوی وه ـ څه موده پس دغه زلمے نوخیزه ځوان دې آئی خان هسپتال کښې زما دفتر ته راننوتو، دغه وخت دے د کالج استاد وه او سم اعتماد پکښې راغلے وه ـ ژوند کښې د پرمختګ ولوله ئې لرله ـ او د خپلې خوش کلامۍ، علمی سنجیدګۍ او پختګۍ په زور ئې د متأثر کولو چل زده کړے وه ـ د استاد ټاکلو نه مخکښې ئې "د رحمان بابا اعجاز" او"بابا‌ے غزل" کتابونه ئې چاپ کړی وو، چې د دې ستائنه د پښتو نامتو پوهانو نه پرته د اردو ویونکو نقادانو هم په درنو ټکو سره کړې ده ـ داسې د پبلک سروس کمیشن ممبران ئې حیرانه واچول او ډیر خوشحاله هم شو چې تیار استاد او پیدائشی پوهان مو ومونتو۔ د مخکښې نه تراشلي هیره مو تر لاسه کړه ـ دې تراش خراش او موزونیت کښې د شیخ الاساتذه تقویم الحق صیب مرحوم خاص لاس دے ـ د لیکوال په ژوند کښې د کتابونو د کتو، لوستو او د ادب پوهۍ د منزل نه پس د صاحب کتاب د جوړیده مرحله راځی خو دې زیرک دا منزلونه ډیر زر لنډ کړل ځکه چې ده کښې یو بل ډیر اهم صفت دے هغه د مشرانو ادب او عزت کول وو او د دوئ د محفلونو او ذاتی علمی صحبتونو نه بلا واسطه استفاده او فیض تر لاسه کول وه ـ دغه مجلسونو کښې د ده په سوالونو او پوښتنو کښې د شوخۍ، بیباکی عنصر به ضرور وی خو د ادب لحاظ او د مشرئ د احساس قدر او صفت جوهر بېحده زیات لری ـ خوش اخلاقه، خوش طبعه او محفل آرا ځوان دے ـ د علم او حکمت خزانې په باره کښې حنیف چې چرته هم اوری دے ځان وررسوی او ښه استفاده ورنه کوی ـ

گفت حکمت را خدا خیر کثیر

ہرکجا این خیر را بینی بگیر

کتابونه : حنیف خلیل تر اوسه دوه د پاسه شپیته (62) کتابونه چاپ کړی دی ـ پښتو، اردو او انګریزی کښې لیکل کوی ـ او درې واړو ژبو په لیکلو کښې روان، فصیح البیان او قادرالکلام دے ـ تخلیق، تحقیق او تنقید ئې معیاری او په سائنسی طریقه کار پوره، مناسب او متوازی ښه په تفصیل سره وی ـ که خپل استاد، مربی، مشفق او مهربان مرشد همیش خلیل د ژوند او فن باندې ئې د خپل ادبی ژوند اولنے کتاب لیکلے او چاپ کړے دے ، (د ریکارډ مطابق) داسې ئې د خپل تعلیمی دور استاد او محسن تقویم الحق صیب په شخصیت او فن هم د پاکستان ادبیاتو اکیډمۍ په مرسته یو د اعلی پائې کتاب لیکلے دے ـ داسې ئې د کاکاجی صنوبرحسین، ولی محمد طوفان او پریشان خټک غونډې نظریاتی او انقلابی ادبی مشاهیر شخصیتونه هم هیر کړی نه دی ـ او د هر شخصیت حق ئې پوره انصاف سره ادا کړے دے ـ د ده غټه شاهکار کارنامه د موشګاف او نازک

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال شاعر کاظم خان شیدا د کلام وضاحت او تفسیر دے ـ ده ته مونږ پښتو ادب کښې واحد شیدا شناس وئیلے شو۔
د ده د پلار خواهش وه چې د ده زوئ چرته پټواری یا وکیل جوړ شی ـ د ده دا ارمان د یوې بوډۍ ترور د دعا په مصداق وه چې ډپټی کمشنر ته ئې دعا وکړه چې بچیه خدائ دې پټواری که ، چې د نوښار خلق ورته مرزا وائی ـ  د حنیف پلار ته د ده دوستانو د تاریخ مرصع یوه نسخه ورښکاره کړه چې دا د پټواری سره د کلی د خلقو د شجرې او د خسره جاتو نمبرې دی ـ د پلار د علم نه پټ په پټه یو عالم، پوهان، شاعر او د ادیب لوړ شهرت ئې تر لاسه کړو ـ
د کسانانو، مزدورانو د نړی والې ورځې په مناسبت سره ریکارډ شوے د ده یو پیغام مې تر نظر شو، په دغه پیغام کښې انکشاف کوی چې د احسان دانش او د ملک معراج خالد په شان د ده والد بزرگوار هم یو مزدور او کسان وه، چې نن ئې یو زوئ د ادب او بل د انجنئرنګ پی ـ ایچ ـ ډی ډاکټران دی ـ انشاء الله ګران حنیف خلیل به د پښتونخواه ټالسټائی او میکسم ګورکی خیژی او د ادب بام ته به رسی ـ  وما توفیقی الابالله ـ
اعتراف : څوکاله مخکښې ما د پاڅون رسالې د پاره د اعتراف د سر خط لاندې یو مضمون لیکلے وه ـ هغه وخت ما ته د فرانسیسی فلاسفر "روسو" د اعترافاتو پته  وه او هغه زما په نظر کښې د عالمی معیار شاهکار کتاب وه ـ روسی ادب سره زه لږ ډیر بلد وم خو ما د ټالسټائی صرف دوه ناولونو نومونه اوریدلی وو، او دا دوه ناولونه "وار اینډ پیس" (War and Peace) او "انا کرینا" (Anna Karenna) مې د عالمی شهرت کتابونه ګڼل ، خو د ټالسټائی د دې اعتراف نه خبر نه وم ـ خدائ خبر چې زمونږ افغان لیکوالانو دا کتاب ولې پښتو ته نه دې اړولے ـ حنیف خلیل دا کتاب څو ورځې مخکښې راپیرزو کړو چې په ساده سلیس بیان او د پښتو ژبې د ګرامر د مزاج او د لوړو او ژورو سره سمه ترجمه ده ـ  مترجم د Confession د توری ترجمه "ننواتې" غوره کړې ده ____ چې د عربی د توبة النصوح یعنی ریښتونې توبه ده  ____  چې پکښې د بنده او د خالق تر منځ د پادری د واسطې ضرورت نه وی ـ خو بیا هم د مسلمانانو صوفیاء دلته د شیخ، پیر یا د مرشد کامل وجود ضروری ګڼی ـ د حنیف دا خیال هم دے چې که ټالسټائی د اسلام او د قرآن تعلیمات لوستی وے نو د ژوند د عذاب او د اضطراب دا اوږده موده به ئې په راحت او سکون کښې تیره شوې وه ـ اقبال هم دا خیال د نطشې په باره کښې ظاهر کړے وه او وائی :

اگر ہوتا  وہ  مجذوب  فرنگی  اس  زمانے  میں
تو اقفال اس کو سمجھاتا مقام کبریا کیا ہے

خو ډیر زر د دې حقیقت احساس ورته وشو چې دا کار زما یا د بل د عقل، منطق او د فلسفې په پرېنج او جال کښې انخښتی کس د وس برې کار نه دے ـ دې عالی او ارفع مقصد او مرام ته رسیدو د پاره د شیخ احمد سرهندی مجدد الفِ ثانی په شان کامل شیخ او مرشد د توجه او لار ښودنه پکار ده ـ

کاش بودے در زمانے احمدے            تا رسیدے بر مقامِ سرمدے

ټالسټائی آخر کښې په دې نتیجه رسی چې انسان د فلسفې، د سائنس او د خُشک رسمی عبادتونو او د عقیدې د بحثونو په زور د لارې سر ته رسی بلکې د خدائ د خوار، مجبور، مقهور، مظلوم او د عاجز، بې وسه، غریب او پریوتی مخلوق خدمت، مرسته او مینه اصل صراط مستقیم دے ـ
ټالسټائی ګاندهی متأثره کړو او د ګاندهی د خدمت، د امن او د مینې دا لار باچا خان خپله کړه ـ مادر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټریسا ورباندې نوبل انعام وګټلو ـ بیا عبد الستار ایدهی د نیکو چارو او د خدمت دا مشن مخته بوتلو ـ
نن مونږ د حنیف خلیل ګولډن جوبلی نمانځلو له راغلی یُو ـ ده په خپل دې پنځوس کلن عمر کښې ادبی دنیا ته دوه شپیته ( 62) ډیر د کار کتابونه د پښتو، د اردو او د انګریزی ، ادبی، نصابی او تعلیمی کتابونه سوغات کښې سپارلی دی ـ داسې دے د پاکستان د 1973 ء آئین همځولے دے ـ
دې موده کښې ده چې څومره سپینې پاڼې توری کړې دی هغه که د تلې په یو پل کښې د یو بل په سر کېښودل شی او بل لور ته د ده قد او عمر ته حساب وکړے شی نو اولنے اړخ به د دې په مقابله کښې دروند او قد آور وخیژی ـ
نن د ده سره پوهه د کامل مومند او د قلندر مومند، ابلاغ ، د تقریر اؤ د تحریر فن د تقویم الحق اؤ د پریشان خټک خدائ بخښلو اؤ تحقیقی، تنقیدی اؤ تخلیقی صلاحیت د همیش خلیل دے ـ امید دے چې د خپل دې صلاحیت او قابلیت په زور به د ادب صباؤن روښانه اؤ د مقدار اؤ معیار سره د نړۍ د نورو د پائې ژبو سره هم سره او هم ټکره کړی ـ

خرد کو غلامی سے آزاد کر
جوانوں کو پیروں کا اُستاد کر

---

د لوې استاد اروابناد عبدالحئ حبیبي تلین

نن د مئ نهمه د لوې استاد اروابناد عبدالحئ حبیبي صاحب (۱۹۱۰..۱۹۸۴ عیسوي کال) د یو څلویښتم تلین ورځ ده- د څلور اویا کالو په یو ژوند کښې يې هغه څه کړي دي چې په لسو ژوندونونو کښې هم ګرانه ده-
د علم و ادب په اسمان کښې د برې پښتونخوا په پنځو ستورو کښې د خپل کاروزيار او علمي مقام په حواله د ټولو نه ځلاند ستوري عبدلحئ حبيبي صاحب د خپل علمي سفر پيل د ديني زدکړو او د ماشومانو د ښوونځي د يو ښوونکي په توګه کړی وو چې د خپل خداې ورکړي اهليت په لاره د يو شمير نورو عهدو سره-- د پښتو ټولنې د مشر-- د لوې پوهاند-- د لويې جرګې د غړي-- او د صدر اعظم موسی شفيق د مشاور درجي ته رسيدلی وو- په ۱۹۵۰ عيسوي کال چې پيښور کښې استوګن شو نو د کاکاجي صنوبر او نورو دانشورو سره يې د اولسي ادبي جرګې په غونډو کښې ناستې کولې تر دې چې خپلې ليکنې به يې هم نقد ته وړاندې کولې - په اردو ژبه هم پوهيدلو او د فارسي ژبې خو د ګڼ شمير کتابونو پياوړی ليکوال وو-- په عربي ژبه يې هم لاس بر وو تر دې چې د سنسکرت او نورو زړو متونو د ليکدود پوهه يې هم لرله- په ۱۹۳۳ کال کښې د درې ويشت کالو زلمی وو چې په کندهار کښې يې علامه اقبال سره د پښتو ژبې ادب تاريخ سياست او نورو اړوند مسلو په اړه خبرې کړې وې- يو نيم سلو نه د زياتو کتابونو او پنځه سوو نه د زياتو څېړنيزو مقالو دغه ليکوال په ايران کښې د خپلو فارسي کتابونو په وجه يو لوې دانشور ګڼلی شي او په مغربي هيوادونو کښې د هغه د کتابونو د انګريزي فرانسوي او الماني ژبارو په وجه د نظر خاوند بللی شي- تر دې چې ځنې کتابونه يې په عربي هم ژباړل شوي دي- د کوزې پښتونخوا پوهنتونونو کښې هم د هغه کتابونه په لوړه سويه د نصابونو برخه ده- شاعر نثار اديب نقاد او تاريخدان خو هغه هسې هم وو چې ورسره د ژورناليزم په ميدان کښې هم د طلوع افغان او ازاد افغانستان د مدير او مشر په حيث د هغه بخښنې د هيرولو نه دي- هسې خو د هغوئ د کتابونو د لوړ کيفيت سره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کمیت هم دومره دی چې د دوئ تر قد یې د کتابونو لړۍ او پړۍ پورته ځي خو د تذکره الاولیا د څو پانو دریافت د پټې خزانې تدوین د پښتانه شعرا تالیف د افغانستان تاریخ او د هغه فارسي کتابونو د حبیبي صاحب قد خورا ډیر لوړ کړی دی-- حبیبي صاحب چې په خپل ژوند کښې څومره پانې توري کړې دي لوستلو ته یې هم ډیرې عشرې پکار دي- ځکه مونږ لا حبیبي صاحب لس فیصده هم نه دی لوستی-- باید چې توجو ورزیاته کړو-- په پښتو او پښتنو یې پریمانه لوریني کړې دي - روح یې ښاد-**

---

**د ساحر لدهیانوي د یو نظم په تاثر کښې زما یو وړوکی نظم د مینه والو په خدمت کښې**

**جنګ خو د سپیو کار دی**

**جنګ مې د سترګو خوښ وي**
**چې یو جمال زیږوي**
**سترګې چې یو شي سره**
**د مینې حال زیږوي**
**د زلفو جنګ هم ښه وي**
**خورې ورې هم ښایسته**
**کمځۍ کمځۍ هم امن**
**د اتفاق علامت**
**د کیف سرور ضمانت**
**ډیر انساني جنګونه**
**هم مقدس ګڼمه**
**خو چې د شر خلاف وي**
**چې د تیارو په ضد وي**
**د جهالت خلاف وي**
**د محبت په میدان**
**چې د نفرت خلاف وي**
**بس د باطل خلاف وي**
**چې انتشار جوړوي**
**د هغه مخه نیول**
**زړونو کښې لار جوړوي**
**اضداد خو وي په ژوند کښې**
**د ارتقا نخښې دي**
**خو چې په ژوند کښې اضداد**
**معنی مثبت ولري**
**قدروقیمت ولري**
**څه صداقت ولري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حیف چې د نن انسان خو**
**معنې بدلې کړلې**
**هغه مثبت توري يې**
**ټول کړل په منفي بدل**
**لکه رڼا د پاره**
**چې څوک خپل کور لمبه کړي**
**د ارتقا جنګونه**
**کړي د فنا د پاره**
**مرګونه کله کوي**
**کار د بقا د پاره**
**انسان چې چرته هم مري**
**ټول د ادم بچي دي**
**د ټولو وينه يوه**
**د ټولو درد هم يو دی**
**درد هيڅ مذهب نه لري**
**هيڅ قاميت نه لري**
**جغرافيه نه لري**
**څه تفاوت نه لري**
**د وينې رنګ خو يو دی**
**هم يې غورزنګ خو يو دی**
**وينه دې تويه نه شي**
**شخړه دې لويه نه شي**
**چې د انسان وينه وي**
**انسان په انس ولاړ دی**
**انسان جنګونه  نه کړي**
**انسان خبرې کوي**
**انسان خو ژبه لري**
**روزمرې هم جوړوي**
**يوه يې دا روزمره**
**:جنګ خو د سپيو کار دی:**

---

**زه او فلمستار جميل بابر**

**اوريدلي مې وو چې فيض احمد فيض په يوه موقع هند ته تلو نو خپلې لور منزه هاشمي ورته ويلي وو چې ما د پاره د دليپ کمار نه اټوګراف (لاسليک) راواخله-- فيض چې بغير اټو ګراف واپس راغلو نو لور ته يې وويل چې دليپ کمار سره مې ملاقات هم وشو خو هغه زما د شاعرۍ نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره متاثر وو چې زما د اتوګراف غوښتنه يې وکړه نو بس ستا د فرمايش پوره کولو جرات مې ونه کړی شو او بغير د هغه د اتوګراف نه واپس راغلم--
دا قيصه مې فلمسټار جميل بابر سره زما د تعلق په اړه وکړه-- هر څو که نه خو زه فيض يم او نه جميل بابر دليپ کمار دی خو دومره قدر ضرور ده چې زه د خپلې پښتنې خاورې او خپلې پښتو يو وړوکی ليکوال يم او جميل بابر د پښتنې خاورې او پښتو فلمونو يو لوې اداکار دی--- زه ټول عمر د هغه د فلمونو کتونکی او د هغه عقيدت مند پاتې شوی يم او هر وخت به مې دا خواهش وو چې جميل بابر سره به څنګه ملاقات وکړی شم-- دوه کاله مخکښې چې زما په ګولډن جوبلي ( پنځوسم کلن جشن) دستوره کښې هغه خپلو خبرو کښې ووييل چې زه په دې فخر کوم چې د حنيف خليل په حلقه کښې يم نو ما ته هغه د فيض او دليپ کمار واقعه رايادہ شوه چې فخر خو زه کوم چې جميل بابر سره زما د دوستۍ رشته جوړه شوې ده-- دغه پس منظر کښې د بابر صاحب تاثرات ملګرو شره شريکول غواړم چې ډاکټر شهاب عزيز ارمان خپل کتاب--- ادب شناس حنيف خليل-- کښې خوندي کړي دي- بابر صاحب داسې وييلي وو-

------ حنيف خليل صيب سره چې ما څومره ژوند تېر کړے دے او ما څومره جج کړے دے. نو هغه د ښۀ اديب او ښۀ ليکونکي سره سره يو عظيم انسان هم دے. حنيف خليل صيب داسې يو انسان دے د چا باره کښې چې علامه اقبال وئيلي دي:
"سلام اس پر، جس نے بادشاہی میں فقیری کی"
هغوي د دې قابل او حقدار دي. هر فن او علم سره چې انسانيت ملاؤ شي هغه بيا اسمان ته رسي او د حنيف خليل صيب قابليت سره سره انسانيت هم ملګرے دے. او زۀ پرې ډېر فخر کوم. ما د پاره د وياړ خبره ده چې زۀ د حنيف خليل په حلقه کښې يم.
زما په حلقه کښې يو داسې ګل هم شته او دا د قلم خاوندان ټول هغه ګلونه دي چې دوي ته زۀ د پښتو څوکيداران او د خپلو پټکو ګلونه وايم.... د کاظم خان شيدا د شعر تشريح ئې داسې کړې ده چې مونږ له ئې ورسره نوره هم مينه پيدا کړه. او شيدا ئې په خلقو پيژندو. حنيف خليل د ليک او تخليق سره سره په انساني خصوصياتو او پښتو هم يو درونډ انسان او محترم پښتون دے
----------
ادب شناس ص ۱۷۲ ----
عکس زما دفتر اسلام اباد کښې اخستی شوی دی چې بابر صيب زما خوا ته راغلی وو-

---

نن به د رحمان بابا د يو شعر په وضاحت او تکنيک خوند واخلو-

چې له سترګو مې خوناب د زړه عيان شه
له نظره مې هر سنګ در و مرجان شه
خوناب--- فارسي ده-- د خون او اب مرکب دی-- وينه او اوبه- يعنې هغه اوبه چې وينه پکښې هم ګډه وي-- د وينو اوښکي-
عيان-- ښکاره او څرګند
سنګ--- کاڼی
در و مرجان---- ملغلرې او لعلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضاحت--
په وړومبي نظر خو دا شعر ساده او اسان ښکاري - خو چې غور ورته وشي نو تغزل او تکنیک یې د کمال دی- رحمان بابا وايي چې د زړه درد مې د اوښکو په شکل سترګو ته راغلو او دغه د وینو اوښکي مي راڅرګندې شوې نو بیا راته هر کاڼی در او مرجان یعني ملغلرې او لعلونه ښکاریدل-- اوس غور وکړئ-- د زړه شکل هم د لعل غوندې وي- زړه د سرو وینو مرکز وي او لعل هم سور رنګ لري- او بیا چې زړه کښي د محبوب د میني درد هم پروت وي نو بیا خو زړه لکه د ملغلرو قیمتي هم وي-- لږ نور غور وکړئ چې د ویني رنګ سور وي او د لعل رنګ هم سور وي نو ورسره د اوښکو رنګ سپین وي او ملغلره هم سپینه پرقیدونکې وي- لږ نور غور وکړئ چې لعلونه او ملغلرې د کاڼو نه جوړیږي- ګویا در او مرجان هم کاڼي وي خو قیمتي او بیش بها کاڼي- لږ نور غور وکړئ چې خوناب یعني د وینو اوښکې خو سترګو نه راځي خو نظر هم سترګو کښې وي-- اوس دغه تناظر کښي رحمان بابا وییلي دي چې-- زما زړه کښې د میني پروت درد چې د سترګو د خوناب په شکل راڅرګند شو نو بیا راته په همدغو سترګو هر کاڼی در او مرجان ښکاریدو- ګني هسې خو هر کاڼی در او مرجان نه وي- خو رحمان بابا ته ولې هر کاڼی در او مرجان ښکاره شو-- ځکه چې هغه ته د محبوب د میني درد ګران دی او لکه د لعل او ګوهر قیمتي دی-- او همدغه درد خو یې د خوناب یعني د وینو اوښکو په شکل سترګو نه عیان شوی دی- او بیا د سرو وینو او سپینو اوبو اوښکې چې د سترګو نه قطار قطار بهیږي ګویا د سرو لعلونو او سپینو ملغلرو داني په امیل کښې په قطار پیللي شوې دي- رحمان بابا ته چې په دغه کیفیت کښې په خپلو سترګو هر کاڼی سور لعل او سپینه ملغلره ښکاري نو ځکه چې سترګو کښې یې اوښکې د سرو وینو او سپینو اوبو مجموعه ده- بلخوا دغه هر کاڼی هم په دوه ډوله علامت دی-- یو دا چې د محبوب زړه د کاڼي دی-- دویم دا چې محبوب په رحمان بابا د جفا او بې رخۍ کاڼي ورولي دي خو بیا هم رحمان بابا ته دغه د کاڼي زړه او دغه جفا او بې رخي هم در او مرجان ښکاري-- لعلونه او ملغلرې ورته ښکاري- ځکه چې د محبوب له مخه دي نو بس د رحمان د صادقي میني سرمایه ده-- ځکه ورته دغه کاڼي هم لکه د در او مرجان ګران او قیمتي دي-

اوس به مونږ په دې پوهه شوي یو چې رحمان بابا د تورو راوړنه څنګه کړې ده او د خوناب-- سترګو-- نظر-- عیان-- سنګ او در و مرجان تورو نه یې څنګه معني اخستې دي او څنګه یې د خپل شعر په دوو مصرعو کښې ځای کړي دي- دغه د رحمان بابا د تغزل او هنري نزاکت انداز دی- ځکه زه وایم چې رحمان بابا محض ساده او اسان شاعر نه دی بلکې د تغزل او تکنیک بادشاه هم دی-

---

نی نامه
فارسی کلام : مولانا جلال الدین رومی
پښتو ترجمه : ډاکتر حنیف خلیل

نی نامه د مولانا جلالدین رومي شاهکار او د نړیوال شهرت مثنوي ده چې ورته مثنوي معنوي هم وییلی شي --- د نړۍ په شلګونو ژبو کښې د دې مثنوي ترجمې او شرحې شوې دي --پښتو کښی یې یوه خلاصه عبدالاکبر خان اکبر لیکلې ده چې ورسره یې د ځنو چونې کړی شوو بیتونو نثر کښی ترجمه هم ورکړې ده----

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولانا روم د شمس تبریز مرید او د علامه اقبال روحاني مرشد وو --- هغه ګڼ شمیر کتابونه لیکلي دي خو د عالمګیر شهرت ذریعه یې دغه مثنوي جوړه شوې ده -- د دې مثنوي ټول بیتونه شپږ ویشت زره شپږ سوه شپیته دي چې په اوو برخو یا دفترونو کښې ویش دي دغو کښې شپږ دفترونه وړومبی او بیا اووم دفتر د مولانا د ناروغۍ په وجه څه موده پس لیکلی شوی دی ---- د وړومبي دفتر وړومبۍ برخه یې اته دیرش بیتونه لري چې ما یې پښتو کښې منظومه ترجمه کړې ده ---

یاده دې وي چې مولانا روم په شپږ سوه څلورم هجري کښې بلخ کښې زیږیدلی او په شپږ سوه دوه اویا هجري کښې وفات شوی وو چې مزار یې په ترکي کښې دی ----د اصل کلام یواځې وړومبی بیت یې راوړم-

بشنو از نی چون حکایت می کند

از جدائی ها شکایت می کند

حنیف خلیل

راشه غوږ کیږده شپیلی ته'حکایت به ترینه واورې

د مینو د بیلتون نه' شکایت به ترینه واورې

چې د کله نه له ښاخه 'یې زه یمه راریبلي

هر سړی مې له فریاده 'هم تورسرې ژړیدلي

یوه داسې سینه غواړم 'چې چور چور وي له فراقه

چې قیصه ورته زه وکړم' د ډیر درد له اشتیاقه

هر هغه چې په خپل ژوند کښې' لرې شوی وي له اصله

په لټون د هغه وخت وي' چې تر غاړه شي له وصله

زه په هر محفل کښې هر وخت' په هر حال کښې په ژړا شوم

که خوشحال وي که خفه وي' زه یې هر وخت همنوا شوم

هر سړی به په خپل خیال کښې' جوړ پخپله زما یار شو

خو زما په زړه کښې راز نه' ناخبره شو ویزار شو

زړه کښې راز مې له اوازه' لرې نه دی خو آ نشته

اوس په سترګو په غوږونو' کښې هم هغه څلا نشته

تن له روحه روح له تنه 'چرته پټ او پنا نه دی

خو لیدل لکه د روح چې' بس هیچا ته روا نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپيلۍ دغه اواز خو' لکه اور دی څه باد نه دی
دغه سوز چې چا کښې نه وي' هغه هيڅا ته ياد نه دی

اور د مينې يې چې بل دی 'د شپيلۍ په ولوله کښې
جوش د مينې سر اوچت کړو' د شرابو په پياله کښې

شپيلۍ هر هغه سره ده' چې له ياره په بيلتون دے
چې يې واړه پردې وا کړې' په اواز کښې يې سکون دے

نۀ زما غوندې ليدلي' به چا زهر او ترياق وي
نۀ ليدلی به چا دوست وي' نۀ زما غوندې مشتاق وي

دا شپيلۍ چې په هر وخت کښې' يو بيان د ځيګر خون کړي
چې قيصې به راته هر وخت' بس د مينې د مجنون کړي

په دې راز چې پوهه څوک دی' بس نو واوره چې بېهوش دے
د دې ژبې اخستونکی' خو يو غوږ دی هم آغوش دے

زما غم کښې ډيرې ورځې' شولې تيرې بيګانه شوې
زما سوز سره ملګرې' ډيرې ورځې جانانه شوې

ورځې تيرې شوې که ډيرې' داسې وايه پروا نشته
تۀ هغه يې سپينې ورځې' بله پاکه له تا نشته

بې له کبه خو يې واړه' په اوبو باندې ماړۀ شو
چې روزي يې نۀ لرله' هغه هسې هم زاړۀ شو

د هوښيارو حال به څنګه' کړې معلوم چې خيال يې خام وي
لنډه دا چې دغو واړو' ته زما دې هم سلام وي

زولنۍ ماتې کړه زويه' ازادي واخله که ځوان يې
په پنجره کښې د سرو سپينو' به تر کومې بنديوان يې

سمندر که په کوزه کښې' څوک راګير په ډير حکمت کړي
راته وايه څومره برخه' به د يو ورځ په قسمت کړي

حريصانو له د سترګو ، کوزه ډکه چرې نه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چې صبر سيپى وکړو، هله سا يې را په زړه شوه

هر هغه د چا لباس چې، په جذبه د عشق کښې چاک شو
هم هغه سړی په هر رنګ، د حرص له رنځه پاک شو

عشقه تل خوشاله اوسې، تل چې مل مې د جنون يې
ته طبيب مې د رنځونو، ته زما د زړه سکون يې

ته دارو د تکبر يې، ته علاج مې د ناموس يې
عشقه ته مې افلاطون يې، او هم ته مې جالينوس يې

خاکي جسم ستا له مخه، پورته لاړو په افلاک شو
غر ته ګوره په اتڼ شو، ګوره غر څومره چالاک شو

دا خو عشق دی حې يې طور هم، په يوه جلوه مدهوش کړو
طور چې مست شو نو موسی يې، په يوه لمحه بيهوش کړو

که له ما سره همځنګ وی، دا خوږې شونډې شکرې
د شپيلی غونډې به ما هم، کړی خوږې خوږې خبرې

کوم اواز چې خپلی ژبی، او خپل روح نه راجدا شو
بس بې ژبی شو بې روحه، که په سل ژبو ګويا شو

هغه ګل او ګلستان چې، رسيدلی تر انجامه
د بلبل د اوريدلو، قيصه لاړه شوه تمامه

دا هر څه که معشوقه ده، نو عاشق يوه پرده ده
معشوقه خو ژوندی ګرځي، د عاشق خونه خوره ده

عشق هر څو که دې بې نيازه، له هر څه نه بې خطر دے
خو الوت يې ګران دې بيا هم، يو مارغه دی بې وزر دے

وړاندې وروستو چې نظر کړم، هوش لرم خو څه به وايم
د رڼا غونډې جانان چې، نه لرم نو بې نوا يم

عشق خو غواړي چې خبره، له زړګي نه رابهر شي
ايينه چرته غمازه، مې د زړه په حال خبر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې نه ده ايينه دې، ستا په حال باندې غمازه
چې څهره يې د خپل زنګ نه، چرې نه شوله ممتازه

واوره هغه ايينه چې، له خپل زنګه راجدا ده
د خالق د نور له نمره، ښه معموره ده رڼا ده

ورشه زنګ خو يې له مخه، ښه په مينه باندې پاک کړه
بيا يې ځير شه ښکلي مخ ته، د رڼا يې ښه ادراک کړه

حقيقت د زړه په غوږو، باندې واوره ځان خبر کړه
د اوبو خاورې پيکر نه، ځان په ويښه رابهر کړه

که شعور لرې نو روح ته، ښه څرګنده ورکړه لاره
له دې پسته ښه په شوق دې، خپله لاره ياره ځاره

---

پرون مو د پشاور لټريري فيستيول په يوه ناسته کښې نشتر هال کښې په پيښور --- تاريخ ادب او ثقافت يوه مباحثه وکړه چې دغه نکتې مې پکښې رامخې ته کړې-
ياده دې وي چې پيښور نه مراد د پيښور وادي ده يواځې پيښور ښار نه-
تاريخ
پيښور د څلور سوه قبل مسيح نه خپل تاريخي او تهذيبي شناخت لري-د ګندهارا تهذيب مرکز پاتې شوی دی-- وړومبی معلوم نوم يې پولاشو پولو دی چې چيني بدهي سيلکړي فاحيان يې څلورسوه قبل مسيح کښې ذکر کړی دی- يونانيانو بيا وړومبۍ قبل مسيح پيړۍ کښې پورش پور کړو چې پورش د پيښور واکمن وو- بيا پرشاپور شو-او بيا ډير وروستو د مغل اکبر په دور کښې پشاور شو-

علم و ادب
په درې سوه قبل مسيح کښې د بخشالي قلمي نسخې انکشاف د رياضۍ او نورو فطري علومو جرړه د پيښور سره تړلې ده- د مغل اکبر په دور کښې د روښاني ادب په لاره نه يواځې پښتو بلکې هندي ادب ته هم د نثر منظمه کتابي ورکړه د خيرالبيان په شکل دې مرکز کړې ده-- د پښتو کلاسيک دلته پيدا شوی دی- خوشحال او د خوشحا کورنۍ رحمان حميد شيدا علي خان مصري خان معزالله خان بيدل عبدالعظيم بابا او په شلګونو نور کلاسيکي شاعران د دې مرکز پيداوار دي- د شلمې صدۍ نوي ادب دلته وده کړې ده-د اردو او هندکو لوې اديبان دې مرکز زيږولي دي-

ښکلي هنرونه
د پښتو موسيقۍ د روايت سره سره په فلمي نړۍ کښې د دې مرکز لويه برخه ده-هالي وډ فلمونو ته حسن خيام پيښور ورکړی دی- بالي وډ ته زکريا خان پرتهوي راج دليپ کمار راج کپور ونود کهنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**امجد خان مدهو بالا او د وروستي دور یو شمیر نور هنرمندان دې مرکز ورکړي دي-- د پښتو فلمونو جوړې پیښور سره تړلې دي- پښتو ډرامې دلته وده کړې ده-**
**دې نه علاوه د ګڼو سیاسي تحریکونو مرکز هم پیښور پاتې شوی دی خو دغه زمونږ موضوع نه وه- او هسې هم دا موضوع د یو اوږد بحث غوښتنه کوي چې دلته ګرانه ده-**
**نو ځکه خو وایي کنه چې---**
**پیښور خو پیښور دی کنه**

---

**خپل مېدان ئې کفِ دست کړ شېدا ګوره**
**د حِنا عالم پرې قتل شهٔ بې جنګه**
**د ټکو معنې-**
**کف دست--- د لاس تلی**
**د حنا عالم--- د نکریزو دنیا یعنې نکریزې**
**شرح:**
**شېدا تهٔ دې حِنا (نکریزو) ته خو وګوره چې د حسینو د لاسو تلي ئې خپل مېدان جنګ جوړ کړو او ځان ئې پرې ذرې ذرې کړو. ځان ئې پرې بغېر د جنګ نه قتل کړو.**
**نور وضاحت:**
**دې شعر کښې څهٔ عجیبه شعري نزاکت دے. د جنګ مېدان هم غوړېدلے وي، او د لاسو تلي هم غوړېدلي وي. د جنګ مېدان کښې هم چې قتلونه وشي، نو مېدان په وینو سور شي، او نکریزې هم چې د حسینانو د لاسونو تلو ته رسي نو مخکښې نه ټکولے شي. مېده کولے شي، جوړولے شي، او بیا د حسینانو لاسونه پرې دغسې سره کولے شي، لکه چې د جنګ مېدان په وینو سور وې خو فرق دومره وې چې د جنګ مېدان کښې جنګیالي جنګ کوي او د حسینانو تلي ته رسیدلو د پاره نکریزې کوم جنګ یا مزاحمت نهٔ کوي بلکې پلکونو او ګوذارونو ته ئې په پخپله سر نیولے وي، چې د حسینانو د لاس تلي ته یعنې مېدان ته ورسي، نو بس دغه د حِنا عالم دے چې کف دست یعنې د لاس تلے ئې خپل مېدان جوړ کړو ، او بغېر د جنګ او مقابلې نه ئې پرې ځان قتل کړو، تلے ئې داسې سور کړو لکه مېدان جنګ چې په وینو سور شي،**
**په دې انداز شیدا د محبوب د لاسونو د تلو ښایست بیانوي- دغه د شېدا کمال دے - دغه یې د بیان نزاکت او دغه ئې تغزل دے.**

---

**تاریخ او تعصب:**
**دا یوه داسې موضوع ده یا یو داسې اړخ دے چې په تاریخ لیکنه کښې ورته ډېر پام پکار دے. د نړۍ په زیاتو تهذیبونو او اولسونو کښې تاریخونه په عمومي ډول د تعصب په بنیاد لیکلے شوي دي. تعصب په منفي او مثبت دواړو حوالو تاریخ لیکنې ته زیان رسوي. یعنې تاریخ که د عقیدت په مثبته جذبه لیکلے شي نو هم دا د تاریخ لیکنې د اصولو نه سرغړونه ده او تایخ که د نفرت یا مخالفت په منفي جذبه لیکلے شي نو هم دا د تاریخ لیکنې د اصولو خلاف خبره ده. له بده مرغه په نړۍ کښې زیات تاریخونه د هم دغسې عقیدت او تعصب په بنیاد لیکلے شوي دي. کله مذهبي عقیدت او تعصب، کله قامي عقیدت او تعصب، کله لساني او کله جغرافیائي عقیدت او تعصب د تاریخ لیکنې په سفر کښې مخې ته راځي. دغو عقیدتونو او تعصباتو نه علاوه یوه مسئله د مفاداتو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ده. زیات تاریخونه داسې هم لیکلے شي چې د اقتدار غرض، د پیسو او مال لالچ ،د بادشاه خوشحالولو ، د خپل خاندان او بچو خوشحالي او یا د حالاتو نه د نقصان ویره او خدشه د تاریخ لیکنې معیار غورځوي.
دغه تعصب او عقیدت ته زمونږ لاعلمي او د تاریخ نه ناخرتیا هم هوا ورکوي او د حقیقي نتیجو نه مو لرې بیایي-- کله کله یو تاریخ لیکونکی په خپله غلطه خبره د ضد او انا ښکار هم شي او د بل سمې رسا نتیجې او دلیل ته هم غاړه نه ږدي-یو نیم بیا په خپل موقف بې ځایه ټینګار هم کوي-- یو نیم بیا ځان نه د هر سماجي او فطري علم ماهر هم جوړ کړي او په تاریخ لیکنه کښې یې حوالې ورکوي او ځنې خو داسې هم وي چې د زړګونو کالو پخوانۍ خبره به بغیر حوالې کوي-- او بیا چې نصابي تاریخونو ته وګورو نو دغو نه خو په ادب او شاعرۍ کښې زیات رښتیا بیان شوي وي-- دغسې دا ټول د غلطو نتیجو سره مخ شي-
دغه ټول مثالونه زمونږ په مذهبي قامي جغرافیایي او کلتوري تاریخ کښې شته-- دغه وجه ده چې مونږ نه خو اسلامي تاریخ کښې سمو نتیجو ته رسو نه د پښتنو تاریخ کښې او نه سیاسي او کلتوري منظرنامه کښې د حقیقت ادراک کولی شو- ځکه زه وایم چې انسان څومره تاریخ ګمراه کړی دی دومره افساني او میتهالوجي هم نه دی بې لارې کړی--ګویا انسان د عقیدت او تعصب په وجه او یا د خپل ضد او جهالت په وجه د رښتیاو نه دروغ جوړوي او دروغو نه رررښتیا-

---

د یو مزدور نن او پرون-- د مزدورانو نړیواله ورځ-

زه یو مزدور یم-- مزدور ابن مزدور--نن راته څوک ډاکټر وایي او څوک ډایریکټر او پروفیسر-- لیکوال محقق نقاد او نور بلها ډیر القابات- ژوند مې هم ډیر اسوده او د الله کریم پریمانه نعمتونه او مهربانۍ هم-- خو دا زما نن دی-- پرون مې داسې نه وو-- زه خپل پرون نه خو هیرولی شم او نه یې هیرول غواړم- نه پرې چرته د کمترۍ کوم احساس سره مخ شوی یم او نه د کوم مصنوعي وقار غوښتلو د نفسیاتي مرض ښکار شوی یم- زمونږ کورنۍ او کلیوال ژوند کښې د تعلیم روایت نه وو خو پلار بیا هم د کلي په سرکاري سکول کښې داخل کړم- شاید ذهن مې ښه وو چې تر پنځم صنف پورې به اول یا دویم راتلم- د دې قابل شوم چې اسلامیه کالجیټ سکول کښې شپږم صنف کښې داخل شوم-پلار به مې دیاړي مزدوري کوله--کله بټۍ کښې خښتې کله د ختې دیوالونه وهل کله ټانګه چلول او بیا وروستو یو وړوکی کریانه دوکان کول-- ما به د سکول سره سره دغه هر څه کښې پلار سره برخه اخستله او د هغه مدد به مې کولو او چې لږ رالوې شوم نو د سکول د ګرمو چټیانو کښې به باقاعده دیاړي مار وم-- ورسره مې لسم هم پاس کړو - د وړاندې تعلیم وس مو نه وو خو د خوارۍ مزدورۍ سره په سختو حالاتو کښې مې د اسلامیه کالج نه څوارلسم پاس کړو- مور به راته وییل چې سبق به دومره وایې چې سرکاري نوکر شې نو نیستي به مو غوسه شي-- نوکري چرته وه-- نه مو سفارش وو او نه د رشوت اوقات-- خداې شاعر او لیکوال هم کړم نو پښتو کښې ماسټر کولو ته راغلم- د خداې کړه وو چې ټوله صوبه کښې اول راغلم او د سرو زرو تمغه مې وګټله--خو نوکري بیا هم نه وه-مالي حالت مو هم هغسې وو--کله پوره او کله سپوره-ورسره زما او زما د پلار هغه دیاړي او مزدوري هم هغسې روانه وه- یوه ورځ راغله چې زه د کلي سرکاري پرایمري سکول کښې استاد شوم-- د پرون نه د نن په لور د اطمینان سفر شروع شو-دا مو د دغه سفر وړومبی قدم وو- څه موده پس کالج کښې لیکچرار شوم-- د مور پلار مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحالی حد نه وو--ځو کاله پس د اسلام اباد په قاید اعظم پوهنتون کښې لیکچرار شوم-- د پرمختګ لړۍ مې روانه وه چې یوه ورځ د خپلې ادارې مشر یعني ډایریکټر شوم--ورسره د لیکونو او کتابونو لړۍ هم روانه وه--هغه څه وشو چې زما خیال او خاطر کښې هم نه وو--بلخوا زما کشر ورور هم انجنییر شو په انجنیرۍ کښې پي ایچ ډي ډاکټر او د انجینیرنګ یونیورسټۍ پروفیسر او د برقي څانګې چیرمین شو-- په ساینس کښې څیرونکی او ساینسدان شو-- په چین امریکه برطانیه او نورو مغربي هیوادونو کښې یې تحقیقات خپریدل شروع شو--نه یواځې زما بلکې زما د مور پلار او ټولې کورنۍ ورځې بدلې شوې--تور تیاره پرون مو په سپین ځلنده نن بدل شو--دغه هر څه نه خوب وو او نه افسانه-- بس د یو مزدور د پرون نه نن ته د راتلو قیصه او یو حیرانوونکی حقیقت چې د خالق هر څومره شکر پرې ادا کړی شي نو کم به وي--- خدای چې مهربانه شي نو بنده نه دی چې پښیمانه شي--
عکس کښې زما پلار حاجي زین خان زه او پټکي والا زما کشر ورور ډاکټر یوسف خلیل - الله دې سلامت لري- د پرون مزدوران او د نن خوشحال وګړي--

---

ادب او سیاست--- کل او جز

ادب د سیاست برخه ده که سیاست د ادب برخه ده. په دې لړ کښې دوه رائے مخې ته راځي. یوه رائے یا یوه ډله په عمومي ډول د سیاسي دانشورو ده - هغوئ وائي چې سیاست د ټول ژوند ترجمان دے او ادب د هغې یو جُز دے. یعني که ټول ژوند کښې سیاست روان دے نو دغه سیاست نه ادب هم پېدا کېږي او دغه سیاست سره د ادیب کردار ملګرے کېږي. او دوېمه رائے دا ده چې ادب کُل دے او سیاست ئې جُز دے - زهٔ پخپله هم د دې رائے په حق کښې یم چې ادب د ټول ژوند د ټولو اړخونو ترجماني کوي. هغه ارنلډ چې وئیلي وو چې: **Literature is the criticism of life** نو د هغې مطلب دا وو چې ادب د ساینس سیاست، مذهب، فلسفې نفسیاتو، او جمالیاتو ټولو ترجمان دے یعني سیاست ژوند دے خو د ژوند د یو اړخ نوم دے یعني که مونږه په ادب کښې د سائنس، فلسفې، نفسیاتو یا د داخلي شعور او لاشعور خبره کوو نو دا د سیاست خبره نهٔ کوو خو دا هر څهٔ د ادب برخه ده او دغه شان سیاست هم د ادب برخه ده. د دې مطلب دا شو چې کومه ډله دا رائے لري چې ادب کُل دے اوسیاست د هغې یو جُز دے نو دا رائے د ډېرو خلقو د پاره د منلو وړ کېدے شي. دغه رائے مشکله ده چې ومنلے شي چې سیاست کُل دے او ادب ئې جُز دے. بهر حال دواړه رائے موجودې دي خو زما ذاتي رائے هم دا ده چې ادب د ټول ژوند ترجمان دے او سیاست د ژوند د یو ډېر اهم اړخ ترجمان دے چې هغه هم په خپله یو پراخ اړخ دے.ځکه چې نظري او عملي سیاست دوه ډیر پراخ اړخونه دي- اوس راځو د ادب او سیاست یو بلې زاوئي ته او هغه دا ده چې د ادب او سیاست د ترون په حقله هم دوه رائے دي. یوه رائے دا ده چې ادب او سیاست خپلو کښې نهٔ شي یو ځائے کېدے. ادب او سیاست دوه ځانله ځانله لارې دي نو په ځانله ځانله لارو سفر پکار دے او ادب او سیاست دې راجوښت نهٔ کړے شي. بیا د دې په وضاحت کښې ځینې نور وضاحتونه هم شته چې ادب آفاقي پکار دې، ادب آفاقي نه مراد دا دے چې سیاست محدود دے او ادب لامحدود دے نو ادب آفاقي دے او چې دا مونږ سیاست ته راولو نو دا به محدود شي او هم دغه شان ځینې نور وضاحتونه هم کېږي چې ادب او سیاست دې د یو بل نه لرې وي. بلخوا دویمه رائے دا ده چې ادب او سیاست دې یو بل سره غاړه غټې وي، ادب او سیاست د یو بل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلېدے نۀ شي، ادب او سیاست د ژوند هغه لارې دي چې دا به شریک سفر کوي - زما ذاتي رائے هم دا دوېمه ده. دا ما ته زیات اپیل کوي چې ادب او سیاست د یو بل نه جدا نۀ شي کېدے. ادب او سیاست داسې دوه اړخونه دي چې دا بالکل شریک او مرستیال سفر کوي. البته دلته چې کومه ځانګړې نکته نظر کښې ساتل پکار دي هغه دا ده چې د ادب تعین او ټاکنه په موضوع نه ده بلکې د اظهار په سلیقه اسلوب او پیرایه ده- د ادب ژبه او د اظهار پیرایه خپله وي- هنري تخلیقي او جمالیاتي پیرایه- په دغه پیرایه کښې چې هر قسمه سیاسي خبره هم وشي هغه ادب شي-- خو بل خوا که ډېره خوږه او د مینې حسن او رومان خبره هم په ادبي هنري تخیلي او جمالیاتي ژبه او پیرایه کښې ونه شي نو هغه بیا ادب نه دی-- بس تبلیغ ابلاغ ترسیل او خبر رساني کیدی شي خو ادب نه--

---

زما د یو غزل په اړه د استاد محترم همیش خلیل یوه لیکنه څه کم دیرش کاله پخوا په جرس مجله کښې چاپ شوې وه چې بیا د شیر احمد خلیل په کتاب سپین سپیځلي خلق کښې هم چاپ شوه- زما د هلکوالي د زمانې د یو غزل دغه تجزیه زه خپل افتخار ګنم او خپلو د فیسبک ملګرو سره یې همیش صیب سره د وروستو ملاقاتونو یو عکس سره شریکول غواړم-

یوغزل یوه تجزیه
لیک --- ارواښاد همیش خلیل

د پښتو داسې لیکوال خو ډېر دي، چې په یو وخت شاعري افسانه نګاري، ناول نګاري، تنقید او تحقیق وغېره کوي، خو عمومًا د دوي په دغو ګڼو اړخونو د یو اړخ سره زیات غالب وي. کله کله داسې هم وشي، چې د یو لیکوال تحقیقي او تنقیدي رجحان د هغه تخلیقي صلاحیتونه د خپل سیوري لاندې پټ کړي. د پښتو په زلمو لیکوالو کښې د حنیف خلیل حېثیت هم څۀ دغه شان دے چې تحقیقي او تنقیدي هلو ځلویې په تخلیقي اړخ پرده اچولې ده. او د شاعرۍ په ضمن کښې د باشعوره طبقې توجه راګرزولو کښې في الحال هغه هومره کامیا ب نۀ شو ، څومره چې د سنجیده نثر نګارۍ په حواله لېده شي.حنیف خلیل د پښتو ادب په هغو زلمو لیکوالو کښې دے چې د خپل ادبي ژوند ابتداء ئې په همه ګیر ډول دنثر او بیا په تېره تېره د تنقید او تحقیق نه کړې ده. خو دغه سره سره ئې د شاعرۍ د فطري صلاحیت مظاهره هم جاري ساتلې ده.او وخت په وخت ئې په غزل او نظم طبع ازمائي کړې ده. شاعري ئې په مجموعي ډول د پښتني رویاتو، روماني عناصرو او ژوند په حقله د حقیقت پسندانه روئیو هنداره ده. خو د معاشرې په لړي برې، انساني ژوند، معاشرتي خامیو او قومي پستۍ ئې هم نظر ساتلے دے. او د دغو ژوندیو مسئلو ترجماني ئې په ښه فني انداز او یو ځانله اسلوب کښې کړې ده. دلته د حنیف خلیل د یو غزل لنډ شان تنقیدي او فني تجزیه وړاندې کولے شي.

ښۀ ده رهبري ستاسو کولے شم
خپله قافله خپله لوټلے شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مقصدیت په حواله په دې شعر کښې یو ژوندے پېغام او په خپله معاشره طنز دے. او قومي احساس او شعور نه ډک د آګاهۍ درس په کښې جوت دے. یعني د هغه قافلې رهبري څۀ ګران کار نۀ دے د کومې قافلې رهبر چې په خپله لوټ مار وي. بیا شاعر دغه حقیقت هم په ګوته کوي چې د بده مرغه دا قوم چې چاته د مشرۍ پټکے په سر کړي او خپل نجات دهنده ئې اوبولي، هم هغه د دوي د آزدایۍ او اقتصادي ژوند قاتل شي. دغه شان د قومي نفاق او ورور وژنې د پاره شاعر خپل خان د مثال په ډول پېش کوي او ټولې معاشرې ته مخاطب شي چې مونږ ټول عمر ورور وژلے دے او هم د ورور له لاسه وژلې شوي یو.د دغه اظهار دپاره هم حنیف خلیل چې کوم شاعرانه انداز او انفرادي اسلوب کوم رنګ خپل کړے دے نو اندازه به ئې له دغه شعر نه ښه وشي.

کله شم یوسف(ع) کله قابیل شمه
ورور مې وژني،زۀ هم ورور وژلے شم

په داسې حالاتو کښې چې د معاشرې هر فرد د یو بل دسر دښمن دے. د یو بل د پرمختګ، خوشحالۍ او سوکالۍ لارې وهي. هر خوا د امن کوت او د تخریب شور او زور دے. حنیف خلیل د یو باشعوره او ویښ شاعر په حېثیت دا خپل فرض ګڼي چې خپلې معاشرې ته د امن،وروروليٰ، بیدارۍ او خوشحالۍ احساس ورکړي. د دۀ شاؤخواکه هر څومره شور او زور دے، خو دے په کښې چپ پاتې کېدل ګناه ګڼي او زمانې ته مخاطب شي. چې:

وخته د سیند کاڼے نۀ یم غلے شه
داسې چې په شور و شر کښې غلے شم

دا قسمه پېغام د حنیف خلیل نه وړاندې هم ډېرو شاعرانو په خپل خپل وخت د خپل فرض له مخه راوړے دے خو د حنیف خلیل پېغام د خپل انداز بیان او فني اظهار په وجه د ډېرې توجه وړ دے. ځکه چې د غه شعر کښې شاعر د معاشرتي انتشار په مېنځ کښې د چپ پاتې کېدلو د پاره چې د سیند په مېنځ کښې د خاموش کاڼي کوم ترکیب د استعارې په انداز پکارولے دے، د ستائنې وړ دے. یعني څنګه چې د سیند په شور او شر کښې کاڼے غلے پروت وي شاعر د خپلې معاشرې په شور او شر کښې داسې غلے نۀ شي پاتې کېدے. او خپل قام اومعاشرې ته به د بیدارۍ احساس خامخا ورکوي. او که دشاعر دا آواز او پېغام په چا اثر نۀ کوي بیا هم د شاعر فرض دي چې هغه مایوسه نۀ شي. او ځکه خو حنیف خلیل د دې قائل دے چې حقیقت که هر څومره تریخ هم وي، له بیا نه په شا کېدل به ئې د معاشرې زوال وي. ځکه خو وائي چې:

خبر دےکه ئې نۀ اوري تور غوږې دي
لا خو سپینې سپینې زۀ وئیلے شم

دغه شعر کښې د تور غوږي سره دسپینې سپینې ادبي تلازمې د شعر فني خوند زیات کړے دے. چې د شاعر په فني ګرفت ګواهي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حنیف خلیل د دغه معاشرتي انتشار او زوال نه دخلاصي علاج هم په ګوته کوي. او وائي چې هر فرد دې په انفرادي توګه اومعاشره دې په اجتماعي ډول ځان کښې خودي پیدا کړي. او د ځان پیژندلو سره سره دې خپل مقام او مرتبه هم وپیژني او که داسې وشي، نو د معاشرې هر فرد د هر ظالم او جابر مقابله په ډېره نره کولے شي. خپل حق ترې واپس اخیستلے شي او په مظلوم د ظلم کولو نه ئې لاس نیولے شي.

سر ته مې نشه د خودۍ وخته
اوس د زورور په سر ختلے شم

سر ته د نشې ختلو او زورور په سر ختلو تلازمه فني روایت دے چې حنیف خلیل یې نزدې په هر شعر کښې خیال ساتلے دے.

سپکو ورکو ځان کښې راپیدا کړي زور
لا خومو درانه نور هم زغملے شم

دغه شعر کښې شاعر په هغو باطلو قوتونو غږ کړے دے چې لګیا دي د پښتون اولس پښې وهي. او شپه اوورځ یې په مخالفت نۀ ستړي کیږي او په خپل وس دهر قسمه په زیان ورکولویو لمحه هم نۀ ضائع کوي. او ورته وائي چې ستاسو د ظلم، تېرے او مخالفت ددرنو زغملو توان لا په مونږ کښې شته. تاسو به په خپلو سپکو حربو زمونږ د دروند وجود هېڅ هم ونکړے شي. دغو مخالفینو ته د سپکو ورکو او د هغوي باطلو حربو او دسیسو ته د درانه مخاطبه د شعر ښائست په دوه کړے دے.
ډېر که دې مسکانۀ کاره وویستم
وګوره برېښنا ته رسېدلےشم

دغه شعر ټول غزل کښې روماني رنګ لري، هسې خو د باقي غزل دمزاج نه مختلف ښکاري او داسې برېښي چې خالصه د محبوب مسکا په کښې د لفظونو په ذریعه مجسم شوې ده. خو که په شعر فکر وکړے شي، نو دغه روماني انداز سره سره په کښې د خپل ځان د مثال ورکولو په طفېل د ټول اولس د ارتقاء او کامیابۍ د امید خبره هم شوې ده. د محبوب دمسکا د پاره د برېښنا استعاره راوړې شوې ده، خو ورسره برېښنا ته د رسېدلو خبره هم شوې ده چې د معاشرتي ارتقاء علامت دے . خو د دغه علامت د ابلاغ ژبه لږ کمزورې محسوسیږي.

ته کره اورونه د خلیل په لار
زۀ په خپل مسلک کلک ودرېدلے شم

سره د دې چې مقطع کښې د اورونو کرل نۀ خو روزمره ده، نۀ محاوره او نۀ د واقعي صحیح نقشه ده. خو چونکې شاعر د حق په ثابت قدمۍ د باطل شکست ثابتول غواړي، ځکه نو د حضرت ابرهیم خلیل الله د مظلومیت او د نمرود د ظلم مثال ئې وړاندې کړے دے. چې مقصد ئې خلیلي مسلک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمرودي طاقت دے. او دغه شان نمرود که هر څومره هم د طاقت او قوت خاوند وه، خو حضرت ابرهیم خلیل الله ئې له خپله مسلکه وانهٔ رولو، شاعر یو خوا که د ابرهیم علیه السلام او نمرود کردار ته په تلمیحي انداز اشاره کړې ده، اوبل خوائې دخپل تخلص خلیل پکارونه په دومره ښهٔ طریقه کړې ده ، چې ځان ئې د خلیلي مسلک پیرو هم ښودلے دے. او خپل نوم ئې د خلیل الله د نوم په ضمن کښې هم تکرار کړے دے، چې د شاعر شاعرانه پختګي او بالغ نظري ترې څرګنده ده.
د غزل مجموعي مزاج په حواله دا خبره شاید ځائے ولري چې حنیف خلیل د غزل په رمز و ایما، شعري تلازمه، فني ګرفت، لطافت او تغزل پوهه دے. ژبه او د بیان انداز ئې دغزل د اظهار د پاره موزون دے. انداز او اسلوب ئې انفرادي رنګ لري. اپروچ ئې حقیقت پسندانه دے. دغزل موضوع ئې د ترقي پسند ادب نه متاثره ښکاري، خو دا صرف د ترقي پسند تحریک تاثر نهٔ دے، بلکې د پښتون اولس او پښتني معاشرې خپل مزاج او حالت هم دغه دے، کوم ته چې حنیف خلیل په خپل دغه غزل کښې اشاره کړې ده. د ظالم لاس نیول، د مظلوم مرسته، د معاشرې ناسمې هوارول او خپل اولس ته د بیدارۍ شعور ورکول د هر باشعوره ورکول د پاره ځینې لیکوال اوخصوصاً شاعران دومره جذباتي او د بیان انداز نېغ په نېغه داسې اختیار کړي، چې شاعري ئې بېخي یوه سیاسي نعره او پروپېګنډه جوړه شي، او جمالیاتي او فني انداز ترې په ځائے پاتې شي. دا قسمه شاعري ځینې نقادان بېخي د فن له چوکټه وباسي او سیاست سره ئې نتي کړي. خو هم دغه موضوعات چې کله شاعر په فني او جمالیاتي انداز کښې بیان کړي، نو ادبي سرمایه ترې جوړه شي. او فني حېثیت ئې برقرار پاتې شي.
د حنیف خلیل ذکر شوي غزل نه په لوسونکو اندازه کړې وي چې هغه ژوندۍ مسئلې اوترقي پسند عناصر په جمالیاتي او فني پېرایه کښې رامخې ته کوي. او هم دغه انداز ئې د غزل حېثیت او کړهٔ وړهٔ ژوندي او تاند ساتلو د پاره اهم کردار لوبولےشي. د دهٔ د شاعرۍ دغه رجحان ته چې ګورم نو په ډاډه زړهٔ وئیلے شم چې که شاعر دخپل تحقیقي او تنقیدي رجحان سره سره خپل شعري صلاحیت ته هم توجه وکړي، نو د یوډېر ښهٔ شاعر په حېثیت هم خپل نوم او مقام ژوندے ساتلے شي.
(درې میاشتۍ جرس کراچۍ)

---

د تاریخ لیکنې او څېړنې اسلوب او د سند اهمیت

حقیقت ته رسېدلو او د ماضي واقعاتو څرګندولو د پاره په تاریخ کښې بنیادي ذریعه د سند او دلیل راوړل دي خو دغه سند او دلیل راوړلو د پاره هم په تاریخ لیکنه کښې څو خبرې ضروري ګڼلے شوې دي چې د تاریخ د سند او اعتبار پخلے ترې کېږي. دغه څو ضروري خبرې د تاریخ لیکنې طریقه او اسلوب ګڼلے شي چې لنډه یادونه ئې مونږ په دې ډول کولے شو.
۱ـد سند او دلیل وخت: دلته باید په آسانو ټکو کښې ووایو چې د تاریخ لیکنې بنیاد چې په سند او دلیل دے نو دې لړ کښې به دا هم کتلے شي چې سند او دلیل د کوم دور سره تعلق لري. یعنې په تاریخ لیکنه کښې چې سند او دلیل وړاندې کولے شي نو ګویا د ماضي د کومې واقعې یا واقعاتو رښتونے او حقیقي شکل راوړاندې کولے شي. اوس دغه واقعې یا واقعاتو بیانولو د پاره چې کوم سند یا ثبوت پېش کولے شي، دغه سند او ثبوت که د بیانېدونکې واقعې سره نزدې دور سره تعلق

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لري نو اعتبار به ئې هم زيات منلے شي او كه سند د وروستي دور وي نو دغسې به ئې اعتبار هم كمزورے كيږي.**
**ګويا سند، ذريعه يا حواله چې څومره بيانوونكي واقعې ته د نزدې دور وي هومره به ئې وقار او اعتبار زيات وي او د ماضي په مطالعه كښې به په آسانه د منلو وړ وي او په مجموعي توګه حقيقت ته رسېدلو كښې به زياته مرسته كوي.**
**۲.د سند او دليل ځائے او مقام: دويمه خبره دا ده چې د ماضي په مطالعه او د حقيقت په څرګندولو كښې چې كوم سند او دليل راوړلے شي، د هغې د ځائے او مقام تعين هم ضروري دے. مثال ئې داسې دے چې د ماضي واقعه د مشرقي نړۍ بيانيږي او سند يا دليل ورته د مغربي نړۍ سره متعلقه پېش كولے شي نو ګويا چې سند او دليل د كم اعتبار دے خو د دې په مقابله كښې كه سند او دليل هم د مشرقي نړۍ سره پېوستون ولري نو بيا د سند او دليل په اعتبار كښې اضافه كيږي. البته دا امكان لري چې واقعه هم د مشرقي نړۍ ده او دليل ئې هم د مشرقي نړۍ سره تعلق لري خو دغه سند او د دليل حالاتو په څۀ وجه مغربي نړۍ ته رسولے وي او بيا د مغربي نړۍ نه دغه دليل مشرقي نړۍ ته راوړلے شي نو په دې حال كښې به هم سند د اعتبار وړ وي ځكه چې بنيادي ريښه، تړون او پېوستون به ئې هم هغه مشرقي نړۍ سره وي. د سند او دليل په لړ كښې د ځائے او مقام د تعين دغسې نور مثالونه هم پېش كېدلے شي خو بنيادي نكته په كښې دا ده چې په تاريخ كښې د ماضي واقعه د كوم ځائے او مقام بيانيږي، بايد چې سند او دليل ئې هم بنيادي ريښه، تړون او پېوستون هم هغه سيمې، ځائے او مقام سره ولري.**
**۳.دليل او سند د چا نه تر لاسه شو: په تاريخ ليكنه كښې دا هم بنيادي نكته ده چې د ماضي د واقعې په بيان كښې سند او دليل د چا نه تر لاسه كيږي د هغۀ خپل حېثيت، اعتبار او وقار څومره دے او د دغه شخص يا ادارې نسبت او تعلق د واقعې سره څومره او څنګه دے. د واقعې د حقيقت معيار به په دې هم وي چې د سند او دليل سره د متعلقه شخص يا ادارې معيار هم منلے شوے وي.**
**٤. د سند تصديق: يوه نكته دا هم ده چې په تاريخ ليكنه كښې د سند او دليل د حالت او اصليت جائزه اخستل هم ضروري دي. يعنې دا كتل هم پكار دي چې سند او دليل په څومره اصلي او كره شكل تر لاسه شوے دے او څومره په كښې د نقل او جعليت امكان دے. د ماضي د حقيقت څرګندولو د پاره د سند او دليل اصليت او حالت هم د تنقيدي پېمانې نه تېرول ضروري دي او د اصلي حالت تصديق ئې كول د تاريخ ليكنې غوښتنه ده.**
**٥.د سند د منلو پېمانه: هر كله چې د سند او دليل په هره زاويه جائزه اخستل ضروري دي نو يو زاويه ئې دا هم ده چې د سند او دليل د كره والي معيار به څۀ وي او پېمانه به ئې څۀ وي. دغه معيار او پېمانې د پاره چې لاره هره يو اختياروله شي خو دا به كتلے شي چې د دې سند او دليل د منلو پس منظر څۀ دے. معيار ئې څۀ دے او وجوهات ئې څۀ دي. كه د دغه معيارونو او پېمانو نه پس هم سند او دليل خپل كره والے ثابت كړي نو بيا د ماضي په مطالعه كښې د يوې مضبوطې حوالې كار وركولے شي.**
**د سند دغه معيار په هره موضوع څېړنه كښې هم نظر كښې ساتلی شي-**
**حنيف خليل**

---

**په علمي مباحثو كښې هند او پښتنه سيمه نظر انداز ولې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په نړیواله توګه چې په ساینس طب فلسفه مذهب ادب سیاست او نورو فنونو او علمونو کښې ګورې نو خبره د یونان او په ځانګړي ډول د سقراط افلاطون او ارسطو نه رانیولی شي او هره علمي لیکنه او څیړنه کښې بار بار د همدغو حوالې ورکولی شي-- تر دې چې د ادب په هره څانګه کښې هم د ټولې نړۍ د پاره د کلاسیک معیار دغه یونان ګڼلی شي--وي دې خیر دی-- خو چې دا هند او پښتنه خاوره ولې له نظره غورزولی شي-- په ریاضۍ او نورو ساینسي فطري علومو کښې په درې سوه قبل مسیح کښې د بخشالي مردان خاورې نه ترلاسه شوې قلمي نسخه داسې ژور علمي بحثونه راوړاندې کړې دي چې نوره نړۍ ورسره لا هغسې نه وه اشنا او بیا جرمن دانشور ډاکټر روډالف د دغه نسخې پوره پیژندګلو هم په ۱۸۸۷ کښې کړې ده چې د اکسفورډ نه چاپ شوې ده خو علمي مباحثو کښې د دغه علمي دستاویز حوالې په نظر نه راځي- هم د افلاطون او ارسطو په دور کښې هندي لیکونکي کوتلیه چانکیه په خپل کتاب ارت شاستر کښې د سیاست ریاستي ادارو جاسوسي ادارو او حکمرانۍ او نورو علمي اړخونو په اړه هغه مباحث رامخې ته کړي دي چې یونان کښې هم په نظر نه راځي خو د افلاطون او ارسطو حوالو نه کتابونه ډک دي او چانکیه نه ډیر کم خلق خبر دي--**

**د ساینس او سیاست نه علاوه دغه رویه په ادب کښې هم ده چې د یونان په ډرامه او شاعرۍ دفترونه او کتابونه لیکلی شوي دي خو په قبل مسیح دور کښې د سنسکرت ژبې د کالیداس ډرامې شکنتلا نه ډیر کم خلق خبر دي-- د ادب په اړه نورو علمي او تنقیدي بحثونو کښې هم د فارسۍ عربۍ تر دې چې د مغربي ژبو د وروستي دور د بحثونو حوالې خو په خرواروڼو په نظر راځي خو د سنسکرت د علمي او ادبي حوالو نه خلق مخ اړوي یا ترې خبر نه وي- د یوناني لیکونکي لان جایي نس د --ان دي سبلایم -- ترجمې هم ښه ډیرې شوې دي او د شعري صنعتونو او علویت حوالې یې هم ښه ډیرې-- خو هغه نه د وړاندیني دور د سنسکرت لیکوال بهرت مني د -- نټ ساستر-- په شعري تنقیدي مباحثو او په شعري صنایع بحث نه ډیر کم خلق خبر دي-- د ډرامې او شاعرۍ په فني او تنقیدي اړخ د ارسطو او ترې وروستو مغربي دانشورو د حوالو نه کتابونه ډک دي خو د همدغه دور د سنسکرت لیکوال بهامه د --النکار شاستر-- نه خلق خبر نه دي چې په سبک او اسلوب د شاعرۍ په قسمونو د نقاد او شاعر په خصلتونو یې بحثونه کړي دي خو حوالې یې نه تر نظره کیږي-- د وروستي دور په سیاسي مباحثو کښې د میکیاولي د پرنس حوالو نه دنیا ډکه ده خو دغه دور ته نزدې د خوشحال بابا د دستارمې حوالې به په نړیواله سطح ډیرې نه وینو-- تر دې چې زمونږ پښتانه لیکوال هم د سقراط بقراط په نوم اخستلو زیات فخر محسوسوي خو د هند او پښتنې خاورې دانشورو ته ورستی حیثیت ورکوي- داسې ډیر مثالونه شته چې یونان او مغرب به د هر علم مرکز ګڼلی شي خو هند او پښتنه خاوره د چا د توجه مرکز نه جوړیږي-- تر دې چې سومیر او مصر ته هم هغه توجو نه کیږې چې د یونان نه مخکښې یې علمې نخښې څرګندې دي خو بیا هم زه په ځانګړي ډول د دانشورو او بیا نور په ځانګړي ډول د پښتنو دانشورو څیړونکیو لیکوالو او نقادانو توجو د هند او پښتنې خاورې علمي مباحثو ته را اړول غواړم او یقین لرم چې زما دغه رویه یا فکر به څوک د کوم علمي تعصب نتیجه هم نه ګڼي--**

**حنیف خلیل**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ناصر کاظمي د معروف اردو غزل چې ډیرو هنرمندو موسیقی سره هم وییلی دی ' پښتو ژباړه مې تازه تازه وکړه- ملګرو ته یې په مینه وړاندې کوم-**

**پښتو ژباړه ---- حنیف خلیل**
**اردو غزل --- ناصر کاظمي**

**زړه کښې راپورته ولوله ده کنه**
**د نوي باد يوه چپه ده کنه**

**څه خو مزاج هم زه نازک لرمه**
**د پرهر نخښه هم تازه ده کنه**

**د زړه په کور کښې مې غوغا جوړه ده**
**خونه زما تالا ترغه ده کنه**

**ویره دنیا کښې چې مې زړه نه لګي**
**خداې زده د څه شي مې اسره ده کنه**

**څه وشو ما سره ګویا که نه یې**
**ستا خاموشي خو راسره ده کنه**

**هاغه د یاد ورکو میرو نه ګله**
**د غږ دې پورته زمزمه ده کنه**

**د ښار کوڅو کښې په تیرو کښې د ژوند**
**ستا په لټون هره لحظه ده کنه**

**د دې ماڼۍ خلق خو ټول اوده شو**
**خو یوه خلاصه دروازه ده کنه**

**تاسو ملګرو اوس راپاسیدلئ**
**ښار کښې په خلقو ویښه شپه ده کنه**

**ښه وخت به هم راځي ناصره خیر دی**
**زندګي ډیره لا پرته ده کنه**

**اردو غزل---**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دل میں اک لہر سی اٹھی ہے ابھی
کوئی تازہ ہوا چلی ہے ابھی

کچھ تو نازک مزاج ہیں ہم بھی
اور یہ چوٹ بھی نئی ہے ابھی

شور برپا ہے خانۂ دل میں
کوئی دیوار سی گری ہے ابھی

بھری دنیا میں جی نہیں لگتا
جانے کس چیز کی کمی ہے ابھی

تو شریک سخن نہیں ہے تو کیا
ہم سخن تیری خامشی ہے ابھی

یاد کے بے نشاں جزیروں سے
تیری آواز آ رہی ہے ابھی

شہر کی بے چراغ گلیوں میں
زندگی تجھ کو ڈھونڈتی ہے ابھی

سو گئے لوگ اس حویلی کے
ایک کھڑکی مگر کھلی ہے ابھی

تم تو یارو ابھی سے اٹھ بیٹھے
شہر میں رات جاگتی ہے ابھی

وقت اچھا بھی آئے گا ناصرؔ
غم نہ کر زندگی پڑی ہے ابھی

---

**په کتاب څو خبرې-- زما د څو زړو لیکونو نوي ترتیب سره-**

**نن د کتاب نړیواله ورځ ده نو ملګرو سره د کتاب په اړه څو خبرې شریکول غواړم- د کتاب د پاره دوه توري په ټوله نړۍ کښې زیات مستعمل دي---په مغربي نړۍ کښې book او په مشرقي نړۍ کښې --کتاب---وړومبے د انګریزی تورے دے او دویم د عربی-- د انګریزۍ book د پاره ګڼ شمیر مخففات ښودلے شي چې د کتاب معنا او مفهوم ترې څرګند شي- لکه b o o k .....**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**bio optical organized knowledge**
**bundle of outstanding knowledge**
**big ocean of knowledge**
**bolit on organized knowledge**
**bank of oppurtunistic knowledge**
**binary on off keying**

**د دغو شپږو مخففاتو خپلې معني دي چې د کتاب مفهوم څرګندوي -- لکه د وړومبي مخفف ترمخه-- ساينسي او تکنيکي منظمه پوهه---- د دويم تر مخه---د عالي پوهې مجموعه--- د دريم ترمخه-- د پوهې لوې سمندر--- دڅلورم تر مخه---په منظمه پوهه کښې د ګولۍ په شان تيزي---د پنځم تر مخه-- د موقعې مناسبت سره د پوهې خانه يا بينک-- او د شپږم تر مخه--- د دوو متضاد نظريو د ترلو او پرانستلو چابي---**

**دغه ټول وضاحتونه خپل خپل مفهوم لري خو دا وروستو جوړ شوي تعبيرونه دي چې مختلفو دانشورو جوړ کړي دي او يوه ستونزه دا هم پيښوي چې د انګرزي book-- د جرمن ژبې نه انګريزۍ ته راغلے دے او هلته buch دے چې صرف د b په مناسبت bibliography يعني کتابيات ته وييلے شي -- نو ځکه د انګريزۍ ټولې معنې وروستو او د ځانه جوړې شوې ښکاري-- البته د کتاب مشرقي مفهوم ته چې راشو نو خبره معنوي لحاظ سره زياته مناسبه ښکاري--- کتاب د عربۍ تورے دے خو په نورو مشرقي ژبو کښې هم مستعمل دے--- په عربۍ کښې يې مفهوم د کتابت يعني ليکلو سره ترلے بيانيږي--مطلب کتابت شوے او ليکلے دستاويز--- خو دا بايد نظر کښې وساتو چې دا په عربۍ کښې وړومبۍ او لغوي معنا ده--- اصلي او اصطلاحي معنا يې ده--- قانون-- روش ضابطه--طريقه--- چې د قران ځنو ايتونو نه يې دغه اصلي مفهوم څرګنديږي --- چرته چې وييلے شي-- کتب عليکم الصيام--- يا --کتب عليکم الصلواه---- نو دغلته مفهوم د کتابت يا ليکلو نه وي--- بلکې دا وي چې تاسو د پاره صيام يا صلواه يعني روژه يا مونځ  د يو قانون -- روش-- ضابطې--په حيث لازم کړے شو--- نو ځکه د ذالک الکتاب--- مفهوم کښې هم د ليک او کتابت نه علاوه دغه مفهوم پروت دے چې ---دې کتاب يعني دې قانون قاعدې روش او اصول کښې هيڅ شک نشته--- خداې دې وکړي چې مونږ د کتاب تش ليکلي عبارت او تلاوت پورې محدود نه شو بلکې د يو قانون او ضابطې په توګه يې په خپل ژوند عملي اطلاق وکړو--- او دا به هله کيږي چې د کتاب په ليکلي عبارت پوهه هم شو---**

**د کتاب معروف شکلونه**

**رساله--بياض-- مصحف--دوتر -- تالباش-- روزنامچه-- جريده-- او مجله د کتاب نور معروف شکلونه دي چې وضاحت يې داسې کولی شو-**

**دغه ټولې کليمې خپلې ځانګړې معنې هم لري خو اصطلاحي معنايې بيا هم هغه کتاب راووځي-**

**رساله--**

**د رسولو په معنا ده يعني پيغام رسول-- دغه پيغام يو اصول او قانون هم وي او ليک يعني کتابت شوی هم- رسالت هم له دغه رساله نه جوړ دی-**

**بياض--**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ابيض نه دی- ابيض په عربی کښې سپين ته وايي- يعني سپين کاغذ چې لا پرې ليک نه وي شوی خو ليک يا کتابت د پاره وي-

مصحف---

مصحف د عربی د صحيفه نه دی چې جمع يې صحيفي يا صحايف دی-- او صحافت هم له له دغې جوړ دی-- معنا يې دی پيغام رسول او ليکلی دستاويز - دغه پيغام چې وليکلی شي يا کتابت کړی شي- نو اصول او قانون هم وي او کتابت شوی هم-

دوتر--

دفتر هم ورته وييلی شي چې د يو رجسټر حيثيت لري - عمومن پکښې حساب کتاب ليکلی شي - خو د زمکو د ريکارډ کتاب ته هم دوتر يا دفتر وييلی شي چې خوشحال بابا د شيخ ملي د دفتر يادونه کړې ده نو د زمکو د ريکارډ او پښتنو قبيلو د شجرو تفصيل ترې مراد اخستلی کيدی شي-

ټالباش--

په جنوبي سيمو کښې ورته ډال باچ هم وايي -- دا هم په بنيادي توګه خو د زمکو د ريکارډ کتاب وي چې د مخصوصو قبيلو پورې محدود وي او د دوتر نه وړوکی وي- دغه تناظر کښې د ريکارډ ساتلو نورو کاپو يا ډايرو ته هم ټالباش يا ډال باچ وايي-- شاعران د خوند د پاره د خپلې شاعرۍ ناچاپ مسودې ته هم ټالباش يا ډال باچ وايي-

روزنامچه يا ډايري---

دا هغه کاپۍ يا رجسټر وي چې ورځني حالات پکښې خوندي کولی شي-- ځنې اديبانو هم خپلې ډايرۍ ليکلې دي چې د حمزه بابا ناچاپ ډايرۍ پکښې ډير قيمتي معلومات او مواد لري- او دغو ډايرو نه کتاب هم جوړيدی شي-

جريده---

جريده د تجرد او مجرد يعني بيل او جدا په بنياد وي-- هغه کتابي لړۍ چې په يو نوم ټاکلې دورانيه مياشت-- درې مياشتې-- شپږ مياشتې-- يا کال کښې مسلسل او بيل بيل کتابونه چاپولی شي-

مجله--

مجله د جلا يا ځلا په بنياد ده چې د پوهې او دانش ځلا خوروي-- او لکه د جريده تسلسل لري- جريده او مجله عمومن سرکاري او حکومتي کتابي لړۍ وې خو بيا عام شوې--

کايناتي کتاب

په يو شعر کښې کاظم خان شيدا خالق ته وايي چې

هره ورځ ورق ګردان يي

مخترع د نوي شان يې

دغه شعر کښې کاينات ته کتاب وييلې شوی دی او دا چې د دغه کتاب خالق هره ورځ يوه پاڼه يا ورق اړوي او کتاب کښې نوې نوې اختراع کوي- يعني کاينات کښې اضافې کوي-

مونږ چې ماشومان وو نو د تختۍ په يو مخ به مو الف ب ليکل او په بل مخ شميرې- ګويا دغه مو د کتاب د زدکړې پيل وو- اوس که د کايناتي کتاب د لوست خبره وکړو نو انساني علم دا خو معلومه کړې ده چې د کاينات عمر تخمينن څوارلس اربه کاله دی او د زمکې عمر څلور نيم اربه کاله دی- نن انسان وايي چې ډيره ترقي يې کړې ده-- بې شکه چې ترقي يې کړې ده خو دغه ټولې ترقۍ ته يواځې د زمکني حقيقتونو تناظر کښې کتلی شي- که د کايناتي حقيقتونو تناظر کښې مو ورته وکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو انسان او انسانیت نن هم د زدکړې په حواله هغسې ماشوم دی لکه کچه اتنا کښې چې د تختۍ لیکلو په وخت کښې وو ځکه چې خالق خو د قران حکیم د سوره الجاثیه دیارلسم ایت کښې وییلي دي چې-
و سخر لکم ما فی السماوات و ما فی الارض جمیعا منه-- یعني تاسو دپاره په اسمانونو او زمکه کښې هر څه مسخر یعني ستاسو په کار راوستونکي جوړ کړی شول- ګویا ټول کاینات یا کایناتي کتاب نه ګټه اخستل د انسان کار دی-- خو انسان تر اوسه څه وکړی شول-- د زمکني وسیلو نه پرته یې زیات نه زیات دا وکړی شول چې د نمر توانایي په خپل کار راوستی شي هغه هم ډېر محدود صورت کښې- نو دا خو د محدود شمسي نظام خبره شوه- د شمسي نظام په کایناتي کتاب کښې حیثیت څه دی- انسان به د خپل کهکشان ملکي وی ستورو او کرو نه کله ګټه اخلي- بل نزدې کهکشان اینډرومیډا ته به کله رسي- او د کایناتي کتاب په اربونو نورو کهکشانونو ستورو او سیارو نه به کله ګټه اخلي- تر اوسه خو انسان یواځې معلومات راجمع کوي او هغه هم د تصویرونو په ذریعه - د هبل ټیلي سکوپ نه پس یې د جیمز ویب په ذریعه د کاینات د څه برخې تصویرونه ولیدل یا لږ ډېر اضافي معلومات- او دا هم د زمکې د عمر څلورنیم اربه کلونو په دې اخري دوه سوه کاله کښې انسان د دې قابل شو- او چې کاینات هره ورځ خورېږي هم نو انسان به یې صرف معلوماتو تر لاسه کولو پسې څنګه او کله رسي- او بیا مسخر کوي به یې کله - ګټه به ترې کله او څنګه اخلي- ګویا د کاینات په مطالعه کښې انسان لا هم هغسې د تختۍ د یو مخ د الف ب ماشوم دی- او که د ستورو او کهکشانونو د شمیر پوښتنه دې ترې وکړه نو د تختۍ د شمیرو په هغه دویم مخ هم هغه شش او پنج نه لا نه دی وتی- او شاید تر ابده د کایناتي کتاب په لوست کښې همدغسې ماشوم پاتې شي- خو غرور او تکبر ته یې وګوره چې د کاینات د یوې معمولي شان ذرې یعنې زمکې په تناظر کښې په خپل علم د دغه ویر کایناتي کتاب د خالق سره هم انکتي اچوي-

---

احساس-------------
تیرو ورځو کښې مې د --احساس-- توري په اړه په یو پوسټ خپل کمنټ کښې د خوند د پاره په طنزیه لهجه کښې وییلي وو چې --پښتنو کښې احساس نشته ځکه پښتو کښې ورله خپل لفظ هم نشته-- خو اوس فکر کوم چې په دغه طنزیه جمله سنجیده غور هم پکار دی- ځکه چې پښتانه چرته چرته د بل په اشارو ګډېږي او چرته چرته خپل وقار او خپل هر څه بایلي-- کله ورته غیر پښتانه وایي تاسو ډېر میلمه پال یئ نو بس خرچې به کوئ دوئ خوشاله شي او ځان په نورو لوټ کړي-- ځه خیر دی--که تاوان کوي خو دا صفت د عزت او درناوي دی-- څوک ورته وائي تاسو بهادران یئ-- پلار نیکه مو تل توري وهلي دي نو د مرګ مخې ته به تاسو ورځئ- دوئ خوشحاله شي او مرګونو ته تیار شي-- ځه دا هم خیر دی- د غیرت خبره ده--خو دا چې غیر پښتانه او نریوال قوتونه مو خپلو کښې جنګوي-- د جنګ میدان هم پښتنه خاوره وي-کله د مذهب په نوم - کله د سیاست په نوم او کله د غیرت په نوم-- شخړه د بل- ګټه به د بل وي او مري به پښتانه-- د دواړو غاړو-- په دې هم پښتانه خوشحاله وي او پوهېږي نه چې چا د پاره مرم-- څوک وژنم-- او ګټه یې څوک اخلي-- ځه دا به هم د زغملو وي- بس پښتانه پیدا دي د پاره دي چې په څه نا څه نوم به قتلیږي- خو د تیرو څو ورځو نه چې د سیاست او نظریې په نوم کومه لوبه په دې سوشل میډیا روانه ده او هر څوک یې تماشه کوي هغه بیخي د زغملو نه ده--سپورې سپکې او کنځل-- لوې لوې شخصیات سپین ږیري د قربانیو او ایثار غرونه سر د لاندې راوغورزولی شول- هغه مقدسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رشتې پکښې د خاورو لاندې شوې چې د پښو لاندې به يې جنت لټولی شو- د سياست او نظريې د دفاع په نوم--څه قصور کړی دی دغو سترو شخصياتو او مقدسو رشتو- همدغه قصور يې وو چې د قام او ملت په حيث يې تاسو روزلي وئ او د مور پلار په حيث يې تاسو زيږولي وئ- نو د دې وطن به لا څه سياست وي او څه به يې نظريه وي --زه خو يې د مور يو نوک سره هم نه برابروم-چې د مور غونډې پاکه رشته هم دلته د سياست او نظريې په نوم د خاورو سره خاورې شوه- د دواړو غاړو نه پښتانه - نو په داسې حال کښې به مونږ پښتانه بيا هم وايو چې مونږ کښې احساس شته--مونږ کښې تهذيب شته- کوم دی احساس او کوم دی تهذيب- دا هغه زمونږ تهذيب دی چې نورې نړۍ ته مو ښودلی دی-- نوره نړۍ داسې ده لکه مونږ پښتانه چې يو-- يه پښتنو خواست کوم زما په دغه کمنټ که د چا خاطر دروند شوی هم وي نو د خاطر درنولو په ځاې په دغه طنزيه جمله لږ شان سنجيده غور هم وکړئ--بس څو لمحو له خپل ګريوان کښې سر ښکته کړئ چې زما د سياست او نظريې د پاره سپکېږي څوک او بې حرمتي د چا کيږي--- او دا هم چې د هغو خطا څه ده-

حنيف خليل

---

د اظهاريت جمالياتي نظريه او د استاد  پسرلي صاحب يو شعر

دغه اصطلاح په نفسياتو، جمالياتو او ځينو نورو فني مباحثو کښې هم راوړلے شي او د يوې ادبي اصطلاح  په حېث هم د دغو بحثونو برخه جوړيږي. د اظهاريت اصطلاح د جمالياتو په فلسفه کښې د اټلي مفکر او دانشور کروچے سره منسوب ده خو د فلسفې، نفسياتو او ادب نورو دانشورو هم د دغه اصطلاح وضاحتونه کړي دي. ما په خپل کتاب  "د ښکلا هنداره" کښې  د دغه ادبي اصطلاح وضاحت د جمالياتي فلسفې په تناظر کښې کړے وو چې بنياد مې ورته د نوميالي شاعر محمد صديق پسرلي يو شعر جوړ کړے وو. دغه بحث دلته د يو ادبي او جمالياتي اصطلاح په حېث راوړم.

حُسن هم له ځانه ناقراره وي
ښکاري د رنګونو له پروزه ئي

زمونږ رواني صدئ په وړومبيو څو غټو شاعرانو کښې يو د ځانګړي سبک څښتن غزلبول شاعر محمد صديق پسرلے په کلي توګه د حسن پرستار دے. د هغهٔ شاعرئ ته زهٔ د حُسن او تخيل مترنمه هنداره وايم. د حُسن او جمال مختلف رنګونه د هغهٔ د شاعرئ زينت دي.
په پورتني شعر کښې چې محترم پسرلي د جمال کومه نظريه په علامتي شکل کښې پېش کړې ده، په جمالياتي اصطلاح کښې ورته د اظهاريت نظريه وائي چې مشرحينو کښې ئې د ټولو نه جوت حېثيت د اټلي د يوې صوبې اکيله  د يو کلي کسرولي وسېدونکے بينيډيټو کروچے  (١٨٦٦ – ١٩٥٢ء) لري. د کروچے نظريه په مکمل ډول روحاني او وجداني ده. د هغهٔ په  خيال روح يو حقيقت دے چې د حسن، صداقت، افاديت او نېکئ په صورت کښې نمود کوي يعني دغه څلور ذکر شوې درجې د هغهٔ په خيال د روح مظاهر دي. هغه د روح نه د خالق ذات مراد اخلي خو د خالق نوم نهٔ اخلي نو هر کله چې روح خالق دے نو دغه څلورو مظاهرو کښې يو هم باطل نهٔ شي کېدے. دغه روح د کانټ  " قائم بالذات شے" او د هېګل د "التصور" د نظريې مترادف دے ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوي هم د خالق د پاره دغه دوه تصورات پېش کړي وو. د کروچې په خيال روح د خپل تخليقي وجدان په ذريعه د کائناتو په شکل کښې اظهار کړے دے. هم دغه شان هنرمند يا فنکار د خپل تخليقي وجدان په ذريعه د خپل هنر يا فن اظهار کوي. که هغه د شاعرۍ په شکل کښې وي که د مصورۍ، موسيقۍ، رقص يا بل کوم هنر په شکل کښې وي.
د پسرلي صاحب په مذکور شعر کښې هم دغه د اظهاريت نظريه ډېره په شاعرانه انداز کښې پېش شوې ده. حُسن په اصل کښې د هنر يا فن سر چشمه ده. هنر د حسن لباس يا جامه ده. يا به دا ووايو چې فن د حسن مجسم صورت دے.
پسرلے صاحب د حُسن په فطرت او تقاضا پوهه دے. د حسن فطرت او تقاضا دا ده چې هغه په هر صورت اظهار او نمود غواړي ځکه خو پسرلے صاحب هم وائي چې:
"حسن هم له ځانه ناقراره وي"
هم دغه ناقراري په اصل کښې د اظهار او نمود تقاضا کوي ځکه چې د حُسن فطرت دا نۀ دے چې هغه دې جامد او ساکن وي. دغه حسن چې له ځانه ناقراره دے په حقيقت کښې د فنکار هغه تخليقي وجدان او سر چشمه ده چې د فن زېږېدنه ترې کېږي. او د رنګونو پرواز چې پسرلي صاحب په خپل شعر کښې ذکر کړے دے. زما په خيال د مختلفو فنونو يا هنرونو، شاعرۍ، رقص، سنګتراشۍ وغيره د پاره علامت دے. په دې لحاظ د پسرلي صاحب دشعر نه زۀ د خپل ذوق مطابق دا مطلب اخلم چې هر کله د تخليق کار تخليقي صلاحيت (حسن) په غورځنګونو شي نو هغه اظهار غواړي او دغه اظهار د شاعرۍ، مصورۍ، سنګتراشۍ او موسيقۍ وغېره په شکل کښې کېږي. چې پسرلي صاحب ورله رنګونه علامتونه کړي دي. يعني د حسن د ناقرارۍ په وجه د دغه رنګونو پرواز د فنونو په شکل کښې د تخليقي وجدان اظهار دے.
هر څو که د فرانس معروف مفکر يوجن ويران د فن دوه شکلونه ښودلي دي او وئيلي ئې دي چې:

"فن په بيل بيل شکل کښې د آرائش او اظهار نوم دے. آرائش د حسن سره تعلق لري او اظهار د کردار سره آرائش د زړې زمانې سره اظهار د نوې زمانې سره تعلق لري. آرائش بغېر د جذبې او تصور نه د حسن تقاضه کوي او اظهار د جذبې او تصور نوم دے.
د ښاغلي ويران دغه تاثرات که يو خوا د جمالي ذوق سره هم آهنګي پيدا کولے شي او انسان ته يو ښۀ تاثر ورکولے شي نو بل خوا پرې ډېرې خبرې هم کېدے شي. د مثال په توګه وړومبے دا چې:

حُسن او کردار په خپلو کښې جدا ځيزونه دي.
د ويران دغه رائے سره اختلاف هم کېدے شي او هغه داسې چې کردار د حسن باطني شکل دے چې نمود ئې په هر صورت تقاضه کوي. کردار چې نمود وکړي نو آرائش شي. نو په دې لحاظ هم دغه آرائش د کردار ظاهري شکل دے نو په دې لحاظ دغه دواړه جدا ځيزونه نۀ دي بلکې يو دي. فرق صرف دومره دے چې کردار د حسن باطني شکل دے او آرائش ظاهري.
دې نه علاوه د ويران دغه خبرې سره هم اختلاف کېدے شي چې "آرائش" د زړې زمانې سره تعلق لري او اظهار د نوې زمانې سره. هر کله چې دا دواړه يو ځيز دے نو تعلق ئې هم يوې زمانې سره دے. دواړه د شروع نه تر اوسه پورې د يو بل سره سم را روان دي. دا بيله خبره ده چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اظهاریت په نظریه د وروستو پوهېدلو په وجه انسان دغه نومونه یا اصطلاحات هم وروستو وضع کړي دي.**
**د ویران بله خبره دا ده چې آرائش بغېر د جذبې او تصور نه د حسن تقاضه کوي او اظهار د جذبې نوم دے. په دې حقله به دومره ووایم چې د آرائشي حسن سره که جذبه او تصور نهٔ وي نو د اظهار تقاضه هم ورسره نهٔ وي ځکه چې هغه یو ځل ظاهر شوے دے نو هم دغه د دهٔ تقاضه وه چې پوره شوې ده کله چې دغه تقاضه نهٔ وي پوره شوې نو هم دغه آرائش سره د کردار یا د حُسن د باطني صورت په شکل کښې جذبه او تصور شامل وو چې اظهار او نمود ئې غوښتلو.**
**په هر حال د ښاغلي ویران تاثرات که یو وخت د پاره صحیح ومنلے شي نو بیا هم د پسرلي صاحب شعر د دواړو شکلونو احاطه کوي ځکه چې حسن باطني وو نو کردار وو. جذبه او تصور ورسره شامل وو چې د رنګونو د پرواز په شکل کښې ئې اظهار وشو نو آرائش شو اوس که څوک آرائش او اظهار یو څیز ګڼي او که جدا.**
**دا فېصله د هغهٔ په ذوق ده ځکه چې آرائش او اظهار ښکلا ده او ښکلا ذوقي ده. هم دغه شان د پسرلي صاحب د شعر تشریح هم ما د خپل ذوق مطابق وکړه. کېدے شي چې بل څوک ترې بل څهٔ مراد واخلي.**
**ح خ**

---

**د فارسی د هندي سبک نازکخیال شاعر ابوالمعاني مرزا عبدالقادر بیدل دهلوي د دې غزل د چوڼ شعرونو منظومه ژباړه راته ډېره ګرانه وه-- پته نشته چې بریال شوم که ناکام خو زما هڅه د مینه والو په خدمت کښې وړاندې کوم-**

**پښتو ژباړه---- حنیف خلیل**
**فارسي کلام ----- مرزا عبدالقادر بیدل**

**بریال د زماني شومه ناکام هم زه شومه**
**اغاز څه دی ملګرو چې انجام هم زه شومه**

**زه ستا په انتظار کښې شومه خاورې سیلی یوړم**
**ګرد جمع په زړګي چې د دوران هم زه شومه**

**ژوند دې وهم کښې تیر شو چې خام خیال به مې شي پوخ خو**
**اخر له شرمه وسوزیدم خام هم زه شومه**

**تر څو به د فنا په غیږ کښې ژوند وي نامحرمه**
**سپین ږیری شوم قابل چې د احرام هم زه شومه**

**بیدله لا سرشار د بې خودی په سیوري یمه**
**وحشت مې هم هغه دی که ارام هم زه شومه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فارسي کلام**

**کام از جهان گرفتم و ناکام هم شدم**
**آغاز چیست محرم انجام هم شدم**

**آخر در انتظار تو خاکم به باد رفت**
**یعنی غبار خاطر ایام هم شدم**

**یک عمر زندگی به توهم خیال پخت**
**آخر ز شرم سوختم و خام هم شدم**

**نامحرم حریم فنا چند زیستن**
**مو شد سفید قابل احرام هم شدم**

**بیدل چو سایه محو ز خود رفتنم هنوز**
**وحشت بجاست گر همه آرام هم شدم**

---

**د فقیر ایپي دوامداره مبارزه**

**نن شپاړسم اپریل د حاجي میرزالي خان فقیر ایپي د مړینې ورځ ده- ټول عمر یې د جنګ په میدان کښې په عملي مبارزه کښې تیر کړی وو خو وفات یې د دمې د ناروغۍ له وجې په ۱۹۶۰ کښې شوی وو- هر څو که فقیر ایپي له ډیرو ستونزو سره مخ شوی وو خو خپله حوصله او همت یې چرې هم نه وو بایللي-په هغه ډیر تورونه او اعتراضونه هم شوي وو خو خپله مبارزه یې په هر حال دوامداره ساتلي وه- اعتراض کوونکیو کښې د پیرنګي نه علاوه هندي کمیونسټ لیکوال او سرتیر ګورچرن سنګهه هم شامل وو چې په خپل کتاب -- وه بهی دن تهے-- کښې یې خپل اعتراضات درج کړي دي- خو یاده دې وي چې د فقیر ایپي مبارزه د اسلام او پښتو د سیوري لاندې وه- دې نه خارج یوه خبره یې هم نه ده منلې-بیا دغه همت او حوصلې ته هم کتل پکار دي چې د یو عام امام مسجد نه یو لوی مبارز جوړیدل او پیرنګي سره ډغره وهل څومره ګرانه خبره وه- د نور علي او رام کوري د واقعي نه تر انقلابي غورزنګ رسیدل د فقیر ایپي د دوامدارې مبارزې نتیجه وه-تر دې چې فقیر ایپي د پیرنګي خلاف د وسله والې مبارزې ګوریلا طاقت هم تیار کړی وو چې د پښتنو میرمنو اخلاقي مرسته هم ورسره وه- پیرنګي په۱۹۳۶ کال په خیسور کښې چې د فقیر په ګوریلا طاقت حمله وکړه نو پیرنګی نه یواځې ناکام شو بلکې د فقیر غورزنګ په ټول وزیرستان کښې خور شو--وزیرو محسودو داوړو بیټنو او خټکو مروتو نه علاوه د نورو پښتنو قبیلو مرسته هم ورسره شامله شوه-په ۱۹۳۷ کال پیرنګي د څلویښت زره فوج سره حمله وکړه خو فقیر یې بیا هم مات نه کړو- پیرنګي د خپلې ناکامۍ پټولو د پاره ووې چې فقیر سره د جرمني او اټلي مرسته ده--که وه هم نو ناجایزه خو نه وه-په ۱۹۴۶ کښې پیرنګي بیا حمله وکړه خو فقیر بیا هم لکه د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غر ولاړ وو- اخر هم چې د برصغير د ويش فيصلې وشوې نو په يو ويشتم جون ۱۹۴۷ بنو کښې راجوړه جرګه کښې فقير ايپي د پښتونستان مطالبه وکړه چې دغه مطالبه که پوره نه هم شوه خو فقير د پښتونستان د تحريک بنسټ ګر ضرور ياد شو- د ويش نه پس چې فقير افغانستان ته لاړو نو نه يواځې له هغه ځايه مايوس راغلو بلکې په خپل وزيرستان او پښتونخوا کښې هم مايوسۍ سره مخ شو-- دغه پس منظر کښې مونږ فقير ته بيا هم يو برېال مبارز وييلی شو چې يو خوا يې پيرنګی کمزوری او پريشان ساتلی وو او بل خوا يې د ډير معمولي حيثيت او نشت وسايلو سره يو لوې غورزنګ په ډيرو سختو حالاتو کښې د پيرنګي غونډې لوې قوت خلاف دوامدار ساتلی وو-- روح يې ښاد--
حنيف خليل

---

د اردو کلاسيکي شاعر حيدر علي اتش د معروف غزل چونې شعرونه مې پښتو ته ژباړلي وو چې د -- پيره -- لفظ مې د وزن برابرولو په خاطر ورزيات کړی وو-- بل دا چې دې غزل کښې اتش د --ارزو -- قافيې ډير تکرار هم کړی دی ځکه مې دغه ژباړه خپل د ژباړو کتاب کښې نه وه شامله کړې خو دلته د خونديي کولو د پاره يې شريکول غواړم-

پښتو ژباړه --- حنيف خليل
اردو کلام --- حيدر علي اتش

دا مې ارزو وه چې يار ګل ته رو برو شي پيره
چې د بلبل سره بې تابه ګفتګو شي پيره

پيغام رسان چې مې ونه موندلو ښه وشوله
د بل په خله به ښکاره ځنګه ارزو شي پيره

نمر او سپوږمۍ هم په چکر کښې دي زما په شانې
دوئ خو به هم د يو حسين په جستجو شي پيره

چې ستا د زلفو د حلقو حالت ليدلی يې وی
ازاد پخپله به د قيد په ارزو شي پيره

چپ شه د خپل اپوټه بخت به درته څه وايمه
را اوري اور چې د باران مې ارزو شي پيره

اردو کلام ---

یہ آرزو تھی تجھے گل کے رو بہ رو کرتے
ہم اور بلبل بیتاب گفتگو کرتے

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیامبر نہ میسر ہوا تو خوب ہوا
زبان غیر سے کیا شرح آرزو کرتے

مری طرح سے مہ و مہر بھی ہیں آوارہ
کسی حبیب کی یہ بھی ہیں جستجو کرتے

جو دیکھتے تری زنجیر زلف کا عالم
اسیر ہونے کی آزاد آرزو کرتے

نہ پوچھ عالم برگشتہ طالعی آتش
برستی آگ جو باراں کی آرزو کرتے

---

**د رحمان بابا تعلي او د خوشحال بابا وضعداري**

**خوشحالا او دولتا مي غلامان دي**
**زه رحمان په پښتو ژبه عالمګير يم**
**د رحمان بابا د دغه شعر په اړه ډير نقادان دا راې لري چې دا د رحمان بابا نه دی بلکې د هغه دیوان ته چا له ځانه ورزيات کړی دی-- لکه مرحوم ډاکټر راج ولي شاه خټک يې چې خپل کتاب-- د رحمان په شعر-- کښې تفصيلي جاج اخستی دی-- ځنې څیرونکي يې بيا تعبير په بل رنګ کوي-- اروابشاد عبدالحئ حبيبي صاحب ويلي دي چې د رحمان بابا له خوا خوشحالا او دولتا ويل اصل کښې خوشحال بابا او دولت لواني ته درناوی ورکول دي چې نومونه په دغه انداز اخستل د هغه وخت د دود له مخه د عزت او درناوي نخښه وه- مولانا عبدالقادر بيا وايي چې دا خو رحمان بابا خوشحالي او دولت ياد کړي دي او مصرعه داسې ده-**
**خوشحالي دولت مي دواړه غلامان دي**
**د دغه شعر په اړه زما راې دغو ټولو نه بدله ده-- زه دغه شعر د رحمان بابا خپل ګنم او په همدغه شکل يې درست ګنم څنګه چې يې ديوان کښې راغلی دی- دليل يې دا وايم چې د پښتو کلاسيک شاعرانو کښې د رحمان بابا عقيدت مند شاعر نجيب سربندي د رحمان بابا په دغه متعلقه غزل تضمين کړی دی او د رحمان بابا د دغه تعلي مقطعي تاييد يې هم کړی دی--دې نه علاوه د خوشحال بابا د کړوسي کامګار خټک يادونه يې هم کړې ده چې کامګار هم د رحمان بابا د دغه تعلي جواب کړی وو- نجيب ۱۱۷۸ کښې معروف شاعر وو او رحمان بابا تر ۱۱۲۳ ژوندی وو چې تر مينځه د وخت فاصله يې هم ډيره کمه ده- د نجيب شعرونو ته غور وکړئ-**
**چې يې شعر لا مثل دی باندې ښايي**
**که رحمان وايي په شعر عالمګير يم**
**د کامګار دا بي هوده خبره ګوره**
**چې وييل کا خان بادشاه زه يې وزير يم**
**او کامګار خټک خو بيا نجيب نه هم مشر دی-- هغه خو په ۱۱۳۷ کښې هم ځان ته زوړ وايي-**

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر تیر شو لا تر اوسه ستا د وصل تمنا کړم
سن زر سل درې کم څلویښت دی زه چې دا تازه انشا کړم
نو د رحمان بابا وفات نه تر دغه دوره خو دغه لس پنځلس کاله زماني فاصله پاتې کېږي نو دغه موده کښې به د رحمان بابا دیوان کښې دغه شعر له ځانه چا څنګه شاملولو-
او که دغه شعر چا له ځانه ورشامل کړی وي نو د رحمان بابا دې نورو تعلي شعرونو سره به څه کوو چې وايي
یو خوشحال یو کم سل خټکه نور په طبیعت کښې
ځار شه د رحمان سړښې له یوه فرده
چې یې شعر د رحمان مومند تر غوږ شي
غوږ به نه باسي څوک شعر د خوشحال
ګویا د نجیب او کامګار په دور کښې هم دغه شعر د رحمان بابا په دیوان کښې موجود وو- زه یوه خبره بله هم وریاتوم هغه دا چې د رحمان بابا شاعرې خوشحال بابا ته هم ضرور رسیدلې ده-- ځکه چې د خوشحال بابا مشر زوی اشرف خان هجرې ته چې دکن ته رسیدلې وه او هغه د رحمان بابا یادونه دکن کښې د قید دوران کښې کړې ده چې پخپله اشرف خان د رحمان بابا نه عمر کښې مشر هم وو-- د خوشحال بابا بل زوی عبدالقادر خان چې د رحمان بابا همزولی وو هغه هم د رحمان بابا یادونه کړې ده نو ضرور به خوشحال بابا ته هم د رحمان بابا شاعري رسیدلې وي خو بل خوا د خوشحال بابا او د هغه د زامنو وضعداري وګورئ چې نه خو خوشحال بابا چې تر ۱۱۰۰ ژوندی وو د رحمان بابا د تعلئ جواب کړی دی چې تر ۱۱۰۰ رحمان بابا پخپله د یو لوی شاعر مقام ترلاسه کړی وو او نه د خوشحال بابا زامنو د دغه تعلي جواب کړی دی-- اشرف خان په ۱۰۹۲ کښې دکن کښې قید شوی وو چې تر ۱۱۰۶ ژوندی وو- هلته یې په شاعرانو لیکلي یو نظم کښې رحمان بابا ته درناوی پیش کړی دی او ویېلي یې دي چې-
د رحمان په ویېل ځای د لقب نشته
چې یې ما شعر منظور کړو معتبر دی
عبدالقادر خان هم د رحمان بابا په یو غزل تضمین کړی دی او هلته یې ویېلي دي چې-
زه خټک د یار په غم تازه تازه شم
غوریا خیل رحمان که شو ورځنې ستړی
ځکه له دغو سندونو نه زه دا نتیجه اخلم چې د تعلي دغه مقطع شعر د رحمان بابا خپل دی او په همدغه شکل دی-- تعلي د هغه دور دود او غالب رجحان هم وو-خو ورسره خوشحال بابا او د هغه زامنو هم د ډېر دروند خصلت او وضعدارۍ څرګندونه کړې ده چې د رحمان بابا د دغه تعلی جواب یې نه دی کړی بلکې رحمان بابا ته یې دروند نظر کړی دی-او بیا د خوشحال بابا اولاد کښې کاظم خان شیدا خو د رحمان بابا په یوه مصرعه زړه بایېلي چې وایي-
د رحمان په دا مصرعه د شیدا زړه دی
ته پري یې که اهو یې که جادو کړې

---

تعین که د نفس اوځي له میانه
کا به کم سراماسي د دریاب څاڅکے

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تعين--- ټاکل- مقرر کول**
**میانه--- له منځه**
**سراماسي--- سر اوچت اوړل-- تکبر او غرور کول**

**شرح:**
**په دې مادي نړۍ کښې چې انسان سا اخلي او ژوندی وي نو په دغه عارضي ژوند کښې هم پکښې هوا راشي--سر اوچت اوچت اوړي- کبر او غرور کوي- او دا ترې هیر وي چې حیثیت یې د اوبو د یو ځاځکي دی- زر فنا کیدونکی دی- دغه مشاهده شیدا د شعر په ژبه څنګه بیانوي- غور ورته وکړئ-**
**د اوبو د ځاځکي فطرت دا دی چې لاندې به راځي خو په دریاب کښې چې د ځاځکي اوبو نه بربوکۍ جوړه شي نو د بربوکۍ شکل داسې وي لکه ځاځکي چې سر اوچت نیولی وي- د دریاب ځاځکے چې سا واخلي نو بربوکۍ ترې جوړه شي یعني د بربوکۍ په مېنځ کښې چې کومه هوا جمع وي، دغه ئې اصل کښې سا اخستې وي او بیا دغه سا اخستلو سره زر سراماسي شروع کړي یعني سر اوچت اوړل شروع کړي خو ورته پته نهٔ وي چې اصل کښې خو ئې حېثیت د دریاب د ځاځکي دے او دغه سا اخستل او بیا سراماسي کول ئې بس د څو لمحو دي، بربوکۍ زر فنا شي او په دریاب کښې ختمه شي، نو هغه سراماسي یعني سر اوچت اوړل او کبرو غرور ئې هم ختم شي، شېدا وائي چې که د مېنځ نه دغه تنفس یعني سا اخستل اوځي نو د دریاب ځاځکے به دغه سراماسي کول کم کړي یعني بربوکۍ جوړېدل او سر اوچت اوړل به هم کم کړي، ورته به پته ولګي چې دغه سراماسي خو د څو لمحو ده، هسې هم چې د دریاب ځاځکي خپل وجود کښې هوا جمع نهٔ کړي نو بربوکۍ ترې نهٔ شي جوړېدے او چې بربوکۍ نهٔ شي نو سر اوچت هم نهٔ شي اوړے، ځکه چې سر خو بربوکۍ اوچت اوړي چې په مېنځ کښې ئې هوا یعني نفس جمع شي، دغسې انسان هم چې په دې پوهه شي چې لکه د بربوکۍ ځان کښې هوا راوستل بیا سراماسي یا سر اوچت اوړل یا کبرو غرور خو د دې دنیا د څو لمحو د ژوند برخه ده خو دا ژوند خو ډېر زر په تېره او درېږي چې سا یا نفس د منځه اوځي نو ژوند، سراماسي، کبر غرور هر څهٔ ختم شي نو بیا د ځاځکي غوندې حېثیت لرونکے انسان ډېر کبر او سراماسي په څه کوي، لکه بربوکۍ چې د نفس یا هوا لرلو نه بغېر سر نهٔ شي پورته کولے.**
**یو اخلاقي مضمون د شعر په نازکه پیرایه کښې داسې بیانیږي خو چې تخیل د شیدا وي-**

---

**نن د خالي ورځ ده-- درې بجې شوې- دې ورځې ته به مونږ ورځې شمارلې-- ګران دادا به د جمعې د ماذیګر نه زامنو ته وې حجره صفا کړئ -- سود سودا راوړئ- زما د زړه سود او سکون به راځي- زما ملګري به راځي- په دې ورځ به مونږ ګران دادا جوهر عدنان صاحب سره ناسته کوله- جوهر خلیل شیر احمد خلیل شهاب عزیز ارمان عباس خلیل هر یو به د خالي ورځ ته منتظر وو- اسلام اباد نه زما پیښور ته راتګ ته به یې سترګې نیولې وې چې دادا له به ځو- زمونږ په ژوند کښې نن وړومبی خالي دی چې خالي دی- د دادا د مادي وجود نه خالي- خو په روحاني توګه به مو تل د زړه په حجره کښې دادا ناست وي- هم هغسې لکه مونږ به چې د هغه په حجره کښې ناست وو- په دې مادي نړۍ کښې خلق یو ځل یتیمان کیږي خو مونږ څو واره یتیمان شو-- دغسې د خالي ورځ به وه چې د ډاکتر سهیل انشا په دیره کښې به همدغه ملګري راغونډیدو خو یوه ورځ ناګهانه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غږ وشو چې --- فلانی هم لکه ګرد و غبار تیر شو-- د ډاکټر صاحب نه محروم شو--په علمي او ادبي توګه یتیمان شو--همیش خلیل صاحب د عمر او ناروغی په داسې برید ولاړ وو چې په هره دویمه هفته د خالي په ورځ به پوښتنې له ورتلو خو د ډاکټر سهیل مرګ مو هم ترې پټ وساتلو- مونږ ته څه پته وه چې مونږ په دویم وار یتیمان کیدونکي یو--همیش صاحب هم رانه کډه وکړه-بس په جوهر عدنان دادا مو مینه ماتیدله-په هر دویم خالي به حجرې ته ورتلو--په ګڼو موضوعاتو به مجلس ګرم وو--په تصوف وحدت الوجود مذهب ادب سیاست ابن عربي مولانا رومي رحمان بابا کله کله فرعون شیطان او نور ډیر شخصیات- ژوند مرګ جنت دوزخ برزخ او نور ډیر موضوعات به زمونږ د بحث موضوع وه- دادا به د مرګ برزخ او جنت دوزخ خبرې ډیرې کولې- د مرګ نه یې هیڅ ویره نه وه- خو د خپل مرګ اګاهي ورته شوې وه - مونږ به ورته وییل جنت کښې به هم دغسې محفلونه کوو- د دادا د کتاب رمز مخ کتنه به هلته هم کوو--صدارت به یې رحمان بابا ته ورکوو- ټول جنتي ادیبان به راغواړو- دادا به وییل سمه ده خو اوس دې دنیا کښې چې اسلم تاثیر صاحب په ما او رمز کوم کتاب ولیکلو نو د چاپ نه مخکښې خو یې ما ته لوستلو له راکړئ کنه چې څه یې لیکلي دي- مونږ وې نه په تاسو پابندي ده-- دا کتاب به د چاپ نه پس ګورئ-- دادا دې دنیا نه لاړو د تاثیر صاحب کتاب به هم اوس هلته ورکوو--خو مونږ یې یو ځل بیا یتیمان کړو-- پاخه یتیمان-د دادا ځای اوس بل څوک نه شي نیوی--او نه مونږ بل چا سره هغسې د خالي د ورځې محفلونه کولی شو- البته که جنت ته لاړو او هلته هم د ورځو تصور وو نو دادا سره به مجلسونه هم د خالي په ورځ کوو-دغه اطمینان سره چې هلته به یتیم کیدل هم نه وي-خو زه او زما ملګري خو اوس دې مادي دنیا کښې یو-- دې مادي دنیا کښې نن د خالي ورځ ده-- د دادا د مادي وجود نه خالي- دغسې هر خالي به خالي وي--د دادا د مجلس نه خالي- په دغو موضوعاتو په هم هغه کیفیت کښې په هر راتلونکي خالي اوس چا سره خبرې کوو--بس یوه لاره پاتې ده چې دادا ته وواېو چې صبر کوه-- انتظار کوه-- مونږ هم در روان یو--حجره صفا کړئ-چایو سره خوږ سکرک هم هغسې تیار کړئ-د جوهر خلیل مذهبي او فلسفیانه پوښتنې جمع شوې دي--د شیر احمد صیب شریفانه اختلاف ته تیار اوسئ-- د شهاب عزیز په تصوف دریځ ته ذهن برابر ساتئ- د عباس خلیل د غالب او اقبال شعرونه هم واورئ-د مولانا روم مثنوي او د حنیف څلیل پښتو ترجمه به هم اورو--دادا در روان یو-- ځان یواځې مه ګڼه- چې زړه دې تنګ نه کړې--دلته هم زمونږ د زړه حجره کښې مونږ سره یې او هلته هم ستاسو حجرې ته در روان یو-- بس د یتیم کیدلو قیصه لاړه وفات شوه-ته ژوندی وې او ژوندی به یې-

---

پښتو ترجمه ---- حنیف خلیل
فارسي کلام--- ډاکټر علامه محمد اقبال

د خداې او انسان تر مینځه مکالمه

خداې

ما د خاورو اوبو 'څه جهان کړلو جوړ
تا ترې زنګ او تاتار' او ایران کړلو جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له خاورې پیدا' کړو فولاد په څه شان
تا تفنګ او شمشیر' او سنان کړلو جوړ
تبر جوړ کړلو تا' چې پرې بڼ کړې تالا
دا د مستو مارغانو قفس جوړ کړو چا

انسان

تا که شپه کړه پیدا 'ما کړه سازه ډیوه
تا کړه خاوره پیدا' ما کړه جوړه پیاله
تا خو شاړه میدان' بیابان کړل پیدا
ما په باغ کښې د ګل' کړه ترې جوړه وړمه
جوړوي چې له کاڼي هنداره' یم زه
زهر هم د شربت کړي په لاره' یم زه

فارسي کلام

محاورهٔ ما بین خدا و انسان

خدا

جهان را ز یک آب و گل آفریدم
تو ایران و تاتار و زنگ آفریدی
من از خال پولاد ناب آفریدم
تو شمشیر و تیر و تفنگ آفریدی
تبر آفریدی نهال چمن را
قفس ساختی طایر نغمه زن را

انسان

تو شب آفریدی چراغ آفریدم
سفال آفریدی ایاغ آفریدم
بیابان و کهسار و راغ آفریدی
خیابان و گلزار و باغ آفریدم
من آنم که از سنگ آئینه سازم
من آنم که از زهر نوشینه سازم

< ساقی نامه - در نشاط ... قطرهٔ آب >

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسانوي ادب (Fiction)
د مبتدي ليکونکيو د پاره

په منثور تخليقي ادب کښې د افسانوي ادب اهميت په هر دور کښې منلے شوے دے چې بنيادي توکے يې قيصه ده- د صنف يا ژانر په توګه افسانوي ادب کښې ډرامه، داستان، ناول او افسانه په وړومبي سر کښې شامل دي وروستو پکښې د ناولټ او افسانچې اضافه وشوه- دغه ټول اصناف په خپلو کښې ډېر مشترک خصوصيات هم لري او ډير امتيازي خصوصيات هم چې په دې ډول دي-

(۱) ډرامه او داستان
د افسانوي ادب وړومبنے صنف يا توکے ډرامه ده- يعني ادبي مېدان کښې له هر څۀ نه مخکښې د ډرامې تعارف شوے دے هسې خو د ډرامې لغوي معني ده په کولو سره ښودل- يعني د يو عمل واقعي، حادثې وغېره کړۀ وړۀ په حرکتونو او اوازونو څرګندول خو په عملي مېدان کښې د ډرامې د دغه تعريف پوره کولو نه وړاندې په ليک کښې د ډرامې وجود راغلے دے- او د ډرامې په حقله بحث او تبصره هم وړومبے په ليک کښې راغلي ده کله چې ډرامه ليک ته راغلے نو ځان سره ئې د قيصې وجود هم ليک ته راوړو- يعني کله چې ډرامه ليکلي کېده نو د دغه ډرامائي ليک په ذريعه به يوه قيصه مخ په وړاندې بوتلې شوه- دا قيصه به د مختلفو کردارونو د ژبې او عمل په واسطه متحرکه وه-د مصري تهذيب د يوې ډرامې ايبيډاس نه پس د ډرامې معلوم تاريخ د يونانيانو نه شروع کولے شي ټولو نه وړومبې ارسطو **Aristatle** په خپل کتاب **Poetics** شعريات کښې د شاعرۍ نه علاوه د ډرامې پحقله هم خبرې اترې وکړې د ډرامې په ضمن کښې په الميه او طربيه او درې وحدتونو (وحدت مکان، وحدت زمان او وحدت تأثر) هم تبصره وکړه خو د ډرامې بنياد يعنې قيصې نه ئې انکار ونۀ کړو- په دې وجه د ډرامې دغه بنيادي عنصر قيصې وروستو د افسانوي ادب په يو بل (داستاني) شکل کښې را څرګنده شوه او په داسې طريقه چې د قيصې او داستان فرق هم ختم شو- هسې خو قيصه د افسانوي ادب د ټولو اصنافو لکه ډرامه، افسانه او ناول بنيادي عنصر دے- خو د داستان نوم هم د قيصې د مترادف په حيث ياد کړے شو-

(ب) داستان او ناول
ناول د داستان ترقي يافته يا نوے شکل دے- دې دواړو اصنافو کښې د قيصې د حرکت نه علاوه نور ډېر مشترک خاصيتونه هم شته چې دلته يې مونږ وضاحت کوو- خو په مختصره توګه دا وئيل شايد ځائے ولري چې ناول دَ داستان نه زيږېدلے صنف دے- د داستان خراش تراش د ناول په شکل شوے دے د داستان ارتقائي صورت د ناول په کړۀ وړۀ کښې ليدے شي او د داستان جديد ترين شکل ناول دے- د داستان او ناول مشترک خصوصيت دا دواړه صنفونه يو بل سره تړي بلکې دغه خصوصيات د دواړو صنفونو تر مېنځه د پُل حېثيت لري، په دې وجه ئې وړومبے مشترک خصوصيات په لنډ شکل ليکو او بيا امتيازي خصوصيات-

مشترک خصوصيات

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱) د داستان او ناول ورومبے مشترک خاصیت خو دا دے چي دواړو صنفونو کښي د قیصي حرکت موجود وي-
(۲) د دواړو صنفونو کښي د کردارونو عمل او کرداري خصوصیات موجود وي-
(۳) دواړو اصنافو کښي تلوسه او تجسس په انتهائي درجه ځائے شوے وي-
(٤) دواړه اصناف واقعات او بیا د واقعاتو د تړون په ضمن کښي یو والے لري-
(٥) دواړه یو مقصد او مرام ته د رسایي د پاره لیکلے شي-
د دغو مشترکو خصوصیاتو سره سره دواړو اصنافو کښي ځیني امتیازي خصوصیات هم شته- د کومو په ذریعه چي د دواړو صنفونو پولي بڼیلي شوې دي او نقادان ئ دَ فني تجزیې نه پس بیل بیل صنفونه ګڼي- د هغې ذکر هم په لنډیز سره کوؤ-

امتیازي خصوصیات
(۱) داستان او ناول کښي ورومبے فرق دا دے چي داستان د ژوند د رښتینو واقعاتو نه لرې د مافوق الفطرت پیریانو دیوانو، ښاپیرانو د واقعاتو ځرګندونه کوي- او ناول د انساني ژوند د حقیقي پیښو ترجماني په فني پیرایه کښي کوي-
(۲) د داستان ژبه خطابیه، واعظانه او پرتکلفه وي او د ناول ژبه د کردار د مزاج سره سمه استعمالولے شي-
(۳) داستان کښي اخلاقي درس او دیني وعظ و نصیحت نه ډک پیغام او نتیجه ښودلے شي- ناول د دې نه علاوه نور ډیر موضوعات او تنوع هم لري-
(٤) د داستان خاصیت دا دے، چي عمومًا په قیصه کښي قیصه پیدا کوي- او هره قیصه بیا ځان له هم یوه مکمله قیصه وي، چې د داستان ټول خصوصیات پکښي موجود وي خو ناول د دغو قیصو نه خالي وي- او صرف یوه لویه قیصه لري چي ځني وړې واقعې ورسره ملګرې شي او لویه قیصه مخ په وړاندې بیائي-
(٥) ناول یو موزون فني ترتیب او رابطه لري، خپل جوړښت، لري- داستان څۀ خاص فني نمونه نۀ لري البته خطابیه انداز ئ عمومي فني خاصیت دے-

(ج) ناول او افسانه
لکه څنګه چي د ډرامې او داستان تر مینځه او داستان او ناول تر مینځه ربط موجود دے- دغه شان د ناول او افسانې تر مینځه هم یو فني تړون شته دے هسې خو د افسانې وجود کښي د راتلو په لړ کښي دا خبره نقادانو کړې ده- چي کله انسان په خپلو مصروفیاتو کښي دومره بوخت شو، چي د ناول لوستلو وخت ئ نۀ لرلو، نو د اختصار له وجې ئ د افسانې یا لنډې قیصې تخلیق وکړو، چي په لږ وخت کښي د یو لیک نه خوند او مزه واخلي- ګویا د ناول او افسانې تر مینځه بنیادي فرق د طولت او اختصار دے- خو خبره داسې ده، چي د دغه بنیادي فرق نه علاوه ځني فني او ساختیاتي فرقونه هم د دې دواړو صنفونو تر مینځه شته- چې مونږ پرې دلته بحث کوؤ- خو دا خبره ذهن کښي ساتل پکار دي، چي دغه نور فني فرقونه هم عمومًا د هم دغه طوالت او اختصار لۀ نس نه زیږیدلي دي- او ځني فرقونه د لیکونو د ذاتي اسلوب او اسلوبیاتي تجربو په ضمن کښي وجود موندلے دے-

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرقونه

(۱) افسانه د ژوند د یوې واقعي ترجماني په ډېر اختصار سره کوي- د دې په مقابله کښې ناول د ژوند د یوې واقعي بلکې د ګڼو واقعاتو ترجماني په ښهٔ تفصیل سره کوي-

(۲) افسانه د واقعي او حادثي په غټو خبرو او لوازماتو رڼا اچوي ولې ناول د واقعاتو اجزاء هم راخلي- او یوه ژوره تجزیه پېش کوي-

(۳) افسانه کښې د یوکردار کرهٔ وړهٔ په وضاحت او صراحت سره وړاندې کولے شي- خو ناول کښې د ګڼوکردارونو جوتونه ګرانه وي-

(٤) افسانه د اختصار په وجه دومره سسپنس او د واقعاتو بدلون یا ډرامائي انداز نه لري څومره چې په ناول کښې د دې ګنجائش دے-

(٥) افسانه کښې د افسانې ټول عناصر په متوازنه توګه ځایول ګران کار دے، ځکه چې د اختصار باوجود د فني اجزاؤ خیال ساتل او بیا د دغو فني عناصرو ربط او توازن ساتل ډېر مشکل کار دے خو په ناول کښې لیکونکي نه فني غلطۍ ډېرې نهٔ کیږي- د هغه ګرفت هر وخت په لیک مضبوط وي- ځکه چې هغه سره د فني توازن ساتلو د پاره ډېر وخت او ګنجائش وي-

(د) ناولټ او افسانچه

ناولټ د ناول مختصر شکل دے چې تقریباً ټول فني خصوصیات یٔ د ناول دي، خو صرف د اختصار فرق دے ناولټ د ناول او افسانې تر مېنځه ضخامت لري، یعني دا دَ ناول نه مختصر او د افسانې نه طویل وي- ځکه دې ته مختصر ناول یا طویله افسانه هم وئیلے شي- خو طویله افسانه وئیل درست نهٔ دي، چې د دې فني خصوصیات د افسانې نه بلکې د ناول دي- ځکه ورته صرف مختصر ناول یا ناولټ وئیل پکار دي- دغه شان افسانچه د افسانې مختصر شکل دے- مطلب دا چې کله انسان دومره مصروف شو چې د افسانې لوستلو وخت او فرصت هم نهٔ لري نو د افسانچې تخلیق وشو- افسانې هم دوه قسمه وې په مغربي ادب کښې ورته طویله افسانه وئېل پکار دي- بهرحال افسانچه هم د افسانې فني خصوصیات لري- او دغه شان ناولټ او افسانچه دواړه د افسانوي ادب جدید توکي دي، چې ټول افسانوي ادب سره شریک فني خصوصیات لري-

---

ویدي ادب او د سیارو چکر

هسې د ویدونو تعلیمات هم کله کله بنده حیران کړي--- ویدونه څلور دي- رګوید-- اتهر وید-- یجر وید-- او-- سام وید-- زمانه یې څېړونکیو دوه زره کاله د حضرت عیسی علیه السلام نه مخکښې او نن نه څلور زره کلونه پخوا ښودلې ده- سوامي دیانند سرسوتي یو هندي لیکوال د څلورو واړو ویدونو یوه څېړنه کړې ده چې د ټولو ویدونو حوالې یې پکښې راخستي دي- د دغه څېړنې تر مخه د یجر وید په نهم ادهیاے شپږم منتر کښې د نمر زمکي او سپوږمۍ په اړه وییلي شوي دي چې---
دغه ټولې کرې او ورسره نورې هم په انترکش یعني خلا کښې چکر وهي- ګتو یعني نمر د جما یعني زمکي پلار دی چې زمکه د خپل ځان نه چاپیره په چکر کښې ساتي- جما د سوم یعني سپوږمۍ مور ده چې دغه سپوږمۍ د خپل ځان نه چاپیره چکر کښې ساتي-- مطلب دا چې سپوږمۍ د زمکي نه چاپیره چورلي او زمکه د نمر نه--
همدغه خبره د رګوید په شپږم شتک څلورم ادهیاے دیارلسم ورګ دریم منتر کښې هم شوې ده-

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه دور دی چې د فلکیاتو ستورو او سیارو د چکر او ګردش په اړه لا په یوناني علم او سرچینو کښې هم څه نه وو- تر دې چې دغه هومره څرګند مباحث په مصري او سومیري تهذیبونو کښې هم نه تر نظره کیږي-او بیا جدید ساینس خو دغه نتیجې په ۱۹۲۹ کښې د هبل ټیلي سکوپ د ایجاد نه پس ښودلې دي-
څه موده وړاندې ما د پښتني سیمې د بخشالي قلمي نسخې په اړه هم یو لیک کړی وو چې په قبل مسیح دور کښې د ریاضی او نورو فطري علمونو په اړه پکښې معلومات خوندي وو-- تردې چې د صفر او نورو شمیرو تصور هم له دې ځایه د بخشالي نسخې په لاره نړی ته رسیدلی دی-- ځکه زه دې نتیجې ته رسم چې وادۍ سند یا د هند او پښتنو سیمه څلور زره کاله پخوا هم د فطري او ټولنیزو علمونو مرکز وو چې د یونان نه هم مخکښې د مصري او سومیري تهذیبونو سره سیالي کوي- زمونږ اوسني نسل که د دغه د بخشالي قلمي نسخې په انساني علم کښې کومه نوې اضافه په زرګونو کاله کښې هم ونه کړی شوه نو کم نه کم چې په خپل دغه میراث دومره څیرنه خو وکړي چې حقیقت او علمي مقام او حیثیت یې رامخکښې او جوت شي-

---

په لیمه کښې ئې د خس په شان غړیږه
تابه سبز کا سپهر کهکشانه

شرح:
سپهر آسمان ته وائي، او کهکشان آسمان کښې د ستورو ټولي یا ګروپ ته وائي، شیدا کهکشان ته مخاطب دے، چې هر وخت د آسمان په سترګو کښې اوسه نو یوه ورځ به دې اسمان راوټوکوي، سرسبز به دې کړي.
نور وضاحت:
فني باریکۍ ته یې غور وکړي، په سترګو کښې لکه د خس غړیدل محاوره هم ده یعني هر وخت ځان وړاندې وړاندې کول - آسمان کښې ستوري هم هغه وخت ځلا کوي، چې آسمان شین وي، ګویا وریځ نۀ وي، نو شیدا ورته سبز تورے راوړے دے. په زمکه چې بوټي سر سبزه کیږي نو هم ورته اوبه د آسمان د لوري راځي، ګویا د سرسبزه کیدلو ذریعه یعني اوربځ لاندې راووریږده نو په زمکه ئې بوټي شنه کړل او پورته آسمان هم شین شو. زمکه هم شنه شوه چې وریځ پرې راووریده او اسمان هم شین شو چې وریځ ترې لاندې راغله - اوس د کهکشان سر سبزه کیدل څنګه وي، هغه داسې چې آسمان شین وي. وریځې ترې لاندې زمکې ته د باران په شکل راغلې وي، نو پاس آسمان کښې ستوري هم پرقیږي، ګویا د آسمان په پټي کښې چې د ستورو کومه کرونده شوې ده، هغه شنه شوه، او دا ولې شنه شوه، ځکه چې کهکشان یا ستورو آسمان نه پرېښو، هر وخت به ورته لکه د خس په سترګو کښې غړیدو، نو بس آسمان هم مجبور شو چې خپل دغه فصل راشین کړي، یعني ستوري وځلوي، بیا دې ته هم غور وکړئ، چې کهکشان په آسمان کښې ښکاري نو دا داسې منظر پیش کوي، لکه د آسمان په سترګو کښې چې خس وي، ګیا وي، یا بوټي وي. او دې ته هم غور وکړئ چې اسمان داسې غوړیدلی ښکاري لکه پټی چې غوړیدلی ښکاري- پیغام دا چې د خپل مقصد او مرام ترلاسه کولو د پاره تل او دوامدار کوشش سره هر څومره لوې کار تر سره کیدی شي- ځکه وایم چې شیدا د شعر په دوو مصرعو کښې پوره جهان راګیروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انجمن اصلاح الافاغنه د قيام بختوره ورځ

نن په ورومبي اپريل ډيرو پښتنو خپل اپريل فول نمانځلو خو په دې ورځ يو سل څلور کاله مخکښې د جوړ شوي يو لوې ادبي او اصلاحي غورځنګ او د دغه غورځنګ د تاريخي بخښنو په لور يې توجو ډيره کمه وه- کله چې باچا خان په ورومبي اپريل ۱۹۲۱ کښې انجمن اصلاح الافاغنه تنظيم جوړ کړو او بيا په ۱۹۲۹ کښې خدايي خدمتګار تحريک ته بدل شو نو چا ته پته وه چې-- پښتو ته به ډرامه دا تحريک ورکوي--- پښتو ته به رپورتاژ د باچا خان د خپل رپورتاژ --د شلمې پيړۍ تهذيب او زمونږ جيلخاني-- په شکل دا تحريک ورکوي--- پښتو کښې د تاريخي افسانه نګارۍ روايت به دا تحريک جوړوي-- پښتو ته به ترقي پسند ادب د هندوستان د انجمن ترقي پسند مصنفين د قيام ۱۹۳۵ نه هم مخکښې دا تحريک ورکوي--- پښتو ته به د تنظيم سازۍ او ادبي ټولنو روايت دا تحريک ورکوي--- پښتو ته به د ادبي صحافت ورکړه د پښتون مجلې په شکل دا تحريک کوي--- پښتو کښې به د انګريزۍ نه علاوه د هند بنګال او ترکي ادب د پښتو ترجمو په صورت کښې دا تحريک راوړي او ورسره به د ترجمه نګارۍ روايت هم عام کوي-- پښتو کښې به د مکتوب نګارۍ روايت ته وده دا تحريک ورکوي--- پښتو ته به د حقيقت نګارۍ ادبي روايت دا تحريک ورکوي--- پښتو کښې د ښځينه ليکوالو تربيت به دا تحريک کوي--- پښتو کښې د انعامي مشاعرو اغاز به دا تحريک کوي--- پښتو کښې د ادب نه علاوه د نورو فنون لطيفه يا ښکلو هنرونو لکه موسيقي اداکاري مصوري سټيج وغيره روزنه به دا تحريک کوي--- پښتو ادب کښې د سياسي شعور بيداري به دا تحريک راولي-- د پښتو ژبې د ودې او بقا عملي هڅې او نصابي هڅونه به دا تحريک کوي--- پښتو ته د مقصدي شاعرانو او اديبانو يو لښکر به دا تحريک ورکوي-- دا فهرست خو ډير اوږد دی خو هغه کوم علمي او ادبي ميدان دی چې د انجمن اصلاح الافاغنه او خدايي خدمتګار تحريک کردار پکښې اساسي نه دی-- خو بيا هم چې د پښتو د ادبي تحريکونو ذکر کيږي نو دغه انجمن او خدايي خدمتګار تحريک پکښې نه وي-- که څو سندي مقالې پرې ليکلی شوې هم دي خو زما خيال دی د دې تحريک په ادبي خدماتو انګريزۍ او نورو نړيوالو ژبو کښې کار پکار دی چې نړۍ خبر شي چې دا يوازې سياسي تحريک نه وو بلکې يو لوې ادبي تحريک هم وو چې هر ميدان کښې د اوليت څهره يې هم په سر ده---که د اپريل فول نه اوزګار شو نو لږ دې لور ته هم بايد توجو وکړو-
حنيف خليل

روښاني تحريک سياسي وو که مذهبي

دغه پوښتنه يو فيسبک ګروپ کښې شوې وه چې د ګران سليم خان صاحب په غوښتنه مې ورته دغه وضاحت کړی وو-
ډير ګران سليم خان صيب---

تاسو ته پته ده چې د پخواني هند په سيمه د لودهيانو او مغلو شخړه د بابر نه رانښليدلې وه-- او شيرشاه سوري نه بيا په دغه سيمه د پښتون او مغل سياسي کشمکش نور هم شدت اختيار کړی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې د اکبر په وخت کښې هم دغه شدت موجود وو--پير روښان که پخپله انصاري خاندان نه وو خو هغه د پښتنو په ننګ دغه سياسي کشمکش کښې ډير مهم کردار لرلو البته هغه ته ضرورت د دې خبرې وو چې خپل افرادي قوت کښې اضافه وکړي- دغه دور داسې وو چې په پير و مرشد او روحاني شخصيت به خلق په اسانه راغونډيدل او پير روښان هم د خپل مذهبي دانش او صلاحيت نه دغه ګټه واخسته چې خلق يې راغونډ کړل-- د هغه په مريدانو کښې يو شمير غير پښتانه هم شامل وو خو هغوئ هم د مغل اکبر خلاف د پير روښان مرستيال وو ځکه د پير روښان دغه  مذهبي او روحاني مجمع راغونډول هم د مذهبي نه زيات د سياسي مقصد د پاره وه چې مونږ ورته پښتني قامي غورځنګ هم وييلی شو هر څو که هغه په وړومبو ورځو کښې اکبر ته د نزديکت هڅه هم کړې وه- د خپل مريد په لاس يې پيغام هم ورليږلی وو- تحفې يې ترې هم قبولې کړې وې خو انجام يې د اکبر او مغلو په مخالفت او جنګي مبارزو سر ته رسيدلی وو--ځکه د پير روښان او د هغه مريدانو ليکونه بغير د حالنامې نه که نور ټول مذهبي وو خو مقصد يې خپل سياسي قوت کښې اضافه او د مغل خلاف مبارزه وه چې حالنامه دغه حالات مخې ته راوړي او په نتيجه کښې يې مونږ روښاني تحريک ته يو سياسي او قامپال تحريک وييلی شو**

---

**چې هلال ته لکه ستوري**
**ډير په غټو سترګو ګوري**
**په رويت يې مسرور تر شي**
**په عجلت يې زر اختر شي**

**وضاحت......شيدا دغه مشاهده د شعر نه د معنا راويستلو او ترې خوند اخستلو د پاره بيان کړې ده.هلال د سپوږمۍ د نرۍ کربښې په شکل هغه حالت وي چې په اسانه په نظر نه راځي- ليدل يې ډير دقت غور او توجه غواړي ګويا په غټو سترګو ورته د کتلو ضرورت وي- ستوري غټ وي لکه د غټو سترګو او رڼا هم کوي لکه د غټو سترګو نظر- خو د دغو غټو سترګو ځلا هله زياتيږي چې تياره راخوريږي او چې تياره راخوريږي نو ورسره هلال هم ورو ورو راښکاره کيږي -دا داسې ده لکه ستورو چې په ډير دقت او توجه په غټو سترګو هلال ته کتل او چې هلال يې تر نظره شو د هلال رويت يې وکړو نو سرور او مسرت يې محسوس کړو او بيا نور هم وپړقيدل بلکل همداسې لکه چې د اختر په شپه انسانان په غټو سترګو کتلو سره د هلال رويت وکړي نو مسرور شي خوشاله شي او پرې اختر شي او د اختر په موقع پاکو نوو او په زياتو موقعو سپينو پړقنده جامو کښې لکه د ستورو وځليږي- او بيا ستوري ته هم په فارسی کښې اختر وايي- دغه د اختر غونډې سرور به د شعر نه هم هله اخستلی شي چې شعر کښې پټ پروت د هلال غونډې نازک او رنګين مفهوم ته رسايي ممکنه شي- دا رسايي به هم هله ممکنه کيږي چې دشعر مفهوم ته په غټو سترګو کتلی شي يعني په غور دقت او توجه د معنا او مفهوم ځلا ته رسايي وشي-نو بس همدغه د لوستونکي سرور هم دی او د عجلت يعني تيزۍ او تلوار اختر هم دی.**

**اختر هم راغلو خو چې د هلال رويت ته لکه د ستورو په غټو سترګو متوجه شو-ټولو مينه والو ته دې اختر مبارک وي-**

---

**سليم راز --- کره نقاد--- کل وقتي ليکوال**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن د راز صاحب د زیږون ورځ ده- د هغه پلار پولیس کښې ډي ایس پي وو-- پخپله لوستی سړی وو-- سرکاري نوکري یې کولې شوه خو طبیعت یې سیاست صحافت او ادب ته جوړ وو ځکه ټول ژوند یې په دغو لارو د پښتون اولس خدمت ته وقف کړی وو--دوه درځنو نه زیات کتابونه یې چاپ دي او دغه هومره یې ناچاپ مسودې هم شته چې بچي یې اوس وار په وار دغه مسودې چاپ کوي- دوه کامیاب عالمي کانفرنسونه او د انجمن ترقي پسند مصنفین د سیوري لاندې تنظیمي خدمات یې هم بې مثله دي خو ښکاره پیژندګلو یې د یو سوچه او بې رویه بې ریا نقاد ده-
زهٔ چې سلیم راز صېب ته کره او کل وقتي نقاد وایم د هغې خپله زهٔ یو جواز داسې پېش کوم چې سلیم راز صېب که شاعري کوي نو په شاعرۍ کښې هم نقاد دے هغه د ټولنې د ډېرو خامیو او بدرنګیو نقاد دے او د ډېرو ښائستونو او خوبیو شارح دے- سلیم راز ''له باړې تر باړه ګلې'' شاهکار رپورتاژ لیکلے دے هغه په رپورتاژ کښې هم نقاد دے- هغه د مختلفو ادارو په خدماتو او په هغه خدماتو کښې چې چرته کوتاهۍ دي کمۍ دي په هغې تنقید کوي هغه د ادب سمتونه د ادب اړخونه درست کوي او نېغوي- هغه په خپل رپوتاژ کښې په ځینو انساني رویو په ځینې سرکاري ذمه دارو او د ځینو ادارو په خامیو او غفلت ډېره بې باکۍ سره تبصره کوي - دغه شان راز صېب چې نور کوم لیکونه کړي دي په هغې کښې هم نقاد دے- د راز صېب ګڼ شمېر مرکې چاپ دي، ګڼ شمېر لیکوالو هغوي سره په مختلفو ادبي، علمي، سیاسي، سماجي، صحافتي موضوعاتو بحث مباحثې کړي دي خبرې اترې کړې دي، مرکې کړې دي، د مرکو په شکل د راز صېب بېل بېل کتابونه چاپ دي- د پښتو مرکو کتاب ئې چاپ دے- د اردو مرکو کتاب ئې چاپ دے- هغې کښې هم د راز صېب همدغه موضوعات دي کوم ته چې مونږ د دې دور علمي او تنقیدي موضوعات وایو- د راز صېب د کالمونو یو مجموعه چاپ ده چې هغه په خپله د خپل دور د ډېرو اهمو رجحاناتو ترجماني کوي- هغه یو کُل وقتي کالم نګار هم دے یا هغهٔ ته مونږ دا وئیلے شو چې په سوونو نهٔ په زرګونو کالمونه ئې لیکلي دي راز صېب په اردو کښې هم کالم نګاري کړې ده په مشرق او آج اخبارونو کښې ئې لیکل کړي دي- په پښتو کښې ئې هم کالم نګاري کړې ده په وحدت او په ځینې نورو ورځ پاڼو کښې هم- راز صېب صرف د کالم نګار تر حده صحافي نهٔ دے هغوي د ادبي او صحافتي مجلو د مدیر په حېث هم خپل صحافتي خدمات ترسره کړي خو په دغه ټولو لیکونو کښې سلیم راز صېب چې مونږ ته په کوم شکل رامخ کیږي نو د یو ډېر رښتوني، بې باکه، بې رویه، بې ریا نقاد په حېث هغه زمونږ مخې ته راځي او زهٔ به دا هم اووایم چې د راز صېب دغه د تنقید اړخ د هغوي دغه نثري رجحان او د دوي دغه ترقي پسند سوچ د هغوئ ځینې اړخونه پټ هم ساتلي دي-
راز صېب د ډېرې اعلیٰ پائې شاعر دے، ''زهٔ لمحه لمحه قتلیږم'' نه مخکښې هم د هغوي شعري مجموعه چاپ وه او وروستو یې هم مجموعه چاپ شوه- په دغه شاعرۍ کښې راز صېب د یو ډېر اوچت شاعر په حېث د یو ډېر رجحان ساز شاعر په حېث مخې ته راځي خو د دغه نورو اړخونو په وجه زمونږ د محققینو او نقادانو نه د راز صېب د شاعرۍ دغه اړخ د نظر نه پناه شوے دے- حال دا دی چې د هغوي ځینې شعرونه دومره ښکلي دي چې هغه په عام محفلونو کښې خلق وائي او رښا ترې اخلي - هغهٔ دا هم وییلي دي چې:

سرحدونه مې نظر کښې نهٔ ځائیږي
د نړۍ د هر وطن زهٔ باشنده یم

یعني د آفاقي تصور دغه خورونه د شعر په ژبه سلیم راز صېب څومره په ښکلي انداز کړې ده- دغه شاعرۍ کښې هم راز صېب نقاد دے - د هغوئ د باقاعده تنقید کتاب دے ''تنقیدي کرښې''- د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنقيدي کرښې د نوم نه څرګنده ده چې په دې کښې راز صيب څۀ ليکلي دي هغه تنقيد دے خو د دې باوجود د دې کتاب لوستونکيو د دې کتاب په حقله چې کومه رايې قائمه کړې ده هغوي د تنقيد نه علاوه ځيني نورو اړخونو ته زياته توجه کړې ده خو زه وايم چې راز صيب په خپل هر ليک کښې يو سوچه کره او بې رويه بې ريا نقاد دی--- او ورسره يو کل وقتي ليکوال هم- روح يې ښاد--
حنيف خليل

---

ادبي چتي--- يوه خاطره

دغه --ادبي چتې-- نوم يا لقب ما او ډاکټر اظهار ته ډاکټر سلمى شاهين بي بي په هغه وخت کښې راکړى وو چې زه او اظهار دواړه زلمي وو او د ادب په ميدان کښې نوي يا نو وارد وو- سلمى بي بي ته ما په هغه وخت کښې هم احترام لرلو او اوس يې هم لرم- نن نه پنځه ويشت کاله مخکښې چې زما کتاب ايپنې چاپ شو دا د پښتو په جديدو شاعرانو ليکلى شوى کتاب وو چې د حسينه ګل په نوم يې ترون هم شوى وو او د هغې يوه حواله نيمه هم پکښې راخستى شوې وه خو د سلمى بي بي ذکر پکښې نه وو شوى- دغې نه لږ مخکښې ورځو کښې په پښتو ناول هم زما تحقيقي کتاب چاپ شوى وو چې د سلمى بي بي د ناول-- که رڼا شوه-- په حقله پکښې صرف دوه جملې وې او هغه هم تنقيد -- همدغه دور وو چې د اظهار صيب کتاب -- اوازونه او دايرې-- هم چاپ شو-- دا هم په معاصرو پښتنو شاعرانو او نوې شاعرۍ ليکلى شوى وو خو د سلمى بي بي ذکر پکښې سم نه وو شوى-- نو دا زمونږ کوتاهي خو وه شايد ځنې خلق يې ګستاخي هم وګڼي -- بس سلمى بي بي خو هم له چا نه کمه نه وه- د پښتو اکيډمى پښتو مجله کښې يې په مونږ دواړو يو ليک وکړو او عنوان يې ورکړو --ادبي چتې-- خلاصه يې دا وه چې پښتو ادب کښې يو دوه چتي راپيدا شوي دي-- په وړه خله غټې خبرې کوي خو ادبي حيثيت يې د چتو نه زيات نه دى-- ما په هغو ورځو کښې هم دغه --لقب-- نه ډير خوند اخستى وو او اوس هم چې راياد شي نو خوند ترې اخلم-- سلمى بي بي که دغه خبره د غصې نه هم کړې وې خو خبره يې درسته ځکه ده چې زمونږ حيثيت اوس هم د چتو دى--چتے په مارغانو کښې د ټولو نه وړوکى مارغه دى او مونږ په اديبانو کښې د ټولو نه وړوکي- په قد قامت هم وړوکي او په ادبي حيثيت هم وړوکي-- خوشحاله ورته په دې يم چې چتے په اسانه د ښکاري د ګوذار نخښه کيږي نه - خداې دې وکړي چې مونږ هم د چا ښکاري د ښکار نخښه نه شو- زما او د ګران اظهار مينه دې قايمه او دايمه وي-

---

ليدلورى او فليش بيک--- د ناول فني توکي

د ناول په فني يا هنري توکو کښې کردارونه مکالمه ژبه پلاټ تهيم قيصه سسپنس نکته عروج پيغام وغيره خو هر څوک پيژني خو دلته د څو هغه هنري توکو وضاحت هم کوم چې کم پيژندلى شوي دي-دغه توکو کښې يو زاويه نظر هم دى چې ليدلورى ورته هم وايي-
ليدلورى--- ليکونکى چې کله ناول ليکي نو هغه که پخپله هم په ناول کښې يو کردار وي نو بيا ژبه هم ادبي او شايسته راوړلى شي او د کوم کردار نفسيات هم بيانولى شي تر دې چې د يو کردار د زړه او ذهن خبره هم کولى شي- خو ليکونکى که پخپله د قيصې او واقعاتو برخه او کردار نه وي نو بيا هغه محض د راوي حيثيت لري- يعنې د واقعاتو روايت کوي- په داسې حال کښې به ليکونکى

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه ماحول نفسيات او ټول شاليد د کردار د مزاج مطابق راوړي- هغه به پخپله مداخلت نه کوي- خپله راې خوښه او ناخوښه به نه شريکوي- د هغه کردار که لوستی وي-- وکيل جج پروفيسر يا بل کوم باشعوره فرد وي نو کردار له به ژبه ماحول او نفسيات هم د هغه کردار سره سم ورکوي- او که کردار نالوستی دوکاندار ټانګي وال موچي مزدور وغيره وي نو بيا به هم ژبه ماحول او نفسيات د کردار مطابق پکار وي- شريف دې شريف ښکاره شي او بدماش دې بدماش وليدی شي- دغه هر څه دې د ليکونکي د معيار ښکاره نه شي بلکې د کردار د معيار دې ښکاره شي- البته ليکونکی دې د هر کردار د کړه وړه مشاهده ژوره او اصلي ولري چې کردار په خپل حال کښې اوريجنل ښکاره شي-- دغسې کولو سره ګويا ليکوال د ليد لوري يا زاويه نظر هنري توکی په ځاې راوړلو کښې بريالی دی چې کردار او ماحول ته يې د مناسب لوري او زاويې نه کتلي دي-
فليش بيک--- د ناول قيصه د يو مناسب اغاز نه سر رانښلوي - بيا مخ په وړاندې ځي او د انجام په لور حرکت کوي-- دې دوران کښې ليکوال کله کله نورو اړوند واقعاتو ته متوجو کيږي او د اصلي قيصې د ارتقا نه لرې ځي خو بيا د قيصې منطقي ربط او ارتقا ته واپس راځي- دا په ناول کښې د فليش بيک يو صورت دی-- دويم صورت يې دادی چې ليکونکی د ناول شروع د يو داسې ځاې نه وکړي چې هغه د قيصې د وروستی برخې او انجام سره اړه لري خو ليکونکی بيا په چل او هنر د قيصې وړومبې واقعات په ناول کښې وروستو بيان کړي او وروستي واقغات اول راڅرګند کړي او د يو اوږد بحث نه پس هغه د انجام نکتې ته راورسي چې د ناول په اغاز کښې يې کومه نکته راوړې وه-- داسې کولو سره هغه خپل ناول کښې سسپنس او تلوسه زياتول غواړي او لوستونکی ځان سره متوجو او په قيصه کښې ډوب ساتل غواړي-- دا په ناول کښې د فليش بيک دويم صورت دی- يعني وروستی خبرې مخکښې کول او بيا د قيصې غوټې پرانستل او د نکته عروج يا منطقي انجام په لور واپس ړاتلل-
نور هنري توکي بيا-----

---

علامه اقبال د مسلمانانو د زوال او تباهی درې غټ اسباب ښودلي دي --- د خلافت نه ملوکيت او بادشاهت ته راتلل
--- د ملا په پنجه کښې راګيريدل
--- او د بې عمله پيرانو صوفيانو په لاره تلل ---
دغه تناظر کښې يې خپل يو نظم کښی مسلمانانو ته د يو غيبي اواز په علامتي انداز کښې د خپلې باوقاره ماضي ياد د پاره ډير ښکلی نظم په ډير جلالي انداز کښې ليکلے دے چې ما يې پښتو کښې د ترجمې هڅه کړې ده ----ملکرو سره يې شريکوم ---- حنيف خليل

غيبي اواز ----

سحر سبا رادرومي له اسمانه يو اواز
تا څنګه وبايللو هنر هاغه د ادراک

ستا څنګه شوله پسه هغه توره د تحقيق
دا ولې له تا نۀ شولو د ستورو ځيګر چاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظاهر او په باطن يې ته ښتن د خلافت
لمبې هم چرته کړې غلامي ده د خاشاک

دا ستوري نمر سپوږمۍ دې ولې نه دي لاس په نام
ستا ولې له نظره چې لرزيږي نه افلاک

منم چې په رګونو کښې دې وينه ځي راځي
نۀ هغه ولوله شته او نۀ سوچ هغه بې باک

رڼا به لري ډيره خو جهان نۀ شي ليدی
پردې د کومو سترګو چې نظر نۀ لري پاک

دا ځکه خو شوې خلاص له ايينه غوندې ضمير
راګير چې په حلقه شوې د سلطان ملا او پير

اردو نظم ----اواز غيب ---علامه اقبال

آتي ہے دم صبح صدا عرش بريں سے
کھويا گيا کس طرح ترا جوہر ادراک!

کس طرح ہوا کند ترا نشتر تحقيق
ہوتے نہيں کيوں تجھ سے ستاروں کے جگر چاک

تو ظاہر و باطن کي خلافت کا سزاوار
کيا شعلہ بھي ہوتا ہے غلام خس و خاشاک

مہر و مہ و انجم نہيں محکوم ترے کيوں
کيوں تري نگاہوں سے لرزتے نہيں افلاک

اب تک ہے رواں گرچہ لہو تيري رگوں ميں
نے گرمي افکار، نہ انديشہ بے باک

روشن تو وہ ہوتي ہے، جہاں بيں نہيں ہوتي
جس آنکھ کے پردوں ميں نہيں ہے نگہ پاک

باقي نہ رہي تيري وہ آئينہ ضميري

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے کشتہء سلطاني و ملائي و پيري

---

د ناول فني توکي--- د مبتدي زده کونکيو د پاره

په فيکشن (Fiction) او بيا په ناول کښې د ټولو نه بنيادي جز قيصه ده- دغه قيصه د مختلفو واقعاتو او حادثاتو د ربط او جوړښت نه وجود کښې راځي- دغه ربط او جوړښت ته پلاټ وئيلے شي- د پلاټ جوړښت د مختلفو اشخاصو يا نورو ساه لرونکيو په ذريعه مخې ته راځي- او قيصه حرکت کوي- اشخاصو يا سالرونکيو ته د ناول کردارونه وئيلے شي- په کردارونو کښې چې کوم په ټوله قيصه کښې په يو انداز روان وي او خپل شکل نۀ بدلوي- هغې ته (flate) يا جامد کردارونه وائي- او کوم چې د واقعاتو او پلاټ دَ تقاضې سره سم خپل شکل بدلوي هغو ته (round) يا متحرک کردارونه وائي- لوې کردار ته( ميجر)او وړو کردارونو ته (mioner roles) يا (suposting roles) وئيلے شي- کوم لوئي کردار چې په ټوله قيصه کښې جوت او پېش پېش وي هغې ته مثالي يا (type) کردار وئيلے شي- دغه کردارونه د ژوند د يوې مسئلې يا ډېرو مسئلو ښۀ او بد او دَ هغې عوامل او نتيجې راوړاندې کوي چې د فيکشن په ژبه کښې ورته فلسفۀ حيات وائي- بيا مسئلې په داسې حېرانوونکې فضا کښې راوړاندې کولې شي چې لوستونکي ته په هر قدم يوه نوې نتيجه او تلوسه ورکړي دې ته د فيکشن په اصطلاح کښې سسپنس وائي- دَ واقعاتو پېښېدل په يوه فضا او مقام کښې وي- ناول نګار دَ هغه فضا او مقام تصوير هم په لفظونو کښې پېش کوي کوم ته چې منظر کشي وئيلے شي- ناول کښې چې کوم کردارونه شامل وي د هغو کړۀ وړۀ کۀ ناول نګار پخپله بيانوي، نو دغه ناول ته بيانيه ناول وائي او کۀ د کردارونو تر مېنځه د تبادله خيال يا کلام او خبرو پۀ ذريعه د کردارونو کړۀ وړۀ رامخې ته کړے شي نو دغې ته مکالماتي ناول وئيلے شي او د کردارونو تر مېنځه تبادله خيال يا خبرو اترو ته مکالمې وائي- د ناول قيصه خپل انتهائي مقام ته رسېدلو نه پس د قيصې نتيجه راوځي دغه نتيجې ته تهيم يا مقصد يا پيغام او انتهائي مقام ته نکته عروج وئيلے شي- دې نه علاوه د ناول په نورو اجزاؤ کښې د زاويه نظر-- فليش بيک-- پوئېټک جسټس (Poetic Justice) او تصادم (conflect) اهميت هم کافي دے- دا بحث لږ نور وضاحت غواړي خو ما صرف اشارې وکړې-

---

کامرېډ بهګت سنګهه ته د پښتنو درناوی

نن درويشتم مارچ دی-- په دې ورځ کال ۱۹۳۱ کښې د پيرنګي د ظلم او جبر په نتيجه کښې د ازادئ پتنګ بهګت سنګهه او د هغه دوو ملګرو سکديو او راج ګورو ته د پهانسی سزا ورکړی شوې وه--- دا وخت بهګت د څلور ويشت کالو زلمی وو- بهګت او د هغه يادو شوو دوو ملګرو نه علاوه جيتن داس --اجهے کمار ګهوش-- او --دت-- درې نور د ازادئ داسې پتنګان وو چې پښتنو سرتيرو سره يې يو ځاې د پيرنګي خلاف مبارزه کوله--کاکاجي صنوبر چې په کال ۱۹۲۴ کښې کوم انجمن زميندارانِ جوړ کړی وو او بيا د عبدالرحيم پوپلزئ او څو نورو پښتنو سرتيرو په مرسته د نوجوان بهارت سبا په نوم بدل شو نو پنجاب کښې يی نمايندګي دغو هندوانو او سکهانو سرتيرو کوله -- جيتن داس په کال ۱۹۲۹ کښې په جيل کښې د -- بهوک هړتال--له مخه سترګې پټې کړې او دت وروستو د بهګت په ملګرتيا کښې د پيرنګي د ظلم ښکار شو -- دغه ورځو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړ مخکښې پښتون اشفاق الله خان هم د پیرنګي د جبر ښکار شوی وو- پښتنو سره په ملګرتیا کښې د نیتهاجي سبهاش چندر بوس بهګت رام او ځو نورو هندوانو قرباني هم د تاریخ برخه ده چې ګور چرن سنګهه یی خپل کتاب--وه بهي دن سن-- کښې ذکر کړی دی خو جتن داس دت او بهګت زمونږ پښتنو شاعرانو په خپلو شعرونو کښې هم یاد کړي دي-- د ۱۹۲۹ د پښتون مجلې یوه ګڼه کښې سمندر خان سمندر جتن داس او غازي علم دین شهید ته په یو ځای خراج وړاندې کوي-

د خپل قوم په غم شه داس چې مشهور شې
علم دین شه ننګیالی شه چې مغفور شې
او د همدغه کال د پښتون مجلې یو بل نظم کښې د سوات صادق نومې شاعر د دت او بهګت قرباني د ازادي خوښو د ایمان برخه ګڼي او ورته داسې خراج وړاندې کوي-

چې د دت بهګت ایمان ځان کښې پیدا کړې
پس له هغې ځان ته وایه مسلمان
او سید رسول رسا هم ویيلي دي چې

معشوقه د ازادۍ به دې نصیب شي
چې پیدا شي درکښې دت او بهګتونه
یو خوا د پیرنګي خلاف د هغه وخت د هندوانو او سکهانو د ازادۍ او قربانۍ جذبه وه او بل خوا زمونږ د پښتنو کامریډانو قرباني وې ---- برصغیر که ازادي موندلې ده نو پکښې د داسې سرتیرو وینې شاملې دي----
د بهګت سنګهه د مرینې په ورځ یوه لنډه یادونه --- دغه سربازان د هیرولو نه دي---
حنیف خلیل

---

تیره ورځ فیسبک کښې بحث روان وو چې په نړۍ کښې ترقي هله ممکنه ده چې د زړو ځیزونو یعنې خپلې ما ضي نه ځان خلاص کړی شي- هلته مې کمنټ کښې دا ویيلي وو-
د زړو ځیزونو نه ځان خلاصول نه خو امکان لري او نه ګټه-- که هغه خیالات او تصورات هم وي-- هر جدت د روایت سره تړلی وي-- بغیر د روایت د تصور او تفهیم نه به جدت په کومو بنیادونو اودریږي- په هوا کښې-- انسان که د نورو مخلوقاتو نه ممتاز دی نو د خپلې ماضي په تصور- که ماضي دې ترې واخسته په حال او مستقبل کښې د قدمونو خاپې به یې هم وران شي-- د ماضي تصور خو یا لیوني سره نه وي او یا د انسان نه علاوه مخلوقاتو سره- البته دا سمه ده چې ځان په ماضي کښې دومره فنا کول نه دي پکار چې د حال او مستبل نه څوک غافل پاتې شي-- او نه ځان د ماضي خوش فهمیو پورې محدود کول پکار دي-- ژوند کښې حرکت او حرارت په هر حال لازم دی-او دا د عصري شعور لرلو او عصري غوښتنو ته پام لرلو سره کیږي-
دلته ورسره دا اضافه هم کول غواړم چې دې راې ته د مغربي دانشور ټي ایس ایلیټ د هغه تصور تایید هم حاصل دی چې هر جدت د پاره د روایت یو مستحکم بنیاد پکار دی او هر جدت د ماضي د روایت سره تړلی او د هغه روایت تسلسل  پکار دی-- دې نه علاوه د سریيلزم په تحریک کښې هم بنیادي نکته دا وه چې د انساني تولنې د طبعي ژوند او ما بعد طبعي عناصرو رشته او تړون ولټولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي- د ایلیټ او سریلیزم تحریک دغه دواړه نکتې کوم فرسوده روایات نه دي بلکې نن هم ژوندۍ نکتې دي-- البته نړۍ چې څومره په تیز رفتار بدلیږي باید دغه هومره تیز تګ ورسره وشي خو د ماضي نه د ځان خلاصولو په قیمت نه-- روس فرانس جرمن چین جاپان او نورو که تیز ارتقایي تګ کړی دی نو ماضي او خپل تهذیبي روایت نه یې ځان نه دی خلاص کړی- انسان ته د مادي ترقۍ سره د روحاني قدرونو هم ضرورت دی- انسان که مشین نه دی بلکې انسان دی نو په روحاني قدرونو د رشتو په احترام د خپلو اتلانو په ویاړ د ماضي په تصور تاریخي شعور او تهذیبي حافظه-

---

یادونه او خاطرې

د --پټه خزانه-- کتاب یا تذکرې جعلي ثابتولو د پاره به د قلندر مومند صاحب یو دلیل دا هم وو چې دې کتاب کښې د رحمان بابا د زیږون او مړیني کلونه غلط لیکلی شوي دي--- مونږ به چې کله همیش خلیل صاحب ته د هغه دغه دلیل یاد کړو نو په خپل جلالي انداز کښې به یې وویل چې--- بابا--- د قلندر د زیږون کال خو هم ما په پښتانه لیکوال کښې یو رنګ لیکلی دی او اخونزاده فرمان مسافر په ځلنده ستوري کښې بل رنګ--- نو اوس زما پښتانه لیکوال جعلي شو او که د فرمان مسافر ځلنده ستوري-- دا هم لا څه دلیل دی-- د همیش صاحب دغه خوندور انداز یو خوا خو ورسره ما ته یوه خاطره هم رایاده شوه--
زمونږ د پښتو مشر شاعر حاجي ګل صوفي هم د پښتنو شاعرانو یوه تذکره لیکلې وه چې نوم یې وو --- لیکوال نه مري-- دغه تذکره کښې یې د اولسي شاعر حوص خان ملنګ په اړه لیکلي وو چې په دیارلسم مارچ په فلاني کال وفات شو-- د حاجي ګل صاحب تذکره چاپ شوه او حوص خان ملنګ د تذکرې د چاپ نه پس هم لس کاله ژوندی وو-- چې مونږ به حاجي ګل صوفي صاحب ته وویل چې هغه حوص خان ملنګ خو نن هم ژوندی دی او تاسو خپله تذکره کښې لس کاله مخکښې مړ لیکلی دی-- نو صوفي صاحب به وییل چې زه څه وکړم چې نه مړ کیدو-- ما خو خپل کتاب کښې د خپله اړخه ډیر احتیاط کړی وو-- کتاب چې چاپ ته تیار وو نو حوص خان ملنګ اسپتال کښې وو - حالت یې نازک وو- نو ما وې چې نن سبا کښې به هسې هم مري او چې زما کتاب پریس نه راووځي نو دی به مړ وي - بس ما مړ ولیکلو-- اوس چې دی لس کاله نور هم ژوندی وو -- نو مرګ او ژوند خو د خداې لاس کښې دی-- زه پکښې څه کولی شم--
بس بیا زه هم سم پوهه شوم چې د حاجي ګل صوفي صاحب کتاب خو هم جعلي نه دی نو د چا د زیږون او مړیني په کال غلط لیکلو خو کتاب رښتیا هم جعلي کیدی نه شي-
څومره ښکلي مشران وو- څه وختونه وو او څه یادونه-

---

پیښور

ما ته ګران پیر سید نادرشاه صاحب د قدرمند مولانا خانزیب صاحب یوه ویډیو راولیږله چې پکښې یې وییلي وو چې پیښور د حضرت ابراهیم علیه السلام نه هم پنځه سوه کاله زوړ دی-- د مولانا صاحب ماخذ ګران سمیع الدین ارمان وو-- نه یم خبر چې د ګران ارمان ماخذ به څه وي خو د مولانا خانزیب صاحب خبرې لږ حیران کړم نو وریسې مې لږ لټون وکړو-- د خپل لټون خلاصه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دي وضاحت سره وړاندې کوم چې زه مولانا خانزيب صاحب ته ډېر احترام لرم او د علمي هڅو يې ستاينونکى او قدرونکى يم-**
**وړومبى خو بايد ووايم چې د پېښور د قدامت اندازه د حضرت ابراهيم عليه السلام او مصري يا اشوري تهذيبونو په تناظر کښې نه دي لګول پکار بلکې د اندس ويلي او ګندهارا تهذيبونو په تناظر کښې پکار ده -- چې د پېښور د سيمې سره تړلي تهذيبونه دغه دي-- بل دا چې نه خو د حضرت ابراهيم د دور مناسبه اندازه شته او نه د هغه نه مخکښې دور باوري سند او تاريخ شته- چې د هغه سيمې تهذيبونه وربسې لټوو نو ياد تهذيبونه يې دا دي----**
**سوميري--اکادي--بابلي--اشوري---کسدي--کلداني---حري-- ارامي-- د دغو ټولو تهذيبونو زمانه درې نيم زره قبل مسيح نه شروع کيږي او پنځه سوه قبل مسيح ته رارسي- خو په دغو کښې يو تهذيب کښې هم د پېښور ذکر نشته-**
**چې د خپلو تهذيبونو او اسنادو په رڼا کښې د پېښور پلټنه کوو نو وړومبى نوم مونږ ته د موجوده چارسدې د پاره پشکلاوتي تر نظره کيږي چې پنځه سوه قبل مسيح کښې په سنسکرتي ليکونو کښې شتون لري-- څلور سوه قبل مسيح کښې بيا چيني بدهي ليکوالو فاهيان او ورپسې بيا زان زنګ د --پولاشا پولو-- په نوم د اوسني پېښور ذکر کړى دى- دغه پولاشا پولو بيا  سل کاله قبل مسيح کښې د --پورش پور-- په نوم يوناني ليکوالو ياد کړى دى چې پورش د هغه وخت د پېښور واکمن وو- يوناني ليکوالو د پورش پور نه بيا --پرشاپور-- جوړ کړى دى- چې ډېر وروستو بيا د مغل اکبر بادشاه په دور کښې پشاور شوى دى- دغه دور کښې په فارسي ليکونو کښې د -- پيش اوردن-- په اصطلاح هم ياد شوى دى يعنې راپېښيدونکى يا مخه کښې راتلونکى ځاې چې بيا همدغه پيشاوردن اصطلاح د پښتو په روزمره کښې داسې ياده شوې ده-- پېښور د پېښې دى- همدغه مغولي دور کښې د باګرام اصطلاح هم پېښور د پاره راوړلى شوې ده خو اصلي جرړه يې د پنځه سوه قبل مسيح --پورش پور-- ده چې نن پشاور پيشور او پېښور ياديږي-**

---

**د قيصى زيږون او سفر**

**د قيصى وجود د انسان د ګويا کيدلو سره سم راغلے دے- ځکه چې انسان چرته هم څۀ واقعه يا حادثه ليدلې ده- نو هغه ئې نورو خلقو ته رسولې ده چې له خپله ځانه يې پکښې کمے زياتے هم کړے دے- د انسان د دې هڅې ابتدائي تاريخ ښاغلي ډاکټر محمد اعظم اعظم څلور زره کاله د مسيح نه وړاندې ښودلے دے- اوئيلي ئې دي چې:**
**"د دنيا په قديمو قيصو کښې د ټولو نه زړې د مصر، يونان او هند قيصې ياديږي- د مصر قيصې قريباً دوه زره ق- م- پورې رسي- هسې په يو اندازه د دې قيصو سر ۳۰۰۰ نه تر ٤۰۰۰ ق- م- پورې لګي- دا قيصې د جادو او ټوټکو په واقعاتو اډانه دي- دا قيصې د ونو په پړچ او پيپرس ليکلې شوې دي-"**
**دلته د مصر سره په ځانګړې توګه د سوميريانو د قيصو يادونه پکار ده او ورسره د ګلګامش يادونه هم پکار ده-- دغو زړو قيصو نه پس، چې د لقمان حکيم قيصې ورته وئيلې شي، دغه قيصې هم په قبل مسيح دور کښې مشهورې شوې دي -**
**دا قيصې وروستو په ګڼو ژبو کښې ترجمه شوې او په غونډه نړۍ کښې خورې شوې- د لقمان حکيم د قيصو اثرات يونانيانو خپل کړل- او د هومر قيصې په يونان کښې مشهورې شوې- دې سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د مذهبي او الهامي قيصو تذکره هم لازمه ده- دې لړ کښې وړومبۍ د ويدونو د قيصو اهميت منلے شوے دے- دغسې د تورات، زبور، انجيل په متنونو کښې د عبرت لۀ پاره مختلفې قيصې راغلي دي- او بيا د قرآن پاک رښتينې قيصې هم د عبرت او درس له پاره يادې شوې دي- د دې نه پس چې هر کله قيصې په نوي شکل سر ښکاره کړے دے نو الف ليلٰى په صورت کښې ئې ښکاره کړے دے- د الف ليله لغوي مفهوم دے- ''زر شپې'' د الف ليله اصطلاح د قيصئيز مفهوم تر مخه داسې بيان شوے دے- چې:

''يو بادشاه وو چې هغه به هره ورځ يو وادۀ کولو- او هره شپه پس به ئې ښځې له طلاق ورکولو- او نوې ښځه به ئې نکاح کوله- د دې باچا په دربار کښې يو وزير وو چې يوه ښائسته لور ئې هم لرله- وزير ته دغه لور خواست وکړو چې زما وادۀ هم دغه بادشاه سره وکړه- وزير ورته ډېر ووې چې بادشاه يوه شپه پس ښځه پرېږدي خو د جينۍ په ډېر اسرار دغه وادۀ بادشاه سره وشو- د بادشاه چې ښځې سره ليدل وشول نو په وړومبۍ شپه ورته جينۍ يوه قيصه ووئيله- قيصې بادشاه له دومره خوند ورکړو چې د دويمې قيصې اوريدلو لۀ پاره ئې ښځه په دويمه شپه هم طلاقه نۀ کړه- جينۍ په دويمه شپه بله قيصې او په دريمه شپه بله او دغسې په مسلسل قيصو وئيلو ئې بادشاه ته دومره تسکين ورکولو چې ښځې ته طلاق به آئنده قيصې اوريدو په نيت ځنډيدلو- او دغسې جينۍ په زرو شپو کښې زر قيصې ووئيلې- د هم دغو زرو شپو زرو قيصو په مناسبت دې قيصو ته په اصطلاح کښې ''الف ليله'' ووئيلې شو-''

ددې قيصو قدامت تقريباً اووۀ سوه کاله وړاندينے دے- دا قيصې عمومًا د جادو، پېريانو، ديوانو، ښاپېرانو وغيره مافوق الفطرت عناصرو باندې اډانه لري- او قريباً په هره قيصه کښې د باچا او وزير کردار سره سره د کوه قاف د غرونو ديوانو او ښاپېرانو ذکر هم موجود دے-

د پښتو روايتي او ثقافتي قيصو څۀ خو د لقمان حکيم نه اثر واخستو او څۀ هم دغه د الف ليلوي قيصې په لږ بدل شکل کښې په پښتنه ټولنه کښې مقبولې شوې- د پښتو دغه روايتي قيصې د مختلفو نسلونو نه سينه په سينه را رواني دي- او لا تر اوسه دا روايت ژوندے دے- خو د دې روايت نسبت د نورو روايتونو سره دے لکه په حجرو کښې قيصې اورول- خو هر کله چې د انسان د انتهائي مصروفيت په وجه هر چا سره د اضافي وخت کمے راغلو نو حجرو کښې ناسته پاسته او د قيصو اورولو دا روايت هم په ختميدو شو- نن صبا چې څومره پسمانده سيمې دي هغو کښې د حجرو روايت لا ژوندے دے او ورسره د روايتي قيصو روايت هم- خو د ښاريو او مخ په وړاندې روانو سيمو په مادې او مشيني خلقو کښې اوس دا روايت تقريباً ختم شوے دے- د دې نه علاوه د دغو قيصو د ژوندي پاتي کيدلو يوه ذريعه دا هم ده- چې د پښتنو تقريباً په هره کورنۍ کښې به نيا، نيکۀ، پلار، مور يا يو مشر خپلو بچو او نمسو ته د ژمي پۀ اوږدو شپو کښې دغه روايتي قيصې په خوند اورولي کومې ئې چې د خپلو مشرانو نه اوريدلې دي- او دغسې به د دې روايتي قيصو انتقال جاري وو- خو اوس دغه روايت هم تقريباً په ختميدو دے- صرف په انتهائي پسمانده سيمو کښې تر څۀ حده ژوندے دے- په ترقي يافته سيمو کښې د دغه قيصو اوريدو وخت وړومبۍ خو ويډيو ګيم، وي سي آر، ډش انټينا، ټي وي،وغيره او بيا نور جديد دور کښې کمپيوټر،موبايل انټرنيټ او نورو جديدو لوبو ته ورکړې شوے دے-

دې قيصو کښې ځنې داسې هم شته چې يواځې پښتنه ټولنه کښې نه، بلکې په نورو ټولنو کښې هم شتون لري- لکه د ګل صنوبر قيصه، ګل بکولي، ګل اندامه ښاپيرۍ، بهرام شهزاده وغيره قيصې چې افاقي شهرت ئې تر لاسه کړے دے- او پښتو نه علاوه په نورو ژبو کښې هم په کتابي شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې تر لاسه کيدے شي- او ځنې داسې قيصې هم شته چې صرف پښتنې توليې پورې محدودې دي- بلکې پښتنه تولنه کښې هم د بېلو بېلو سيمو او بېلو بېلو خاندانونو قيصې بېلې بېلې دي- يوه قيصه چې په يوه سيمه يا خاندان کښې مشهوره شوې ده نو بله قيصه په بله سيمه کښې شهرت موندلے دے- دا قيصې اکثر د لقمان حکيم د قيصو نه ماخوذ دي- او د زياتو کردارونه هم پکښې ځناور او مارغان دي چې د نيکئ، بدئ، ظلم، رحم، حرص او بدنيتئ وغيره علامتونه دي- په دې قيصو کښې د پورته ذکر شوو کردارونه په ذريعه د پښتنې اقدارو درس ورکولو کوشش شوے دے-
د قيصې په دغه سفر کښې دا هم ووئيلے شول چې ځنې خاطرې او يادونو هم وروستو د بيان نه پس د قيصې شکل اختيار کړے دے- دا قسمه يادونه که چا ليکلي هم دي نو د "خاطره" د عنوان يا نوم سره ئې ياد کړي دي- دغه شان د اسطوري يا اساطير، حکايت، نقل وغيره تذکره هم شوې ده- چې د قيصې په سفر کښې ئې يادول پکار دي- د قيصې دغه اوږد سفر پهٔ مختلفو پړاوونو او مختلفو شکلونو، چې وروستو ئې جديد صورتونه خپل کړي دي او د ډرامې، ناول او افسانې په شکل را څرګند شوي دي، هر څو که ډرامه په مصر او يونان کښې هم وه خو پرمخ تللې شکل يې نوى دى-

---

د فيسبک يو ګروپ کښې پوښتنه شوې وه چې پښتانه په مختلفو وختونو کښې په کومو نومونو ياد شوي دي-- هلته مې لنډ شان وضاحت کړى وو چې دلته يې د لږې اضافې سره خپلو ملګرو سره هم شريکول غواړم-

پښتانه په مختلفو وختونو کښې په بيلابيلو نومونو ياد شوي دي-
څلور زره کاله مخکښې په رګويد کښې پکتهين-- د پکهت د اوسيدونکيو په وجه-
په اوستا کښې درې زره کاله پخوا بخدين -- د بخد د اوسيدونکيو په وجه-
ځنو نورو ايراني ليکونو کښې لږ وروستو دور کښې باختريان--- د باختر د اوسيدونکيو په نسبت-
ځنو نورو ايراني سرچينو کښې اساک يا ساکان-- د اسونو د څښتنانو په وجه-
په کاکيشين يعنې روسي سرچينو کښې سيتهين -- د ساکانو د يوې ډلې په حيث-
په يوناني ليکونو کښې دوه نيم زره کاله پخوا پکتويک او پکتا--- د پکت د اوسيدونکيو په حيث-
په همدغو يوناني ليکونو کښې اپګان--- د غرنيو سيمو د کلکو اوسيدونکيو په حيث-
په مغولي ليکونو کښې افغان --- اه و فغان يعنې شور او فرياد کوونکي خلق-
قيس عبالرشيد سره تړلي بې باوره روايت کښې بطان چې بيا ترې پتهان جوړ شوى دى-
هم هغه مغولي ليکونو کښې پټان--- د هند په پټنه کښې د ابادېدو په مناسبت-
ګويا خپل او زوړ نوم يې پکهتين پکتويک او پکتا دى چې پشتين پشتون او پښتون ترې جوړ شوى دى او افغان بيا په پښتنو کښې وروستو نوم رواج شوى ډى-
دلته بايد دا يادونه هم وکړم چې څنګه پټهان د پښتنو خپل نوم نه دى دغسې خان هم د پښتنو خپل نوم نه دى-- خان د ترکې ژبې اصطلاح ده چې قدرمند او ښاغلي سړي ته وايي مونث يې خانم ده چې قدرمنې ښځې ته وايي-- دغسې بيک هم ښاغلي سړي ته او بيګم اغلې ښځې ته وايي-- د خان سره خاقان اصطلاح هم شته چې د قبيلې سردار او يا بيا د چين ترکي او ايراني روايت کښې واکمن او بادشاه د پاره به ږاوړلی شو-

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځان د چا پۀ طلب وژني بد اختره**
**چې روان ئې لکه اور تر خاکستره**

**بداختر:- فارسي ده - اختر ستوري ته وائي ، د قسمت ستورے ، نصیب ، تقدیر ، دغسې د بداختر مطلب دے - بدنصیب کم بخت ، د خراب قسمت د ستوري څښتن -**
**خاکستر:- خاورې ایرې ، د اور د سوزیدو نه پس پاتې شوې ایرې -**

**شرح:-**
**اور تر هغې ژوندے وي چې تر څو ترې ایرې نۀ وي جوړې شوې - او کله چې ایرې شي نو اور هم مړ شي -**
**بل خوا خله کښې اور اوړل محاوره هم ده یعنې د جذبې شدت سره خبرې کول-- تریخ حقیقت بیانول-- د هیچا پروا نه کول--**
**شېدا وائي چې تۀ لکه د ژوندي اور داسې روان ئې چې ځان د ایره کیدلو مرحلې ته رسوې نو داسې خو به آخر هم خپل ځان وژني - نو بس ښۀ بدنصیبه (بداختره) ئې چې آخر دا د چا پۀ طلب روان ئې چې ځان وژنې ، ځان د اور نه د ایرو مرحلې ته رسوې -**

**نور وضاحت:-**
**دې شعر کښې شېدا د نصیب ستوري اصطلاح کښې ستورے چې یاد کړے دے نو کنایتهً ئې د ستوري او اور نسبت هم راوړے دے - ستورے هم داسې رڼا کوي چې یوه لمبه ښکاري - او په سائنسي حواله هم ستوری اور وي- ستورے پۀ گردش او چکر کښې هم روان وي او آخر پۀ تیاره کښې ورک هم شي - دغه تیارۀ یو قسم له خاکستر یعنې ایرې دي ځکه چې ایرې هم تورې وي او تیاره هم توره وي چې د لمبې غونډې ځلنده او ژوندے ستورے پکښې ورک شي- یو بله سائنسي اشاره هم وګورئ چې ځلنده ستوري چې خپل عمر پوره کړي نو د مرګ په شکل اخر هم تک تور بلیک هول کښې ورک شي او بیا ستورے چې پۀ گردش او چکر کښې روان وي نو شېدا دا هم وائي چې د چا پۀ طلب او چا د پاره لکه د اور روان ئې او د خاکستر (ایرو) یعنې تیري مقام ته رسې او پۀ تیرۀ کښې ورکیږي لکه چې اور پۀ ایرو کښې ورک شي او مړ شي - د شېدا دغو پټو نسبتونو ته هم غور پکار دے چې خومره نازک خیال شاعر وو او په شعر کښې یې څومره باریکې نکتې پټې دي چې اوس به یې زمونږ نقادان او شعر پوهان راسپړي-**

---

**د غني د حسن تصور او خالق**

**پخوانی یونانې فلسفه کښې کایناتي حسن د خالق د ازلي حسن اظهار گڼلی شوی دی- د غني خان هم دغه تصور دی خو په خپل انداز -- خپل سرور او مستۍ سره-**
**غني د تمام کائنات دَ حسن سرچشمه د خالق وجود گڼي او دَ حُسن ټول کمال دَ هم هغه حقیقي حسن له مخه مني- لکه د نورو سترو جمال پرستو پوهانو غني خان هم د خالق په واړه مخلوقاتو کښې د انساني حسن دَ کمال قائل دے او د انسان دغه کمالي حُسن دَ خالق د لازواله حُسن نه عبارت گڼي او په شاعرانه اصطلاح کښې دَ خالق حسن سمندر او انساني حسن دَ څاڅکي سره مشابه کوي: ـــه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زما بې خودي واړه يو نظر ستا د قرار دے
دا زما درياب د حسن ستا يو څاڅکے دَ خمار دے
د خالق د حسن سمندر سره دَ خپل حسن د نسبت حواله ورکوي- او
وائي: ؎
حُسن دے بس حُسن چې هم خدائے او هم جانان دے
دې فاني مکان کښې بل مشال د لا مکان دے
يو د ګلاب مخ کښې چې ښکاره کوم جوابونه دي
نشته يو هم نشته دَ منطق په کتابونو کښې
يعني د دې جهان حُسن دَ خالق د حُسن د سمندر له مخه دے- دَ جانان حُسن هم دَ خداې له حُسنه دے- دَ خالق دَ حُسن د معرفت لپاره چې صرف دَ ګُل په مخ کښې کومې نخښې موجودې دي هغه هم ډېر وضاحت کولے شي- خو يواځې ګل نه بلکې نور کائنات هم د خالق د حسن ګواهي ورکوي او بيا په دغو کائناتو کښې انسان ته انفراديت او خصوصيت حاصل دے- دا ځکه چې انسان سره د مينې جذبه هم شته او حُسن هم- غني په دې حقله ډېر په صراحت سره وئيلي دي چې: ؎
ستورو ته آسمان کښې يوه ورځ ووې هلال
خداې آدم له مينه ورکړه، مونږ له تش جمال
زۀ به په خندا ورکړم دا خپل ښېښت د کمال
ماله کۀ يو څاڅکے مينه راکړي څوک په سوال
مينه حقيقت حُسن سايه د حقيقت ده
حُسن له زوال شته مينه نۀ لري زوال
يعني کوم حُسن سره چې دَ مينې جذبه نۀ وي شامله هغه زوال لري- په دې لحاظ صرف دَ خالق او انسان حُسن داسې دے چې هغه د مينې تاثر هم لري او بياله دغه تاثره حُسن هم زېږوي- ځکه هغه دَ خالق حُسن ته سمندر او د انسان حُسن ته قطره وائي او بيا په خپله دُعا کښې هم دَ خالق حُسن و کمال او د نور سمندر نه ځان د پاره هم يوه قطره غواړي او وائي: ؎
اے دَ حُسن او نور دريابه ماله يو تڅکے د نُور را
سترګې ډکې د خندا را شوندې ډکې د سُرور را
زۀ دې خپل ړوکي زړګي له يوه نخښه د يار غواړم
اے د حُسن و نُور دريابه ماله يو تڅکے د نُور را
دې تک تور د غم محل له يو بځرے د رڼا را
سترګې ډکې د خندا را شوندې ډکې دَ سُرور را
دې مستئ او دې ارمان له يو تصوير د جانان راکړه
ستا په مينه نازېدل را ستا په ښکلي مخ غرور را
دې د خود سوې باغچې له يو وعده د بهار غواړم
زۀ دا نۀ و يم چې جنت را زۀ دا نۀ وايم چې طور را
د غني دَ حُسن دا نظريه ده چې هغه بنده دَ خالق دَ حُسن د سمندر يوه قطره ګڼي هغه دا هم مني چې د خالق د حُسن اثرات بنده په خپل زړۀ کښې هم ځايولے شي او داسې کولو سره بنده حُسن پرست نه بلکې په خپله حُسن جوړ شي، خودې د پاره دَ پاک او فراخ زړۀ ضرورت وي ځکه چې د خالق د حُسن تصور په زړۀ کښې ځايول ډېره لويه مرتبه ده چې غني ورته اشاره کړې ده- ؎

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے دَ ليونيانو نيکۀ لمونځ ښۀ کۀ مستي ښۀ ده
حُسن جوړيدل ښۀ دي- کۀ حُسن پرستي ښۀ ده
وي ښۀ ده مستي ښۀ ده خو زړۀ پاک لکه آئينه غواړي
دا درياب هضمول د سمندر هومره سينه غواړي
حُسن جوړيدل د بنده عشق د کمال دے
تور د غم درياب کښې سور خمار د وصال دے

انساني حسن ته دومره لوې شرف ځکه حاصل دے چې د مينې جذبه ورسره شامله ده- حسن د مينې نه نۀ شي بيلېدے او مينه د انسان په داخل، جبلت او فطرت کښې وي- په دې وجه د حسن دَ تاثر منبع هم د انسان روح او داخل وي- البته د حسن اثر له خارجي ښکلاګانو نه ضرور ماخوذ وي خو محرکه جذبه ئې بيخي داخلي وي- په دې وجه د حسن په نظرئيو کښې موضوعي نظريې ته ډېر اهميت حاصل دے او غني خان هم دې لړ کښې د موضوعيت او داخليت قائل دے- هغۀ کۀ د خپل فطرت مطابق د حُسن لټون کوي نو ځکه چې په فطرت کښې ئې مينه ګډه ده- هغه وائي: ے

حُسن حُسن لټوومه
زۀ په مينه مينه پايم
بې وفا کۀ د جانان يم
چرته رنګ ځان له لټومه
چې يو خُم د ميوتش شي
بلے ډکې مېخانې له
تش کړے څټلے نۀ شم
زۀ مئين په پياله نۀ يم
پتنګ نۀ څتي مومونه
تورانی نۀ وئ سندرې
بې وفا کۀ ديو يار يم
کۀ پۀ غروي کۀ په سمه
بې د مينې مرمه مرمه
بې وفا نۀ يم د مينې
چې پرې ستړګې کړم رنګينې
تش تيکرے شي بې روحه
سينه يوسمه مجروحه
چې خوند نۀ وي د کبابو
زۀ مئين يم په شرابو
چې د شمع رڼا نۀ وي
چې مستي د سبا نۀ وي
وفادار د مينې يمه
حُسن حُسن لټومه
کۀ په غر وي کۀ په سمه

نو خبره هم هغه شوه چې غني د حسن څاڅکی او خالق بې پايانه سمندر-- د غني په نظر--

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د اشرف مفتون د گوشه نشين مزاج باوجود زۀ هغه ته ډېر نزدې پاتې شوے يم ډېر بحثونه مې ورسره شوي دي او ډېر علمي او ادبي محفلونه مې ورسره شوي دي ـ هغه ما لوستلے هم دے او اوربدلے هم دے ځنګه چې د مفتون صاحب ليک د دليل او منطق په تول پوره دے، دغسې د هغوي خبرې هم تللي او سپيڅلي وې ـ د مفتون صاحب د فکر و دانش د مطالعې او مشاهدې په نتيجه کښې ما د هغوي د فکر و فن په حواله مخکښې هم څو ليکونه کړي دي چې دغو کښې يو تفصيلي ليکنه " د اشرف مفتون رومانوي احساس " په نوم زما کتاب د ښکلا هنداره کښې په کال ۱۹۹۸ ء کښې چاپ شوې ده ـ

دا هغه ليکنه ده چې ما د اشرف مفتون صاحب په درناوي کښې راجوړ شوي تقريب کښې د پېښور پريس کلب کښئ اورولې وه ـ په ۲۹ اپريل ۱۹۹۸ ء کښې ما د اشرف مفتون سره يوه تفصيلي مرکه کړې وه چې هغه بيا زما کتاب" مخ په مخ " کښې په کال ۱۹۹۹ ء کښې چاپ شوه ـ په کال ۲۰۰۱ کښې چاپ شوي زما بل کتاب " آئينې " کښې مې د مفتون صاحب د فن نظريه د مفتون رومانويت، د حسن او جمال پرستار مفتون،د مفتون فکري بغاوت، د مفتون فلسفيانه فکر او د هغوي د منتخب نظمونو په تنقيدي مطالعه مشتمل بيل بيل تجزياتي ليکونه وکړل چې دا د مفتون صاحب د فکر و فن د جاج زما يوه بله هڅه وه او دغسې په کال ۲۰۰۸ ء کښې چې ما خپله د پی ايچ ډي مقاله ليکله نو د مفتون صاحب د شاعرۍ په مقصدي او حقيقت پسنده زاويه مې يو ځل بيا د هغوي د فکر و دانش جائزه واخسته ـ دغسې مفتون صاحب هم زما په کتاب " رانه فکرونه نفسياتي تنقيد " خپله تنقيدي تبصره راپېرزو کړې وه چې زۀ يې د خپل ځان لپاره د يو اعزاز او سند نه کمه نه ګڼم ـ

دغه پس منظر مې ځکه بيان کړو چې نن څوارلسم مارچ د هغه د يو ويشتم تلين ورځ ده او زه د هغوئ په اړه وييل غواړم چې مفتون صيب يواځې شاعر نه وو بلکې لوی ډرامه ليکونکی هم وو چې د ريډيائي ډرامو ټولګه يې د --حيدر-- په نوم په نولس سوه اته پنځوسم کښې چاپ ده خو ډيرو کمو خلقو لوستې ده-- دليل خبرې کوي يې د فلسفيانه نثر کتاب څو کاله مخکښې زما مقدمې سره د هغه د لور نګينه مفتون په زيار چاپ دی چې دا به هم ډير کم لوستی شوی وي--په شاعرۍ کښې هم ورته خپل همعصر سيد رسول رسا صاحب د پښتو رومانوي شاعرۍ بابا ادم وييلی دی او رښتيا هم شلمې پيړۍ پښتو ادب ته د غني خان او اشرف مفتون په شکل دوه داسې مفکر او مبتکر شاعران ورکړل چې بيخي ځانګړي دي خو غني زيات ولوستی شو او مفتون کم-- مفتون هر څو که لوستی شوی کم دی خو په خپل شعري اسلوب فلسفي تفکر رومانويت او باغيانه تصور کښې له هيچا کم نه دی بلکې تر هر چا زيات دی- بايد چې مفتون په درسته معنا درک کړو-

---

د غزل دغه څو شعرونه مې د ګران جاويد احساس په هڅونه ليکلي وو-- مينه والو ملګرو سره يې شريکوم-

د خپل هدف په لور په ګرانه به په لاره اوځي
:په دې هجوم کښی چې کوم ستوری له مداره اوځي

که د يوسف د اخستو قيمت لري او که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ولوله نه لري بیا خو به له شماره اوځي

زما د درد قیصه هر څو که ژبه نه لري خو
غوږ ورته اونیسه چې سانده له ستاره اوځي

سر به هغه لري سردار به هم هغه سړی وي
سر په تلي کښې ګرځوي چې څوک تر داره اوځي

چې د قامي وحدت نه ځان رابیلوي نو مري به
لکه بڅرۍ چې د اور له سور انګاره اوځي

هره لمحه د ژوندانهٔ مې شه له قامه لوګی
ایله به سا رانه ملګرو په قلاره اوځي

چې خلیلي جذبه لري او دین یې هم وي حنیف
ځکه سرخ رویه خو د وخت له هره ناره اوځي

---

داستان ناول او افسانه کښې فرق څه دی

نن راته ګران ډاکټر حنیف حیران څوارلس کاله پخوانۍ یو ویډیو راولیږله چې کابل کښې راسره یو ژورنالست د ناول په اړه خبرې کړې وې-د دغه ویډیو خوندي کولو په غرض مې زړه وغوښتل چې څو خبرې ورسره نورې هم ولیکم-
افغانستان کښې ناول ته رومان وائي ځکه چې اوږده قیصه وي- کوزه پښتونخوا ورته هم هغه د انګریزۍ --ناول-- اصطلاح کاروي چې اصل کښې د اټالوي ژبې -- ناولا-- نه جوړ دی- د ناولا مطلب دی نوی څیز- یعني نوې قیصه- نوې قیصه په دې معنا چې د ناول نه مخکښې په نړیوال ادب کښې هم کومې قیصې لیکلی کیدې هغه به ما فوق الفطرت وې- د فطري ژوند نه لرې- د پیریانو دیوانو او ښاپیرو قیصې- دغې ته به داستان Tale وییلی کیدو- په اردو کښې هم داستان دغه قسمه قیصو ته وائي- نوې قیصه په دې وجه نوې یا ناول وبللی شوه چې هغه عام فطري ژوند ته نزدې وه- دغه د ژوندو کردارونو ترجمانه قیصه د اټلي لیکوال بکاشیو په وړومبي ځل ناول بللی وه- یعني په قیصه ایز ادب کښې نوی څیز- د فطري ژوند ترجمان څیز- دغه اوږده قیصه چې رالنډه شوه نو په افغانستان کښې د -- لنډه قیصه-- په نوم یاده شوه چې په انګریزۍ کښې --شارټ ستوري-- وه--او که نوره به هم لنډه وه نو بیا به شارټ --شارټ ستوري-- وه چې دغه بیخي لنډه قیصه په اردو کښې افسانچه وبللی شوه- او که ناول به مختصر وو نو ناولټ به بللی شو- ګویا ناولټ د ناول او افساني تر مینځه اوږدوالی لرلو- یا به داسي ووایو چې ناول د ژوند د واقعاتو تفصیل وړاندې کوي او افسانه اجمال یا د ژوند یوه وړه واقعه--خو د ناول او افسانې هنري ځانګړتیاوې بیا هم خپلې خپلې وي-دغسې د داستان نه ناول زیږیدلی دی او ناول نه افسانه- البته پښتو کښې داستانونه روماني دي او منظوم دي او تر څه حده د فطري ژوند ترجمان هم دي-خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو ژبو کښې داستان هم هغه د پيريانو ديوانو نثري قيصې دي او ناول د فطري ژوند ترجمان ځيز او نثري قيصه-
دغه دوه منټه ويډيو هم راسره واورئ-

---

پيسه ټکه

زمونږ په ژبه روزمره او محاوره کښې د مال دولت د پاره --پيسه ټکه -- اصطلاح ډيره کارولی شوې ده وروستو بيا د روپۍ استمال هم شروع شوی دی- د انساني تهذيب په وړومبيو دورونو کښې خو به د جنس بدله کښې جنس يعني د څيزونو بدله کښې د څيزونو ورکړه راکړه وه ځکه چې پيسه نه وه خو بيا د پيسې علامت د سرو سپينو اوسپنې وغيره په سيکه شروع شو- چې پلټنه وکړو نو په شپږ سوه قبل مسيح کښې د وړومبۍ سيکې استعمال سره به مخ شو چې هغه دور کښې د --پنه-- په نوم ياده شوې ده- دغه روايت په درې سوه قبل مسيح کښې د موريه واکمنۍ پورې عام شوی وو- په وړومبۍ عيسوي پيړۍ کښې بيا د --رتی--په نوم يوه سيکه پخواني سري لنکا کښې جاري شوه چې زمونږ تر دوره خلقو يې نامه اوريده او په خپلو خبرو کښې به يې د کم نه کم قيمت د پاره يادوله- پيسه-- اصطلاح په شپاړسمه عيسوي صدۍ کښې رواج شوې ده چې تر اوسه عام ده- دغسې د روپۍ اصطلاح په څوارلسمه عيسوي صدۍ کښې په هند کښې رواج شوې ده چې تر ننه عام ده--په سنسکرت ژبه کښې دا --روپيه-- وه چې معنا يې وه د چاندۍ يا سپينو زرو سيکه- په برصغير چې انګريز واکمن شو نو د پيسه او روپۍ دواړه اصطلاحات يې جاري وساتل-او ورسره د کم نه کم قيمت د پاره ځنې نور اصطلاحات هم مشهور شول- لکه سورۍ
پيسه--پائي--کوړي-- دمړی--تيرهي--کاسيره ټکه او انه وغيره- په انګريز دور کښې يوه روپۍ د څلور شپيته پيسو او شپاړس انو برابره وه-ګويا يوه --انه-- کښې به څلور پيسې وې-يو درې پيسيز سره به يوه تيرهي ملګرې شوه نو يوه انه به ترې جوړه شوه--دغسې يو شپږ پيسيز سره به دوه تيرهي ملګرې شوې نو دوه انيز به ترې جوړ شو--دوه انيز به چې ډبل شو نو څلور انيز او څلور انيز به چې ډبل شو نو اته انيز او اته انيز به چې ډبل شو نو روپۍ به ترې جوړه شوه او دغه هر څه د پاره به خپله خپله سيکه وه-يوه پيسه به په يوه ټکه هم ياديده چې ورسره د کم قيمته ځيز د پاره به د ټکه وال اصطلاح هم مروج وه- وروستو بيا بنګله ديش خپله کرنسي په ټکه بنياد کړه چې د پاکستان د دوه روپو برابره وه-افغانستان خپلې کرنسي ته افغانۍ وويله او هندي يا پاکستاني کرنسي ته يې کلداره وويله چې دغه کلداره بيا خپل تاريخي شاليد لري-په نولس سوه اووه پنځوسم کښې چې هند خپله روپۍ د څلور شپيته په ځای د سلو پيسو برابره وګرځوله نو پاکستان هم دغه روايت خپل کړو او اوس يوه روپۍ د سلو پيسو برابره ده-خو د خوند خبره دا ده چې زمونږ ماشومان بلکې ځوانان هم نن پيسه-- ټکه-- پائي-- دمړی--رتی-- کوړي--کاسيره--يو هم نه پيژني--که ورته متل ووايې چې---اوبښ په کاسيره شو خو کاسيره هم نشته--نو اوسنی نسل د دې متل په معنا نه پوهيږي-- او دغسې نور ژبني اصطلاحات او کلتوري پس منظر هم دی چې تعلق يې کرنسي يا پيسې ټکې سره دی زمونږ اوسنی نسل يې له تفهيم او معنويت نه محروم دی-- لږ ډير پام دې لور ته هم پکار دی-- دا هم زمونږ ماضي ده-- زمونږ د پلرونو نيکونو نخښې پکښې خوندي دي--

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سړی مو څومره لوستلی او پيژندلی دی

سليمه سم دې کړه غزل شرعي ته
لږ پکښې ذکر د خپل قام کوه

سيف الرحمان سليم صاحب به زمونږ د نوي نسل ډير زلمي اديبان سم نه پيژني ځکه چې دغه نوی نسل نن سبا څه بل قسمه شاعران پيژني-- خو ما خپلو ځنو نورو ليکونو کښې هم سليم صاحب د اردو د فيض احمد فيض او ساحر لدهيانوي سيال ګڼلی دی او دلته هم د خپل دغه موقف تکرار کوم--
سليم صاحب د پښتو د ترقی پسندې ډلې شاعر دی خو يو عجيبه زړه راښکونکی رومان يې هم د غزل برخه ده- شاعري ئې د انساني درد، رشتو او تقدس ترجمانه ده د مظلوم مرسته او سرمايه دار خلاف اواز پورته کول د هغوئ د شاعرئ بنيادي موضوع ده. دغه قسمه شاعري که به نظم کښې اجمل خټک عروج ته رسولې ده نو په غزل کښې دغه خصوصيت د سليم صاحب په برخه دی زما په خيال که مونږ د اجمل خټک او سليم صاحب شاعری بوځائ کړو نو د اسلوب د انفراديت سره سره به د اردو د فيض احمد فيض کمی پښتو کښې هم پوره شي- سليم صاحب ډېرې لږې خبرې کولې او ډيره کمه شاعري ئې کړې ده خو په معيار ډيره عالي ده. د ترقی پسند فکر نمائندګي يې ډيره به فني انداز کړې ده - شعري مجموعه ئې د «سندريزه شفقونه په نامه افغانستان کښې چاپ شوې ده چې افراسياب خټک پرې بوه علمی تبصره هم ليکلې ده. وروستو يې مجموعه -- د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم -- پښتونخوا کښې هم څو واره چاپ شوه- سليم صاحب سره څه لږه ډيره ناچاپ شاعري هم وه خو چاپ کولو ته ئې ډيره سنجيده اراده نه لرله-- ګوشه نشين سړی وو خو په دې خبره يې يقين وو چې که يو شعر ئې هم ژوندی پاتې شي نو کافي ده- د اولسي ادبي جرګې د ادبي ميدان لوبغاړی وو- ډيره موده يې د دغه جرګې د تنقيدي غونډو رودادونه ليکلي دي-- د کاکاجي صنوبر--حمزه بابا-- او دوست محمد کامل همځنګ پاتې شوی وو- شهباز اخبار د پاره يې کالمونه ليکلي دي-- ريډيو د پاره يې ډيره موده سکرپټونه ليکلي دي- د يوې درې مياشتيزې مجلې ادارت يې هم کړی دی-- د شلمې صدئ په ډيرو اهمو شاعرانو کښې ئې شمار پکار دی. ځنې شعرونو يې د متل غونډې قبوليت تر لاسه کړی دی لکه-

کله نا کله ست د جام کوه
په تا مېين يم په ما پام کوهی

څومره جونګړو ته دې اور ورته کړو
چې خپل محل ته دې رڼا راوسته

د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم
لويه خدايه زه به چا چا ته سجده کړم
خو د دغو مقبول شوو شعرونو باوجود زمونږ نوی نسل سليم صاحب سم نه پيژني- ډيرو ته دا پته هم نشته چې نن نهم مارچ يې د وفات ورځ ده-- روح يې شاد اوسه-

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د فیسبک یو ګروپ کښې پوښتنه شوې وه چې پښتانه ارین نه مخکښې څه وو - هلته مې یو لنډ شان کمنټ وکړو چې دلته یې د لړې زیاتونې سره خپلو ملګرو سره هم شریکول غواړم--

انساني ډلو کښې یوې ډلې د پاره د ارین اصطلاح تقریبن څلور زره کاله پخوا راوړلی شوې ده چې په ویدي ادب او ځنو ایراني نوشتو کښې یې ذکر دی -- دغه خلق د کاکیشیا یا کوه قاف او هندوکش په غرنیو سیمو کښې اباد وو چې اوسنی افغانستان یا پخوانی خراسان او یا د هغې نه هم پخوانی باختر او یا د هغې نه هم پخوانی پکهت پکښې هم شامل وو -- ارین اصطلاح نه مخکښې به چرته باختریان او چرته اساک یا ساکان یعني د اسونو خاوندان نومیدل-- بلخوا په هواره سیمه د دریائے سند په غاړو اباد خلق چې په کومو نومونو یادیدل هغو کښې دراوړ -- مندا--نګریټو او استرک څرګند وو- کله چې دغه د غرنیو سیمو قبیلې یا ډلې او خلق د غر نه لاندې راغلل او د دریائے سند په غاړو اباد شول نو دلته د مخکښې نه ابادو خلقو ته یې ماتې ورکړه او د ارین په نوم یاد شول-- ارین یا اریه د سنسکرت ژبې لفظ دی چې پښتو کښې یې هم ریښه شته-- ریښه یا جرړه یې -- ار -- ده چې اصلي بنیادي او عالي ډلو یا خلقو ته وایي-- دغه-- ار -- نه ارین جوړ شوی دی چې بیا د بنیادي او عالي قبیلو د پاره مستعمل شوی دی-- دغو بنیادي قبیلو کښې یوه د پکهتین پکتا او پکتویک په نوم هم یاده شوې ده چې ویدي ایراني او یوناني لیکونو کښې یې ذکر شوی دی-- وروستو ترې پکهتین پشتین پشتون او پښتون جوړ شوی دی--
دا هم باید ووایم چې د حضور اکرم ص له خوا قیس عبدالرشید ته د بطان لقب ورکول او بیا ترې پټهان جوړیدل کوم قوي سند نه لري-
حنیف خلیل

---

د علامه اقبال د یو علامتي نظم پښتو ترجمه د مینه والو په خدمت کښې

اردو نظم : علامه محمد اقبال
پښتو ترجمه : حنیف خلیل

ستوری

د سپوږمۍ وئیره ده که وئیره د سحر تا ته
که د بنایست د انجام راغللو خبر تا ته

د لوټ کیدلو وئیره تا ته د رڼا پیښنه ده
لکه بځري ته چې وئیره د فنا پیښنه ده

تا ته اسمان' زمکې نه لرې ښکلی کور درکړو
لکه سپوږمۍ یې زرزري لباس پرې نور درکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجیبه نه ده چې بیا هم سا دې له تنه اوځي
ټوله شپه ریږدې او خوله دې له بدنه اوځي

یه ځلیدونکیه مسافره دلته حال دی عجب
د یو عروج چې وینې بل لره زوال دی عجب

ستوري لکونه ورک کړي دا د نمر هستي ده کنه
خوب د فنا غیږه کښې هم یوه مستي ده کنه

غوټۍ له ژونده که رخصت اخلي نو ګل غوړیږي
د نشت هنداره کښې تصویر به درته بل ځلیږي

سکون خو چرته د قدرت په کارخانه کښې نشته
بې له بدلونه خو ثبات په زمانه کښې نشته

اردو کلام---- ستاره

قمر کا خوف کہ ہے خطرۂ سحر تجھ کو
مآل حسن کی کیا مل گئی خبر تجھ کو؟

متاع نور کے لٹ جانے کا ہے ڈر تجھ کو
ہے کیا ہراس فنا صورت شرر تجھ کو؟

زمیں سے دور دیا آسماں نے گھر تجھ کو
مثال ماہ اڑھائی قبائے زر تجھ کو

غضب ہے پھر تری ننھی سی جان ڈرتی ہے!
تمام رات تری کانپتے گزرتی ہے

چمکنے والے مسافر! عجب یہ بستی ہے
جو اوج ایک کا ہے ، دوسرے کی پستی ہے

اجل ہے لاکھوں ستاروں کی اک ولادت مہر
فنا کی نیند مے زندگی کی مستی ہے

وداع غنچہ میں ہے راز آفرینش گل
عدم ، عدم ہے کہ آئینہ دار ہستی ہے

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکوں محال ہے قدرت کے کارخانے میں
ثبات ایک تغیر کو ہے زمانے میں

---

پښتانه باید خپل سوچ بدل کړي

د هر وخت او دور خپلې خپلې غوښتنې وي-- یو وخت وو چې واکمني او ترقي به هم د بدني جنګ ګټلو او زور لرلو په نتیجه کښې کیدله خو بیا د دور غوښتنې بدلې شوې-خبره ذهني مقابلې او د ساینس او ټیکنالوجي میدان ته راغله تر دې چې ګټې او اقتصاد ته راغله- خو زمونږ پښتانه اوس هم په خپله هغه جنګي ماضي فخر کوي او د خپلو نیکونو جنګي کارنامې په ویاړ بیانوي- د پښتنو دغه سوچ او نفسیاتو نه پردو مکارو قوتونو ډیره ګټه تر لاسه کړې ده- پښتون ته وایي ته توریالی او جنګیالی یې ستا نیکونو هم توره وهلې دي نو اوس د جنګ میدان کښې به ته یې--ګټه به ته کوې-- ورځه پرې-- دغسې پښتنو پردي جنګونه هم په خپل سر قبول کړي دي- په هر لور پښتون مري او بهرني قوتونه یې تماشې کوي-
نن که پښتون خپل سوچ بدل کړي-- هغه په خپله پښتونولی کښی په ننواتې فخر وکړي نو د امن پیغام--که په تیږه ویاړ وکړي نو امن-- که په بدرګه فخر وکړي نو امن او مینه-- که په پنا ورکولو ویاړ وکړي نو امن او مینه--که په خپلو جرګو مرکو حجرو او میلمه دوستۍ فخر وکړي نو مینه او ورورولي--که په خپل کلاسیک فخر وکړي نو مینه او اخلاق-- که په خپل رحمان بابا ویاړ وکړي نو د مینې پیغام او د انسانیت شاعر-- هر کله چې پښتانه د فخر او ویاړ دومره زیاته سرمایه لري نو بیا نن هم په جنګ فخر کول او پردي جنګونه په خپل میدان ګرم ساتل-- هر څو که راتپلی شوي جنګونه دي او پکښې زمونږ د جغرافیې اثرات او مجبورۍ هم دي-- خو ګټه به څه ولري-- د نورو په لاسونو کښې به لکه د تاش د بادشاه تر څو لوبیږو-- مونږ خو اوس دې ځای ته رارسیدلي یو چې غر نښتر چنار او مارغان مو هم محفوظ نه دي -- کاروان هسې خو نه دي وییلي-

مارغان دې راشي زمونږ لپو کښی دې ځالې وکړي
غر مو نښتر نه لري کلی مو چنار نه لري

---

هنر-- فن یا ارټ-- یعنې څه

شاعري مصوري اداکاري موسیقي او ځني نور- دغه ټول ښکلي هنرونه یا فنون لطیفه ګڼلی شي خو ولې او څنګه-
فنونه په دوه قسمه دي. یو ته لطیف فنونه وئیلے شي او دویم ته صناعي یا مصنوعي. په مصنوعي فنونو کښې د کار کسب د هنر عنصر شامل وي او زیات مادیت سره تعلق لري. لطیف فنونه د روحانیت او یا بیا داخلیت سره تعلق لري چې د انسان په خیال، فکر، جذبه او احساس ولاړ وي په دې طریقه انسان چې په کومو ذریعو د خپل خیال، فکر، جذبې او احساس اظهار کوي هغې ته لطیف فنونه یا فنونِ لطیفه وئیلے شي. یا په نورو ټکیو کښې مونږ دا هم وئیلے شو چې د کومو څیزونو بنیاد چې په تعقل ولاړ دے، هغه د علم او سائنس سره تعلق لري او د کومو څیزونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنیاد چې په تصور او تخیل ولاړ دے. هغه د فن سره تعلق لري او د فن د تعریف په لړ کښې نقادان په دې خبره متفق دي چې د خپلو داخلي جذباتو او احساساتو د څرګندونې نوم فن یا آرټ دے-
هر کله چې د اردو فن او د پښتو هنر د پاره په انګرېزۍ کښې د آرټ تورے مستعمل دے نو راځئ چې د دغه آرټ Art وضاحت هم وکړو. د دغه آرټ د وضاحت د پاره ضروري ده چې د آرټ سره تړلي د انګرېزۍ ځینې نور اصطلاحات هم واضح کړو او دغسې د آرټ مفهوم ته ځان ورسوو.
۱. Artifice : دا یوه اصطلاح ده چې په لغتونو کښې ئې مفهوم داسې څرګند دے. په تېزۍ سره، په هوښیارۍ سره او په عقل مندۍ سره منصوبه جوړول. لاره ویستل.
۲.Artificer : دا اسم دے، نوم دے یا د انګرېزۍ Noun دے چې مطلب ئې دے منصوبه جوړونکے، هوښیار، عقل مند، ماهر، کاریګر او جوړوونکے.
۳. Artificial : د انګرېزۍ د دغه توري لغوي معنیٰ ده جوړ شوے، مصنوعي، د انسان کمال سره جوړ شوے. داسې جوړ شوے چې په قدرتي توګه په خپله نۀ وي جوړ بلکې د انساني پوهې، عقل صلاحیت او منصوبې سره جوړ وي.
٤. Artisan: د دې توري مطلب دے هنر مند، ماهر، په لاسونو د څیزونو جوړوونکے، دستکار.
٥. Artist : د آرټسټ مطلب دے د اوچتې درجې هنر مند، فنکار، په کومه خاص څانګه یا مېدان کښې ماهر.
٦. Articulater : د انګرېزۍ د دغه توري مطلب دے په هنر سره خبرې کوونکے، ښکلے ویاند، صفا صفا وېنا کوونکے، واضح، فصیح او بلیغ، خبره رسوونکے، په څرګند ډول د خلقو پوهوونکے.
۷. Artistry: د دغه توري مطلب دے هنري صلاحیت، پوهه، فنکارانه خوبۍ لرل یا د فن او هنر فطري ملکه لرل.
دغه څومره توري او اصطلاحات چې د خپلو خپلو معنو سره راوړلے شول، په دغو ټولو کښې بنیادي ریښه د آرټ Art ده او بیا په هم دغه تناظر کښې آرټ Art په خپله یوه ځانګړې او مکمله اصطلاح هم ده چې د دغو ټولو تورو یا اصطلاحاتو نه بیل خپل ځانګړے تعریف هم لري خو په بنیاد او ریښه کښې به ئې دغه ټولې معنې هم شاملې وي. په دې بنیاد چې مونږ د آرټ لنډ تعریف کوو نو وئیلے شو چې:
"د کوم خاص مقصد او ښکلي هدف پوره کولو یا تر لاسه کولو د پاره موجوده څیزونه یا مواد په استعمال کښې راوړل او د یو نوي څیز تخلیق کول چې ښکلا او زړۀ راښکون هم ولري او د هنرمند یا فنکار د قدرتي صلاحیت، پوهې، شعور، داخلي کمال، مهارت او خدائي ورکړې قابلیت نخښې په کښې ښکاره شي او ورسره د حسن او جمال تصور رامخې ته شي-
د فن هنر یا آرټ دغه لغوي تعریف نه اوس مونږ په آسانه دې نتیجې ته رارسېدے شو چې هنرونه Arts په دوه قسمه دي چې یو ته ساده هنرونه Simple Arts وئیلے شي چې په عمومي ډول د مادي څیزونو سره تعلق لري نو ځکه ورته مادي هنرونه Meterial Arts هم وئیلے شو او دوېمه برخه ئې د ښکلو هنرونو، زېبا هنرونو، فنونِ لطیفه یا (Fine Arts) ده چې په عمومي توګه مادي نۀ دي بلکې د یو خیال، فکر، تخلیقي سوچ او داخلي صلاحیت پېداوار ګڼلے شي.البته د معنویت د اظهار نه پس بې ځنې شکلونه مادي هم کېدی شي لکه خطاطي یا مصوري او سنګتراشي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صحافت او جرنلزم--- معنوي تفهيم**

**لفظونه او ټکي په خپل تهذيبي او ارتقايي پس منظر کښې خپلې معنې بدلوي- په انګرېزۍ کښې چې د صحافت د پاره کوم ټکے استعمالېږي نو هغه دے Journalism دې ټکي کښې چې چې کومه اصل جرړه ده نو هغه ده Jour او دا Jour د زړې فرانسيسي ژبې ټکے دے چې په فرنچ کښې Jour وائي "ورځې" ته. او د دغه Jour نه جوړ شوے دے Journal. خو د فرانسيسۍ دا Jour په خپله د لاطينۍ يو زوړ ټکي نه راغلے دے چې هلته دے Diarness - په لاطينۍ ژبه کښې هم دا ټکے د ورځې د پاره استعمالېږي. د دغه Diarness نه جوړ شوے دے Diary. او د ډائري مطلب دا دے د ورځې حالات ليکل چې مونږ ورته په اردو يا فارسي کښې وايو روز نامچه. نو د لاطينۍ نه ټکے لاړو فرانسيسي ته، فرانسيسۍ کښې شو Jour او چې nal ورسره شو نو د دې مطلب دا شو چې د معلوماتو خوندي کولو او رسؤلو لاره. دغه شو Journal او د دې نه جوړ دے Journalism. خو دا په نظر کښې ساتل پکار دي چې په ابتدائي معنو کښې د Journal مطلب دے د ورځې حالات رسؤل، يعني هغه حالات چې روزانه پېښېږي او روزانه اولس ته رسېږي. ورستو بيا Journal د ورځې نه راوتے دے او د هفتې او مياشتې حالاتو ته راغلے دے، د مياشتې نه هم هغه بيا درې مياشتيز، شپږ مياشتيز او کلني حالا تو ته راغلے دے. کله چې مونږ د عربۍ ټکي صحافت ته راځو نو صحافت په اردو، فارسي او نورو مشرقي ژبو کښې هم مروج دے. خو د دې جرړه هغه عربي ټکے دے چې مونږ ورته وايو "صحيفه" د صحيفه مطلب دا دے چې يو ربنتونے پيغام او ليکلے څيز چې په هغې کښې حالات، معلومات او خبرونه وي. خو په صحيفه کښې دا شرط نشته چې د ورځې حالات. ځکه چې صحيفه ربنتوني پيغام او بيا ليکلي څيز ته وائي چې هغه خبر رساني کوي يا معلومات رسوي. نو هغه د ورځې هم کېدے شي د مياشتې او کال هم کېدے شي او د ټول عمر هم کېدے شي. مونږ چې د پېغمرانو تعليماتو ته صحيفه وايو نو دغه صحيفه د صحافت جرړه او بنياد دے چې په عربۍ کښې صحيفه ده- خو عربۍ ته هم دغه صحيفه ټکے د نورو سامي ژبو نه راغلے دے-**

**دغه شان په دې نن زمانه کښې چې ميډيا دومره تېزه شوې ده يا د خبر رسؤلو لارې دومره تېزې شوې دي. نو پخواني صحافت کښې خو د ټولو نه کم يونټ وو ورځ يعني د پوره ورځې معلومات رسؤل. خو زمونږ په ننني زمانه کښې يونټ د ورځې نه هم د کمۍ طرف ته راغلو. مخکښې خو به مونږ وئيل چې د کم نه کم د ورځې معلومات رسؤل يا زيات نه زيات د ډېرو ورځو يا د هفتې يا د مياشتو معلوماتو رسؤلو ته صحافت وائي. خو اوس خبره ريورس يعني مائنس کښې روانه ده اوس د کم نه کم ټائم او دورانئي خبر او معلومات هم اولس ته رسي. اوس د اليکټرانک ميډيا په وجه د ټولې ورځې خبرونو ته جرنلزم نهٔ وايو بلکې مونږ ته ګهنټه په ګهنټه نوې خبرې راځي او هغه اولس ته رسي، ګهنټو نه خبره مينټونو ته راغله مينټ په مينټ خبرونه راځي او هغه اولس ته رسي، بلکې سکنډونو کښې رسي او ټولې دنيا رسي. مطلب دا شو چې د پخوانۍ فرانسيسۍ ژبې ټکے Jour بيا Journal او بيا Journalism مطلب دا وو چې دومره تېزي چې د هرې ورځې معلومات ورسي، خو اوس د Journalism مطلب دا دے چې دومره تېزي چې د سيکنډونو خبر ورسي. په سيکنډونو کښې ځکه چې اوس د ابلاغ او ميډيا لارې زياتې شوې، انداز بدل شو، هر څهٔ اليکټرانک ميډيا په خپل ګرفت کښې واخېستل نو دا هم جرنلزم دے. اوس دې پس منظر کښې که مونږ ګورو چې د جرنلزم بنيادي مقصد خو دے پېغام رسول يا د پېغام رسانۍ لارې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېدا کول، هغه ذريعي پېدا کول چې معلومات پرې اولس ته ورسي نو دغه جرنلزم دے.-- او يا صحافت دی- خو په دې هم پوهه شو چې ټکي او کليمې خپلې معنې په خپل تهذيبي پس منظر او ارتقايي صورت حال کښې بدلوي-

---

زما د دغه غزل غوښتنه رانه څو مينه والو کړې وه- د هغوئ د مينې په احترام کښې يې ملګرو سره شريکوم-

کۀ تور لباس کعبه غوندې سينګار کـــړې لاليه
ګـمـراه د زمـانـې به هـم په لار کــــړې لاليه

خبرې دې سندرې دي کلونه پـرې سـرشـار يـم
دا ځکه څو لـمـحو له مې ايسار کـــړې لاليه

پوهېږم اپوټه ليکلي ســـم وي آئـيـنـه کـښې
په زړه کښې دې اقرار وي چې انکار کړې لاليه

بارود توره ټوپک دې درنه درې واړه لـوګـے شي
راپورته چې په غيږه کښې ستار کــــړې لاليه

شيخ نه يم چې د تورو زلفو ورد کـــوم په پټه
دا سپينې سپينې ځکه مې په جار کـــړې لاليه

پيرزو کۀ د سرو شونډو اننګو په خليل وکړې
باغ باغ به پرې لمبې او سور انګار کـــړې لاليه

حنيف خليل

---

تحريک او نظريه د ادب په تناظر کښې

تحريکونه د دوو بنيادي لارو نه سر ښکاره کوي يو د انداز اسلوب يا سبک نه او دويم د نظريې نه-- يعني ځينې سبکونه په ارتقايي شکل تحريکونه جوړيږي او ځينې (Theorie) يا نظرئې تحريکونه جوړيږي،دا نظريات هم هغسې کېدے شي، چې سياسي نظريات وي نو سياسي تحريک به ترې جوړيږي، که ادبي نظريه وي، ادبي تحريک، که مذهبي نظريه وي مذهبي تحريک ترې جوړ شي، د دې مطلب دا دے، چې د تحريک يو بنياد خو هغه وو چې مونږ د سبک نه شروع کړو او تحريک ته راورسېدو خو يو بنياد ئې نظريه دے، په دې ټولنيزو علومو کښې يو څيز هم بغېر نظرئې نۀ شي کېدلے، څنګه چې سياسي، نفسياتي، مذهبي، نظريات دي، دغه شان ادبي نظرئې هم شته، نظريه پېش کوونکے يو فرد وي، هغه څۀ تصور وړاندې کړي، هغه تصور که انفرادي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجتماعي شو هغې ډېرو خلقو ته اپيل وکړو، په هغه نظريه باندې عملي کار وشو نو نظريه په خپله د تحريک شکل واخلي، دغه شان ادب کښې هم شوي دي، چې د ادب په مېدان کښې مختلفې نظرئې په مختلفو دورونو کښې پېش شوي دي او بيا هغه نظرياتو د تحريکونو شکل اخستے دے، د مثال په توګه، مارکسيزم، چې د مارکس د تصوراتو نوم دے، په ابتداء کښې دا نظريات دي، چې د هغۀ څومره د نظرياتو په حق کښې پيروکار وو، هغوي خپل ليکونه وکړل نو نظريه د تحريک په لُور روانه شوه، اوس چې مونږ مارکسيزم وايو، سره د دې چې بنياد ئې نظريه ده چې اوس ئې د تحريک شکل اخستلے دے، کله چې مونږ ريېلزم يا رومانتيسزم وايو نو دا د نظرېو نه تحريکونه جوړ شوي دي، کله چې مونږ کميونزم وايو نو دا يو نظر وو، يو تصور او نظريه وه، چې دغه نظريه زياتو خلقو خپله کړه نو کميونيزم په خپله د تحريک په لُور مزل وکړو، د دې نظريو په بنياد تحريکونه وچلېدل- يعني د هر عملي قدم د پاره يو نظرياتي اساس وي، تصورات وي، دغه تصورات په مختلفو ټولنيزو علومو کښې موجود وي نو دغه رنګ په ادب کښې هم نظريات موجود دي، دغه ټول نظريات دي چې د تحريک په لُور ئې قدم اخستلے دے،
دلته د دې خبرې وضاحت ضروري وو، چې (Theory) په تحريک څنګه بدلېږي، چې کله يو (Theorist) يا يو نظريه پېش کوونکے يو تصور پېش کړي، په خپل دور کښې هغه تحريک نۀ وي خو د هغې (Theory) يا نظرئې او تصور منونکي پېداشي، شرح کوونکي يې پېدا شي او هغه خلق بيا په خپلو ليکونو کښې يا په خپل سياست او ادب يا په خپلو مذهبي ليکونو کښې يا په نورو ټولنيزو علومو کښې په هغه نظرياتو باندې عملي قدمونه اخلي، کله چې دغه اجتماعي رنګ واخلي نو نظريه په خپله تحريک شي، ګويا تحريک ته رارسېدل په دوو لارو کېږي، يو د نظرئې د لارې او بله د انداز او اسلوب يا سبک د لارې، که اوس په ادب کښې تحريکونه لټوو نو مونږ به دغه دواړو لارو ته ګورو، ادبي تحريکونه نظرياتو نه جوړ شوي دي او يا ځينې تحريکونه د سبک او اسلوب نه جوړ شوي دي او د تحريکونو شکل ئې اخستلے دے، چې کله مونږ د تحريک خبره کوو، په دې کښې بنيادي څيز (Movement) وي، (Move) حرکت وي نو دا حرکت دا (Movement) يواځې د ادب د پاره نۀ وي، دا خو د ژوند د هر اړخ د پاره وي، چې د ژوند د هر اړخ د پاره وي نو مونږ سره ځينې تحريکونه سياسي دي، ځينې نفسياتي دي او ځنې نور- خو دغه ټول د ادب برخه هم ده، د ادب نه مراد نړي وال ادب دے يا دغسې د ژوند سره تړلې نورې نظرئې، روئې، سوچ،فکر هغه چې د تحريک شکل ئې اخستې دے، اول په خپله په خپل مېدان کښې هغه (Theory) وي او د (Theory) نه بيا تحريک جوړ شوے وي، بيا ئې د هغه ميدان يا مضمون نه سفر کړے وي، او په ادب کښې هم بيا يو ادبي (Theory) نظريه او بيا ادبي تحريک جوړ شوے وي. اوس که په دې تناظر کښې په تحريکونو نظر اچوو نو اصل خبره زمونږ ادبي تحريکونه دي، په ادبي تحريکونو کښې سياسي، نفسياتي، جمالياتي، مذهبي ټول تحريکونه شامل دي- هغه مونږ د ادب دائره کښې د بحث موضوع جوړه وو، نور د دې تحريکونو خپل خپل ځائے او محرک، مضمون دے، چې خپل پس منظر کښې راوچت شوے دے خو د ادب برخه جوړه شوې ده، په هغه تناظر کښې که مونږ د ادب لوئے تحريکونه راخلو، په ادب کښې درې لوې او بنيادي تحريکونه ګڼلے شي -- کلاسيکي-- رومانوي-- او مقصدي يا حقيقت پسند-- بيا نور ادبي تحريکونه، د دې درېو څانګې وې او بيا ځانله هم تحريکونه جوړ شوي دي چې د دغو درې واړو او يا دغو دريو نه زيږېدلو نورو ادبي تحريکونو بنياد په ابتدا کښې خپله خپله نظريه وه چې ورو ورو يې د تحريک په لور سفر کړے دے-

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حمزه ځنګه د غزل بابا شو

د شلمي صدۍ په شاعرانو کښي حمزه بابا هغه شاعر دے چي د پښتو غزل سره ئي نامه د لازم او ملزوم حیثیت لري- حمزه بابا ته د پښتو نومیالي شاعر ملک الشعراء سمندر خان سمندر پۀ یوه مشاعره کښي پۀ دې شعر اورولو چي:

توري سترګي مي د یار مخ ته پۀ ځیر دي
بیا حبشو پۀ کعبه تړلے لام دے

د غزل بادشاه خطاب ورکړے وو- او بیا د غزل بادشاه نه بابائے غزل مشهور شو- د یوې اندازې تر مخه حمزه بابا د یو نیم زر نه زیاتي غزلې لیکلې دي- او پۀ دومره زیاتو غزلو کښې یې یو شعر هم د معیار نه نۀ دے پریوتے-

حمزه بابا ته پخپله هم دا احساس شوے وو چي هغۀ پښتو غزل کوم لوړ مقام ته رسولے دے دغه احساس د هغۀ د شخصیت برخه وه- او لکه د هر فنکار حمزه بابا هم خپل شخصیت پۀ خپل فن او شاعرۍ کښې منعکس کړے دے- دغه انعکاس او د شخصیت اظهار د هغۀ د غزل فني تقاضه هم وه او د هغه د ذات نفسیاتي غوښتنه هم- پۀ دې وجه د هغۀ پۀ شاعرۍ کښې د غزل پۀ حواله د شاعرانه تعلي اظهار د نورو شاعرانو پۀ مقابله کښې نسبتاً زیات شوے دے- د شاعرانه تعلي دغه اظهار کله خو د غزل د مجموعي ارتقاع په حواله شوے دے او کله د غزل د جزوي فني محاسنو د تذکرې سره یو ځائې شوے دے- د غزل په مجموعي حواله د هغۀ شاعرانه تعلي د شخصیت اظهار او نفسیاتي تقاضه څۀ پۀ دې انداز شوې ده-

چي خپل غزل د چا نه واورم حمزه
وایم چي چا هسې وینا کړې ده
ستا پۀ اننګو کښې د حمزه د وینو سرۀ دي
تۀ شوې د پښتو غزله ځوان زۀ دې بابا کړم
قام ته بادشاهي ښائي زما د سخن سیوري
خپله که پۀ شان د هما اوچ هدوکي شپلم

او بیا د شاعرانه تعلي سره چي د خپل غزل د کوم فني عنصر اظهار کوي نو دا ئي د غزل یو بل انفرادي رنګ دے- لکه دا شعر چي د غزل د بلندۍ په حواله د شاعرانه تخیل فني عنصر ذکر کوي-

لا سخن خیزې دي زما د تخیل ژورې
زۀ د غزل د بلندو نه پریوتلے نۀ یم

یا دا شعر چي پکښې د غزل د پاره د نوي خیال لرلو ذکر کوي-

حمزه! چي د غزل نه رنګینۍ دې ورکي نۀ شي
دا ښائي چي تل تل ولري خیال نوے نوے

د خپل غزل او شعر د روحاني، الهامي او شاعرانه امد د کیفیت تذکره د شاعرانه تعلي پۀ آئینه کښې داسې ښائي-

هر سحر ملک د شعر کړي حمزه ته الهامونه
کیف پکښې ملکوتي وي، ناسوتي سوز پۀ سخن کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معني او د لفظونو ترړون يا مضمون او انداز بيان د نسبت ذکر کولو سره د تعلئ دا انداز ئې هم د ځيرلو دے چې وائي:

چې ئي اظهار لره الفاظ نۀ مومم
خيال ته زما هسې مضمون راغے

دغه د نوي خيال غزل د مضمون ندرت، د تخيل لور والے او الهامي کيفيت د حمزه د تعزل توکي دي- د ځۀ پۀ وسيله چې ئي غزل فني بلندو ته رسولے دے- حمزه د غزل ژور مفهوم ته ډير زيات وسعت ورکړے دے- د هغۀ غزل پۀ معنوي لحاظ صرف د ښځو سره خبرې نۀ دي بلکې يو پوره معاشي، سياسي ثقافتي او معاشرتي پس منظر لري او د معني او مضمون تنوع لري- دغه شان پۀ صوري لحاظ هم د هغۀ غزل صرف د بحر وزن او رديف قافيي جوړښت نۀ دے بلکې د لفظونو د انتخاب غنائيت، برجستګی، لفظي صنائع او نورو فني توکو يو ماهرانه تکنيک لري- هم دغه ځيزونه د غزل پۀ تغزل کښې اضافه کوي- ځکه خو د حمزه غزل د تغزل نه ډک وي بلکې تغزل ئي د غزل روح ګڼلے شي- هم دغه د تغزل اوچت شان حمزه پۀ خپل غزل کښې د شاعرانه تعلئ پۀ صورت کښې منعکس کړے دے

خو د غزل په حواله د حمزه تعلي هسې نه ده-هغه په رښتيا د غزل بادشاه هم وو او بابا هم- هغه حق لري چې تعلي وکړي او دغه احساس هم حمزه بابا ته شوے وو نو بس په حقه يې ويېلي وو چې-

تعلي مې د غرور له مخه نه ده
تورې سترګې په رنجو د امتياز يم
حنيف خليل

---

قتيل شفايي د سندرې بادشاه او د رومان او ترنم شهزاده شاعر دی---- د هغه د يو اردو غزل پښتو منظومه ترجمه د ملګرو سره شريکوم-

د تن په جام کښې غوړيدلي د ګلاب غوندې ده
اورم له خلقو چې ځواني يې د شراب غوندې ده

ګلاب ګلاب سر نه تر پښنو غزل غزل ځهره
بس خو بيخي د يو شاعر د حسين خواب غوندې ده

چې د هر چا د پارسايئ نه تيېرې وتښتوي
هغه بشره خو په رښتيا چې د مهتاب غوندې ده

د ځوارلسمې شپه ' د جام او د پيالې نه بغير
د چا غريب زيلي ژوند او د شباب غوندې ده

نه شاعري نه محبت نه چې وي جام واعظه
ستا هم د ژوند قيصه بيخي د يو عذاب غوندې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



قتيله ما چې مينه کړې ستمگر سره ده
دغه يوه خطا مې خدايگو د ثواب غونډې ده

اردو غزل-------قتيل شفايي

بدن کے جام میں کھِلتے گلاب جیسی ہے
سنا ہے اس کی جوانی شراب جیسی ہے
کنول کنول ہے سراپا، غزل غزل چہرہ
وہ ہوبہو کسی شاعر کے خواب جیسی ہے
اندھیرے دور کرے سب کی پارسائی کے
وہ ایک شکل کہ جو ماہتاب جیسی ہے
بغیر جام و سبو، چاند رات کی حالت
کسی غریب کے عہدِ شباب جیسی ہے
نہ شاعری، نہ محبت، نہ جام، اے واعظ
یہ زندگی بھی تِری اک عذاب جیسی ہے
قتیلؔ میں نے کیا پیار اک ستمگر سے
یہ وہ خطا ہے جو کارِ ثواب جیسی ہے
پښتو ترجمه---- حنيف خليل

---

غني خان نور معاف کړئ

ډوب په سمندر کښې شوم خو لوند نه شوم
خدايه لږ باران وکړې چې وچ شمه

زه کافر يم د کافرو د کافر نه
زما خداې هم د کافرو نه کافر دی

بې اودسه مونځ کوه ثواب يې ډير دی
بې نکاح ښځه ساته گناه يې نشته

ما چې څه ليدلي هغه خداې نه دي ليدلي
څوک چې کليمه د محمد وايي کافر دی

کليمه د پيغمبر وييل گناه ده
کليمه د غني خان وييل ثواب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه شعرونه د څه وخت نه په فيسبک او واټسپ ګروپونو کښې هم او په ځانګړو والونو هم اوړي راوړي او د غني خان په نوم وړاندې کولی شي- او بيا په کمنټونو کښې پرې هم عجيبه تبصرې رواني وي چې دا خو غني بابا ډيره ژوره فلسفه وړاندې کړې ده--خبره دا ده چې يو خو دغه شعرونو کښې يو هم د غني خان نه دی او نه پکښې کومه ژوره فلسفه شته- هسې لکه د پخوانو خلقو دونې دي- يو خو زمونږ ډير دانشوران صاحبان دغسې مبهمو دونو او ګډو وډو ته هم فلسفه وائي-او بيا چې د غني خان نوم ورسره وتړلی شي نو بس بيا خو يې خامخا په ژوره فلسفه يادوي- خو ما ته دا غني خان سره زياتی ښکاري- د هغه بدنامي ورسره کيږي- ځکه چې د دغه هر شعر تعلق خداې رسول او مذهب سره دی - په داسې انداز چې د ساده اولس د ګمراهی سبب هم جوړيدی شي- هر څو که دغو شعرونو کښې يوه معمه شته يا يوه پټه خبره پکښې ضرور شته خو ذهن د ګمراهی په لور مايل کوي- بل دا هغسې کومه شعري او هنري معمه هم نه ده لکه کلاسيک شاعرانو به چې په شعر کښې ډيره په هنر راوستله- هغو هنري معمو کښې به کلاسيکو شاعرانو يا خو تاريخ بيانولو يا کومې اهمې واقعې ته به اشاره وه يا بله کومه فني نکته به يې بيان کړې وه- د هرې معمې تعلق به خداې رسول او مذهب سره نه وو- لکه د علي خان يو بې نقطې غزل نه دا شعر چې---

معمه مې ده اووه سوه د اسم

لا هم کم دی که دوه واره ورله لام لاړ

مې --- به زړه املا کښې د م لاندې زير باندې لوستی شو

اوس داسې هنري او تکنيکي شعر سره د علي خان مقام پورته کيږي خو د غني خان په نوم پيش کړی شوو دغو شعرونو سره د غني مقام راټيټيږي-- او بيا غني خان غريب چې دغه شعرونه وييلي نه دي نو د هغه نوم سره يې تړل ولې او په کوم دليل کيږي-ځکه وايم چې غني نور مه بدناموئ- بس دا غني خان نور معاف کړئ-

حنيف خليل

---

حمزه بابا او ښکلي هنرونه(فنون لطيفه)--- يو نظر انداز اړخ

شاعري پخپله يو ښکلی هنر دی او حمزه بابا د پښتو د شلمې پيړۍ د ټولو نه لوې شاعر دی چې ورسره يې په اردو او فارسی کښې هم د کمال مشق سخن کړی دی- ډرامه يو بل ښکلی هنر دی چې حمزه بابا په دغه ميدان کښې هم د پښتو د ټولو نه لوې ډرامه ليکونکی دی - د سټيج ريډيو او کتابي ډرامو په سوونو فنپارې يې له قلمه وتلي دي تر دې چې -- د ډمانو ښار-- په نوم يې منظومه ډرامه هم ليکلي ده- موسيقي يو بل مهم ښکلی هنر دی چې اغيزې يې تر صوفيانه مسلک رسيدلي دي- مونږ ته پته ده چې حمزه بابا به ځان ته چشتي نظامي وييلو او دا هم مونږ ته پته ده چې د تصوف په چشتيه سلسله کښې د سماع قوالی او صفا موسيقی روايت ډير پوخ دی چې اثر يې په حمزه بابا هم وو- د خپل مرشد سيد عبدالستار شاه باچا په نګرانی کښې هم او بيا د هغوئ د وفات نه پس د هغوئ په مزار يې هم په ګنو محفلونو کښې برخه اخستې ده- د موسيقی په پردو سر او تال دومره پوهه وو چې خپل د طريقت ورور او لوې موسيقار رفيق شنواري ته يې په ډيرو موقعو لارښودنه کړې ده او پخپله هم د رباب ښه غږونکی وو- ځکه خو يې شاعري موسيقی ته جوړه هم ده او ښه پريمانه وييلی شوې هم ده- اداکاري يو بل ښکلی هنر دی چې د دغه شوق پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو د پاره حمزه بابا د بمبئ فلمي صنعت ته تلی وو-- فلم کښې د اداکارۍ اډيشن يې هم ورکړی وو خو اواز يې دومره نری وو چې نه د هيرو د پاره کامياب شو او نه د ويلن د پاره- نو بس لوی فلمساز او هدايتکار رفيق غزنوي يې دې ته تيار کړو چې د پښتو وړومبی فلم ليلا مجنون يې وليکلو او د رفيق غزنوي په هدايتکارۍ کښې يې په کال ۱۹۴۱ کښې دغه فلم جوړ کړو چې حمزه بابا پکښې د اداکار په حيث يو وړوکی کردار هم لوبولی وو- هدايتکاري هم د ښکلو هنرونو څانګه ده چې حمزه بابا به دغه لړ کښې کله کله د هدايتکار په حيث رفيق غزنوي او د امجد خان پلار زکريا خان جينت پشاوري ته هم مشورې ورکولې تر دې چې کيمره مين ته به يې هم مشورې ورکولې او هغوئ به پرې عمل هم کولو- خطاطي او مصوري يو بل اهم ښکلی هنر دی چې حمزه بابا دغه ذوق هم لرلو- خپل ژوند ليک کښې يې ويېلي دي چې د کالجيټ سکول د لوست په وخت کښې به يې په تختی د ليک په ځاې خاکې او تصويرونه جوړول خو استاذ په دغه عمل داسې وټکولو چې د حمزه په ذات کښې پروت مصور او خطاط يې په ماشوموالي کښې قتل کړو- ګويا د فنون لطيفه په هره څانګه کښې حمزه بابا هڅه کړې ده چې د خپل فطري صلاحيت ښودنه وکړي- چرته کامياب چرته ناکام- خو دې کښې شک نشته چې حمزه بابا د فن ارټ او هنر د دنيا ډېر لوې نوم دی- پته نشته چې حمزه شناسان عقيدتمند به يې دې لور ته متوجو وي او کنه- نوټ--- دغه ټولې اشارې د حمزه بابا دوو اردو ژوند ليکونو او يو پښتو ژوند ليک کښې شته چې منظم کار پرې کيدی شي-

---

ګران او خوږ کشر ځاروان محسود راته تيره ورځ ويېلي وو چې کله کله خپل شعرونه هم راسره شريکوه - ځنو نورو مينه والو هم رانه غوښتنه کوله- د دوئ د غوښتنې په احترام کښې د غزل څو شعرونه د مينه والو په خدمت کښې-

بيا به پخپله زمانه کړي زمونږ ښکل لاسونه
که له ګريوانه د يو بل مو وويستل لاسونه

ته د اختر په شپه غوښتنه د نکريزو کوې
دلته سره شوي دي په وينو د يو بل لاسونه

وييل يې ستا په ژوند کښې ورځ نشته دی تل به شپه وي
ښار کښې پرون د يو مزدور پالي کټل لاسونه

لاس په دعا يم خدايه بيا هغه لحظې راولې
هغه زلمو به چې اتڼ کښې اړول لاسونه

دا التجا به يې په شونډو وه چې لوې سرې شي
مور به مې هر مانځه نه پس پورته کول لاسونه

---

د تحقيق طالبعلمانو د پاره څو سرسري خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تحقیق اصول ډېره پراخه موضوع ده چې ګڼ شمېر کتابونه پرې لیکلے شوي دي. په بنیادي توګه دغه موضوع مونږ په دوو برخو وېشلے شو. چې یوه برخه ئې د تهیوري Theory ده او دوېمه د عملي اطلاق Practical ده. د تهیوري برخه ته ئي د تحقیق اصول یا په اردو او فارسی کښې "اصولِ تحقیق" یا په انګرېزۍ کښې (Research Methodology) وئیلے شي. دغه شان د تحقیق د ټاکلو اصولو په رڼا کښې بیا عملي تحقیق کولے شي.

تعریف:
مونږ که د تحقیق تعریف کوو یا په بنیادي مفهوم ئې ځان پوهوو نو باید چې وړومبے د عربۍ د لفظ "تحقیق" په معنیٰ ځان پوهه کړو. د عربی د لفظ تحقیق معنیٰ ده، د حق لټون کول، حقیقت څارل، په عربۍ کښې ئې ماده داسې ده. حَقَّق – یحقق، تحقیقًا، هم دغه د عربی لفظ تحقیق د پاره په انګرېزۍ کښې د ریسرچ اصطلاح راوړلے شي چې د دوؤ تورو مجموعه ده. (RE+Search) د سرچ مطلب دے لټون او تلاش – او د ري مطلب دے په دوېم وار. دوباره بیا بیا دغسې د انګرېزۍ د لفظ ریسرچ (Research) مطلب شو دوباره تلاش. په دوېم وار لټون یا بار بار لټۀ کول. دغه تلاش او لټون هم هغه د حق او حقیقت لټون وي چې د عربۍ د تحقیق په اصطلاح کښې ئې وضاحت وشو. ګویا تحقیق هغه مسلسل عمل ته وئیلے شي چې حق، حقیقت یا رښتیاؤ ته رسېدلو د پاره کېږي. په دغه عمل کښې د ثبوت ضرورت هم وي او د سند یا دلیل ضرورت هم. څکه مونږ د تحقیق په نورو عناصرو بحث هم دغه د سند، دلیل، ماخذ او ثبوت د پېدا کولو د عمل سره کوو.

مواد راجمع کول(Data Collection):
په تحقیقي یا څېړنیز عمل کښې یوه فرضي موضوع خو د مخکښې نه په غېر منظم شکل ټاکلے شوې وي. په دغه موضوع د عملي تحقیق د پاره سندونه، ثبوتونه، دلیلونه او مواد په وړومبۍ مرحله کښې راجمع کولے شي چې دغه عمل ته په انګرېزۍ کښې (Data collection)وئیلې شي. د موادو را جمع کولو په دې ابتدائي مرحله کښې هر قسمه دلیل، ثبوت او سند لاس ته راوړلے شي. چې وروستو بیا دغه راغونډ شوي مواد د نورو مرحلو نه تېرولے شي.

د موادو تجزیه او جاج (Data Analysis) :
دا مرحله د موادو راجمع کولو نه وروستو کولې شي. دې مرحله کښې د راغونډو شوو مواد جاج اخستلے شي او دا کتلے شي چې په دې ټولو راغونډو شوو موادو کښې کوم د کار دي او کوم بې کاره. د کار موادو درجه بندي څنګه ده یعنې کوم سندونه زیات قوي دي او کوم کم. کوم به مخکښې استعمالولے شي او کوم وروستو. کوم سندونه به د څېړنې په کومه برخه او کوم باب کښې راوړلے شي. دغه عمل ته د موادو جاج یا تجزیه وئیلے شي. چې په انګرېزۍ کښې ورته Data Analysis وائي. دغه تجزیه کښې مواد د دوؤ بېلو مرحلو نه تېرولے شي چې یوې ته ئې خارجي نقد وائي. یعنې د خارجي نقد په عمل کښې د کار او بې کاره مواد بېلولے شي او بیا د داخلي نقد مرحله راځي چې د کار موادو ته درجه بندي ورکولے شي. د اهمیت او ضرورت مقام ئې ټاکلے شي. او په عملي اطلاق ئې غور کولےشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تحقیقي سوال او فرضیه Research question and hypothesis**

فرضیه د پاره د مفروضه اصطلاح هم راوړلے شي. دا هغه مرحله ده چې د راغونډو شوو موادو جائزه واخستے شي. مطالعه ئې وشي نو دا اندازه هم وشي چې په شوي تحقیق کښې خلا چرته ده. په کوم ځائے کښې سوال راپورته کیږي. چې دلته کمے دي. د مزید تحقیق ضرورت دے. او په هم دغه مقام خپلې موضوع ته د حقیقي شکل ورکولو منصوبه جوړولی شي. د خپلې څېړنې د پاره د فرضیې یا مفروضې تعین کولے شي یعنې خپل تحقیقي سوال د پاره یو فرضي جواب هم لټولی شي چې ورته مفروضه یا فرضیه ویيلی شي. او بیا په عملي څېړنه کښې د هم هغه مفروضې یا راپورته شوي سوال د پاره عملي تحقیق کولے شي. ګویا ټول تحقیق په اصل کښې د راپورته شوي سوال (Research Question) د جواب د پاره کیږي او په بنیادي توګه هغه خلا ډکولے شي چې د موادو جایزې او مطالعې په دوران کښې ئې تعین شوے وي.

**پس منظري مطالعه Literature Review:**

په څېړنه کښې دا هغه مرحله ده چې د راغونډ شوو موادو د مطالعې او جائزې سره تعلق لري. د دغو موادو مطالعه او جائزه خو په دې نیت کولے شي چې د خپلې مفروضې یا سوال تعین وشي خو په دغه مرحله کښې د مخکښې نه موجوده کار، دستاویزاتو، کتابونو او موادو یو تعارف هم پیش کولے شي چې دغه تعارف یا مطالعه په خپله د مفروضې په تعین او خلا په لټون کښې هم مرسته کوي. خو په بنیادي توګه د دغو مخکښې نه موجوده موادو، لیکونو، دستاویزاتو او سندونو تعارف په تحقیقي طریقه کار ته پس منظري مطالعه Review of literature وئیلے شي.

**نظریاتي اساس Theoritical Framework :**

په سماجي علومو کښې په خصوصي توګه تحقیق او څېړنه د یو ټاکلي نظریاتي اساس تر مخه کیږي. یعني تحقیق چې په کومه موضوع کولے شي. په هغه موضوع د مخکښې نه پیش شوې نظریې هم لټولے شي او بیا د تحقیق  د موادو او موضوع سره تړلې یوې یا یوې نه زیاتو نظریو ټاکنه کولے شي چې په خپله موضوع د دغو نظریو عملي اطلاق وکړے شي. دا داسې ده  لکه چې د تحقیق د عملي اطلاق د پاره نظریاتي اصول لټولےشي. ګویا په اقتصادي موضوع څېړنې د پاره به د اقتصاد د ماهرانو اصولي مباحث کتلے شي. په سیاسي موضوع د سیاسي ماهرانو، په نفسیاتي موضوع د نفسیاتو د ماهرانو او داسې نور نظریاتي بنیادونه او اصولي مباحث د تحقیق بنیاد جوړول پکار وي چې دغه انداز ته نظریاتي اساس Theoritical Framework وئیلے شي.

**محاکمه او نتیجه Conclusion and finding :**

د تحقیق په دې برخه کښې محقق د شوي تحقیق نتیجې او  خلاصه پیش کوي.

**حوالې:**

په یوه څېړنه یا تحقیق کښې حوالې په عمومي توګه په درېو طریقو کولے شي. یوه طریقه د بریکټو ده چې آتهرډیت  سسټم Auther date system  ورته وائي. په دې طریقه کښې محقق

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د کوم ماخذ نه حواله راخلي یا ئې د سند په حېث وړاندې کوي. خو د پېراګراف په ختمېدو په برېکټو کښې د لیکونکي او کتاب د چاپ کال نوم ولیکي او ورسره صفحه نمبر ولیکي او بس.
**Auther date system** ورته په هم دغه مناسبت وائي چې د لیکونکي نوم او د کتاب د چاپ کال په برېکټ کښې لیکلے شي او د کتاب پوره تعارف بیا د لیک په اخره کښې ورکولے شي.
دوېمه طریقه د فټ نوټ **Footnote** ده چې هرې صفحې په اخره کښې حواله ورکولے شي. د صفحې د آخر یا لاندېنۍ برخې په وجه ورته فټ نوټ وئیلے شي. درېمه طریقه ئې د اِنډ نوټ **End Note** ده چې د ټول لیک حوالې ترتیب وار په آخر کښې ورکولے شي. دغه آخره کښې ورکولو په وجه ورته اینډ نوټ **End Note** وائي. په فټ نوټ او اِنډ نوټ دواړو کښې د حوالې په وخت پېنځه توکي ضروري دي چې ترتیب ئې داسې دے.
د لیکونکي نوم، د کتاب نوم، اداره، د چاپ کال او صفحه نمبر مثال ئې داسې دے:
۱. طائر، محمد نواز، روهي ادب، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۱۹۷۸ء، ص ۷۷.
که ورپسې مسلسل نورې حوالې هم دغه کتاب نه وي نو بیا صرف ایضاً سره صفحه نمبر لیکلے شي. او دا پوره حواله ګڼلے شي.

**کتابیات Bibliography:**
په حوالو او ببلیو ګرافي یا کتابیات کښې فرق دا وي چې په حوالو کښې د یو کتاب نه څو واره حوالې راخستلے شي نو دغه هومره واره به د حوالې د طریقې مطابق بیا بیا کتاب او حواله تکرارېږي. خو په کتابیات کښې که د یو کتاب نه هر خومره حوالې راخستې شوې وي . دغه کتاب مکمل تعارف په صرف یو ځل راځي. بل فرق دا دے چې کتابیات کښې صفحه نمبر نۀ وي نور څلور توکي په هم هغه ترتیب راځي کوم ترتیب چې حواله جات کښې ضروري دے. خو په حواله جات کښې هرې حوالې سره صفحه نمبر هم وي. دې نه علاوه په کتابیات کښې ټولو کتابونو ته الفبائي ترتیب ورکولے شي. دې نه علاوه د مختلفو ژبو د ماخذونو لکه فارسي، عربي، اردو ، پښتو یا انګرېزۍ وغیره بیلې بیلې درجې جوړولے شي. د انټرنېټ یا سوشل میډیا درجه بندي ځان له کولے شي. او دغسې د نورو حوالو لکه کتابونه، مجلې، اخبارونه، مرکې وغیره هم بیل بیل لیکلے شي.

**ځنې نورې خبرې:**
د تحقیق د طریقه کار سره تړلې ځنې نورې ضروري خبرې هم شته. لکه خاکه تیارول. د خاکې اجزاء او مختلفې برخې، سوالنامه تیارول . د سرکاري اسنادو او دستاوېزاتو د حوالې طریقه، د زباني خبرو او روایاتو د حوالې طریقه، د اخبار یا مجلې نه د حوالې ورکلو طریقه، د تالیف یا ترتیب شوي کتاب نه د چاپ د مخصوصې مقالې یا مضمون د حوالې طریقه، حاشیې او نوټونه لیکل. د متن څېړنه، د قلمي نسخو د حوالې طریقه، اشاریه جوړول، ضمیمې ورکول. د تدوین اصول، د مذهبي ماخذونو د حوالې طریقه، د پېراګرافونو وېش او مقدار، مسوده تیارول. اقتباسات راخستل. د تحقیق ژبه او اسلوب یا د بابونو وېش او طریقه کار. د بابونو عنوانات ورکول. د تحقیقي اصطلاحاتو وضاحت کول او داسې نورې ډېرې خبرې دي چې په تحقیق کښې ئې خیال ساتل پکار دي.

---

معطل په عارضه د شام غریب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که مې زړه په حلقه بند شو د کاکلو**
**وضاحت.....**
**دا شعر د شیدا په اسانو شعرونو کښې دی خو بیا هم ورومبی د ټکو معنې ښایم...**
**معطل....ولاړ.ایسار شوی...**
**عارضه.....عربي ده.ناروغي تکلیف او پیښیدونکی مصیبت...غریب....مفلس او لاچار ته هم وایی او مسافر ته هم.دلته د مسافر معنا ورومبی ده.چې مونږ وایو غریب الوطن یعني وطن نه لرې مسافر.....**
**معطل په عارضه د شام....یعني د ماښام د تکلیف په وجه ولاړ....**
**اوس راځو شعر ته.شام یا د ماښام تیاره توره وي نو نسبت یې د محبوب تورو زلفو سره راغلی دی. زړه اواره وي .د خیالاتو بهیر پکښې په حرکت او موجونو وي نو نسبت یې روان او متحرک مسافر سره راغلی دی.اوس شیدا وایی چې دا زما متحرک او د جذباتو د غورزنګ نماینده زړه د محبوب د تورو زلفو په حلقو یعني د زلفو په غوټو کښې راایسار او معطل شو که نه یو مسافر چې ټوله ورځ یې په رڼا د خپل منزل په لور حرکت او سفر وکړو خو چې د تورو زلفو د ماښام غونډې تیاره راخوره شوه نو مسافر بیچاره هم راایسار شو. تکلیف سره مخ شو.عارضه ورته لاحق شوه. ودریدو . معطل شو.ځکه چې په تیاره کښې سفر کښې خطره ده.ګویا شیدا د محبوب د زلفو ښایست هم ستایی .د دغه ښایست له مخه یی زړه هم د تورو زلفو حلقو کښې بند دی. هم داسې لکه مسافر غریب چې د ماښام د تیارې له مخه معطل وي....او بیا د شام غریب....مناسبت یې د.....شام غریبان...اصطلاح سره سمون خوړل یو اضافي خوبي ده.**

---

ادیب نه خو امریت سره تلے شي او نه جمهوریت سره

ادب چې ادب بللے شي نو په موضوعاتو نه بلکې په اسلوب تکنیک او د اظهار په سلیقه ادب بللے شي خو ټولنیز موضوعات هم د ادب برخه جوړیږي. ادیب چې کله ادب تخلیق کوي او د هغهٔ نظر په سیاسي منظر نامه وي نو هغهٔ سره دوه لارې وي. یوه لاره دا ده چې د هغهٔ په ټولنه کښې آمریت، **Dictatorship** دے. نو ساهو ادیب به څنګه ادب تخلیق کوي؟ او آیا دغه ادیب د آمریت ترجمان جوړیدے شي-- نه نهٔ شي جوړیدے؟ د آمریت نه پیدا شوې ټولنه د هغهٔ په ادب کښې هم هغسې په صحیح شکل پیش کیدے شي که نه شي پیش کیدے؟ نو یو طرف ته دا آمریت دے. بل طرف ته د ادب د تخلیق د پاره جمهوري ټولنه ده. که مونږ د جمهوریت روح واخلو نو هغه دا دے چې د عوامو یا د جمهور د منشا مطابق، اولس څهٔ غواړي؟ د اولس د رائے مطابق سیاست پکار دے. نو اوس که ادیب د آمر، **dictator** سره نهٔ شي تللے نو دهٔ سره دویمه لاره جمهوري ده. خو ادیب د جمهوریت سره هم نهٔ شي تللے . هسې خو جمهوریت ډېر ښائسته څیز دے خو هغه د عملي سیاست د پاره ډېر ښائسته څیز دے. یعني جمهوریت د ادیب د پاره یا د هغهٔ د ادب د پاره څهٔ ډېر ګټور څیز نهٔ دے. ځکه چې جمهوریت کښې خو عوامي رائے ده، عوام څهٔ غواړي، هغسې ادب تخلیق کړه. خو عوامي غوښتنې بیل څیز دے او ټولنیزې غوښتنې بیل څیز دے.او بیا جمهوریت کښې خو د شمیر او زیاتو خلقو رایه شامله وي-- امکان لري چې د زیاتو نه د کمو خلقو رایه درسته وي-- دا هم امکان لري چې زیاتو خلقو نه کم خلق زیات پوهه او باشعوره وي او بیا خو دا هم امکان شته چې د ټولنیزو غوښتنو په اړه د زیاتو خلقو د راې نه رسا پوهه او راې پخپله د ادیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي- ستا ټولنه د اديب نه څۀ تقاضه کوي دا خو بالکل معياري ادب تخليق کولے شي. د خپلو ټولنيزو دردونو تکليفونو، ټولنيزو ناانصافو نه اديب په خپله کوم تاثر اخلي دا خو بيله خبره ده، دلته جمهوريت نشته، دلته د اديب خپله ذاتي مشاهده ده، چې د عوامو د رائے مطابق نه ده، دلته رائے او مشاهده د اديب خپله ده، دې دوران کښې چې اديب د عصري غوښتنو مطابق کوم ادب تخليق کوي نو هغه به معياري او اصلي ادب به وي. خو که مونږ جمهوريت په نظر کښې ساتو نو د جمهوريت نه مراد دا دے چې ستا اولس څۀ رائے لري او ستا اولس تا نه تقاضه څۀ کوي؟ نو ستا اولس خو د ډېرې ټيټې سطحي وي، د اولس معيار خو هغه نۀ وي کوم چې د اديب وي، د اولس د ټولنې نه د مشاهدې اخېستو صلاحيت خو هغه نۀ وي کوم چې د اديب وي. نو دلته هم مطلب دا دے چې اديب د اولس د رائے مطابق ادب نۀ شي تخليق کولے. هغۀ ته دغه دواړه لارې مشکل پېدا کوي. که هغۀ د آمر سره نۀ شي تللے نو هغۀ د جمهوريت سره هم نۀ شي تللے. جمهوريت سره ځکه نۀ شي تللے چې هغۀ د خلقو د منشاء مطابق ادب نه شي تخليق کولے. هغه به د خپلې مشاهدې خپل احساس او خپل تصور مطابق ادب تخليق کوي او هغه ادب به داسې تخليق کوي چې د دۀ په ذاتي مشاهده خو اډانه وي خو دے به يوه ريښتونې مشاهده پېش کوي. لکه رحمان بابا چې د آئينې خبره کړې وه، بې رويه بې ريا ايينه- يعنې اديب به يوه سوچه او صفا هنداره پېش کوي.
همدغه زمونږ د اديب او ټولنې تعلق دی- دغه زمونږ د اديب او سياستدان تعلق دے او همدغه زمونږ د ادب او سياست تعلق دے. - د دغه هر څه بيان او اظهار چې د ادبي تکنيک او سليقې په جامه کښې وړاندې شي نو ادب هله ژوندے او افاقي جوړيدی شي- که داسې ونه شي نو بيا ادب نه هم تبليغ او پروپيګنده جوړه شي او خپل وجود ژوندے ونه ساتلے شي-

---

حسن فاني دی که باقي

په رباط يې د مخ ګوره فاني حسن
چې يې خط په شان د شام غريب پرور شي
شيدا

رباط---سراې --چرته چې ستړي مسافر پړاو کوي شپه تيروي او د سوي زړه حالونه بيانوي---
شام او غريب پرور---- شام ماښام ته وايي او غريب مسافر ته --شام غريبان ته اشاره ده---يعنې د مسافرو ماښام چې مسافر پکښې د خپل درد او مايوسۍ حالونه وايي---او دغه حالونه په سراې کښې د شپې د قيام دوران کښې بيانولی شي-
خط---د حسين محبوب په سپين مخ د تور خط يعنې ويښتو زرغونيدل--او هسې هم ليکلی خط د تورې سياهۍ تورې کرښې وي--
وضاحت-----
ساده مفهوم يې دادی چې د محبوب حسن فاني دی--ډير غرور دې په خپل حسن نه کوي--- د شيدا انداز ته وګورئ---ورځ چې رڼا ده او سپينه ده نو د حسن علامت دی---شپه چې توره ده او تياره ده نو د حسن د زوال علامت دی---کايناتي قانون هم دا دی چې سپينې ورځ پسې توره شپه راځي نو ګويا رڼا ورځ او حسن د شپې په راتلو د زوال سره مخ کيږي--- د محبوب مخ هم لکه د سپينې ورځ رڼا کوي اوحسن لري-- او په مخ يې تور خط راتلل لکه سپينې ورځ پسې د تياره ماښام راتلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي نو ورځ رڼا او حسن درې واړه خو به دغه ماښام راتلو سره ارو مرو د زوال سره مخ کيږي---ليکلی خط هم په توره سياهۍ وي نو ګويا د خط دغه حواله هم د ماښام تيارې سره نسبت لري---نو مطلب دا شو چې د محبوب د سپين مخ سراې هر څو که د ورځې په مناسبت د درد و غم د قيصو نه خالي وو خو د ماښام ستړو درديدلو مسافرو چې پکښې پړاو وکړو يعني د محبوب په سپين مخ تور ويښته راغلل او لکه د تورې شپې د مسافرو سراې کښې ديره شول نو يو خوا خو سپينه ورځ لاړه فنا شوه او بل خوا د مسافرو د درد و غم قيصې شروع شوې---ګويا دغه حسن رڼا او ورځ هر څه د څو لمحو وو---فاني شول او ختم شول --بلکل همداسې د محبوب د سپين مخ رڼا او ځلا هم د تور خط يعنې تورو ويښتو په راتلو لاړه فنا شوه---شام غريبان او د درد قيصو هر څه له ځان سره يوړل---

په يوناني فلسفه او نفسياتو کښې حسن ته اوليت حاصل دی او عشق و محبت د حسن له اثره پيدا شوې جذبه ګڼلی شوې ده---خو دغه د حسن ازلي او روحاني تصور دی---دې نه علاوه د حسن يو مادي تصور هم دی چې صوفيان ورته ناسوتي حسن وايي--- شاعران په عمومي ډول دغه مادي او ناسوتي حسن فاني ګڼي او شيدا هم د حسن دغه فنا ته اشاره کړې ده---علامه اقبال هم ورته اشاره کړې ده--

هوئی هے رنګ تغيير سے جب نمود اس کی
وهی حسين هے حقيقت زوال هے جس کی

او زمونږ غني خان هم وييلي دي

مينه حقيقت حسن سايه د حقيقت ده
حسن له زوال شته مينه نه لري زوال

خو د مادي حسن د زوال دغه نکته شيدا څنګه او په کوم شاعرانه انداز بيان کړې ده د هغې راسپړدل مې اصل مقصد وو چې د شيدا مينه وال ترې خوند واخلي-- او دا هم جوته شي چې د شيدا علامه اقبال او غني خان درې واړو له انده مادي حسن فاني دی-- باقي نه شي پاتې کيدی-

---

د ډاکټر علامه محمد اقبال د مشهور اردو کلام ترجمه د ملګرو په خدمت کښې -- دغه کلام صنم ماروي او عابده پروين په خپل لازوال ترنم کښې هم وييلی دی-

انتخاب کلام : ډاکټر علامه محمد اقبال
پښتو ترجمه : حنيف خليل

خوره خاوره د وجود مې چې صورت د زړهٔ وانهٔ خلي
کوم مشکل سره چې مخ يم زړهٔ مې هغه څهٔ وانهٔ خلي

چرته حورې مې جنت کښې په اظهار نه کړي مجبوره
سوز د زړه مې چرته بيا چې د محفل خواږهٔ وانهٔ خلي

تر منزله رسيدو کښې ناکامي خو مې ياديږي
دغه غم د ناکامۍ چې تر منزله تلهٔ وانهٔ خلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا منمه چې زه مینې بې ساحله سمندر کړم
دا ساحل مې د خودی رانه د مینې شتهٔ وانهٔ خلې

چرته ستا هغه بې رنګ و بو جهان کښې پاکه ربه
چې ارزو مې د فاني جهان قیصه او کړهٔ وانهٔ خلي

د خاکي ادم عروج نه ستوري هم له وئیرې ریږدي
دا مات ستوری چې له مخه د سپوږمۍ نه سرهٔ وانهٔ خلي

د علامه اقبال اردو کلام

پریشاں ہو کے میری خاک آخر دل نہ بن جائے
جو مشکل اب ہے یا رب پھر وہی مشکل نہ بن جائے

نہ کر دیں مجھ کو مجبور نوا فردوس میں حوریں
مرا سوز دروں پھر گرمی محفل نہ بن جائے

کبھی چھوڑی ہوئی منزل بھی یاد آتی ہے راہی کو
کھٹک سی ہے جو سینے میں غم منزل نہ بن جائے

بنایا عشق نے دریائے ناپیدا کراں مجھ کو
یہ میری خود نگہداری مرا ساحل نہ بن جائے

کہیں اس عالم بے رنگ و بو میں بھی طلب میری
وہی افسانۂ دنبالۂ محمل نہ بن جائے

عروج آدم خاکی سے انجم سہمے جاتے ہیں
کہ یہ ٹوٹا ہوا تارا مہ کامل نہ بن جائے

---

ادب د ټولنې زوال سره ترقي کوي-- درسته کلیه نه ده

مونږ چې کله د ټولنې او ادب په تړون او تعلق خبره کوو نو زمونږ نقادانو کښې یو ډله دا خبره هم کوي چې کله ټولنه د زوال، انتشار، مسئلو او اړې ګړې ښکار وي نو بیا ادب ترقي کوي. دا خبره په انګرېزي ادب کښې هم ځینې خلقو کړې ده- "جان ملټن" ډېر لوئے نقاد دے هغهٔ هم دا خبره کړې ده او د اردو ډېر لوئے نقاد الطاف حسېن حالي په "مقدمه شعر وشاعري" کښې هم دا خبره کړې ده او وروستو هم ځینې نقادانو دا خبره کړې ده - دا خبره تر څهٔ حده درسته هم ده خو د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلئي یا فارمولي په حېثیت ئي نهٔ دي اخېستل پکار. که چرې مونږ د دې تجزیه کوو نو مونږ له دا خبره پکار ده چې د ټولني اړي ګړي نه مقصدي ادب پېدا کېږي. ترقي پسند، مقصدي، او ټولنیز ادب دغه ټولنیز زوال سره ترقي کولے شي. ترقي په دې معنیٰ کښې چې ټولنه په ادب کښې واپس Reflect او منعکس کېږي، خو صرف د مقصدي ادب د پاره دغه یو لاره ده. اوس مونږ که رومانوي،نفسیاتي تخیلاتي او جمالیاتي ادب تخلیق کوو نو هغې د پاره ضروري نهٔ ده چې مونږ دې د ټولنیز اړي ګړي، انتشار او زوال نه ادب تخلیق کړو. سره د دې چې زهٔ په دې حق کښې یم چې ادب د ټولني سره تلل پکار دي، ادب د ټولنې ترجمان پکار دے، د ادب او ادیب د ټولنې په ټولو تحریکونو باندې نظر پکار دے، ادب له پکار ده چې هغهٔ دې د تخیلاتي او جذباتي ادب نه زیات حقیقت پسند وي او دا ترقي پسند ادب راوتے هم د حقیقت پسند ادب نه دے. خو دغه وینا کښې مونږ له دا اضافه پکار ده چې ټولنه د اړي ګړي او انتشار ښکار وي نو یواځې مقصدي ادب ترقي کوي. مقصدي ادب نه مراد دا دے چې په هغې کښې مونږ ټولنیز شعور، ټولنیز تحریکونه، سیاسي تحریکونه دا مونږ کله په ادب کښې د توجو مرکز جوړوو نو دغه ادب د ټولني اړي ګړي نه څهٔ ډېرې نوې زاویې او نوې خبرې راویستے شي. خو که مونږ نظریاتي او جمالیاتي ادب تخلیق کوو، که مونږ د سُر ریلیزم خبره کوو (چې دا دیومالائي او زمکني ادب به څنګه نزدې کوو - څنګه به یې یو ځائے کوو- دې ته سُرریلیزم وائي.)، که مونږه د فلسفیانه ارتقاء خبره کوو چې د یونان، هند یا مغرب د فلسفیانه نظریاتو دا سفر څنګه کړے دے که مونږه په ادب کښې د وچودیت خبره کوو- د وحدت الوجود او تصوف پلټنه په ادب کښې کوو- یا دغه شان نورې نظریاتي او تصوراتي حوالې راخلو او د ادب برخه ئې جوړوو نو په هغې کښې بیا دغه فارموله ضروري نهٔ ده چې مونږ ووایو چې د ټولني انتشار او زوال ادب ته ترقي ورکوي، اصل کښې ټولنیز انتشار مقصدي او ټولنیز ادب ته ترقي ورکوي، کله چې مونږ ادب او سیاست یو بل ته نزدې کوو نو بیا ترقي کوي او په دې کښې شک نشته. په دې کښې به زهٔ یو دوه مثالونه هم ورکړم- یو دا چې کله د هند په دې سیمه کښې پیرنګی واکمن وو او بیا د برصغیر ویش کېدو نو ټولنه د اړي ګړي ښکار وه تحریکونه وو او په دې ټولنه کښې مختلف قسمه مشاهدات د ادیب د ذات برخه جوړېده. دغه ټولنیز اړي ګړي، تحریکونو او انتشار ادب تخلیق کړو او په رښتیا ئې ډېر لوئے ادب تخلیق کړو، خو هغه ټول ټولنیز ادب وو هغه تخیلاتي ادب نه وو- دغسې زمونږ په پښتنه سیمه د یوولسم ستمبر ۹/۱۱ پېښې ادب ته ډېر موضوعات ورکړل- دلته دا خبره زهٔ په دې راغونډوم چې د ټولني اړے ګړے ادب ته ترقي ورکوي خو یواځې ټولنیز ادب، سیاسي ادب او مقصدي ادب ته- تخیلاتي نفسیاتي او جمالیاتي ادب ته نه-

بله اهمه خبره دا ده چې د ادب فکري او موضوعاتي اړخ خو به دغه ټولنیز زوال او انتشار سره نزدې تعلق ولري خو د ادب فني هنري او تکنیکي اړخ دغه ټولنیز اړي ګړي سره کوم نزدې تعلق هم نه لري ځکه د ادب ترقي په کلي توګه ټولنیز زوال سره تړل درسته خبره نه ده-

---

**یوه خاطره**

زلمی وم-اسلامیه کالج کښې د څوارلسم ټولګي لوستونکی وم او لږ وران یعنې شرارتي هم وم- پېښور کښې د ساهو لیکونکیو مرکی نه پرته د سرحد ادبي ټولني غونډو ته به هم په شوق تلم چې مشري یې اروابناد شیرشاه ترخوي صاحب کوله او د ښکلا په نوم مجله به یې هم چاپوله هر څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زه يي خوښ نه وم ځکه چي په کچه عمر کښي به مي په تنقيدي غونډو کښي ډيري خبري کولي او کله کله به مي شير شاه صاحب هم پوزې له راوستو بلکي د شير شاه صاحب د تقرير پيښي به مي هم کولې- خو بيا هم زما ليکني به يي ښکلا مجله کښي چاپولې- تازه تازه مي د کاظم خان شيدا لوست پيل کړی وو چي دغو ورځو کښي مي -- د شيدا د جمال نظريه-- په عنوان يوه مقاله وليکله او د سرحد ادبي ټولني غونډه کښي مي نقد ته وړاندې کړه-په دغه ورځ له ښه مرغه د افغانستان لوې ليکوال عبدالرحيم الهام د غونډې صدر او اروابناد شپون صاحب مشر ميلمه وو- شيرشاه صاحب د ميلمه توب په وجه د غونډې مشران خو ټاکلي وو خو د علمي او ادبي لوې والي نه يي خبر نه وو- بس عام ليکوال ورته ښکاريدل-- ما چي مقاله واوروله نو شير شاه صاحب نقد کولو د پاره ودريدو ګني دغه ورځو کښي يي پښه هم زخمي وه کونټۍ به يي ساتله - په ولاړه يي نقد شروع کړو چي -- دې مقاله کښي حسن او جمال يو ځيز ياد شوی دی خو دا بيل بيل دي--- الهام صاحب ورته وايي-- وبخشه دغه توپير يي راوشيه-- شير شاه صاحب ورته وايي دا ډير لوې بحث غواړي--- الهام صاحب وايي وروره همدغه بحث ته راغلي يو دغه توپير يي راوشيه-- شير شاه صاحب وايي تاسو په دې بحث نه پوهيږئ دا ډير لوې بحث دی-- الهام صاحب ورته غصه شو- وييل يي زه د جمالياتو پلټونکی يم دغه توپير به يي راشاې- شپون صاحب هم دغه تماشه ليدله- شير شاه صاحب چي ورته اولته پولته خبره وکړه نو الهام صاحب ورته وايي کشينه جاهله-- ته پر جمالياتو نه پوهيژې-- شير شاه صاحب د خپلو شاګردانو په مخکښي دا چرته زغملی شوه- بس کونټۍ يي راواخسته او په احتجاجي توګه د غونډې نه روان شو-- غلي غونډې يي ځان سره ووييل--- کابليان ټووول جاهلان دي-- بيا به چي ما بازار کښي کله هم ليدو نو ورته به مي وييل-- شير شاه صيب هغه الهام صيب ګني تاسو سره ډير زياتی نه وو کړی- ما ته به يي وويل--- ته هم ډير غټ شيطان يې-- په پرهرونو مي مالګي مه دوړوه--- دغه خاطره راته تيره ورځ ازمون صاحب راياده کړه نو زړه مي وشو چي دلته يي ملګرو سره هم شريکه کړم-الهام صيب شپون صيب او ترخوي صيب درې واړه اوس وفات دي-- روحونه يي شاد اوسه-

---

## اديب او ټولنه

دنيا نے تجربات وحوادث کی شکل میں
جو کچھ مجھے دیا ہے وہ لوٹا رہا ہو میں

دا خو ساحر لدهيانوي د يو شاعر په حېثيت د خپل ذات او ټولني د پاره وئيلي وو خو دا يو مجموعي کليه هم ده چي اديب د ټولني مشاهده کوي، هغه په دې ټولنيز ژوند کښي د ځيني غورزو پُرزو نه تېرېږي. چي کله اديب يا ليکوال په دې ټولنه کښي ژوند کوي نو هغه ځيني کردارونه ويني، هغه د مختلفو واقعاتو مشاهده کوي او هغه د ځيني ذاتي تجربو نه داسي تېرېږي چي دغه تجربې هم د هغهٔ د ادب برخه جوړېږي خو عام وګړے ئې د خپل ذات پوې محدود وساتي،- ليکوال، هنر مند او د فنونِ لطيفه سره تړلي هر وګړي سره دا يو صلاحيت شته چي کوم تجربات او مشاهدات د دهٔ د ذات برخه جوړه شوې ده هغه دے په خپل فن کښي په يو ښکلي رنګ کښي ټولني ته پيش کوي. د دې مطلب دا دے چي دلته بيا د اديب او ليکوال تعلق د ټولنيزي مشاهدې، ژوند او ټولني سره دے خو ګورئ يواځي د شاعر، اديب او ليکوال نه! د هر هنر مند او ټولني تعلق هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دغه دے- که یو مصور تصویر جوړوي نو هغهٔ هم د دنیا د تجرباتو او حوادثو نه یو تخیل جوړ کړے وي او د هغه تخیل نه هغهٔ د قلم او کاغذ یا د رنګونو او برش په ذریعه یو تصویر جوړوي خو په هغې کښې د دهٔ داخلي جذبات او احساسات شامل وي او د دهٔ مقصد وي ښکلا پیدا کول. نو ښائست پیدا کول د مصور، شاعر رقاص اداکار او موسیقار د دې ټولو کار دے - دا ټول دا کار کولے شي یعني ښکلا پیدا کولے شي خو په دې ټولو فنکارانو کښې زیاته موثره لاره ادیب سره ده. او هغه داسې چې ادیب سره لفظونه دي، هغهٔ سره ژبه ده او که بل خوا مونږ د دغه ټولو نه یو راواخلو لکه د مثال په توګه مصور، نو هغهٔ سره صرف د برش او د رنګ ذریعه ده- لفظونه ورسره نشته یا رقاص ځوک چې رقص کوي یا اتڼ کوي هغهٔ هم د هنر څرګندونه کوي خو هغهٔ سره هم لفظونه نشته یواځې حرکتونه دي یا داسې سنګ تراش په مجسمه یا یو خاکه او شکل جوړولو کښې د خپل تخیل استعمال کوي او ښکلا پیدا کوي خو هغهٔ سره هم لفظونه نشته یعني د هغهٔ ابلاغ د شاعر، ادیب او لیکوال هومره موثر نهٔ شي کېدے یا د دې نه علاوه چې نور څومره ښکلي هنرونه دي نو یو سره هم سېوا د شاعر او ادیب نه زیاته موثره ذریعه نشته. البته دا کار کېدے شي چې ځینې آسانۍ مصور او سنګ تراش سره وي خو هغه شاعر او ادیب سره نهٔ وي. د مثال په توګه که یو شاعر یا ادیب په فارسۍ کښې شاعري کوي یا نثر لیکي نو د هغهٔ د شاعرۍ یا نثر نه به صرف هغه خلق استفاده کوي چې څوک په فارسۍ پوهېږي یا دغه شان که څوک په جرمنۍ یا انګرېزۍ کښې کوي نو دغه د ژبې ستونزه د ادب د لوستونکي مخې ته راځي خو مصور یا سنګ تراش سره د ژبې مسله نشته ځکه چې د مصور آرټ یا هنر په سترګو لیدے شي او سترګو باندې لیدلو کښې د لفظونو د مرستې ضرورت نشته - د دې په مقابله کښې ډېرې آسانۍ بیا ادیب سره دي یعني که یو مصور په خپل تصویر کښې یو کېفیت ښائي چې دا ګرمي ده که دا یخني ده یا دا ارزاني ده که ګراني ده چې دا څهٔ کېفیت دے؟ نو د کېفیاتو په ښودلو کښې مصور د مشکلاتو سره مخ وي، شاعر یا ادیب سره لفظونه دي نو هغه د دې مشکل سره نهٔ دے مخ. خو دواړه د ټولنې سره تعلق لري هنر مند که مصور، سنګ تراش یا موسیقار دے او که شاعر او ادیب دے ټول د ټولنې سره تعلق لري او ټول د ټولنې مشاهدات او تجربات څرګندوي، خو په دغه څرګندونه کښې د ادیب کردار د ټولونه فعال او موثر ځکه دے چې دے د لفظونو په لاره اظهار کوي او چې کوم اظهار د لفظونو په لار وي نو هغه موثر او بلیغ هم وي او په هغې کښې آساني هم وي. بس دغسې د هنرمند او ټولنې تړون هم قایم وي او خپلو کښې ورکړه راکړه یې هم دوامداره وي-**

---

**د حافظ شیرازي د دې غزل پښتو ترجمه راته ډېره ګرانه وه خو دغسې ممکنه شوه - د ملګرو په خدمت کښې-**

**فارسي کلام : حافظ شیرازي**
**پښتو ترجمه : حنیف خلیل**

**هغه ترکي د شیراز نه'به دا خپل زړګی فدا کړم**
**په تور خال به صدقه یې' سمرقند او بخارا کړم**

**ساقي نور هم شراب راکړه' بیا به نه وي په جنت کښې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اوبه د رکناباد وي' سیل سفر د مصلا کړم

داسې شور دی شریر ښکلي' لکه وران ښار کښې فساد کړي
صبر داسې د زړه لوټ کړي' دسترخوان لکه تالا کړم

د نیمګړې میني حال نه' د یار حسن بې نیاز دی
څه حاجت دی ښکلی مخ چې' ډول سینګار سره اشنا کړم

هغه حسن ته هم ګوره'چې یوسف په مخ لرلو
عشق پرده د عصمت وا کړه' ګرمه څنګه زلیخا کړم

که ښیرې کړې که بد وایې' زه به تا ته دعاګو یم
تریخ جواب د خوږو شونډو' سره ښایي که ربښتیا کړم

نصیحت ته مې غوږ کیږده' وي له ځانه ورته ګرانه
ښه ځوانانو ته به یاده' زه د پیر فقیر وینا کړم

د دنیا رازونه جانه' په مستئ کښې به فاش کیږي
چا په عقل خو حل نه کړه' زه چې یاده معما کړم

غزل وایې که در پیلې' راشه ووایه حافظه
فلک وایي چې قربان به' ستا په نظم ثریا کړم

نوټ:-
رکناباد ----شیراز سره نزدې یوه سیمه ده چې پکښې یخې خوږې اوبه بهیږي او خلق سیل و تفریح ته ورځي-
مصلا-----ایران کښې یوه عیدګاه ده چې حسین عمارت لري--

فارسي غزل-----

اگر آن ترک شیرازی به دست آرد دل ما را
به خال هندویش بخشم سمرقند و بخارا را

بده ساقی می باقی که در جنت نخواهی یافت
کنار آب رکن آباد و گلگشت مصلا را

فغان کاین لولیان شوخ شیرین کار شهرآشوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



چنان بردند صبر از دل که ترکان خوان یغما را

ز عشق ناتمام ما جمال یار مستغنی است
به آب و رنگ و خال و خط چه حاجت روی زیبا را

من از آن حسن روزافزون که یوسف داشت دانستم
که عشق از پرده عصمت برون آرد زلیخا را

اگر دشنام فرمایی و گر نفرین دعا گویم
جواب تلخ می‌زیبد لب لعل شکرخا را

نصیحت گوش کن جانا که از جان دوست‌تر دارند
جوانان سعادتمند پند پیر دانا را

حدیث از مطرب و می گو و راز دهر کمتر جو
که کس نگشود و نگشاید به حکمت این معما را

غزل گفتی و در سفتی بیا و خوش بخوان حافظ
که بر نظم تو افشاند فلک عقد ثریا را

---

ادب د ژوند د پاره --که ادب د ادب د پاره

زمونږ نقادان اکثر دا وائي چې ادب د ژوند د پاره او ادب د ادب د پاره- یا په اردو کښې وائي، ادب برائے زندگی اور ادب برائے ادب - اوس دلته د نقادانو مراد دا دے، چې یو ادب داسې تخلیق کیږي چې هغه د ژوند ترجمان دے او د ژوند مسئلې حل کوي، بل ادب داسې تخلیق کیږي چې هغه ادب د ادب د پاره وي- خو دا وضاحت ضروري ګڼم چې "ادب  د ادب د پاره" دا خبره په دې تناظر کښې کیږي چې دې کښې صرف خوند، سرور، مزه وی او په ژوند کښې څهٔ فائده نهٔ کوي، زما خیال دے چې دا خبره درسته نهٔ ده، او ځکه-- ادب د ادب د پاره -- نظریه هم بې ځایه غیر ضروري او اضافي ده- کوم ادب چې د ادب د پاره تخلیق کیږي په هغې کښې به رومانیت وي، په هغې کښې به دیومالا، مافوق الفطرت عناصر وي، یا زیات نه زیات د مینې داستانونه به وي، نو مینه خو په خپله د ژوند برخه ده، دیومالا، فطرت یا مافوق الفطرت عناصر خو په خپله د ژوند په تفهیم کښې زمونږ مرسته کوي، مونږ که په ژوند کښې مبالغه هم کوو نو هغه د ژوند د یو مقصد د جمال پیدا کولو د پاره کوو، ځکه زهٔ په خپله د ادب برائے ادب نظریې په حق کښې نهٔ یم، زهٔ وایم چې ادب ټول د ژوند د پاره دے، دا په کښې نشته، چې دا ادب د ژوند د پاره دے او دا نهٔ دے. چې ادب شو نو د ژوند د یو اړخ سره به ئې تعلق ضرور وي، ادب که صرف د جمالیاتو خبره کوي  نو ژوند نه بدل خو نهٔ دے، که مونږ صرف د مینې او رومان خبره کوو نو د ژوند نه خارج خو نهٔ دے ، که په ادب کښې زمونږ مقصد وي، مسرت، خوند پیدا کول، سرور اخستل نو دا خو هم د ادب انتهائي ضروري

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه ده. د نفسياتو د څانګې ډېره ضروري برخه ده، زما مطلب دا دے، چې دا نظرئي پخوانۍ نظرئي وې، ادب ټول د ژوند د پاره دے، پکار ده چې زمونږه اوليت دا وي، چې د ژوند ترجماني دې وشي ، په ژوند کښې خوند پېدا کولو په ځائے ژوند کښې حرکت،حرارت، ولوله او انقلاب دې پېدا کړو، ژوند کښې دې د جدوجهد د پاره جذبه پېدا کړو نو زياته به ښهٔ وي ، د خپل دور هم څهٔ تقاضې وي او د هر دور تقاضې بدلېږي، پکار ده چې د اديب په ادب کښې هغه عصري تقاضې موجودې وي، د هغې ترجماني دې وشي، عصري شعور دې په هغې کښې موجود وي، دا به داسې وي چې دغه اديب په ژوند کښې خوند پيدا کولو نه زيات په ژوند کښې حرکت، حرارت او ولوله پېدا کول غواړي، ژوند ته نور ژوند ورکول غواړي، دا زياته بهتره خبره ده، دا هغه اديبان دي، چې دوي ادب د آسمان نه زمکې ته راکوز کړي، په دې زمکه ډېرې مسئلې دي د انسان، ژوند کښې ډېر مشکلات، ستونزې، ناانصافۍ دي، ډېرې داسې خبرې دي، چې په هغې خبرې کول دي، هغه آواز پورته کول دي، شعوري بېداري پېدا کول دي خو په هنري او جمالياتي اظهار سره- نو ځکه که ادب زمکني حقيقتونو ته راشي نو دا به د ژوند په ترجمانی کښې نور ډېر فعال کردار ادا کړي، هسې خو ټول ادب، ادب برائے زندګي دے، ادب برائے ادب نظريه نهٔ وه پکار خو که مونږ ادب برائے زندګي په ځانګړي ډول هم واخلو، د هغې معنٰی دا اخستل پکار دي، چې اديب په خپل ادب کښې عصري نفسيات، عصري شعور، عصري غوښتنې يادې کړي دي که نه- هغه، دې نه خبر دے کنه، چې زما په معاشره کښې څهٔ کېږي؟ زما په معاشره کښې ژوند څنګه دے؟ دا د دهٔ د ادب برخه ده کنه؟ نو که دا برخه وي نو دې اديب د ادب او ژوند کلکه رشته ساتلې ده که دا برخه نهٔ وي نو دې اديب د ژوند ضمني اړخونه د ادب برخه جوړه کړې ده خو کوم ژوند چې په وړومبي صف کښې ولاړ دے چې ادب ئې ترجماني وکړي نو د هغې نه غافل دے نو داسې نهٔ ده پکار.- ګويا --ادب د ادب د پاره-- هډو څه نظريه نه ده- ادب خو ژوند دی او ادب يواځې ژوند د پاره دی-

---

ډيلے بازار شي---- دغه توري په پښتني کلتور کښې يوه لويه دعا ده-- لوې انسان او لوې شاعر دروند فجي ګل صيب دوه کاله مخکښې ما ته دغه دعا زما د پنځوس کلن جشن په تقريب کښې کړې وه-زما په اړه دغه دعاييه نظم يې په هغه موقع په خپل خوږ ترنم کښې اورولی وو چې پکښې يې زما د کتابونو نومونه-- پرخه په پرښه-- غني غني ته--او رانه فکرونه -- هم په ډير هنر ځاې کړي وو- دغه نظم افغان تي وي ريکارډ کړی وو او خليل تي وي په سوشل ميډيا شريک کړو چې زه يې د دواړو چينلونو په مننه خپلو مينه والو ملګرو سره هم شريکوم- د فجي ګل صيب د درنو تورو او جادوګر ترنم پوروړی يم

رقص شميمه باده خمار شي
ډيلے بازار شي ډيلے بازار شي
د ژوند په لاره د حضر يار شي
ډيلے بازار شي ډيلے بازار شي

د ماتو زړونو راجوړولو
د ګريوانونو راټولولو
هم رفوګر شي هم ستنه تار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېلے بازار شي ډېلے بازار شي

ټکي چنبېړي ستا له الهامه
معنې جوړېږي ستا له افهامه
د علم ښاره د رڼا لار شي
ډېلے بازار شي ډېلے بازار شي

د ژوند نصاب يې د ژوند کتاب يې
خپله يو سوال يې خپله جواب يې
د وخت يوسفه د مصر ښار شي
ډېلے بازار شي ډېلے بازار شي

د زړهٔ مکان کښې يو لوئے جهان يې
فخرِ خليله فخرِ افغان يې
ماهِ کامله ملي دستار شي
ډېلے بازار شي ډېلے بازار شي

"پرخه په پرښه" د غزل پير يې
سم په مقبېشو د غر تصوير يې
بيا آئينه کښې ښکلے سنګار شي
ډېلے بازار شي ډېلے بازار شي

د سوات ايلم يې د تيرا بنګ يې
بنګړه د بنو د خېبر ننګ يې
ګبين په بڼ کښې د ګړه مار شي
ډېلے بازار شي ډېلے بازار شي

ګوره چې ګل شوې شونډې پرانيزه
پونې د مشکو لارو کښې نوله
جامِ خُتن شي لبِ عطار شي
ډېلے بازار شي ډېلے بازار شي

"رانهٔ فکرونه" سم مشالونه
"غني غني ته" ستاخراجو نه
سخن شناسه سخن نګار شي
ډېلے بازار شي ډېلے بازار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر  دې باج کړو خو وخت دې رنګ کړو
د ژوند په سر کښې ځان دې ملنګ کړو
چشم ګدازه د قام ګلکار  شي
ډیلے بازار شي ډیلے بازار شي

چې خوند او رنګ دې د دیوان څېرم
لکه چې زلفې د جانان شمېرم
فجي در ځار شو فجي نه ځار شي
ډیلے بازار شي ډیلے بازار شي

---

د ستر غني خان مشهور نظم -- اے زما وطنه د لعلونو خزاني زما --- چې پښتانه یې د ملي سرود په حیث هم وایي په اردو کښې مې د ترجمې هڅه وکړه- ملګرو سره یې شریکوم-

اردو ترجمه --- حنیف خلیل
پښتو کلام --- غني خان

میرے وطن

میرے وطن گنج مرجان میرے حسین وطن
تیرا ہر درہ میری شان کا امین وطن

چشم نثار تیری خاک درودیواروں پر
ہو میری عقل تیری فکر میں انگاروں پر
وار دوں جان تیرے دریا و کہساروں پر
میرے وطن گنج مرجان میرے حسین وطن
تیرا ہر درہ میری شان کا امین وطن

ہوں تیری خاک سے پر تجھ کو بھی بخشا ہے وجود
میری انا و میری شان سے لیا ہے وجود
میرے اجداد کے لہو سے ہی پایا ہے وجود
میرے زمانے تیرے دل کے ہیں مکین وطن
تیرا ہر درہ میری شان کا امین وطن

گر تیری نہ ہو میری عزت سے ہے کیا حاصل
تو ہو بے چین میری راحت سے ہے کیا حاصل
تو سرنگوں ہو میری شوکت سے ہے کیا حاصل
ہو میرے خون سے مٹی تیری رنگین وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرا ہر درہ میری شان کا امین وطن

سرخرو تجھ کو اس جہاں میں ہی بنانا ہے
متاع جان تیرے قدموں میں بچھانا ہے
تیری سلامتی پہ خود کو بھی مٹ جانا ہے
ہے تجھے یاد میرا عہد آفرین وطن
تیرا ہر درہ میری شان کا امین وطن

اے زما وطنه -- غني خان

اے زما وطنه ! د لعلونو خزانې زما
ستا هره دره کښې دي دتورو نښانې زما

سترګې مې لوګی شه ستا د خاورو د کورونو نه
عقل مې اېرې شه ستا د پاره د فکرونو نه
ځار شمه قربان شم ستا د غرونو د سیندونو نه

ستا هره دره کښې دي د تورو نښانې زما
اے زما وطنه د لعلونو خزانې زما

زه هم ستا د خاورې ته زما د مېښې جوړ يې
ته مې د غېرت او د پښتو رنګښې جوړ يې
ته مې د نیکه او د بابا د وینې جوړ يې

ستا زړه کښې پرتې دي تولې تللې زمانې زما
اے زما وطنه د لالونو خزانې زما

ستا عزت چې نه وي زه به نوم او عزت څه کړمه
ته چې خوار او زار يې زه به خوب او راحت څه کړمه
ستا سر چې وي ټيټ نو زه به شان او شوکت څه کړمه

مسته به دې خاوره کړم په وینې مستانې زما
اے زما وطنه د لعلونو خزانې زما

یا به دې زۀ سیال کړمه وطنه د جهان
یا به ستا په پښو کښې تورې خاورې کړمه ځان
زه به درې وړې شم خو تا به کړم ودان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نر يمه پښتون پم تاته يادې افساني زما
اے زما وطنه  د لعلونو خزانې زما

---

تهيه د اسپ و فيل ده بې حاصله
يو بساط دی د شطرنج ميدان زما
کاظم خان شيدا

وضاحت.....
اسپ او فيل د شطرنج د لوبې دوه داسې مهرې يا ګيټی دی چې عمومن پرې د شطرنج د لوبې ميدان ګټلی شي.خو لوبه بيا هم لوبه وي چې قسمت دې ياري نه کوي نو د دغو مهرو د لرلو باوجود هم د شطرنج بازي ګټل ګران شي. بل خوا  اسپ اس ته او فيل هاتی ته وايی چې د جنګ ميدان پرې ګټلی شي خو دغه د جنګ ميدان ګټلو د پاره د اسونو او هاتيانو تيارول يعنې طاقت کښې ساتل ضروري وي.تهيه په فارسی کښې تيارۍ او امادګی ته وايی. ګويا د شطرنج د لوبې ګټلو د پاره د قسمت ياري يا د مقدر مهربانه کيدل زيات ضروري دي او د جنګ ميدان ګټلو د پاره د تيارۍ جدوجهد او طاقت لرلو ضرورت زيات وي- د شطرنج بساط هم ميدان وي چې اسپ او فيل مهرې پرې لوبولی شي خو مقدر ورله پکار دی- د جنګ هم ميدان وي چې اس او هاتي پرې جنګولی شي خو تياري طاقت او جدوجهد ورله پکار دي-
اوس شيدا دغه پس منظر کښې د خپلې مينې کشمکش ته او يا د خپل هدف او مرام سر کولو ته د دواړو ميدانونو پس منظر کښې ګوري او وايي چې لکه د جنګ د ميدان ګټلو ما د خپلې مينې د ميدان ګټلو هم پوره هڅې وکړې په دغه ميدان کښې مې د وفا صداقت او ايثار ټول اسونه او هاتيان ښه تيار کړل او اومې زغلول.بار بار ناکام شوم.بس نور د دغو اسونو او هاتيانو تهيه او تيارۍ بې حاصله دي. اوس خو خبره د شطرنج مهرو والا اسپ او فيل ته پاتې ده.اوس زما د مينې ميدان د شطرنج ميدان يا بساط دی.که قسمت مې ياري وکړه نو د شطرنج اسپ وفيل به زما هدف يا زما جانان زما کړي او دا ميدان به وګټم او که مقدر مې ملګرتيا نه کوي نو د شطرنج اسپ و فيل هم زما دا بازي نه شي ګټلی. هر څو که د شطرنج په لوبه کښې د ټولو نه طاقتورې مهرې همدغه اسپ و فيل دي خو چې ميدان د شطرنج شو نو بس خبره مقدر ته پاتې ده-- وفا قرباني صداقت او هر قسمه جدو جهد په دې ميدان کښې طاقت او قيمت نه لري او بې حاصله دي-

---

لوی پښتون حکمران شيرشاه سوري سره دا روايت تړلی دی چې هغه خپل دربار کښې په خلقو قدغن لګولی وو چې د قبيلو خبرې به دلته نه کوئ بلکې د يو افغان او پښتون خبره به کوئ-
همدغه د پښتون قاميت وړومبی باقاعده تصور ګڼلی شي چې علامه اقبال پرې اردو کښې يو وړوکی نظم ليکلی دی او ما پښتو کښې ژباړلی دی- ملګرو سره يې شريکوم-

اردو کلام :  ډاکټر علامه محمد اقبال
پښتو ژباړه :   حنيف خليل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره د شیرشاه په ګل بدله
په نفاق خواره وي ډله او ټپله

د وزیر او د محسود نامه خوږه ده
خو جامه به د افغان اغوندې کله

دا د غرهٔ مسلماني خو زر ټوټې شوه
خپل خپل بت پسې چې هره ډله تلله

حرم هاغه لات منات پکښې هغه دي
خو څوک نشته چې ئې توره شړنګوله

اردو کلام ----

یہ نکتہ خوب کہا شیر شاہ سوری نے
کہ امتیاز قبائل تمام تر خواری

عزیز ہے انھیں نام وزیری و محسود
ابھی یہ خلعت افغانیت سے ہیں عاری

ہزار پارہ ہے کہسار کی مسلمانی
کہ ہر قبیلہ ہے اپنے بتوں کا زناری

وہی حرم ہے، وہی اعتبار لات و منات
خدا نصیب کرے تجھ کو ضربت کاری

---

ادب د انسان په ژوند کښې کله او څنګه پیدا شوے دے-

انسان ټولنه کښې ژوند زرګونه کاله پخوا شروع کړے دے، دا انسان چې اوس څنګه دے، دے همېشه راسې داسې نهٔ وو- دا انسان چې نن څومره په ترقی دے یا تهذیبي او تعلیمي ارتقاء نه تېر شوے دے ، دا خو ټول عمر داسې نهٔ وو، چې ټول عمر نهٔ وو نو د دې مطلب دا دے، چې د انسان ژوند د ډېرو پړاوونه راتېر شوے دے- انسان په بنیادي توګه د درېو غټو ادوارو نه راتېر دے یعني یو د دهٔ ځنګلي دور، دویم کانړیز دور او دریم تهذیبي یا مهذب دور دے. ځنګلي دور کښې خو انسان د دې قابل نهٔ وو چې د خپلې مشاهدې اظهار په ادبي ژبه کښې وکړي، کله چې انسان کانړیز دور ته راغلے دے، کانړیز دور نه مراد دے، کله چې انسان د ځنګلي دور نه وتے دے په غر کښې ئې پناه اخستې ده او د غر د پناه په وجه دے د قدرتي آفتونو، بارانونو، زلزلو او د داسې مختلفو آفتونو نه محفوظ شوے دے، نو دلته ئې په وړومبي شکل ادب پېدا شوے دے، چې لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهني قرارے او سکون ئي موندے دے نو دۀ قلم ، کتاب او کاغذ پېژندلے دے، د کاغذ نه مراد هغه قديم شکل دے، ظاهره ده چې کله به ئي په چمړه ، په کاڼي ليکل، په کتبو ليکونه، ځکه چې په کاڼيز دور کښې هم په کاڼو ليکل شوي دي خو دې نه پس انسان د تهذيب په لور يو داسې قدم اخستے دے، چې دے اوس تهذيب ته نزدې شوے دے، په دې کاڼيز دور کښې دۀ وېنا شروع کړې ده او په وېنا کښې يې ښکلا هم پېدا شوې ده، انداز هم پېدا شوے دے، هغې ته مونږ يو ادبي ابتداء وئيلے شو- ادبي نښې هم د دۀ په اظهار کښې پېدا شوي دي، خو اصل ادب د انسان په تهذيبي ژوند کښې شروع شوے دے. کله چې دے د کاڼيز دور نه راوتے دے، دے مهذب شوے دے ځکه چې ژوند کښې يو بل پړاو راغلے دے، هغه پړاو ته مونږ وايو مهذب دور يا تهذيبي دور، کله چې دا مهذب دور شروع کېږي نو اوس انسان اديب، ليکوال، شاعر او ډرامه نګار هم دے هغه د ادب بلها اصناف ليکي، هغه خپل اظهار کوي او د اظهار وسيلې، سليقې پېدا شوې. دا ځکه پېدا شوې چې د دۀ په ژوند کښې نور آرام او سکون راغلو، د کاڼيز دور نه هم دے په تهذيبي دور کښې داخل شو، د دۀ تهذيبي دور څنګه شروع شوے دے، چرته چرته چې په دې زمکه اوبۀ ډېرې وې، چرته چې غټ غټ دريابونه وو، د سمندرونو په غاړو ژوند کول نور آسان وو په نسبت د غرئيز دور، چرته چې دريابونه، سمندرونه دي، آب هوا ښۀ ده، په هغه ځائے زراعت کېږي، مال موېشي ساتلے شي، چرته چې کرکېله کېږي نو خوراک تاته د زمکې نه ملاوېږي، چې غوا مېښه ساتې نو پئې ماسته ملاوېږي، چې آب هوا دې ښۀ وي نو تاته ذهني سکون حاصلېږي نو په کښې تخليقي صلاحيت پېدا کېږي - د دې سمندرونو او دريابونو په غاړو آباديدو سره انسان مهذب شو او په سکون شو نو دې سره د دۀ تخيلي قوت، او تخليقي قوت زيات شو، او د دۀ په ژوند کښې سکون چې راغلو نو خپل تفکر ته کښېناستو، فکر ئي شروع کړو، دې نه مخکښې خو انسان په دفاعي حالت کښې وو، په خپله دفاع کښې وو، کله د قدرتي آفتونو نه دفاع کول ځان بچ کول وو او کله په کاڼيز دور کښې انساني مقابلې او جنګونه وو، په مهذب دور کښې دۀ ته د سوچ، فکر، تخليق، خيال کولو موقعه ملاؤ شوې ده، د دغه ځائے نه په اصلي معنٰى ادب او ليک د انسان د ژوند برخه جوړه شوې ده، مونږ چې ګورو چې مونږ سره څۀ د ادب مثالونه، نمونې، اظهارونه دي نو دا هم په هغه ځايونو کښې دي، چرته چې د سمندرونو په غاړو انسان آباد دے، سمندرونه، په مصر کښې دي او دې نه مراد مصري تهذيب دے دا يو مرکز دے، او ورسره نور تهذيبونه دي، دغه رنګ اوبۀ زمونږ ايشياء کښې هم دي، لوئے لوئے سمندرونه او دريابونه ايشيا کښې موجود دي، د دې دريائے سندهـ په غاړه هم انسانان آباد وو او نور چې چرته چرته سمندرونه او دريابونه زيات وو هلته انسان خپلې پخې آبادۍ جوړې کړې دي او د آبادو نه پس ئې خپل سوچ، تفکر پکار راوستو او د ادب باقاعده تخليق په دې تهذيبي دور کښې شروع شو، مونږ ته د هغه ادب ځينې نمونې هم په لاس راځي، او د دغه تهذيبي دور نورې نښې هم - ګويا په دغه وړومبنو تهذيبونو کښې د ادب وړومبۍ نخښې موندی شي- په ځانګړې توګه په سوميري تهذيب کښې چې نزدې نزدې پنځه زره کاله عمر لري-

نوټ--- دغه د انساني څېرنې تصور دی-- مذهبي تصور خپل دلايل لري -- هغه په بله موقع-

---

د غني خان شاعرانه اسلوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



غني د پښتو په جدید و شاعرانو کښې د ښېخي ځانله اسلوب شاعر دے. هسي خو هر شاعر په خپله وېنا کښې څۀ داسي انفرادي خصوصیات لري چې د هغۀ د اسلوب د انفرادیت اندازه ترې کېدے شي. او دغه انفرادیت یواځې په شعر و ادب کښې نۀ بلکې په تمامو ښکلو هنرونو یا فنون لطیفه کښې ځرګند وي. د رقاص په حرکتونو کښې چې کوم ردم وي هغه د هغۀ شخصیت پورې محدود وي. د مصور د لاس توازن او د هغۀ فطري صلاحیت د هغۀ د فنپارو د ځانګړتیا نخښې ښائي. د موسیقار په موسیقۍ ساز او انداز کښې هم یو ځان له رنګ او آهنګ وي چې د هغۀ د ځانګړتیا ګواهي ورکوي. دغه معامله د هر فن ده. د فنون لطیفه نه چې بهر فکر وکړے شي نو د ژوند په عامو معاملو کښې هم د ځانګړتیا اثرت لیدے شو. مثلاً د یو انسان په چال او د قدم اخستلو په انداز کښې، د چا د خبرو په انداز او اواز کښې، د چا په تقریر کښې او دغسي نورو معاملاتو کښې د ځانګړتیا نخښې واضحې ښکاري. ځکه چې په دې هر څه کښې د هغۀ شخصیت  شامل وي او شخصیت د هر چا بیل وي.  په دې وجه  ئې اسلوب او انداز هم جدا وي.

خو کله چې خبره شاعرۍ ته را ورسي نو په هغې کښې  د تقلید او انفرادیت بحث مخې ته راشي کوم شاعران چې د نورو شاعرانو  تقلید کوي خو بیا هم د خپل شخصي تاثر په وجه ځینې انفرادي خصوصیات ئې په شعوري یا غېر شعوري  توګه په شاعرۍ کښې مخې ته راتلی شي. خو ځینې شاعران داسې هم وي چې د وړاندېنیو شاعرانو د هر قسمه پېروۍ نه په ډډه پاتې شي او یوه داسي شاعرانه لار را پیدا کړي چې صرف هم د هغۀ لار وي. هغۀ جوړه کړې وي او هغه پرې مزل کوي. هر څوک پرې د مزل کولو نۀ توان لري او نۀ سلیقه او صلاحیت. غني خان د شاعرانو په دغه ډله کښې شامل دے. چې خپله لاره ئې جوړه کړې ده او د خپلو ټولو ځانګړتیاو سره پرې مزل کوي.

د یو شاعر شاعرانه اسلوب د دوۀ غټو برخو د ګډون نۀ زېږي. یوه شکلي یا صوري برخه او دوېمه فکري یا موضوعاتي برخه. د غني خان په شاعرانه اسلوب چې د دغو دواړو زاویو نه غور کوو نو وړومبے نظر به ئې په شکلي یا صوري برخه واچوو. په دغه برخه کښې د شاعرۍ په بحر، ردم، علامت، تشبیه، استعاره صنائع، تلازماتو، قافیه، ردیف او نور شکلي عناصرو توجه کولے شي. د غني شاعري په دغه حواله په سخته پېمانه نۀ دي تلل پکار. ځکه چې هغه د فکر او تخیل شاعر دے. د داسي فکر او تخیل چې ډېرې صوري پابندۍ ئې د فکروخیال په  ابلاغ کښې خنډ پیدا کوي.  په دې وجه د هغۀ په شاعرۍ دغه قسمه اعتراضات نه دي کول پکار۔

د شعر د پاره، که ازاد وي او که پابند بنیادي طور ورته د جذبې او تخیل ضرورت دے.  وزن  د تکنیک او فني لوازماتو یو جز ګڼل پکار دي. که د غني خان شاعري چا په  غور لوستلې وي نو د وزن بحر او نورو فني لوازماتو په کښې دومره خیال نۀ دے ساتلے شوے څومره چې په کښې  د جذبې صداقت او د خیال دریافت ځاے شوے دے.

د غني د شاعرۍ په دغه فني خامیو د معترضینو په جواب کښې غني خان په خپله ما ته یوه مرکه کښې تقریبن دیرش کاله پخوا وئیلي وو چې:

"زۀ خو وائم چې ګني دا اعتراضونه به اوس ختم شوي وي. ما چې کله ابتدائي شاعري کوله نو دا خبرې به ډېرې کېدلې. خبره دا ده چې اوس خو په شاعرۍ کښې ډېرې تجربې شوې دي. ازاده شاعري رواج شوه او زۀ خو هسې هم د دې خبرو په ځائے د تخیل قائل یم".

د غني خان دغه خبرې سره زه هم متفق یم۔

حنیف خلیل

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستا کیسه ده غنچه وار په زر لبریزه                    تر آستین دې لاس په داد ولې کوتاه شه**

**کیسه-- همیانۍ یا کسوړه - چې پکښې زر یا مال دولت جمع کولی شي-**
**غنچه وار-- یعنې د غنچې غوندې-- د گل د غوټۍ په شان-**
**لبریزه-- لب شونډو ته وایي او ریزه ډکې ته وایي-- یعنې تر خلې پورې ډکه-**
**استین-- لستوڼی-**
**داد--- ورکړه او سخاوت-**
**کوتاه--- لنډ-- کوتاه لاس هغه لاس ته وایي چې ورکړه نه کوي- شومتیا کوي-**

**وضاحت ---**

**ستا کیسه یعنی همیانۍ یا کسوړه خو لکه د غنچې د خوشبو د زرو نه لبریزه ده یعنی مال دولت نه ډکه ده نو بیا په داد او ورکړه کښې دې لاس ولې لنډ دی- ورکړه او سخاوت ولې نه کوې- ستا په ورکړه به ستا زرو او مال دولت کښې څه کم شي- یعنی محبوب چې د حسن په دولت مالامال دی نو په میینانو د دیدن کنجوسی ولې کوي .**
**غور وکړئ د غنچې یا د گل د غوټۍ رنګ هم زرزری وی او د زرو هم-- د غوټۍ شکل هم راغونډ گول شان وي او د کسوړې هم- غنچه هم خپل دولت یعنی خوشبو ویشی او سخی دولتمند هم خپل مال ویشی خو د محبوبانو خوئ داسې نه وی- د هغوئ مثال د شوم دولت مند غوندې وي چې د پریمانه زر او مال لرلو باوجود یې په ورکړه کښې لاس کوتاه وي یعنې ورکړه او عطا نه کوي- ځکه شیدا وایی چې محبوب ولې داسې شوم دی- چې په ورکړه کښې یې لاس د لستوڼي نه هم کوتاه دی-- کنجوس سړي د پاره محاوره ده چې لستوڼی ورکوي بچ کوي لاس-بیا د شیدا تشبیهات هم د کمال دي - عجیبه نزاکت لري- غنچه د کسوړې سره تشبیه کول-- د غنچې سور رنګ د سرو زرو سره-- غنچه کښې پرته خوشبو کسوړه کښې د جمع شوي مال دولت سره- او بیا په دغه انداز د حسینانو فطرت ښایي- د شومانو کیفیت ښایي- او خپل د کمال شعریت ښایي-**

---

**مظلوم باچا خان-- د باچا خان د تلین په مناسبت-**

**ستر باچا خان په خپل اصلاحي سیاسي علمي او ادبي مشن کښې مظلوم هم وو-- ډیرو مثبتو قدمونو ته یې خلقو په منفي نظر کتلي دي- په دغو خبرو مو چرته غور کړی دی-**
**۱--- باچا خان ته په وړومبي وار سرحدي گاندهي هندي صحافي امیر چند بموال وییلي وو چې د اندین ډیلي ټایم اخبار په اداریه کښې یې دغه ټایټل ورکړی وو او بنیاد یې دا وو چې په ټول هند کښې لوې لیډر مهاتما گاندهي دی او په سرحد یعنې پښتونخوا کښې د دغه لیول لاربښود او سیاستدان باچا خان دی چې د دغه معیار بل لیډر نه خو په پنجاب کښې وو او نه په سند او بلوچستان کښې- خو د دغه مثبت پس منظر نه ناخبره زمونږ اولس یې دغه لوې اعزاز ته هم په منفي نظر گوري-**
**۲--- باچا خان د عدم تشدد تصور د خپل خوږ پیغمبر حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د ژوند نه په هغه وخت کښې اخستی وو چې لا یې گاندهي سره هیڅ قسمه اړیکه نه وه-- په کال ۱۹۱۰ کښې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازادو مدرسو جوړولو اغاز او په ۱۹۲۱ کښې د انجمن اصلاح الافاغنه قیام سره هغه پښتانه تعلیم ته رابلل او خپلو کښي دشمنو او تشدد نه يې منع کول- نن ډیر خلق د باچا خان دغه د عدم تشدد تصور د ګاندهي نه مستعار ګڼي - حال دا چې ګاندهي پخپله هم دغه دور کښې د عدم تشدد نظریه په باقاعده ډول نه وه پیش کړې-

۳--- باچا خان د اصلاح د کار نه پس چې عملي سیاست ته راتلو نو وړومبی يې مسلم لیګ ته د دوستۍ لاس وړاندې کړو خو هلته قبول نه شو نو بیا کانګریس ته يې لاس ورکړو خو هلته هم ورسره دهوکې وشوې- د ویش نه پس يې د نوي ازاد شوي هیواد سره د وفادارۍ اعلان په دستورساز اسمبلۍ کښې وکړو خو بیا هم د قیوم خان د سیاسي حربو ښکار شو-- اوس په داسې حال کښې هم ډیر خلق باچا خان ته غدار وایي-اخر سړی خفه شي-

۴--- پښتون اولس د پاره د قربانو يې مثال نشته- دومره قیدوبند او جیلونه به ټول برصغیر کښې چا لیدلي وي لکه باچا خان-خو په دغو قربانو يې هم د ډیرو سترګې پټې دي او د دې هر څه باوجود اعتراض له ښه تکره دي-

۵-- د اشنغر د لوی خان بهرام خان په کور کښې زیږیدلي باچا خان هر قسمه اسوده ژوند جاګیر او مال حال له لته ورکړه او خپل ژوند يې د اولس د بقا ترقی او خوشحالی د پاره وقف کړو خو دا هم په ډیرو ښکاره نه دي-

۶---- د پښتنو تعلیمي حالت راپورته کولو د پاره يې ذاتي یو سل څلور دیرش ازاد سکولونه جوړ کړل خو زمونږ دانشوره طبقه يې په دغه لوی کار هم خاموشه ده- لیکونه او تحقیقونه پرې نه کوي- په یو سل څلور دیرش سکولونو صرف یو کتاب لیکلی شوی دی او هغه هم سندي تحقیق د ډاکټر سهیل خان مقاله- نور سدم ته شین دی-

۷--- پښتو ژبې او ادب ته وړومبۍ مجله د پښتون په شکل ورکول وړومبی رپورتاژ ورکول وړومبۍ ډرامه د عبدالاکبر خان د لیکلې ډرامې په شکل ورکول د مقصدي او ترقي پسندو شاعرانو پوره لښکر تیارول پخپله ګڼ شمیر پښتو لیکونه کول او نورې بیش بها کارنامې په ریکارډ دي خو د پښتو ژبې او ادب لیکلي تاریخونه راواخلئ باچان خان او د هغه ادبي خدمات به درته ډیر کم په نظر راشي-

۸--- په یوه موقع يې ابولکلام ازاد ته د هغه په لیکلې تفسیر کښې د اصلاح مشوره ورکړه او د ازاد غوندې لوی عالم يې اعتراف هم وکړو خو د نن مذهبي طبقه راپاڅي او د باچا خان په دیني فهم هم تنقیدونه او اعتراضونه کوي-

۹---- باچاخان به په ټانګه کښې سفر کولو د خامتا لباس به يې اغوستلو او کلیوالې څپلې به يې اخستلې چې دغو خواري کښنو ته يې ګټه رسي او ورسره کار روزګار کښې مرسته کیږي- له دغه ساهو فکر او روغ نیت نه يې هم ډیر خلق نه دي خبر--

۱۰--- فضول خرچۍ يې نه کولې چې پښتون اولس ته دغه د لوی خان بهرام خان زوی یو سبق جوړ شي خو په بدله کښې دغه اولس د شوم او کنجوس په نوم یاد کړو-

د باچا خان د مظلومیت دا قیصه نوره هم اوږده ده خو د دغو څو نکتو په بنیاد هم وییلی شو چې دغه ستر انسان یو مظلوم انسان هم وو- د صبر او زغم لوی غر-- مظلوم باچا خان-

---

په فارسی کښې د غزل د څو شعرونو لیکلو هڅه مې وکړه د عروضي غلطیو به بخښنه غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



می دیدم  جلوه ئے دلدار می رقصم
نحیفم من و لے بسیار می رقصم

شنیدم گفتگوئے یار من پیهم
به هر ان مستم و سرشار می رقصم

به تیر چشم او نیمکش شدم بسمل
که رفتم مست سوئے دار می رقصم

برائے دید یک لمحه رخ روشن
منم خاکم شدم غبار می رقصم

سرور بخشید رخ زیبا شما اتش
خلیلم در میان نار می رقصم

مطلب او ترجمه

چې د دلدار جلوه وینم نو رقص کوم
کمزوری یم خو بیا هم زیات رقص کوم

د خپل یار خبرې په تسلسل سره اورم
ځکه په هره لمحه مست یم او رقص کوم

د هغه د سترګو په نیم کښنو غشي زخمي شوم
چې د دار په لور مست روان یم او رقص کوم

د روښانه مخ د یوې لمحې دیدن د پاره
زه د خاک ذره شوم او په رڼا کښې رقص کوم

ستا د ښکلي مخ اور راته سرور رابخښي
زه خلیل یم د اور په مینځ کښې هم رقص کوم

---

غني نه مري

نن د غني خان د زیږون ورځ ده-- غني دې مادي نړۍ کښې د تل ژوندي پاتې کیدو د پاره سترګې غړولې وې- په مادي توګه خو هغه زمونږ تر مینځه شتون نه لري خو په فکري او روحاني توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غني نه مري- دا ولې- دا ځکه چې ځنې خلق د خپل ذات سره تړلې ځنې داسې حوالې لري چې هغه پرې امر شي- غني هم داسې وو-
غني نه پلار ملا جوړولو خو غني د رياکار ملا ژوندی حريف جوړ شو- پلار ترې سياستدان جوړولو چې دغه لړ کښې د هند د ويش نه مخکښې د متحده هندوستان د اسمبلۍ غړی هم جوړ شو خو غني دغه عملي سياست سره دايمي تړون ونه ساتلو او نه يې دغه حواله د شخصيت د پيژندګلو ذريعه جوړه شوه- هغه د پښتون زلمي په نوم سياسي ګوند هم جوړ کړو خو بيا يې ترې رجوع وکړه- په ميکينيکل انجنيرنګ کښې يې زدکړې وکړې خو په هغې هم ژوندی نه پاتې کيدو- غني که ژوندی پاتې شو نو په خپل فکر هنر او شعري اسلوب- په نثر کښې يې کالمونه مضمونونه او ګډې وډې وليکلې چې دغه کار په دغه انداز بل هيڅا ونه کړی شو- اردو کښې يې کتاب خان صاحب وليکلو چې اردو نثر کښې هم غني خپل مثال پخپله دی-- په انګريزۍ کښې يې دي پټهان وليکلو چې لوستونکي يې انګريزۍ او د ليک اسلوب ته نن هم ګوته په خله دي- ښکلو هنرونو سره يې رشته وساتله او د خاورو ختو او رنګ و برش په لاره يې داسې فنپارې تخليق کړې چې هډو د چا ترې توقع نه وه- د موسيقۍ په هنر يې هغه زدکړه تر لاسه کړه چې بنده ورته حيران شي- دغه ټولې يې هم د ژوندي پاتې کيدلو حوالې دي خو د هغه د دې نه هم لوی کمال د هغه شاعري ده- داسې شاعري چې بل سيال او مثال نه لري- په خپل شعري اسلوب کښې نه د چا په لاره لاړو او نه يې څوک په لاره تللو کښې بريالي شو- په فکري توګه هم رومان جمال تفکر نفسيات مقصديت قاميت مزاحمت طنز مزاح او نور داسې رنګونه او اهنګونه يې راوړل چې د چا نه مستعار نه دي بلکې د غني د ذات نه زيږيدلي دي- د بې پنا خورې مطالعې باوجود غني خانګړی دی ځکه چې تخليق يې په مطالعه نه دی کړی بلکې په مشاهده او خپل فطري صلاحيت يې کړی دی- په خپله ساده کليواله او د مور نه اوريدلې او زده کړې ژبه کښې د مست او شرنګيدلي ترنم سره يې کړی دی- په فکر او اظهار کښې له هر قيده ازاد غني خپلو دغو حوالو ژوندی ساتلی دی او تل به ژوندی وي- په فکري توګه هم او په روحاني توګه هم-
چغې وئ اجل ملا ته اورې که نه اورې
تشه خاوره نه دی غني څنګه به شي خاورې

---

خوبونه

انسان خوبونه ولېويني او ايا انسان نه علاوه نور مخلوقات هم خوبونه ويني که نه- د دې پوښتنې اساس د پوهې او شعور په معيار او پيمانه دی- يعني کوم مخلوق چې څومره پوهه او شعور لري په هم هغه پيمانه او معيار خوبونه ويني- د نورو مخلوقاتو د خوبونو د معيار اندازه هم د انسان د خوبونو ليدلو نه کيږي ځکه چې ټول انسانان هم يو رنګ او په يو معيار خوبونه نه ويني- د هر چا خوبونه د هغو د ويښې دنيا په مشاهده او پوهه اډانه لري- البته دا جوته ده چې خوب هر انسان ويني خو په خپل خپل معيار او خپله خپله پوهه او مشاهده- ګويا په چارپايو او مارغانو کښې هم چې کوم کوم په ويښه هر څومره شعور يا پوهه لري هم په هغه معيار خوب ليدی شي- يعني يو چارپايه که په ويښه دومره پوهيدی شي چې څوک راباندې ګوذار کوي تيښته ترې پکار ده نو دغه څه يې په خوب کښې هم راتلی شي يا يو مارغه په ويښه په دې پوهيږي چې ښکاري زما ښکار پسې راروان دی نو ځان ترې په ډډه کول پکار دي نو دغه څه يې په خوب کښې هم راتلی شي- تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې د ځنو چارپايو او مارغانو څه حواس او د مشاهدې په بنياد شعور د انسان نه هم تيز وي- ځنې مارغان د لرې لرې هيوادونو نقل مکاني ښه برابره کوي- ځنې چارپايه په ميلونو لرې په توره تياره کښې پريږده خو ښه برابر به واپس ځان رارسوي-
انساني خوبونو ته چې راشو نو يو خو د پيغمبرانو خوبونه دي چې هغه د خالق له خوا د وحي او الهام يوه اشاره هم کيدی شي او عام انساني خوب هم-- خو د عام انسانانو خوبونه د هغوئ د ويښې دنيا په شعوري مشاهده اډانه لري-انسان چې په ويښه کومه مشاهده کوي د دغه مشاهدې نه ترلاسه شوي معلومات د هغه په لاشعور کښې جمع کيږي-په تدريج او تسلسل سره- په مياشتو او کلونو دغه د معلوماتو جمع کيدلو عمل روان وي بلکې ټول عمر روان وي- د لاشعور نه ځنې معلومات تحت الشعور ته هم ځي چې د اوږدې مودې د پاره ورک وي خو دغه معلومات په يوه موقع د لاشعور سطحې ته او د لاشعور نه د شعور سطحې ته هم راتلی شي- انسان چې ويښ وي نو يواځې د هغو معلوماتو بهر ته راوړلو يا څرګندولو وظيفه تر سره کوي چې شعور يې د خپل معيار په تله وتلي يا يې د خپل غلبيل نه چاڼ کړي او د اظهار اجازت يې ورکړي- خو انسان چې کله اوده وي نو شعور يې هم معطل وي نو دغه وخت کښې د لاشعور نه هم هغه جمع شوو معلوماتو نه څه برخه په ګډ وډ او بې ترتيبه صورت کښې راپورته کيږي چې مونږ ورته خوب ليدل وايو- دغه معلومات هم هغه د انسان د ويښې دنيا په مشاهده اډانه وي چې په مختلفو وختونو مياشتو کلونو کښې د انسان د لاشعور او تحت الشعور په خانو کښې جمع شوي وي خو په اوده حالت کښې چې شعور معطل وي نو لاشعور او تحت الشعور هم د شعور د قيد نه ازاد وي ځکه هر قسمه پراته معلومات په هر شکل کښې سر ښکاره کولی شي او چې سر ښکاره کړي نو مونږ ورته د خوب ليدل وايو چې دا هر څه حقيقت نه وي- حقيقت او رښتيا صرف شعوري معلومات وي--خو دغه شعوري لاشعوري او تحت الشعوري ټول معلومات د انسان د ويښې دنيا د مشاهدې په نتيجه کښې خپلو خپلو خانو ته تلي وي-- او د خپلو خپلو حالتونو سره سم سر ښکاره کوي چې شعوري اظهار يې حقيقت او لاشعوري اظهار يې خوبونه بللی شي-ګويا انسان د خپلې پوهې او مشاهدې يا په همدغه اساس خپل خواهش ارزو سوچ او تصورنه بالاتر خوب هم نه شي ليدی-

---

پرون د احمد فراز د زيږون ورځ وه -- د دغه ورځې په مناسبت د هغه د مشهور اردو غزل پښتو ژباړه ملګرو سره شريکوم-

اردو غزل : احمد فراز
پښتو ترجمه : حنيف خليل

لړی ئې ټولې کړلی ماتې په اسانه ګوره
چې تلۀ راتلۀ خو مو تر منځه وے جانانه ګوره

د شپې تئيرې نه د ګيلې نه خو به دا هم ښه وه
د خپلې برخې که يو شمع کړې روښانه ګوره

څومره اسانه وه که ستا په جدائی کښې مړ وے

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عمر يې واخستو چې ساه وته له ما نه ګوره**

**د مقتولانو جشن جوړ نه شولو مونږ ته ګنې**
**په زولنيو کښې اتڼ به وۀ پريمانه ګوره**

**هغه خو پرېږده د وفا لوظ ته ګوري که نه**
**تۀ خو به نه تلې له دې خپل عهد و پيمانه ګوره**

**اردو غزل ----- احمد فراز ---**

**سلسلے توڑ گیا، وہ سبھی جاتے جاتے**
**ورنہ اتنے تو مراسم تھے، کہ آتے جاتے**

**شکوۂ ظلمتِ شب سے، تو کہیں بہتر تھا**
**اپنے حِصّے کی کوئی شمع جلاتے جاتے**

**کتنا آساں تھا ترے ہجر میں مرنا جاناں**
**پھر بھی اک عمر لگی، جان سے جاتے جاتے**

**جشنِ مقتل ہی نہ برپا ہوا، ورنہ ہم بھی**
**پابجولاں ہی سہی، ناچتے گاتے جاتے**

**اِس کی وہ جانے اُسے پاسِ وفا تھا کہ نہ تھا**
**تم فراز! اپنی طرف سے تو، نبھاتے جاتے**

---

**اروابناد استاد پسرلی او هندي سبک**

**په اوسني دور کې که په کامله توګه له پوره پيچلتيا سره د هندي سبک ځانګړنې په چا کې وينو، هغه استاد پسرلی دی.**
**استاد پسرلي د هندي سبک ټول شاعران ډېر ژور لوستي لکه:طالب املي' شوکت بخارائي،غني کشميري،بيدل دهلوي،کليم کاشاني...**
**د پسرلي صيب مزاج هم ورته جوړ ۇ چې دۀ دا ځانګړنې خوښولې.**
**بل پسرلي صيب په پښتو کې کاظم خان شيدا هم ډېر دقيق لوستی دی.**
**نو په نن دور کې د هندي سبک د ځانګړتياوو ليدنه تر ټولو ډېره په پسرلي صيب کې کېږي.**
**نن هم د هندي مکتب پيروي کيدلی شي چې اوس يې هم ځينې شاعران کوي.**
**که لومړي دور ته ځو نو هلته د جغرافيې،حکمراني طبقې او سياسي حالاتو ژور اثر ۇ چې اوس وخت کې د هغو اثراتو د اغېزې ضرورت نۀ شته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زموږ مخې ته د هندي مکتب شاعران پراته دي چې ټول تکنیکونه يې خپلولی شو لکه پسرلي صیب چې خپل کړي دي.**
**نو ویلی شو چې په پښتو کې د هندي سبک په کلاسیک کې لوی پیرو شیدا او معاصره شاعری کې يې لوی پیرو استاد پسرلی دی.**
**د استاد روح دې شاد وي**

---

**د علامه محمد اقبال یو عالي غزل خپلې پښتو ژباړې سره خپلو مینه والو ته وړاندې کوم-**

**پښتو ژباړه--- حنیف خلیل**
**اردو غزل --- علامه محمد اقبال**

**بیا راوړه هغسې باده او هغه جام ساقي**
**بیا چې تر لاسه کړمه هغه خپل مقام ساقي**

**درې سوه کاله اوشو بندې میخانې دي د هند**
**اوس خو لازمه ده چې ورکړه دې وي عام ساقي**

**دغه څو څاڅکي د غزل په پیمانه کښې پاتې**
**شیخ راته وايي چې دا هم به وي حرام ساقي**

**اوس خو زمرو نه د لټون هغه ځنګل خالي دی**
**اوس د صوفي او د ملا شولو غلام ساقي**

**عشقه چې ستا هغه تیره توره چا یوړه له تا**
**علم ته پاتې دی په لاس کښې تش نیام ساقي**

**زړه کښې رڼا چې وي هنر کښې ولوله وي د ژوند**
**بې له رڼا خو هنر مري به شامدام ساقي**

**زما یوه شپه د مهتاب نه چې محرومه نه کړې**
**پیاله دې ډکه لکه وي ماه تمام ساقي**

**اردو غزل**

**لاپھر اک بار وہی بادہ و جام اے ساقی**
**ہاتھ آ جائے مجھے میرا مقام اے ساقی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تین سو سال سے ہیں ہند کے میخانے بند
اب مناسب ہے ترا فیض ہو عام اے ساقی

مری مینائے غزل میں تھی ذرا سی باقی
شیخ کہتا ہے کہ ہے یہ بھی حرام اے ساقی

شیر مردوں سے ہوا بیشۂ تحقیق تہی
رہ گئے صوفی و ملا کے غلام اے ساقی

عشق کی تیغ جگردار اڑا لی کس نے
علم کے ہاتھ میں خالی ہے نیام اے ساقی

سینہ روشن ہو تو ہے سوز سخن عین حیات
ہو نہ روشن ، تو سخن مرگ دوام اے ساقی

تو مری رات کو مہتاب سے محروم نہ رکھ
ترے پیمانے میں ہے ماہ تمام اے ساقی

-------------------------

---

سوال مې خوئ له در افشانه ابره نه دی
صدف ورانه خپله خله کړه په غوښتلو
وضاحت----
دا شعر اسان هم دی او مشهور هم خو فني نزاکت ډیر لري ځکه یې ملګرو سره شریکوم----
در ملغلرې یا ګوهر ته وايي یعنې لعل وګوهر---
ابر وريځ ته وايي نو در افشانه ابر هغه وريځ شوه چې د باران په شکل در یا ملغلرې ویشي---
صدف د سمندر په اوبو کښې وي- د سمندر اوبه چې د نمر په شغلو ګرمې شي نو د بخار په شکل پورته فضا ته خیژي- پورته فضا کښې چې دغه بخار یخ شي نو د وريځو شکل واخلي - وريځې بیا د اوبو په څاڅکو کښې بدلې شي چې دغه څاڅکي بیا سمندر ته هم واپس راځي- او دغسې د اوبو دغه چکر دوامدار وي- یعنې وريځ چې د باران په شکل وریږي نو کوم څاڅکی چې په سمندر کښې د سیپې یا صدف خله کښې پریوځي هغه در یا ملغلره جوړه شي--او د صدف خله کړه یا ورانه هم وي نو شیدا وايي چې د صدف دغه خله ورانه یا کړه ده نو دا یې د باران څاڅکي ته خله ورانه نیولې ده چې څاڅکی راشي او ما سره ملغلره پیدا شي---بیا وايي چې هر څو که د صدف په ورانه خله کښې پریوتی څاڅکی ملغلره شي او ملغلره ډیره قیمتي وي خو زما خودي دا نه مني- زما خوئ دا نه دی چې زه هم لکه د صدف خپله خله د غوښتلو د پاره ورانه ونیسم --یعنې کله هم چې څوک چا نه څه غواړي یا سوال کوي نو د عاجزئ اختیارولو د پاره خله هم ورانه غونډې ونیسي چې د چا پرې زړه ورحمیږي او د سوال کوونکي سوال رد نه کړي--- د شیدا خپلې خودئ ښودلو د پاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مثال وګورئ چې زما خوئ او عادت د سوال کولو نه دی--که څوک ملغلرې او در ګوهر هم راکوي خو لکه د صدف چاته ورانه خله نه شم نیولی--- د شیدا د مشاهدې به څه وایې چې څومره نادره مشاهده یې د خودی او خود داری د پاره مثال کښې راوړې ده او د شعر ژبه یې ورکړې ده - چې یو خوا د اوبو بخار وریځو او بیا اوبو جوړیدو ساینسي چکر ته اشاره ده او بل خوا ټولنیزه مشاهده چې سوال کوونکی هم د سوال په وخت لکه د صدف خله ورانه نیسي- ځکه خو زه اکثر وایم چې شیدا په شعري تکنیک کښې بل سیال نه لري-

---

وجدان

شاعران او ادیبان د وجدان کلیمه په خپلو لیکونو او شعرونو کښې ډیره راوړي خو د دوئ په لیکونو کښې د وجدان معنا او مفهوم ډیر نه جوتیږي- دوئ عمومن وجدان د یو نامعلوم داخلي قوت په معنا راوړي خو ډیر ورته پخپله هم نه وي معلوم چې دا څه شی دی-
وجدان اصل کښې په نفسیاتو فلسفه تصوف او ادب کښې بیلو بیلو معنو کښې استعمالیږي- نفسیاتو کښې وجدان کوم مهم او لوې صلاحیت نه شي ګڼلی- فرایډ لوې نفسیات دان دی هغه د انساني عقل نه بالاتر کوم قوت او صلاحیت نه مني- بل لوې نفسیات دان ژونګ دی هغه هم وجدان د عقلي صلاحیت وړومبی مرحله ګڼي او یو غیر شعوري عمل هم ورته وایي چې نتیجو ته رسایي یې غلطه هم کیدلی شي- دغه شان په فلسفه کښې هم عقل نتیجو ته د رسیدلو لوې قوت ګڼلی شي- خو بل خوا صوفیان او شاعران دغه وجدان ته چې کومې معنې ورکوي هغه د عقل نه بالاتر د یو لوې قوت په حیت رامخې ته کیږي- د دغه لوې قوت په حیث په وجدان غور کوو-
وجدان د عربی ژبې کلیمه ده-- بنیاد یې وجد دی- عربی کښې د وجد ګڼې معنې دي- یوه معنا یې ده موندل-- بله معنا یې ده اوچته مرتبه او لوړه درجه- بله معنا یې ده لطیفه جذبه احساس او ادراک او د علم د حصول قوت- په عربی کښې یو بل لفظ حدس هم شته چې معنا یې ده اندازه-
په انګریزی کښې وجدان د پاره د انتیویشن **intuition** کلیمه راوړل شي چې معنا یې ده نتیجې ته زر او تیز رسیدل یا د پیژندلو تیز صلاحیت-
دغه معنوي پس منظر کښې مونږ د وجدان مفهوم داسې بیانولی شو چې وجدان د علم د حصول صلاحیت او قوت دی خو---
یو علم د تجربې نه ترلاسه کیږي دغه وجدان نه دی- بل علم بغیر د تجربې نه په جبلت کښې پروت وي دغه وجدان دی- یو علم په تدریج سره د اوږد عقلي او ذهني ریاضت نه ترلاسه کیږي دغه وجدان نه دی - او بل علم زر تیز او مخې سره وجود ولري دغه وجدان دی- یوعلم د ځرګندو پنځو حواسو په لاره تر لاسه کیږي دغه وجدان نه دی - او بل علم نیغ په نیغه بغیر د حواس خمسه د استعمال نه د ذات برخه وي دغه وجدان دی- یو علم د معمول مطابق نتیجې تر لاسه کولی شي دغه وجدان نه دی او بل علم غیر معمولي نتیجې تر لاسه کولی شي دغه وجدان دی- یو علم شعوري او ارادي فیصلې کوي دغه وجدان نه دي او بل علم غیر شعوري غیر ارادي فیصلې کولې شي تیزې او ناڅاپي فیصلې- دغه وجدان دی-- یو علم د دلیل او جواز غوښتنه کوي دغه وجدان نه دی او یو علم پخپل ذات کښې دلیل او جواز وي دغه وجدان دی-- یو علم د خارج نه راځي دغه وجدان نه دی - او بل علم د داخل نه سر پورته کوي دغه وجدان دی- او داسې نورې نکتې هم مخې ته راځي چې د وجداني او غیر وجداني قوت وضاحت کوي- ګویا د انسان په داخل کښې یوه بیله وجداني دنیا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شتون لري - مونږ داسې هم ویيلی شو چې د فلسفي او نفسیات دنیا عقلي ده او د صوفي او شاعر دنیا وجداني ده-- هر څو که دغه دواړه له یو بل نه مرسته هم اخلي- خو وجداني دنیا بیا هم فطري جبلي او د نبوغ دنیا ده-**

---

**دا سرې مو څنګه هیر کړو**

**سبا دریمه جنوري د دغه ستر سړي د وفات ورځ ده - اروابناد صنوبر حسین مومند یادوم- چې د خپل عصر کشرانو ورته د ډیر احترام نه کاکاجي ویيلو - د پیرنګي په حکمرانی کښې د پرایمري سکول استاد شو خو د پیرنګي د ناوړه رویو او جبر احساس چې ورته وشو نو د ډیر غربت باوجود یې د سرکار نوکری له لته ورکړه- د ارباب شیر علي خان غونډې مخوریز او با اثره شخصیت د بچو اتالیق شو خو ځان د پاره یې ترې د یوې روپۍ ګټه تر لاسه نه کړه- چې انجمن زمینداران یې جوړ کړو نو د علاقې نوابانو ورته لوې لوې پیشکشونه وکړل خو ټول یې رد کړل- چې نوجوان بهارت سبها یې جوړ کړو نو غټو سیاست دانانو ډیر لالچونه ورکړل خو کاکاجي لکه د غر ولاړ پاتې شو- چې په سیاسي میدان کښې یې شهرت تر هندوستانه خور شو نو سرمایه دارو یې په غټه بیه د اخستو هڅې وکړې خو کاکاجي په یوه بیه هم خرڅ نه شو- چې روس کښې به د کمیونسټ پارټۍ اجلاس ته وبللی شو نو د تللو پیسې او نور اخراجات به ورسره نه وو او چې پاتې به شو نو روس کښې به د کاکاجي په کرسی بل څا ته د ناستې اجازت نه وو ځکه د کاکاجي تصویر به په کرسۍ کیښودلی شو- چې دویم جنګ عظیم ونښتو نو د جرمني نه په لکهونو روپو راغلي سیاسي فنډ کښې یې د یوې روپۍ خیانت نه دی کړی تر دې چې خپل د دمې د رنځ علاج یې هم په دغو پیسو نه دی کړی- د سر پټکی به یې سوری سوری وو خو په ایمان او خود داری کښې یې معمولي شان شګاف هم نه وو- په نولس سوه یو کم دیرشم کښې یې د پیرنګي سرکار په سایمن کمیشن د پښتنو خواري کښو ټولي غوښتنې ومنلې خو د سیمې نوابانو ناکام کړو- د دمې مریض وو خو د روژې خوړل یې د خپل دیني او پښتني غیرت خلاف ګڼل ځکه تر مرګه یې روژه نه ده قضا کړې- د کمیونسټ پارټۍ د اجلاس په دوران کښې به یې څادر وغوړولو او د مونځ فریضه به یې ادا کړه- په جیل کښې د قید په دوران کښې به د احمد ندیم قاسمي غونډې لوې شخصیت د کاکاجي خدمت کولو خو کاکاجي به خپل خدمت ته نه پریښو- د انجمن ترقي پسند مصنفین بنیادګر سید سجاد ظهیر په نولس سوه شپږ څلویښتم کښې هند نه پیښور ته د راتلو په وخت د کاکاجي د لیدو ارمان لرلو خو دغه ارمان یې پوره نه شو- هندو انقلابي لیکوال او سیاست دان بهګت رام په خپل انګریزي کتاب --د سبهاش چندرا فرار -- کښې د کاکاجي د لاربنودنې په وجه کمیونسټ پارټۍ د پاره د باجوړ سوال قلا د ماسکو غونډې مرکز یاد کړی دی خو زمونږ پښتانه انقلابیان ترې نه دي خبر- هندي سرتیر او انقلابي لیکوال ګور چرن سنګهه په خپل ګورمکهي کتاب-- وه بهی دن سن-- کښې کاکاجي د پښتون سرتیر او سرفروش په حیث یاد کړی دی خو مونږ ترې ډیر کم خبر یو- د هند د ویش نه پس یې په نوي جوړ شوي وطن کښې انتخاباتو کښې برخه واخسته خو د هغه وخت اربابانو د پیسې په زور ناکام کړو- ویش نه پس یې د حمزه بابا او کامل صاحب په مرسته اولسي ادبي جرګه جوړه کړه او پښتو کښې د نوي تنقید بنیادونه یې کیښودل خو تنقیدي مباحثو کښې یې مونږ ډیر کم ذکر کوو- دیارلس کتابونه یې لیکلي دي خو زمونږ د کتاب خاوندان یې په خدماتو ډیر کم خبر دي-- د سیلاب-- شعله-- سرفروش او اسلم په نومونو یې ادبي او سیاسي مجلې جاري کړې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او چلولي دي خو د نن زماني صحافيان ترې ناخبره دي-- د پيرنګي خلاف يې حاجي صاحب ترنګزي سره په ګډه عملي مبارزه او جهاد کړی دی خو زمونږ خله پرې چپ ده- د حالاتو عذاب عذاب لمحو په ټول عمر کښې د واده کولو موقع ور نه کړه خو په قربانو يې زمونږ سترګې پټې دي- زمونږ کاکاجي چې په کوم غربت کښې په دې نړۍ کښې سترګې پرانستي وې په هم هغه غربت کښې يې له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې- سترګې به د مرګ په خوب د هر چا پټيږي خو زياته د افسوس خبره دا ده چې د هغوئ په دغه کړيدلي زوريدلي او درديدلي ژوند کښې د هغه په بې پنا قربانيو بې مثله خود دارۍ او لکه د غر په لوړو حوصلو اخر زمونږ سترګې ولې پټې دي- اخر دا سړی مو څنګه هير کړو-

نوټ--- تفصيل او حوالو د پاره زما اردو کتاب--- کاکاجی صنوبر شخصيت اور فن --- کتلی شئ-

---

د افتاب په کمند نه خيژم اسمان ته
نه ړدم بار لکه شبنم په دوش د ګلو

وضاحت....
افتاب يعنې نمر---
کمند د اوسپنې يا فولاد نه جوړ شوی مضبوط څلور غاښی اوزار چې کلکه رسۍ ورپورې تړلی شي او اوچتو قلاګانو ته پرې خلق بره خيژي---
د فارسۍ --دوش--اوږه --ولی--يا --اداڼه---لکه خانه بدوش مطلب --کور په اوږه ګرځول-- يا د پښتو په محاوره کښې--کډه په سر---دوش د پاره خپل يو پخوانی شعر به راوړم-
ستا محل خو مې په خپلو اوږو جوړ کړو
که پخپله زه خليل خانه به دوش يم
اوس شيدا څه وايی--غور وکړئ---د خپلې خود دارۍ په بيان کښې دوه نازکې او کمزورې اداڼې په شعري نسبتونو کښې راښايی---يو دا چې د نمر اوږدې پلوشې داسې دي لکه اوږده رسې چې د کمند شکل يې اخستی وي او څوک پرې نمر ته خيژي---دويم دا چې شبنم د ګلو په نازکو پاڼو پروت وي لکه چې د ګل په نازکو اوږو بار وي---دواړه اداڼې نازکې او کمزورې دي---شيدا دغسې په نازکو اداڼو تکيه کول نه غواړي--نه د نمر د پلوشو په کمند اسمان ته ختل غواړي او نه د ګلو په نازکو اوږو لکه د شبنم بوج جوړيدل غواړي---بس په خپلو پښو اودريدل غواړي---په هم دغه اداڼه يی اعتماد دی---
اوس د شعر بل خوند ته ځير شی ---دغه اداڼې يواځې نازکې او کمزورې نه دي بلکې بې اعتماده او بې اعتباره هم دي-- د نمر پلوشې صرف د ورځې ملګرتيا کوي د شپې بيا نه وي-- بل خوا پرخه يواځې د شپې ملګرتيا کوي د ورځې بيا تښتي---د پلوشو او پرخې نسبت ته هم وګورئ چې پرخه تښتي هم د همدغه پلوشو په وجه--او د شپې چې پلوشې نه وي نو پرخه بيا د ګل په اوږو بار شي---ګويا دواړه بې اعتباره دي---ګل هم د څه وخت د پاره په پرخه تازه وي خو پرخه ورسره دايمي وفا نه کوي نو دا پرخه خو بيا هسې د ګل په پاڼو بوج دی- --او د نمر پلوشې هم دايمي کمند نه جوړيږي--- د شپې تښتي ځکه چې نمر خو د شپې نه وي ----نو په داسې عارضي بې اعتماده او بې اعتباره اداڼو بيا شيدا ولې تکيه وکړي---ښه نه ده چې په خپلو پښو ودريږي---هيچا ته احتياج ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لړۍ-دغه د پلوشو او شبنم علامتونه یی په ټولنیز ژوند کښې هم واخلئ او د شیدا په ټولنیز پیغام او شعري ښایست غور وکړئ--نو جوته به شي چې په ساده شعر کښې یی هم د فني ښکلا خبرې ډیرې دي-- حمزه بابا ته هم غوږ شئ-**
**ګله بې پت لکه د پرخې نه یم**
**چې به د نمر د پلوشو سره ځم**

---

**نن د مرزا اسدالله خان غالب د زیږون ورځ ده-- په دغه ورځ د هغه د مشهور اردو غزل پښتو ترجمه د مینه والو په خدمت کښې----**

**یہ نہ تھی ہماری قسمت کہ وصالِ یار ہوتا**
**اگر اور جیتے رہتے، یہی انتظار ہوتا**

**تِرے وعدے پر جِئے ہم، تو یہ جان، جُھوٹ جانا**
**کہ خوشی سے مرنہ جاتے، اگراعتبار ہوتا**

**تِری نازُکی سے جانا کہ بندھا تھا عہدِ بُودا**
**کبھی تو نہ توڑ سکتا، اگراستوار ہوتا**

**کوئی میرے دل سے پوچھے ترے تیرِ نِیمکش کو**
**یہ خلِش کہاں سے ہوتی، جو جگر کے پار ہوتا**

**یہ کہاں کی دوستی ہےکہ، بنے ہیں دوست ناصح**
**کوئی چارہ ساز ہوتا، کوئی غم گسار ہوتا**

**رگِ سنگ سے ٹپکتا وہ لہوکہ، پھر نہ تھمتا**
**جسے غم سمجھ رہے ہو، یہ اگر شرار ہوتا**

**غم اگرچہ جاں گُسل ہے، پہ کہاں بچیں کہ دل ہے**
**غمِ عشق گر نہ ہوتا، غمِ روزگار ہوتا**

**کہوں کس سے میں کہ کیا ہے، شبِ غم بُری بلا ہے**
**مجھے کیا بُرا تھا مرنا، اگر ایک بار ہوتا**

**ہوئے مرکے ہم جو رُسوا، ہوئے کیوں نہ غرق دریا**
**نہ کبھی جنازہ اٹھتا، نہ کہیں مزار ہوتا**

**اسے کون دیکھ سکتا کہ یگانہ ہے وہ یکتا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جو دوئی کی بُو بھی ہوتی توکہیں دوچار ہوتا**

**یہ مسائلِ تصّوف، یہ ترا بیان، غالبؔ**
**تجھے ہم ولی سمجھتے، جو نہ بادہ خوار ہوتا**

**پښتو ترجمه**

**زما دومره نصیب چرته --- چې دیدن به د یار وکړم**
**که ژوندی یم تر ابده --- تل عمري انتظار وکړم**

**په لوظونو به دې پایم---ګله څه ښکلي دروغ دي**
**مړ چې نه شم خوشالی نه --- کهٔ په تا اعتبار وکړم**

**نزاکت دې د مزاج دی --- چې وعدې کوې نازکې**
**داسې کلکه وعده وکړه--- لکه زهٔ چې اقرار وکړم**

**چې لینده کبني غشی سم کړې ---د زړهٔ حال نه مې خبر شه**
**دغه درد له کومه راغی --- چې ځیګر ته پرې لار وکړم**

**دا لا څنګه رفاقت دی --- چې ملګری مې ناصح شو**
**په مرستیال به تسله کړم --- په دردمند به قرار وکړم**

**په رګونو کښې د کاڼو --- به هم وینې بهیدلې**
**کهٔ دې غم ته هم نسبت زه ---د بڅري د نار وکړم**

**غم له تنه سا وباسي--- خو دی زړهٔ سره څهٔ وکړم**
**غم د مینې کهٔ ونهٔ کړم ---نو به غم د روزګار وکړم**

**چا ته څهٔ ووایم څهٔ ده ---د غم شپه بده بلا ده**
**بس که یو ځلې مرګی وي ---زهٔ به هم ورته وار وکړم**

**چې په مرګ باندې رسوا شوم ---کاش لاهو په سمندر وی**
**نهٔ به شور د جنازې او --- نهٔ چرچه په مزار وکړم**

**هغه څوک چرته لیدی شي ---چې ځانګړی او یکتا دی**
**د دویی کهٔ څرک درک وی ---  زه به څنګ ترې انکار وکړم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**باریکی د تصوف چې --- ستا په خله راشي غالبه**
**سم ولي يې که انکار دې ---له بادې له خمار وکړم**

---

**د ساغر صديقي د مشهور اردو غزل پښتو ترجمه ملګرو سره شريکوم---**

**دعا مې ياده وي خو حرف د دعا ياد نه وي**
**هنر د غږ زما سندرو ته بيا ياد نه وي**

**د چا د پاره مو چې لاره کښې شيندلې وينې**
**وايي چې ما ته هغه لوظ د وفا ياد نه وي**

**هره لمحه مې د ژوندون لکه سزا تيره کړه**
**چې په کوم جرم باندې خورمه سزا ياد نه وي**

**ما خو يې ور د خپلو سترګو په بڼو ټکوو**
**ملنګ کړي څنګه اواز ما ته خو دا ياد نه وي**

**څنګه راڼکې له ماښامه د چا سترکې شولې**
**څنګه د ستورو رپيدله ځلا ياد نه وي**

**بس خو رڼا به مې ليده د پريوتونکيو ستورو**
**څوک شو او کله شو له ما نه خفا ياد نه وي**

**راشه سجده خو يوه وکړه چې خمار يې کله**
**خلق خو وايي چې ساغر ته مولا ياد نه وي**

**اردو غزل -----ساغر صديقي**

**ہے دعا یاد مگر حرفِ دعا یاد نہیں**
**میرے نغمات کو اندازِ نوا یاد نہیں**

**ہم نے جن کے لیے راہوں میں بچھایا تھا لہو**
**ہم سے کہتے ہیں وہی عہدِ وفا یاد نہیں**

**زندگی جبرِ مسلسل کی طرح کاٹی ہے**
**جانے کس جرم کی پائی ہے سزا، یاد نہیں**

(c) ketabton.com: The Digital Library



میں نے پلکوں سے درِ یار پہ دستک دی ہے
میں وہ سائل ہوں جسے کوئی صدا یاد نہیں

کیسے بھر آئیں سرِ شام کسی کی آنکھیں
کیسے تھرائی ستاروں کی ضیا یاد نہیں

صرف دھندلائے ستاروں کی چمک دیکھی ہے
کب ہوا کون ہوا مجھ سے خفا یاد نہیں

آؤ اک سجدہ کریں عالمِ مدہوشی میں
لوگ کہتے ہیں کہ ساغر کو خدا یاد نہیں

---

اتڼ

لاس په دعا یم خدایه بیا هغه لحظې راولې
هغه زلمو به چې اتڼ کښې اړول لاسونه
حنیف خلیل

اتڼ د پښتنو د قبایلي ژوند زیږنده دی یعني کله چې پښتنو په غریزو سیمو کښې د مختلفو قبیلو په شکل ژوند کولو- دا که د زرګونو نه وي نو د سوونو کلونو تاریخ خو ضرور لري ځکه چې پښتانه د زرګونو یا سوونو کلونو راسې د شهري ژوند نه لرې په قبیلوي ژوند کښې پاتې شوي دي-- د پښتنو یوه پیژندګلو د هغوئ جنګجو مزاج او شجاعت هم دی چې دغه اتڼ به یې د جنګي مشق حیثیت لرلو-- یو خوا ورزش او د ویني ګرمول او بل خوا د اتڼ دوران کښې د ځوانمردئ سندرو ویېلو سره حوصله اوچتول او جذبات ګرمول به د اتڼ بنیادي موخه او برخه وه-- وروستو اتڼ د کلتوري دود شکل واخستو چې افغانستان کښې قندهار یې لوئ مرکز وو- او دغسې د پښتنو نورو قبایلي سیمو ته هم دغه دود وغزیدو-- نن هم د اتڼ په وخت لاسونو کښې توره شرنګول د هغه جنګي ریاضت نخښې ښایي-- افغانستان کښې د اتڼ درې غټ قسمونه دي-- وردګی-- لوګری-- او خوستي-- چې زمونږ د جنوبي پښتونخوا په دود او کلتور یې هم اغیزې دي- دغه شان زمونږ د محسودو او وزیرو اتڼ نن هم د کمال دی-- د خټکو رقص داسې سرکاري غونډې حیثیت اختیار کړی دی خو د محسودو اتڼ نن هم په اصلي شکل شته چې ورسره وزیرو بیټنو داوړو او ځنو نورو قبیلو هم دغه لار پاللې ده -- له بده مرغه زمونږ په شهري ژوند او هوارو سیمو کښې نه خو د اتڼ روایت شته او نه چا له اتڼ ورځي-- لږه د حیرانئ خبره دا هم ده چې زمونږ د پښتونخوا په نورو قبایيلي سیمو لکه مومندو اپریدو شنوارو ملاکوړو باجوړو او نورو ډیرو قبیلو کښې د اتڼ روایت ولې هغسې نه دی لکه په وزیرستان کښې چې دی- په وزیرستان کښې خو لکه د قندهار د ځوانانو نه پرته پیغلې هم د خوشحالی او واده ښادئ په موقع هم هغسې رقص کوي کوم ته چې ملي او کلتوري اتڼ وایي- پیغلې او ځوانان خو څه چې زاړه او بوډاګان ملکان مشران یې هم کوي- دا ښه ده چې په پوهنتونونو او تعلیمي ادارو کښې د قبایيلي پښتنو سره اوس د نورو هوارو سیمو پښتانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم د اتڼ سره اشنا شو-- تر دې چې په غیر پښتنو یې هم اغیزې وشوې- که ټول یې کولی نه هم شي خو هغسې سپک نظر خو به ورته نه کوي لکه ځنې ښاریانو پښتنو به چې کولو-**

---

**باچا خان او عدم تشدد**

**تشدد د دلیل او مکالمې لاره نیسي او عدم تشدد دلیل او مکالمې ته لاره ورکوي- تشدد د بې صبرو خلقو کار وي او عدم تشدد د صبر او زغم نوم دی- تشدد لنډ مهالی وي او عدم تشدد د مسلسل جدوجهد نوم دی- تشدد که هر څومره اوږد هم شي خو نتیجه یې بیا هم په عدم تشدد تمامیږي- د باچا خان د عدم تشدد په تصور ډیر تنقیدونه هم شوي دي- خو زه وایم چې په ځانګړي ډول هم او په اجتماعي ډول هم د تشدد او عدم تشدد خپل خپل وخت تناظر او موقع وي او د باچا خان د عدم تشدد محل او تناظر د تشدد په مقابله کښې درست او زیات موثر وو- د دغه تشدد او عدم تشدد تصور پخپله د هند په لوې ګوند کانګریس کښې هم شتون لرلو چې ګاندهي یې د عدم تشدد او سبهاش چندر بوس د تشدد منونکی وو- سبهاش که په خپل مقصد کښې هر څومره مخلص وو خو اولس ته ګټې ګاندهي راوړې وې- ځکه چې لار یې د عدم تشدد وه- د پښتون اولس مزاج هر څو که د عدم تشدد نه وو خو باچا خان سره یې بیا هم منلی وو-- تر دې چې دغه تصور په پښتنو منلو د پاره پخپله ګاندهي د باچا خان په پښتنه سیمه کښې وخت هم تیر کړی وو چې بیا پرې هندي لیکوال پیارے لال ځانګړی کتاب ولیکلو -- ګاندهی جی بادشاه خان کے دیس مین-- باچا خان پخپله هم د پښتون مجلې د کال ۱۹۴۰ په ګڼو کښې د عدم تشدد په وضاحت کولو لیکونه کړي دي او د خپلو تقریرونو خلاصې یې هم چاپ کړې دي چې عدم تشدد ته یې د خدایي خدمتګارو اصول ویلي دي نه چې د کمزورو خاصه- باچا خان دا هم وضاحت کړی دی چې د هغه د عدم تشدد تصور د ګاندهي نه هم ماخوذ نه دی او دا خبره یې اپیل هم کوي ځکه چې باچا خان د عدم تشدد رویه له هغه ځایه خپله کړې وه چې ۱۹۱۰ نه د ازادو سکولونو رواج یې شروع کړی وو- پښتانه یې د ذاتي دشمنو او د ټوپک په ځایې تعلیم او قلم ته رابلل- او بیا په ۱۹۲۱ کښې یې د انجمن اصلاح الافاغنه د سیوري لاندې د تعلیم تهذیب ادب شعور پوهې او اصلاح کار ته تحریک ورکړو نو دې وخت کښې خو د باچا خان ګاندهي سره هیڅ تعلق او اړیکه نه وه- باچا خان په خپل دغه تصور کلک ولاړ وو-- کله کله به د انګریز ظلم و ستم کښې شدت هم دې د پاره وو چې پښتانه په تشدد مجبور کړي خو باچا خان پوره زغم او استقامت سره د عدم تشدد لاره نیولې وه تر دې چې همدغه عدم تشدد یې خپل طاقت او وسله جوړه کړې وه- په رښتیا هم دغه صبر زغم نرمۍ او عدم تشدد کښې زور وو- ځکه زه چې د خیبر اپریدي د دې شعر په معنا ځان پوهول غواړم نو د باچا خان جدوجهد او د عدم تشدد تصور مخې ته ږدم چې خیبر ویلي وو --**

**زور دی په نرمۍ کښې د سختۍ نه ډیر**
**لار په غره کښې وباسي پستې اوبه**

---

**دوه خاطرې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارواښاد اکرام الله ګران صیب په معصومیت قربان- څه عجیبه مقدس معصومیت یې لرلو- یوه ورځ د ارواښاد محمد دین مقید کلیزې له په فلاینګ کوچ کښې ټل ته روان وو- یو خوا راسره اصف صمیم صاحب ناست وو بل خوا ګران صیب- صمیم صاحب ته مې وییل چې تاسو ډیره سوچه او ساهو پښتو لیکئ خو ډیر لوې لوې شاعران او لیکوال پرې هم نه پوهیږي نو چا د پاره یې لیکئ-- صمیم صاحب وییل ولې پرې نه پوهیږي - هر څوک پرې ښه پوهیږي- صمیم صاحب مې متوجه کړو او ګران صاحب ته مې وې ---- ګران صیب تاسو د بنسټوالو ملتونو پر پرتلیزه شننه کښې ونډه لرئ---- ګران صاحب څه عجیبه معصومیت سره ووې -- څه--- ما ورته جمله بیا تکرار کړه-- ګران صاحب بیا وایي -- دا ته څه وایې-- پښتو کښې راته ووایه کنه---- صمیم صاحب وخاندل وییل ډیر شرارتي یې ښه-- یعني د ګران صاحب غوندې لوې شاعر هم زمونږ په پښتو نه پوهیږي دا څرګندول غواړې--ګران صاحب هم وخاندل وې ښه ستا دا مطلب وو- ډیر وران یې ښه--
په یوه بله موقع غني خان سره مرکې کولو له تلم نو ګران صاحب مې ځان سره محمد ناړی ته د غني خان حجرې ته بوتلو -- په لاره راته ګران صاحب وییل چې هلکه د غني خان په مخکښې به د حمزه بابا ذکر نه کوې ښه--- ما وې ښه-- چې لاړو--مرکه مو وکړه-- د شرارت د پاره مې غني خان ته ووې چې د حمزه بابا شاعری نه څومره متاثر یئ-- غني خان وې زه خو حمزه نه لولم-- زه ترې هډو خبر نه یم--چې واپس راتلو نو ګران صاحب زړه کښې ښه غصه وو خو د غصې کولو چل نه ورتلو-- په عجیبه عاجزانه انداز یې راته ووې چې یره تا ته خو ما وییلي وو چې د حمزه بابا ذکر به نه کوې-- ما وې والله غلط شوم-- خو دا بندیز ولې وو-- وې مړه غني او حمزه دواړه زما ادبي پیران دي-- او زه د یو پیر له خلې د بل پیر کمه نه شم اوریدی خو تا راباندې واوریده-- هم هغه دې وکړل کنه چې څه نه مې منع کړی وې- ما وې کران صیب-- د دغو پیرانو هره خبره شکره وي-- او د شکرې د مریض هسې خوږو ته زړه کیږي-- وې ښه-- ځه بیا خو تیک ده نو----- نن چې هغه فرشته صفت ګران صیب رایادوم نو د عجیبه کیفیت او ډیرو جالبو خاطرو سره مخ کیږم-- روح یې ښاد--

---

معروف هندو شاعر او ادیب جګن نات ازاد د نومیالي هندو ادیب او دانشور تلوک چند محروم زوې وو- د ګڼ شمیر کتابونو لیکونکی ادیب دانشور او د اقبالیاتو ماهر وو- د میاوالي اوسیدونکی وو چې د ویش نه پس دواړه پلار او زوې هند ته لاړل- د ښاغلي ازاد دغه اردو نعت مې پښتو کښې ترجمه کړی دی - خپلو ملګرو سره یې شریکوم ---

سلام په هغه ذات' هغه چې فخر د دوران دی
راغلی په زر واره یې احسان لاندې جهان دی

په مرسته کښې ولاړ لکه د غر' د کم بختانو
اسره د مفلسانو' د سر سیوری د خوارانو

مرستیال د غریبانو او کمزورو عاجزانو
زړو له اډانه او ستر محسن د صادقانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام وایم هغه ته چې رحمت د عالمین دی
راوړی یې پیغام لکه صادق او د امین دی

سلام چې په خپل نور یې نړۍ هم رڼا رڼا کړه
سلام چې د بیان سحر کښې ګیره یې دنیا کړه

سلام چې یې خاموشه ژبې هم واړه ګویا کړې
سلام چې حوصلې یې ناتوانانو ته عطا کړې

چې زړونو کښې یې بل د معرفت کړل مشالونه
د حق سجدو د پاره یې لیواله کړل سرونه

سلام چې یې د حق غوښتونکي واړه مستانه کړل
راغونډ یې د حکمت په میو مسته پیمانه کړل

چې ذوق د وروروللۍ یې لوې وړوکي کښې پیدا کړو
نړۍ نه د اقا او د بنده فرق یې فنا کړو

سلام چې بادشاهي په ملنګۍ کښې یې کوله
چې تل یې خاقاني دبدبه پښو کښې رغړیدله

سلام چې د خضرا ګنبد د لاندې یې ارام دی
نن هم یې در' ته ټیټ د وخت تندی په احترام دی

سلام چې د ظلمونو په زغملو یې رضا وه
په سپکو اوریدو' کانو خوړلو یې دعا وه

سلام په هغه ذات خو دې ټول عمر جاودان وي
سلام دې د ازاد او د هغه شیرین بیان وي
صلی الله علیه و اله وسلم

اردو نعتیه کلام ---- جګن نات ازاد

سلام اس ذات اقدس پر، سلام اس فخر دوراں پر
ہزاروں جس کے احسانات ہیں دنیائے امکاں پر

سلام اس پر جو حامی بن کے آیا غم نصیبوں کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



رہا جو بیکسوں کا آسرا، مشفق غریبوں کا

مددگار و معاون بےبسوں کا، زیردستوں کا
ضعیفوں کاسہارا اور محسن حق پرستوں کا

سلام اس پر جو آیا رحمتہ للعالمیں بن کر
پیام دوست لے کر، صادق الوعد و امیں بن کر

سلام اس پر کہ جس کے نور سے پرنور ہے دنیا
سلام اس پر کہ جس کے نطق سے مسحور ہے دنیا

سلام اس پر کہ جس نے بے زبانوں کو زباں بخشی
سلام اس پر کہ جس نے ناتوانوں کو تواں بخشی

سلام اس پر جلائی شمع عرفاں جس نے سینوں میں
کیا حق کے لیئے بیتاب سجدوں کو جبینوں میں

سلام اس پر بنایا جس نے دیوانوں کو فرزانہ
مئے حکمت کا چھلکایا جہاں میں جس نے پیمانہ

بڑے چھوٹے میں جس نے اک اخوت کی بنا ڈالی
زمانے سے تمیز بندہ و آقا مٹا ڈالی

سلام اس پر فقیری میں نہاں تھی جس کی سلطانی
رہا زیر قدم جس کے شکوہ و شان خاقانی

سلام اس پر جو ہے آسودہ زیر گنبد خضری
زمانہ آج بھی ہے جس کے در پر ناصیہ فرسا

سلام اس پر کہ جس نے ظلم سہہ سہہ کر دعائیں دیں
وہ جس نے کھائے پتھر، گالیاں، اس پر دعائیں دیں

سلام اس ذات اقدس پرحیات جاودانی کا
سلام آزاد کا، آزاد کی شیریں بیانی کا
#صلی‌اللہ‌علیہ‌وسلم

(مجموعہ کلام : بیکراں)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هنر د علامت ژبه ده**

**علامت اصل کښې په عربۍ کښې --علامه-- دی چې معنا یې ده-- نخښه--نشان یا اشاره کول- په انګریزۍ کښې simbole دی چې همدغه معنا لري- د انګریزۍ سمبول د فرنچ د simboline نه جوړ شوی دی- فرنچ کښې یې هم دغه معنا ده- د فرنچ سمبولین د لاطینی د simbolus نه جوړ شوی دی چې هلته یې هم معنا همدغه ده- د لاطینۍ سمبولس د یونانی د simbolon سمبولون نه جوړ شوی دی چې هلته یې معنا ده دوه څیزونه یوځای کول- دغسې د علامت جرړه عربي ده او د سمبول جرړه یوناني ده- د دواړو یوه معنا ده نخښه نشان یا اشاره-- او دویمه معنا یې ده دوه څیزونه که مادي وي او که غیر مادي دواړه څیزونه نزدې کول پرتله کول او په یو ځایې ایښودل- دغه ټولې معنې یې لغوي دي-- په اصطلاحي معنو کښې علامت یا سمبول ډیرې خورې معنې او پراخ مفهوم لري چې په ټولو ښکلو هنرونو یا فنون لطیفه کښې خپل خپل تناظر لري- نزدې ټرون خو یې نفسیاتو او ژبې سره دی خو په مصورۍ موسیقۍ او ادب کښې هم د علامت استعمال ډیر اهم او ضروري دی-**

**د ادب او شاعرۍ بنیادي وسیله ژبه او لفظونه دي نو ځکه ویيلی شو چې د ژبې هر لفظ په وړومبو معنو کښې د یو خیال یا تصور د پاره علامت دی تر دې چې هر نوم د یو معنویت د ابلاغ د پاره علامت دی-- او دا هم چې یو علامت د ډیرو او بیلو بیلو معنو او مفاهیمو د پاره هم په بیلو بیلو موقعو راوړلی کیدی شي-- ګویا علامت د خیال او تصور رشته د ذهن سره ټرې یا د نفسیاتو په اصطلاح کښې علامت د شعور او لاشعور لفظي جامه - یا د دغو دواړو تر منځه پل دی- دواړه یو ځای کوي- که نیغ په نیغه شاعرۍ ته راشو نو په وړومبي مفهوم کښې تشبیه استعاره او کنایه تر دې چې تمثال او امیج هم یو علامت وي- بلکې متل او محاوره هم د علامت شکل اخستلی شي- خو تشبیه استعاره کنایه او محاوره ټاکلې چوکاټ او اصول لري او علامت له دغې محدود چوکاټ نه هم ازاد وي- نه ورته لکه د تشبیه د --مشبه-- او-- مشبه به-- ضرورت وي او نه ورته لکه د استعارې د --مستعار له -- او --مستعار منه-- ضرورت وي-- تر دې چې ځنې معروف او بیا بیا راوړلی شوي تشبیهات او استعاري هم علامت جوړ شي لکه د شیدا په شاعرۍ کښې حباب-- شمع-- فلک وغیره- د شاعرۍ نه علاوه په نثري تخلیقي ادب لکه ناول ډرامه افسانه وغیره کښې هم د علامت راوړنه ډیره ضروري ده- تر دې چې د فن او هنر ژبه په هر حال علامتي وي- البته په ادب کښې علامت د مخصوصو سیاسي او ټولنیزو حالاتو ضرورت هم وي چې د سیاسي جبر په ماحول کښې هره خبره په ازادۍ سره کول ګران شي نو د علامت لاره خپلول ضرورت جوړ شي- په خالص هنري اظهار کښې بیا ځنې علامتونه مجسم وي یعنې مادي وي چې ورته تجسیمي علامتونه وایي او ځنې بیا مجرد وي یعنې غیر مادي وي چې ورته تجریدي علامتونه ویيلی شي-- دغه تجریدیت د مصورۍ نه د ادب په لور مخه کړې ده- خو په خپل ذات کښې هر هنر علامتي وي-- هنر مند خپل اظهار د علامت په ژبه کوي او خبریال سیاستدان واعظ او مقرر بیا د علامت په ژبه بیان او هنر سره ډیر کار نه لري-- بس یواځې ابلاغ کوي- ادب او شاعرۍ کښې د هنري جمال زیږوولو د ټولو نه غټه او مهمه لار د علامت ده چې مثالونه به یې په بله کومه لیکنه کښې راوړو چې خبره نوره هم جوته شي- او ورسره باید د زوړ یوناني طب نه راوتی نفسیاتي علم سیمیاټکس semiotics او ژبنی علم سیمان ټیکس semantics هم جوت کړی شي چې علامت له دغو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**علمونو نه راوتی او بیا یې نورو ښکلو هنرونو ته لاره موندلې او بیا یې شعر او ادب کښې پرمختګ کړی دی- او نن مونږ وایو چې**
**------ هنر د علامت ژبه ده-----**

---

**د غزل څو شعرونه ملګرو سره شریکوم-**

**یو لاس کښې ملغلرې بل کښې تار راواخله پیره**
**څو څاڅکي د شبنم دې د رخسار راواخله پیره**

**دا سترګې او بانهٔ به درته لاره کښې کرمه**
**ته یو قدم زما په لور په لار راواخله پیره**

**د تیغ او د تفنګ او د بارودو دې څه جوړ کړل**
**دا درې واړه عبث دي یو ستار راواخله پیره**

**راځه چې دا د شر او د فساد تیَرې سنګسار کړو**
**له ستورو لمن ډکه کړه بې شمار راواخله پیره**

**سردار به چې په سر کښې وو ولاړ هغه سر نشته**
**اوس میر د قافلې شه خپل دستار راواخله پیره**

**خدایان د زمانې به دې د ژوند کشتی کړي ډوبه**
**بس نوره دې اسره د کردګار راواخله پیره**

**سجده کښې که سرور غواړې د زړه حرم دې پاک کړه**
**دا یو سبق زما د ګناهګار راواخله پیره**

**د حسن و عشق قیصه لکه د ګل او د سور اور ده**
**خلیل فطرت مې وایي چې انکار راواخله پیره**

---

**قامپال رحمان**

**د رحمان بابا په اړه زما په یوه لیکنه ګران دل اغا فطرت له ما غوښتنه کړې وه چې د رحمان بابا د قامپالنې په اړه څه ولیکه ځکه چې زیات خلق رحمان بابا محض یو صوفي شاعر ګڼي او د قام پرستی په اړه یې بې برخې ګڼي-**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما تر فهمه د انسانيت د خير او بقا په اظهار کښې خو رحمان بابا د عالمګير انسانيت مرستيال او د عشق د افاقي جذبې په څرګندونه کښې په څرګند ډول افاقي دی - د هر قسمه قاميت تصور په دغه افاقي جذبه کښې د ځايولو په حق کښې نه دی او پکار هم داسې ده لکه رحمان بابا چې وييلي دي-
زه عاشق يم سروکار مې دی له عشقه
نه خليل نه داودزی يم نه مومند
خو کله چې رحمان بابا د ټولنيز شعور څرګندونه کوي نو بيا سوچه قامپاله دی- هغه په سرېښو کښې مومند او په مومندو کښې دويزی دی-- او ځان ته يې سرېښی هم وييلی دی-- مومند هم او دويزی هم- خو د خپل دغه ذاتي او خانداني پيژندګلو سره بيا سرلوړي د ټول پښتون او افغان اولس غوارې- د هغه استعارې او علامتونه هم پښتانه دي- د سيمې او جغرافيې احساس هم پښتون او د ژبې د اهميت تفکر هم پښتون- د هغه په وخت کښې هم دريا ے سند په همدغه نوم يادېدو خو هغه يې د پښتنې سيمې په پښتون نوم اباسين يادوي-
لکه سيند د اباسين په غورزنګ درومي
هسې يون دی په تلوار تلوار د عمر
هغه که د حاکمانو د ظلم زور په سبب په کومه خاوره درديږي نو هم د خپل پيښور په خاوره-
په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او اور او پيښور درې واړه يو دي
هغه که د خپلې شاعرۍ تاثير د پاره کومې مستې پيغلې يادوي او پخپله ترې هم سرور اخلي نو هم د خپل باګرام ښايسته ترکۍ-
هم نغمې کاندي هم رقص کا هم خاندي
د رحمان په شعر ترکۍ د باګرام
هغه که د خپلې شاعرۍ په خوشبو کوم وطن خوشبويه کول غواړي نو هم نيغ په نيغه افغان وطن او افغان اولس يادوي-
چې کشور د افغانانو معطر کا
د هر بيت مصرعه مې زلفې د خوبان کړې
هغه که خپل ځان او خپله شاعري ټول عالم کښې د شهرت ګټونکي يعنې عالګير حيثيت لرونکي ګڼي نو هم سبب يې خپله پښتو ژبه يادوي او په ښکاره وايي چې-
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګير يم-
هغه که د علم و ادب په حواله پرمخ تللې ژبې فارسی ته ګوري نو سيالی کښې ورسره د خپلې پښتو يادونه کوي-
په پښتو کښې رحمان ووې
په فارسی کښې سنايي
نو زه خو وايم چې د عالمګير انسانيت افاقي شاعر د پاره دغه هومره قامپالنه بس ده-- د خپل دغه اظهار په نتيجه کښې رحمان بابا يواځې کوم ديني مذهبي او صوفي شاعر نه دی بلکې هغه يو پښتون قامپاله شاعر هم دی-- د پښتون قاميت د احساس په بنياد هم او پښتو ژبې د اهميت احساس لرلو په بنياد هم--

---

د شعر غله د شيدا دور کښې هم وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زر به رسوا شي د مضمون دزده**
**جامه غمازه د جامه دز ده**
**كله پټيږي له مبصره**
**متاع په بلخ كښې چې د قندز ده**

**وضاحت....**
**مضمون نه مراد شاعرانه خيال فكر اوشعري تكنيک دی.دزد فارسی كښې غل ته وايي. جامه دز مطلب د جامې كپړې ګنډونكی يعنې خياط چې كله كله جامه كپړه كښې غلا هم كوي. بلخ او قندز د افغانستان د دوو سيمو نومونه دي. دې شعر كښې دغه دوه سيمې يادول يو تاريخي پس منظر لري.بلخ د ازبكستان په سرحد پروت دی او قندز د تاجكستان.**
**قندز يخ اوسرسبزه وطن دی چې سبزی او ميوې زياتې پيدا كوي او ورسره د جامې كپړې د پاره هم مشهور دی.په يو وخت كښې به د سبزی او ميوې نه علاوه د اعلا قسم جامه كپړه هم د قندز نه بلخ ته تله . بلخيانو به وييل چې دا اعلا كپړه زمونږ د بلخ خپل پيداوار دی خو چې جامه به جوړه شوه او وا به غوستې شوه نو د ډير ښه معيار په وجه به پرې خلقو تبصره كوله چې دا خو دومره اعلا ده لكه د قندز نه چې راغلې وی.يعنې د جامې معيار به پخپله غمازي كوله چې دا د بلخ نه بلكې د قندز ده. او دغسې به بلخيان زر رسوا شو چې د اعلا معيار په پردی كپړه خپله دعوا كوي.دې پس منظر كښې شيدا غل شاعر ته وايي چې ته د مضمون فكر خيال او تكنيک غلا خو كوې خو لكه د بلخيانو به ډير زر رسوا شې ځكه چې د شاعری اسلوب او انداز خو هم د شعر جامه اولباس دی.دا جامه يعنې شعري اسلوب خو پخپله حل وايي او غمازي كوي چې اصلي خيال او مضمون د چا دی او چا غلا كړی دی .لكه د بلخ د مبصر د شاعری نقاد نه هم دغه غلا شوی مال متاع يعنې مضمون پټيدی نه شي .صفا پته لګي چې د قندز مال بلخ ته رسيدلی دی.يعنې كوم غل شاعر د بل كوم لوې شاعر مضمون چپه كړی دی. نو ضرور به د شعر دغه غله هم ډير زر رسوا كيږی لكه خوشال بابا چې دستارنامه كښې هم وييلي دي چې.. څوک چې غلا كا ځان به رسوا كا..خو كاظم خان شيدا په كومه سليقه وييلي دي غور پرې وكړئ چې د لوې او استاد شاعر د وينا سليقه څنګه وي.**

---

**پښتو بل رحمان ولې پيدا نه كړو**

**پښتو ژبې ډير لوړ شاعران پيدا كړي دي.. خو رحمان يې ايكي يو پيدا كړی دی.. هر شاعر د مقبوليت خپله خپله حلقه لري.. د لوستو او دانشورو حلقه.. د نالوستو او عام اولس حلقه. د سياستدانانو حلقه.. د مذهبيانو حلقه.. د قامپالو حلقه.. د ترقي پسندانو حلقه.. د رومانيانو حلقه.. د سندرغاړو موسيقارانو او هنرمندانو حلقه.. د ملايانو حلقه.. د زاهدانو حلقه.. د مستانو حلقه.. د ښځو او سړو حلقه او نورې بلها ډيرې حلقې.. خو كه دغه ټولو حلقو يو رنګ منلی او زړونو كښې كښينولی كوم شاعر دی هغه ايكي يو رحمان بابا دی.. كه په تصوف وي نو داسې نور هم شته.. كه په شاعری كښې په سادګی او روانی وي نو نور هم شته. كه په هنر تكنيک او نازكخيالی وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ګڼ شمير -- که په انسان دوستۍ وي نو ښه ډير-- خو په اير منلی شوی بيا هم يو رحمان بابا--
چې دا ولې-- يو وجه خو يې دا هم کيدی شوه چې رحمان بابا دغه دعوا کښې رښتونی دی--
چې دا نور شاعران کاندي هغه نه کا
رحمان کړی نوی نوی اجتهاد
خو زه فکر کوم چې شعري اجتهاد يا د يو نوي شعري سبک ايجاد هم نورو شاعرانو کړی دی- نو
بيا د رحمان بابا د مقبوليت او ځانګړتيا څه سبب پاتې کيږي- خبره بيا هم د غور ده - که نه سبب
يې د رحمان بابا يوه بله دعوا وي چې-
په غزل کښې خو دوه بيته انتخاب وي
د رحمان تمام غزل دی انتخاب
زه بيا فکر کوم چې دغسې د لوړ معيار انتخاب شاعري هم د نورو ډيرو شاعرانو کيدی شي- نو بيا
حيرت-- چې دا رحمان بابا دومره ځانګړی په څه دی- د حيرت خبره خو دا هم ده چې د رحمان په
زمانه کښې د ابلاغ د ستونزو باوجود د رحمان بابا د شعر مقام اشرف خان هجري ته تر دکنه څنګه
ورسيدو چې دکن کښې په قيد کښې يې ووييل-
د رحمان په وييل ځاې د لقب نشته
چې يې ما شعر منظور کړو معتبر دی
د لا زيات حيرت خبره خو دا هم ده چې د شيدا غوندې مشکل پسند او په خپل هنر غره شاعر چې
پښتنو کښې څوک هم تر ځان بهتر نه ګڼي خو د رحمان غوندې ملنګ اسان او د ساده انشا شاعر
بيا داسې مني چې په يوه مصرعه يې زړه بايلي او هغه هم د هند غوندې د لوړ معيار ادبي ماحول
کښې چې وايي-
د رحمان په دا مصرعه د شيدا زړه دی
ته پري يې که اهو يې که جادو کړې-
د دومره ساده انشا شاعر رحمان دومره رنګين څنګه شو- بس يوه لار پاتې کيږي او هغه دا چې
خالق د رحمان بابا هغه دعا قبوله کړې وي کومه يې چې د سردار دو جهان او د الله د حبيب حضور
اکرم صلی الله عليه وسلم په صدقه کښې غوښتې وه چې-
الهي د خپل حبيب له برکته
دا ساده انشا رنګينه د رحمان کړې

---

خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزی-- د شهادت ورځ-

نن د ستر شخصيت عبدالصمد خان اڅکزي د شهادت ورځ ده- د خان شهيد په نوم معروف د پښتون
اولس دغه لوې شخصيت او مشر د حمزه بابا د زيږون په کال ۱۹۰۷ کښې زيږيدلی او زما د
زيږون په کال ۱۹۷۳ شهيد کړی شوی وو چې په دغه شپږ شپته کاله ژوند کښې يې په ګڼو
ميدانونو کښې د پښتون اولس د پاره ډيرې بخښنې کړې دي او د دغو بخښنو يادونه يې د هغه په
ځانليک-- زما ژوند او ژوندون درې ټوکه کښې هم شوې ده -- دغه ژوند ليک هغه په پښتو کښې د
لاهور جيل د بند په دروان کښې ليکلی وو چې د زيږون نه تر ۱۹۵۲ پيښې يې پکښې خوندي کړې
دي- دغه ژوند ليک يې په انګريزی کښې د هغه زوې او د جنوبي پښتونخوا پخواني ګورنر محمد
خان اڅکزي په انګريزی کښې او واصلي ايشکوف د ډاکټر غلام سرور په مرسته په يوکريني

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسي ژبه کښې هم ژباړلی دی-- خان شهید د ژوند ورستي څلور کاله غونډ په بند کښې وو او له دغې مځکښې هم په بیلابیلو وختونو کښې د قیدوبند سره مخ وو- د هغه سیاسي هلې ځلې یو خوا پښتو او پښتنو د پاره علمي او ادبي هلې ځلې یې هم د خورا قدر او درناوي حق لري خو له بده مرغه د دغو ژبني ادبي او علمي هڅو یې یادونه او شننه ډیره کمه شوې ده چې دلته یې لنډه یادونه کول غواړم-

۱ --- خان شهید د پښتو نه سربیره په انګریزی عربي فارسي اردو سندهي بلوچي او براهوي ژبو هم ډیره پوهه لرله او له دغو ټولو ژبو یې په خپلو پښتو لیکنو کښې ډیره ګټه اخستې ده- خو علمي ورکړه یې خپلې پښتو ته کړې ده-

۲ -- په ۱۹۳۸ کښې د انجمن وطن او په ۱۹۵۴ کښې د ورور پښتون په تنظیمونه جوړول یې هر څو که د سیاسي مقاصدو د پاره وو چې بیا منظم سیاسي ګوند یې د پښتونخوا ملي عوامي پارټي په نوم شهرت تر لاسه کړو - خو علمي او ادبي بخښنې او د پښتو بقا او ارتقا یې هم د دغه ټولو تنظیمونو په منشور کښې شامل وو-

۳ -- د پښتو لیک دود په اړه د هغه تصور سره متفق کیدل که ضروري هم نه وي خو د عربی فارسی د اغیزو نه یوخوا ته کول او سوچه پښتو لیکدود او ګردود رامخې ته کول هم د خان شهید ژبنۍ او علمي هڅه ده-

۴---- د عربي فارسي اردو او انګریزي ژبو نه د مولانا ازاد د ترجمان القران -- د شیخ سعدي د ګلستان-- د شبلي او ندوي د سیرت النبي او د ډاتسن کارټو د فیوچر اف فریډم پښتو ژباړې یې نورې علمي بخښنې دي - تر دې چې د علامه اقبال لیکلې د ماشومانو ترانه چې د مټلډا د انګریزي نظم نه ماخوذ ده -- لب په اتی هے دعا بن کے تمنا میری-- یې هم په پښتو ژباړلې ده چې زمونږ دانشوره طبقه یې عمومن په دغو علمي ژباړو او بخښنو سترګې پټوي-

۵--- په ۱۹۳۸ کښې د بلوچستان صوبې په تاریخ کښې په وړومبي ځل د استقلال په نوم اخبار شروع کول یې د صحافت د میدان کارنامه ده چې د انګریز سرکار په حکمرانی کښې دا یوه تاریخي هڅه وه-

۶ --- د صحافت په لاره د مختلفو سیاسي مذهبي ټولنیزو علمي ادبي او کلتوري مسلو په اړه د خان شهید لیکلي اداریې لا زیاته مهمه علمي برخه ده چې راټولو یې د وخت غوښتنه ده-

۷ ---- د پښتو په بیلابیلو پخوانو مجلو کښې د خان شهید علمي لیکونه او مقالې د پښتو ژبې او ادب یو بله د قدر وړ بخښنه ده-

۸ -- په ۱۹۷۰ کښې د ښځینه ووټ اندراج یې د ښځینه حقوقو تر لاسه کولو یوه بله هڅه ده چې په هغه دور جغرافیه او کلتوري حالاتو کښې کومه وړه خبره نه وه-- ځکه چې د دغه حق ترلاسه کولو اغیزې په ښځینه تعلیم زدکړو او ادب هم شوې دي-

۹ ---- د هغه د یوې لور نه علاوه د هغه څلور واړه زامن احمد خان - محمد خان-محمود خان او حامد خان-- د خپلو خپلو څانګو ډاکټری انجینیری وغیره سره سره سیاسي کلتوري او ادبي پوهه لري چې په څه نا څه شکل یې عملي ورکړې هم شته- او ګټه یې پښتو ژبې او ادب ته ده-

۱۰ --- مونږ د قاید اعظم پوهنتون د پاکستاني مطالعاتو د څانګې نه د خان شهید په مجموعي خدماتو خو د ډاکټرۍ یوه مقاله په خپل شاګرد عنایت کاکړ ولیکله خو د هیواد د ټولو پوهنتونونو نه د خان شهید په بیلابیلو اړخونو د مفصل او مدلل کار او څیړنې ارتیا ده- په ځانګړې توګه د پښتو ژبې او ادب د پاره د هغوئ په ورکړو او بخښنو-

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱ --- زما دغه تاثر د خان شهید د پښتو ژبې او علم او ادب په اړه دی-- سیاسي اتفاق او اختلاف سره اړه نه لري-
۱۲--- دې نه علاوه دغه لوې شخصیت ته باید مونږ د کوم مخصوص سیاسي ګوند په محدود چوکاټ کښې ونه ګورو- د پښتو او پښتنو د یو اتل په نظر ورته وګورو او د هر قسمه تعصب نه بالاتر یې قربانۍ ومنو- قدر او درناوی یې وکړو- او په لویه سینه یې اعتراف او مننه وکړو-

---

هایکو او غلط فهمۍ

د امریکي څیړونکي هیرالډ ګولډ هنډرسن درې کاله په جاپان کښې پاتې شو او په جاپاني ارټ او ادب یې څیړنې وکړې بیا یې په انګریزۍ کښې په جاپاني هایکو یو کتاب ولیکلو چې په ۱۹۵۸ کښې چاپ شو بیا د امریکې په کولمبیا یوهنتون کښې د جاپاني ارټ او ادب پروفیسر پاتې شو - هغه چې د هایکو په اړه کومې څیړنې کړې دي زمونږ پښتانه دانشور یې نه مني او هایکو په خپله خوښه لیکي- دا خو داسې شوه لکه کوم انګریز یا جاپانی چې راشي او مونږ ته ووایي چې ستاسو پښتنو ټپه غلطه ده- اصلي ټپه خو په امریکه او جاپان کښې وییلی شي-
د هایکو په حقله زمونږ دانشور وایي چې په دریو مصرعو کښې لیکلی شوی نظم هایکو وي که بحر یې هم هر څنګه وي ---- خو اصلي خبره داسې نه ده---- د هیرالډ ګولډ هینډرسن د څیړنې تر مخه هایکو د زوړ جاپاني صنف رینګا نه رابیل شوی وړومبی بند دی چې وړومبی د هوکو په نوم بیا د هایکایي په نوم او بیا د هایکو په نوم یاد شو---هایکو ته نزدې په جاپاني ادب کښې د --چوکو-- ---ټانکا--او--هایکا--په نوم صنفونه د هایکو نه مخکښې موجود وو-- او د-- ټایکي--په نوم صنف د هایکو نه پس پیدا شوی دی---چې هایکو ته نزدې دی---
په جاپاني ادب کښې هایکو خپل مخصوص فارمیټ او مخصوص بحر لري---فارمیټ یې هلته د دریو مصرعو نه دی بلکې هلته هایکو یوه مصرعه ده چې په دریو برخو تقسیم ده---بحر یې نه خو لکه د اردو فارسۍ د فاعلاتن فاعلات دی او نه لکه د پښتو او انګریزۍ د سیلابونو دی---هلته د وزن د پاره د --ان--- او---مورا سسټم دی---ان یې اوږدې چپې ته وایي او مورا لنډې چپې ته---نو داسې وګڼئ چې د یوې اوږدې مصرعې یوه هایکو په دریو برخو کښې د پنځه--اووه--پنځه---په ان یا مورا کښې راځي----د دغه فارمیټ او بحر نه خارج نظمونه جاپانیان پخپله هم هایکو نه ګڼي---هغوي ورته بیا-- سینریو-- وایي چې دغه سینریو سره په معنوي حواله د طنز او مزاح عنصر هم شریک شي---
هایکو دریو بیلو مصرعو او د خپلې خوښې بحر ته انګریزي ادب راوستی ده چې د جاپاني هییت نه یې انحراف کړی دی او بیا د دغه انحراف پیروي زمونږ د پښتو په شمول نورو ګڼو ژبو هم کړې ده ---جاپانیانو چې هم یوه مصرعه کښې د پنځه اووه پنځه یعنې ټوټل اوولسو چپو یا مورا نه په کم بحر کښې کومې هایکو لیکلي دي نو دغې ته یې ازادې هایکو هم وییلي دي خو شمار کړې یې بیا د هایکو په ځایی په سینریو کښې دي---
اردو دانو هم دغه د بحر او فارمیټ نه خارخ هایکو ته --ثلاثي--وییلي ده یا یې نور نومونه ورکړي دي---خو مونږ پښتانه ښه په چرت کښې پردی صنف په خپل فارمیټ او د خپلې خوښې په بحر کښې لیکو او نوم ورته هم هغه د جاپانی هایکو ورکوو---نو که نور چا زمونږ ټپه د خپلې خوښې په بدل فارمیټ جدا مصرعو او جدا بحر کښې ولیکله او بیا هم وایي چې دا ټپه ده نو دا خو ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه منو---که زمونږ د رباعی مخصوص بحر څوک بدل کړي نو ورسره به یې ونه منو---خو جاپانئ هایکو سره په خپله خوښه هر څه روا ګڼو او لا د پاسه پرې دا چې د خپلې سرزورئ وکالت هم کوو---
د دستیاب ریکارډ تر مخه د پښتو په حواله مونږ دومره قدر وییلی شو چې
۱ --- د چاپاني فارمیټ نه خارج پښتو کښې وړومبئ هایکو ربنواز مایل لیکلي دي چې په ۱۹۸۶ کښې اولس مجله کوټه کښی چاپ دي-
۲-- جاپاني فارمیټ ۵..۷..۵ چپو کښې وړومبئ هاییکو قاسم بنوي لیکلي دي چې په ۱۹۹۰ کښې د مردان مجله انعام کښې چاپ دي-
۳-- د جاپاني فارمیټ د هایکو وړومبئ مجموعه هم د قاسم بنوي ده چې د ادب نورنګ کتابي لړئ په شکل په ۱۹۹۱ کښې چاپ ده-
۴-- جاپاني فارمیټ کښې دننه او خارج دواړو هایکو د ټولو نه زیاتې او ورسره معیاري هم د اظهارالله اظهار مجموعې چاپ دي چې د هایکو په میدان کښې بل سیال نه لري-
دغه د دستیاب ریکارډ خبرې دي-- نورې هوایي دعوې هم کیدی شي- هوایي دعوا خو دا هم کیدی شي چې پښتو کښې وړومبئ هایکو امیر کروړ لیکلي وه خو ثبوت -- سدهم ته شین دی-او که هر قسمه درې مصرعې هایکو وي نو بیا دا خو زمونږ اولسي ادب کښې د ډیر پخوا نه شتون لري-دا وګورئ کنه-
ما پرې سیزي
څي په مکیزونو یاره
حجرې ته بله ډیوه اوړي

نوټ--- زما یو زوړ لیک د نوې اضافې سره

---

د کاینات د کتاب الف ب

هره ورځ ورق ګردان یې
مخترع د نوي شان یې
شیدا
نن د شیدا د شعر تشریح نه کوم- شعر اسان دی- دغه شعر کښې کاینات ته دیوان یا کتاب وییلی شوی دی او دا چې د دغه کتاب خالق هره ورځ یوه پاڼه یا ورق اړوي او کتاب کښې نوې نوې اختراع کوي- یعني کاینات کښې اضافې کوي-
مونږ چې ماشومان وو نو د تختې په یو مخ به مو الف ب لیکل او په بل مخ شمیرې- ګویا دغه مو د کتاب د زدکړې پیل وو- اوس که د کایناتي کتاب د لوست خبره وکړو نو انساني علم دا خو معلومه کړې ده چې د کاینات عمر تخمینن څوارلس اربه کاله دی او د زمکې عمر څلور نیم اربه کاله دی-
نن انسان وایي چې ډیره ترقي یې کړې ده-- بې شکه چې ترقي یې کړې ده خو دغه ټولې ترقئ ته یواځې د زمکني حقیقتونو تناظر کښې کتلی شي- که د کایناتي حقیقتونو تناظر کښې مو ورته وکتل نو انسان او انسانیت نن هم د زدکړې په حواله هغسې ماشوم دی لکه کچه اتنا کښې چې د تختئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلو په وخت کښې وو ځکه چې خالق خو د قران حکیم د سوره الجاثیه دیارلسم ایت کښې وییلي دي چې-
و سخر لکم ما فی السماوات و ما فی الارض جمیعا منه-- یعنې تاسو دپاره په اسمانونو او زمکه کښې هر څه مسخر یعني ستاسو په کار راوستونکي جوړ کړی شول- ګویا ټول کاینات یا کایناتي کتاب نه ګټه اخستل د انسان کار دی-- خو انسان تر اوسه څه وکړی شول-- د زمکني وسیلو نه پرته یې زیات نه زیات دا وکړی شول چې د نمر توانایي په خپل کار راوستی شي هغه هم ډیر محدود صورت کښې- نو دا خو د محدود شمسي نظام خبره شوه- د شمسي نظام په کایناتي کتاب کښې حیثیت څه دی- انسان به د خپل کهکشان ملکي وی ستورو او کرو نه کله ګټه اخلي- بل نزدې کهکشان اینډرومیډا ته به کله رسي- او د کایناتي کتاب په اربونو نورو کهکشانونو ستورو او سیارو نه به کله ګټه اخلي- تر اوسه خو انسان یواځې معلومات راجمع کوي او هغه هم د تصویرونو په ذریعه - د هبل ټیلي سکوپ نه پس یې د جیمز ویب په ذریعه د کاینات د څه برخې تصویرونه ولیدل یا لږ ډیر اضافي معلومات- او دا هم د زمکې د عمر څلورنیم اربه کلونو په دې اخري دوه سوه کاله کښې انسان د دې قابل شو- او چې کاینات هره ورځ خورېږي هم نو انسان به یې صرف معلوماتو تر لاسه کولو پسې څنګه او کله رسي- او بیا مسخر کوي به یې کله - ګټه به ترې کله او څنګه اخلي- ګویا د کاینات په مطالعه کښې انسان لا هم هغسې د تختی د یو مخ د الف ب ماشوم دی- او که د ستورو او کهکشانونو د شمیر پوښتنه دې ترې وکړه نو د تختی د شمیرو په هغه دویم مخ هم هغه شش او پنج نه لا نه دی وتی- او شاید تر ابده د کایناتي کتاب په لوست کښې همدغسې ماشوم پاتې شي- خو غرور او تکبر ته یې وګوره چې د کاینات د یوې معمولي شان ذرې یعني زمکې په تناظر کښې په خپل علم د دغه ویړ کایناتي کتاب د خالق سره هم انګتې اچوي- او پته نشته چې څه څه وایي- خدایه زما دې توبه یې-

---

د غالب په غزل ورومبی پوهیدل ګران بیا یې ژباړل ګران او بیا ژباړې ته پښتون رنګ ورکول خو لا ګران وي - خو دغه غزل مې ډیر خوښ وو نو په پښتو مې ځکه ژباړلی دی چې هر څومره ګران وو-- د مینه والو په خدمت کښې-

اردو غزل : مرزا اسد الله خان غالب
پښتو ژباړه : حنیف خلیل

د سپوږمۍ حسن خو منم چې په کمال ښه دے
خو له دې هم مې د نمر مخي ترې جمال ښه دے

پېه به نه ورکوي بیا یې هم په زړه وي نظر
زړه کښې به وایي چې د مفتو دی نو مال ښه دے

بس خو که مات شولو نو بل به له بازاره راوړم
جام د جمشید نه خو مې لوښی د کولال ښه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره به خوند کوي چې ورکړه بې غوښتنې کوي
ملنګ هم هغه چې خوئ نه لري د سوال' ښه دے

راته چې وګوري د مخ سرخي مې وغوړېږي
ځان سره وايي د رنځور لکه چې حال ښه دے

ګورو چې څومره میینان له ښکلو ګټه اخلي
يو برهمن خو دي وييلي چې دا کال ښه دے

د شیرینۍ فرهاد خبرې د تیشۍ برکت
خو چې په هر شکل څوک ولري کمال' ښه دے

څاڅکی چې لاړ شي سمندر ته' سمندر شي ترې جوړ
انجام د هر هغه کار ښه دی چې یې حال ښه دے

خضر سلطان لرې هر وخت تروتازه خالقه
د بادشاه بڼ کښې چې تازه بوټی وي نال ښه دے

ښه پرې پوهیږمه چې څه دی حقیقت د جنت
زړه به خوشاله کړو غالبه دغه خیال ښه دے

نوټ ------ خضر سلطان د مغل بادشاه بهادرشاه ظفر
زوېے وۀ چې د پيرنګي په قيد کښې وۀ ---

اردو غزل ----مرزا غالب

حسنِ مہ گرچہ بہ ہنگامِ کمال اچّھا ہے
اس سے میرا مۂ خورشید جمال اچّھا ہے

بوسہ دیتے نہیں اور دل پہ ہے ہر لحظہ نگاہ
جی میں کہتے ہیں کہ مفت آئے تو مال اچّھا ہے

اور بازار سے لے آئے اگر ٹوٹ گیا
ساغرِ جم سے مرا جامِ سفال اچّھا ہے

بے طلب دیں تو مزہ اس میں سوا ملتا ہے
وہ گدا جس کو نہ ہو خوئے سوال اچّھا ہے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان کے دیکھے سے جو آ جاتی ہے منہ پر رونق
وہ سمجھتے ہیں کہ بیمار کا حال اچّھا ہے

دیکھیے پاتے ہیں عشّاق بتوں سے کیا فیض
اک برہمن نے کہا ہے کہ یہ سال اچّھا ہے

ہم سخن تیشے نے فرہاد کو شیریں سے کیا
جس طرح کا کہ کسی میں ہو کمال اچّھا ہے

قطرہ دریا میں جو مل جائے تو دریا ہو جائے
کام اچّھا ہے وہ جس کا کہ مٰل اچّھا ہے

خضر سلطاں کو رکھے خالقِ اکبر سر سبز
شاہ کے باغ میں یہ تازہ نہال اچّھا ہے

ہم کو معلوم ہے جنّت کی حقیقت لیکن
دل کے بہلانے کو غالب یہ خیال اچھا ہے

---

گزرے هویے سب لمحے یادگار هوتے هین
لوٹ کر نهین اتے ایک بار هوتے هین
عمر د باد په شان تیریږي-- دوه دیرش کاله مخکښې چې په اسلامیه کالج پیښور کښې دولسم صنف کښې زده کوونکی وم نو د کالج کلیزه مجله خیبر کښې مدیرانو زما یو غزل چاپ نه کړو-- نوی نوی شاعر شوی وم - سم غصه وم- بس په هغه مجله کښې ټول غله شاعران مې راوویستل او د انګریزی فرنټیر پوسټ اخبار ته مې یو لیک ولیږلو چې دا ټول قصور د مجلې د پښتو څانګې مشر فرمان الدین بخشالي صاحب دی چې اصلي او نقلي شاعران نه پیژني--دغه لیک به هم چرته شریکوم- زما لیک چې چاپ شو نو چا تر پرنسپل ارباب سکندر حیات صاحب ورسولو- بس زه چې دولسم نه اووتم نو په دیارلسم کښې یې داخله نه راکوله- وییل یې ته په دې اداره په انګریزي اخبارونو کښې اعتراضونه کوې- چې په منتونو مې پرې ځان داخل کړو نو دیارلسم کښې د پښتون سټوډنټس فیډریشن سکتر شوم- ورسره د خلیل سټوډنټس ارګنایزیشن سکتر هم وم- پرنسپل صاحب مې بیا پوزې له راوستو- هغه هسې خو ډیر تریخ او دبنګ سړی وو خو ما ته یې وییل هلکه ته شاعر هم یې - د خیبر د پښتو برخې مدیر به دې جوړ کړم او دا نورې قیصې پریږده- ما وې ادب او ادارت خو زما هم خوښ دي- بس د پرنسپل صاحب خبره مې ومنله او په دغه کال یې د خیبر د پښتو برخې مدیر جوړ کړم- دغه وخت کښې مې کتاب خو یو هم نه وو چاپ البته څو مقالې مې په ادبي مجلو کښې چاپ وې- هغه پرنسپل وو او هغه خیبر وو چې د پښتو ادب په لاره یې نیغ کړم- د وکالت کولو اراده مې په پښتو ماسټر کولو بدله کړه-په اردو ادبیاتو کښې مې هم بیا ماسټر وکړو - سیاسي تنظیمونه مې چې هاغه پریښې دي تر ننه مې ترې ځان په ډډه ساتلی دی- دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیرش کاله مي د ادب په لارو سفر وکړو او نن دا دی د خیبر مګزین نه تر کتابونو راورسیدم چې په دغه لاره اچولو کښي مي د پرنسپل ارباب سکندر حیات لوې لاس دی۔ دغه عکس کښي راسره زما استاذان ټول وفات دي-روحونه یې شاد اوسه - په هلکانو کښې یو اعجازالحق نه خبر یم چې چرته جج دی-- او زما د پاره د الله کریم دغه فیصله وه چې تر دې ځایه د رارسیدو اسباب یې راته برابر کړل-- نن مي دوه دیرش کاله پخواني خیبر کښې خپل دغه عکس مخې ته راغلو نو ورسره زما د ماضي پوره فلم هم زما د ذهن په شیشه راتیر شو چې دلته یې یادولو ته مي هم زړه وشو۔

---

کتاب--- لږ نور وضاحت

د کتاب په اړه زما په یو لیک د ډاکټر پلوشه سهار د یو کمنټ وضاحت کښې مې لږه اضافه وکړه چې ملګرو سره یې شریکول غواړم- رساله--بیاض-- مصحف--دوتر -- ټالباش-- روزنامچه-- جریده-- او مجله څه ته وایي او فرق یې څه دی

دغه ټولي کلیمي خپلي ځانګړې معني هم لري خو اصطلاحي معنایي بیا هم هغه کتاب راووځي- رساله--
د رسولو په معنا ده یعني پیغام رسول-- دغه پیغام یو اصول او قانون هم وي او لیک یعني کتابت شوی هم- رسالت هم له دغه رساله نه جوړ دی-
بیاض--
د ابیض نه دی- ابیض په عربی کښې سپین ته وایي- یعني سپین کاغذ چې لا پرې لیک نه وي شوی خو لیک یا کتابت د پاره وي-
مصحف---
مصحف د عربی د صحیفه نه دی چې جمع یې صحیفي یا صحایف دی-- او صحافت هم له له دغي جوړ دی-- معنا یې دی پیغام رسول او لیکلی دستاویز - دغه پیغام چې ولیکلی شي یا کتابت کړی شي- نو اصول او قانون هم وي او کتابت شوی هم-
دوتر--
دفتر هم ورته وییلی شي چې د یو رجسټر حیثیت لري - عمومن پکښې حساب کتاب لیکلی شي - خو د زمکو د ریکارډ کتاب ته هم دوتر یا دفتر وییلی شي چې خوشحال بابا د شیخ ملي د دفتر یادونه کړې ده نو د زمکو د ریکارډ او پښتنو قبیلو د شجرو تفصیل ترې مراد اخستلی کیدی شي-
ټالباش--
په جنوبي سیمو کښې ورته ډال باچ هم وایي -- دا هم په بنیادي توګه خو د زمکو د ریکارډ کتاب وي چې د مخصوصو قبیلو پورې محدود وي او د دوتر نه وړوکی وي- دغه تناظر کښې د ریکارډ ساتلو نورو کاپو یا ډایرو ته هم ټالباش یا ډال باچ وایي-- شاعران د خوند د پاره د خپلي شاعرۍ ناچاپ مسودې ته هم ټالباش یا ډال باچ وایي-
روزنامچه یا ډایري---
دا هغه کاپۍ یا رجسټر وي چې ورځني حالات پکښې خوندي کولی شي-- ځنې ادیبانو هم خپلې ډایرۍ لیکلي دي چې د حمزه بابا ناچاپ ډایرۍ پکښې ډیر قیمتي معلومات او مواد لري- او دغو ډایرو نه کتاب هم جوړیدی شي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جریده---**

**جریده د تجرد او مجرد یعنې بیل او جدا په بنیاد وي-- هغه کتابي لړۍ چې په یو نوم  تاکلې دورانیه میاشت-- درې میاشتې-- شپږ میاشتې-- یا کال کښې مسلسل او بیل بیل کتابونه چاپولی شي-**

**مجله--**

**مجله د جلا یا ځلا په بنیاد ده چې د پوهې او دانش ځلا خوروي-- او لکه د جریده تسلسل لري-**

**جریده او مجله عمومن سرکاري او حکومتي کتابي لړۍ وې خو بیا عام شوې--**

---

**کتاب**

**د کتاب د پاره دوه توري په ټوله نړۍ کښې زیات مستعمل دي---په مغربي نړۍ کښې book او په مشرقي نړۍ کښې --کتاب---وړومبے د انګریزۍ تورے دے او دویم د عربۍ-- د انګریزۍ book د پاره ګڼ شمیر مخففات ښودلے شي چې د کتاب معنا او مفهوم ترې څرګند شي- لکه b o o k .....**

**bio opttical organized knowledge**
**bundle of outstanding knowledge**
**big ocean of knowledge**
**bolit in organized knowledge**
**bank of oppurtunistic knowledge**
**binary on off keying**

**د دغو شپږو مخففاتو خپلې معنې دي چې د کتاب مفهوم څرګندوي -- لکه د وړومبي مخفف ترمخه-- ساینسي او تکنیکي منظمه پوهه---- د دویم تر مخه---د عالي پوهې مجموعه--- د دریم ترمخه-- د پوهې لوې سمندر--- دڅلورم تر مخه--په منظمه پوهه کښې د ګولۍ په شان تیزي---د پنځم تر مخه-- د موقعې مناسبت سره د پوهې خانه یا بینک-- او د شپږم تر مخه--- د دوو متضاد نظریو د ترلو او پرانستلو چابي---**

**دغه ټول وضاحتونه خپل خپل مفهوم لري خو دا وروستو جوړ شوي تعبیرونه دي چې مختلفو دانشورو جوړ کړي دي او یوه ستونزه دا هم پیښنوي چې د انګرزۍ  book-- د جرمن ژبې نه انګریزۍ ته راغلے دے او هلته  buch  دے چې صرف د b په مناسبت bibliography یعني کتابیات ته ویلے شي -- نو ځکه د انګریزۍ ټولې معنې وروستو او د ځانه جوړې شوې ښکاري-- البته د کتاب مشرقي مفهوم ته چې راشو نو خبره معنوي لحاظ سره زیاته مناسبه ښکاري--- کتاب د عربۍ تورے دے خو په نورو مشرقي ژبو کښې هم مستعمل دے--- په عربۍ کښې یې مفهوم د کتابت یعني لیکلو سره ترلے بیانیږي--مطلب کتابت شوے او لیکلے دستاویز--- خو دا باید نظر کښې وساتو چې دا په عربۍ کښې وړومبۍ او لغوي معنا ده--- اصلي او اصطلاحي معنا یې ده--- قانون-- روش ضابطه--طریقه--- چې د قران ځنو ایتونو نه یې دغه اصلي مفهوم څرګندیږي --- چرته چې ویلے شي-- کتب علیکم الصیام--- یا --کتب علیکم الصلواه---- نو دغلته مفهوم د کتابت یا لیکلو نه وي--- بلکې دا وي چې تاسو د پاره صیام یا صلواه یعنې روژه یا مونځ  د یو قانون -- روش-- ضابطې--په حیث لازم کړے شو--- نو ځکه د ذالک الکتاب--- مفهوم کښې هم د لیک او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کتابت نه علاوه دغه مفهوم پروت دے چې ---دې کتاب يعني دې قانون قاعدې روش او اصول کښې هيڅ شک نشته---**

---

**ژبه په شميرو کښې**

انسان چې په دې زمکه او نړۍ کښې د کله نه د ژبې څښتن شوی دی او خبرې يې شروع کړې دي نو د خيالاتو تصوراتو د څرګندونې د پاره د علامتونو او نخښو په ايجاد کولو سره د ليک په لور هم راغلی دی-- دغسې انسان کله د تورو او کليمو د پاره د شميرو راوړنه کړې ده او کله يې د شميرو د پاره د تورو او کليمو راوړنه کړې ده- چې دغه دواړه راوړنې يې د ژبې برخه وه- د ابجدي کليمو راوړنه خو انسان نن نه پنځه نيم زره کلونه پخوا په سوميري تهذيب کښې شروع کړې ده چې په عربي تهذيب کښې يې وده موندلې ده او تر ننه دغه عربي ابجد رواج لري - دغسې د يو نه تر زرو شمير د ابجد په اتو کليمو کښې راګير شوی دی چې دا د شميرو د پاره د کليمو راوړنه ده- دغسې کله مونږ د تاريخونو شميره په ابجد کښې بيانوو او کله د کلمه طيبه د وړومبۍ برخې د لفظونو د پاره ۷۸۶ شميره راوړو- ګويا يادوو شمير خو مراد مو لفظونه وي-- او کله يادوو لفظونه خو مراد مو شميره وي لکه خوشال بابا چې لفظ غصج نه ۱۰۹۲ هجري کال مراد اخستی دی - او يا نورو کلاسيکي شاعرانو تاريخي شميرې په ابجدي لفظونو بيان کړې دي-
دغسې شميره هم په ډيرو ژبو کښې د لفظونو د پاره راوړلی شي - کله د محاورې په توګه او کله د عمومي اظهار د پاره- لکه په عربۍ کښې چې د اويا شميره د زيات شمير د پاره راوړلی شي-
حضور اکرم به چې کله د کافرو ايمان راوړلو او بخښلو د پاره دعا غوښته نو الله ورته د وحي په ذريعه وويل چې دوئ د پاره که اويا واره هم دعا وغواړې خو بخښنه يې نه کيږي- دلته اويا نه مراد دی زيات واره يا ښه ډير ځله- دغسې په عيسايت کښې هم ډير لوې جرم د پاره شميره راوړلی شي اووه ګناهونه- په انګريزۍ کښې هم د غصې سړولو د پاره ويلی شي- تر لسو شماره- اردو کښې هم د --بيسيون دفعه-- نه مراد دی -- ډير ځله- پښتو کښې هم ويلی شي چې شل ځله خو مې درته وويل-- خو مراد ترې شل نه وي بلکې ډير ځله ويل وي- يا دا چې -- ما نه بغير دې شل نه کړه- يعنې مسله دې حل نه کړه- يا دا چې د تسلۍ د پاره ويلی شي چې -- ته به وواېې چې شپاړس- يعنې افرين به راته وواېې- يا دا چې په ما خو دې ګياره باره تير کړل يعنې ورهم او ويېره دې راباندې تير کړل- يا دا چې فلانی خو -- نه تين دی او نه تيره- په فارسۍ کښې هم شش وپنج کښې مبتلا کيدلو نه مراد دی حيرت سره مخ کيدل- داسې په دغو ټولو ژبو کښې نور هم مثالونه شته خو د خوند خبره دا ده چې دغه شميره د ژبې په حيث ادب او شاعرۍ کښې هم شتون لري- لکه هندي سندره--
ايک دو تين--
چار پانچ چهه سات اټ نو دس ګياره--
باره تيره--
تيره کرو ګن ګن ګن کے--
او يا پښتو کښې چې فلمي سندره ده--
تيرې چپې هيرې کړه راتلونکې چپې شماره--
سوله پندره ياره-

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سوله پندره یاره-**
**یا زما خپل شعر کښې ما --دوه سترګي څلور نیول-- د انتظار د پاره راوړې دي-**
**دا دوه سترګي چې څلور می دي نیولي**
**دا هم تا ته ستا په لور مي دي نیولي**
**یا د فیض احمد فیض دې اردو شعر کښې د --چار دن--شمیره د لږ وخت د پاره راغلي ده-**
**اک فرصت گناه ملی وه بهی چار دن**
**دیکھے هین هم نے حوصلے پروردگار کے**
**یا زمونږ د زلمي احد امین رهبر سندره--**
**دوه او دوه څلور--**
**نوره د خوند خبره دا ده چې په برلن کښې یو نقاش او مصور tiemer د ۱ timero تایمیرو په نوم نولس سوه یو ویشتم کښې د شمیرو د نظام یو مکمله ادبي ژبه اولس ته وړاندې کړه چې د اظهار کامل نظام لري -تر دې چې پکښې ادبي لیکونه هم شوي دي-- د دغه ژبې یوه جمله د مثال د پاره داسې ده چې وییلی شي چې --زه تا سره مینه کوم-- نو جمله په شمیرو کښې داسې وي -**
**17-80-1 او داسې نور مثالونه یې په نټ لټولی شئ-**
**ګویا شمیره او حساب کتاب چې په ژوند کښې هسې هم په هره څانګه کښې خپل ضرورت او اهمیت لري نو یو اړخ یې دا هم دی چې شمیره د ژبې لفظونو او اظهار وسیله هم ده-**

---

**مونږ نصر پیژنو ؟**

**نن د پښتو د یو پتنګ د مړیني ورځ ده -- اروابناد نصر-**
**کوم نصرالله خان نصر چې په څوارلسم مارچ ۱۹۱۹ په بر تاکال کښې د عبدالغني خان الکوزي کره او د لوې انسان بابو حیدر په کورنی کښې پیدا شوی وو - په ۲۲ نومبر ۱۹۶۵ وفات شوی او په ۲۳ نومبر د پلوسي پیښور په ادیره کښې خاورو ته سپارلی شوی وو- ایا چا ته یې قبر هم معلوم دی او که نه-**
**د کوم نصر نیکه بابو حیدر چې اسلامیه کالج پیښور د پاره په ایکړونو زمکه ورکړې وه چې په سیمه کښې د علم رڼاګانی خورې شي-**
**کوم نصر چې د ایدورډز کالج پیښور نه په هغه زمانه کښې دولسم او اسلامیه کالج نه څوارلسم کولو باوجود سرکاري نوکري ځکه نه کوله چې د خپلې پښتو د خدمت د پاره به بیا وخت او ماحول ونه لرلی شي-**
**کوم نصر چې د پریمانه جایداد لرلو باوجود د ملنګی ژوند تیرولو-- د پښتو د بقا او خورونې د پاره-**
**کوم نصر ته چې د پښتو مینې د واده کولو موقع هم ورنه کړه او بې واده له جهانه لاړو-**
**کوم نصر چې د پښتو د خدمت د پاره په ۱۹۴۳ کښې په بر تاکال کښې ادبي ټولی جوړ کړو او د خلیق صیب سمندر خان سمندر کاکاجي صنوبر حمزه بابا کامل صیب اجمل خټک او د هغه وخت نور لیکوال یې په یو پلیټ فارم راجمع کړل چې دغه دور کښې لا اولسي ادبي جرګه هم نه وه جوړه-**
**البته د نوښار ادبي جرګه جوړه وه-**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم نصر چې د ادبي ټولي په اجلاسونو کښې به هر وخت د انګریز سرکار د جاسوسانو او په نتیجه کښې یې سزاګانو سره مخ وو-
کوم نصر چې د پښتنو په کلو بانډو کښې ګرځیدو او د پښتو مشاعرې او غونډې به یې کولې-
کوم نصر چې ماشومانو کښې د پښتو شوق رابیدارولو د پاره سبق اموز قیصې او په ولیانو پیرانو او نیکانو کتابونه لیکل او ماشومان به یې د پښتو لوست ته راپارول-
کوم نصر چې د ډیر ښه مالي حیثیت باوجود په سایکل ګرځیدو - د پښتنې سیمې سکولونو ته به یې خپل لیکلي کتابونه او پمفلټونه اوړل او مفت به یې ویشل-
کوم نصر چې د کلو بانډو په جماتونو کښې د ماسخوتن مونځ نه پس ماشومانو ته د پښتو درس ورکولو او د غریبانو ماشومانو مالي او تعلیمي مرستې یې کولې- چې پښتانه تعلیم یافته شي او د خپلې ژبې د اهمیت احساس هم ورسره وې-
کوم نصر چې پښتو کښې څلورشعري مجموعې او په شلګونو نثري کتابونه چاپ دي خو چې پښتنو به لوستې څومره وي- پوهه پرې نه یم-
کوم نصر چې په ذاتي وسایلو کښې د دارالتصنیف په نوم یوه اشاعتي او څیرنیزه اداره د همیش خلیل صاحب په مرسته جوړه کړې وه او د یو منظمي ادارې نه یې هم زیات کار کړی وو-
کوم نصر چې پښتو ته د همیش خلیل غونډې لوې څیرونکی او لیکوال ورکړی وو -
په کوم نصر چې د اسلامیه کالجیټ سکول استاد کفیل خان د ماسټر او د باچاخان پوهنتون پروفیسرې کرن سنین د پي ایچ ډي ډګرۍ د پاره څیرنیزې مقالې لیکلې دي خو د دې باوجو یې څومره خلق پیژني- خبر نه یم-
په کوم نصر چې د فلمسټار جمیل بابر پلار میر رحمان غازي-- د ریډیو پاکستان فقیر حسین ساحر-- او پخپله همیش خلیل صاحب پرې بیل بیل کتابونه لیکلي او چاپ کړي دي خو چې لوستي به څومره خلقو وي-دا راته پته نشته-
کوم نصر چې ژوند د پښتو او پښتنو له سره ځار کړو خو صله یې هیڅ نه- نه د سرکار له خوا او نه د اولس له خوا- دغه صله به یې هم کافي وه چې مونږ په رښتیا معنا پیژندلی وی-- خو رښتیا به وایو چې په رښتیا معنا
مونږ نصر پیژنو ؟

---

شاعران د خداې شاګردان-- په کومه معنا

ان الشعرا تلامیذ الرحمان-- په دغه حواله بحث روان وو چې ځنې ملګرو ما نه هم د څه وییلو غوښتنه وکړه-- د دغو ملګرو د غوښتنې په احترام کښې وایم چې--
د هر قول او خبرې معنا خپل تناظر لري-- دغه قول چا د حضرت علي کرم الله وجهه سره منسوب کړی دی او چا ورته د قران ایت هم وییلی دی خو دا نه د حضرت علي قول دی او نه قراني ایت-- دا د عربۍ یوه مقوله ده لکه زمونږ د پښتو متل-- چې خپل تناظر لري- په قران حکیم کښې هم په سوره الشعرا کښې او ځنو نورو ایتونو کښې د شاعرانو ذکر دی چې هغه هم خپل تناظر لري--
تناظر ته راځو خو اول د عربۍ د شعر او شعرا په معنا ځان پوهوو- عربۍ کښې شعر یا شعرا د ش په زبر کورتې یا لباس ته هم وایي د ډیرو ونو باغ یا بڼ ته هم او هجوم یا رش ته هم- اشعر بیا محسولو ته او مشاعر جذباتو ته وایي چې دغه د محسوسولو او جذباتو د اظهار په مناسبت بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعرا شاعرانو ته وییلی شوي دي- او په عربی کښې بیا شاعري منظوم کلام ته هم وایي چې په نورو ژبو کښې ورله د منظوم کیدلو شرط هم لازمي نه دی- اوس راځو تناظر ته- قران حکیم چې د شاعرانو رد کړی دی نو تناظر یې دا دی چې مشرکانو به حضور اکرم ته شاعر وییلو او قران حکیم ته د هغه شاعري نو خداۍ پاک یې رد وکړو چې داسي نه ده- په سوره الشعرا کښې چې شاعران غندلی شوي دي نو تناظر یې هم ښودلی شوی دی چې د شاعرانو پیروي کوونکي بې لارې ځکه دي چې هره وادی کښې منډې وهي او چې څه وایي هغه کوي نه- خو هغه شاعران نه  څوک چې ایمان لري - نیک عملونه کوي- الله زیات یادوي- او د ظلم مخه نیسي-
غور وکړئ دلته هم د شاعرانو غندنه شوې ده د شاعری نه--- او په شاعرانو کښې هم یواځې د بې لارې شاعرانو- د سمو شاعرانو نه-- او بیا دا اشاره هم د غور وړ ده چې هغه شاعران هم د غندنې نه ازاد دي څوک چې د ظلم مخه نیسي- ځکه خو پخپله د حضور اکرم په وخت کښې د حسان بن ثابت غوندې شاعران د حضور له خوا ستاییلی شوي دي تر دې چې د شاعری پوره دیوان د حضرت علي کرم الله وجهه په نوم هم چاپ دی--
اوس راځو ان الشعرا تلامیذالرحمان ته یعنې شاعران د خداۍ شاګردان څنګه دي-د دې مقولې پس منظر دا دی چې په عربي ټولنه کښې به پوښتنې کیدلې چې شاعري د استاذ نه څنګه زده کیږي نو په جواب کښې یې دغه قول مخې ته راغلی دی چې شاعري د استاذ نه په کسب او علم یا زور نه زده کیږي دا د خداۍ له خوا ورکړی شوې ملکه ده-د خداۍ ورکړه ده- جبلي ده- په خټه کښې اخښلې ده- په مزاج کښې راوړلی شوې ده یعنې خداۍ ورکړی صلاحیت دی نو ځکه شاعران د کوم استاذ په ځاې نیغ په نیغه د خداۍ شاګردان دي یعنې شاعري خداۍ ور عطا کړې ده- د دې مقولې شاته بنیادي خبره دا ده چې د خدایي کلام یعنې قران په ایر تصدیق هم شاعرانو کړی وو- هغو شاعرانو چې ایمان یې هم نه وو راوړی-- کله چې د سوره الکوثر درې ایتونه په کعبه ولګولی شول نو د عربو د فصاحت او بلاغت ماهرانو بې ایمانه شاعرانو ورته ولیکل چې--ما هذا کلام البشر-- یعني دا د انسان کلام نه دی- ګویا بې ایمانه شاعرانو هم د خدایي کلام تصدیق وکړو-
نو جوته شوه چې شاعري یو صلاحیت دی چې په استعمال یې اړانه ده-- که څوک ترې بد کار اخلي نو قصور د شاعر شو د شعر نه - او که څوک ترې ښه کار اخلي نو کریډټ یې هم شاعر ته ځي-- بلکل هم داسي لکه سترګه کښې چې نظر د خداۍ ورکړه ده -که څوک دغه نظر غلط استعمالوي هم قصور د سترګي او نظر نه دی او که څوک یې ښه استعمالوي نو هم د خدایي ورکړې درناوی کیږي-- بس شاعري هم دغسي د خداۍ ورکړه ده-- نیغ په نیغه د خداۍ له خوا- خو نه وحي ده او نه الهام-- تر دې چې دغه ورکړه د خداۍ له خوا بې ایمانه او کافرو د پاره هم ده- همداسې لکه کافرو ته هم چې سترګي او نظر له خدایه ورکړی شوی دی--
نو اوس چې شاعري په کسب علم زور او قوت له چا نه زده کیږي نه نو تناظر خو بیا همدغه جوړیږي چې مقوله مخې ته راشي چې--
ان الشعرا تلامیذ الرحمان--

---

**سبک-- رجحان-- مکتب-- او تحریک**

کله چې مونږ شاعري ګورو نو په هغې کښې اولنے څیز مونږ ته مخے ته راځي  اسلوب یا سبک-

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه اسلوب/ انداز یا سبک چې بلکل ځانګړے وي او دا د یو فرد خپل وي! مطلب شاعر/ لیکوال چې د هغه خپل څۀ الفاظ، خپل انداز، خپل څۀ علامتونهٔ، څۀ استعارې یا د انداز بیان څۀ نور اجزا وي چې د هغې نه هغه شاعر/لیکوال پیژندلے شي نو دې ته د اسلوب فني اړخ مونږ وئیلے شو دغه رنګ اسلوب یا سبک فکري اړخ هم لري لکه ځینو شاعرانو ادیبانو سره څۀ خاص خبرې وي ـ څۀ خاص موضوعات او خاص رسایي وي چې دغه فکري ځانګړتیاوې دي ـ خو اسلوب یا سبک کښې بنیادي خبره دا ده چې دا د یو فرد ځانګړے شناخت وي او د هغه د پیژندګلو سبب جوړیږي کله چې دا اسلوب یا سبک عام کېدل شروع شي او د نورو افرادو د شاعرۍ یا لیک برخه جوړیدل شروع شي ـ مطلب نور افراد د هغه پیروي شروع کړي ـ نو دغه شان هغه اسلوب په رجحان کښې بدل شي ـ داسې هر کله چې یو ځانګړې رویې ته (که د فن په لحاظ وي او که د فکر) د ډیرو خلکو توجو وروا‌ؤړي نو هغه اسلوب په رجحان کښې بدل شي او رجحان کښې هم هله بدل شي چې هغه انداز عام شي او اولس د هغې سره اشنا شي ـ

اوس اسلوب چې یو قدم واخستو د رجحان په طرف نو بیا په بل قدم کښې د هغه رجحان نه یو مکتب جوړیږي لکه ډیر خلک د هغې طرف ته توجه وکړې بیا پکښې ورځ تر بله اضافه کیږي او د دغه لارې پیروۍ زیاتیږي په دغه فکر او تصور کښې اولس په زیات شمېر کښې شامیلیږي نو دغه رنګ رجحانات په مکتب کښې بدل شي او مکتب بیا په تحریک کښې بدلیږي

تحریک کښې داسې بدل شي چې کله د هغه مجموعي روحیو د خورولو د پاره شعوري هڅې شروع شي یو منظم جدوجهد شروع شي او څۀ خاص مقاصد وټاکلے شي او بیا د دغه مقاصدو پوره کولو د پاره یو اجتماعي کوشش، عمل او جدوجهد شروع کړے شي نو خبره تحریک ته لاړه شي-

دغه رنګ په شعر و ادب کښې یو ارتقائي صورت حال وي

۱ اول "سبک" ځانګړې رویه په فن او فکر دواړو کښې-

۲ "رجحان " د هغې رویې طرف ته د خلکو مائله کېدل

۳ "مکتب " د خلکو په مائله کیدو کښې اضافي کیدل

۴ " تحریک" د منصوبه بندۍ په بنیاد خپل اهداف ټاکل، غوښتنې لاس ته راوړل او د هغې د پاره شعوري او عملي جدوجهد کول-

نوټ --- د ګران حسین علي اظهار مننه چې د واټسپ ساهو ادب ګروپ د پاره یې زما یو لیکچر جدید رجحانات او پښتو ادب لیک ته راواړولو-- دغه یوه ټوټه د هغه لیکچر برخه ده-

---

د دې غزل د ژباړې په وخت مې هڅه کړې وه چې پښتني رنګ ورکړی شم او رواني یې هم فطري ښکاره شي نو د -- پیره-- کلمه مې له ځانه ورزیاته کړه- خو بیا هم ځنې کلمې یې ساهو پښتو نه دي چې بله لاره راسره نه وه- خو بس په دغه رنګ مې وژباړلی شو-مینه والو ته په مینه-

پښتو ترجمه : حنیف خلیل

اردو غزل : مظفر وارثي

مونږ چې دلیل سره خبره کوو رد وي پیره

د هغه شونډې چې خاموشه وي سند وي پیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سا اخستونکي انسانان هم د لاشونو په څير
اوس که درزيږي هم د زړونو يو لحد وي پيره

مونږه که چغه خپله تيره کړه هم نه ور رسي
د چا د سترګو اشارو کښې هم رسد وي پيره

پړی په غاړه چې د چا وي هغه لوی سړی وي
دلته رسۍ هومره اوږدې څومره چې قد وي پيره

ډير مداريان هم په جامه د خطيبانو کښې وي
خبرې جهل کړي بدنام به پرې خرد وي پيره

څوک که څه نه وايي نو هم بايلي هنر د بيان
زغمل د ظلم هم ظالم سره مدد وي پيره

اردو غزل------- مظفر وارثي

ہم کریں بات دلیلوں سے ،تو رد ہوتی ہے
اس کے ہونٹوں کی خموشی بھی سند ہوتی ہے

سانس لیتے ہوئے انساں بھی ہے لاشوں کی طرح
اب دھڑکتے ہوئے دل کی بھی لحد ہوتی ہے

اپنی آواز کے پتھر بھی نہ اس تک پہنچے
اس کی آنکھوں کے اشارے میں بھی زد ہوتی ہے

جس کی گردن میں ہے پھندا وہی انسان بڑا
سولیوں سے یہاں پیمائش قد ہوتی ہے

شعبدہ گر بھی پہنتے ہیں خطیبوں کا لباس
بولتا جہل ہے بدنام خرد ہوتی ہے

کچھ نہ کہنے سے بھی چھن جاتا ہے اعزاز سخن
ظلم سہنے سے بھی ظالم کی مدد ہوتی ہے

---

خپلو لوستونکيو ته مينه او درناوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن د کوم علمي ادبي تاريخي يا خشک او ګران بحث په ځاې زړه ته راغلل چې خپلو لوستونکيو ته مينه او درناوی وړاندې کړم هغه ځکه چې تقريبن يو کال مخکښې چې زما هغه زړه فيسبک ايي ډي هيک شوه نو ورسره پنځه زره فرينډز او لسو زرو نه زيات فالورز هم لاړل-- چې بله نوې ايي ډي مې جوړه کړه نو اميد مې کم وو چې هغسي لوستونکي او مينه وال به مې بيا په برخه شي خو ځان خوش بخته بولم چې دې يو کال کښې مې فرينډز او فالورز هغه شمير ته بيا ورسيدل- خاص خبره پکښې دا ده چې دا تش شمير نه دی بلکې ټول راسره د ډير لوړ علمي او ادبي ذوق درانه مينه ناک او مهذب خلق دي-- ما په فيسبک ډير کم ليدلي دي چې په تاريخ تحقيق او ځنو خشکو موضوعاتو به په دومره ګڼ شمير کښې او د دومره عالي معيار خلق تبصرې وکړي- خپله راې شريکه کړي مثبت تنقيد وکړي او خپل قيمتي وخت زما د ليکونو لوستلو ته ورکړي يا زما ويډيو ګانو ليکچرو او مباحثو اوريدو ته ورکړي-- که يو نيم پکښې بې ځايه اعتراضونه هم وکړي خير دی د دغو ډيرو درنو علمي ذوق لرونکيو او مينه ناکو ملګرو نظرماتی دې وي-- بس زړه مې غوښتل چې دغو ټولو د فيسبک ملګرو ته د مننې او قدرونې جذبات وړاندې کړم-- قبول يې کړئ-- علمي ادبي او تهذيبي معيار مو دغسې عالي اوسه-

---

د دې فارسي کلام پښتو ترجمې په وخت مې هڅه کړې ده چې هم هغه د اصل کلام په بحر وزن او اسلوب کښې يې وکړی شم- هر څو که د فارسی او پښتو عروضي نظام کښې فرق هم ډير دی- د ملګرو په خدمت کښې-

پښتو ترجمه : حنيف خليل
فارسي کلام : امير خسرو

ياران مې خبر نه يمه 'چې څه شو او د چا شو
يه خدايه کومه ورځ وه' ټول زما نه چې جدا شو

سپرلي که پيښه وکړه 'د يارانو يې پوښتل
نو ووايه ای باده ' ټول ګلونه وو ګيا شو

له زمکې راغلي ګله 'هغه ځنکه وو ګلان
مخونه هغه ښکلي 'چې په خاورو کښې فنا شو

د خلقو د سر تاج چې به وو هغه سرداران
اوس ګوره کنه ځنګه' هغه واړه خاک پا شو

دنيا خو بس د خلقو خون بها ده نن سبا
بلا ډير د دنيا په سر' ته ګوره خون بها شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نمر غونډۍ به وو خو' شو له خاورو لاندې زير
ذرې غونډې چې سپک شو' د هوا سره هوا شو

دولت د زماني ده ' يوه لوبه د ماشوم
بې عقله سړي واړه په دې لوبه مبتلا شو

اوس هغه سړی څه شو' چې مراد ته رسي نه
نو ګويا خازنان د فلک واړه بې نوا شو

خسروه ځان په څنګ کړه' وفا نشته په دنيا
وګړي د دنيا لکه دنيا ښه بې وفا شو

فارسي غزل---امير خسرو دهلوي

ياران که بوده اند ' ندانم کجا شدند؟
يارب، چه روز بود' که از ما جدا شدند؟
گر نوبهار آيد 'و پرسد ز دوستان
گو، ای صبا که آن' همه گلها گيا شدند
ای گل، چو آمدی' ز زمين گو چگونه اند؟
آن رويها که در' ته گرد فنا شدند
آن سروران که تاج' سر خلق بوده اند
اکنون نظاره کن' که همه خاک پا شدند
دنياست خونبهای بسی خلق، وين زمان
بسيار کس که بر سر اين خونبها شدند
خورشيد بوده اند' که رفتند زير خاک
آن ذره ها که چون' همه اندر هوا شدند
بازيچه ايست طفل' فريب اين متاع دهر
بی عقل مردمان' که بدين مبتلا شدند
کس را چه شد که' نقد مرادی نمی رسد
مانا که خازنان فلک بينوا شدند
خسرو، گريز کن' که وفا نيست در جهان
زاهل جهان که همچو جهان بی وفا شدند

---

پښتو پښتانه او اقبال-- څو خبرې

اقبال د نسل نه کشميری او د ژبې نه پنجابی وو- د هغه په افکارو او عمل دواړو کښې چې د يو نسل يا ملت په حيث تر هر چا زياته مينه عقيدت او احترام چا سره ليدی شي هغه پښتانه دي- بل يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قام او ملت داسې نشته-- تر دې چې کشمیریان او پنجابیان هم نه- خو بیا هم زمونږ پښتنو کښې ډیر خلق شته چې اقبال پرې ښه نه لګي- دغه تناظر کښې زما ذهن ته اکثر څو خبرې راځي یا پوښتنې راځي چې غور پرې کوم-

۱--- اقبال د پښتنو نه پرته یو ملت هم داسې نه لیدو چې د ایشیا زړه یې ورته ویلی وی-- دغه درناوی یې یواځې پښتنو ته ورکول لازم ګڼلي دي چې دا ولې-

ملت افغان در ان پیکر دل است

۲--- اقبال د څوارلسم دسمبر ۱۹۱۸ په یو مکتوب کښې د هند پښتون تاریخ دان نجم الغني رامپوري سره د پښتنو په اصل نسل او تاریخ خپله څیرنه شریکوي چې دلچسپي یې څه وه-

۳---- همدغه رامپوري صاحب ته یو مکتوب کښې وایي چې کاش ماله پښتو ژبه راتلی چې د پښتو رزمیه شاعري مې د ترجمې په لاره نړۍ ته رسولی وی چې دې کار کښې به یې ګټه څه وه-

۴--- اقبال د پښتنو په حقله پښتون دانشور میر احمد شاه رضواني سره بحث مباحثې کولې چې پښتانه په رښتیا معنا وپیژني- چې غرض یې څه وو-

۵---- اقبال په ۱۹۲۴ کښې د ترکي حکومت ته مکتوب لیږلی وو او ورسره یې د شیرږو لیکچرو یو خاکه هم لیږلې وه چې په دې باید منظمه څیرنه وشي- دغه خاکه کښې د پښتنو تاریخ-- روښاني تحریک -- او خوشحال بابا په ځانګړي ډول شامل وو- چې اقبال دا ولې غوښتل او د اقبال تر دوره دغسې سوچ کوم پښتون هم کړی دی که نه-

۶---- اقبال په ۱۹۲۸ کښې په ستر خوشحال بابا په انګریزۍ کښې یوه علمي مقاله لیکلې او په دکن کښې اسلامک کلچر مجله کښې چاپ شوې ده-- خوشحال خان خټک دي افغان وارییر پویټ-- په نوم- چې تر دغه دوره په خوشحال بابا پخپله پښتنو څومره مقالې او کتابونه لیکلي وو او په کومو ژبو کښې یې لیکلي وو-

۷--- سید سلیمان ندوي په سیر افغانستان کښې لیکلي دي چې اقبال په ۱۹۳۳ کښې افغان حکومت د تعلیمي او علمي مشورو د پاره راغوښتی وو نو په دغه موقع یې د پښتو تحریک مشر عبدالحئ حبیبي صاحب سره مجلس کښې وییلي وو چې هر څو که فارسي د زرو کالو راسې د دې سیمې علمي ادبي او درباري ژبه پاتې شوې ده خو د افغانانو مورنۍ ژبه پښتو ده او دغه مقام به یوه ورځ پښتو تر لاسه کوي--- چې د دې پښتو دومره فکر اقبال سره ولې وو-

۸----- چې اقبال د کال ۱۹۱۹ راسې رسالدار سجید ګل سره دې د پاره مسلسل ملاقاتونه او بحثونه کول چې د پښتنو او خوشحال بابا په اړه معلومات تر لاسه کړي نو دا دومره سرخوږۍ یې د خپلو کشمیریانو او پنجابیانو په اړه ولې نه کولو-

۹--- چې دې اقبال د جمال الدین افغاني احمدشاه ابدالي نادرشاه او غازي امان الله خان دومره درناوی په خپلو کتابونو او نظمونو کښې کولو نو دې کښې یې څه ګټه وه-

۱۰--- په خوشحال بابا د خدیجه بیګم په پي ایچ ډي مقاله کښې د دومره مرستې او خوشالۍ څه اړتیا وه-

۱۱--- اقبال د دریو ژبو لیکوال وو-- انګریزي فارسي او اردو-- دغو درې واړو ژبو کښې د پښتنو او خوشحال بابا صفتونو کښې یې څه مفاد وو-

۱۲-- دا چې د سمندر خان سمندر او حمزه بابا غوندې سترو شاعرانو نه علاوه د غني خان او اجمل خټک غوندې قامپالو هم اقبال ستاییلی دی نو د دغو پښتنو اتلانو پیروکار او قامپاله پښتانه یې ولې غندنې کوي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳---- ځنې وايي چې په ملکه برطانيه يې نظم ليکلی وو او يا د پيرنګيانو صفتونه يې کړي دي-- نو چې دې نه به پښتنو ته کوم نقصان رسيدلی وي- دا چې اجمل ختک په جناح صيب نظم ليکلی دی او يا غني خان پخپله اقبال ستاييلی دی نو په هغې ګنې اجمل او غني هر څه بايلل-
۱۴--- که پښتانه په دې اعتراض لري چې اقبال د پيرنګي نه د سر خطاب اخستی وو ځکه پرې تنقيدي تبصرې کوو نو چې پښتون دانشور مير احمد شاه رضواني همدغه پيرنګي نه د شمس العلما خطاب اخستی وو په هغه مو څومره تنقيدي تبصرې کړې دي-
۱۵ ---- ډير وايي چې اقبال د خوشحال بابا نه او يا نورو شاعرانو نه شعري مفاهيم اخستي دي نو اقبال خو هغه شخصيات ياد کړي او ستاييلي هم دي او خپلو دغسې کلامونو ته يې ترجمه يا ماخوذ وييلي دي او يا يې شعري اشارې کړې دي--- زمونږ پښتنو چې د فارسی عربی انګريزی او اردو نه کوم مفاهيم راخستي دي نو چرته چرته يې ماخذ ښودلی دی او چرته يې ماخوذ يا ترجمه ورسره ليکلي دي-
۱۶--- که څوک وايي چې اقبال د دې هيواد خوب ليدلی دی او يا يې پښتنو ته کوم سياسي اخلاقي او علمي زيان رسولی دی-- نو نه خو اقبال د دې هيواد خوب ليدلی دی او نه يې دا هيواد په سترګو ليدلی دی- چا چې ورپورې دغه خبرې تړلي دي هغې کښې د اقبال څه قصور دی-
که دې نه علاوه د اقبال کوم قصور وي نو ښه به نه وي چې د هغه پښتنو سره د دغه پريمانه عقيدتونو په نتيجه کښې هغه قصور ورمعاف کړو- د بيش بها نيکيو يې احسان مند شو- او بس نور يې د دغو غندنو او رټنو نه لاس واخلو-- روح يې شاد-

---

کمينه خلق

کمينه په خپل اصل کښې مثبت کليمه ده چې د فارسی د کمين نه جوړه ده او په مثبتو معنو کښې عاجز خاکسار او بی کبره خلقو ته وايي خو زيات خلق يې په منفي معنو کښې راوړي چې د کم ذاته او بد ذاته خلقو د پاره راوړلی شي-- اوس ذات خو د وينې او نسل سره اړه لري خو کم ذاته او بد ذاته هغو خلقو ته هم وييلی شي چې ذات که يې اوچت هم وي خو بد کرداره او بد عمله وي-
په پنجاب او يا هندي تهذيب کښې کمي هغو خلقو ته وييلی شي چې کسب ګر او خدمتګار وي-- د انساني ذات دغه اوچتې او ټيټې درجې د ټولو نه زياتې په هندي تهذيب کښې ليدی شي چې جرړه يې ټولنيزه او کلتوري ده خو په څه نا څه حواله د مذهبونو سره هم تړلی شي-- په هندو تهذيب کښې يو خوا خو د برهمن ويش کهتري او شودر درجې دي چې د ټولو نه ټيټه درجه پکښې د شودر ده-- خو دغه شودر نه هم لاندې درجې شته لکه دهلت-- هريجن-- او مليچ-- مليچ هغه خلق ګڼلی شي چې ورسره لمس يا نزديکت نه هم خلق کرکه کوي-- د دغه لاندې درجې خلقو ته په عيساييت کښې چوړا وييلی شي او مسلمانانو کښې د مصلي اصطلاح رواج لري-- خو دغه ټولې درجې بيا هم مذهبي نه دي بلکې ټولنيزې دي چې څه خو يې پښتنه ټولنه کښې هم عام دي-- لکه د عيساييت چوړا ته چوړيان وييلی شي چې کار يې د لارو کوڅو او وېښو لختو صفايي وي-- همدغه کار کوونکي ته مېتر هم وايي- دغه شان مصلي د اوچتو خلقو کورونو کښې په چج غله دانه صفا کوي او ورسره غم ښادی کښې خدمت هم کوي-- پښتنو کښې بتياری هم وييلی شي چې په بټ نينې هم پخوي خو غم ښادی کښې خدمت هم کوي- يو نسل پکښې شيخيل بللی شي چې همدغه خدمت کوي- ښځې يې هم په کورونو کښې په غم ښادی کښې کار کوي- دوئ کښې لږ په ښه درجه خدمتګارو يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسب ګرو کښې بیا لوهار ترکاڼ کولال جولا مشکي او نایي هم دي- دغو ټولو ته استکاران هم وایي- استکار هم په مثبت معنو کښې هنرمند او ماهر وي- پښتانه هندکي هم ټیټ نسل ګڼي او ورته اینکیان وایي- دغو کمین خلقو کښی یو شمیر زمونږ په ادب کښې هم یاد شوي دي لکه حمزه بابا چې هندکي ډیر کم کوز یادوي- تر دې چې د رحمان بابا غوندې بزرګ شاعر هم وییلي دي چې--
ډیر هندکي په جهان ګرځي د چا یاد دي
عشق عالي پایه د هیر او د رانجها کړه
یا خوشحال بابا ته منسوب دغه شعر کښې چې مصلي یاد شوی دی-
چج په لاس تور مصلي وی
خو افسوس دی چې ځواني وی
د غور خبره دا هم ده چې دغه ټول خلق د رنګه تور هم وي-- څه خو عیسایان وي او څه پنجابیان یا کوټانیان او چنګړیان--دغه ټول کمي کمین یا کمینه ګڼلی شي- خو حقیقت کښې دغه کمینه خلق په خپلو مثبتو معنو کښې کمین یا خاکسار عاجزان او بې کبره خلق وي چې په حقیقت کښې لوی خلق همدغه دي- او بیا د کسب ګر یا کاسب په معنو کښې خو نور هم لوی شي چې اسلام ورته د الله دوستان وییلي دي-
الکاسب حبیب الله
که د دین په ځای ورته په ټولنیز تناظر کښې ګورو نو بیا هم کسب ګر اصل کښې هنر مند دي- هنر لري جوهر لري- او که رښتیا ووایم نو نړۍ او ټولنه پاکه صفا ښکلې او ځلیدلې هم په دغو خلقو ده- ځکه نو څوک چې څومره کمینه یعنې کمین وي هومره لوړ او عظیم وي- د عامر خان فلم لګان کښې د کرکټ لوبه ګټونکی اتل خو هم د کچره په نوم یو کمین وو- یعنې کمینه خلق څومره عظیم دي - هغه د رحمان بابا خبره----
ژوندی ځان په زمکه ښخ کړه لکه تخم
که لویي غواړې د خاورو په مقام شه-

---

کلتور تهذیب او تمدن

کلتور چې انګریزۍ کښې کلچر فرنچ او جرمن کښې کلټور او لاتینی کښې کلټورا دی چې د لاتینۍ د کولر نه جوړ دی او لغوي معنا یې ده کرل او د کر نه پس د زرغون شوي فصل تراشل او سمول- دغسې کلتور په اصطلاحي معنو کښې د یوې ټولنې د وګړو د ژوند تیرولو هغو رویو د ژوند تیرولو انداز او روش ته وییلی شي چې د اولس په مجموعي ټولنیز دانش او پوهه اډانه وي او تراشل او سمول یې شوي وي-- دا دغه متعلقه ټولنې پورې ځانګړتیا ولري--- د دغه ټولنې د رویو او روش پیژندګلو ترې وشي او سینه په سینه راروانو نسلونو ته هم ورسي--- لکه د پښتنو پښتونولي--میلمستیا--لوظ پوره کول--- پنا ورکول---او نور ډیر توکي---- چې په نورو اولسونو کښې به هم پکښې ځنې شتون ولري خو پیژندګلو د پښتون اولس ده - دغه هر څه غیر مادي دي-- د دغه کلتور یو شکل نیم مادي او یو یې مادي هم دی---- دغه مادي شکل نه وړاندې او نوره پرمخ تللې مرحله یې بیا تهذیب بللی شي--- لکه د مجموعي دانش او پوهې په بنیاد ښایسته کورونه او ودانۍ -- لارې او سړکونه--باغونه چمنونه--- او د ترقۍ نورې مادي لارې د تهذیب برخه ده----کلتور ته عربۍ کښې ثقافت وایي چې جرړه یې لفظ---ثقفه-- دی--- یو بل توری وراثت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چې جرړه يې---ورثه --دی---څنګه چې ورثه د ويني او خاندان وګړو کښې يو نسل نه بل ته رسي--- دغسې --ثقفه-- بغير د خاندان او ويني د رشتي نه يو نسل نه بل نسل ته د مجموعي دانش پوهې او دودونو رسمونو په شکل رسي---ګويا ثقافت هم دغسې نسلونو کښې سفر کوي-
بل خوا تهذيب د عربۍ توری دی چې د ذهب نه جوړ دی-- د ذهب معنا ده لاره- دغسې تهذيب لارې اختيارولو ته وايي يعنې د ترقۍ پرمختګ او ژوند کښې د اسانۍ لارې چارې لټول--- دغه د لارې لټون چې د ژوند د اسانۍ په غرض مادي شکل واخلي نو تهذيب شي--- ګويا په کلتور کښې بنيادي څيز ټولنيز فکرودانش دی او تهذيب د همدغه فکرودانش مادي څرګندونه ده- د ابادیو او ودانيو په شکل--
تمدن د عربۍ يو بل توری دی چې شهري او ترقي يافته ژوند د پاره راوړلی شي-- مدينه په عربۍ کښې ښار يا شهر ته وايي له دغې مدينه نه مدن جوړ دی او له دغه مدن نه مدنيت جوړ دی يعنې ښارونو کښې د اسانۍ او ترقۍ ژوند--- دغسې مدنيت د تهذيب نور ترقي يافته شکل دی- ګويا تهذيب په کلو باندې کښې هم ليدلی کيدی شي خو مدنيت بيا يواځې شهري ژوند پورې خاص وي--

---

کلتور

مونږ د عربۍ ثقافت د پاره پښتو کښې کلتور کلمه کاروو-- دا پښتو ته ډيره ورستو راغلې ده-- اولس منلې ده او اوس د ژبې برخه جوړه شوې ده- زمونږ په کلاسيکي ادب کښې دغه کلمه نشته تر دې چې په زوړ اولسي ادب کښې هم نشته ځکه ذهن همدغه لور ته ځي چې دا د انګريزۍ کلچر culture پښتو کښې کلتور شوی دی-- خو د انګريزۍ کلچر هم د فرنچ نه راغلی دی-- سره د دې چې پښتو او فارسۍ کښې د فرهنګ کلمه هم کارولی شي خو دغه فرهنګ کلتور سره معنوي فرق لري-- اصل کلمه همدغه کلتور ده چې جرړه يې په نورو ژبو کښې هم شته-- په ترکۍ کښې کلتور kulture دی خو د ترکۍ نه زړه ريښه يې جرمنۍ کښې د همدغه کلتور ده- چې نورو ژبو ته هم غزيدلې ده لکه په روسۍ سپينش پرتګالی او اطالوي ژبو کښې دغه کلتور بيا کلتورا cultura دی- د دغو ټولو ژبو د کلچر کلتور کلتور او کلتورا معنا يوه ده-- يعنې کر کرونده-- تخم په زمکه کښې اچول چې راشين شي او فصل ترې جوړ شي-- دغه د کر کرونديز لغوي معنو نه چې اصطلاحي معنو ته راغلی دی نو مطلب يې دا جوړ شوی دی چې د ذهانت او پوهې په پټي کښې د شعور فکر او دانش تخم کرل چې عملي اظهار يې د ژوند تيرولو د سليقې او روش يا دود دستور په شکل بيا د راشين شوي فصل درجه لري-- پښتو او فارسۍ نه علاوه په يادو شوو ژبو کښې د ټولو نه زړه ژبه لاطيني ده چې هلته هم دا کلمه کلتورا ده خو جرړه يې کولر colere-ده چې پښتو کښې بيا جرړه --کرل -- ده-- کولر او کرل صرف د --ل -- او-- ر -- په مخکښې وروستو کيدلو بيخي يوه کلمه جوړيږي او معنا د دواړو يوه ده-- کرل- ځکه د پښتو اوسنۍ کلمه کلتور هر څو که د انګريزۍ په لاره د فرنچ نه راغلې ښکاري-- خو د کرلو په مفهوم کښې د لاطينۍ کولر سره حيرانونکې نزديکت لري- په کڼو ژبو کښې په يوه شريکه معنا دغه کلمه مونږ ته دا هم ښايي چې دا کلمه د انساني ژوند د هغه پړاو زيږنده ده چې انسان د کانيز دور نه د زراعت يا کر کرونديز دور ته داخل شوی دی ګويا زرګونه کلونه مخکښې دور--- او دا هم چې د کلتور بنيادي مفهوم همدغه دی چې د انسان په ذهن کښې د پوهې صلاحيت او شعور کوم بوټی يا تخم کرلی شوی دی د هغې زرغونيدل د ژوند د عملي څرګندونې په صورت کښې کلتور دی-- چې دغه عملي څرګندونه يا د ژوند تيرولو سليقه به د هر قام ملت او ټولنې خپله وي- ځانګړې وي- سوچه او ساهو او د هر قسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاوټ نه به پاکه هم وي-- لکه تخم نه زرغون شوی فصل چې پاک سوچه او ساهو وي او د بل کوم تخم یا فصل ملاوټ پکښې نه وي - او بس که د لغوي معنا کرل یا کر کروندې په بنیاد مونږ د عربی د ثقافت په ځای کلتور وایو نو ښه کوو-- مونږ سره د دغه کلیمې جرړه شته-- خپله جرړه-- یعني - کرل- دغسي د لاطینی کولر -- ګویا سالمه کلمه کلتور-

---

مینه والو سره د غالب د یو اردو غزل خپله پښتو منظومه ژباړه شریکول غواړم-

ټول چرته یو څه د ګل په پاڼو کښې عیان شو
څه ښکلي مخونه پټ په خاورو د انسان شو

هغه رنګارنګ چې د یارانو محفلونه وو
هغه ښایستونه مې له یاده ګریزان شو

دا د پروین ستوري چې د ورځې په پرده کښې وو
څه یې زړه ته راغلل چې د شپې راته عریان شو

قید کښې اخستلو نه' یعقوب که د یوسف خبر
کسي یې سٌوري په دیوالونو د زندان شو

ورک دې رقیبان شي خو بس یو د مصر ښځې نه
ډوب چې نظرونه یې ښایست کښی د کنعان شو

دې د هجر شپه کښې دې د سترګو نه روان وي رود
بس خو ګویا دواړه مشالونه چراغان شو

دغو پریزادو نه جنت کښې به بدل اخلو
خدای که هلته حورې کړې او یا چرته غلمان شو

خوب هم د هغه دی' هم دماغ او هم یې شپې خپلې
های په کومو لیچو چې زلفان دې پریشان شو

زه چمن ته څه لاړم چې باغ هم تنې پرانستې
واړه بلبلان زما فریاد ته غزلخوان شو

هغه نظرونه خدایه ولې راته زړه څیري
کوم چې له تور بخته راته جوړ لکه مژګان شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما منع کول خو راوتل د زړه نه وار په وار
ستنه او تار جوړ مې اسویلي چې د ګریوان شو

ورغلم خو څه به يې جواب د زيړو وکړمه
ضايع اثرات چې د دعا مې په دربان شو

ژوند کښې يې سرور وي خو چې جام د چا په لاس وي
دا مې د لاس کرښې که رګونه مې د ځان شو

مونږه خدايې پرسته د مسلک رسمونه نه منو
ورک هغه قومونه شو اجزا چې د ايمان شو

غم سره بلد چې شي نو غم له سړي لرې شي
درد مې دومره وليد تکليفونه مې اسان شو

يه خلقه غالب که داسې هر وخت په ژړا وي نو
ګورئ دغه کلو ته اباد چې وو خو وران شو

اردو غزل---مرزا غالب

سب کہاں؟ کچھ لالہ و گل میں نمایاں ہو گئیں
خاک میں کیا صورتیں ہوں گی کہ پنہاں ہو گئیں!

یاد تھیں ہم کو بھی رنگارنگ بزم آرائیاں
لیکن اب نقش و نگارِ طاقِ نسیاں ہو گئیں

تھیں بنات النعشِ گردوں دن کو پردے میں نہاں
شب کو ان کے جی میں کیا آئی کہ عریاں ہو گئیں

قید میں یعقوب نے لی گو نہ یوسف کی خبر
لیکن آنکھیں روزنِ دیوارِ زنداں ہو گئیں

سب رقیبوں سے ہوں ناخوش، پر زنانِ مصر سے
ہے زلیخا خوش کہ محوِ ماہِ کنعاں ہو گئیں

جُوئے خوں آنکھوں سے بہنے دو کہ ہے شامِ فراق
میں یہ سمجھوں گا کہ شمعیں دو فروزاں ہو گئیں

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان پری زادوں سے لیں گے خلد میں ہم انتقام
قدرتِ حق سے یہی حوریں اگر واں ہو گئیں

نیند اُس کی ہے، دماغ اُس کا ہے، راتیں اُس کی ہیں
تیری زلفیں جس کے بازو پر پریشاں ہو گئیں

میں چمن میں کیا گیا گویا دبستاں کُھل گیا
بلبلیں سُن کر مرے نالے غزل خواں ہو گئیں

وہ نگاہیں کیوں ہُوئی جاتی ہیں یارب دل کے پار؟
جو مری کوتاہئ قسمت سے مژگاں ہو گئیں

بس کہ روکا میں نے اور سینے میں اُبھریں پَے بہ پَے
میری آہیں بخیۂ چاکِ گریباں ہو گئیں

واں گیا بھی میں تو ان کی گالیوں کا کیاجواب؟
یاد تھیں جتنی دعائیں صرفِ درباں ہو گئیں

جاں فزا ہے بادہ جس کے ہاتھ میں جام آ گیا
سب لکیریں ہاتھ کی گویا، رگِ جاں ہو گئیں

ہم موحّد ہیں ہمارا کیش ہے ترکِ رسُوم
ملّتیں جب مٹ گئیں اجزائے ایماں ہو گئیں

رنج سے خُوگر ہُوا انساں تو مٹ جاتا ہے رنج
مشکلیں مجھ پر پڑیں اتنی کہ آساں ہو گئیں

یوں ہی گر روتا رہا غالب تو اے اہل جہاں
دیکھنا ان بستیوں کو تم کہ ویراں ہو گہیں

---

**ژبه ښکه پیدا شوې ده**

**دا پوښتنه ډېره کیږي چې ژبه څنګه پیدا شوې ده او انسانانو څنګه زده کړې ده ... ما مناسبه دا وګڼله چې د ژبپوهنې د علمي او دقیقو نظریو او بحثونو په ځای که لنده او اسانه خبره وشي نو شاید زیات خلق پرې پوهه شي- اسانه خبره خو دا ده چې--**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژبې د پيدا کيدو په اړه نظريې ډيرې دي خو دوه پکښې غټې او جوتې نظريې دي--- يوه الهامي يا مذهبي چې ژبه د انسان پيدا کيدو سره سمه پيدا شوې ده او وړومبي انسان ته د خالق له خوا ورکړے شوې يا الهام شوې ده-- او دويمه نظريه ساينسي ده چې انسان په ارتقايي شکل د حيوانيت نه د انسانيت په لور سفر کړے دے او دغه ارتقايي سفر کښې يې ژبه هم تدريج سره د ټولنيزې مشاهدې نه زده کړې صفا کړې او خوره کړې ده--- وړومبي اوازونه يې چې د يو څيز په ليدو له خلې وتي دي هغه يې پاخه علامتونه جوړ کړي دي--- دغسې يې د وخت تيريدو سره د لفظونو ذخيره زياته شوې ده --جملې يې جوړې کړې اوږدې کړې او صفا کړې دي او د يوې بليغې ژبې مقام ته رسولې دي چې زرګونه کلونه پرې لګيدلي دي---- شروع کښې چې انسانان شمير کښې کم او محدوده جغرافيه کښې وو نو ژبه هم يوه وه--- انسانان چې زياتيدل او جغرافيه يې خوريدله او بدليدله نو يوې ژبې نه لهجې وتلې او بيا ځانله ژبې جوړيدلې او خبره تر دې راغله چې اوس په اربونو انسانان دي او په زرګونو ژبې دي-----

هسې خو دغه دواړه نظريې د يو بل متضاد ښکاري-- خو د دغو دواړو نظريو نزديکت هم کيدی شي که حضرت ادم عليه السلام محض وړومبی مهذب انسان وګڼلی شي- وړومبی پيغمبر يې وګڼلی شي او دغسې د حضرت ادم نه مخکښې د حيوانيت نه تر انسانيت پورې ارتقايي پړاوونه يې هم تسليم کړی شي-- او د ادم په اړه الهامي اشارې د يو فرد په اړه نه بلکې د ادميت او انسانيت په اړه وګڼلی شي-- د قران حکيم د سوره ال عمران د يو ايت نمر ۳۳ --- ان الله اصطفى ادم و نوحا و ال ابراهيم و ال عمران على العلمين- نه علاوه چې چرته هم ادم ياد شوی دی نو د يو فرد يادول ترې واضح نه دی بلکې د ادميت په لور مجموعي اشارې ښکاري-- او دغه ذکر شوي ايت کښې هم ادم ته وړومبی انسان نه دی ويېلی شوی--- که داسې تعبير او تفسير يې درست وي نو بيا د ژبې د پيدايش په اړه هم دواړو نظريو کښې تضاد ختميږي-او د الهامي نظريې ترمخه هم د ژبې زدکړه هم هغه ارتقايي او پړاو په پړاو زدکړې ته راځي- چې د حضرت ادم عليه السلام تر دوره تکميل او کمال ته رسي- شايد ديني عالمان دې لړ کښې ښه لارښودنه وکړی شي--

---

زما سرکاري وظيفه خو د قايد اعظم پوهنتون اسلام اباد د پاکستاني مطالعاتو په څانګه کښې ده خو دفتر ته وخت په وخت د مختلفو څانګو سره تړلي شخصيات راځي- مذهب تاريخ سياست فلم ډرامه او د ټولو نه زيات ادب سره تړلي شخصيات - د پاکستان د هرې صوبې شخصيات-- خو زه هر چا سره بحث په پښتنو او د پښتنو په سيمه کوم-- دغو سياسي شخصياتو کښې په ځانګړې توګه د افراسياب خټک او فرحت الله بابر نه پس نن ډير دروند شخصيت اويس غني سره ډير د خوند بحث او مکالمه وشوه-- اويس غني د پښتونخوا ګورنر هم پاتې شوی دی او د بلوچستان يعنې جنوبي پښتونخوا هم-- د سيمې په سياست او تاريخي پس منظر يې درې کتابونه هم چاپ دي-- نن مو چې د پښتنو په سياسي تاريخي او جغرافيايي صورت حال خبره وکړه نو ډير خوشاله شوم چې مونږ داسې ګورنران هم لرو چې دانشوران هم دي-- د پښتونخوا ګورنرانو کښې يواځې اولف کهيرو نه وو چې دانشور وو-- مونږ ورته ارباب سکندر خان خليل نه پس اويس احمد غني هم پيش کولی شو--- د دغسې شخصياتو زما خوا له راتګ خپل وياړ ګڼم -- مننه يې کوم-- او د علمي بحث او مکالمې نه يې خوند اخلم-- تل دې راشي -- د پوره درناوي او وقار سره دې راشي--

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتم فیل**

**په اسلامیه کالجیټ سکول کښې په اتم کښې فیل شوی وم- د دغه دریو سړو د لاسه- د ډیر خواهش لرلو باوجود د سکول واکدارو د ساینس مضمون وییلو ته پرې نه ښودم- کال مې ضایع نه شو خو ارټس ته یې ور دیکه کړم- ما سره پکار هم دغسې وه چې د دغو دریو عقیدت مند وم- د پنځم صنف نه په سنیما ته تلم- هره هفته کښې دوه یا درې فلمونه کتل زما شغل وو- د پلار وړوکي شان د کلي کریانه دکان نه به مې پیسې پټولې- څه موده کښې د دکان صحت هم لکه د شوګر د مریض پریوتو- د دغو دریو سړو د لاسه -- بدرمنیر لیجنډ وو خو زما د دغو دریو اداکاري خوښه وه- وړومبی فلم مې زخمونه کتلی وو پکچر هاوس کښې- دغه درې واړه پکښې موجود وو - بس بیا خو خیبر بازار او کابلی لکه چې زما کور شو- د بازار دوکاندارانو هم پیژندلی وم-- کله ناولټی او تصویر محل سنیما او کله ارشد -- ایینه-- صابرینه او امان سنیما-- بیا ناز سنیما-- شمع -- فردوس- او میټرو ته به مې هم پښه ور اوړده کړه- تردې چې د پیښور یونیورسټی اغا خان اډیټوریم-- د صدر پي اے ایف -- کیپیټل او فلک سیر هم رانه نه وې خلاصې-- د دغو دریو سړو د لاسه-- اردو فلمونه مې هم کتل خو اصلي میدان مې د پښتو وو- پښتو کښې تقریبن دیارلس سوه فلمونه جوړ شوي دي چې ما به پکښې زرو ته نزدې کتلي وي-- زما ارمان وو چې دغه درې سړي چرته نیغ په نیغه ووینم-- وریسې لاهور ته هم تلی وم شاه نور-- ایورنیو- او باري-- درې واړه سټوډیو ګانې مې کتلې وې خو دغو دریو سړو کښې مې یو هم ونه لیدلی شو- چې قسمت مې وو نو ټولو نه اول مې امان ولیدو-- څلیریشت کاله مخکښې په ډي ایي خان کښې چې زه لیکچرار شوم -- بس بیا مو تله راتله شو تر دې چې امان به اسلام اباد ته هم زما لیدو له راتلو خو اوس کمزوری دی- تعلق مو تر ننه دی-- بیا مې اصف خان ولیدو پنځلس کاله مخکښې د پیښور پریس کلب کښې د بدرمنیر په اړه یو تقریب کښې دواړه ویناوال وو - تعلق مو تر ننه دی--بیا مې جمیل بابر ولیدو هم هغه پریس کلب کښې لس کاله مخکښې- راشه درشه مو تر ننه ده دومره مینه کوي چې څو واره تر اسلام اباده ناستو او لیدو له راغلی دی-- درې واړو ته مې وییلي دي چې ستاسو د لاسه اتم کښې فیل شوی وم نو ساینس نه یې ارټس ته لیږلی وم- ځکه مو تر ننه احسان منم چې ساینس کښې ما نه هیڅ نه شو جوړیدی-- چې ارټس ته راغلم نو ستاسو په وجه په لار شوم - ادب سره اشنا شوم-تر دې چې لیکوال شوم- ستاسو فلمونو نه مې چې څه زده کړي دي نو ډیرو کتابونو نه مې هم نه دي زده کړي- ځکه چې فلم علم ورکوي خو د تفریح په لاره - ځکه خو یاد پاتې کیږي- او ځکه خو په انساني ژوند اثر پریږدي- ستاسو د فلمونو په وجه مې د ژوند د مختلفو کردارونو مشاهده وشوه-- او هغه مشاهده مې د لیکونو او تجربو برخه جوړه شوه-- تر دې چې د هغه پخوانو تجربو او مشاهدو په مرسته مې-- پښتنانه په فلمي نړۍ کښې-- کتاب هم ولیکلو- پښتو مې دایمي خپله کړه او پښتو هم راسره پښتو وکړه- د ژوند خوشحالي مسرت او خوږې شیبې یې را په برخه کړې-- ستاسو په وجه- تاسو سره د مینې لرلو په وجه- زما د ژوند دغه اړخ ډیرو ملګرو او مینه والو ته ښکاره نه دی-- که څوک ورته لوفري وایي او که نور څه-- خو زه یې غنیمت ګنم-- زه یې د ژوند راحت ګنم-- د پښتو فلم هغه دوران لاړو خو تاسو سره زما د رفاقت دوران راغلو- لکه چې ما سره هم هغه د حمزه بابا توقه وشوه-**

**تا له پوهه راغله د ځوانۍ سره**

**ما له هله راغله چې ځواني لاړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځومره خوش نصيبه يم چې اتم کښې فيل شوی وم-- دا موجوده شناخت او دژوند سکون هيڅ به نه وو که اتم کښې فيل شوی نه وی-**

---

**تعقل او تخيل**

**تعقل په عقل ولاړ دی او تخيل په خيال-- خيال کول هر ځوک کولی شي خو خيال جوړول صرف تخليق کار کولی شي- تعقل د خارج نه دليل راوړي او تخيل د داخل نه - خارج يعني د انسان د ذات نه بهر مادي کاينات او داخل يعني د انسان د ذات دننه تصوراتي دنيا - ځکه تعقل معروضي دی يعني ثابتي نتيجې ښايي او تخيل موضوعي دی خپلې متحرکې نتيجې ښايي - تعقل تحقيق کوي او تخيل تخليق کوي- تعقل په علم يعني ساينس او فلسفه کښې کار کوي او تخيل په هنر او ادب کښې يا په ټولو زيبا هنرونو کښې کار کوي- تعقل د مخکښې نه د موجود جهان دريافت کوي او تخيل د نوي جهان تخليق  کوي- تعقل د مادي نړۍ سره کار لري او تخيل د معنوي جهان سره- تعقل رښتيا لټوي او تخيل ښکلا لټوي-**
**ګويا د دواړو فطرت جدا دی او دواړه په جدا جدا لارو سفر کوي خو بيا هم کله کله دواړه له يو بل نه مرسته اخلي- ګويا تعقل که د کوم مادي حقيقت په لټون وي نو وړومبی ورته خيالي مفروضې جوړوي-- بيا يې رد کوي بيا يې جوړوي - دغه عمل يې د تخيل دی خو اخر هم چې حقيقت درک کړي نو نتيجه يې په تعقل تمامه شي- دغسې تخيل هم دی چې هغه کله د يو نوي معنوي او خيالي جهان تخليق د ښکلا زيږولو د پاره کوي نو ورته د يو منطقي ربط او توازن ضرورت وي- دغه منطقي ربط او توازن يې د تعقل کار دی خو د نوي معنوي جهان د تخليق په صورت کښې نتيجه يې تخيلي وي-- لکه يو شاعر چې د ښکلا زيږولو په خاطر يو نوی خيالي تصوير وړاندې کول غواړي نو عناصر به د مادي کاينات نه راخلي-- عناصرو ته علامت تشبيه استعاره او ترکيبونه به د ژبې نه راخلي او بيا به د ابلاغ نه مخکښې يو خيالي يا تصوراتي تصوير ته د نوي شکل ورکولو د پاره د ترتيب تنظيم او توازن نه کار اخلي- تر دې ځايه عمل خو يې تعقلي دی - خو چې نوی تصوير پيش کړي نو هغه بيا تخيلي وي او مقصد يې د ښکلا زيږول وي - دا کار د شاعر نه علاوه مصور موسيقار سنګتراش او اداکار هم کوي-- خو فلسفي او ساينسدان داسې نه کوي- د هغه مقصد د حقيقت درک کول وي- د ښکلا زيږول نه-**
**که دغه دواړه متضاد صفتونه تعقل او تخيل د يو بل نه مرسته اخستلی شي او کله کله خپلې لارې يو کولی شي نو په ټولنه کښې مونږ انسانان هم که دغه فطرت نه يا د فطرت دغه قانون نه سبق واخلو او د تضاد او اختلاف باوجود د يو بل نه مرسته واخلو د يو بل په کار راشو يو بل سره لارې يو کړو نو شايد چې دا به د تعقل هم تقاضه وي ځکه چې انسان د انس نه دی او عقلي غوښتنه يې د انسيت ادراک کول دي-- او بيا دا به د تخيل هم تقاضه وي چې انسان ښکلا غواړي د ښکلا زيږون په هم دغه انساني نزديکت کښې دی--- تعقل هم شاد او تخيل هم اباد-**

---

**هميشه وي نرم چوب غذا د کرم**
**شيدا مه شه مرد خالي له سياسته**

**وضاحت---**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شعر گران نه دی خو شاید د چوب او کرم ټکو پکښې لږ مشکل پیدا کړی وي-- چوب لرگي ته وایي او کرم هغه چینجي یا وینه دي چې لرگی دننه نه خوري خو بهر نه لرگی روغ او سلامت ښکاري ګني حقیقت کښې وینو دننه خالي کړی وي او د لرگي طاقت او مضبوط والی یې ختم کړی وي- اوس خبره اسانه شوه چې شیدا څه وییل غواړي-- شیدا مرد د پاره د سیاست پوهه طاقت قوت او صلاحیت لرل لازم ګڼي- دلته یو خو مرد نه مراد یواځې سړی نه دی بلکې ښځه هم ده خو چې مردانګي یعني قوت صلاحیت او زیرکتیا ولري-- لکه خوشحال بابا چې یو شعر کښې تکړه ښځې د پاره د سړی کلیمه راوړې ده - بل سیاست هم د غور وړ دی چې کله کله سیاست په منفي معنو کښې مکر فریب او چالاکی ته وییلی شي خو شیدا په مثبت معنو کښې راوړی دی-- مثبت معنا یې څه ده- غور وکړئ-- سیاست اصل کښې د عربۍ ټکی دی- مطلب یې دی هغه صلاحیت قوت پوهه او زیرکتیا لرل چې د یو ملک قام او ملت مشري نګراني او سمبالول پرې وشي-- عربۍ کښې ګورنر او د ملکي امورو سمبالوونکي ته مسیاس وایي- یعني سیاست لرونکی یا سیاسي اهلیت لرونکی-- دغه سیاست ټکی په اردو فارسۍ او ترکۍ ژبو کښې هم په دغو معنو کښې راوړلی شي--
اوس د شیدا په شعر غور وکړئ- چې چوب او کرم یعني لرگی او چینجي یې ولې یاد کړي دي--
د کور یا کوټې چت دغه کور یا کوټه د باران طوفان او هر افت نه محفوظ ساتي او چت په لرګو ولاړ وي-- لرگی که بهر نه ښکاري سلامت خو دننه وینو خوړلی او خالي کړی وي نو هغه خو بیا نه د چت بوج اوچتولی شي او نه کوټه د افتونو نه محفوظ ساتلی شي-- او نرم لرگي خو تل د وینو خوراک وي-- دغه مثال د نرم مزاجه ساده او بې طاقته انسان هم وي یعني په هره خبره دهوکه خوړونکی انسان هم لکه د نرم چوب وي ډېر زر یې وینه وخوري او دننه نه یې خالي کړي-- د پوهې زیرکتیا صلاحیت او قوت نه خالي انسان - بس مرد هغه دی چې د نرم چوب غونډې ساده او بې طاقته نه وي-- د خپل قام او ملت بوج هم اوچتولی شي او خپل قام او ملت لکه د مضبوط چت د طوفانونو او افتونو نه هم بچ کولی شي- بس مرد دې دغه قسمه سیاست یعني پوهې صلاحیت او د قامي بوج اوچتولو طاقت نه خالي نه شي لکه د نرم لرگي چې وینو خوړلی وي او د چت بوج نه شي زغملی- ګویا مرد هغه دی چې وینو خوړلی نرم لرگی نه وي بلکې د سخت او طاقتور لرگي غونډې د قامي بوج اوچتولو صلاحیت لرونکی وي- ځکه دې مرد چرې هم له سیاسته خالي نه شي لکه د چینجو خوړلي خالي لرگي--

---

نن د اردو ژبې د ډېر لوی ترقي پسند شاعر او ښکلي انسان ساحر لدهیانوي د وفات ورځ ده-- په دې مناسبت د هغه د یو شاهکار نظم -- تاج محل -- پښتو ژباړه ملګرو سره شریکوم-- دغه نظم ساحر مرحوم د شکیل بدایوني د یو نظم په جواب کښې لیکلی وو چې بدایوني مرحوم خپل نظم کښې د تاج محل او ورسره تړلي د شاه جهان بادشاه د مینې د روایت ډېر صفتونه کړي وو--

تاج محل

زه تاج محل دا ستا د مینې علامت هم منم
دغه ښایسته وادۍ سره دې عقیدت هم منم
خو زما ګله ما له بل چرته دیدن راوړه
وي په شاهانو د خوارانو ګذر څه د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومه لاره چې وي نخښې د شاهانو پرتې
په هغه لاره د مينو سفر څه د پاره
زما ګلابه هغه پټې علامې د وفا
کاش چې ليدلی دې وی رعب او نښانې د وفا
د مړو شاهانو په قبرونو باندې مسته ياره
خپلو تيارهٔ تورو کورونو ته نظر خو وکړه
بلې په ډيرو په دنيا کښې وې لمبې د مينې
چا وې چې نه به وې رښتونې يې جذبې د مينې
خو د هغوئ د مينې داسې اوازه خو نه وه
چې مفلسان وو نو د مينې يې چرچه خو نه وه
دا محلونه ديوالونه قلاګانې پلنې
دا د جابرو بادشاهانو د عظمت دي ستنې
دا چې د وخت په سينه داغ يې د ناسور غوندې دی
زمونږه وينې يې چې ځښلې رنګ يې سور غوندې دی
زما محبوبه دوئ به هم وي چرته مينه کړې
چې خپل هنر يې ښکلې شکل ته ځلا ورکړې
خو د پلرونو د قبرونو يې نشان نشته
ځکه چراغ چرته بل شوی پرې روښان نشته
دا چمن زار' دا د جمنا غاړه او ګوره محل
دغه سينګار په ديوالونو او محراب ته کتل
يو شهنشاه چې به وو مست د خپل دولت په نشه
زمونږ د خوارو محبت پورې خندا کړې ده
نو زما ګله ما له بل چرته ديدن راوړه

اردو نظم ---- ساحر لدهيانوي

تاج تیرے لیے اک مظہرِ الفت ہی سہی
تجھ کو اس وادیء رنگیں سے عقیدت ہی سہی
میری محبوب کہیں اور ملا کر مجھ سے
بزم شاہی میں غریبوں کا گزر کیا معنی؟
ثبت جس راہ میں ہوں سطوتِ شاہی کے نشاں
اس پہ الفت بھری روحوں کا سفر کیا معنی؟
میری محبوب پس پردہ تشہیرِ وفا
تو نے سطوت کے نشانوں کو تو دیکھا ہوتا
مردہ شاہوں کے مقابر سے بہلنے والی
اپنے تاریک مکانوں کو تو دیکھا ہوتا
ان گنت لوگوں نے دنیا میں محبت کی ہے

(c) ketabton.com: The Digital Library



کون کہتا ہے کہ صادق نہ تھے جذبے ان کے
لیکن ان کے لیے تشہیر کا سامان نہیں
کیونکہ وہ لوگ بھی اپنی ہی طرح مفلس تھے
یہ عمارات و مقابر یہ فصیلیں یہ حصار
مطلق الحکم شہنشاہوں کی عظمت کے ستوں
سینہء دہر کے ناسور میں کہنہ ناسور
جذب ہے ان میں ترے اور مرے اجداد کا خوں
میری محبوب! انہیں بھی تو محبت ہوگی!
جن کی صناعی نے بخشی ہے اسے شکلِ جمیل
ان کے پیاروں کے مقابر رہے بے نام و نمود
آج تک ان پہ جلائی نہ کسی نے قندیل
یہ چمن زار یہ جمنا کا کنارہ، یہ محل
یہ منقش درو دیوار یہ محراب یہ طاق
اک شہنشاہ نے دولت کا سہارا لے کر
ہم غریبوں کی محبت کا اڑایا ہے مذاق
میری محبوب! کہیں اور ملا کر مجھ سے

---

ښيرې

واحد يې ښيره ده او جمع ښيرې- فکر مې دې لور ته لاړو چې ډيرو ژبو کښې ښيرو د پاره ځانګړې کليمه هم نشته- لکه عربئ کښې لعنت ويېلی شي او فارسی کښې نفرين چې دغه دواړه بس د ناخوښی ځرګندونه ده خو د پښتو د ښيرو غوندې معنويت او کيفيت پکښې نه محسوسيږي- په څنو ژبو کښې خو ورته د دعا متضاد کليمه راوړلی شي چې ځانګړې کليمه لري نه -- لکه اردو کښې بد دعا يا انګريزئ کښې **ill will** يا **evil wish**-البته په يونانی کښې راغلې کليمه يې ځانګړې هم ده او پښتو ته نزدې هم-- کتاره -- د واحد په شکل-- او پښتو کښې --ښيره-- د واحد په شکل- خو پښتو کښې بيا دعا د پاره ځانګړې کليمه نشته او ښيره يا ښيرې د ځانګړې کليمې په توګه شته- او دا هم چې ښيرې زياتې د ښځو له خوا کيږي او بيا دا هم چې ښيرې د کلتور سره هم تينګه اړيکه لري- د پاسه پرې دا  چې ښيرې کمزوري خلق کوي زورور خو وهل کوي- نو دې نه خو دا مطلب هم راووځي چې پښتنه ټولنه کښې ښځې په سړو لاس نه شي اوچتولی- بس ښيرې وکړي- ښځې په غصه کښې هم سړو ته يو قسم احترام لري چې د لاس اچولو په ځاې ښيرو ته کښيني- په نورو ټولنو کښې ښځې هم لاس اوچتوي او هم د سړو مقابله کوي - د ښيرو دا شکل هم مهذب دی چې د طاقت لرلو باوجود څوک د ښيرو په صورت کښې معامله خداې ته وسپاري- پښتو کښې راته دا هم ځانګړې خبره ښکاري چې کله کله ښيرې د دعا شکل واخلي- لکه حمزه بابا چې ويېلي دي-

خداې دې مېين ډير کا چې ښيرې کوي
نور راله هيڅ چل د دعا نه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پښتو کښې راته دا هم د نورو ژبو په مقابله کښې زياته ځانګړتيا ښکاري چې څوک ځانته د دعا په ځاې ښيرې وکړي- لکه اسير منګل چې وايي-**
**چې ستا د مخ کتاب کتلو ته اوزګار نه شومه**
**خداې دې ما مړ کړي د دې ډيرو کتابونو شاته-**

**دا هم د غور وړ ده چې په نورو ټولنو کښې په ځانګړي ډول په مغربي ټولنه کښې د ښيرو تناسب پښتو نه کم دی - دغه کم تناسب يې دا ښايي چې دغو ټولنو کښې روحانيت کم دی-- عقيدوي اعتماد کم دی او په مقابله کښې يې تشدد زيات دی--**
**په کلتوري تناظر کښې پښتنه ټولنه کښې د ښيرو رنګارنګي هم زياته ده-- د ښيرو خپله ژبه ده -- خپل اسلوب يې دی- او دا هم چې ځنې ښيرې د عمومي رواج برخه ده يعني هسې بې مقصده ښيرې د عادت په توګه کولی شي لکه مور چې وړوکي ماشوم ته او يا ځان ته ښيرې کوي-- تباه شې- لاسونه دې مات شه- ړوند شې- په ټپو شې-- شمکور شې - سر مې وخورې- شيره مې وخورې- زمکه درباندې ډکه شه- کټ سره مې روان شې- ځواني مرګ روان شې-- د پلار سر وخورې- شيبره دې ووهه--په بلا مات شې- تاله د چا راغلې راشه-- او داسې نور-**
**د ښيرو يو اړخ نفسياتي هم دی- چې د داخل بوج او غبار ورسره کم شي-- زړه ورسره سپک شي-- درد ورسره کم شي- ما ته يې دا اړخ هم مثبت ښکاري-**
**نور اصل ښيرو ته نه د ژبې ضرورت شته او نه د لفظونو- بس د درديدلي زړه نه وتلي يو اه او سوړ اسويلي ضرورت وي چې اسمان هم په حرکت کښې راولي- هغه د کاظم خان شيدا خبره-**
**چې نفس زما د اه سرکشي وکا**
**فلک لاندې خپله شمع تر دامان کا**

---

**د خواجه مير درد اردو غزل او زما پښتو ژباړه د ملګرو په خدمت کښې --**

**څه خو رشته د صنم شته زما د ځانه سره**
**د زړه درزا مې ده تړلې د جانانه سره**

**د ليونو غوندې لاسونه زورور لرمه**
**چې ټوله شپه مې وي پرزولې د ګريوانه سره**

**د جفاکارو زړه به خامخا د کاڼي خو وي**
**توره هم کار لري د کاڼي د سووانه سره**

**مسيحايي که دې ته وايي نو مطربه ښه ده**
**ژوند به کوو ستا د رباب د هره تانه سره**

**درده هر څو که په ښکاره يمه کمزوری ميږی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو ولې شخړه مې راغلې سلیمانه سره**

**اردو غزل ----خواجه میر درد**

**ربط ہے ناز بتاں کو تو مری جان کے ساتھ**
**جی ہے وابستہ مرا ان کی ہر اک آن کے ساتھ**

**اپنے ہاتھوں کے بھی میں زور کا دیوانہ ہوں**
**رات دن کشتی ہی رہتی ہے گریبان کے ساتھ**

**جو جفا جو ہیں انہیں سنگ دلی لازم ہے**
**کام تلوار کو رہتا ہے سدا سان کے ساتھ**

**گر مسیحا نفسی ہے یہی مطرب تو خیر**
**جی ہی جاتے ہیں چلے تیری ہر اک تان کے ساتھ**

**دردؔ ہر چند میں ظاہر میں تو ہوں مور ضعیف**
**زور نسبت ہے ولے مجھ کو سلیمانؑ کے ساتھ**

---

**انسان او لیک**

**انسان په دې زمکه څومره زوړ دی دا بیل بحث دی خو انسان لیک کله پیژندلی دی دې لړ کښې د ارکیالوجي یعنې زمک کنستنې ماهران زمونږ مرسته کوي-- د دغو ماهرانو تر مخه یوه خبره دا کیږي چې د طوفان نوح د وخت ځنې خښتې داسې موندلی شوې دي چې پرې جوړې نخښې د لیک تاثر ورکوي-- دویم دا چې حضرت ادریس علیه السلام ته د ابجد علم ورکړی شوی وو-- خو دغه دواړه حوالې مستندې نه شي ګڼلی ځکه چې ثبوتونه یې نه شي وړاندې کولی - البته کومه چې مستنده حواله ګڼلی شي هغه د ټامس هایډ او ځنو نورو ماهرانو د څیړنې تر مخه دا ده چې پخواني سومیر یا اوسني عراق کښې د اریم یا ار په مقام د خاورو ختو ځنې تختې موندلی شوې دي چې تصویري خاکې او نشانات لري خو تفهیم یې نه شي کیدی چې مطلب یې څه دی--- دا درې زره څلور سوه کاله د حضرت عیسی علیه السلام نه پخوانی تختی دي--- همدغه سومیر کښې چې درې زره قبل مسیح کښې په تختو کوم لیک موندلی شوی دی هغه د تفهیم قابل دی چې ژبه یې سومیري ده او لیک میخي یا پیکاني دی-- پیکان غشي ته وایي یعنې د میخ یا غشي غوندې نشانات دي-- دغه نشانات هم د ابجد یو شکل دی خو تفهیم یې شوی دی-- مصر کښې دغه لیک لږه موده پس نور هم منظم او صفا شوی دی- تر دې چې یو نیم زر کلونه قبل مسیح کښې مصر په وړومبي ځل د دوه ویشت حرفونو ترتیب هم ورکړو- دغه ټول لیک به د ښي نه ګس طرف ته کیدلو- چین په دولس سوه قبل مسیح کښې خپل حروف جوړ کړل او لیک به یې د پاس نه لاندې طرف ته کولو- یونان په اووه سوه قبل مسیح کښې خپل حروف وضع کړل او لیک به یې ګس نه ښي طرف ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کولو- لړ وروستو لاطینۍ کښې هم د یونان غونډې انداز خپل کړی شو-- هند کښې ویدونه د دوه زره قبل مسیح د وخت دي خو د لیک نمونه یې په سنسکرت ژبه کښې د پنځه سوه قبل مسیح نه -زړه نشته**
**دغه ټول لیکونه د خاورو خټو او کاڼو په تختو لیک دي چې دې نه پس بیا په څرمن د لیک اغاز شوی دی--- د کاغذ د نوي شکل ایجاد د چینیانو دی چې وړومبی به یې د ونو په پاپړ تنه او لرګي لیک کولو -- دغه پاپړ ته یونانیانو بیا د پیپرس نوم ورکړو چې نوې انګریزۍ کښې ترې پیپر یعنې کاغذ جوړ شو-- زمونږ د پښتنو سیمه بخشالي مردان کښې چې کومه د لیک نمونه د قبل مسیح دور موندلی شوې ده هغه هم د لرګي په تخته لیک ده او ژبه یې سنسکرت ته نزدې ده چې په هغې ما -ځانله لیکنه کړې وه**
**د انسان د لیک په لور دغه راتګ ډیر د وروستو دور دی ځکه چې د ویل ډیورانټ د څیړنې تر مخه --په زمکه د انساني ژوند نخښې د څلویښت زره قبل مسیح دور موندلی شوې دي**
**ګویا انسان ډیره اوږده موده د ډیرو سختو پړاوونو نه پس د لیک په لور راغلی دی چې د ادب زړې نخښې یې هم په سومیر او یا مصر کښې نن نه تقریبن پنځه زره کلونه پخواني دور کښې تر لاسه کیږي--- دغه ادب په اولسي قیصو اډانه لري**

---

**و انا لموسعون**

**د دغه قراني اعلان تر مخه کاینات وسعت مومي او پراخیږي-- په مصري سومیري اشوري او یوناني تهذیبونو کښې د فلکیاتو او کاینات په اړه ډیرې اشارې موندی شي خو د اسماني کرو او - کاینات د خوریدلو او وسعت په اړه پکښې معلومات نه تر نظره کیږي**
**زمونږ نمر اصل کښې یو ستوری دی چې رڼا یی زمونږ زمکې ته اتهٔ منټه او شل سیکنډه کښې رارسي--رڼا په یو سیکنډ کښې یو لاک شپږ اتیا میله سفر کوي-نو یو کال کښې چې دغه رڼا څومره سفر کوي هغې ته یو لایټ ایير یا یو نوري کال وایی--نمر نه پس چې زمکې ته کوم نزدې ستوری دی هغه  پراکسیما سینټاري نومیږي چې فاصله یی زمکې نه څلور نوري کاله ده-بیا ورپسې نزدې ترین ویګا ستوری دی چې فاصله یی شپږ ویشت نوري کاله ده-بیا ډینیوب دی چې فاصله یی پنځلس سوه نوري کاله ده-او داسې یو کهکشان کښې په کروړونو ستوري وي چې فاصله یی تدریج سره زیاتیږي--زمونږ نمر په ملکي وی کهکشان کښې دی چې د خپل مرکز نه یی فاصله درې لکه نوري کاله ده--ملکي وی سره بل نزدې کهکشان -اینډرو میډا -دی چې د ملکي وی نه هم زیات ستوري په لا زیاته فاصله لري-- دغسې د کهکشانونو شمیر هم د کروړونو نه زیات دی--**
**د ساینس ماهرانو دا معلومه کړې ده چې د دې ستورو او کهکشانونو په شمیر او فاصله کښې په هره لمحه اضافه کیږي-کهکشانونه او ستوري په انتهایی تیز رفتار په فضا یا خلا کښې زغلي-او دغسې کاینات په هره لمحه وسیع کیږي-د ساینس په دنیا کښې دا هر څه په څرګند ډول په 1929کښې معلوم شول کله چې ایډوین هبل جدید طاقتور ټیلي سکوپ ایجاد کړو-خو قران حکیم دا اعلان څوارلس نیم سوه کاله پخوا کړی وو -والسما بنیناها بِأَيدٍ و انا لموسعون-- مونږ اسمان په لاسونو یعنې قدرت او طاقت جوړ کړو او مونږ وسعت ورکوو-- اسمان یا سما په عربۍ کښې پورتنۍ فضا ته او د ساینس په اصطلاح کښې زمکې نه چاپیره ویر کاینات ته ویلی شي- انسانیت د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره په خصوصي ډول دا هم د غور نکته ده چې د هبل ټيلي سکوپ نه مخکښې انسانيت ته د کايناتو د وسعت دغه رازونه په څرګند ډول معلوم نه وو نو بيا د قران دغه اعلان بغير د خالق کاينات نه د چا کيدی شي.- او په مجموعي توګه هم دا څومره د غور نکته ده چې دا موجوده کاينات به څومره وسيع وي--- نور به څومره وسعت مومي-- دغه وسعت به تر کومې مومي-- انساني علم به د کاينات د څومره برخې ادراک کړی وي او د څومره برخې ادراک به راروان وخت کښې وکړی شي--- ما ته خو داسې محسوسيږي چې انسان به په زرګونو لکونو کلونو پس هم بلکې هميشه به لکه د علامه اقبال هم دغه وايي چې:-

يه کاينات ابهی ناتمام هے شايد
که آرهی هے دمادم صدايے کن فيکون

---

----د فيض احمد فيض د يو اردو غزل پښتو منظومه ترجمه مينه والو ته په مينه وړاندې کوم

دونوں جہاں تيری محبت ميں ہار کے
وہ جا رہا ہے کوئی شبِ غم گزار کے

ويراں ہے مے کدہ خم و ساغر اداس ہيں
تم کيا گئے کہ روٹھ گئے دن بہار کے

دنيا نے تيری ياد سے بيگانہ کر ديا
تجھ سے بھی دلفريب ہيں غم روزگار کے

اک فرصتِ گناہ ملی وہ بھی چار دن
ديکھے ہيں ہم نے حوصلے پروردگار کے

بھولے سے مسکرا تو ديے تھے وہ آج فيض
مت پوچھ ولولے دلِ نا کردہ کار کے

پښتو ترجمه

ستا په مينه يی لوګی دين او دنيا کړه
يو سړي زړه چاودې توره شپه سبا کړه

ميکده ورانه ساغر او خم خفه دي
د سپرلي ورځو هم تا پسې ژړا کړه

ستا د ياد نه دنيا داسې نا اشنا کړم
ستا نه هم د روزګار غم زياته ځلا کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګناه موقع يې راکړه خو دوه ورځې
د خالق په حوصله هم سترګې وا کړه

بې خيالۍ کښې خو مسکۍ شوله نن فيضه
چپ شه زړه مې ورپسې جوړه غوغا کړه

پښتونخوا

د کال ۲۰۱۰ نولسم ۱۹ اپريل وو چې دې وطن کښې د پښتنو صوبه د-- اين ډبليو ايف پي-- غونډې مجهول نوم نه د --خيبر پښتونخوا-- په نوم ونوموله شوه--دې سره داسې دعوې هم رامخې ته شوې چې صوبې ته مو خپل نوم ورکړو خو دې ته يې نه کتل چې پښتونخوا خو د پښتنې سيمې تاريخي نوم دے چې څلور زره کاله زړه ريښه لري-- په رګويد کښې چې د پښتنو سيمې ته --پکهت-- وييلے شوي دي نو ريښه خو يې همدغه پښتنه ده--- په ايراني نوشتو او اوستا کښې-- بخد-- په يوناني ليکونو کښې-- پکتويک او پکتا - هم دغه پښتنه ريښه لري-- چې وروستو ترې د پکتيکا او پکتيا نومونه هم راوتي دي--- بيا سليمان ماکو چې کال ۶۱۲ هجري کښې خپل کتاب تذکره الاوليا کښې دغه سيمې ته --پښتنخا--وويل نو دا خو نيغ په نيغه همدغه پښتونخوا نامه وه خو په څرګند ډول د-- پښتونخوا-- کليمه په وړومبي ځل د اخون درويزه په مخزن کښې راغلې ده-- --بيا خوشال بابا هم وييلي دي چې
نوره واړه پښتونخوا په ځاې ميشته ده
خو يو زه دې زماني پکښې منصور کړم
--احمد شاه بابا هم ووييل چې
د ډيلي تخت هيرومه چې راياد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
نو دغه نامه د دې وطن سياستدانانو څنګه صوبې ته ورکړه--- البته دغه نامه يې چې بحال کړه دا يې هم د قدر وړ کارنامه ګڼم --- خو عجيبه خبره دا ده چې په صوبه کښې ډير وړوکي اقليت هندکيانو په هره موقع د پښتونخوا د نوم مخالفت ولې کړے دے--- جواز يې څه وو--- د وطن د هرې صوبې په نوم کښې د اکثريتي ابادئ پيژندګلو شتون لرلو لکه پنجاب سند او بلوچستان -- خو په هغې اعتراض نه وو--- هندکيانو ته په خپله هزاره کښې د سر ايبټ په نوم ايبټ اباد قبول وو--- د مان سنګهه په نوم ورته مانسهره قبوله وه--- د هري سنګهه نلوه په نوم ورته هري پور قبول وو-- خو د پښتون په نوم ورته پښتونخوا نه وه قبوله--- خو بيا هم چې د پښتنو دا سيمه په نهم نومبر ۱۹۰۱ کښې د پنجاب صوبې نه رابيله شوه نو يوه کامله صوبه بيا هم نه وه--- صوبايي حيثيت ورته پيرنګي په کال ۱۹۳۵ کښې ورکړو چې د مجهول اين ډبليو ايف پي په نوم به ياديدله--- ښه شوه چې په نولسم اپريل ۲۰۱۰ خو-- خيبر پښتونخوا-- شوه - خيبر هم د پښتنو تاريخي پيژندګلو ده - خو مونږ ورته صرف پښتونخوا وايو ځکه چې دا يې خپل نوم دے او دا يې تاريخي نوم دے--- کے پي کے ورته وييل هم درست نه دي--- يو خو دا د دوو تورو مرکب دے--- خيبر او پښتونخوا--- نو بيا خو -- کے پي-- شو-- خو د کے پي -- هم ضرورت نشته--- زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتونخوا--- د رګوید پکهت--- د اوستا بخد-- د یونانیانو پکتویک او پکتا -- نه راوتي نامه ده چي د سلیمان ماکو -- پښتنخا-- ده او د اخون درویزه--خوشال بابا او احمد شاه بابا پښتونخوا ده--- او تل به وي--

نوټ--- دا لیکنه مې یو وخت خپره کړې وه-- بیا رانه ورکه شوې وه--- نن مې خوندي کولو لپاره شریکه کړه-

---

**وخت او د زمکې عمر**

دوو ملګرو صمیم صافي او نهضت الله نیازي دوه پوښتني کړې وې یو دا چې وخت څه دی او دویم دا چې د زمکې عمر تخمینن څومره پاتې دی-- نو دواړو ته مې د خپل فهم تر مخه داسې وضاحت وکړو--

ګرانه د وخت دوه برخې دي---یو محسوس او دویم غیر محسوس--- محسوس برخه یې د کاینات د پیدایش او بیا د ستورو سیارو او فضایي کرو د حرکت او ګردش نه شروع شوې ده او غیر محسوس برخه یې اغاز او انجام نه لري---- مونږ انسانان یو زمونږ سروکار یې محسوس برخې سره دی او په دغه محسوس برخه کښې زمکنی وخت د څلور نیم اربه کالو نه راشروع دی او د مجموعي کاینات وخت یې د څیرونکیو په څیرنه کښې دی چې لا تر اوسه یې انساني علم جوت ادراک نه دی کړی--البته د مجموعي کاینات عمر د زمکني وخت تر مخه دیارلس نیم اربه کاله ښودلی شي-

دویم وضاحت
د زمکې پاتې عمر هم تخمینن همدغه هومره دی یعني څلور نیم اربه کاله - ځکه چې زمکه د نمر په کشش او ګرفت کښې ده او نمر د ځوانی مقام ته رارسیدلی دی--- دې نه پس به نمر ریډ شفټ او ییلو شفټ ته واپسي کوي یعنې د بوډاوالي عمر ته به ځي او زوال سره به مخ کیږي---- ګویا څومره عمر یې چې ځوانۍ ته په رارسیدو اخستی دی دومره یې بوډاوالي او مرګ ته پاتې دی--- د نمر د مرګ سره به د زمکې عمر هم ختم شي--

څو نورې خبرې
دې لړ کښې د دریو شخصیاتو څیرنه ډیره توجه غواړي--- یو نیوټن چې د زمکني او نورو اسماني کرو د کشش راښکون یا ګریویټي قوانین یې دریافت کړي دي--- دویم این سټاین چې د وخت او نورو مادي شیانو د اضافت نظریه یعنې تهیوري اف ریلیټیویټي دریافت یې کړی دی او دریم سټیفن هاکنګ چې د وخت لنډ تاریخ یې لیکلی دی-- د دغه دریو شخصیاتو د مجموعي څیرنو نه دا اندازه وشوه چې محسوس وخت هم اضافي یا ریلیټیو دی--- یعنې د زمکې وخت د نورو سیارو د وخت نه بدل دی--- او دغسې د شمسي نظام نه بهر هم په نورو کهکشانونو ستورو سیارو او فضایي کرو د وخت پیمانه بدله ده --- البته دا معلومه ده چې د محسوس وخت اغاز او انجام شته--- اغاز یې د ستورو او سیارو جوړیدو او بیا ګردش سره کیږي او انجام یې د ستورو او سیارو مرګ او اختتام سره کیږي--- مادي کاینات کښې د ستورو او سیارو یا کهکشانونو مرګ او خاتمه هم اضافي یعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریلیتیو ده--- ټول کاینات به په یو وخت نه ختمیږي بلکې هر ستوری سیاره او کهکشان به خپل خپل عمر پوره کوي او د بیل بیل مرګ سره به مخ کیږي
د ټول مادي کاینات د مرګ او خاتمې نه پس به څه وي--- دغه بیا د وخت غیر محسوس برخه ده --چې د انساني احساس سره اړه نه لري
نوټ--- دغه وضاحتونه مې صرف د انساني فهم او څیړنې ترمخه کړي دي--- هر څوک ورسره اتفاق او اختلاف کولی شي--- د علم الهامي سرچشمې څه وایي-- په دې اړه ځانله خبره کیدی --شي

---

استعداد ورکړو فلک و کج نهادو
په ناخن چې د ګره کارکشایي شوه

-- اسان مطلب
فلک یا مقدر هم عجیبه کار وکړو چې د غوټې پرانستلو صلاحیت یې نوک ته ورکړو-- نو نوک خو --کوږ وي ځکه کاږه او کج نهاده خلق اوس په هر څه قابض دي

استعداد---یعنې صلاحیت او طاقت
--فلک---یعنې اسمان--مقدر--زمانه
کج نهاد--- یعنې کج فطرته--کاږه خلق--بدخویه--کرپټ
ګره---یعنې غوټه---ګنجلکه مسله
کارکشایي--- یعنې کار ویستل--مسله حل کول

------وضاحت
د فلک دلته ډیرې معنې دي--- زمانه-- د اسمان ګردش--- د وخت سره حالات بدلیدل---او په ساینسي حواله هم سیارې او ستوري په اسمان کښې ګردش کوي چې وخت او زمانه ورسره تیریږي او حالات بدلیږي لکه د زمکې په خپل مرکز چکر او بیا نمر نه چورلیدو سره چې ورځ او شپه هم بدلیږي او زمانه هم اوړي--- دا هر څه په فلک یعنې اسمان کښې کیږي او د اسمان ګردش سره کیږي--- د فلک یوه معنا مقدر هم ده یعنې فلک د چا یاري نه کوي--- مقدر د چا مرسته نه ---کوي
اوس دغه تناظر کښې د شیدا د شعر یوه پټه نکته هم د غور وړ ده او هغه دا چې شپه توره وي ګویا هر څه راز کښې وي پټ وي نو لکه چې رازونو ته غوټه ورکړی شوې وي او دا غوټه د سحر نمر راختو سره پرانستی شي چې تیاره لاړه شي او د رڼا څرک ولګي خو غور وکړئ چې د نمر راختو سره د رڼا وړومبی څرک لګي نو د نمر شکل لکه د تیره نوک یوه نرۍ کرښه وي---او دغه کرښه لکه د نوک کږه هم وي-- یعنې د نوک فطرت دا دی چې دې به کوږ وي او د خپل طاقت او صلاحیت استعمال به غلط کوي-- او هسې هم نازکه غوټه په کوږ او تیره نوک پرانستلی شي---- بس فلک یعنې وخت زمانې او مقدر مونږ سره هم دغه ناسازه کړې ده چې زمونږ د مقدر فیصلې یې د کوږ نوک غوندې د دور کږو کج فطرتو کرپټ او بد خویه خلقو ته پریښې دي--- دغه کج نهادو ته فلک یعنې زمانې دغه استعداد او طاقت ورکړی دی چې هر څه په خپل واک کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي لکه څنګه چي د نمر نرۍ او د نوک غونډۍ تیره کرښې ته هم فلک دغه استعداد ورکړی دی چي د شپې غوټه د نمر په وړومبۍ څیره پرانیزي---- بس د زماني دا ستم ظریفي په هر دور کښې وي چي شیدا هم ورسره په خپل دور کښې مخ وو--- هغه د خپل دور کج نهادو سره مخ وو او مونږ د خپل دور کږو او کج فطرتو سره مخ یو چي طاقت او اختیار دغو بدخویه او کج فطرتو سره دی ---- ځکه خو د شیدا نکته دانۍ ته سړی ګوته په خله پاتې شي--- چي د دور د ناسازو او کج فطرته خلقو د رویو خبره د شعر په ژبه څومره په هنر کوي--

---

د خیبر په تاریخي دره ډیرو شاعرانو نظمونه لیکلي دي خو د حفیظ جالندهري دغه نظم د کمال دی----ما یي پښتو کښې د ترجمې هڅه کړې ده ----زما لوستونکیو او مینه ناکو ملګرو ته یي ډالۍ کوم - د کلثوم زیب بي بي د مننې سره چي دغه نظم یې رامخې ته کړو ----- یو کال مخکښې مې هم شریک کړی وو--

د خیبر دره

نه ګیا پکښې ټوکیږي' نه ګلونه زرغونیږي
خو دې سیمې ته پام وکړه' اسمانونه راټیټیږي

د اسمان د پړقیدونکې بجلۍ زړه دلته درزیږي
اوریځ هم په ډډه درومي' باد له ویرې نه رپیږي

دا د تورو زیګو غرونو' دنګې څوکې چي خورې دي
دې کښې پټې د اسلافو' مو پرتې ډیرې قیصې دي

ژوند کښې نخښې د رنګونو' خو همدغه کړې لارې
د ملت د نصیب کرښې' دي هم دا د وینو دارې

دا درې د لارویو' لوړ همت ته په خندا دي
د پرون قیصې چي وایي' خو د نن په خله ګویا دي

داسې ښکاري دغه کاڼي' چا په لتو دي وهلي
د چا داسې اور ورینو' د ښنو لاندې دي راغلي

په دې ورانه ویرانۍ کښې' چي د حشر هنګامې دي
په دې شاړه کښې خو دفن' د دنیا ډیرې قیصې دي

دا له خوف او ویرې ډکه' یوه داسې ویرانه ده
د بې شمیره شور انګیزه' تهذیبونو افسانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کاروان د ارینو' په دې سختو لارو تللی
چې د هند په دغه زمکه' یو اسمان هم دی راغلی

دغه سیمه سکندر ته' ایینه ده لا تر اوسه
د هم هغه سیلی دوړه' خو پرته ده لا تراوسه

مومنانو په دې لاره' خپلې تورې شړنګولې
تکبیرونو به ډغرې' د فولاد سره وهلې

فلک څو واره محمود او' هم جنګونه یې لیدلي
د غوریانو بهادرو' قسمتونه یې لیدلي

دغه خاوره په کلونو' قافلو الوزوله
یو لوګی لکه د اه به' په اسمان کښې خوریدله

تیمور هم کړه د پښنو لاندې' بابر لتې ورکړې لار کښې
یو ذره قَزَق رانغلو' د دې خاورې په وقار کښې

په دې لاره تیرې شوې' قافلې د بزرګانو
دغه خاورې دي ښکل کړي' قدمونه د شاهانو

اوس نو هغه جلال څه شو' چې نادر ابدال لرلو
سبق' پښنو لاندې راغلو' کاڼو هم ترې اخستلو

دا هغه د غنو شپول دی' شوې تڼاکې پکښې ماتې
خو ازغي یې لا تر اوسه' سلامت شولو راپاتې

د اردو نظم ------حفیظ جالندهري

---

پښتو د پاره زما په کار د ګناه ګار تنقید او اعتراض

تاسو هم د پښتو دپاره کار کوی د پښتون دپاره نا
خفه نه شي تاسو بې کولی م نه شئ
ځکه چې د پښتون دپاره کار کوو سره بیا د اسلام اباد خواږه ورکیږې

زما تر نظره ستاسو کار بلکل صفر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تاسو نه د رحمت شاه سايل او د امام منظر كار په شانتې شاعرانو خلكو كار يو په سل غوره دې**
**تاسو بس هم دغه صحيفې راخستې**
**ريښتيا چې راباندې واې زه خو ستاسو دا سردردې هډو ګورم نا فضول هسې لګيا يې**
**په پښتون څه تېرېږې او ته ورته پښتو ساته هغه هم د اسلام اباد نه**

**--زما څرګندوني دا دي**

**د --ګناهګار-- په فرضي نوم په فيسبک کښې څوک دی چې زه يې د اصليت نه خبر نه يم خو پښتو**
**د پاره زما په ليک او کار اعتراض لري چې د هغه د دوو کمنټونو نه مې زما د کار سره اړه**
**لرونکې برخه راواخسته او د خپلو پښتنو په خدمت کښې يې د څو څرګندونو سره وړاندې**
**کوم--سره د دې چې زما د کار په اړه زما خپلې څرګندونې شايد مناسب هم نه وي ځکه چې زما**
**لوستونکي او پيژندونکي يې پخپله قضاوت کولی شي خو بيا هم ګناه ګار او خپل اولس ته وييل**
**----غواړم چې**
**--ګناه ګار ته څه پته ده چې زه په کوم ځاې او کومو حالاتو کښې د پښتو او پښتنو خبره کوم ----١**
**----نوکري مې په پاکستاني مطالعاتو کښې ده -- ليک پښتو او پښتنو  د پاره کوم ----٢**
**--تر اوسه مې يو ټکی هم د خپلې پيشې  او رسمي وظيفې اړه نه دی ليکلی ----٣**
**د همدغه څانګې نه مې په باچا خان-- کاکاجي صنوبر-- ولي خان--غني خان-- اجل خټک ----۴**
**--او ګڼ شمير پښتنو شخصياتو او د پښتنې سيمې سره تړلو موضوعاتو باندې په شلګونو د ايم فل**
**--مقالې په خپلو شاګردانو په خپله نګرانی کښې وليکلې**
**په همدغه څانګه کښې مې په پښتنو سياسي علمي او ادبي مبارزينو ګڼ شمير سيمينارونه ----۵**
**--وکړل**
**په همدغه اسلام اباد کښې مې د پاکستان د ټولو نه غټې ادبي ادارې -- اکادمي ادبيات--- نه د ---۶**
**کاکاجي صنوبر او ولي محمد طوفان غوندې پښتنو شخصياتو په ژوند او خدماتو ليکلي خپل کتابونه**
**--چاپ کړل**
**په فيسبک ټي وي چينلونو کتاب رساله اخبار او هر فورم شپه ورځ لګيا يم د پښتو او ----٧**
**--پښتون خبره کوم**
**د پښتو او پښتنو د پاره د پښتو نه علاوه په اردو او انګريزی کښې هم لګيا يم ليکونه کوم**
**--تقريرونه کوم ليکچرې ورکوم--- دغه هر څه تاسو وينئ ګورئ**
**د پښتو او پښتون غږ د پاره د ملک هرې صوبې او ګوټ ګوټ ته او د پاکستان نه بهر هم ----٨**
**--سفرونه کوم**
**زما د پښتو غږ کښې پښتون هر وخت شامل وي -- او كه څوک يواځې پښتو د پاره هم کار ----٩**
**--کوي نو ايا دا به د پښتون د پاره نه وي**
**او دا هم بايد ووايم چې ورورہ زه د قلم سړی يم-- د ميدان جنګ نه--- هر سړی پيدا دی ----١٠**
**--خپل خپل کار لره کنه**

**خو بيا هم زه ګناه ګار يم --زما کار صفر دی او تاسو د پاره سردردي ده -- بلکې زه هسې فضول**
**لګيا يم---  زه ستاسو تنقيد او اعتراض په سر سترګو اخلم او شايد جذبه مو هم نيکه وي خو دا بيا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم وایم چې زه یواځې تاسو ډ پاره نه لیکم--- ما سره زما د مزاج په سوونو زرګونو مینه وال دي--- هغوئ زما د لیک او کار ضرورت هم محسوي---او ما ته غوږ هم نیسي-- په کومه ورځ چې راته هغوئ هم ووېٍ چې ستا کار صفر-- سردردي-- او فضول دی نو له هر څه به لاس واخلم---که پښتو او پښتنو د پاره دغه هر څه زما ګناه وي نو بیا ګناه ګار ته نه یي ګناه ګار زه یم---او ستاسو غوندې خلق به مې توبه ګار کړې چې یوه ورځ له هر څه توبه وباسم او قلم کیږدم ---بلکې په زبه هم تاله ولګوم

---

--- ګران محمود مرهون څه موده مخکښې په یو پوسټ کښې پوښتنه کړې وه چې زمکه څلیریشت ساعته کښې پر لمر راڅرخي نو هوا ولې نه بدلیږي او الوتکې ولې ځي خو ---ودې دریږي چې زمکه څرخي

دغه پوښتنه له نورو ډیرو ملګرو سره هم شته نو ځکه ګران مرحون ته مې چې کوم وضاحت کړی ---وو هغه خپلو ملګرو سره هم شریکول غواړم

زمکه د خپل ټول فضایي ماحول سره څرخي --- خپل ماحول له ځانه سره اوړي او له ځانه سره یې څرخوي--- د څلیریشت ساعته په خپل محور څرخیدلو کښې هم او پوره کال کښې د نمر نه چاپیره څرخیدلو کښې هم--- اوس دغه د زمکې ماحول څه شی دی---زمکې نه اووه میله پورې پورته فضا ته یې ټروموسفییر وایي-- دې برخه کښې ګرمه هوا د زمکې مخ نه پورته ځي او بیا په یخ حالت کښې بیرته واپس راځي---چې نور اوولس میله پورته لاړ شي دغه برخې ته یې سټریټو سفییر وایي---چې نور څلوښت میله پورته لاړشي دغه برخه یې کیمو سفییر بللی شي--دغه برخه یې د اوزون ګیس ده---چې نور دوه سوه میله لاړ شي دغه برخه یې ایینو سفییر بللی شي-- دغه برخه کښې یې اسماني برق وي-- دغه ټول سفییرونه د فضایي کانو او نورو افتونو نه د زمکې ساتنه کوي--- او د زمکې په څرخ کښې دغه هر څه ورسره یوځاې په څرخ کښې وي--- نو ځکه د طیارې له زمکې پورته کیدل دا معنا نه لري چې له زمکني ماحول نه بهر ووته--- زمکه چې په یو سیکنډ کښې د اتلس میله په رفتار د نمر نه څرخي نو دغه هر څه چې د زمکې د ماحول برخه ده په همدغه هومره رفتار له ځانه سره اوړي او له نمر نه یې څرخوي--- ځکه مونږ ته نه --محسوسیږي چې طیاره ولې له زمکې بل لوري ته نه کوزیږي-- یا هوا ولې نه بدلیږي

---

سرکشي کاندي مخ تور د سرخ رویانو
مضمر مه شه د شعلې په داب هرګز

سرکشي----سر اوچت اوړل---کبر او غرور کول
سرخ رویان----سور مخ لرونکي---سرخرویه -- کامیاب او بریالي ته هم وایي -- صادق او رښتیا --ویونکي ته هم
--مضمر---پټ --په راز کښې---چې په ظاهره ښکاره نه وي
داب---په عربی کښې دستور --روش--دود---عادت او سلیقې ته وایي---او په هندی یا اردو کښې --دبدبې رعب او جلال ته وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**-----وضاحت**

**شیدا د کمال فنکار وو---داب-- توری یی د عربی او هندی دواړو معنو کښې استعمال کړی دی---**
**شعله چې پورته خیژي نو ګویا چې سرکشي هم کوي چې سر پورته اوړي -- دا یی د کبر او غرور**
**نخښه وي-- چې د هندی معنا تر مخه دغه یي رعب دبدبه او جلال وي----او بیا د عربی معنا تر**
**مخه دغه سرکشي د شعلې روش دود یا عادت هم دی---دغه د سرکشی عادت خو د شعلې**
**کبروغرور شو---اوس دې ته پام وکړئ چې شعله سره هم وي نو ګویا سورمخي یا سرخرویه هم**
**شوه---اوس به راشو تور مخي ته یا زمونږ په روزمره کښې مختورن ته---مختورن د سرخرویه**
**متضاد دی---ګویا مختورن ملامت او شرمنده ته وایي---نو سرخرویان خو ملامت او شرمنده نه وي**
**---خو بس په یو صورت کښې دغه سرخرویان هم کله کله ملامت او شرمنده پاتې شي----هغه**
**صورت د کبروغرور دی----کبرجن که هر څو رښتیا هم وایي یعنې په رښتیا وییلو سرخرویه وي**
**خو د خپل کبروغرور انجام یې دا وي چې سره د سرخرویی او ډیر کبروغرور هم داسې راګیر شي**
**چې بیا یی مخ تور نیولی وي یعنې په سرخرویی کښې هم مختورن پاتې شي---دغه مفهوم بیانولو**
**دپاره شیدا استعارې له کومه راوړې دي---په کوم فني نزاکت یی استعمال کړې دي او کومه نادره**
**--مشاهده یی پیش کړې ده ----غور ورته وکړئ**
**شعله چې کله بره خیژي نو که سر ډیر هم پورته یوسي خو په سر یی یو تور لوګی روان**
**وي---شغله سره وه ---سرخرویه وه---خو د سرکشی سره یی چې په سر کوم تور لوګی راښکاره**
**شو نو ګویا سرخرویه شعله هم مختورنه شوه---د سرکشی په وجه--- د کبروغرور په وجه----او**
**دغه تور لوګی پخپله په همدغه شعله کښې مضمر وو یعنې پټ پروت وو---دغه روش د کبرجن**
**انسان هم وي----د هغه د مختورن کیدو سبب هم د هغه په خپل ذات کښې پټ پروت وي خو د خپل**
**کبر په وجه ورته د ده پام نه وي---کله یی چې سرکشي له حده زیاته شي نو د مختورن کیدو سبب**
**---یی پخپله سر ښکاره کړي**
**بس شیدا یو اخلاقي پیغام په دغه طریقه ورکوي چې د شعلې د کبروغرور داب--روش--او عادت**
**هرګز مه خپلوئ ګنې همدغسې د سرخرویی باوجود به مختورن پاتې یئ---لکه د سرې شغلې په**
**---سر د تور لوکي**
**دغه د شیدا شاعرانه انداز دی--- دغه یې تغزل او نزاکت دی چې بنده حیران کړي--- د شعر خوند**
**---یې څومره زیات شي خو چې سړی پرې پوره فني نزاکت سره پوهه شي**

---

**هند کښې پښتو او پښتانه**

**نوټ --- د فیسبک یو ګروپ --- پښتو ژبه ادب کلتور او تاریخ --- کښې پوښتنه شوې وه چې**
**هندوستان کښې پښتو ژبه شته او که نه--- نو هغوئ ته مې دغه لنډ تاثر ولیکلو چې دلته یې هم**
**--خپلو ملګرو سره لږې اضافې سره شریکول غواړم**

**دوه خبرې دي---- یو پښتانه او دویم یې ژبه-- د پښتنو زیاتې غټې قبیلې لکه خلیل مومند اپریدي**
**شنواري بنګش کاکړ اڅکزي خټک یوسفزي او نور ګڼ شمیر ټول په هندوستان کښې د پیړو راسې**
**میشت دي او اوس هم شته---هند کښې د پښتنو ټولو نه لوې مسکن روهیلکنډ دی چې نوم یې هم د**
**روهیله پښتنو په وجه دی -- مرکز یې رامپور دی-- خو دغه مسکن او مرکز نه علاوه پښتانه د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هندوستان په پخواني بنګال-- بهار --اړیسه-- جهار کهنډ-- دوابه ګنګ جمن-- بریلي-- مراد اباد -- فرخ اباد --- نجیب اباد -- احمد اباد-- ګجرات-- دکن-- بیجاپور-- ګوالیار--- بدایون --- بجنور-- دهلي-- پیلي بهیت-- اتهر کنډ--- اترپردیش او ځنو نورو سیمو کښې اباد دي--- د ځنو ریاستونو نوابان پاتي شوي دي--شمیره یې کروړونو کښې ده--- څه ترې لاړل خو زیات لا هم هلته دي-- چې ---بیا هم د لکونو په شمیر کښې دي**

**تر څو چې د پښتو ژبې خبره ده نو زیاتو پښتنو خپله ژبه پریښې ده خو یوه غټه شمیره اوس هم هندوستان کښې خپله ژبه پښتو وایي--- تر دې چې پښتو یې په نصابونو کښې شامله ده -- غیر پښتانه هم د هند پوهنتونونو کښې پښتو وایي-- د پښتو ګڼ شمیر قلمي نسخې د رامپور رضا لایبریرۍ او دهلي میوزیم کښې خوندي دي-- د شیدا د دیوان بنیادي نسخه هم رضا لایبریرۍ نه ---راوړلی شوې وه -- پښتو کښې کتابونه چاپ کوي خو مونږ ته کم رارسي**

---

**د ذاکر نایک پاکستان ته راتګ او ګرم بحثونه**

**زه د ذاکر نایک وکیل نه یم او نه کوم اختلافي او غیر علمي غیر مهذب بحث کښې دلچسپي لرم-- خو د ذاکر نایک په راتګ دغو ګرمو بحثونو حیران کړی ضرور یم--- څوک وایي عقیده یې درسته نه ده--- څوک وایي جاهل دی نه پوهیږي--څوک وایي لباس یې د انګریزانو دی--- څوک وایي د یهودیانو ایجنټ دی--- څوک څه وایي او څوک څه--- هر سړی د افلاطون او ارسطو نه کمه خبره نه کوي-- زما د ذاکر نایک دا انداز خوښ دی چې ځان ته عالم نه وایي بلکې طالب علم وایي--- او دا هم اقرار کوي چې ما نه غلطي کیدی شي ځکه چې انسان یم-- بلکل ترې غلطي کیدی شي --- اردو ژبه یې کمزورې ده په وینا کښې هم تیر خوړی شي -- په حوالو کښې ترې هم غلطي کیدی شي او په ساینسي نتایجو بیانولو کښې هم -- تر دې چې په تعبیر کښې هم - خو دغه اقرار او اعتراف څوک کوي--- هغه سړی چې لږ غور ورته وکړئ--- ایا**

**--میډیکل ډاکټر جوړیدل کومه وړه خبره ده ----۱**

**د مصر یونیورسټی نه د تقابل ادیان په موضوع پي ایچ ډي کول د کوم جاهل سړي کار کیدی ---۲ --شي**

**په خپله تحقیقي او علمي اداره اسلامک ریسرچ فاونډیشن نیمه نړۍ متاثره کول د ناپوهه او ----۳ --غلطي عقیدې د سړي کار کیدی شي**

**د نړۍ د شلګونو ملکونو له خوا یو جاهل او ناپوهه سړی راغوښتلی کیدی شي او په ----۴ --زرګونو خلق یې بیا اوریدلو ته راجمع کیدی شي**

**د هغه په امن ټي وي چې دوه سوه ملکونو کښې تقریبن لس کروړه خلق د هغه پیغام اوري نو ---۵ دغه لس کروړه خلق هم احمقان دي**

**د هغه د امن ټي وي نشریات چې چین په خپله چینایي ژبه کښې شروع کړل نو د چین د نیمي ---۶ --نړۍ هومره انسانان هم بې وقوفان دي**

**په کال ۲۰۰۰ کښې چې ذاکر نایک نوموړي ساینسدان او محقق د نوبل پرایز اخستونکي ---۷ ویلیم کیمبل سره د -- قران او بایبل د ساینس په رڼا کښې --- مکالمه وکړه او کیمبل یې لاجوابه کړو (په یو ټیوب دغه مکالمه شته هر څوک یې کتلی شي ) او په ردعمل کښې یې څلور دیرش زره غیر مسلمو اسلام قبول کړو-- نو دا هم ګڼي یو جاهل او د غلطي عقیدې فرد کولی شي--- پکار خو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وه چې کیمبل یا د ذاکر نایک جواب ووایي او یا خپل نوبل پرایز واپس کړي چې د فزیالوجي او میډیسن په خدماتو یې اخستی وو--
په کال ۲۰۰۶ کښې هندو پنډت روي شنکر سره مکالمه یې ---د خدای تصور په اسلام او ---۸ هندو دهرم کښې-- په موضوع وه--- دا هم په یو ټیوب شته--- د جاهل او عالم صفا مثالونه پکښې لیدی شي--- ایا دلته هم ذاکر نایک نه پوهیدو او عقیده یې هم درسته نه وه---
په کال ۲۰۱۱ کښې چې هندوستاني اداري انډین ایکسپریس ذاکر نایک د ټولې نړۍ په نوي با ---۹ اثره شخصیاتو کښې شامل کړو نو ایا دغه هندوستاني اداره هم جاهله وه-
په کال ۲۰۱۲ کښې د امریکې جارج ټاون یونیورسټۍ د تحقیق تر مخه چې ذاکر نایک د ----۱۰ ټولې دنیا په پنځه سوه با اثره شخصیاتو کښې شامل شو نو امریکه هم جاهله شوه او یونیورسټي یی هم--
د ملایشیا صدر مهاتیر محمد چې ذاکر نایک ته بلنه ورکوي او د خپل وطن شهریت ورکوي-----۱۱ نو مهاتیر هم کم عقل شو--
د الجزیره نیوز د څیړنې او رپورټ تر مخه چې د نړۍ یوولس لکه غیر مسلم د ذاکر نایک ----۱۲ په اسلامي موقف او تشریح مسلمانان شول نو دغه یوولس لکه ټول احمقان وو--
او عالمان زمونږ دا د قدوري منیا لوستونکي دي--- دا چې په شلګونو مسلکونو کښې تقسیم دي د دوئ عقیده درسته ده--- او چې د یو دین منونکی او خورونکی دی د هغه عقیده غلطه--- هیڅ پوهه نه شوم چې د ذاکر نایک نه خلقو ته څه تکلیف دی--- او اسلام اباد کښې په نولسم اکتوبر د هغه تقریر نه په دغه ورځ کومه خطره پیښیدونکې ده--- هیڅ سر مې پرې خلاص نه شو--

---

کن فیکون

کن فیکون د قران حکیم اصطلاح ده او زه هم یواځې د قران حکیم په رڼا کښې خبره کوم-- د کن فیکون اصطلاح په عمومي ډول د کاینات د پیدایش په ضمن کښې وییلی شي چې کن نو فیکون شو--- یعني خالق وویل چې اوشه نو اوشو--- مطلب کاینات ته یې ووې چې پیدا شه نو پیدا شو--خو که غور وشي نو دغه اصطلاح قران حکیم یواځې د کاینات د پیدایش د پاره نه بلکې په عمومي معنو کښې راوړې ده-- کن فیکون د قران حکیم په اتو مقاماتو کښې په خپل خپل تناظر کښې راغلې ده--- چې دوه څرګندې زاویې لري--- یوه زاویه فیصله کول او دویمه زاویه اراده کول --- یعني یو داچې کله خالق د یو څیز د پیدا کولو فیصله وکړي نو هغه څیز بیا پیدا شي--- او دویم دا چې خالق د یو څیز د پیدا کولو اراده وکړي نو هغه څیز بیا پیدا شي--- د سوره بقره په ایت ۱۱۷ د سوره مریم ایت ۵۳ او د ال عمران ایت ۳۷ کښې کن فیکون د حضرت عیسی علیه السلام د پیدایش په ضمن کښې راغلی دی-- مثلا --- اذا قضی امرا فانما یقول له کن فیکون--- یعني کله چې الله فیصله وکړي نو ووایي چې اوشه نو بیا اوشي---- دلته-- قضی-- نه مراد دی فیصله کول---دغسې په سوره غافر ایت ۳۸ کښې د مرګ او ژوند په ضمن کښې--- په سوره نحل ایت ۴۰ او سوره یس ایت ۸۲ کښې د عمومي پیدایش په ضمن کښې راغلی دی-- مثلا -- اذ اراد شی فیقول له کن فیکون---یعني کله چې خالق د یو څیز د پیدا کولو اراده وکړي نو ووایي چې اوشه نو اوشي-- دلته --اراد -- نه مراد دی اراده کول---- نو خبره خو په ټولو ایتونو کښې عمومي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



يواځې د کاينات د پيدايش سره مخصوص خو نه ده--- البته که د کاينات پيدايش ته هم راشو نو د
--کن فيکون-- په اصطلاح کښې استمرار دی يعني دوام دی--- مطلب هر څه مخې سره نه کيږي
بلکې د خالق د مقرر فطري قوانينو مطابق تدريج سره کيږي-- چې زمونږ د زمکني وخت او قانون
---تر مخه پرې زرګونه لکونه او کروړونه کلونه لګي
قران حکيم چې نيغ په نيغه د کاينات د پيدايش په اړه وييلي دي چې --- الذی خلق السموات
والارض وما بينهما فی ستته ايام--- نو دلته هم په عمومي ډول دا ګڼلی شي چې د خالق له خوا د
-- کن -- وييلو په نتيجه کښې اسمانونه زمکه او تر مينځه يې چې څه دي دا هر څه په شپږو ورځو
کښې پيداشو--- خو دې ته پام ډير ضروري دی چې عربی کښې يوم يو ورځ ته هم وايي او يو دور
ته هم--- په همدغو ايتونو کښې د يوم وضاحت هم شوی دی چې --- فی يوم کان مقداره الف سنه
مما تعدون--- يعني دغه يوم د زر کلونو يا زرګونو کلونو هومره مقدار لري که په شمار يې
---راشئ
اوس دې ته هم غور وکړئ چې د کاينات د تخليق په اړه خو د خالق --کن-- لا تر اوسه د
--فيکون-- د مرحلې نه تيرېږي ځکه چې کاينات خو لا نن هم مکمل شوی نه دی--- خالق پخپله
وايي چې زه ورته وسعت يعني پراختيا ورکوم--- والسما بنينها باید و انا لموسعون-- يعني اسمان
مې په خپلو لاسو جوړ کړو او ورته وسعت ورکوم--- نو بيا خو د کاينات په ضمن کښې اوس هم د
فيکون مرحله روانه ده-- چې د قران حکيم دغه ايت يې نور وضاحت کوي چې --- کل يوم هو فی
شان--- يعني هغه هره ورځ نوي شان کښې وي--- ځکه خو زمونږ کاظم خان شيدا هم وييلي دي
--چې
هره ورځ ورق ګردان يې
مخترع د نوي شان يې
--او د کاينات په اړه علامه اقبال هم وييلي دي چې
يه کاينات ابهی ناتمام هے شايد
که ارهی هے دمادم صدائے کن فيکون
--نتيجه دا چې د کن فيکون عمل هم دوام لري او کاينات هم خوريږي او پراختيا مومي

نوټ---- د خالق له خوا وييل--- اسمان په لاسونو جوړول-- وغيره د تفهيم د پاره علامتي انداز
دی-- او ايتونه مې د کيبورډ د مجبوری نه بغير اعرابو ليکلي دي چې اصلي متن سره يې کتل پکار
--دي-- د سوره او ايت حوالې مې ورکړې دي

---

حسن او جمال

زمونږ اکثر زده کوونکي حسن او جمال په يوه معنا اخلي خو دې دواړو کښې فرق دی---- حسن
پراخ مفهوم لري چې پکښې معنوي او مادي ښکلا دواړه شامل دي- خو په بنيادي توګه حسن د
معنوي ښکلا مفهوم ادا کوي-- يعني د سيرت ښکلا--- غير مادي ښکلا-- لکه حسن اخلاق-- حسن
کردار--نيکي-- صداقت -- دغه هر څه حسن دی خو مادي شکل نه لري--- ځکه نيکی او ښه روييو
ته حسنات وييلی شي--- کله کله د تفهيم د پاره په علامتي صورت کښې په مجازي معنو کښې د
غير مادي حسن د پاره د جمال اصطلاح هم راشي خو هغه صرف د پوهولو د پاره وي--- ګويا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جمال توری  په بنیادي توګه یواځې د مادي ښکلا د پاره راوړلی شي--- یعني د صورت ښکلا--
---شکلي ښکلا -- ځکه دا توری د حسن په مقابله کښې محدود مفهوم لري
حسن او جمال دواړه د عربۍ توري دي او په عربي لغت کښې بغیر د ځنو استثنایي موقعو نه چې د تفهیم او ابلاغ ضرورت وي حسن معنوي دی او جمال شکلي-- او دا هم چې جمال د حسن برخه ده ځکه چې حسن پراخ مفهوم لري خو حسن د جمال برخه نه ده ځکه چې جمال محدود مفهوم لري--دې سره د عربۍ یو بل توری -- کمال-- هم دی چې معنا یې ده پوره توازن او اعتدال سره مکمل شوی څیز-- ګویا کمال هم د مادي ښکلا نوم دی-- یو بل توری --- زینت--هم دی چې دا هم مادي ښکلا ته وایي--- یعني ښایسته کړی شوي څیز ته -- مزین-- وایي--- دغه شان یو بل توری -- جلال-- دی چې د عظمت -- قوت--لوې والي-- رعب او دبدبې د پاره راوړلی شي--- ځکه چې د جلال په مقابله کښې په جمال کښې نرمي شګفتګي نزاکت او ملایمت شامل وي---جلال کښې مادي --او غیر مادي دواړه ښکلاګانې شاملې وي--خو په بنیادي توګه جلال هم د مادي ښکلا د پاره وي دغه ټول اصطلاحات د عربۍ دي چې په وړومبي سر کښې د جمال برخه وي او بیا په پراخ مفهوم کښې په حسن کښې ورشامل شي--- د دغو ټولو اصطلاحاتو د مطالعې او تفهیم نوم دی --
--جمالیات-- یعني د حسن و فن علم او پوهه**

**---نوټ----- دغه وضاحت مې د زلمي حضرت وهاب شلمان په غوښتنه وکړو**

---

**بیګا شپه مې د یوې شعر ویونکې جینۍ په خله په یو اردو شعر کښې د -- اس پاس-- توري په یوه ویډیو کښې واوریدل نو خوند یې راکړو او دغه اردو غزل مې ولیکلو --- زړه مې وغوښتل چې ---ملګرو سره یې هم شریک کړم-- د ژبې او عروضو د غلطۍ به راته بخښنه کوئ**

**تمام عمر میرا بھرم رہا آس رہا
وہ جو اک آن میرے ساتھ رہا پاس رہا**

**ایک لمحہ بھی نہ ٹھرا وہ شہر چھوڑ گیا
فرد تو کیا درودیوار بھی اداس رہا**

**وہ میرے قتل میں مسرور تھا سرشار بھی تھا
مجھے نہ خوف رہا اور نہ ہراس رہا**

**تبھی تو ہارتا رہا کہ وہ کھل اٹھتا تھا
لمحہ لمحہ اسکا ایسا مزاج شناس رہا**

**اپنی مجبوریوں میں ہی تھی مسرت میری
جبر جو اسکا میری زندگی پہ راس رہا**

**دور نمرود ہی کیا جانے کہ خلیل ہوں میں**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلگھتی آگ میں میرے لئے مٹھاس رہا

---

که کریم راباندې راشي لکه نمر په زر ريزۍ کښې
زه په دا افتادګۍ کښې ترې ګريز کوم د سيورې

---وضاحت
د شيدا د مشاهدې په سرې څه ووايي--- دغه شعر يې اسان دی خو مشاهده او شعري تکنيک يې د کمال دي--- دې شعر کښې د خودۍ او خود دارۍ پيغام دی خو د کمال تغزل سره وړاندې شوی --دی
نمر ته کريم يعنې سخي وايي ځکه چې خپله رڼا په هر چا ويشي--- د رڼا شغلې يې چې زرزري دي نو د زرو يعنې مال دولت سره يې نسبت دی-- ګويا سخي نمر خپل دولت او سره په هر چا ويشي--- نمر پورته هم دی ګويا د سخاوت لرلو سره ځان اوچت هم ګڼي يعنې دغه سخاوت کښې يې ريا او غرور هم شامل دي - ريا ځکه چې نمر دغه هر څه په رڼا ورځ کوي چې هر چا ته ښکاره وي -- ګويا ځان ښايي -- نو بيا شيدا خو د داسې سخي ورکړه هم نه قبلوي او لرې ترې تښتي---شيدا ځان ته سيورې وايي-- او چرته چې نمر وي هلته سيورې نه وي--- نمر چې راشي نو سيورې لرې تښتي-- اوس دې ته هم غور وکړئ چې سيورې ټيټ وي يعنې افتاده وي-- کم کوز وي-- خو چې خود داره وي نو په خپله افتادګۍ کښې هم د کريم او سخي نمر نه لرې تښتي-- ځکه چې نمر ځان اوچت جلالي او مغرور ګڼي-- نو بس شيدا ترې لکه د سيورې په خپله افتادګۍ کښې هم ګريز کوي-- نژدې نه ورځي-- هر څو که نمر زر ريزي کوي--- مال او زر ويشي -- خو شيدا ته نه دي ---پکار--- د خپلې افتادګۍ سره يې خپله خود دارې پکار ده
د خود دارۍ دغه مضمون زمونږ ډيرو کلاسيکي شاعرانو بيان کړی دی خو دلته به د خوشحال بابا --شعر راوړم چې
د منت دارو که مرم پکار مې نه دي
که علاج لره مې راشي مسيحا هم
--- خو د شيدا انداز ته چې وګورې نو هغه د غالب خبره

کھتے ھین که غالب کا ھے انداز بيان اور

---

ګران ځارګر مومند پوښتلي وو چې د مطالعې ذوق به څنګه وده مومي نو دغه څو خبرې مې ورته ---وکړې

مطالعه په جبر مه کوه--- کله دې چې طبيعت وغواړي نو کتاب راخله که بيخي لږ وخت له هم ---۱ -وي
صرف د هغه کتاب او مضمون مطالعه کوه چې پرې پوهيږې-- کله چې پوهيږې نو مطالعه به ---۲ --درباندې بوج نه جوړيږي
--هغه موضوعات لوله چې خوند درکوي او لطف ترې اخلې ----۳
--وړومبی اسان لوله او بيا د ګرانو په لور ځه ---۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلوار مه کوه--- مطالعه د ورځې عمل نه دی د کلونو او عمرونو عمل دی او ذوق په تدریج---۵
---سره قدم په قدم ځیزونه قبلوي
--زړه به نه بایلې --- حوصله به لوړه-- صبر او زغم-- او اوږده ستیمنا به ساتې ---۶
مطالعې سره څه کتې هم زړه ته راوله--- تعلیم ډګري--عزت-- مقام-- یا روحاني مسرت ---۷
--وغیره
کومه مطالعه چې وکړې نورو ملګرو سره پرې بحث مباحثه کوه چې په اړوند موضوع درته ---۸
---نورې لارې خلاصیږي
په مفهوم ځان پوهوه--- که په یو پیراګراف دې میاشت هم لګي خو چې تر څو پوهه شوی نه----۹
--یې نو مخکښې مه ځه
--ذهن ازاد ساته--- سوال راپورته کوه-- تنقید کوه هم او زغمه هم--- ضدي مه جوړیږه ---۱۰
هغه شخصیات هم ذهن ته راوله چې معاشره کښې یې لوې مقام د پوهې او مطالعې په وجه----۱۱
--ترلاسه کړی دی نو ولې دې ته هم دغه مقام تر لاسه نه کړې
هر کتاب هر چا د پاره د مطالعې وړ هم نه وي--- داسې هم کیږي چې د یو کتاب وړومبي ----۱۲
باب نه پس د نور کتاب لوستل ضرورت نه لري--- د ځنو کتابونو د وړومبی پاڼې لوستلو سره
اندازه وشي چې نور د لوستو نه دی او د یو نیم کتاب خو د نوم او ټایټل نه پته ولګي--- نو خپل
--وخت په هر کتاب مه خرابوه--- زر یې اندازه کوه
نورې خبرې بیا--- خو بس مطالعه خپله داسې محبوبا جوړه کړه چې ژوند کښې څه هم خوشالي
سکون او مقام دی نو بس هغه داسې مطالعه کښې دی چې پخپله هم پرې پوهه شوی یې او نور هم
---پرې پوهولی شې

---

ما په خپل ژوند کښې د جوهر خلیل غونډې د سپین زړه ښځنتن دوست ونه لیدو-- داسې سپین لکه اینه او داسې قدروقیمت لرونکی لکه ملغلره - دا یې په ما څلورم کتاب دی --- ګران شیر احمد خلیل هم دغه مقام لري د هغه هم په ما درې کتابونه چاپ دي-- د دواړو کتابونه په درې واړو ژبو کښې دي-- پښتو اردو او انګریزي-- دواړه مې همعصر دي او همعصر تسلیمول څومره لوې زړه غواړي-- څومره پاک او مقدس فکر غواړي -- دا دې څوک د جوهر خلیل او شیر احمد خلیل نه تپوس وکړي --- نه یواځې تسلیمول بلکې پوره صداقت او بې مثله مینې سره ستایل بغیر د هغه زړه لرلو نه امکان نه لري چې پکښې اخلاص مینې وفا ایثار او صداقت کور نه وي کړی--- دغو دواړو سپین زړو سره چې د ډاکټر شهاب عزیز ارمان کتاب ادب شناس حنیف خلیل او د کشر عباس خلیل د دوو کتابونو راغونډه شوې ذخیره او منصوبه هم ملګرې کړم او بیا ورسره زما د سوونو مینه والو نظمونه او لیکونه او د زرګونو مینه والو بې لوڅه مینه هم ملګرې کړم نو د ګران جوهر ---خلیل دې کتاب کښې شامل دغه شعر په مفهوم هله ورسم چې

عظمت عزت راحت پرې پیرزوینه د الله
راوړی له ازله ښه قسمت حنیف خلیل

---

په ګوشه کښې د کمان وصل افت دی.
ناوکي ګوره د دې خلوت ګزینو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضاحت.....یوه ګوښه یو ګوټ کښي د خلقو نه په ډېره پټ پاتې کېدلو ته وایي اوبل خوا ګوشه د کمان یا لیندۍ دواړو سرونو ته هم وایي. وصل یو ځاې کېدل وي یعني د ګوټ نه راوتل وي . دغسي خلوت ګزین هم هغه څوک وي چې په خلوت کښي یعني خلقو نه پټ یو ګوټ کښي وي.او ناوک غشي ته ویېلی شي چي دغسي ناوکي د غشو ویشتلو ته وایي.
اوس راځو د شعر مفهوم ته.شیدا وایي چې د کمان د ګوشو یعني دواړو سرونو رایوځاې کېدل یا وصل خو ځکه لوې افت دی چې دا ګوښي په هغه وخت کښي رانزدې کېږي چې کمان کښي غشی ښه په شدت او زور سره ویشتلی شي ګویا کمان چې څومره زیات راښکلی شي د کمان ګوښي هومره نزدې کېږي یعني د ګوشو وصل کېږي او دغسي په شدت سره د غشي ویشتلو تیاری کېږي.نو حسینان خو هم دغسي دي کنه چې تر څو خلوت کښي وي ګوشه کښي وي نو د مېینانو د پاره لوې افت نه وي خو چې د ګوښې نه رابهر شي نو په مېینانو د خپل حسن غشي ښه شدت سره وروي او دغسي د دوئ دغه رایوځاې کېدل او وصل د ساز باز او سازش سبب هم شي نو ګویا چې لکه د کمان د ګوشو د وصل د مېینانو دغه وصل خو هم لوې افت جوړوي او بیا دغه وخت کښي د خلوت نه راوتو خلوت نشینو ناوکي یعنې د حسن ادا او ناز د غشو ورول یی د کتو وي یعني لوې --افت وي
بس دغه کمال دی د شیدا چې خبره ساده نه کوي بلکې د فني نزاکت ژورې او نادرې مشاهدې او تغزل په کالیو سینګار یې کوي--- او د بیان په نزاکت یې چې کله پوهه شو نو د شعر خوند یې هم -په اصلي معنا جوت شي

---

نشته بوئ ستا د قمیص په درست جهان کښي
څه امکان لري په مصر و په کنعان کښې

----وضاحت
د شیدا شعر که بلکل اسان هم وي خو معنوي جهان ضرور لري--- داسې جهان چې په دوو --مصرعو کښي یی رابندول بلکل اسان نه وي--- دغه شعر کښي یی معنوي جهان ته غور وکړئ دویمه مصرعه کښې د مصر او کنعان ذکر شوی دی--- څنګه چې د چین زوړ تهذیب او نورو مشرقي سیمو کښي د ختن او خطا سیمي د ښایست او خوشبو د پاره شهرت لري -- دغسي په سامي تهذیبونو کښي مصر او کنعان د ښایست او خوشبو د پاره مرکزونه دي--- دغو تهذیبونو کښې د فطري ښایست سره ښځینه د پاره یو قسم بورقه یا جلباب او نارینه د پاره کرته یا قمیص معروف لباس ګڼلی شوی دی چي ورسره د خوشبو لګولو روایت هم وو-- او دغه لباس او خوشبو ---کښې به مصر او کنعان له هر چا وړاندې وو
اوس شیدا ته ځیر شئ--- د یوسف علیه السلام د ښایست سره د هغه د کرتي یا قمیص ذکر کوي او ورسره د خوشبو روایت ته هم اشاره کوي-- د یوسف علیه السلام قمیص په دوو موقعو د خپلي خوشبو اثر ښودلی دی--- یو د کنعان سره تعلق لري او دویمه موقعه یي د مصر سره---کنعان کښي چي میرنو وړونو یوسف کوهي ته واچولو نو د هغه شلیدلی قمیص یی پلار حضرت یعقوب ته دهوکې ورکولو د پاره یوړو چې یوسف رانه شرمخانو وخوړو دغه شلیدلی قمیص یې نخښه ده-- پلار یي د یوسف د قمیص د خوشبو نه محسوس کړه چې دوئ دروغ وایي-- د یوسف په بیلتون کښي یي د سترګو نظر هم لاړو--- دویمه موقعه هغه وه چې یوسف د کنعان د کوهي نه د مصر تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غښې انتظامي عهدې رسیدلی وو او د قحطی په دوران کښې یې یو ځل بیا هغه میرني ورونه د محتاجۍ په حالت کښې ولیدل چې د کنعان نه مصر ته د غلې دانې د حصول په خاطر تللي وو--- او د هر څه مشر او نګران په دغه موقع یوسف وو-- یوسف دغه میرني ورونه وپیژندل خو هغوئ ونه پیژندو البته د پلار د خفګان او نظر تللو قیصه یې د زیاتې غلې تر لاسه کولو په غرض د فریاد په توګه وکړه--- یوسف په دې موقع هم خپل قمیص ورونو ته ورکړو چې د پلار په سترګو یې راکاږئ نو نظر به یې بیرته راشي--- ورونو یې دغسې وکړل او پلار یې یو ځل بیا د قمیص د خوشبو نه محسوس کړه چې دا قمیص د یوسف دی او یوسف ژوندی دی-- دغسې د هغه نظر هم بیرته راغلو--

خبره رانه اوږده شوه خو شیدا دغه هر څه په دوو مصرعو کښې څنګه راکیر کړل بنده حیران شي--- د یوسف د قمیص د دوو بیلو واقعو سره د مصر او کنعان دواړو ذکر--- په داسې حال کښې چې یوسف هم د ښایست مثال دی او مصر و کنعان هم د ښایست مرکزونه--- د یوسف قمیص هم خپله د خوشبو کرشمه ښودلې ده او مصر و کنعان هم د خوشبو مرکزونه-- د یوسف د پلار نظر تلی هم د یوسف د قمیص لیدلو سره وو او نظر یې واپس هم د یوسف د قمیص خوشبو سره راغلو--- نو اوس د داسې قمیص خوشبو به په مصر او کنعان کښې څنګه پیدا شي--- بلکې په درست جهان کښې یې هم امکان نشته---  زه خو وایم چې د شیدا غونډې دغسې یو پوره جهان لرونکی شعر به هم د شاعرۍ په جهان کښې پیدا نه شي خو که څوک یې ژورو ته کوز شي-- او د معنوي جهان لټون یې وکړي-

---

د --- مور --- م

پښتو کښې د مور کلیمه د --م -- نه شروع کیږي او عربۍ کښې چې مور ته -- ام-- وایي نو دغه ام په-- م --ختمیږي--- توله خبره په دغه م کښې ده چې مشرقي او مغربي دواړو بلکې د نړۍ په ښه ډیرو ژبو کښې دغه م مرکزي معنویت لري--- په عربۍ کښې د -- رب -- معنا ده پالونکی او ساتونکی--او د نړۍ په اکثرو ژبو کښې د مور د پاره د راغلو تورو معنا هم ده پالونکي او ساتونکي--- پخپله د عربۍ د -ام- یوه معنا ده اصل بنیاد یا جرړه--- همدغه اصل او جرړه وي چې --د ونې یا بوټي د پاللو وظیفه تر سره کوي

چې جرړه یې د meh --خو لږ د نړۍ نورو ژبو ته ځیر کیږو--- یو توری دی --  د م په زیر -- مه هند یورپي ژبو ده خو نورو ژبو ته هم تلی دی او د څلور زره قبل مسیح دور نه شتون لري--- د meha --دغه توري معنا په اکثرو ژبو کښې --- پالنه -- ده--- په سنسکرت کښې دا توری -- میها د مور پیو ته وایي چې د ماشوم پالنه پرې me --دی چې معنا یې ده پالنه-- په یونانی کښې --مي یو ځای شي نو.. مهتر .. ترې جوړ شي او دغه مهتر په ډیرو tar سره چې meh کیږي---دغه ژبو کښې د مور د کلیمې جرړه ده--تر- په هند یورپي ژبو کښې تړون او تعلق ته وایي--- یعنې د پالنې تړون او رشته--- په دغه اساس چې د نړۍ زړو ژبو کښې مور د پاره څومره هم توري دي matar نو په لږ شان د اداییګۍ بدلون سره د هر توري شروع د م نه کیږي--لکه لاطینۍ کښې متر اطالوي کښې matar سنسکرت کښې متر mutar جرمن کښې موتر metra یونانی کښې میترا سندهي کښې ماو په چینی بنګالی mother فارسی او انګریزی دواړو کښې مادر madre مدر پرتګالی کښې مایي او ډیره د eomma په کوریایي ژبه کښې ایما maa هندی درې واړو کښې ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



**mere خوند خبره دا چي پښتو ته بيخي نزدې يا د پښتو د جنوبي لهجو سره سم په فرنچ کښي مير ---توری راوړلی شي mor او د ناروی ژبه کښي بلکل د پښتو مور**
**دا دومره قيصه مي دې د پاره وکړه چي يو خو د مور په --م-- کښي ټول کمال دی بيا دغه م نه چي جوړ شو نو د پالني په معنويت کښي يي کمال دی او بيا چي د عربی په --ام-- کښي م شاته meh هم لاړو خو د جړې اصل او بنياد په حواله پکښي هم هغه پالنه او ربوبيت شامل دی چي د لوی رب خاصه ده--- نو چي د مور او م پس منظر دغه وي نو د دې رشتي نه پاکه او مقدسه رشته به بله کومه وي--په دغه معنوي تقدس يي څومره ډيرې ژبې په فطري توګه د معنويت په ضمن کښي --نزدې او يوه خله دي**

---

**صاف دلان مومي لذت د تلخ کامی**
**تا ليدلی د مينا زهر خند نه دی**
**په ايمان شيدا په تغزل او شعري تکنيک کمال کوي--- لکه چي توري او شعري نسبتونه ورته لاس ---په نام ولاړ وي--- د دغه اسان شعر په نسبتونو او تکنيک خو يي غور وکړئ**
**صاف دلان -- يعني د صفا او صادقو زړونو څښتنان**
**تلخ کامي--- کام حلق ته وايي او تلخ تريخ ته--- نو دغسي تلخ کامي يعني حلق تريخ کيدل---- --ترخي خبرې-- تاو تريخوالی**
**-مينا--- د شرابو پيمانه يا پياله چي د صفا شيشي نه جوړه وي--ګويا صافدله وي**
**-زهر خند--- زهرو څښلو سره هم خندل--- يعني د ترخو زهرو نه هم لذت اخستل**
**اوس په شعر غور وکړئ--- پياله سپينه او صفا شيشه وي او پکښي پراته شراب تراخه وي--- ګويا شيشه صاف دله وي-- زړه يي صفا وي--- او چي تراخه شراب ترې راتوېږي نو د شرابو د غړپ غړپ اواز ګويا د دغه صاف دله شيشي خندا ده--يعني په برق برق خاندي-دغه تراخه شراب د راتويدو په وخت د شيشي د حلق نه راتيرېږي خو شيشه د شرابو د غړپ غړپ اواز په شکل بيا هم خاندي--- ګويا د زهرخند څرګندونه کوي--- حلق يي تريخ وي خو په خله يي خندا وي--- يعني د تلخ کامی باوجود د زهر خند مظاهره کوي--- بلکي دغه زهر خند نه هم لذت اخلي ځکه چي شيشي ته پته وي چي د دغه شرابو څښونکی هم صاف دل دی او د دغو شرابو څښلو نه به اوس لذت اخلي---شيشه بس دغې ته خوشاليږي او د خپل تريخ حلق پروا نه کوي--- بل خوا دې ته هم غور وکړئ چي زړه خو هم لکه د شيشي صفا او نازک وي نو يو خوا که د شرابي حساس زړه د شرابو څښلو سره لذت اخلي نو بلخوا شيشه هم چي د ترخو شرابو نه خالي کيږي نو ګويا چي زړه يي صفا کيږي او دغسي شيشه هم صافدله جوړيږي--- نو بس صافدله شيشه د صافدله شرابي د لذت سبب ---هم جوړيږي او همدغه حال کښي پخپله هم لذت اخلي**
**دغه هر څه شيدا په علامتي ژبه ويېلي دي--- اصل پيغام يي دا دی چي د صفا زړه څښتنانو سره که څوک تلخي يا تلخ کلامي هم وکړي خو دغه صاف دلان غصه نه کوي د دغه تلخ کلامی يا تلخ کامی يعني حلق تريخيدلو نه هم خوند او لذت اخلي -- په دې طريقه تلخ کلامه خلق مجبوروي چي خپلو ترخو کښي خواږه پيدا کړي --- د شيشي يا مينا د تلخ کامی نه سبق واخلي - پخپله هم صافدله شي ---او نورو صافدلانو خلقو ته هم خواږه ورکړي---خوند او لذت ورکړي**
**شيدا چي په هر خيال دغه شعر ويېلی وي خو ما ته پکښي دغه تکنيک تغزل او شعري رعايتونه -محسوس شول نو ملګرو سره مي شريک کړل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو تدریس په خارجي نړۍ کښې

پښتو د تدریس په حواله اوس د نړۍ په غټو ژبو کښې شامله ده چې د نړۍ په ګڼو پوهنتونونو کښې په مختلفو سطحو تدریسولی شي-- څنو هیوادونو کښې د پښتو د تدریس څانګې دي او په څنو کښې د نورو څانګو برخه ده-- د دولسم ټولګي نه واخله تر دوکتورا د پښتو تدریس د نړۍ ---پوهنتونونو کښې شتون لري
په فرانس کښې د پروفیسر ګلبرټ لیزارډ په مرسته په ۱۹۶۶ کښې د انالکو انسټي ټیوټ قیام سره پښتو په فرانس کښې د څیړنې او ښوونې برخه شوه- په جرمني کښې د پروفیسر لوټس ضحاک په هڅو پښتو د جرمني پوهنتونونو کښې د درس او څیړنې برخه شوه-- همدغه جرمني کښې په هایډل برګ پوهنتون کښې د پشتو پروفیشنسي سند ورکولی شي- په سویډن کښې د پروفیسر انډرس ویډ مارک په هڅو په اوپاساله پوهنتون کښې پښتو لولولی شي- د انګلینډ په کیمبرج پوهنتون کښې د پښتو زدکړې ډپلوما ورکولی شي- د پولینډ په ورسا پوهنتون کښې د پښتو لیک لوست او وییلو د سند د پاره کورسونه لولولی شي-- د امریکې په ګڼو پوهنتونونو کښې د پښتو د مختلفو درجو سندونه ورکولی شي چې پکښې د اریزونا پوهنتون کښې ژبپوهنه پنسیلوانیا پوهنتون کښې پښتو --پروفیشنسي او ټیکساس پوهنتون کښې پښتو د سمر انسټي ټیوټ برخه ده
دغه معلومات مې د مختلفو کتابي او بریښنایي ذریعو نه راغونډ کړل- په کال ۲۰۰۷ کښې په کابل کښې مې د روس پروفیسر صولت میرګن او د هندوستان روشن لعل ملهوتره سره په دې اړه خبرې شوې وې--- روسي صولت میرګن راته وییلي وو چې د تاجکستان په نیشنل یونیورسټي کښې د پښتو پروفیشنسي سند د پاره درس ورکولی شي- په ازبکستان کښې د پښتو ډپلوما د پاره درس ورکولی شي- په ماسکو او لینن ګراډ کښې د نورو مشرقي ژبو سره پښتو هم لولولی شي-- روشن لعل ملهوتره راته وییلي وو چې د هند په جامعه ملیه دهلي کښې د پښتو ډپلوما د یو کال تدریس کولی شي-- دغه شان په جواهر لال نهرو پوهنتون کښې پښتو د سرټیفیکیټ اف پروفیشنسي او هایي ډپلوما د پاره لولولی شي-- په چین او ایران کښې هم د پښتو تدریس په مختلفو سطحو شتون لري-- او د نړۍ په څنو نورو هیوادونو کښې هم د تدریس سره سره د تحقیق برخه هم لري--- د تحقیق او څیړنې د دوکتورا د سطحې ډیر موضوعات داسې دي چې د خارج نه پرې ډګرۍ راوړلی شوې دي--- د دوکتورا دغه لړۍ چې ښاغلي محمد رحیم الهام ډاکټر مجاور احمد زیار ډاکټر زرغونه رشتین ډاکټر خالد خان خټک ډاکټر صادق فطرت ناشناس او څنو نورو مشرانو رانیولې وه نو تر اوسنو کشرانو رارسیدلې ده--- په خارجي نړۍ کښې د پښتو د تدریس صرف همدغه حوالې نه دي چې ما یې یادونه وکړه-نورې هم شته--- د شکر مقام دی چې پښتو په علم او درس و ---تدریس کښې په نړیواله سطح یوه سیاله ژبه ده--- خدای دې په پښتنه خاوره هم سیاله کړي

## انسان او ایینه

د انسان یا انسانیت په اړه د یو پادري اشر یوه حواله سبط حسن په خپل کتاب --ماضی کے مزار --کښې راخستې ده چې پادري اشر انسان په دې زمکه څلور زره کاله زوړ ګڼي--- دغه خبره خو د ډیرو ثبوتونو سره رد شوې ده خو دې نه علاوه هم په روایتي توګه په زمکه د انسان یا انسانیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر اته زره کاله زوړ ښودلی شي چې دغه روايت هم د ارکيالوجي جيالوجي او انتهراپالوجي درې
واړو ټولنيزو علمونو د زمک کنستنې په نتيجه کښې لاس ته راغلو اثارو په مرسته رد کړې دی او
جوته کړې يې ده چې انسان په دې زمکه لکهونه کاله زوړ دی--- په دغه اوږد سفر کښې انسان په
يوه مرحله کښې ايينه يا هنداره هم پيژندلې ده---
د انسان وړومبۍ ايينه خو د هغه د شعوري ژوند د اغاز سره د هغه د خپل زړه او ذهن خيالات
کيدی شي چې هغه به ضرور ځنې عکسونه په خپل تصور کښې جوړ کړي وي چې د هغه د امروزه
ژوند د مشاهدې زيږنده کيدی شي--- خو دغه ايينه يې غير مريي يا غير مادي ګڼلی شو--- انسان
چې مادي ايينه پيژندلې ده دا هم زرګونه کلونه زړه ده--- دلته مونږ وييلی شو چې د انسان وړومبۍ
ايينه رڼې اوبه کيدلی شي چې پکښې به انسان ضرور خپل عکس ليدلی وي خو د اوبو نه هم علاوه
چې د انسان د مادي ايينې جړره لټوو نو د جے ايم انوچ د يوې څيړنې ترمخه وړومبۍ ايينه اته
زره کاله پخوا په اناطوليا موجوده ترکي کښې موندلی شوې ده چې د يو پړقنده کاڼي په په شکل
ده--همدغسې پړقنده کاڼي په لړ نور صفا شکل کښې په مصري يا زوړ عراقي تهذيب کښې موندلی
شوي دي چې انسان ترې د ايينې يا هندارې کار اخستی دی---په ايشيايي تهذيبونو کښې ايينه په
نور صفا شکل کښې څلور زره کاله پخوا موندلی شوې ده- تر دغه دوره د کاڼيزو هندارو رواج وو
چې دغه دور نه پس پخواني چين او يونان د اوسپنې پيتلو او چاندۍ پړقنده ايينې جوړې کړې ----
د شيشې هندارې په وړومبۍ عيسوي پيړۍ کښې پخواني لبنان ايجاد کړې دي-- چې په عربي او
سامي نړۍ کښې د رياضۍ يو ماهر ابن ساحل ورته په لسمه عيسوي پيړۍ کښې نوي رنګونه ور
وبخښل او شغلې تمبونکې هندارې يې هم راوپيژندې چې انګريزۍ کښې ورته پيرابالک ميرر
وايي---جرمني په شپاړسمه عيسوي پيړۍ کښې نوره تنوع او رنګارنګي ورکړه--- او ورسره د
شام او حلب ښارونه هم د هندارو مرکزونه جوړ شول---
دغه اوږده قيصه مې ځکه وکړه چې ايينه نه يواځې د انساني ژوند يوه اهمه برخه ده بلکې په
نړيوال ادب کښې يې هم ذکر په تکرار سره راغلی دی او بيا زمونږ په پښتو ادب کښې هم د ايينې
يادونه په شدت سره شوې ده---- د شعرونه مثالونه خو يې ډير زيات دي خو کاظم خان شيدا چې په
ډيرو ګڼو او جدا جدا معنو کښې راوړې ده نو څو چوڼ مثالونه به ترې وړاندې کړم---

د حيرت جوهر نصيب د تيره زړه وي
د فولاد بيضه کجا ايينه چرته

د مرات غوندې جوهر په ايرو ورکا
کله فعل د صاف دل وي بې حکمته

ورک په شان کړم د مهتاب سيه روزيه
ايينه مې زنګ اخلي له پردازه

هر چې مات د زنګ لښکر کا سکندر شي
د خاطر جوهر صفا د سجنجل کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د برکت د پاره به د رحمان بابا په ژبه ووایم چې
----- ایینې غوندې بې رویه بې ریا یم-------

---

په زبان مې د صدا په عوض کے دے
شعله خیز مې چې د شمعې په شان نے دے
---وضاحت
-صدا--- اواز ته وایي
نے--- شپیلۍ ته وایي
کے ---  اصل کښې د عربی --کی -- دے چې مطلب ئې دے، داغ ورکول، گرمول یا په گرم ځیز
--- هوارول
شیدا وائي چې زما په ژبه دومره گرم بیان راځي چې ژبه مې اور وروي او دغه گرم بیانۍ سره مې په ژبه تور داغ جوړ شوے دے - بېخي داسې لکه چې د شمعې په خله کښې یو نرے تار راوتے وي- او د دغه تار سر تور وي-- دغه تار لکه چې د شمعې ژبه راوتې وي چې اور هم وروي او د توروالي داغ هم لري او بیا د شمعې اوږد شکل د شپیلۍ د اوږد شکل سره هم سمون خوري نو ځکه د دې شعر دویمه مصرعه کښې نے یعني شپیلۍ  تورے هم راغلے دے، اوس شمع چې په خپل سر راوتي تور تار یا خپله خله کښې راوتي ژبې نه شعله خوروي، گویا چې د شمعې په ژبه اور بل دے یا یې ژبه اور وروي-- دغه د شمعي اور وریني خبرې دي- ځکه چې خبرې په ژبه کیږي او د شمعې خله کښې راوتے تور تار هم لکه د شمعې ژبه وي چې اور پرې بل وي - دغسې شپېلۍ نه هم چې آواز راوځي نو لکه چې د شپیلۍ ژبه هم گویانه ده- هغې کښې هم داسې درد وي چې د مینو په زړونو اور پورې کوي، گویا د شپیلۍ ژبه هم اور وریته ده. دغه تناظر کښې شیدا وائي چې زما په زبان یا ژبه د آواز په ځای تور داغ دے، لکه د شمعې په خله کښې د تور تار غوندې -- ځکه زما شپیلۍ هم لکه د شمعې شعله خېزه ده - او اور وریته ده- په خپل آواز کښې ---شعلې خوروي. گویا د زړه درد لکه د لمبو راوباسي
غور وکړئ چې شیدا خپل زړه کښې پروت درد سوز او د زړه سوے چې په ژبه راولي نو یو خوا یې د شمعې په ژبه بل اور سره تشبیه کوي او بل خوا یې د شپیلۍ په ژبه راغلي دردناک او اور ---ورین اواز سره نسبت راوړي خو دومره په هنر چې شعري مثال یې پیدا کول گران دي

---

----د گران همه تن گوش د یو پوسټ په تاثر کښې مې د دې وضاحت ضرورت محسوس کړو امریکنے پروفیسر او ساینسدان نیل ارمسټرانګ (1930..2012) په جولایي 1969 کښې سپوږمۍ ته تلے وو چې ډېر خلق یې مني هم نه خو د همدغه مزاج ډېر خلق بیا د ډېر عقیدت نه وایي چې هغه په سپوږمۍ د اذان اواز واوریدو او بیا مسلمان شو--- دغه خبرونه د انډونیشیا او ملایشیا نه علاوه د نورو اسلامي ملکونو په ورځپاڼو او مجلو کښې هم خپاره شوي وو-- تر دې چې د مولانا وحیدالدین غوندې د نوي او ساینسي فکر دانشور هم د نیل ارمسټرانګ نه وضاحت غوښتے وو-- ځکه نیل ارمسټرانګ یې د مولانا مرحوم په نوم دغه ورکړے شوي خط کښې پخپله وضاحت کړے دے چې نه خو ما د اذان اواز اوریدلی دی او نه مسلمان شوی یم - ارمسټرانګ که مسلمان شي او که نه د اسلام پرې هیڅ نه کمیږي او نه زیاتیږي - ځکه مناسبه لار دا ده چې مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ساینس او مادي کاینات ته د عقیدت په ځایي د حقیقت په سترګه وګورو--- د ارمسټرانګ خپل --وضاحت د هغه دغه خط کښې کتلے شئ---په نورو اړخونو یې تبصره نه کوم**

---

**هر چې مات د زنګ لښکر کا سکندر شي**
**د خاطر جوهر صفا د سجنجل کا**

**وضاحت....**
**زنګ.په دې شعر کښې په دوو معنو راغلی دی...زنګ یعنې تورو‌الی...او زنګ.یعنې زنګیان یا تور نسلونه...**
**سکندر-- نه مراد لوی فاتح سکندر اعظم دی... او په فارسی کښې د سکندر معنا ده ښه بخت --لرونکی--- خوش نصیب--- بلند و بالا--- سرلوړی**
**خاطر --- زړه یا طبیعت ته وایی..**
**جوهر-- یعنې صلاحیت...**
**سجنجل --- عربی کښې آیینې یا هندارې ته وایی....**
**د شعر اسان مطلب خو دادی چې څوک زنګیانو یعنې تورو نسلونو ته ماتې ورکولی شي نو هم هغه سکندر جوړیدی شي...او بیا دغه فتحې سره یی د زړه ایینه یا طبیعت د غصې د ګردوغبار نه داسې صفا شي لکه د آیینې د مخ نه چې ګرد صفا شي او په جوهر یا د عکس ښودلو په صلاحیت کښې یی اضافه وشي...**
**دا شعر د خپل تکنیک له مخه لږ نور هم غور غواړي....د زړه نه زنګ لرې کیدل. د زړه سپکولو او غصې لرې کیدلو مفهوم لري نو داسې وییلی شي چې طبع یی صفا شوه.دغه کیفیت د پاره شیدا د آیینې د مخ صفا کیدل اصطلاح راوړې ده.بیا دې ته هم غور وکړئ چې د آیینې مخ څومره صفا وي او اپوټه اړخ یی څومره د زنګ نه تور وي هومره دآیینې طبع صفا وي او عکس هم صفا ښایی...او دغه زنګ چې په اپوټه اړخ وي نو ګویا چې زنګ په شا تللی دي او ماتې یی خوړلې ده نو ورسره د زنګیانو یعنې تورو نسلونو د ماتې او شکست خبره شوې ده....په دغه تناظر کښې شیدا د سکندر اعظم زنګیانو ته د ماتې ورکولو تاریخي واقعه بیان کړې ده چې دغه فتح په ډیره ګرانه تر لاسه شوې وه نو ځکه پرې د سکندر زړه یخ شوی یعنې طبع هم صفا شوې وه او په جنګي جوهر او صلاحیت کښې یی نوره هم اضافه شوې وه لکه د آیینې چې تور زنګ شاته اوړلو سره طبع صفا شي او د عکس ښودلو جوهر کښې یی اضافه وشي...دې شعر کښې کمال دا دی چې تور زنګ د ایینې شاته تللو سره د ایینې مخ صفا کیدل یا یې طبع صفا کیدل او ورسره په مناسبت کښې د جنګ میدان کښی د تورو زنګیانو لښکر شاته تلل یعنې ماتې خوړلو سره د سکندر د زړه زنګ رژیدل او طبع یې صفا کیدل شیدا څومره په هنري نزاکت راوړي دي --- چې دغزل او تغزل شان هم --دغه هنري تکنیک او نزاکت دی**
**مجموعي پیغام دادی چې دنیا کښې هر مشکل کار تر سره کیدی شي او هم هغه سړی لکه د سکندر کامیاب دی چې مشکل نه مشکل کار تر سره کړي....**
**نوټ....۱...جوهر د عرض متضاد هم دی..چې مفهوم یی ما پریښی دی**
**۲....د آیینې او سکندر سره د....آیینهٔ سکندري....روایت هم ترلی دی چې زه ترې راتیر شوم...**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خوږو مينه والو**

**سخکال چې د صدارتي ايوارډونو اعلان وشو او بيا يې لسټ جاري شو نو زما نوم پکښې نه وو-- بيا هغه لسټ مخې ته راغلو چې زمونږ صوبايي حکومت مرکز ته ليږلی وو - هغې کښې زما نوم شامل وو--- بيا د ګران فاروق فراق د يو پوسټ نه خبر شوم چې مرکزي حکومت د هغه څه د پاسه درې سوه نومول شوو لسټ يو سل څلور ته راکم کړی دی چې پکښې نه يواځې زما بلکې يو د بختيار ختک نه علاوه د ادب او هنر ټول د پښتونخوا نه ليږلی شوي نومونه اخوا کړی شوي وو--- فراق زما مينه والو ته وييلي وو چې دوئ دې خپلې مبارکۍ راروان کال ته وخنډوي---زه وايم چې دغه ايوارډ که راروان کال ته هم يا لس کاله پس هم يا په ټول عمر کښې هم نه راکوي نو ما د پاره کومه معنا نه لري--- که معنا لري نو هغه زما د مينه والو دغه بې مثله مينه ده چې ما سره يې په سوشل ميډيا په خپلو پوسټونو او کمنټونو مسيجونو او فونونو کښې څرګنده کړه--- دغسې مينه زه هره ورځ په دلو دلو د دغو درنو مينه والو نه اخلم--- زما ايوارډ همدغه دی--- دې نه لوې ايوارډ مې نه پخوا بل کوم ګڼلی دی او نه به يې راروان وخت کښې وګڼم--- ما سره دغه صادقه مينه لرونکي دې الله کريم تل سرلوړي لري--- قسم دی که جواب ازاله يا صله يې لرم--- په دغو درنو مينه ناکو پټمنو او قدرمنو ژوندی يم او د ژوند په خوندونو سرشار يم--- ټول زما له خوا --هم دغسې بې توله مينه واخلئ--قربان**

---

**هيڅ بُرش يې عريان تيغ له لاسه نه کا**
**چې په طور د هلال سايه پرور دی**
**وضاحت.......**
**څه موده پس به د شيدا په دغه شعر خوند واخلو-- په دې شعر پوهيدل او تل ته يې رسيدل بار بار غور غواړي. د نازک خيال کايناتي مشاهدې او فني تکنيک څه نادره نمونه ده---بُرش--فارسی کښې پريکولو يا غوڅولو ته وايي---**
**عريان تيغ --- يعنې بربنده توره.**
**هلال --- د وړومبۍ شپې نرۍ سپوږمۍ.**
**سايه پرور --- يعنې په سيوري کښې لوې شوی ، په نازونو کښې ساتلی شوی.ا**
**اوس غور وکړئ سپوږمۍ د زمکې نه چاپيره چورلي او زمکه د نمر نه.دې چکر کښې د زمکې مخلوق ته د سپوږمۍ صرف هغه برخه ښکاري چې د نمر رڼا پرې پريوځي او نوره برخه چې په سيوري کښې وي هغه نه ښکاري.دغه چکر کښې هره ورځ د نمر رڼا په سپوږمۍ تسلسل سره زياتيږي او سپوږمۍ ورو ورو غټيږي چې په څوارلسو ورځو کښې په ټوله سپوږمۍ د نمر رڼا پريوځي نو شپوږمۍ مهتاب شي يعنې پوره شي او د سيوري نه مکمله راوځي-- ګويا سپوږمۍ خپل دغه پيغلتوب ته د سيوري په تسلسل کښې راورسيده او چې پيغله شوه نو اوس ورته د چا د سيوري ضرورت نشته--.شيدا دغه د سپوږمۍ په سيوري کښې غټيدل داسې ګڼي لکه نيازبين محبوب چې د ميين د مينې د سيوري لاندې پيغلتوب ته رسي او ميين يې ټول نازونه په خپل سر اخلي.بيا دې ته هم غور وکړئ چې د سپوږمۍ د ماشومتوب په وخت يعنې د وړومبۍ شپې د نرۍ سپوږمۍ يعنې هلال شکل هم د يوې نرۍ کږښې په حيث د تيرې تورې غوندې وي.بيا دا هم پام کښې ولرئ چې شيدا د تورې په لاس کښې نيولو خبره هم کړې ده نو د محبوب نرۍ بربنډې ليچې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو هم د بربنډې تیرې تورې غونډې وي.خو چې نازپرور او نیازبین محبوب لکه د هلال د پیغلتوب د نازونو او مینې په سیورې کښې رالوې شوی دی نو د تورې غونډې بربنډې لیچې یې هم او ورسره په لاس کښې یی د هلال غونډې تیره توره هم هیڅ بُرِش نه کوي - یعنې غوڅول او پریکول نه کوي ځکه چې په دې مرحله کښې خو محبوب هم په طور د هلال دی -- نازپرور دی -- د نازونو په سیورې کښې رالوې شوی دی. نو د شعر مفهوم دا شو چې------ حسین او نیازبین محبوب چې لکه د سپوږمۍ د نازونو په سیورې کښې رالوې شوی دی نو بس عریان تیغ یا بربنډه توره یې هم غوڅول نه کوي--- ځکه چې نازک او نیازبین رالوې شوی دی---او توره چلول خو سخت ژوند او -مشق و ریاضت غواړي**

**د دې شعر تشریح له نورو زاویو هم کیدی شي خو فلحال یی په دغه زاویه غور وکړئ او د شیدا په طبع آفرین ووایئ.**

---

**زیری**

**د کاظم خان شیدا عقیدت مندو او زما مینه والو لوستونکیو ته زیری ورکوم چې د شیدا د تفصیلي شرحې دویمه برخه تکمیل شوه--- کمپوز یې هم تکمیل ته نزدې دی-- که خدای کول دوه میاشتو کښې به کتابي شکل کښې زمونږ لاسو کښې وي-- په وړومبی برخه کښې د دیوان وړومبي څوارلس نظمونه او یو سل دیرش غزلونه شرح شوي وو چې په کال دوه زره اوولس کښې کتابي صورت کښې چاپ شوي وو او بیا د شیدا عقیدت مندو به رانه بار بار د دویمې برخې پوښتنه کوله--- اوس دویمه برخه کښې یو سل شپږ پنځوس غزلونه نور شرح شو-- دغسې په دیوان کښې د غزل برخه تکمیل ته ورسیده چې ټولې دوه سوه شپږ اتیا غزلې دي--- اوس دیوان کښې د شیدا رباعیات-- قطعات-- تاریخونه-- او څو متفرق نظمونه پاتې شو چې دغه هر څه به زما د شرحې دریمه برخه وي--- د دغه دریمې برخې د پاره هم را ته د الله کریم نه د ژوند دعا غواړئ چې د --شیدا مکمل دیوان په دریو برخو کښې شرح کړی شم--- او د شیدا دغه ګیله هم ورکه شي چې**

**په تدوین د خپل زبان ځکه نادم یم**
**چې ونه شوه په محل ګل افشاني**

---

**:طارق وزیر**
**دا د هندي مکتب ځانګړني له پښتو او فارسي ورهاخوا د نورو ژبو خاصتاً انګریزي شاعری کښې هم شته؟**
**:حنیف خلیل**
**په انګریزي شاعری کښې نۀ شته، وجه یې داده چې دغه سبک خصوصاً د غزل لپاره دی که څه هم د شرق د شاعری په قصایدو او نورو منظوماتو به یې هم یو څه اغیزې ولیدل شي خو انګریزي او نورو د غربي ژبو ادب کښې نه خو غزل شته او نه دغه نور شرقي صنفونه--- دا هم جالبه ده چې د شرق په شاعری کښې هم په اردو کښې خو به د غالب په شاعری کښې دغه د هندي سبک نخښې ولیدی شي او یو څه د مومن په شعر کښې خو د سندهی پنجابی سرایکی او بلوچی وغیره شاعري -هم له دغو هنري باریکیو او تکنیک ناخبره ده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انګريزي کښې نظم ليکل کيږي پابند ازاد معرا او يا بيا نثري شاعري-- ځکه په غربي شاعرۍ کښې د شرقي شاعرۍ غونډې فني تکنيک نهٔ شته، نهٔ يوازې انګليسي بلکې فرېنچ،جرمن او نهٔ نورو کښې دا تکنيک شته ځکه هغوئ سره غزل نهٔ شته.
په انګريزي شاعرۍ کښې تمرکز په مضمون او مانا دی که څهٔ هم د انګريزي د مزاج مطابق خپل تکنيک لري خو له شرقي شاعرۍ بلکل بدل دی.
نور انګريزي کښې نازخيالي نهٔ شته او که څه هنري ښکلا لري هم نو کاملاً بدله ده.

---

مضمون افريني او هندي مکتب

مضمون افريني څهٔ ته وايي؟او د هندي مکتب د شاعرانو لپاره څومره مهمه ده؟--- طارق وزير

حنيف خليل:
کله چې له لفظونو ډېرې ماناوې اخلو دا مانا افريني ده او دا د دې سبک د شاعرانو کار دی.
کله چې په يو شعر کښې داسې خيال راوړو چې د يو مضمون سربېره ضمناً بل مضمون هم بيان کړي،يا تر دې ډېر بيان کړي، نو دې ته مضمون افريني وايو.
کمال يې دا دی چې داسې کليمې پکښې راوړل کيږي چې مضمون هم بدل کړي او ماناوې ډېرې کړي؛ دا د هندي مکتب د شاعرانو يو فني نزاکت دی.
د کاظم خان شيدا  بيتونه درته وايم.
رنګيني يې د اشعار تر حنا زېب کا
د شيدا ديوان په لاس واخلئ خوبانو
اوس مضمون دا دی چې خوبانو ته دا وييل غواړي چې تاسې لاسونه رنګين کول غواړئ نو نکريزې په لاس اخلئ-- خو تاسې يو وار د نکريزو پر ځاې د شيدا ديوان خو په لاس واخلئ-- لاسونه د نکريزو پر ځاې د شيدا پر ديوان رنګين کړئ ځکه د شيدا ديوان تر حنا رنګين دی، دا يو مضمون شو.
بل مضمون چې اصلي يې هم بللی شو دا دی چې تاسې د لاسونو رنګيني غواړئ خو د ذهنونو رنګيني مو نهٔ خوښيږي، د لاسونو له رنګينۍ د ذهن رنګيني مهم ده او ذهنونه د شيدا د ديوان په را اخيستلو او لوستلو رنګينولی شئ.
يو بل بيت درته وايم:
د اسمان په شانې تېز د فتنو تېغ کا
صبح و شام ګرځي ښکاره په سرو منګولو
دلته شاعر دا وييل غواړي چې محبوب يې په سرو ښکلو منګولو او ناز او ادا داسې خلک قتلوي لکه څوک چې په توره قتل کوي او په تيرهٔ توره اسمان هم فتنې کوي-
اوس مضمون افرينۍ ته سوچ وکړئ! منګلولې رانغاړل د جنګ او وژنې نښه ده،منګولې د تورې په شان اوږدې وي،کله چې منګولې په نکريزو سرې شوي وي نو دا مانا هم ورکوي چې توره په وينو سره ده. نو دا چې د ښکاره ګرځيدلو خبره کوي خبره د ښکاره قتل ده او محبوب هم ښکاره ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بل مضمون دا دی چې صبح و شام تورې یې یادې کړي او اسمان هم ذکر شوی، نو سهر او ماښام په اسمان یو ډول منظر وي.
سهر چې لمر له غر نه څیره وهي،نو اول راتاو شان لکیره راښکاره شي،چې د تورې غوندې تیره کربښه ښکاري او دغه وخت رڼا او شغلې هم سرې وي. مضمون دا دی چې لمر د تورې غوندې کربښه ده،نو چې سره کربښه ده قتل هم توره په وینو سره کوي.
کله چې لمر ولویږي یوه نرۍ سره لکې پاتې شي،نو دا بیا د یوې سرې شوې تورې شکل پېش کوي، نو دا منظر سهر او ماښام وي څکه شیدا وییلي چې صبح و شام ګرځي ښکاره په سرو منګولو
اسمان څکه ورسره یادوي چې سهر او ماښام پکښې د سرې تورې شکل جوړیږي او محبوب صبح و شام لېچې رانغاړي او قتلونه پرې کوي.
اوس غور وکړئ چې په یو بیت کښې څومره مضمونونه راجمع شوي او لفظونه مختلفې ماناوې ورکوي. مثلاً د لمر سرې کربښې ته توره وییل،لېچو ته توره وییل،بربنډې لېچې له تیکې د راویستې تورې سره تشبیه کول،د سهر او ماښام د منظر ورسره بیانول دا هغه مضامین دي چې په دوو مسرو کښې شیدا بیان کړي او دا مضمون افریني ده او له لفظونو جدا جدا ماناوې را ایستل مانا افریني ده.
نو مضمون افرینۍ او مانا افرینۍ د هندي سبک شاعرانو په لویه پیمانه د خپل شعر د ښایست لپاره راوړي دي.

---

--طارق وزیر
د یو سبک یا مکتب پیروي کول او یا بیا ځانله بیله لاره ویستل -- دواړو ته په کوم نظر ګورئ--
--- چې دغه پیروي د شاعر مقام ته زیان نه رسوي

حنیف خلیل:
دا خبره دې سمه ده، خو ما په ړومبو خبرو کښې وویيل چې سبک بېل او مکتب بېل څیز دی،سبک ځانګړی او مکتب اجتماعي وي.
که چېرې یو شاعر فقط د یو بل شاعر پیروي کوي نو خپل شناخت یې ختمیږي او فن ته یې تاوان رسیږي.
خو که شاعر د یو مکتب پیروي کوي چې مکتب یو اجتماعي رجحان دی،نو هغه په شخص پورې نهٔ وي تړلی؛ په همغه مکتب کښې نوښت کوي نوي استعارې،نوي ترکیبونه.... پیدا کوي.
نو شاعر باید په مکتب کښې دننه هم ځانګړی وي، که څهٔ هم باریکی او فني نزاکتونه هماغه وي خوسمبولونه،ترکیبونه،استعارې،صنعتونه،تشبیهات... یې خپل او جدید وي.
نو لنډه دا چې د شخصي سبک پیروي زیان لري خو د مکتب پیروي هم شناخت ورکوي او هم شاعر خپل فني نزاکتونه برقرار ساتلی شي.
د یو شخص د سبک پیروي اسانه ده او کوم لوی کار نهٔ دی، خپله لار پیدا کول ګران او مشکل تمامیږي.
د یو مکتب پیروي کومه بده خبره نهٔ ده خو مکتب کښې دننه خپله ځانګړتیا د خپل فن او تکنیک په بنیاد قایمه ساتل ضروري دي؛ په داسې حال کښې به یو شاعر ته د مکتب پیرو وایو خو د سبک

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پیرو یي نهٔ بولو؛ ځکه د سبک پیروي د یو شخص کیږي خو د مکتب اطاعت د یو پوره فکر او اندازِ بیان کیږي.**
**نو د سبک پیروي یعنې د یو شخص پیروي نقصاني ده چې شاعر پکښې خپل شناخت بايیلي تردې خپل وجو ورک کړي او د مکتب پیروي مشکل نهٔ لري--- دغه د سبک او مکتب پیروي تر دې حده ---هم نه ده پکار چې شعر د چا ژباړه یا بیا غلا او سرقه ښکاره شي**

---

**د هند خاوره - هندي مکتب--او استاد پسرلی**

**طارق وزیر:**
**تاسي وویيل په پښتو یوازینی شاعر شیدا دی چې د هندي مکتب شاعر دی، یوه پوښتنه داده چې د هندي مکتب د پیروی لپاره په هند کښې اوسیدل لازمي دي؟**
**بل د ځانګړنو په لحاظ استاد صدیق پسرلی هغه شاعر دی چې ستاسي ټولې بیان کړي ځانګړنې ددهٔ په شعر کښې په پراخه پیمانه موندلی شو.**
**مثلاً: له مدعالمثل یې شاعري ډکه ده او ټول مثالونه یې خپل دي:**
**مه کوه پسرلیه له تقلیده د عروج تمه**
**وګوره سایې ته که د غرونو هم وي پسته ځي**
**حس امیزي هم پکښې پریمانه ده:**

**اخر یې عشق دومره حساس کړمه چې ناز یې اورم**
**که په حیا یې رنګ هم الوځي پرواز یې اورم**
**د شمع سربېره پریمانه سمبولونه پکښې شته،پاراډوکس لري.**
**کایناتي مشاهدې یې کړي او خپلې تجربې یې شعر کړي دي.**
**مهمه خبره داده چې دا ځانګړنې خال خال هم نهٔ دي بلکښې تقریباً هر بیت کښې یې یوه نهٔ یوه ځانګړنه موندلی شو، نو فکر نهٔ کوۀ چې له شیدا سربېره استاد پسرلی هم د دې مکتب لوی شاعر دی؟**
**حنیف خلیل:**
**کله چې دا سبک منځته راتلو نو هغه وخت کښې یې لویه غوښتنه په هند کښې اوسیدل ؤ، وجه یې دا وه چې د هند دوه قسمه اغېزې وې: یو د هند د موسم،ماحول،د زمکې زرخېزي،جغرافیې او د طبیعي حالاتو تاثیرات ؤ چې ذهنونه به پکښې زرخېز ؤ او د هندي سبک باریکی او فني نزاکتونه د شاعرۍ برخه شوه.**
**دویمه اغېزه د ټولنیز ماحول وه،چې هند بدل شرایط لرل حکمرانانو به شاعرانو ته روزنه او مراعات ورکاوه او ماحول یې ورته جوړواه.**
**دا د لومړي دور خبرې وې خو ضروري نهٔ ده چې نور دا سبک ختم شو بلکې سبک په مکتب بدل شو او هر څوک چې غواړي په هر دور او هر ځای کښې یې پیروي کولی شي.**
**اوس وخت کښې حتی د حمزه بابا په شعر کښې یې هم ځینې ځانګړنې لیدلی شو خو په هغه پیلچتیا نهٔ دي راغلي چې څنګه شیدا راوړي، دي-- سره د دې چې حمزه بابا هم په خپل شعري تکنیک کښې له شیدا متاثر دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



.د پوښتني دوهمي برخي ته به راشم
په اوسني دور کښي که په کامله توګه له پوره پیچلتیا سره د هندي سبک ځانګړني په چا کښي
.وینو، هغه استاد پسرلی دی
استاد پسرلي د هندي سبک ټول شاعران ډیر ژور لوستي لکه:طالب املي،غني کشمیري،بیدل
...دهلوي،صایب تبریزي او نور
.د پسرلي صیب مزاج هم ورته جوړ ؤ چي دهٔ دا ځانګړني خوښولي
.بل پسرلي صیب په پښتو کښي کاظم خان شیدا هم ډیر دقیق لوستی دی
.نو په نن دور کښي د هندي سبک د ځانګړتیاوو لیدنه تر ټولو ډیره په پسرلي صیب کښي کیږي
.نن هم د هندي مکتب پیروي کیدلی شي چي اوس یي هم ځیني شاعران کوي
که لومړي دور ته ځو نو هلته د جغرافیې،حکمراني طبقې او سیاسي حالاتو ژور اثر ؤ چي اوس
.وخت کښي د هغو اثراتو د اغیزې ضرورت نهٔ شته
زموږ مخي ته د هندي مکتب شاعران پراتهٔ دي چي ټول ټکنیکونه یي خپلولی شو لکه پسرلي صیب
.چي خپل کړي دي
نو ویيلی شو چي په پښتو کښي د هندي سبک په کلاسیک کښي تر ټولو لوی شاعر شیدا او
.معاصره شاعرۍ کښي یې لوی پیرو استاد پسرلی دی
شیدا خو د هند په خاوره کښي ژوند کاوه او هماغه وخت دا سبک غوړیدلو،خو پسرلي صیب په
پښتنه خاوره ټول تاریخي پس منظر،شعري ټکنیک او ټول نزاکتونه مطالعه کړي او ترې متاثر دی-
د پسرلي صیب د شعرونو مثالونه راوړل ځکه ضروري نه ګڼم چي نزدې نزدې ټوله شاعري یې د
--هندي مکتب دغه شعري تکنیک کښي رنګ ده

---

--فارسی او پښتو کښي د سبک هندي شاعران څوک دي --- طارق وزیر

حنیف خلیل ---- فارسی کښې د دې مکتب بنسټګر بابا فغاني دی،چې صفوي دور ته نږدې تېر
.شوی
په فارسي کښي بابا فغاني نه پس غني کشمیري - صائب تبریزي،شوکت بخارایي،طالب املي،میرزا
.بیدل دهلوي او ځیني نور د دې مکتب لوې شاعران دي
پښتو کښې یي لومړنی شاعر حمید بابا دی، که څهٔ هم د رحمان بابا ځینو شعرونو کښي هم د هندي
.مکتب ځانګړني موندلی شو خو رحمان بابا مشکل پسند نهٔ ؤ او د عراقي سبک پیرو ؤ
ځیني نور شاعران هم شته چي ځیني ځانګړني یې په شعرونو کښي شته خو په ټوله مانا د هندي
مکتب شاعران نهٔ دي لکه: علي خان،کامګار خټک،بیدل هشنغری،خواجه محمد بنګش،حنان
.بارکزی،پیرمحمد کاکړ او شمس الدین کاکړ
زما سکوټه رایه داده چي په پښتو کښي د هندي مکتب شاعر ایکي یو دی او هغه کاظم خان شیدا
دی،په دې نورو نومونو یې اغیزې شته خو دوئ نهٔ د هند ادبي ماحول لیدلی دی،نهٔ یي د هند په اب
و هوا کښي شاعري کړي ده،د هند د زرخیزې زمکي اثرات یي هم نهٔ دي اخیستي، او نه یي د هند د
حاکمانو له خوا د شاعرانو قدرداني لیدلې ده چي ورسره نور تشویق شوي واې - دوئ فقط په خپل
.وطن کښي د هندي مکتب ځانګړنی مطالعه کړې دي او خپل شعر کښي یې ګډې کړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو تکراراً وایم چې پښتو کښې د هندي مکتب شاعر فقط کاظم خان شیدا دی او دا نورو کښې یې فقط ځینې ځانګړنې دي.**
**شیدا په فکري ژور والي او تخیلي لوړوالي کښې بلکل سیال نهٔ لري. پښتو خو څه چې کله کله خو تر فارسي هم لوړ ښکاره شي--- سره د دې چې د فارسي دغه یاد شوي د هندي مکتب شاعران یې ټول په خپله شاعرۍ کښې ستاییلي دي-- او د اردو غالب غوندې لوړ شاعر چې د زمانې په حساب هم تر شیدا وروستو وو او هغه هم د سبک هندي پیرو وو بلکل د شیدا د شعري نزاکت او تکنیک ---سیال نه ښکاري**

---

**د برصغیر د ویش نه مخکښې د پښتنو په سیمه د عدم تشدد د سیاست سره سره یو جوت اړخ د تشدد د سیاست هم وو چې دغه سیاست د کمیونزم د مفکورې نه متاثر وو او ورته به یې د چپ لاس سیاست یعنې اردو کښې -- باین بازو کی سیاست --وییلو  په دغه اړخ علمي لیکونه د نشت برابر دي-- د هند نومیالي ترقي پسند لیکوال او سیاستدان ګور چرن سنګ په دغه اړه ډیر نادر معلومات په خپل کتاب --- وه بھی دن سن--کښې ځایې کړي دي--- دغه کتاب په وړومبي ځل په ګورمکھی لیک دود کښې چاپ وو-- بیا انور خان دیوانه مرحوم د مردان د یو هندو امرنات په مرسته اردو ته راواړولو-- بیا ورسره ما خپل وضاحتونه او مقدمه ملګري کړل او په اردو کښې مو د ---وه بھی دن تھے -- په نوم چاپ کړو چې حیرانونکي سیاسي معلومات لري او د پیرنګي ظلمونه او سیاسي حربې او بیا د هغې په جواب کښې د چپ لاس پښتنو سیاستدانانو قربانۍ او منصوبې رامخې ته کوي-- اوس دا کتاب چاپ شو او فلحال به د پیښور هر دکان نه ترلاسه کیږي د -- سانحه سرحد-- د چاپ کولو نه پس خپله دغه هڅه هم په ویاړ پیش کوم - یقین لرم چې زما دغه هڅې ته به په درنه سترګه کتلی شي--**

---

**هندي سبک به څنګه پیژنو -- ځانګرتیاوې یې څه دي**

**هندي سبک کښې بنیادي خبره تازه ګویي او د بیان نوی انداز خپلول وُ. د بیان نوی انداز په نوو تشبیهاتو،نوو استعارو،سمبولونو او ترکیبونو خپلول پکار وُ، چې د فارسي شاعرۍ روایت باید بدل کړي.**
**نوي کایناتي مشاهده هم لازمه بلل کیده.**
**دوهمه خبره پکښې دا وه چې خبره باید ساده او اسانه نهٔ وي، ځینې شاعران فقط د مضمون د رسولو هڅه کوي، خو دوئ وغوښتل چې نوې خبره دې په جدید او پیچلي انداز کښې وړاندې کړی شي،یعنې خبره دې په غوټو کښې انغښتي وي چې د پوهیدو لپاره باید غوټې پرانستل شي چې د خوند اخستلو سبب وګرځي؛ د دوئ مشکل پسندي فقط په لفظونو کښې نهٔ وه مشکل پسندي یې په شعري تکنیک کښې هم وه. دا مشکل پسندي په ابهام نوي صنعت بدله شوه یعنې یو څهٔ داسې پرېښودل چې لوستونکی په غور کولو مجبور کړي ابهام بلل کیږي.**
**د مشکل پسندي لپاره به یې د فلکیاتو مشاهده  کایناتي مشاهده او خبرې،د جغرافیې د مختلفو اړخونو خبرې او د جغرافیې له علم شعري اصطلاحات را اخیستل، ساینسي شعور او فلسفیانه انداز خپلول د شعر برخه شوه او شعر یې مشکل کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله مهمه ځانګړتیا پکښې مثالیه اسلوب (مدعاالمثل) وه، دوئ به په یوه مسره کې ادعا کوله یعنې دعوه کوله او بله کښې به یې د ادعا د اثبات لپاره دلیل راوړلو.
حس امیزي هم پکښې مهمه وه، کله چې په انساني حواسو کښې د یو حس دنده بل ته ورکړل شي دې ته حس امیزي وایي؛ لکه سترګې لیدل کوي خو که ووایو چې سترګې وییل کوي نو دا حس امیزي ده.
بله خاصه یې تخیل امیزي وه، تخیل امیزي د لفظونو له لارې د نوو تصویرونو سازولو ته وایي. یو خیال کول وي او بل خیال سازول وي --- دغه خیال سازول اصل کښې تخیل دی او یا بیا تخیل امیزي ده --د خیال کولو په مرسته د نوي خیال سازول په هندي سبک کښې مهم شی ؤ. نوی خیال مطلب نوی خیالي تصویر جوړول ؤ چې فارسي شاعرانو به ورته محاکات وییل،محاکات هم د تخیل په زور د نوي تصویر سازولو ته وایي. دوئ به په دې کښې مبالغه کوله، تر دوئ وړاندې شاعرۍ کښې د تخیل په نسبت په فکر یا تفکر تمرکز ؤ،نو فکر کښې مبالغه کمه وي،فکر ژور او خیال لوړ وي،په فکر کښې مبالغه نۀ وي یا کمه وي او په خیال کښې مبالغه وي،د خیال په مرسته جوړ شوي تصویرونه ښکلا او خوند پیدا کوي.
بل دوئ ځانګړې او نوي سمبولونه راوړل، لکه (شمع) چې یو سمبول دی چې فارسي او پښتو شاعرانو په ګڼو ماناوو کښې استعمال کړی دی، (حباب) بل علامت دی په مختلفو ماناوو کارول شوی دی- خصوصاً کاظم خان شیدا په ډېرو ماناوو راوړی دی، (موج) یو بل سمبول دی ګڼ مفهومونه یې لرل،(ګرداب) هم استعمالیدۀ یا (ګرد باد) چې موږ ورته د پیریانو ډولی وایو په زیاتو ماناوو راغلو،چې دا نوي سمبولونو د هندي سبک پېژندګلو باندې بدل شول.
نو پورته څومره ځانګړني مو چې بیان کړې دا او دغسې د هنري نزاکت ځنې نورې ځانګړنې چې به د کوم شاعر شعر کښې وې او پوره شعري نزاکت او تکنیک سره به راوړل شوې وې نو هغه یې د هندي سبک لرونکی بالۀ. --
اوس پښتو کښې د هندي سبک شاعران څوک دي او دغه ځانګړنې پکښې څنګه راغلي دي--
شعري نزاکت او تکنیک یې څه دی--- دغه بحث هم راروان دی--

طارق وزیر سره مرکه

---

د هندي سبک غټ ماخذونه او پس منظر

څلور ماخذونه به دروښایم چې د هندي مکتب ځانګړني او پس منظر پکښې دی.
لومړی د ملک الشعرا بهار فارسي کتاب (سبک شناسي) دی چې د فارسي شاعرۍ یاد شوي ټول مکتبونه پکې معرفي شوي دي.
دوهم فارسي کتاب (صور خیال در شعر فارسي) دی چې پکښې پر هندي مکتب سربېره په نورو مکتبونو هم تبصره شوي چې شفیع کدکني لیکلی دی.
دریم فارسي کتاب (طلا درمس) دی چې دا د رضا براهني دی، په دې کښې هم په ټولو سبکونو ښۀ بحث شوی دی.
څلورم په اردو کښې د شیبلي نعماني کتاب هم مهم دی چې (شعر العجم) نومیږي، چې د فارسي ادب او شاعرۍ تاریخ پکښې دی. پنځۀ ټوکه دی او وروستي ټوک کښې پر هندي سبک تبصره شوي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتو کښې هم ځینې اثار شته.چې د دغو یادو کتابونو یا ځنو نورو ماخذونو پر اساس لیکلی شوي دي-
اوس به د هندي سبک یا مکتب پس منظر ته راشو--
هندي سبک په لسمه هجري پیړۍ کښې رامنځته شوی چې په ایران کښې د صفویانو دور ؤ او تر دې مخکښې تیموري واکمني وه چې په اواخرو کښې یې په شاعرۍ کښې بدلون راتللو خو د صفویانو په راتګ کاملاً د فارسي شاعرۍ روح بدل شو او له دې بدلیدونکي روح سره هندي سبک مخې ته راغلو.
د وخت سیاسي شرایط داسې وو چې انتشار او ذهني پریشانۍ خورې وې، نو شاعران د ذهني ارامۍ او سکون په لټون وو چې له دغو ګډویو فرار ورته په برخه شي، نو ځکه یې فلسفي تفکر،کایناتي مشاهدې او د غزل تکنیک ته زیاته توجه وکړه.
دوهم لامل دا ؤ چې ایران کښې د شاعرانو قدرداني کمه شوه، هغه اکرامونه او عزت چې تر دې مخکښې د شاعرانو په برخه وو بیخي کم شول، نو شاعرانو هند ته مخه کړه ځکه هند کښې مغل حاکم وو، چې د شاعرانو قدر یې کاوه. مغل خپله لیکوال،شاعران او د ښکلو هنرونو مینوال وو.
د هند اب هوا،موسم او حالات ډېر زرخېز ؤ چې ذهنونه به پکښې تازه وو، ځکه شاعرانو کایناتي او ژورې مشاهدې،تازه مضامینو او د ادب مطالعې ته توجه وکړه.
بل لامل دا ؤ چې کله له ایران شاعران هند ته ولاړل نو هلته نور نازکخیال شاعران موجود وو.چې په دغو راغلو شاعرانو یې د ماحول او شاعرۍ اغیزه فطري وه-
یو بله مهمه خبره چې، په فارسي کښې د مولانا،حافظ او سعدي شاعرۍ پر عوامو دومره پخه قبضه وه چې د هغوی څخه د نوي رنګ شاعري نهٔ کیدله.
تر حافظ لوی شاعر نهٔ ؤ نو تازه ګویي نهٔ وه چې دغسې پر غزل جمود راغی.
د غزل جمود ماتول پکار ؤ - څهٔ وخت خاموشي هم راغله خو وروسته تازه ګویي پیل شوه او هڅه دا وه چې تر پخوانو بدله او نوي رنګ کښې شاعري وشي چې هندي سبک رامنځته شو.
اوس د هندي سبک پیژندګلو څه ده-- غټې ځانګړتیاوې یې څه دي--- دا هم مخکښې راځي---

طارق وزیر سره مرکه

---

د مشرقي شاعرۍ څلور معروف مکتبونه

په مشرقي شاعرۍ کښې څلور مکتبونه ډېر مشهور دي او د څلورو واړو تخصیص په فارسي شاعرۍ کښې شوی دی او له فارسي وروسته په نوره مشرقي شاعري کښې دا مکتبونه خوارهٔ شوي دي.
۱:په فارسي کښې تر تولو پخوانی مکتب عربي مکتب دی،کله چې په ایران د عربو سیاسي اثرات وشول نو په فارسي شاعرۍ هم تر ډېره عربي اثرات وشول چې زیات یې ژبني اثرات وو -- د عربو توري فارسۍ ته ورغلل. د عربۍ د تورو او پېژندګلوۍ له وجې یې عربي مکتب بولي. د فارسۍ رودکي او د هغه همعصرو دغه مکتب کښې شاعري کوله--- پښتو کښې د دغه سبک پیروي نه ده شوې-

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲:له عربي مکتب وروسته دوهم مشهور مکتب خراساني مکتب دی،په دې مکتب کښې زياته پاملرنه ساده ژبې ته شي، د دې په خاطر چې د موضوع او محتوا ابلاغ موثر وشي.
ټينګار په ابلاغ ؤ نو ځکه ساده ژبې ته ضرورت ؤ. دغه سبک او بيا مکتب هم د فارسي غزل له ابتدايي دور سره تعلق لري. رودکي نه وروسته ځينو نورو شاعرانو يې پيروي کوله. پښتو کښې دغه سبک ته نزدې شاعري د اکبر زميداوري په غزل او ترې وروسته شاعرۍ کښې ليدی شي--
۳: له خراساني وروسته عراقي سبک يا مکتب رامنځته شو، په دې مکتب کښې زياته پاملرنه د موضوع او مفهوم پر ځای تکنيک ته وشوه، چې په غزل کښې بايد
تخيل،استعارې،سمبولونه،تشبيهات،موسيقي او تغزل راشي او هدف يې د شاعر ممتاز ښکاره کيدل ؤ.
جامي،سعدي او حافظ غوندې لويو شاعرانو يې فارسی کښې پيروي کړې ده.
حافظ د ښو موضوعاتو لکه اخلاقيات،انسان دوستي او تصوف د راوړلو ترڅنګ د غزل تکنيک عروج ته رسولی او دا سبک يې د تقليد قابل کړی. پښتو کښې دې سبک يا مکتب ته نزدې شاعري د رحمان بابا عبدالقادر خان خټک او څو نورو همعصرو ده--
تر دې وروسته هندي مکتب رامنځته شو چې زمونږ د بحث اصلي موضوع ده نو هغه باندې هسې هم تفيصلي خبره راځي.

د ګران طارق وزير سره زما مرکه---لږې تصحيح سره-

---

سبک او مکتب څه فرق لري

سبک او مکتب دوه جوت فرقونه لري - يو دا چې سبک په انداز بيان جوړښت او هنري اظهار زياته اړانه لري او فکر يا محتوا او مضمون يې اضافي برخه وي--- بل خوا مکتب په فکر او محتوا يا مضمون زياته اړانه لري او جوړښت يا انداز بيان يې اضافي برخه ده--- ځکه ورته انګريزي کښې --سکول اف تهاټ-- هم وايي يعنې فکري مکتب-- چې اساس يې فکر وي--
دويم توپير د سبک او مکتب دا دی چې سبک ځانګړی او مکتب اجتماعي وي، سبک ورو،ورو په مکتب بدليږي.
موږ وويل چې سبک د يو شخص ځانګړې لاره ده چې شاعر يا ليکوال پرې پيژندل کيدای شي.
که چيرې په دې ځانګړې اسلوب کښې زړه راښکون او زور وي،نو هغه نور خلک هم پيروی ته رابولي، کله چې څو کسان يې پيروي وکړي نو سبک په مکتب بدل شي او دغسې يو ځانګړې لاره اجتماعي او د ډېرو پيژندګلو جوړه شي.
دغسې هر مکتب په يو شخص، سيمه او زمانه پورې تړل کيږي.
سبک چې کله اجتماعي شي نو بيا ورته مکتب ويل مناسب دي، مثلاً د هندي سبک اصطلاح عامه ده خو هندي مکتب بايد ورته وويل شي ځکه دا سبک د سيمې،جغرافيې او زمانې په لحاظ اجتماعي شوی دی.
هندي سبک ويل هغه وخت مناسب ؤ چې کله چا ايجاد کړی ؤ، ځانګړی او يو شخص پورې مربوط ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو باید متوجه شو چې کوم سبکونه چې اجتماعي شوي او ډېرو يې پيروي کړې هغه سبکونه نهٔ دي پاتې، بلکې مکتبونه ورته ويل کيږي. د ډيرو اشخاصو سبک په خپل دور کښې په مکتب بدل شي لکه د رحمان بابا سبک چې په هم هغه وخت کښې د رحمان بابا مکتب جوړ شوی وو--- څنې سبکونه موده پس په مکتب بدل شي لکه د خوشال بابا مکتب --- او څنې سبکونه بيخي ځانګړې پاتې شي او د مکتب په لور سفر ونه کړي لکه د غني خان سبک---**
**د يو څه اضافې نه پس د ګران طارق وزير سره زما مرکه -**

---

**سبک څه شی دی**

**نوټ---**
**زلمي او د لوړ ذوق ليکونکي ښاغلي طارق وزير ته مې د سبک مکتب او هندي سبک په اړه په يوه مرکه کښې ځوابونه ويلي وو چې په سوشل ميديا دغه مرکه خپره شوې هم ده خو ډيره اوږده ده نو مناسب مې وګڼل چې يو يو ځواب يې بيل بيل د لږ ډير تصحيح سره خپلو د فيسبک ملګرو سره شريک کړم---- دغه يې وړومبی ځواب دی چې د سبک د مفهوم په اړه دی---**
**سبک د عربی ژبې کليمه ده او په عربی کې سبک دې ته وايي، چې کله کومه اوسپنه يا سره او سپين زر ويلي کړای شي، نوې سانچهٔ کښې واچولی شي او نوی شکل واخلي نو دې ته په لغت کښې سبک وايي--- دغه ويلي کړی شوو موادو ته د ويلي کيدو نه مخکښې سبيکه وايي او چې ويلې شي بيا ورته مسبوکه وايي؛ اصطلاحاً چې لفظونه،تراکيب،تشبيهات،استعارې... راغونډوو،د يو خيال د بيان لپاره يې په کار اچوو،ګويا خپل تخيل کښې يې لکه د سرو او سپينو زرو ويلي کوو-- او بيا ترې د شعر نوی شکل ټاکو نو دا زموږ د شعر سبک جوړيږي.**
**د سبک لپاره بله عربي کليمه اسلوب هم کارول کيږي چې د داسې سليقې،طرز،روش او طريقې په مانا ده چې په هغې کښې ځانګړتيا او انفراديت وي او اجتماعيت پکښې نهٔ وي، له دې ځانګړنو يو شاعر پيژندل کيږي.**
**يوه کليمه شيلي هم د سبک د پاره کارول کيږي -- دا نوم د سانسکريټ و ، نو همدا لغت په هندئ ژبه کښې د ادب د ښايست د پاره هم وکارېد، چې دا هم د سبک او اسلوب مانا لري.**
**په انګليسي کې ورته style وايي چې د يونانی د stilus نه جوړ دی-- دغه stilus يوه داسې اله وه چې تيره څوکه به يې لرله او د مومو په تختو به پرې نقش و نګار کيدلو چې بيا به يې يو نوی او ځانګړی نقش رامخې ته کړو--نو دغه سټيلس نه بيا سټايل اصطلاح جوړه شوه-- دا له ادب ورهاخوا د نورو هنرونو د ځانګړتيا لپاره هم استعماليږي. تر دې چې د ادب او هنرونو نه پرته د نورو عمومي شيانو د پاره هم د ځانګړتيا له مخه کارولی شي-- ځکه وييلی شو چې سبک -- اسلوب--شيلي-- او سټايل ټول د اظهار هغه سليقې ته وايي چې ځانګړتيا ولري-- د محتوا او انداز بيان دواړو له مخه---**

---

**د درويشتم اپريل ۱۹۳۰ د قصه خوانی په خونړی پيښه الله بخش يوسفي په انګريزئ کښې د --- دي فرنټير ټريجډي -- په نوم يو کتاب ليکلی وو چې اردو ترجمه يې انور خان ديوانه مرحوم کړې وه--- بيا په دغه پيښه د انګريز پټيل يو رپورټ تيار کړی شوی وو چې د هغې هم اردو کښې ترجمه شوې وه--- بيا څنې نور دستاويزات هم د دغه پيښې په اړه مخې ته راغلي وو--- ما دغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ټول مواد راجمع کړل او ورسره مې يوه مفصله مقدمه وليکله چې دغه هر څه اوس د يو نوي اردو کتاب--- سانحه سرحد-- په نوم زما مقدمې ترتيب او تدوين سره د ادب محل له خوا چاپ شول---دغسې زما په تاليفاتو کښې هم د يو نوي کتاب اضافه وشوه--- د لوستونکيو په خدمت کښې يې پيش کوم---**

---

**ښځه ----**

**ښځه د پښتو عجيبه کليمه يا لفظ دی-- د کوروداني په معنا هم او د عمومي ښځې په معنا هم--- د ډير لټون نه پس هم ما د دې لفظ جرړه د نړۍ په يوه ژبه کښې ونه مونده--- پکار وه چې په زړو اريايي ژبو کښې يې چرته ريښه تر نظره شوی وی خو ماته تر نظره نه شوه--- د کور ودانۍ په معنا په سنسکرت ژبه کښې هم هغه د هندۍ معروف لفظ-- پتني-- دی--- په فارسۍ کښې خو هډو مفرد توري لري نه-- هلته همسر دی--لکه عربۍ کښې چې زوجه دی--- خو همسر او زوجه خو متقابل جوړې ته وايي نو بيا خو همسر او زوج سړی هم کيدی شي يعنې د ښځې جوړه--- جرمن ژبه هم اريايي ريښه لري خو هلته -- فراو -- توری دی-- په يونانۍ کښې سايزيګوس دی چې دا هم-- ښځه -- لفظ نه ډير لرې دی-- دغسې جاپاني ژبه کښې -- تسوما-- دی چې لفظ ډير لرې نه دی خو ژبه پښتو نه ډيره لرې ده-- په سپينش ژبه کښې --- ايسپوزا--- دی چې ښځه لفظ ته نور هم نزدې کيږي خو دغه ايسپوزا اصل کښې د فرنچ -- ايسپاوس-- او د انګريزۍ -- spouse دی چې هم هغه متقابل جوړې ته وايي نو بيا دغه دواړه لفظونه د پښتو -- ښځه -- لفظ نه لرې کيږي-- ترکي هم مونږ ته نزدې ژبه ده--- هلته --- ايش-- دی چې د دې نه زيات پښتو ته نزدې توری د عبرانۍ --- ايشه--- دی--هر څو که عبراني سامي ژبه ده او پښتو اريايي--- خو دا امکان لري چې د عبرانۍ ايشه د ترکۍ په لاره تر پښتنې سيمې هم رارسيدلی وي--- په روسۍ کښې کوروداني د پاره--- ژينه-- لفظ راوړل شي چې --جينۍ-- لفظ ته نزدې دی--- خو پښتو کښې بيا جينۍ کم عمره ماشومې ته -- پيغله د واده عمر ته رسيدلې ناواده شوې ته او ښځه واده شوې ته وايي-- البته په يونانۍ کښې عام ښځې ته جينايکا-- وايي چې د جينۍ ريښه پکښې شته-- بلوچۍ کښې هم -- جن -- عام ښځې ته وايي خو دغه جن د فارسۍ د --- زن -- نه جوړ شوی دی-- چې زياتو ښځو ته بيا بلوچۍ کښې-- جنين -- وايي -- د عربۍ -- جن او جنين-- د پټ او خفيه په معنا دي چې د جينۍ د شرم و حيا د پټوالي سره يې نسبت کيدلی شي-- خو باقاعده عمومي ښځې د پاره عربۍ کښې د نسا او امرا توري راوړلی شي-- د سندهۍ -- زال- او د براهوۍ -- اورايي-- خو بيخي پښتو نه لرې دي--**

**نو نتيجه هم دا کيدی شي چې -- ښځه-- بيخي د پښتو خپل توری لفظ يا کليمه ده چې نه خو له کومې ژبې اخستلی شوې ده او نه بلې کومې ژبې ته تلې ده---داسې به پښتو کښې ګڼ شمير لفظونه راغونډ شي چې ريښه به يې چرته هم سمون نه خوري--- د دې وجه ما ته دا ښکاري چې پښتانه پخواني قبايلي او غرييز ژوند کښې د نورو خلقو نه ډير په ډډه او بيل پاتې شوي دی نو د تورو او کليمو اوړنه راوړنه يې هم پخواني دور کښې ډيره کمه شوې ده--- چې يو توری يا کليمه يې دغه ښځه هم ده---- زه که د پښتو خپله معنا يې کول غواړم نو هغه به هم دغه د --کور ودانې-- په تصور کښې وي يعنې کور يو مقام دی يا ځاې دی --- نو د ځاې ښه کوونکې --- ښځه کيدلی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شي--- ښه ځاې جوړونکي--- ښه ځاې ابادوونکي-- مطلب د ښه او ځاې دوه تورو مرکب--- ښځه--**
**دا زما خپل سوچ او اندازه ده--- اصل ريښه به يې د ژبو پوهان څرګندولی شي---**

---

**هميش خليل ------- ليک ..حنيف خليل**

**--------------------------------------------------------------------**

**د پښتو دا ستر محقق نقاد صحافي افسانه ليکونکی شاعر او ژباړن استاد هميش خليل د کال نولس سوه ديرشم د اپرېل د مياشتې په يولسمه ورځ د پيښور په مشهور کلي برتا کال کښې د انځر ګل کره پيدا شو . په خټه مرزا خېل مومند دی . خپل يو شعر کښې دغه حقيقت داسې ښائي : -**

**د باړې په اوبو لوې شوم دا دی زوړ شوم**
**که له خيله د مرزا يم په تمن کښې**

**د پينځو کلونو په عمر کښې د خپل کلي په سرکاري مدرسه کښې کښېنولے شو - د شپږم جماعت تر سره کولو نه پس د وړاندې تعليم د حصول د پاره اسلاميه کالجيټ هائی سکول پيښور ته لاړ، هلته د ثانوي تعليم د حصول نه پس د پيښور په اسلاميه کالج کښې داخل شو - دولسم جماعت کښې وو چې د يوې اوږدې ناروغتيا په وجه د سبق نه پاتې شو- خو وروسته يې په پرائيويټ توګه بيا څوارلسم پاس کړو- او هم يې د پښتو آنرز سندونه ترلاسه کړل . د طالبعلمۍ په زمانه کښې د همېش صيب د شاعرۍ ابتدا وشوه او تقريبا دولس کاله ادبي دنيا کښې د همېش ګل همېش په نامه پېژندلی شو. د طالبعلمی په زمانه کښې يو ډېر ښه لو بغاړی وو - د يو ميل د منډې چيمپين وو . او اکثر به په مقابلو کښې اول نمبر راتلو - يو ځل خو يې چې د لوبو په کليزه مقابله کښې يو ميل منډه په څلور نيمو منټو کښې ووهله، نو د دغه مقابلې زوړ ريکارډ يې مات کړو او بيا هم د دغه ورځې نه پس په فلائينګ هارس (Flying Horse) مشهور شو-- هم د طالبعلمۍ په زمانه کښې ئې د نغمه زار په نامه وړومبۍ شعري مجموعه چاپ شوه . د تعليمي سلسلې قطع کېدلو نه پس د کواپرېټو سوسائټۍ دفتر کښې په شپيته روپۍ مياشت بابو ولګېدو تقريبا شپږ مياشتې دغه ملازمت کښې وو-، دلته نوکرۍ نه يې بيا استعفی ورکړه او پاکستان ايئر فورس کښې د سيويلين کلرک په حيثيت نوکر شو. د همېش صاحب د زلميتوب ورځې شپې وې - قوم پرستي او انسان دوستي يې په خټه کښې اغږل شوې وه . د سياسي تحريکونو په اجلاسونو کښې د شموليت او سياسي فکر د خاوندانو سره د ناستې پاستې او تعلقاتو په وجه ئې په خيالاتو او شاعرۍ هم قومي رنګ غالب شو. نتيجه دا شوه چې د حکومت په نظر کښې مشکوک شو او په خپل دفتر کښې ګرفتار کړی شو. درې مياشتې د نحقۍ (پيښور) په تانه کښې د سی آئی - ډي پوليس د ظلمونو ښکار وو - وروستو بيا د پيښور په مرکزي زندان کښې د يو سياسي نظر بند په حيث بندي کړی شو - د نظر بندۍ په دغه دوران کښې د همېش صيب نظر بندي د هغه مشر ورور عجب ګل د يو درخواست په ذريعه د پيښور هائي کورټ کښې چيلنج کړه عدالت عاليه د مقدمې د سماعت نه پس هميش صيب د کال ۱۹۵۳ د نومبر د مياشتې په پينځمه ورځ رها کړو - ولې د ازادۍ سره سم هم د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدالت عالیه په حدودو کښې دوباره گرفتار کړی شو د دوباره نظر بندۍ په دوران کښې څه موده پس د کال درېِ پنځوسم د جنورۍ د میاشتې په دریمه ورځ اگر که همیش صیب هم د څنو نورو سیاسي بندیانو سره د صوبائي حکومت په حکم آزاد کړی شو - ولې موصوف لا د جیل له دروازې راوتلی هم نه وو چې په دریم وار یو ځل بیا د فرنټیر کور لاز مطابق دفعه 11 ایف - سي آر لاندې گرفتار کړی شو . دغه وار د یوې جرگې لاندې چې د پېښور په ستي مجسټریټ، پیښور په اسسټنټ کمشنر او نوښار اسسټنټ کمشنر مشتمله وه ، یوه بې وکیله او بې دلیله مقدمه وچلولی شوه -- د دې مقدمې سماعت د دغه کال د مې د میاشتې په ۱۱ ۱۲/۱۳ او ۱۵ تاریخونو د جیل دننه په جیل کلب کښې وشو - او هم د دغه کال او میاشتې په نولسمه ورځ د پېښور ډپټي کمشنر د جیل دننه همېش صیب ته د اوۀ کلونو د قید سخت ، او د پنځه زره روپو د جرمانې د جرمانې نه ورکولو په صورت د پنځو کلونو مزید قید ، سزا واوروله . د دغه سزا خلاف همېش صیب او د هغوئ مشر ورور عجب گل د جرگې د ذکر شوې فیصلې خلاف یو ځل بیا د پیښور عدالت عالیه ته د حبس بیجا خلاف رجوع وکړه - دا شان یو ځل بیا د مقدمې سماعت شورو شو - دغه مقدمه کښې هم همېش صیب سرخرو شو. او د عدالت عالیه په حکم د کال درې پنځوسم د نومبر په څلیریشتمه ورځ ازاد کړی شو خو د پیښور هائي کورټ د دغه فیصلې خلاف صوبائي حکومت سپریم کورټ لاهور کښې اپیل وکړو - ولې د کال څلور پنځوسم د مارچ په پینځمه ورځ د سپریم کورټ د دریو ججانو صاحبانو په متفقه فیصله د پیښور هائی کورټ فیصله په حال پاتې شوه - پرله پسې له الزامونو نه په سرخ رو کیدلو صوبائي حکومت د خپلې بدنامۍ پټولو د پاره یو ځل بیا همیش صیب هغه وخت گرفتار کړو چې موصوف د پېښور په لیډی ریډینگ اسپتال کښې ناروغه پروت وو - دا د کال څلور پنځوسم د نومبر اتلسمه ورځ وه - دغه وار ورسره پلار او کشر ورور عزیز گل هم گرفتار کړی شول - ولې څو میاشتې پس انتظامیې د خپلې غلطۍ د احساس له مخه د همېش صیب پلار او ورور پریښول - البته همیش صیب هفته نیمه د ناروغتیا په وجه اسپتال کښې د پولیس نگرانی لاندې وو . چې ښه شو، د نوښهر حوالات ته ولیږلی شو. د یوې هفتې نیمې پس بیرې ورواچول شوې او د شپې په ریل گاډي کښې د لاهور شاهي قلا ته ورسولی شو. تقریبا میاشت دوه هلته بندي وو - د تفتیش نه پس د لاهور پولیس پیښور ته واپس ولیږلو او د صوبه سرحد حکومت ته ئې ولیکل چې په ملزم د الزامونو په حقله هغوئ د سرحد پولیس سره متفق نه دي . پېښور ته د رارسېدلو نه پس یوې هفتې نیمې

د پاره یوځل بیا د نحقی تانې په حوالات کښې بندي کړی شو. وروستو بیا د مقدمې د فېصلې تر وخته په ضمانت آزاد شو - تقریبا دوه نیم کاله دا مقدمه ډوبه وه ، خو څه وخت چې یو ماتحت عدالت کښې وربانډې مقدمه و چلولی شوه، نو دغه مقدمه کښې هم د خپلی بې گناهی په وجه همېش صیب باعزته رها کړی شو .

مارچ شپږ پنځوسم کښې همېش صیب د هفت روزه جمهوریت پېښور نه د خپل صحافتي ژوند آغاز وکړو. تر دغه وخته موصوف د همېش گل همېش په نامه لیکل کول - خو هر کله چې پښتو ادب کښې هم په دغه نوم او تخلص یو بل شاعر پیدا شو نو موصوف څه خو په دغه وجه او څه د جبران خلیل سره د ادبي عقیدت له مخه خپل ادبي نوم همېش خلیل غوره کړو - د نوم هم دغه تبدیلۍ ته یې په خپل یو شعر کښې داسې اشاره کړېده :

څه عشق وو د جبران له خلیل توبه چې خلیل شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما د تخلص نامه په دې وجه بدله کړه**

**لکه چې ووئیلی شول چې همېش خلیل د خپل صحافتي ژوند آغاز د هفت روزه جمهوریت " پیښور نه اوکړو -**
**خانمیر هلالي د دغه مجلې مالک او مدیر وو-- د خپل وخت د پښتو ادب د یو ډېر لوی شاعر او ادیب مجله کښې په حیث د مدیر د راوستلو مشوره چا هلالي صیب ته ورکړه - خو هلالي صیب ورسره اتفاق ونه کړو - مارچ شپږ پنځوسم نه تر جولایي پورې همیش خلیل د مدیر په حیث ذکر شوې مجله کښې د خپل صحافتي کردار لوبولو نه پس د کال اووه پنځوسم د جنورۍ د میاشتې د وړومبۍ ورځې نه هفت روزه دوران پیښور ( اګر که دا مجله هفت روزه وه ، ولې پنځلس ورځې پس به چاپ کېده) کښې د مدیر په حیث کار شروع کړو او ورسره بې د نصر الله خان نصر مرحوم په معاونت د "دارالتصنیف " په نوم یوه تحقیقي او اشاعتي اداره هم جوړه کړه. همېش خلیل په یو وخت د مجلې چلولو سره سره د "دار التصنیف نه د پښتو په عالي شعر و ادب د تحقیق او اشاعت کار هم شروع کړو . او په لږه موده کښې ئې په وړومبي ځل ډېر نایاب دیوانونه د خپلو تحقیقي مقدمو سره چاپ کړل .**

**په ملک کښې د وړومبی مارشل لاء لګېدلو او ځنو خلقو د ګرفتارولو سره همیش خلیل هم په ۱۶ اکتوبر اووه پنځوسم کښې ګرفتار کړی شو - او هغه وخت د پنډۍ په مرکزي جیل کښی نظر بند کړی شو - تقریبا د ځلورو میاشتو د قید و بند په دوران کښې همېش خلیل یو ځل بیا په دویم وار د لاهور شاهي قلا ته ولیږل شو . قلا کښې د یوې هفتې تېرولو نه پس یوه ورځ سحر د لاهور ډسترکټ جیل ته ولیږلی شو- ولې هم په دغه ورځ ماښام د کاکاجي صنوبر حسین سره رها کړی شو -**
**اوه ورځني دوران " باندې د حکومت له خوا بندیز لګیدلی وو - ولې همېش خلیل یو ځل بیا د دار التصنیف نه د پښتو د عالي ادب په تحقیق او اشاعت لاس پورې کړو- هم په دغه کال موصوف " پښتانه لیکوال او ورکه خزانه دوه جلدونو کښې ولیکل او هم یې شائع کړل - چې ډېر ګمنام خو معیاري شاعران یې پکښې په وړومبي ځل متعارف کړل-**
**څه وخت چې باچا خان د مارشل لا، خلاف د سول نافرمانۍ تحریک شروع کړو، همېش خلیل هم د ځنو ادبي ملګرو سره د مئی د میاشتې په اخیري ورځ ګرفتار کړی شو . دغه وار د حکومت له خوا د ضمانت ورکولو او سیاست نه د کناره کشۍ د پیشکش په انکار درې کاله قید کړی شو او خپلو نورو ادبي او سیاسي ملګرو سره په ۲۶ جولائي دوه شپیتم کښې سنټرل جیل مچ ته ولیږل شو . دلته د یو کال قید تېرولو نه پس دسترکټ جیل جهلم ته چالان کړی شو. د څو میاشتو تېرولو نه پس سنټرل جیل ډیره اسمعیل خان او دلته هم نزدې د نهو میاشتو تېرولو نه پس سنټرل جیل هري پور ته ورسولی شو او اخیر هم دلته د قید پوره کولو نه پس په شپږم نومبر کال درې شپیتم آزاد کړی شو. دغه دوران کښې یې واده وکړو - همدغه دوران کښې د عامو انتخاباتو نه پس دورځپاڼې شهباز د اشتهارونو د څانګې د سربراه په حیث مقرر کړی شو. د شهباز" د بندیز نه پس د حکومت خلاف د پمفلټونو په لیکلو او اشاعت کال پس ونیولی شو. مقدمه ورباندې وچلولی شوه ولې باعزته رها کړی شو . دغه نه یو کال وړاندې یې د شعرونو دویمه مجموعه "زما سندرې او د افسانو وړومبۍ مجموعه چار ګل چاپ شول .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دوران کښې یو ځل بیا گرفتار شو . څو میاشتې د هري پور په زندان کښې د تېرولو نه پس آخر هم آزاد کړی شو . څه موده پس اردو ورځپانه انقلاب پیښور کښې د مدیر په حیث شامل شو تقریبا څلور کاله پس ترې مستعفي شو او هم په دغه کال په افغانستان کښې د روسي جارحیت په وجه د پارټۍ پالیسۍ سره د اختلاف له کبله د سیاست نه کناره کش شو - د افغاني مهاجرو او مجاهدینو سره یې په هر قدم ، قم او قلم د مرستې علاوه خپل څو کورونه هم مهاجرو ته د وسېدلو د پاره مفت او څو کورونه ئې په برائی نام کرایه ورکړل ، د افغان جهاد په حقله د جهاد په ډیره کلکه مرسته کښې ئې خپل یو اخبار د "باګرام " په نامه شورو کړو. ولې د مالي مشکلاتو په وجه د روسي فوځونو له افغانستا نه د وتلو او جهاد ختمېدلو سره دا اخبار همېش خلیل خپل دوست ته ورکړو . دا خبره هم د هېرولو نه ده چې د افغان مهاجرینو په مرسته او اعانت ورته په کور کښې بم کښېښودل شو - ولې بم د چودلو نه وړاندې ولیدلی شو چې پولیس د رپورټ سره قبضه کښې واخستو .

همېش صیب ته د یو سرکاري تعلیمي اداری نه د ریسرچ سپیشلسټ د عهدې پیشکش هم اوشو خو همېش خلیل معذرت اوکړو - کال درې نوي کښې ئې د شعرونو دریمه مجموعه خاپونه او خالونه " شائع شوه .

وخت په وخت د پښتو د عالي ادب د نادرو نسخو په تحقیقي مقالو هغو د اشاعت او خصوصا په دغو نسخو کښې د ځنو ورکو او ګمنامو نسخو په انکشاف او اشاعت چې د پښتو ادبي تاریخ د سلسلې تاریخ سازې کارنامې دي خصوصا د دیوان بیدل دیوان سعید، دیوان حسین دیوان قنبر علي خان د خوشحال خان خټک اخلاق نامه د افضل خان ختک بازنامه د اشرف خان هجري د فارسي اشعارو دیوان او ځنو نورو هغو قلمي نسخو لکه د صاحبزا محمدي د مستغاث " په نامه منظومه مجموعه او طلب شاه دیوان ، چې دا وروستي دواړه نسخې لا چاپ شوې نه دي، په انکشاف که همېش خلیل صیب ته دپښتو ادب کولمبس ووئیلی شي نو مبالغه به نه وي .یاده دې وي چې مستغاث بیا وروستو د حنیف خلیل د مقدمې او ادبي زیار سره پښتو اکیډمۍ کویټه چاپ کړو-- وروستۍ شعري مجموعه یې د سوغات په نوم اوس اوس چاپ شوې ده-- په همعصرو شخصیاتو مقالې یې شیر احمد خلیل او په خوشحالیاتو خورې مقالې یې جوهر خلیل په کال دوه زره درې ویشتم کښې چاپ کړې--دغسې په همیش خلیل ژوند او ګارونو هم د شیر احمد خلیل جوهر خلیل حنیف خلیل ګوهر رحمان راز او جاوید اقبال خټک بیل بیل کتابونه هم چاپ دي چې وروستۍ یې د دوکتورا مقاله ده--

---

عشرتِ قتل گہِ اہل تمنا، مت پوچھ
عیدِ نظّارہ ہے شمشیر کا عریاں ہونا
مرزا غالب

ما د غالب دغه شعر پښتو کښې داسې ترجمه کړی وو-.

چې کوم سرور به وي دې قتل کښې بس چپ شه کنه
بربنده توره د اختر د میاشت په شان ښکاره شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته زه د دې شعر په ترجمه خبره نه کوم بلکې د غالب په شعري تکنيک او د دغه شعر په هنري خوند خبره کول غواړم--- غالب د هندي مکتب شاعر دی او دغه هنري نزاکتونه د دغه مکتب د ټولو شاعرانو ځانګړتيا ده--- حسين محبوب چې د حسن سينګار له هرې زاويې وکړي نو دغه د حسن ادا يې مين نه زړه اوړي او د حسن په ادا يې قتلوي-- خو مين د قتل کيدلو دغه لمحو کښې هم سرور او لذت محسوسوي-- غالب دغه سرور او لذت ته د داسې زاويې نه ګوري چې د هغه قتلولو له محبوب توره د تيکي نه راوباسي يا خپلې ليچې بربندې کړي ګويا قتل کولو ته لستوڼي ونغاړي نو د تورې غوندې اوږدې بربندې ليچې يې هم د حسن يوه ادا ده--- نو بس په غالب اختر شي-- او په دغه موقع غالب هغه سرور محسوس کړي کوم چې د اختر د شپې په نرۍ سپوږمۍ ليدلو محسوسيږي-- د سرور دغه منظر غالب ځکه ياد کړی دی چې د بربندې تورې شکل هم د اختر د شپې د نرۍ سپوږمۍ په شان وي--- نو هر څو که دغه توره د غالب قتلولو له راښکاره شوې ده خو چې د محبوب له خوا ده نو غالب ته د اختر د شپې د سپوږمۍ غوندې ښکاره شوې ده -- د ويرې په ځای يې پرې خوند اخستی دی-- نو ځکه يې ويېلي دي چې
--- بس چپ شه-- د دغه قتل سرور به څومره زيات وي چې د قتل کوونکې تورې شکل راته د قتل په وخت د اختر د شپې د سپوږمۍ په شان ښکاري---هغه د حمزه بابا خبره چې--
مړ د خوشحالۍ نه نه شم خدايه زه
مړ به دې کړم نن راته اشنا ويېل
د بربندې تورې په اصطلاح شيدا هم يو شمير شعرونه ويېلي دي چې د دغه يو شعر وضاحت به په مناسبه موقع کوم--
هيڅ برش يې عريان تيغ له لاسه نه کا
چې په طور د هلال سايه پرور دی

---

بناګوش يې هله ساز کړو صورت ګرو
چې مخلوط شو په رنګ آب د ملغلرو

وضاحت.......
ګوش په فارسۍ کښې غوږ ته وايي او -بناګوش- د غوږ لاندينۍ نرمې برخې ته وايي چې حسينان پکښې والۍ ډنډۍ يا کالي پټري د سينګار د پاره اچوي-دغه والۍ چې ډيرې قيمتي وي نو د ملغلرو والۍ هم په غوږونو کښې اچولی شي---صورت ګر مصور ته وايي- مصور چې د چا صورت يا تصوير سازوي نو ورته رنګ او اوبه ګډ کړي يعني مخلوط يې کړي-او بيا په برش تصوير سازوي- اوس شيدا څه وايي - ورته غور وکړئ-يعني مصور چې کله د هغه د حسين محبوب تصوير جوړولو نو بناګوش يعني د غوږ لاندينۍ نرمه برخه يې ورله هله سازه کړه چې خپل رنګ يې د عام اوبو په ځای د ملغلرو اوبو سره ګډ کړو-او چې داسې يې وکړل نو اوس د حسين محبوب د تصوير سينګار ته وګورئ چې په غوږونو يې د ملغلرو د واليو اچولو هډو ضرورت نشته ځکه چې د هغه بناګوش سازولو ته خو هسې هم مصور د رنګ سره د ملغلرو اوبه ګډې کړې وې-د داسې حسين محبوب تصوير به څومره سينګار شوی ښکاري چې په ساز شوي تصوير کښې يې د غوږونو د کاليو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه د ملغلرو په اوبو رنګ او برش جوړه شوې وي نو بيا په غوږونو کښې د ملغلرو د عام واليو د سينګار څه حاجت دی.؟
---اب د ملغلرو--- هسې هم د ملغرو قدرو قيمت د پاره وييلی شي-- اب د حيا په معنا هم دی چې بيا قدروقيمت او اهميت ته اشاره ده--- ملغلري جوړيږي هم په اب کښې يعنې د درياب په اوبو کښې د سيپی يا کنجکې په خله کښې د باران څاڅکی ملغلره شي او څاڅکی پخپله هم اب يعنې اوبه وي-- ملغلرې چې تراشلی شي هم ترې اضافي اوبه لرې کولی شي-- او تراشلي ملغلره چې بيا د چا حسين د غوږونو سينګار شي نو ورسره د حسين حسن يعنې اب حيا او قدروقيمت نور هم زيات شي-- ګويا ملغلرې نه چې د تراش خراش په وخت کومې اضافي اوبه لرې کړی شوې وې اوس د تراش خراش نه پس د حسين د حسن اب و حيا جوړه شوه- په حسن کښې يې ورله اضافه وکړه-- او صورت ګر يا مصور ته هم د تصوير جوړولو په وخت د خپل رنګ او برش د پاره د اب يعنې اوبو ضرورت وي-- نو چې دغه اوبه د ملغلرو شي نو تصوير به څومره ښکلی جوړيږي-- د تصوير اب و حيا يا قدروقيمت به څومره زيات وي--
دلته يوه نکته بله هم نظر کښې ساتل پکار دي هغه دا چې شيدا د صورت ګرو جمع صيغه راوړې ده ګويا د حسين محبوب په تصوير سازولو صورت ګرو بار بار کوشش کړی دی -- صورت ګرو دغه هڅه په اجتماعي صورت او مشاورت سره کړې ده -- خو کامياب هله شو چې تصوير سازولو د پاره يې رنګ سره اوبه د ملغلرو ګډې کړې -- ګويا دغه بناګوش سازولو ته يې د ملغلرو دايمي چمک وروبخښلو نو هله تصوير ساز شو-- اوس د حسين محبوب په غوږونو د سينګار د پاره د ملغلرو د واليو اچولو ضرورت پاتې نه شو---
بس نو محبوب چې دومره حسين وي نو بيا تصوير سازولو ته خو يې دغه اهتمام پکار دی نو--دې ته وايي شاعرانه مصوري چې شيدا پرې کمال کوي.

---

صاف دلانو لره لږ نصيحت بس دی
د ګوهرو پيوستون په نري تار شي
رحمان بابا

وضاحت----
د رحمان بابا دا شعر داسې ګران نه دی چې تشريح او وضاحت ته يې ضرورت پيښ شي خو تغزل او هنري نزاکت يې د کمال دی ځکه پرې خوند اخلو--- صاف دلان هغه خلق وي چې زړه کښې کرکه نفرت بد نيتي او حسد نه ساتي--- د دغسې خلقو زړه کښې که کومه غلط فهمي پيدا شي نو بس په لږ شان نصيحت يې زړه صفا شي--- داسې صفا لکه ملغلره-- لکه لعل او ګوهر-- ګويا دغسې صفا زړه د ګوهرو غونډې قيمتي وي-- لعل او ګوهر د رنګه سور وي او زړه هم د سرې وينې مرکز وي-- د لعل او ګوهرو شکل هم د زړه په شکل جوړولی شي--- ګويا د لعل او ګوهر غونډې صفا او قيمتي زړه که خور او پريشان هم شي خو په لږ نصيحت يا يوه خوږه خبره راغونډ شي -- پريشان په وړه شان اشاره خاطر جمع شي--- دغه لږ نصيحت -- يوه خوږه خبره -- يا وړه شان اشاره رحمان بابا د نري تار سره مشابه کوي او وايي چې خور او پريشان زړه په وړه شان اشاره داسې راغونډ شي لکه ګوهر يا خورې ملغلرې چې په نري او نازک تار کښې راغونډې شي او قيمتي اميل ترې جوړ شي-- پيوستون کليمه هم څومره معنا خيز ده--يعني يوځای کول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغونډول-- نو بس چې د ګوهرو پیوستون په نري تار کیږي-- نو صفا زړونه خو هم لعل و ګوهر دي نو د دې راغونډیدلو او مطمین کیدلو د پاره خو هم د نري تار غونډې لړ شان نصیحت یا یوه وړه شان خوږه خبره بس ده---
شیدا بیا صاف دلانو ته په خپله زاویه ګوري او وايي چې--
د مرات غونډې جوهر په ایرو ورکا
کله فعل د صاف دل وي بې حکمته

---

زما د باقاعده لوستونکي ګران او خوږ رشید احمد دغه کمنټ کښې مې یوه داسې عجیبه مینه محسوس کړه چې په خپل وال شریکولو ته مې زړه وشو--- په دې وجه هم چې یو خو یې زما د لیک په اسلوب خبره کړې ده چې اسان او قابل فهم دی او بل یې د خپلې صادقانه مینې څرګندونه هم کړې ده--- زما ځنې مخالفین هم شته -- څه مشران او څه کشران-- څه خو داسې هم شته چې بس په هیڅ شان دې عزت وقار او مقام زغملی نه شي-- خو دغو کښې څوک خو علمي اختلاف کوي او پوره احترام سره یې کوي-- دغه لوستي او درانه خلق دي او زه یې تل اختلاف ته هر کلی وایم بلکې د ډیرو اختلاف سره متفق هم شم--- خو ځنې پکښې داسې هم شته چې په ذات حمله کوي او هیڅ بې هیڅه -- دغو ته نه خو جواب وایم او نه پرې خپل وخت خرابوم--- بس دغو خلقو ته جواب وییل یو خو د دوئ نظر انداز کول مناسب ګڼم او بل دغه د ګران رشید احمد غونډې درنو خلقو کمنټ یې هم کافي او شافي جواب ګڼم--- نور زه خبر یم چې زه یو ډیر وروکی بنده او د هغې نه هم وړوکی د خپلې ژبې او ادب لیکونکی یم---په هیڅ قسمه نفسیاتي ناروغۍ او غلط فهمۍ کښې اخته نه یم---

---

هر مطرب چې غوړی تاو کا د رباب
په دا تاو کښې زما زړه کاندي کباب
رحمان بابا
مطرب ربابي یا رباب غږوونکي ته وايي- د رحمان بابا دغه اسان او ساده شعر د دوو ځانګړو لفظونو د تکنیکي راوړني د پاره ملګرو سره شریکول غواړم---- یو لفظ -- غوړی-- او دویم -- تاو-- غوړی د غوړ اسم تصغیر دی--یعنې وړوکي غوړ ته غوړی وییلی شي--- په غوړ اواز هم اوریدی شي او د غوړ تاوول د سزا په توګه هم وي--- څوک چې غلطې بې تکه او اپوته خبرې کوي نو وییلی شي چې دا غوړ ورله تاو کړه پخپله به بیا خله سمه خوزوي--- سمې خبرې به کوي--- رباب هم چې غږیږي نو ګویا چې خبرې کوي--- خو رباب چې ډیر وغږیږي نو تارونه یې سست شي او اواز بې تکه او بې سوره شي ځکه رباب له هم غوړ تاوول پکار وي چې خبرې او اواز یې سم او برابر شي یعنې رباب بیا سور کړی شي--- د رباب په یو سر کښې چې تارونه کومو وړو پیچونو پورې تړلې وي هغې ته غوړي وییلی شي- او چې دغو غوړو لاندې نور کوم واړه پیچونه وي هغې ته بچي وییلی شي- یعنې د رباب تارونه چې سست شي او اواز یې بې وزنه او خراب شي نو بیا دغه غوړي تاوولی شي چې ورسره د رباب تارونه راښکلی شي او اواز یې پخپله سم شي---بل خوا اواز اوریدلی هم په غوړ شي-- ګویا د رباب د غوړي تاوولو سره د انسان په غوړو هم بیا د رباب اواز ښه لګي-- ټوله خبره د رباب غوړي او د انسان غوړ سره تعلق لري--- خو یوه نکته بله هم ده--- هغه د -- تاو-- لفظ سره تړلې ده--- یعنې یو خوا خو د رباب غوړی---

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاو-- کړی شي--- خو بلخوا د غوړي دغه تاو سره د رباب په اواز کښي هغه سوز پیدا شي چي په اوریدو یي زړونه لکه د کباب -- تاو -- وکړي--- زړونه د میني او بیلتون اور او سوی واخلي--- لکه کباب چي تلیږي سوزیږي او تاو کوي--- ګویا د رباب د غوړي تاوولو سره د رباب اواز کښي هغه درد او سوز پیدا شي چي دغه د غوړي تاو کښي د زړونو تاو هم لکه د کباب د تاو راڅرګند شي--- څکه رحمان بابا د رباب د غوړي تاو کښي د خپل زړه اور ورین تاو ویني---بس د تاوولو نه تاو پیدا شو--- د یو تاو یعني تاوولو سره بل تاو یعني سوز و ګداز پیدا شو--- بس اوس به د رباب نغمه د درد نه ډک کیف پیدا کوي--

دغه وو د غوړ یا غوړي سره د تاو د لفظ راوړنه چي دواړو نه دوه دوه معني اخستی شوې دي او هغه هم پوره شعري تکنیک سره---- اسان شعر ته د تغزل رنګ ورکول داسي وي لکه رحمان بابا چي کړي دي----

---

شیدا زده کړه د افتاب ګرم روي
لار به طے د خپل مقصد په یوهٔ ګام کړې
وضاحت.....

دلته د ـ.ګرم روي.ـ دوه مفهومه نظر کښي ساتل پکار دي--یو دا چي روي د روان نه دی یعني رفتار یا مزل--نو د ګرم روي مطلب شو ګرم رفتار یا تیز مزل.ـدویم ـ.روي.ـ کهـ. رویي.ـ واخلو نو ـ.روٌ.ـ په فارسی کښي مخ ته وایي او دغسي به د ګرم رویي مطلب شي سرخرویي یعني کامیابي--اوس چي شیدا د افتاب ذکر کړی دی نو دغه دواړه مفهومه د نمر سره کلک نسبت لري--نمر ګرم هم دی او ګرم رفتاره هم-- یعني په تیز رفتار سره مزل کوي او زغلي--بلخوا د نمر شکل ته هم وګورئ چي د شفق او افق په حالت کښي تک سور وي نو دغه یی ـ.سرخرویي .ـ ده..

اوس به د شعر ساده مفهوم ته راشو شیدا څان ته یا هر انسان ته وایي چي لکه د افتاب ـ.ګرم روي.ـ.یعني تیز مزل زده کړې--نو خپل مقصد او مرام ته رسیدو کښي به په یوه قدم سرخرویه شي یعني کامیاب به شي--لږ نور غور وکړئ چي د نمر ـ.ګرم روي.ـیا تیز رفتاري څه شی دی--په عام تهذیبي مفهوم کښي نمر چي د مشرق نه د شفق په وخت راخیژي نو تک سور وي یا سرخرویه وي او چي مغرب ته د افق یه وخت پریوځي نو بیا سرخرویه وي.ـدا څکه چي نمر د خپل مقصد په لور دغه سفر ډیر په تیزی یا ګرم روی سره مسلسل کړی وي.ـلاره کښي یی هیڅ دمه هم نه وي کړې څکه دغه سفر یی د مشرق نه تر مغربه یو قدم یا یو ګام ګڼلی شي.ـپه همدغه یوه ګام کښي د مشرق نه مغرب ته رسیدل یی مقصد وي چي د سرخرویی سره یی قدم پورته کړی وي او د هم هغسي سرخرویی سره یی قدم ایښودی وي--

اوس یی ساینسي زاویي ته غور وکړئ--نمر د ملکی وی کهکشان یو ستوری دی چي د خپل مرکز نه یی فاصله درې لکه نوري کاله ده.ـپه دغه فاصله کښي نمر د یو لک څلویښت زره میله په یو سکینډ کښي رفتار سره زغلي او خپل مقام ته څان رسوي چي دا یي ساینسي ګرم روي یا تیز رفتاري ده--او ساینسي ـ.ګرم رویي--یي هم وګورئ-- د نمر ټمپریچر په مرکز کښي درې سوه شپیته لکه  سنتي ګریډ دی او د نمر په سطح یعمي د نمر په مخ دغه ټمپریچر شپیته زره سنتي ګریډ دی--نو د نمر رفتار او ګرمي دواړه زمونږ مخي ته راځي--نمر په دغه انداز د خپل منزل او مقصد په لور روان دی چي شیدا ورته یوه ګام وایی--یوه ګام څکه چي دمه او اودریدل پکښي نه وي--

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس که په انساني ټولنه کښې انسان هم د نمر دغه.. ګرم روئ --- یعنې تیز رفتارئ نه سبق واخلي نو د خپل مقصد په حصول کښې به لکه د نمر ..سرخرویه...یعنې کامیاب هم وي..
دې ته وایی د شیدا فني تکنیک او کایناتي مشاهده... او ورسره د خپل مفهوم او مدعا شعري اظهار ---بل چرته مو دغه انداز لیدلی دی بغیر د شیدا نه----

---

په استان یې لاچار سر کیښنو راستانو
چې کجي د خپل نهاد کمان پیدا کړې
وضاحت---
استان ---یا استانه د ژوندیو کور او استوګن ځاې ته وایي او د وفات شوو مزار ته--- دلته ترې مراد دی د ژوندیو کور --در --یا --درشل---
لاچار--- یعنې د مجبورئ نه--
راستان --- یعنې راست خلق---د صفا او صالح فطرت خلق-- ایغ نیغ او ریښتوني خلق--
کجي --- کوږوالي ته وایي او نهاد روش جبلت یا فطرت ته وایي-- دغسې کج نهاده خلق هغه وي چې کجي کوږوالی او رذالت یې په جبلت کښې شامل وي-- په کلتوري اصطلاح کښې ورته بد ذاته بد نسله او بد تهذیبه هم ویيلی شو--
کمان --- یعنې لینده چې دواړه سرونه یې د غشي ویشتو په وخت رانزدې او راکاږه کړی شي--
اوس د شیدا په شعر غور وکړئ--- کمان راکوږ وي یعنې کجي لري-- کج نهاده وي---او غشی نیغ وي یعنې راستي لري او په راستانو کښې شامل وي---ځکه د دغه راست غشي د کج نهاده کمان سره ګذران نه کیږي--- غشی ترې ځان په ډډه او لرې ساتل غواړي--- فرار ترې کول غواړي--- خو دغه فرار د پاره هم غشی مجبور دی-- لاچار دی-- چې یو سر یې په کمان کښې کیښنودلی شي--- او کمان چې راتاو شي نو یو خوا خو خپله کجي راواخلي خو بل خوا یې شکل د یو کور یا استانې غوندې جوړ شي -- نو بس غشی د لاچارئ نه خپل سر د دغه کج نهاده کمان په استانه کیږدي چې فرار یې ممکن شي-- د دغه کج نهاده کمان نه لرې لاړ شي--
په انساني ټولنه کښې هم ډیر راستان صفا او صالح خلق چې د کج نهادو او کم ذاتو نه راتنګ شي نو بیا د دغو کج نهادو نه د دایمي خلاصي د پاره په وقتي توګه د دوئ په استان سر کیږدي یعنې د څه وخت د پاره یې کج نهادي برداشت کړي خو ځان ترې په دایمي توګه په ډډه کړې او لرې ترې لاړ شي--- لکه راست او نیغ غشی چې د کوږ او کج نهاده کمان نه لرې تښتي--- بس دغه د راست غشي او کوږ کمان مشاهده ده چې شیدا د یو اخلاقي ټولنیز مفهوم د پاره راوړې ده---خو څومره په کمال یې راوړې ده-- بنده حیران شي---

---

د ایرو څلے مې وران نه کړې ورو تیر شه
باده زه هم د اشنا د عشق یادګار یم

نن د همایون همدرد د وفات څلور کاله پوره شول--- ما په خپل ژوند کښې بل همایون ونه لیدو--- بویه چې دومره خوږ انسان بیا چرته پیدا شي--- ډیر نادر یادونه یې زما د ژوند برخه ده---چې د ادب نړۍ ته راغلی یم نو د وړومبې ورځې نه مې د دغه خوږ انسان رفافت په برخه شوی وو--- ډیرې شپې مو سره یو ځاې روڼې کړې دي-- او ډیرې ورځې مو په ادبي بحثونو د سحر نه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماښامه د رڼا نه تر تييرو مشغولي کړې دي--- يو وار مو ورسره د رسالپور په لوکوموټو فيکټرۍ کښې شپه وه-- نور شاعران يې هم راغوښتي وو--- عبدالروف زاهد مرحوم مو په ادبي بحث کښې سم تر پوزې راوستي وو- مونږ هم زلمي وو په خپله ادبي نشه کښې وو لږ بدتميزه هم وو-- همدرد راته په زړه کښې سم غصه وو خو د همدر غصه هم د هغه د شخصيت غوندې خوږه او مقدسه وه-- د شرافت نه يې څه وييلے نه شو---چې ناڅاپه د شپې يوه بجه په مصطفى سالک څه چل وشو--- همدرد يې په توره شپه په موټر سايکل په اسپتالونو ګرځول شروع کړل او دلته زاهد مرحوم لږ په اطمينان شو چې بحث تمام شو---ګويا په بې خيرۍ کښې هم کله کله خير وي---
شل کاله اګاهو مې ورته يوه ورځ ووې چې هلکه قلندر صيب سره مې يوه مرکه وکړه لا چاپ نه ده-- خو په زلمو شاعرانو کښې يې راته ستا نامه واخسته چې خوښ مې دے--نو همدرد راته په جواب کښې د حمزه بابا دا شعر ووې چې--
مړ د خوشالۍ نه نه شم خدايه زه
وژنمه دې نن راته اشنا وييل
د مردان په کميونټي هال کښې يې د ګلګون کتاب مخ کتنه کيدله --ما ته يې وې تا ته حکم درکولے شي چې مقاله به ليکې او که انکار کوې نو د زبير حسرت په عدالت کښې دې پيش کوم--- ما وې ستا په کتاب ليک خو به ما په خلقو وپيژني--- زه کوم داسې برناټ شا يم--- سړي وخاندل وې د زبير عدالت نه د ويرې خو به يې نه ليکې--- ځان به نه خلاصوې سم ليک به کوې او بيا مې ليک وکړو--- د همدرد غزل--چې پښتو مجله کښې هغو ورځو کښې چاپ هم شو---
په ما يې يو نظم ليکلے وو نو چې کله په ما د شير احمد خليل مرتبه کتاب چاپ کيدو نو پکښې د همدرد دغه نظم هم شامل وو--- شير احمد صيب ته مې مشوره ورکړه چې که د کتاب نوم د همدرد دغه نظم نه راوخلې نو زه به داسې وګڼم چې په ما ستا او د همدرد دوه کتابونه چاپ شول-- شير احمد صيب ومنله او د همدرد د نظم دغه شعر نه يې --- قداور حنيف خليل-- نوم راواخستو چې--
په ظاهره که په قد قامت مندرے دے
حقيقت کښې قداور حنيف خليل دے
د پي ايچ ډي د مقالي ممتحن يې هم زه وم--- ورته مې وې اشنا رپورټ مې درله ډير عالي ليکلے دے -- بس څو ورځې پس به درته بيا ډاکټر صيب وايو--- وې يې نو زه خو به درته بيا استاذ جي وايم--- که په ګپ کښې يې هم وييل خو سپيره مرګي د دغه ټکو وييلو موقع هم ورنه کړه--- د ډيفنس نه څو ورځې مخکښې وفات شو---
کومه کومه خاطره به راوړم-- بس خاطر مې دروند شان شي---دغه سړي نيمګړي نيمه خوا پريښودي يو--- مونږ ته څه پته وه چې د خوږ رفاقت ورځې مو پوره شوې دي--سړے رانه روان دے-- بس اوس خو دغه محسوسولے شو چې همدرد راته د حمزه بابا په لفظونو کښې اواز کوي چې -----
موده پس اشنا راغلے دے رقيبه
شمع بله نن زما په مزار پريږده
روح يې شاد اوسه

---

--خوشحال او شيدا--- د يو بل په تنقيدي تله کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال بابا ته بنده حیران شي چې په هغه دور کښې یې یو خو د تقابلي تنقید عجیبه نمونه پریښې ده او بیا یوه ډېره عجیبه پیشین ګویي یې هم کړې ده--- د خپل دور د شاعرانو تول یې داسې کړی دی----

چې لاف وهي د شعر
نن په دا دور دي ډېر
څوک پاوی څوک نیم پاوی دی
قلندر پکښې نیم سیر
بل فقیر دولت درې پاوه
زه ترې څو شرشاهي تیر
چې زمونږه په حساب دي
هیڅ مې نه دی واصل هیر

ګویا د شعر لافې خو ډېر خلق وهي--- دغه نه علاوه هم ځنې شاعران شته چې څوک پاو وزن لري او څوک نیم پاو--- البته قلندر پکښې نیم سیر دی یعنې ښه شاعر دی---او بیا دولت لوانی د هغه نه هم لږ ښه شاعر دی ځکه چې درې پاوه دی---خوشال بابا ځان د دولت نه لږ شان ښه یادوي --- بس څو شیرشاهي زیات--- شیر شاهي د چیټاکی څلورمه حصه او د پاو شپاړسمه برخه وي--- یو سیر کښې شپاړس چیټاکی او څلور شپیته شیرشاهی وي--- دغه لږ کښې خوشال بابا واصل روښانی په خپل حساب یعنې خپل برابر یادوي-- خو دغه وزن محض د غزل په حواله دی ځکه چې دغه نور شاعران په عمومي ډول د غزل شاعران دي ګڼې هسې خو خوشال بابا دغو ټولو نه په ---منونو زیات وزن لري

زړه راښکونکې خبره دا ده چې خوشال بابا دغو شعرونو کښې یوه پیشین ګویي هم کړې ده او --وییلي یې دي چې

پس له قرنه به پیدا شي
بیا په سرای کښې پوره سیر

دغه پوره سیر څوک کیدی شي چې خوشال بابا د ځان نه هم لوی شاعر یاد کړی دی---- بې له کاظم خان شیدا خو بل څوک نه شي کیدی--- چې پیدا شوی هم په سرای اکوړي کښې دی او خوشال بابا سره یې فاصله هم پوره یو قرن یعنې یوه صدي ده--- خوشال بابا ۱۰۲۲ کښې پیدا دی او شیدا ۱۱۲۵ خواوشا کښې--- خوشال بابا ۱۱۰۰ کښې وفات دی او شیدا ۱۱۹۴ کښې---- نوره زړه راښکونکې خبره دا ده چې شیدا پخپله هم خوشال بابا ته ډېر لوی شاعر تر دې چې د شعر نمر وایي خو چې ځان سره یې موازنه کوي نو د ادب او احترام له مخه خو یې په خپل ځان د شرف او --درناوي قایل دی خو شاعرانه مقام یې ځان نه بالا نه ګڼي---شیدا وایي

د افغان له شعرا په شیدا باندې
د ادب په مقتضا د خان شرف دی

او که هم هغه د خوشال بابا تله او میزان راواخلي نو بیا هم شیدا وایي چې بابا به د شاعرانو میر --کاروان ما جوړوي که مزار ته یې هم خپله شاعري واوروم

شیدا خان به دې کا میر د شاعرانو
که مزار وته یې عرض دتا انشا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاده دې وي چې دغه تبصره محض د شاعرانه حیثیت او غزلیز مقام په اړه ده--- په مجموعي توګه
---خوشال بابا دومره لوې سړی وو چې
---نه يې سيال په هند کښې شته دی نه ثاني په بنګاله کښې
---څه د کمال او لوې خلق وو په پښتنو کښې-- ستر خوشحال او شيدا

---

چې بدل يې په کچکول د مهتاب خوان کړ
اعتماد د زماني په کمال نشته
وضاحت.......
مهتاب دڅوارلسمي شپې پوره سپوږمۍ ته وايی چې پوره په آب و تاب وي لکه د ډوډۍ ګول وي او پوره کمال ته رسيدلې وي.خوان هم فارسی کښې خوراک يعنې ډوډۍ ته وايي.کچکول فقيران د ډوډۍ ټکړو راغونډولو د پاره استعمالوي ګويا پوره ګول ډوډۍ لرل کمال دی او د فقير کچکول ته رارسيدل زوال دی.دا کمال او زوال د زمانې يعنې وخت د چکر او بدلون سره راځي.ځکه په زمانه هيڅ اعتماد نه دی پکار -- کله انسان بادشاه کړي او کمال ته يې ورسوي او کله يې فقير کړي کچکول ورپغاړه کړي. د دغه مفهوم د ادا کولو د پاره اوس د شيدا کايناتي مشاهدې او تشبيهاتو ته ځير شئ .سپوږمۍ چې کمال ته ورسي نو د ګول ډوډۍ غوندې وي -- خو زمانه يعنې وخت ورسره څه کوي چې نيمه مياشت تيره شي نو سپوږمۍ په وړوکي کيدو شي يعنې د زوال سره مخ شي او دغسې بيا د وروستو شپو سپوږمۍ داسې نرۍ ګول کربښه جوړه شي چې شکل يی د فقير د کچکول شي -راتاو غوندې کربښه چې د کاسې غوندې شکل واخلي-- کمال يې د زوال سره مخ شي.هر کله چې په کاينات او فطرت کښې کښې دغه کمال او زوال د زمانې مزاج دی نو بيا په انسانی ټولنه کښې به د زمانې په کمال او زوال څنګه اعتماد کيدی شي. او هغه مغروره خلق دې هم نه خوشحاليږي چې ځان کامل او په کمال ګڼي--- زمانه هر کمال د زوال سره مخ کوي--- په زمانه هيڅ اعتماد نه شي کيدی---ځکه د زمانې د هر قسمه حالاتو سره تلل پکار دي او په خپل عارضي ---او وقتي کمال غره کيدل نه دي پکار--- البته د شيدا شعري کمال ته تحسين ضرور وييل پکار دي

---

ګران او قدرمند سيداالامين خويشکي زما د ادبي ژوند او هڅو په حقله دغه لنده شان خاکه په
--انګريزي ژبه ليکلې ده -- ملګرو سره يې شريکول غواړم چې خوندي هم شي

**Dr Hanif Khalil: The Leading Light**
**By: Said Ul Amin Ahsan Kheshgi**

**Khalils have everlasting and ineffaceable imprints on culture, literature and history of our part of the land. Like other Pashtun tribes they produced greatest sons of the soil, who burnt their midnight oil to make their presence felt by contributing richly to all spheres of life.**

**In modern literature, after late Major Younas Khalil; an unmatched poet of romanticism, and Hamesh Khalil, an encyclopedic compiler and short-story writer,et al,Dr Hanif Khalil stands apart of his**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**contemporaries due to his scholarly works. The multi-dimensional man of letters has many feathers in his cap.**
**Starting his career as a journalist at a local newspaper, and teaching for a short span of time at Government College Dera Ismail Khan,Dr Khalil, contributed magnificently by authoring countless books in nearly all literary discipline in Pashto, Urdu and English, as states Dr Shahab Aziz Arman. Extensively penning down commentaries on classical Pashto literature, criticism, history of Pashto literature, Pashto film, music, contemporary literary movements, manuscripts and poetry, Dr Khalil restlessly moving ahead towards the desired and targeted direction.**
**One of his magnificent scholarly works is his commentary on Kazim Khan Shaida's poetry. Shaida; a scion of great Khushhal Khan Khattak's family, settled at the then Rohilla Sate of Rampur, was very visibly influenced in his Pashto poetry by great Persian poets of Indian Style i.e. Sabk-i-Hindi.Shaida like his contemporary Persian Poets, were famous for theme-discovering ,theme-creating, exemplification, and preferring selectivity over simplicity. But Shaida, though a non-native yet touched new heights in that diction. Dr Hanif Khalil is among the pioneering commentators of Shaida in current time, the forgotten and ignored Pashto poet of a unique style, perhaps due to the poet's complex and logical diction. While elucidating and interpreting Shaida, sometimes Dr Khalil seems at sixes and sevens, and confused in accomplishing his daunting task.**
**His PhD thesis titled 'Progressive Literature Movement in Khyber Pakhtunkhwa and Pashto Poetry' did pave the way for providing a strong footing to the current research trends in Pashto literature. The hard-boiled Hanif had equal opportunities to learn from the experiences of towering literary figures like Hamza Baba, Qalandar Momand, Taqweem Ul Haq Kaka Khel, Dr Iqbal Nasim Khattak, Major Younas Khalil, Hamesh Khalil, Dr Sher Zaman Taizai and others. Of Urdu literature, he was loved and patronized by Professor Muhsin Ihsan, Khatir Ghaznawi, and Dr Ashraf Adeel. Even he had regular interactions with the literary giants of Hindko language as well.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Initially, he remained associated with both electronic and print media for years, wrote columns on literature, aesthetics, and on social and cultural issues.**
**During their stay here at Peshawar, Dr Hanif Khalil had consistent literary sessions with veteran Afghan researchers Muhammad Asif Samim, Habibullah Rafi, Dr Mujawar Ahmed Zyar, Noorul Habib Nisar, Muhammad Daud Wafa, and Pir Muhammad Karwan.Those frequent interactions have enabled Hanif to think out of box about contemporary literary debates taking place then. It polished Hanif to think more deeply, conclude more analytically, and interpret more patiently.**
**The author of more than 72 books on various genres still writes in Pashto and Urdu. His book about Pashto films explores new horizons. ‘A Short History of Pashto Literature’ covers the literary history; the book about Pashto novel narrates the story very precisely, now needs to be reviewed though. His discussions with visionary prominent literary figures in his book ‘Makh pah Makh’ rewrites the history.**
**Dr Hanif, now working as Director National Institute Pakistan Studies Department at Quaid-e-Azam University, Islamabad, taught for years at primary and college levels. He is a beacon of light for the young writers because not only he represents an era of literary movements but has rubbed shoulders with greatest literary giants. Besides his contribution he supervises his students in carrying out their PhD level research works.**
**#dr_hanif_khalil**
**#Pashto_Sketch_Writing**
**ډاکټر_حنيف_خليل#**
**پښتو_شخصيات_نکاري#**

---

**د اسمان په شانې تيز د فتنو تيغ کړي**
**صبح و شام ګرځي ښکاره په سرو منګولو**

**وضاحت....**
**د شيدا په دغه ساده شان شعر کښې څومره خبرې دي...کوم تکنيک دی...غور پرې وکړئ...د محبوب د ښايست په ستاينه کښې وييل دا غواړي چې دغه حسين د خپلو سرو منګولو په ادا سحر ماښام د مينو قتل کوي او لکه د اسمان دغه فتنې يی مشغله ده....د غور وړ نکتې يی دادي چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمان یا فلک د مقدر په معنا فتنه گر گڼلی شي--اسمان د خپل گردش او چکر په مناسبت چالباز هم گڼلی شي--او اسمان کښې د نمر او سیارو په گردش شپه او ورځ یعني سحر او ماښام هم راځي--بلخوا تیغ توره ته وایی چې قتلونه پرې کیږي--او چې په توره قتل وشي نو توره په وینو هم سره وي--اوس په اسمان کښې د نمر د گردش په وجه د سحر او ماښام ننداره هم وکړئ--سحر چې نمر راخیژي نو د غره په سر د یوې نرۍ سرې کرښې غوندې ښکاري لکه په وینو سره شوې تیره توره---او ماښام چې نمر پریوځي نو بیا یی ننداره د هم هغه تیرې او په وینو سره شوې تورې په شان وي--اوس د شیدا د محبوب سرو منگولو تصور وکړئ--منگولې نغاړل او ښکاره کول هسې هم د فتنې او جنگ نخښنه ده .بربنډې منگولې لکه د نیام نه راوتې تورې منظر هم وړاندې کوي او بیا چې منگولې سرې هم وي نو گویا چې تورې په وینو هم سرې شوي دي---نو د شیدا د محبوب ادا دغه ده چې لکه د نمر د صبح و شام د منظر غوندې محبوب هم صبح وشام دغه فتنې برپا کوي--د میینو قتلونه کوي---

د دې شعر په یوه بله زاویه غور وکړئ--محبوب چې صبح وشام منگولې په نکریزو سرې کوي او دغو سرو منگولو سره گرځي نو دا یی لا بله فتنه ده په دغه ادا به د میینو قتل خو کوي--گویا دغه چې نرۍ ښایسته منگولې یی په نکریزو سرې ښکاري نو دا داسې ده لکه چې تیرې تورې د نیام نه راوتې دي او په وینو سرې شوې دي--او بیا د خونریزۍ دغه فتنه یی صبح وشام جاري وي---څنگه چې اسمان کښې نمر د سحر او ماښام په وخت خپل دغه فطرت نه بدلوي دغسې محبوب هم د فتنو خپل دغه فطرت نه بدلوي--

غور وکړئ چې کوم شعر په وړومبي نظر ساده روان او اسان ښکاري په هغې کښې هم څومره معنوي جهان او شعري نسبتونه او تلازمات پټ پراته دي---همدغه خو د شیدا کمال دی چې مونږ ته په دوو مصرعو کښې پوره معنوي جهان پیش کوي او د خوند اخستلو موقع راکوي---

---

د پښتو اکیډمی --- پښتو لیکدود او املا --- پټه خزانه-- د قلندر مومند د في المیزان -- پښتو تحقیق-- کلاسیکي ادب-- او خوشحالیاتو په حقله همیش خلیل صیب څه راې لري -- په دې مرکه --- کښې یي وگورئ وگورئ

همیش خلیل سره مرکه

مرکه کوونکی---- حنیف خلیل

د پښتو ادب شلمي صدۍ چې کوم انتهائي اهم کسان ادب ته ورکړي دي په هغو کښې یوه نامه د همیش خلیل ده. پښتو ادب نه که د همیش خلیل خدمات منفي کړو نو گویا چې په گڼو شعبو کښې به د پښتو د بنیاد نه مضبوطې تیرې وباسو همیش خلیل په یو وخت شاعر، نقاد، محقق، صحافي، مترجم، افسانه نگار او نور ډیرڅه دی. د کتابونو شمیر یې تقریباً پنځوسو ته رسیدلی دی ( اوس دغه شمیر سلو ته رسیدلی دی ) چې غیر اهم او کم اهم کتاب پکښې یو هم نشته--- زیات مشهور کتابونه ئې دادي--- پښتانه لیکوال (تذکره) ورکه خزانه دوه ټوکه تذکره تول پارسنگ (تحقیق) حقیقت دادی ( تحقیق) چار گل (افسانی ) طب نامه' نام حق بازنامه، فراق نامه، سوات نامه اخلاق نامه و غیره خوشحالیات د شاعری درې مجموعې اوس څلورمه هم چاپ ده--- او نور ډیر - د شاعر په حیث حقیقت پسند او مقصدي شاعر دے. افسانې ئې هم د ترقي پسند ادب د ژوندو مسئلو هنداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي د حضرت عثمان رض بحقله ليکلی شوی يو کتاب ترجمه يې هم اردو نه پښتو ته کړې ده. خو د تحقيق ميدان له ده سره زيات منسوب شو. دا حقيقت يې مخالفين هم مني چې کوم کار ادارې سره د وسائلو نه شي کولے - دے يې په يوازې ځان بغير د وسائلو وکړي-- زما په خيال ورته د پښتو ادب کولمبس وئيل پکار دي ځکه چې د نادرو کتابونو ګومره انکشافات ده په يوازې ځان کړي دي ځينو ادارو په شريکه هم نه دي کړی د دوئ په شخصيت او ادبي خدماتو دوه کتابونه ژوند او فن او د انځر ګل په نامه ليکلی شوي دي-- دې نه علاوه دريم کتاب پرې هم چاپ کيدونکی دی.(دغه کتابونه هم اوس زيات شوي دي چې پکښې د جوهر خليل او شير احمد خليل کتابونه هم شامل دي ) ورسره د جر نليزم ډيپارټمنټ پيښور يونيورستی يو طالب علم د دوئ په شخصيت او ادبي کارنامو تحقيق وکړو او بل طالب علم د دوئ په ادبي مجله دوران تحقيق کوي-- دوران نه علاوه ئې پخوانۍ مجله جمهوريت هم چلولې ده. با ګرام يې خپل اخبار وو او د اردو په انقلاب کښې ئې ملازمت کړے دے. د پښتو ادب تاريخ به د دوئ خدمات تل په خپله لمن کښې محفوظ لري او قدردان پښتانه به ئې په خدماتو تل وياړ کوی

س

هميش صيب دلته تقريباً ځلويښت کاله وړاندې د پښتو ژبې او ادب د ترويج او ترقۍ لپاره يوه حکومتي اداره قائمه کړے شوې وه د دغه ادارې د ادبي فعاليتونو په حقله ستاسو څه خيال دے؟

ج:

دا اداره د افغانستان د پخواني حکومت په لره پښتونخوا د پښتو ژبې ادب او پښتنو ليکوالو د استحصال خلاف د هغه پروپيګنډې نتيجه ده چې د ريډيو نه کولی شوه-- د دغې ادارې پيل خو ډير ښه و او ابتدا کښې چې د پښتو ژبې او ادب ترويج او ترقۍ لپاره کوم کار شوے دے، د ډير اطمينان وړ دے خصوصاً د مولانا عبد القادر خان کردار ډير اهم دی.

س

هميش صيب د نوې املا په باب ستاسو اطمينان تر کومه حده دی؟

ج

دا تاسوچې کومې املا ته نوې املا د پښتو وا يئ دا قطعا نوې نه ده سيوا د يو الفبت نيم په بدلولو را بدلولو دا املا کټ مټ په افغانستان کښې د ډيرو کلونو راسې رائجه ده هر کله چې کوزه پښتونخوا کښې او بره پښتونخوا په املا کښې خصوصاً د--ي-- ګانو په ليکلو کښې فرق و اوس د دغې املا په رائج کيدلو د دواړو اړخونو ترمينځه د املا فرق ختم شو او دا د پښتو ادب په پرمختګ کښې يوه ډيره ښه او ګټوره ابتدا ده. په کار ده چې د ادب د ترقۍ په خاطر -- ټول پښتانه دا عملي کړي

: س

تاسو د « پټه خزانه في الميزان نومې کتاب جواب ولې وکړو؟ او بيا که ستاسو د جواب په جواب کښې هم څوک کتاب وليکي نو ستاسو رد عمل به څه دی؟

ج

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چې زما د ژبې بنیادونه نړوي او د هغې قدامت ته محض د ذاتي مفادو لپاره نقصان رسوي نو په داسي حالاتو کښي آخر زه څنګه خاموش پاتې کیدی شوم؟ د یوې غلطې نظریې خورولو د اصلاح او مخنیوي لپاره دا زما ادبي فرض و چې خلق د ګمراهی نه وساتم او حقیقت ورته وړاندې کړم دا اوس د لوستونکو خوښه ده چې دواړه کتابونه په غور ولولي او بیا خپله فیصله وکړي چې حقیقت څه دی، که زما د جواب ځوک جواب وکړي نو د جواب جذبی ته به ګورم که دا جذبه انتقامي وه نو بیا مرد یم، انتقام به اخلم او که جذبه د اصلاح وه نو بیا به ئې هم که ضروري وه هم د اصلاح په جذبه کښي جواب وکړم.

س

د پښتو ادب په پرمختګ کښي د کلاسیک ادب څومره لاس دے؟

ج

هر کلاسیک ادب د خپلې ژبې بنیاد ګڼلی شي ځکه نو کلاسیک ادب هم زمونږ د ژبی بنیاد دے د دغه بنیادي کردار په وجه زمونږ د نوي ادب ترقی هم د کلاسیک ادب منت باره ده او هر څومره چې ادب بنیادي وي عظمت او تمکنت به ئی حقیقت مومي

س

همیش صبب ستاسو د کتاب تول پارسنګ» متعلق که دا ووئیلی شی چې په هیواد د بحث به دوران د نظم به برخه کښي ستاسو دلائل ډیر قوي دي ولې د هیواد د نثر د برخې په ضمن کښي تاسو د نثر مثالونه نه دي راوړي ولې

ج

حنیف خانه زما په خیال تاسو کتاب په غور نه دی لوستی - او یا مو داخبره د چانه اوریدلي ده خو بیا مو ورپسې د کتاب لوستلو زخمت نه دی کړے ، زه ستاسو د جذبی سره اتفاق نه شم کولی ځکه چې په متلونو کښي د هیواد د «وطن» به معنی لپاره ما ډیر ضرب الامثال پیش کړي دي. نه شم وئیلی چې تاسو ضرب الامثال یعني متلونه څه ګڼلي دي. نظم او که نثر؟ اوس هم یو څو پکښي ماته یادیږی چې دادی. د یو هیواد اوبه د بل هیواد اوبه وي--او د یهودو په هیواد ګټه حرامه ده.

س

د پخوانی مجلې پښتون د ژبی او ادب د خدمت په باب ستاسوڅه خیال دے؟

ج:

اګر که « پښتون مجله د یو سیاسي تحریک ترجمانه وه، دغه تحریک یو پیغام لرلو او دغه پیغام رهبرانو قوم ته رسول غوښتل بیا یو داسي قوم ته چې پښتو نه بغیر په بله ژبه نه پوهیدو ځکه نو په پښتو ژبه د دغې مجلې د اجرا ضرورت هم و او مجبوری هم خو د خپل سیاسی کردار سره سره دغه د پښتو وړومبۍ مجلې چې د پښتو ژبې او ادب کوم خدمت کړے دے، زما په خیال پښتو کښي لا بلې کومي مجلې دا فخر نه دی تر لاسه کړے ملی بیداری ده که ادبی بیداری هم د دغې مجلې له برکته مینځته راغلی په پښتو ادب د سکوت درنې پردې ئې لرې کړی. نوی نوی لیکوال پیدا شول او د پښتو ادب په ټپه ولاړه بیړۍ یو ځل بیا د منزل په لور خرامانه خرامانه روانه شوه

س

د پښتو ادب د تحقیق او مستقبل متعلق ستاسوڅه رایې ده؟ ج:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ادب کښې د باقاعده او اصولی تحقیق د رجحان موده ډیره کمه ده چې ډېر زور شي دغه څلوېښتو پینځو څلویښتو کلونو راسې تحقیق ته توجه شوې وه --کامل صیب حبیبی صیب رښتین صیب او بینوا صیب په دغه لړ کښې ډیر مفید او درانه ادبی تحقیقونه کړی دی. موجوده وخت کښې هم د ادبی تنقید کوششونه روان دی چې ډیرې ښې او سود منې نتیجې ئې زیږولی دی او که د تحقیق دا رفتار هم دغه شان روان پاتې شو نو بیا د پښتو ادب د نورو صنفونو غوندې د تحقیق مستقبل هم روښانه لیدلی شی.

س

همیش صبب تاسو خپله دغه دعوی چې اشرف خان هجری څوارلس کاله قید و خنکه ثابتولی شئ؟

ج

حنیف جانه د اشرف خان هجری به گوالیار کښې د بندیدو ذکر خو د هغه زوی افضل خان ختک په تاریخ مرصع کښې هم کړی دی البته څه وخت چې د گوالیار له قلا نه دکن بیجا پور ته ولیږلی شو نو د ځینو خلقو خیال دی چې بیجارپور کښې هغه قیدی نه و بلکې آزاد و حالانکې هم په دکن بیجا پور کښې لیکلی د هغه ډیر داسې د پښتو او فارسی شعرونه دا گواهی ورکوی چې اشرف خان هجری په بیجا پور کښې آزاد نه و بلکې قید و بیا که هغه آزاد و نو خپل وطن ته ولې نه راتلو او بیا په تیره تیره هغه د خپل پلار خوشحال خان د ناروغتیا نه خوضرور خبر و او د خوشحال خان ختک د ناروغتیا په دوران کښې اشرف خان هجری په دکن کښې ؤ نو که هغه آزاد وی نو د خپل پلار په ناروغتیا با مرگ ولی نه راتلو، چونکی هجری په قید کښې و، ځکه خو د پلار په ناروغتیا او مرگ د هغه نه راتله د هغه مجبوری وه یا د بهرام خان سره داقتدار لپاره د جنگونو نه پس هجری دا خنکه برداشت کولی شوه چې بهرام خان دې اوس هم د هغه دسرداری لباره د هغه د زوې افضل خان سره جنگونه وکړی اودی دې پۀ دکن کښې بې غمه خوبونه کوی یا بندی دې نه وی آزاد دې وی او د بهرام خان به مقابله کښې دې د خپل زوې افضل خان امداد له نه راځي-دِ په گوالیار کښې د کال نیم قید نه پس دکن بیجا پورته لیږلے شوی وي- له هجری د خپلو شعرونو نه واضحه ده چې لس لس نیم کاله په زندان کښې و او دا شعرونه هغه هم د بیجا پور په زندان کښې لیکلی دی

مثلا :

ده سال و چند ماه شده کز عتاب شاه محبوس گشته ایم درین دار عاصیان تسع بگذشت که در نا رعتاب هستیم

سال عاشر شده بر عمر عذابم آغاز چو بنشید به کان خویش مرور

بیاد آورد زبندیوان مهجور من از فرقت به کیش ذبح ماتم دکن برجان ما چون نار تنور

اوس هم که څوک ووائی چې اشرف خان هجری به دکن بیجاپور کښی آزاد و نو دا به د هغه سر زوری وی.

س

همیش صیب د نثر هغه بازنامه چې تاسو د افضل خان ختک په نامه یاده کړې ده ځینې خلق دا د خوشحال خان ختک گڼي تاسو په کوم دلیل دا د افضل خان ثابتوئ؟

ج

(c) ketabton.com: The Digital Library



**گوره خانه! دا خو هر چاته معلومه ده چی خوشحال خان خټک په خپله کورنی کښې په  خان هم :یادیدو او چونکې دغه بازنامه کښې یو ځائی کښې داسي لیکلی شوی دی چې**
**لوئی خان په خپله منظومه بازنامه کښې وئیلی دی بیا د هغه یعني خوشحال بابا د بازنامې یو شعر ئې هم راوړی دی نو که دا بازنامه د خوشحال خان وی نو هغه پخپله به داسي ولی وئیل : نو دې نه معلومیږی چې دا د خوشحال خان خټک خو بلکل نه ده اوس سوال دا پیدا کیږی چې اخر نو د افضل خان خټک څنګه شوه؟ د افضل خان په دې شوه چې افضل خان خټک په دغه بازنامه او تاریخ مرصع دواړو کښې د بهادر شاه د زوې رفیع القدر ذکر کړی دی او د شهزاده سره د ښکار او ملاقاتونو احوال هم بیانوي ځکه نو دا امکان ډیر قوي دی چې دا بازنامه د افضل خان خټک ده**

**د مرکي نیټه 95-7-10**
**---نوټ----- د املا د غلطیو راته بخښنه وکړئ**

---

**تل یې بیم کوی شیدا له دوه رنګیه**
**خپل لیمه که د عالم لیل و نهار کا**

**وضاحت.....**
**بیم -- فارسی ده یعنی وییره۔**
**دوه رنګی -- یعنی دوه مخې مطلب منافقت۔**
**لیمه --- یعني سترګې۔**
**عالم -- یعني دنیا ۔**
**لیل و نهار -- عربي ده یعني شپه او ورځ۔**
**اوس راشئ د شیدا شعر تهـوایي چې شیدا تل د هغو خلقو د دوه رنګۍ یعني منافقت نه وییره کوي چې دنیا ته خپلې سترګې داسې بدلوي څنګه چې شپه او ورځ بدلیږی را بدلیږي۔ د شیدا فن ته هم ځیر شئ --عالم یعني د دنیا ظاهري حالت هم د شپې او ورځې په تلو او راتلو بدلیږي او دنیا ته سترګې بدلول هم د منافقت د پاره محاوره دهـد شپې رنګ تور او د ورځې رنګ سپین وي یعني د شپې او ورځې دغه تله راتله یا بدلون  دوه رنګه وي ګویا دوه رنګي کوي او د سترګو رنګ هم تور او سپین وي یعني دوه رنګي لري--شپه او ورځ هم دوه دي او سترګې هم دوه دي-- شپې او ورځې بدلیدو سره هم زمانه تیریږي او منافقان هم په زمانه کښې ژوند کوي او خپلې سترګې بدلوي- اوس چې په مادي توګه دغه دوه رنګه سترګې په معنوي توګه هم دوه رنګي یعنې منافقت کوي او د محاورې تر مخه عالم ته یعني دنیا ته څوک خپلې سترګې بدلوي نو ځکه خو شیدا د داسې منافقو دوه مخو خلقو نه تل وییره کوی.......**
**په دې عالم کښې د منافقو دوه رنګو او دوه مخو نه بلکل وییره پکار ده چې په تور او سپین به یې ---پوهه نه شې-- دغسې خلق د شیدا په وخت کښې هم وو**

---

**ستا کردار لکه پستې اوبه په غره کښې**
**لاره وباسي په کاڼي کاڼي زړه کښې**
**صلی الله علیه واله وسلم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کوم زړه د کاڼي نه هم بد تر وي هغه بیا د انسان زړه نه شي کیدی بلکي د ځناور هم نه شي کیدی--- د انسانیت د بقا خیر او امن سپیڅلي دین تشریح او دفاع چې څوک کوي نو دغه ځیني فیشني او دیسي ملحدان ورته بیا انتها پسند او متشدد وایي--- اوس چرته دي هغه نام نهاد فلسفیان ملحدان چې دغه پښتون بونیري ته به کوم نوم ورکوي--- چې د میني امن او انساني وقار پیغام راوړونکي ستر سالار ته څوک دغسي لفظونه راوړي-- هغه بیا څه شی دی--هغه په کومه درجه ---کښي دی-- د دغو لبرل ملحدانو په عکس العمل څه پوهه نه شوم

---

د وینو جام ډرامه د اسلم خټک ده که د بهادر شاه ظفر کاکاخیل او یا د مظلوم --- د قلندر مومند لغت دریاب کښې یې ظفراللغات هم ور لاهو کړی دی--- د سعدالله جان برق د پښتنو تاریخ د کاکاخیل مرحوم نه څومره اخستنه کړې ده--- او د پریشان خټک پشتون کون کښې کاکاخیل صیب نه څومره ---اخستنه شوې ده او نورې خبرې هم-- د کاکاخیل صیب دغه مرکه کې یې وګورئ

سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل سره مرکه
مرکه کوونکی --- حنیف خلیل

کاکاخیل صاحب یو ډیر عالم فاضل شخصیت دے، اتیاو نه زیات کتابونه یې په اردو او پښتو کښې لیکلي دي. د پښتو لوې مورخ ، محقق، نقاد او لغت دان دی. پښتانه د تاریخ په رڼا کښې او ظفر اللغات (لغت) یي د سنګ میل حیثیت لري د دوئ تاریخ نه وروستو چا هم مستند تاریخ و نه لیکلی شو او لغتونه که چا ولیکل نو هم ئې د دوئ د ظفر اللغات په اډانه ولیکل. کاکاخیل صاحب به د خپلو دغو دوو کارنامو په ذریعه تر هغې ژوندی وي ترڅو چې دپښتو ژبه او ادب تحقیق، تاریخ او لغت ژوندی وی

--- س
دوینو جام ډرامه چې د اسلم خټک لیکلی شوې یادیږی په دې ډرامه دا شکونه شوی دی چې دا اسلم خټک نه ده لیکلې یومدعی ئې عبد الکریم مظلوم یادیږی او معلومه شوې ده چې تاسو هم د دې ډرامې دلیکونکی دعوی کوئ-- په دې حقله ستاسوڅه خیال دی؟
--- ج
داخبره به زه لږه تفصیل سره و کړم-- قیصه داسې ده چې په کال ۶۱۹۳۳ کښې زه استاذ وم دغو ورځو کښې زه د ایس وی ټریننګ دپاره منتخب شوم- دې ورځو کښې خان بها در قلی خات تعلقات عامه کښې افسر وو -- قلی خان زمونږ پرنسپل ته ووې چې ستا شاګردانو کښې څوک داسې شته چې د پښتنو په قامیت او دود دستور یوه ډرامه ولیکي چې مونږ یې ستیج کړو -- دغه وخت کښې زمونږ کالج کښې دوه پښتانه استاذان وو چې کرامت الله او سرور خان یې نومونه وو. کرامت الله زما نوم وړاندې کړو. ما کله ډرامه نه وه لیکلې او نه مې لیدلې وه -- دغه وخت کښې به خاموش فلمونه وو --رهغه مې کتلی وو -- دغه وخت کښې مې د پنجاب یونیورستی دامتحان لپاره څنی --کتابونه لوستی وو چې یو پکښې ناټک ساګر نومیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کتاب کښی د ایران یونان او قدیم سنده تاریخ نه علاوه نورې قیصې هم وې چې مالوستې وې-- زمونږ کلاس کښې څنې هندوان وو چې هغویې د موسیقی ډېر تکړه وو او در مسال کښې به ئې سندرې هم وئیلې هغویی را ته ووې چې ته دې ډرامې له کوم شعرونه لیکې هغه به په وزن او اصولو مونږ برابر کړو. خیر ډرامه مې ولیکله-- د کلو ښائست-- نامه ئې وه. یوه هفته پس تا کال کښې دنواب عبد الصمد خان حجره کښې ستیج شوه. ډرامه ډیره خوښه کړی شوه بیا دا ډرامه پرنسپل سره وه -- هغوئی وې چې حکومت ته به ئې لیږم ما ترې څنې ضروری نوټونه واخستل او ډرامه پرنسپل سره پاتی شوه -- په ۳۱ مارچ زما امتحان وشو او اپریل ۱۹۵۳ء کښې واپس کلی ته راغلم -- بیا پیښور کښې ریډیو ستیشن جوړ شو-- قلی خان دا ډرامه پرنسپل نه اخستې وه دغو ورځو کښې اسلم خټک د ربډیو ستیشن دائریکټر وو -- ماته خط راغلو چې ستا ډرامه به ریډیو نه نشریږی-- د اوریدو نه پس پرې خپل تاثرات را کړه --ما سره ریډیو نه وو درامه مې وانه وریدله . زه بې غمه شوم په ۱۹۳۵ء کښې یوایجو کیشن انسپکټر وو -- هغه راته ووې چې تانه ۵۲ کسان سینیر دی چې سرکاری سکولونو کښې ځائې پیدا شی نو دویی نه پس به ته هم ورشې . زه په ۱۹۳۶ء کښې کرک کښې داستاذ په حیث سکول ته لاړم دغه د ۵۲ کسانو کشمکش کښې مانه درامه هیره وه. او بیا کرک کښې د خلقو لهجه او ژبه اوریدو سره را ته د لغت لیکلو دلچسپی پیدا شوه نو ډرامه را نه بیخی هیره شوه-- بیا په ۱۹۸٦ء کښې ډاکټر اعظم د پښتو ډرامې په فن پښتو رساله کښې یو مضمون ولیکلو هغه دوینو جام په نامه ډرامه داسلم خټک لیکلی شوې دریډیو نه نشر کړې یاده کړې وه -- ما اعظم ته خط ولیکلوچې ورومبی ډرامه ما لیکلې ده بیا زما یو اشنا سلیم شاه ووې چې دا خبره نیمګړې نه پریږدو- ته د کرامت الله هغه خط او ډرامه پیدا کړه چې موازنه ئې وکړو ما هغه نیمګړې ډرامه پیدا کړه هغه مو چې دوینو جام سره موازنه کړه نو ټول په ټوله د پلاټونو متلونو او نومونو پورې دوینو جام زما د ډرامې نقل وو-- یو کس نیم د هغه په حمایت کښې مضمون دوه هم ولیکل خو اسلم خټک په خپله سریزه کښې لیکلی دی چې یوه مختصره ډرامه وه او بله « خونی منظر وو هغه ډرامه لویه وه چې زه ئې متاثره کړی یم-- د هغه مختصرې ډرامې نوم ئې ونه لیکلو-ذ دغه زما ډرامه وه .

تر کومه حده چې د عبد الکریم مظلوم تعلق دی نو هغه ریډیو کښې ملازم وو او اسلم ختک به خپل ټول کار په هغه کولو --کیدی شي چې هغه پکښې هم څه نه څه اضافه کړې وي خو هغه صرف اسلم خټک لپاره نقل کړی ده..

س:

تاسو لغت لیکلو ته څنګه متوجه شوئ؟

ج:

کله چې ما خوشحال بابا ولوستو نو هغهٔ کښې راته داسې مشکلات پیدا شول چې د هغه په ځنو لغتونو پوهیدل ډیر ګران وو -- اوس خو دوست محمد کامل ډیر اسان کړے دے خو وړاندې داسې نه وو- او بله خبره دا ده چې کله زه کرک کښې استاذ وم نو د هغه خلقو لهجې هم دې ته وهڅولوم چې پښتو کښې یو لغت ولیکم.

س:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو نه وړاندې چې د لغت په لړ کښې کوم کارشوی وو- هغې نه تاسو مطمئن يئ؟ او ايا تاسو نه وروستو د پښتو لغت په ليکنه کښې څه اضافه وشوه که نه؟

-- ج

د پادري خير الله لغت په لغت نه دی حساب-- هغه ډېر وړوکی دے د راورتی او ځنې نور لغتونه هم ماته مخکښې وو او ما کتلی هم وو-- خو د اطمينان وړ نه وو- پښتنو کښې زما په خيال لغت ما نه چا مخکښې نه دی ليکلی-- او له ما وروستو که چا ليکلی هم دی نو هم زما لغت ئي هضم کړے دے-- حکومت قلندر مومند ته لوئی پراجيکټ او لکونه روپۍ ورکړې خو چې لغت ئې وليکلو نو هم زما لغت ئي هضم کړے ؤ او ما خو په داسې حال کښې ليکلی وو چې هيڅ قسمه وسائل او اسانئ را سره نه وې- دقلندر د لغت په حقله چا وئيلی وو چې «ظفر اللغات» ئې په «درياب» لا هو کړو.

:س

تاسو ته د پښتو لغت ليکلو کښې څه مشکلات مخې ته راغلی وو؟

--- ج

ماته حکومت هيڅ قسمه سهولت نه وو راکړی --زه به د مختلفو سيمو لهجې لپاره هغه سيمې ته تلم هوټلونو کښې به مې چايې څښلې او د خلقو خبرو ته به مې غور ايښی وو او دغسې به مې د هغوی د خلې نه لغتونه ليکل او بيا به مي د هغې معني معلومولې او دا هر څه په خپلو محدودو وسائلو کښې-- ځنو خو ډېر شور جوړ کړی وو چې په څلورو ژبو کښې به لغت ليکو وسائل ورسره وو خوڅه ئې ونه کړل-- قلندر سره د وسائلو زما لغت په درياب لا هو کړو ما که څه کړی دی نو صرف په خپله دلچسپی او محدود و وسائلو کښې مې هغه وخت کړی دی چې د پښتنو خيال لا لغت ته نه و.

--- س

تاسو په خپل تاريخ پښتانه د تاريخ په رڼا کښې دا نظريه ښودلې ده چې پښتانه ارين دی-- دې نظريې سره کومو مورخينو اختلاف کړے دے او ستاسو نه وړاندې دا نظريه چا ښودلې وه ؟

: ج

دې لړ کې ډېرې نظريې ښودلی شوی دی څوک وائی پښتانه اسرائيلی دی، سلطان محمد صابر وئيل چې مخلوط قوم دے، غنی خان وائی ديونانيانو کړه وړه لری او مولانا عبد القادر وانی دا يو ځانته نسل دی. ټولو نه وړومبی سيد جمال الدين افغانی وئيلی وو چې پښتانه اريه دی-- حبيبي صاحب هم دا نظريه لرله. بيا ما خپل دلائل پيش کړل چې پښتانه «آرين» دی -- دې لړ کښې نور هم ډېر کار شوی دی-- لکه د روشن خان تاريخ --داحمد علی کهزاد دوه تاريخونه فارسی کښې او نور ډېر . ما د ټولو حوالې ورکړی دی خو اخره کښې مې د خپلې نظريې دپاره دلائل پيش کړی دی. مانه وروستو هم په دې ميدان کښې کار شوی دی خو زه ډېر لوستی نه شم -- البته پريشان ختک نومې يو پروفيسر دی چې په خپل کتاب پښتون کون ؟ کښې ئې هر څۀ زما تاريخ نه اخستی دی او زما حواله ئې نه ده ورکړې-- دې نه علاوه يو ډاکټر دی چې سعد الله جان برق نوم ئې دی- هغه د پښتو رساله کښې قسطوار خپل تحقيق د پښتنو تاريخ ، تريخ تاريخ » چاپ کړی دی هغه هم هر څه زمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستی دی او زما نوم ئې ډېر په تحقیر سره اخستی دی-- لکه داچې زمونږ د کلی بهادر شاه ظفر ...هم پرې څه کار کړی دی وغیره

---س
دپښتنو د اصل نسل تاریخ نه علاوه دپښتو ادب یو تاریخ لیکلو ضرورت مو ولې محسوس نه کړو؟
---ج،
ماسره یو خو زیات وخت نشته بله خبره داده چې زه اوس نه ډېر لیک کولی شم او نه لوست نظر می هم خراب دی البته ذهن می ښه صحیح کار کوی-- دغه مشکلات وو چې دادب تاریخ مې ونه .لیکلی شو

:س
ستاسو په خیال پښتو به څنګه ترقی و کړی؟
:ج
.زما نظریه داده چې پښتو هله ترقی کولی شی چې غیر پښتانه ئې زده کړی

س
د لغت او تاریخ د بنیادی کارونو نه علاوه ستا سو علمی او ادبی خدمات کوم دی؟

:ج
ماټول اته او یا کتابونه لیکلی دی چې دیرش پکښې درسی دی -- درسی کتابونو کښې د اول نه تر اتمه پورې مې اته کتابونه د عبد الخالق خلیق صاحب په مشوره لیکلی دی-- په ۱۹۶۱ء کښې دصدر ایوب په زمانه کښې می درروغ لیونی په مرسته دولس کتابونه نور نصاب لپاره لیکلی دی-- لس کتابونه ما او اجمل ختک په شریکه لیکلی دی- پینځه دیرش کتابونه مې د مقامی جماعت اسلامی په مشوره په اسلامی موضوع اردو نه ترجمه کړی دی چې معاوضه ئې هم راکړی شوې ده-- درې کتابونه مې پۀ اخلاقی موضوعا تو ماشومانو لپاره لیکلی دی - دې نه علاوه د کاکا صاحب سوانح د شیخ رحمکار صاحب په نامه -رهنمائی پښتو او ورسره هغه کتابونه چې زه ئې ژوندی کړم پښتانه د تاریخ په رڼا کښې او ظفر اللغات --پښتون اپنی نسل کے .آئینے میں اردو کښې دپښتنو تاریخ دے

:س
ستاسو کتابونه د ملک نه بهر خوښ کړی شوي او رسیدلي دي که نه ؟

---ج
روس کښې زما په تاریخ ترجمه کولو د پی ایچ ډی سند ور کړے شوے دی. افغانستان کښې زما کتابونه ډېر زیات خوښ کړے شوی دی --یؤ ځل را ته اجمل ختک ویيلي وو چې زه بهر ملک ته تلے وم اوړستا کتابونه مې هم خان سره وړی وو خو هغه را نه په لاره کښې خلقو ټول واخستل .چې داخو ډېر اهمیت لری. نو دغسې زما کتابونه بهر هم خوښ کړی شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**---د مرکي نیته**
**27-3-98**

---

**دویمه برخه**

**د کاظم خان شیدا د جمال په نظریه-- علویت---او تنقیدي شعور مې بیلې بیلې مقالې په خپله هلکوانه کښې لیکلې او چاپ کړې وې--- په ۲۰۰۵ کښې مې بیا د شیدا دیوان د خپلې مقدمې نوټونو او فرهنګ سره تدوین او چاپ کړو---په کال ۲۰۱۷ کښې مې د شیدا د دیوان شرح وړومبۍ برخه چاپ کړه او خپلو لوستونکیو سره مې ژمنه وکړه چې د دغه شرحې به دوه برخې نورې هم چاپ کوم-- ګران جوهر خلیل او په سوونو مینه والو به راته په فون سوشل میډیا او مخ په مخ یادونه کوله چې دویمه برخه به کله راځي-- ما به پرې شروع کړه او د کومې نوې منصوبې په وجه به پاتې شوه---اوس خپلو مینه والو سره د خپل مسرت خبره شریکول غواړم چې د شرحې دویمه برخه مې تکمیل ته نزدې شوه--- د شیدا د غزل برخه به دې دویمه برخه کښې مکمله شي او نظمونه قطعات او رباعیات به دریمې برخې ته پاتې شي-- دغسې به د پوره دیوان شرح وشي--- انشالله دویمه برخه به یوه میاشت کښې پریس ته وسپارم-- یوه خبره بله د مسرت او اطمینان چې--- هر چا نه به مې اوریدل چې شیدا مشکل پسند دی خو اوس دا هم اورم چې شیدا اسان دی خو غور ذوق او توجه غواړي---زما مینه ناک لوستونکي او د شیدا عقیدت مند دې راسره د --شرحې دویمې برخې ته بس میاشت دوه انتظار وکړي--- په مینه او درناوي**

---

**په مزار به دې تیاره وي پس له مرګه**
**په انوار چې لکه شمع مستعیرې**

**---نوټ**
**د شیدا د تفصیلي شرحې په دویمه برخه کښې کار کوم نو دا شعر یې مخې له راغلو -- ورته لږ --اودریدم او زړه مې وغوښتل چې خپلو مینه والو سره پرې هم څو خبرې وکړم**

**---وضاحت**
**په دې شعر کښې د توجه مرکز --مستعیرې-- کلمه ده --چې اصل کښې -- مستعیر یې-- ده یعني مخاطبه ده-- مستعیر عربي ده-- پور اخستونکي ته وایي--- مستعار قرض یا پور ته**
**وایي---استعاره توری هم له دغې مستعار نه جوړ دی چې هلته ورته --مستعار له -- وایي یعنې چا --- د پاره قرض شوی نوم**
**شیدا وایي چې د شمعې نور انوار یا رڼا هم مستعار ده--یعنې کله چې محفل راجوړ شي نو شمع بله شي ګنې هسې یې رڼا نه وي---بل دا چې رڼا صرف د شمعې په سر وي-- د شمعې لاندې د وجود برخه تیاره وي--- لکه د ډیوې د پاره چې محاوره ده چې --د ډیوې لاندې تیاره---یا اردو کښې وایي چې --چراغ تلے اندھیرا-- ګویا شمع چې ولاړه وي نو مثال یې د کوم مزار د ګنبد غوندې وي-- او په مزار کښې هم پورته خو شمعې بلې وي او رڼا وي خو لاندې پکښې تیاره وي--- او دا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم چي په بد نصيبه مزار کښي پورته هم څوک شمعي نه بلوي نو ځکه تیاره وي--- دا هر څه ولي-- دا ځکه چي شمع پخپله ځان رڼا کولی نه شي--- رڼا کیدل یې محفل ته محتاج وي یا نورو خلقو ته محتاج وي -- یعني رڼا یې مستعار وي ځکه شمع مستعیره وي--بل خوا د شمعي مثال د هغه مزار وي چي پورته خو رڼا وي خو لاندې برخه یې بیا هم تیاره وي---ګویا شمع په خپله رڼا --کښي مستعیره وي

دغه مشاهده شیدا انسان د پاره هم راوړي او وایي چي پس له مرګه به دې په مزار تیاره وي که لکه د شمعي مستعیر یې یعني خپل فطري صلاحیت قابلیت او د حسن اخلاق رڼا نه لرې--په دنیا کښي په ژوند هم هیڅ جوهر نه لرې -- د بل په ادانو ژوند کوې او د دروغو د خپل اهمیت لاپې کوې نو بیا خو ته هم په انوار کښي لکه د شمعي مستعیر شوې ځکه د مرګ نه پس به دې په --مزار کښي ښکته هم تیاره وي او پورته هم

دې ته هم غور وکړئ چي د مرګ او مزار کلمي شیدا څومره په کمال راوړې دي--- د مستعیرې شمعي مړه کیدل او ورسره تیاره کیدل--- بل خوا د بې صلاحیته انسان مړه کیدل او په مزار کښي یې تیاره کیدل---بیا دا هم چي د مزار او شمعي نسبت هسي هم د تولنیز دود برخه ده--- نو شیدا ---دغه دوه تکلمي مزار او شمع څومره په نزاکت او شعري تکنیک کارولي دي

--هسي د خوند د پاره به د مزار او شمعي په مناسبت د حمزه بابا شعر هم راوړو

موده پس اشنا راغلی دی رقیبه

شمع بله نن زما په مزار پرېږده

---

اته ویشت کاله مخکښي په مارچ ۱۹۹۶ کښي زما د واده په مشاعره کښي د پښتو غزل خوش نوا بلبل اروابناد اکرام الله ګران ما ته څو دعاګاني کړې وې او دغه څو شعرونه یې راته ډالی کړي وو ---چي زما د ژوند اثاثه ده---ملګرو سره یې شریکول غواړم

په دلو د خوشالو کښي دې راګیر شي
محبت د هر یو زړه دې ترې چاپیر شي

چي طالع یې لکه نمر هسي ځلیږي
نحوست که زورور وي ده ته زیر شي

لاس په لاس د خپل محبوب سره روان وي
د ژوندون په لوې سفر کښي ورته خیر شي

چي غونچي غونچي د سرو ګلونو تل شي
دا دوه ډکي د ګلاب دې هومره ډیر شي

یو ساعت د جانان زړه نه بهر مه شه
که په سترګو کښي یې ورک شي تیروبیر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حنیف غونډې یاران خو نه هېرېږي**
**خدای دې نه کا چې یاران د ده نه هېر شي**

---

**کله نا کله ست د جام کوه**
**په تا مېین یم په ما پام کوه**

**سیف الرحمان سلیم سره مرکه**
**مرکه کوونکی--- حنیف خلیل**

**نوټ--- سلیم صاحب به زمونږ د نوي نسل ډیر زلمي ادیبان سم نه پیژني ځکه چې دوئ نن سبا څه بل قسمه شاعران پیژني---خو ما خپلو ځنو نورو لیکونو کښې هم سلیم صاحب د اردو د فیض احمد فیض او ساحر لدهیانوي سیال ګڼلی دی او دلته هم د خپل دغه موقف تکرار کوم---هغه سره شوې ---پنځه ویشت کاله پخوا یوه مرکه خپلو مینه والو سره نن شریکوم**

**سلیم صاحب د پښتو د ترقی پسندې ډلې شاعر دی شاعری ئې دانساني درد، رشتو او تقدس ترجمانه ده د مظلوم مرسته او سرمایه دار خلاف اواز پورته کول دده د شاعرۍ بنیادي موضوع ده. دغه قسمه شاعري که به نظم کښی اجمل خټک عروج ته رسولې ده نو په غزل کښې دغه خصوصیت د سلیم صاحب په برخه دی زما په خیال که مونږ د اجمل خټک او سلیم شاعری بوځائ کړو نو د اسلوب د انفرادیت سره سره به د اردو د فیض احمد فیض کمی پښتو کښې هم پوره شی سلیم صاحب ډېرې لږې خبرې کوي او ډیره کمه شاعری ئې کړې ده خو په معیار پوره ده. د ترقی پسند فکر نمائندګی یی ډیره به فنی انداز کړې ده شعری مجموعه ئې د «سندریزه شفقونه په نامه افغانستان کښی چاپ شوې ده چې افراسیاب خټک پرې بوه علمی تبصره هم لیکلي ده. سلیم صاحب سره څه لږه ډیره ناچاپ شاعری شته خوچاپ کولو ته ئې ډیره سنجیده اراده نه لري ګوشه نشین سړی دی خو په دې خبره یي یقین دی چې که یو شعر ئې هم ژوندی پاتې شي نو کافی ده د اولسي ادبي جرګې د ادبی میدان لوبغاړی دی د شلمې صدۍ په ډیرو اهمو شاعرانو کښې ئې شمار پکار دی.**

**--پوښتنه**
**--سلیم صاحب ورومبی سوال روایتي غونډې دی چې شاعر څنګه شوئ**

**---جواب**
**دا پوښتنه عموماً به مرکو کښی کیږي خو زما په خیال ددې مثال خو داسې دی چې یو ماشوم پیداشي او څوک ترې پوښتنه وکړي چې ته ولې پیدا شوې یا څنګه پیدا شوې نو ما سره ددې خبرې جواز او جواب هم نشته چې ولی یا څنګه شاعر شوم او که خامخا ورله جواز لټوو نو دا به ووایم چې بو خو زما د وړوکوالي نه ادب سره مینه وه بل زما والد صاحب په فارسی ډیر ښه پوهیدو هغوئ به د فارسی ګلستان بوستان را ته په کور کښی وییل-- څه دغه اثر وو او بیا . چې لږ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نور هم لوئي شوم نو ادبی رسالي وغیره به مي هم کتلي شاید چې د هغې اثر هم وي خو دا بیا هم نه شم ویيلی---چې زه ولې او څنګه شاعر شوم.**

**س**
**دومره ګوشه نشین او ادبی دائرې نه يو خواته ولې يئ؟**
**:ج**
**زما خیلی کمزورئ دی يو خو زما هغه ملګری هم څه وفات شول او څه کمزوري شول وړاندې به ما هم دملګرو او ماحول د اثر په وجه لیکل کول او په ما به هم لیکل کیدل خو اوس راته ماحول او حالات څه بدل غوندي ښکاري نوي څه ماسره نه وي او زاړه را ته وئیل مناسب نه ښکاري --بله دا چې چرته ادبي محفل ته لاړشم نو رانه د شاعرئ اورولو تقاضه کیږي- مشکل را ته پيښيږي -- خواهش مي ډیر وي ځان هم خبروم خو د خپلوخنو کمزورو چې جسماني کمزورئ هم پکښی شاملې دي له وجې ادبي محفلونو ته نه شم رسیدلی.**
**س**
**ادبی محفلونو نه علاوه کتاب رساله یا اخبار کښي هم ستاسو د ادبي سرګرمیو پته نه لګی؟**

**ج**
**دې څیزونو نه ځان پخپله پټ ساتم-- پخوا مي هم دا خواهش نه وو چې زما کلام دې خامخا چاپ شي او اوس مې هم نه دی. پخوا به کله کله اسلم، رساله کښې زما څۀ کلام چاپ شو خو اوس بلکل دا نه غواړم چې رسالو او**

**اخبارونو کښي دې هر وخت شاعري چاپوم. ځکه چې زه په موجوده حالت کښي ځان د دې جوګه نه ګنم-- زه د خپل معیار نه مطمئن نه يم دې کښي هيڅ قسمه مبالغه نشته. زه څه ښه معیار ته ځان رسول غواړم چې لا تر اوسه نه يم وررسیدلی په دې وجه به کتاب رساله وغیره کښې ډیر نه يم چاپ شوی-**

**س: دومره کم ولې لیکئ؟**

**ج : ما کله هم په اراده او کوشش څه نه دي لیکلي-- دا څه مي چې لیکلی دي نو دا هم هله چې زه ئي ډیر تنګ کړے يم نو لیکلي مي دي . بل زه ډير نا راسته غوندې هم يم . خو خير لږ مي هم لیکلي دي او مطمئن هم ترې نه يم که بیا هم زما شاعري د چا خوښه وي نو خدائ دې ئي خوشحاله ساتی.**
**س**
**په شاعرئ کښی د امد او آورد د نظريو بحقله موخه خیال دے؟**
**ج :ساده خبره داده چې ما شاعری په توکل شروع کړې ده بې ارادې او بی کوششه . چې امد ورته ویلی شو زما په خیال شاعري بو قدرتی شی دی او امد سره تعلق لري**

**: س**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښه شعر تعریف په څنګه کوئ؟

ج

ښه شاعری هغه ده چې بې ارادې وشي او په لوستونکو یا اوریدونکو هم هغه کیفیت قائم کړی --کوم چې د تخلیق په وخت د شاعر وي

--س

اولسي ادبي جرګې ادب ته عموماً او تنقید ته خصوصاً څه فائده (ورکړه ( دپښتو ادب په تناظر کښي

:ج

د دې جرګې قیام نه وړاندې اګرچې ما د شاعرۍ شروع کړې وه خو د هغه وخت د تنقید انداز نه خبر نه وم. البته کله چې دا جرګه نه وه نو دغه وخت کښی به عموماً تنقید صرف ستائني او خالص غندني پورې محدود وو-- دې جرګې د معیاری تنقید بنیاد کیښود. دفنپارې د جاج اخستلو طریقه ئې وروښودله او خصوصاً دا چې ادیبانو کښي ئي د برداشت ماده پیدا کړه. وروستو خلقو د تنقید کولو چل خو زده کړو ولې د برداشت ماده ئې بیا هم پیدا نه کړه - پکار خو داده چې تخلیق کار د نقاد شکریه ادا کړي چې د هغه په تخلیق ئې غورو وکړو او د هغی اصلاح لپاره مشوره ئې ورکړه خو نن خلق خپلو خامیو او غلطیو له جوازونه پیدا کوي او دا زما په خیال صحت مند تنقید ته نقصان ورکوي

:س

اولسي ادبي جرګه کښی د مختلفو نظریو خلق په اتفاق سره راجمع وو د دوئ ترمینځه د اختلاف نه راتلو وجه څه کیدی شي؟

ج

غټه وجه داده چې دټولو مشترکه مقصد د پښتو ادب ترویج و او بله خبره دا ده چې ټولو کښی د برداشت قوت زیات و. یو بل یې زغمل او د یو بل

احترام ئې کولو --رد کامل مومند، حمزه شینواري او کا کاجي صنوبر حسین مومند دسیوري لاندې هغه زمکه تیاره شوې وه چې هر تخم بکښې زرغونیدی شو -- نن سبا خو څوک یوربل بیخی نه .برداشت کوی جمهوریت هم هسې د نامې پاتې دی

س

داولسي ادبي جرګی د ورانیدو پس منظر ستاسو په خیال څه دی؟

ج

کامل صاحب به همیشه د جرګې جنرل سکرټری وو، ځکه چې هغه ډیر پوهه او زیرک سړی وو -- په قانون هم پوهه وو او په ادب هم - رابطه یي هم ډیره ښه وه-- یوځل په ګپ شپ کښې چا ووې چې زړه کابینه ختموو او نوې کابینه راولو -- حمزه صاحب خوچا هم اخوا کول نه غوښتل د کامل صاحب په مقابله کښی چا دروهمی صبب نوم د جنرل سکرټری عهدی د پاره تجویز کړو کامل صاحب خپل نوم واپس کړو په دغه کال وهمی صبب سکرټری شو. خو بیا د جرګې هغه خوند پاتې نه شو--ځکه چې په کا کاجی حمزه او کامل کښې که یوسړی هم اخوا شوی وی نو جرګه نه چلیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او بیا ثابته هم شوه چې کامل صېب ترې کابینې نه ووتو نو جر که ونه چلیده او ختمه شوه. خو کامل صبب دومره لوې سړی وو چې چاته ئې هم د خفگان احساس نه دی ورکړی. زما خیال دا دی چې په دې طریقه د جرگې د ورانولو او کامل صېب د کابینی نه ویستلو سازش شوی و او دې سازش لپاره چا وهمی صبب تیار کړی و خو سازش چاکړی و دا معلومه نه ده بس دومره معلومه .شوه چې د کامل صېب د تلو نه پس جرگه دانه وانه شوه**

**:س**

**ستاسو په وخت کښې د پښتو خبره کول یا د پښتو شعر و ادب سره تعلق لرل خو لوئ جرم وو- حکومت ستاسو خلاف خو په دغه جرم څه کاروایي نه ده کړې؟**

**: ج**

**د حکومت په نظر کښې زه ډېر خراب سړی وم ما پسې یی سی ایي دډې والا کړې وو چې وروستو می هغوئ هم خپل دوستان جوړ کړل. خوزه حیران په دې یم چې حکومت ما غونډې بې ازاره سړې باندې ولی دومره توانائی خرچ کوله. زه خو د تخریب او انسان ته د تکلیف ورکولو ډېر سخت .مخالف بم. ما نه حکومت ته څۀ خطره کیدی شوه؟ خو بیا هم زما خلاف یی کارروائی کوله**

**س**

**په عملي یا نظریاتي توگه مو سیاست سره څه رشته پاتې شوې ده؟**

**ج**

**زه خدائي خدمتکار یم او وم --خو نظریاتي طور سره-- ممبر شپ مي د یوې سیاسي پارټئ هم نه -دی کړی**

**س**

**ادب او سیاست څه رشته لري؟**

**:ج**

**ادب په سیاست کښې د ټریفک دسپاهي کار کوي- د ادب کار نگراني ده. ادب صرف اشاره کوي خورد خیلي اشارې د عملي کولو طاقت نه لري-- بل خوا سیاسي پارټي تنقید نه برداشت کوي نو په -دې وجه ادب نه ئې هم فاصله زیاتېږي**

**س**

**ادب د پروپیگنډې لپاره استعمالیدی شي او که نه؟**

**ج**

**استعمالیدی شی --کوم دردونه چې په ادب کښې ښودلی شي که هغه په حقیقت کښې موجود وي نو که درهغې ترجماني به استعارو او علامتونو کښې په فنی پیرا یه کښې وشی نو دا ادب دی او پروپیگنډې لپاره استعمال شو او که همدغه حقیقی دردونه نیغ په نیغه او بربند شکل کښې راوړاندې کړی شي نو بیا ادب نه دی صرف پروپیگنډه ده. ما خپل ځانی چرته هم د کومې سیاسي پارټئ د نظریې وړاندې کولو کوشش نہ دی کری البته خپله یوه نظریه ضرور لرم چې په ادب کښې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې وړاندې کوم او هغه نظریه دانسانیت د ښیګړې ، میني او ورورولی او امن پیغام وړاندې کول دی.

س

تاسو ترقی پسند تحریک سره تړلي پاتې شوي یئ که نه؟

--ج

زما شاعري ترقی پسنده ده او که نه خو دغه تحریک می خوښ وو-- زه ځان هم د دغه ترقی پسنده قافلې یو کمزوری ملګری ګنم. ځکه چې ترقي پسندو لیکوالو سره قامي درد وو او هغه ئې په ادب کښې را وړاندې کول غوښتل او د کمزوري د مرستې قائل وو خو دی اثراتو نه مذهب هم خالي نه دی. هر د مظلوم د مرستي او ظالم خلاف د اواز پورته کولو او اوریدلو چې د کمزوري د مرستې خبره کوی نو ترقي پسند دی-- نن خو قاضی حسین احمد د جماعت اسلامي مشر هم داخبره کوي چې سرمایه دارو نه خپل حق واخلې. نو دې رویې ته که څوک د ترقي پسندۍ نوم ورکوي او که نورڅه خو دا روئیه پښتنو کښې د پخوانه په یو جدا شکل کښې موجوده و ه -لکه رحمان بابا چې --وئیلي دي

په سبب د ظالمانو حاکمانو
--کور او اور او پیښور درې واړه یو دي

ترقي پسندو مزدورانو کسان ته د شوکمارونه د خلاصي طریقه ښودله دا ډیرې اهمې مسئلې دي او شاعر ادیب ډیر حساس وي -- هغه دې مسئلو ته د هرچا نه وړاندې متوجه کیږي خو د مسئلو :بیانولو په وخت انداز بیان بربند نه بلکې شاعرانه پکار دی لکه فیض چې ییلي دي

ہم نے جو طرز فغان کی ہے قفس میں ایجاد
فیض گلشن میں وہی طرز بیان ٹھری ہے

س

ترقي پسند ادب پښتو ادب متاثره کړو که نه-- که وینو په کومو ذریعو؟

ج

د ترقي پسند ادب اثرات اردو نه هم پښتو ته راغلل او تعلیم یافته خلقو انګریزي نه هم اثرات و اخستل که د خلقو به اردو یا انګریزی سره دلچسپي نه وه هم نو دغه موضوع او مسئلو لپاره به ئي لوستل - کوم چې د ترقي پسند ادب منشاء ده او لکه چېې وړاندې مې ووې دا اثرات په یوجدا شکل کښې وړاندې هم پښتنو کښې موجود وو د باچا خان تحریک ټول په ترقي پسند بنیاد ولاړ وو او بیا د تقسیم نه پس خو ټول برصغیر کښې خلق بیدار شول او غور و فکر ئې شروع کړو سیاسي شعوریې هم تیز شو او سماجي هم-- کامل صاحب به وئیل چې خلق د ازادۍ غوښتو چل حالاتو نه زده کوي خو پښتون بچی یی د مور غیږې نه زده کوي پښتنه مور ماشوم ته بالخت لاندې چاړه چاقو دې د پاره ږدي چې بیریان ئې ونه ویروي بیا چې لوې شي نو د خپل حق غوښتلو لپاره ئې استعمال کښې راولي نو په دې بنیادپښتون په فطري توګه سیاسي شعور لري

--س

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستاسو به خیال پښتو کښی روماني شاعري څومره ده او د کوم معیار ده ؟**

**--- ج**

**روماني شاعري ښه ده خو دغه قسمه شاعری باندې هر سری نه پوهیری-- غنی خان ډیر ا یډوانس سړی وو خورهر وخت به ملا سره به جنګ وو --دغه شان اشرف مفتون سره هم آزادي شته خو ښه خبره داده چې دواړورڅه وئیلي دي نو کاواکه شوي نه دي او انداز ئې هم خپل منفرد -ساتلی دی**

**س**

**تاسو روماني شاعري ښه ګڼئ که مقصدي او ترقي پسنده؟**

**--- ج**

**خبره داده چې فرض کړه دلته مونږ لس کسان یو او د هر چا شکل بدل دی خو بدرنګ چا ته هم نه شو وئیلی-- د هر چا خپله ښکلا ده رومانویت پخپله یو مقصدیت دے خو مقصدیت داسې پکار دی چې څوک ګمراه نه کړي شاعري ډیره زورداره ذریعه ده -ذدې نه څه مقصدی کار اخستل پکاردی**

**: س**

**ځنې خلق ستاسو او د حمزه بابا د شاعرانه چشمک یا مقابلې خبره کوي -- دې کښې څومره صداقت شته؟**

**:ج**

**داخبره بلکل غلطه ده چې زه به د حمزه بابا غوندې عظیم شاعر سره د مقابلی یا چشمک تصور هم وکړم--ما ټول عمر د حمزه بابا احترام کړی دی . ټول عمر کښې مې ورسره څه هم اختلاف نه دی راغلی- ما یو شی هم د هغه د مقابلی دپاره نه دی لیکلی زمونږ د شاعری میدانونه جدا دي. هغه بل څه وائي او زه بل څه-- هغه ډیر همه ګیر دی او زه محدود - زه د هیڅا عظمت نه هم انکار نه کوم بلکې زما نظرئیه داده چې چرې هم ځان ته درونډ او بل ته سیک نظر ونه شی او بیا د حمزه بابا غوندې ستر شخصیت سره د مقابلی په سوچ کولو به هم زه ځان ګناهګار وګنم. که څوک .خامخا زما شاعري د هغوئ په مقابله کښې پیش کوي نو دا د هغوئ خپله ذمه ده**

**س**

**تحقیق ، تنقید او نثر وغیره مو ولې ونه لیکل ؟**

**---ج**

**دې لړ کښی زه هیڅ جواز نه لرم چې ما ولې دا کار ونه کړی شو خو دا به ووایم چې زه نا راسته انسان یم. اکثر خلق راته په کتاب د دیباچې وغیره د لیکلو وایي خو نه شم لیکلی پخوا مې د اولسي ادبي جرګې رودادونه لیکل خو په صحیح طریقه مې نثر خصوصا تحقیق او تنقید وغیره په لیکلي .شکل ونه کړی شول چې ماته یې یقینا افسوس دی**

**: س**

**ستاسو په خیال په موجوده شکل کښې پښتو ادب د عالمي ادب سره سیالي کولی شي؟**

**:ج**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ اصلي مقابله اُردو سره ده او اردو قابضه ژبه ده. زمونږ د پښتو ادب معيار اوچت دی خو ددې د مقبوليدو ذريعې نشته بله خبره داده چې د اردودانو آزادانه مزاج هم مونږ نه شو خپلولی چې د ترقی لپاره مدد ورکوي-- د پښتو د خپل مزاج ثقافت او تقاضو مطابق زمونږ د ادب معيار ډير ښه دی. نن سبا چې څوک څه ليکي نو د موجود ماحول او ژوند د ترجمانی مطابق يې ډير ښه ليکي-- کيدی شی د موجوده ادب . دا تقاضې نه وي-- دغسې ادب په پخوانی تله هم نه دی تلل پکار زمونږ په ادب که درمعيار اعتراض کيږي نو هغه پاپندو او حالاتو ته هم کتل پکار دی چې ددې ادب د معيار په لاره کښې ئې بنديز راوستی دی. او دې سره سره خپل کلچر او ماحول ته هم کتل پکار دي-- د موجوده ادب معيار نه زه مطمئن يم.

س

عالمي ادب کښې چا نه مطمئن او متاثر يئ؟

ج

د چا انفرادي تاثر را باندې نشته د هر چا هر څه نه متاثر نه يم خو د ځنو عالمي اشخاصو د ځنو ليکونو د مجموعي اثر نه متاثر يم.

س--

ستاسو په خيال د ادب مقصد څه پکار دی؟

ج ---

د ادب د تخليق په وخت د تخليق کارړپه مخکښې مقصد نه وي -سړی اول شاعر شي بيا وروستو د مقصد تعين کوي- زما په خيال بې مقصده هيڅ شی او هيڅ ادب نه وي- زه خو دا هم وايم چې د ادب برائے ادب، او ادب برائے زندگی نظريې هم بې ځايه جوړې شوې دي-- کہ ادب برائے مرگ وی او د خود کشی تلقين پکښی شامل وی نو بيا جواز جوړيدی شو خو هر کله چې ژوندی سړی ادب تخليق کوي نو د ژوند لپاره يې کوي نو زما نظريه دا ده چی هر ادب چی تخليق کيږي د يو مقصد لپاره کيږی.

س

- د ازاد نظم هائيکو وغيره رواج پښتو ته وده ورکولی شي که نه

ج

ضرور وده ورکولی شي- زه د هرې ښائسته خبرې په حق کښې يم د ښائسته خبری د هر انداز قائل يم نو که څوک ښه خبرې دازاد نظم يا ها ئيکو په شکل کښې وکړي نو ضرور به پښتو ادب ته وده ورکوي-- زما په خيال خو دا نوي صنفونه د پښتو ادب په چمن کښې نوي ګلونه دي-- د دې نوو او ښائسته ګلونو چې څومره اضافه وشي د چمن ښائست به پرې زيا تيږي--

س :

صحافت سره مو رشته پاتې شوې که نه؟

ج

پاتې شوې ده د ر سالی نوم رانه هير دی خو يو درېمياشتنی رساله مو ويستي وه -- دا مجله به وړاندې يو اپريدي چلوله، زه ورته يوسف خان اورکزی مجبور کړی وم- ريډيو له مې ډيره موده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکرپټ لیکلی دی - شهباز اخبار له مې کالم لیکلو-- ریډو ته هم د شهباز اخبار په وجه راغلی وم
.

:س
اینده موخه اراده ده چې خپلو ادبي سرگرمو ته به وده ورکوئ که نه ؟
--- ج
ما سره څه ګډې وډې غزلي شته که مې را غونډې کړی شوې نو چاپ به یی کړم-- ګنی که یو شعر
.مې هم ژوندی پاتې شو نو کافی ده
س نوو لیکونکیو ته به څه مشوره ورکوئ؟

---ج
نوي لیکونکي چې هر څه لیکي نو مطمئن کیدل پرې نه دي پکار ګنې ښه تخلیق به ونه کړی شي
د ماضی او نن رابطه هم پکار ده --د ماضی د ادب مطالعه او د نن د حالاتو مشاهده ډیر ضروري
څیز دی-- نوو لیکوالو ته پکار دي چې په معاشرتي تبدیلو او رجحاناتو هم نظر ساتي او په زده
---.کړه هیڅ شرم محسوس نه کړي-- که داسې وکړي نو زما په خیال به معیاري ادب تخلیق کړی

---د مرکې نیټه--کتاب مخ په مخ ----18-3-99

---

خپل صورت کړه ګل و خشت قصر یې ګوره
رسیدلی ورته څوک په کمند نه دی

--وضاحت
دا شعر د شیدا په اسانو شعرونو کښې دی شاید چې ملګري پرې بغیر تشریح هم په اسانه پوهه
--شي خو په تشریح کښې یې د شعري تکنیک نه خوند اخلو
ګل و خشت--- یعني خټه او خښته---ګل د ګ په زیر دی--فارسی کښې خټې ته وایي -- او خشت
--فارسی او پښتو دوارو کښې خښتې ته وایي
--قصر--- اوچتې مانۍ یا دنګ محل ته وایي
کمند--- د اوسپنې یا فولادو نه جوړه هغه پنجه چې اوږد پړی ورپورې تړلی وي او خلق پرې پاس
--محلونو او قلاګانو ته خیژي
--شعر کښې پیغام خو د عاجزۍ او انکسارۍ خپلولو ورکړی شوی دی خو انداز ته یې وګورئ چې
خپل صورت یعنې خپل ځان خټه او خښته کړه نو بیا د خپل شخصیت عمارت ته ګوره چې څومره
دنګ دی--- دومره اوچت چې څوک ورته په هیڅ شان نه شي رسیدی--- که څوک په دغه عمارت
---د کمند اچولو هڅه هم وکړي خو بیا به هم څوک ور ونه رسي
خټه او خښته دواړه د خاورې نه جوړیږي او خاوره د عاجزۍ علامت دی--- بیا همدغه خټې
خاورې نه قصر او دنګ عمارت جوړیږي چې د اوچتوالي--لوې والي-- عظمت او وقار علامت
دی--- ګویا د دغه عظمت او اوچتوالي اصلي بنیاد په خټه او خښته یعنې خاوره ولاړ دی---یا دا چې
د شخصیت لوې والی او دنګ والی په عاجزۍ او انکسارۍ ولاړ دی--- نو که خپل صورت دې خټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خښته او خاوره کړو نو بیا د خپل شخصیت عمارت ته هم وګوره چې اخر څوک به ستا قد ته در ورسي--بې شکه کمند دې هم په دغه عمارت واچوي--یعنې د دولت شهرت طاقت مکر او فریب پنجې دې هم په دغه عمارت ښخې کړې خو بیا به هم څوک در ونه رسي-- په عاجزۍ کښې د لوې والي او عظمت راز ښودلو د پاره رحمان بابا په خپل انداز کښې وییلي دي چې**

**ژوندی ځان په زمکه ښخ کړه لکه تخم**
**که لويي غواړې د خاورو په مقام شه**

**علامه اقبال سره په غلطۍ منسوب شوی شعر دی چې اصلي شاعر یې سید محمد مست کلکتوي دی-- هغه هم ویيلي دي چې**

**مٹا دے اپنی هستی کو اگر کچھه مرتبه چاهے**
**که دانه خاک مین ملکر گل و گلزار هوتا هے**

**بس دغه د عاجزۍ طاقت او قوت دی چې مختلفو شاعرانو په خپل خپل انداز ښودلی دی او د شیدا پکښې خپل انداز دی---**

**زما مغروره او کبرژن ملګري دې خپل ژوند کښې چرته په عاجزۍ تجربه وکړي او دغه سکون او مسرت دې محسوس کړي نو د شیدا د شعر په مفهوم به په درسته او کامله معنا پوهه شي---**

---

**کله نا کله ست د جام کوه**
**په تا میین یم په ما پام کوه**

**سیف الرحمان سلیم سره مرکه**
**مرکه کوونکی--- حنیف خلیل**

**نوټ--- سلیم صاحب به زمونږ د نوي نسل ډیر زلمي ادیبان سم نه پیژني ځکه چې دوئ نن سبا څه بل قسمه شاعران پیژني---خو ما خپلو ځنو نورو لیکونو کښې هم سلیم صاحب د اردو د فیض احمد فیض او ساحر لدهیانوي سیال ګڼلی دی او دلته هم د خپل دغه موقف تکرار کوم---هغه سره شوې پنځه ویشت کاله پخوا یوه مرکه خپلو مینه والو سره نن شریکوم---**

**سلیم صاحب د پښتو د ترقی پسندې ډلې شاعر دی شاعرۍ ئې دانساني درد، رشتو او تقدس ترجمانه ده د مظلوم مرسته او سرمایه دار خلاف اواز پورته کول دده د شاعرۍ بنیادي موضوع ده. دغه قسمه شاعري که به نظم کښی اجمل خټک عروج ته رسولې ده نو په غزل کښې دغه خصوصیت د سلیم صاحب په برخه دی زما په خیال که مونږ د اجمل خټک او سلیم شاعری بوځائ کړو نو د اسلوب د انفرادیت سره سره به د اردو د فیض احمد فیض کمی پښتو کښې هم پوره شی سلیم صاحب ډېرې لږې خبرې کوي او ډیره کمه شاعری ئې کړې ده خو په معیار پوره ده. د ترقی پسند فکر نمائندګی یې ډیره به فنی انداز کړې ده شعری مجموعه ئې د «سندریزه شفقونه په نامه افغانستان کښی چاپ شوې ده چې افراسیاب خټک پرې بوه علمی تبصره هم لیکلي ده. سلیم صاحب سره څه لږه ډیره ناچاپ شاعری شته خوچاپ کولو ته ئې ډیره سنجیده اراده نه لري ګوشه نشین سړی دی خو په دې خبره یې یقین دی چې که یو شعر ئې هم ژوندی پاتې شي نو کافی ده د اولسي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ادبي جرګې د ادبی میدان لوبغاړی دی د شلمې صدئ په ډېرو اهمو شاعرانو کښې ئې شمار ېکار دی.**

**--پوښتنه**
**--سلیم صاحب ورومبی سوال روایتي غوندې دی چې شاعر څنګه شوئ**

**---جواب**
**دا پوښتنه عموماً به مرکو کښې کیږي خو زما په خیال ددې مثال خو داسې دی چې یو ماشوم پیداشي او څوک ترې پوښتنه وکړي چې ته ولې پیدا شوې یا څنګه پیدا شوې نو ما سره ددې خبرې جواز او جواب هم نشته چې ولی یا څنګه شاعر شوم او که خامخا ورله جواز لټوو نو دا به ووایم چې بو خو زما د وړوکوالي نه ادب سره مینه وه بل زما والد صاحب په فارسی ډېر ښه پوهیدو هغوئ به د فارسی ګلستان بوستان را ته په کور کښې وییل-- څه دغه اثر وو او بیا . چې لږ نور هم لوئې شوم نو ادبی رسالې وغیره به مې هم کتلې شاید چې د هغې اثر هم وي خو دا بیا هم نه شم وییلی---چې زه ولې او څنګه شاعر شوم.**

**س**
**دومره ګوشه نشین او ادبی دائرې نه یو خواته ولې یئ؟**
**ج:**
**زما خیلی کمزورئ دی یو خو زما هغه ملګری هم څه وفات شول او څه کمزوري شول وړاندې به ما هم دملګرو او ماحول د اثر په وجه لیکل کول او په ما به هم لیکل کیدل خو اوس راته ماحول او حالات څه بدل غوندي ښکاري نوي څه ماسره نه وي او زاړه را ته وئیل مناسب نه ښکاري --بله دا چې چرته ادبي محفل ته لاړشم نو رانه د شاعرئ اورولو تقاضه کیږي- مشکل را ته پیښیږي -- خواهش مې ډېر وي ځان هم خبروم خو د خپلوخنو کمزورو چې جسماني کمزورئ هم پکښې شاملې دي له وجې ادبي محفلونو ته نه شم رسیدلی.**
**س**
**ادبی محفلونو نه علاوه کتاب رساله یا اخبار کښې هم ستاسو د ادبي سرګرمیو پته نه لګی؟**

**ج**
**دې څیزونو نه ځان پخپله پټ ساتم-- پخوا مې هم دا خواهش نه وو چې زما کلام دې خامخا چاپ شي او اوس مې هم نه دی. پخوا به کله کله اسلم، رساله کښې زما څۀ کلام چاپ شو خو اوس بلکل دا نه غواړم چې رسالو او**

**اخبارونو کښې دې هر وخت شاعري چاپوم. ځکه چې زه په موجوده حالت کښې ځان د دې جوګه نه ګڼم-- زه د خپل معیار نه مطمئن نه یم دې کښې هیڅ قسمه مبالغه نشته. زه څه ښه معیار ته ځان رسول غواړم چې لا تر اوسه نه یم وررسیدلی په دې وجه به کتاب رساله وغیره کښې ډیر نه یم چاپ شوی-**

(c) ketabton.com: The Digital Library



س: دومره کم ولې لیکئ؟

ج : ما کله هم په اراده او کوشش څه نه دي لیکلي-- دا څه مي چې لیکلی دي نو دا هم هله چې زه ئي ډیر تنګ کړے یم نو لیکلي مي دي . بل زه ډیر نا راسته غوندې هم یم . خو خیر لږ مي هم لیکلي دي او مطمئن هم ترې نه یم که بیا هم زما شاعري د چا خوښه وي نو خدائ دې ئي خوشحاله ساتی.

س
په شاعری کښی د امد او آورد د نظریو بحقله موڅه خیال دے؟
ج :ساده خبره داده چې ما شاعری په توکل شروع کړې ده بې ارادې او بې کوششه . چې امد ورته ویلی شو زما په خیال شاعري بو قدرتی شی دی او امد سره تعلق لري

: س
د ښه شعر تعریف به څنګه کوئ؟
ج
ښه شاعری هغه ده چې بې ارادې وشي او په لوستونکو یا اوریدونکو هم هغه کیفیت قائم کړی --کوم چې د تخلیق په وخت د شاعر وي

--س
اولسي ادبي جرګي ادب ته عموماً او تنقید ته خصوصاً څه فائده
(ورکړه ( دپښتو ادب په تناظر کښي

:ج
د دې جرګې قیام نه وړاندې اګرچې ما د شاعرۍ شروع کړې وه خو د هغه وخت د تنقید انداز نه خبر نه وم. البته کله چې دا جرګه نه وه نو دغه وخت کښی به عموماً تنقید صرف ستائني او خالص غندني پورې محدود وو-- دې جرګې د معیاری تنقید بنیاد کیښود. دفنپارې د جاج اخستلو طریقه ئې وروښودله او خصوصاً دا چې ادیبانو کښي ئی د برداشت ماده پیدا کړه. وروستو خلقو د تنقید کولو چل خو زده کړو ولې د برداشت ماده ئې بیا هم پیدا نه کړه - پکار خو داده چې تخلیق کار د نقاد شکریه ادا کړي چې د هغه په تخلیق ئې غورو وکړو او د هغی اصلاح لپاره مشوره ئې ورکړه خو نن خلق خپلو خامیو او غلطیو له جوازونه پیدا کوي او دا زما په خیال صحت مند تنقید ته نقصان ورکوي

:س
اولسي ادبي جرګه کښې د مختلفو نظریو خلق په اتفاق سره راجمع وو د دوئ ترمینځه د اختلاف نه راتلو وجه څه کیدی شي؟
ج
غټه وجه داده چې دتولو مشترکه مقصد د پښتو ادب ترویج و او بله خبره دا ده چې ټولو کښې د برداشت قوت زیات و. یو بل یې زغمل او د یو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



احترام ئې کولو --رد کامل مومند، حمزه شینواري او کا کاجي صنوبر حسین مومند دسیوري لاندې هغه زمکه تیاره شوې وه چې هر تخم بکښې زرغونیدی شو -- نن سبا خو څوک یوربل بیخی نه .برداشت کوی جمهوریت هم هسې د نامې پاتې دی

س

داولسي ادبي جرگی د ورانیدو پس منظر ستاسو په خیال څه دی؟

ج

کامل صاحب په همیشه د جرگې جنرل سکرټری وو، ځکه چې هغه ډیر پوهه او زیرک سړی وو -- په قانون هم پوهه وو او په ادب هم - رابطه یي هم ډیره ښه وه-- یوځل په گپ شپ کښې چا ووې چې زړه کابینه ختموو او نوې کابینه راولو -- حمزه صاحب خوچا هم اخوا کول نه غوښتل د کامل صاحب په مقابله کښی چا دروهمی صبب نوم د جنرل سکرټری عهدی د پاره تجویز کړو کامل صاحب خپل نوم واپس کړو په دغه کال وهمی صبب سکرټری شو. خو بیا د جرگې هغه خوند پاتې نه شو--ځکه چې په کا کاجی حمزه او کامل کښې که یوسړی هم اخوا شوی وی نو جرگه نه چلیده او بیا ثابته هم شوه چې کامل صبب ترې کابینې نه ووتو نو جر که ونه چلیده او ختمه شوه. خو کامل صبب دومره لوې سړی وو چې چاته ئې هم د خفگان احساس نه دی ورکړی. زما خیال دا دی چې په دې طریقه د جرگې د ورانولو او کامل صبب د کابینی نه ویستلو سازش شوی و او دې سازش لپاره چا وهمی صبب تیار کړی و خو سازش چاکړی و دا معلومه نه ده بس دومره معلومه .شوه چې د کامل صبب د تلو نه پس جرگه دانه وانه شوه

:س

ستاسو په وخت کښې د پښتو خبره کول یا د پښتو شعر و ادب سره تعلق لرل خو لوئ جرم وو- حکومت ستاسو خلاف خو په دغه جرم څه کاروایي نه ده کړې؟

: ج

د حکومت په نظر کښې زه ډیر خراب سړی وم ما پسې یی سی ایي ډدې والا کړي وو چې وروستو می هغوئ هم خپل دوستان جوړ کړل. خوزه حیران په دې یم چې حکومت ما غوندې بې ازاره سړي باندې ولی دومره توانائی خرچ کوله. زه خو د تخریب او انسان ته د تکلیف ورکولو ډیر سخت .مخالف بم. ما نه حکومت ته څۀ خطره کیدی شوه؟ خو بیا هم زما خلاف یی کارروائی کوله

س

په عملي با نظریاتي توگه مو سیاست سره څه رشته پاتې شوې ده؟

ج

زه خدائي خدمتکار یم او وم --خو نظریاتي طور سره-- ممبر شپ مې د یوې سیاسي پارټی هم نه -دی کړی

س

ادب او سیاست څه رشته لري؟

:ج

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادب په سیاست کښې د ټریفک دسپاهي کار کوي- د ادب کار نګراني ده. ادب صرف اشاره کوي خورد خیلي اشارې د عملي کولو طاقت نه لري-- بل خوا سیاسي پارټي تنقید نه برداشت کوي نو په -دې وجه ادب نه ئې هم فاصله زیاتیږي

س

ادب د پروپیګنډې لپاره استعمالیدی شي او که نه؟

ج

استعمالیدی شی --کوم دردونه چې په ادب کښې ښودلی شي که هغه په حقیقت کښې موجود وي نو که درهغی ترجماني به استعارو او علامتونو کښې په فنی پیرا یه کښی وشی نو دا ادب دی او پروپیګنډې لپاره استعمال شو او که همدغه حقیقی دردونه نیغ په نیغه او بربند شکل کښې راوړاندې کړی شي نو بیا ادب نه دی صرف پروپیګنډه ده. ما خپل ځانی چرته هم د کومې سیاسي پارټی د نظریې وړاندې کولو کوشش نه دی کړی البته خپله یوه نظریه ضرور لرم چې په ادب کښې ئې وړاندې کوم او هغه نظریه دانسانیت د ښیګړې ، میني او ورورولی او امن پیغام وړاندې کول .دی

س

تاسو ترقی پسند تحریک سره تړلي پاتې شوي يئ که نه؟

--ج

زما شاعري ترقی پسنده ده او که نه خو دغه تحریک مې خوښ وو-- زه ځان هم د دغه ترقی پسنده قافلې یو کمزوری ملګری ګنم. ځکه چې ترقي پسندو لیکوالو سره قامي درد وو او هغه ئې په ادب کښې را وړاندې کول غوښتل او د کمزوري د مرستې قائل وو خو دی اثراتو نه مذهب هم خالي نه دی. هر د مظلوم د مرستې او ظالم خلاف د اواز پورته کولو او اوریدلو چې د کمزوري د مرستې خبره کوی نو ترقي پسند دی-- نن خو قاضی حسین احمد د جماعت اسلامي مشر هم داخبره کوي چې سرمایه دارو نه خپل حق واخلي. نو دې رویې ته که څوک د ترقي پسندی نوم ورکوي او که نورڅه خو دا روئیه پښتنو کښې د پخوانه په یو جدا شکل کښې موجوده و ه -لکه رحمان بابا چې --وئیلي دي

په سبب د ظالمانو حاکمانو
--کور او اور او پیښور درې واړه یو دي

ترقي پسندو مزدورانو کسان ته د شوکمارونه د خلاصي طریقه ښودله دا ډیرې اهمې مسئلې دي او شاعر ادیب ډیر حساس وي -- هغه دې مسئلو ته د هرچا نه وړاندې متوجه کیږي خو د مسئلو بیانولو په وخت انداز بیان بربند نه بلکې شاعرانه پکار دی لکه فیض چې ییلي دي:

ہم نے جو طرز فغاں کی ہے قفس میں ایجاد
فیض گلشن میں وہی طرز بیاں ٹھری ہے

س

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترقي پسند ادب پښتو ادب متاثره کړو که نه-- که وينو په کومو ذريعو؟
ج
د ترقي پسند ادب اثرات اردو نه هم پښتو ته راغلل او تعليم يافته خلقو انګريزي نه هم اثرات و اخستل که د خلقو به اردو يا انګريزی سره دلچسپي نه وه هم نو دغه موضوع او مسئلو لپاره به ئې لوستل - کوم چې د ترقي پسند ادب منشاء ده او لکه چې ورانديې مې ووې دا اثرات په يوجدا شکل کښې ورانديې هم پښتنو کښې موجود وو د باچا خان تحريک ټول په ترقي پسند بنياد ولاړ وو او بيا د تقسيم نه پس خو ټول برصغير کښې خلق بيدار شول او غور و فکر ئې شروع کړو سياسي شعوريې هم تيز شو او سماجي هم-- کامل صاحب به وئيل چې خلق د ازادئ غوښتو چل حالاتو نه زده کوي خو پښتون بچې يی د مور غيږې نه زده کوي پښتنه مور ماشوم ته بالخت لاندې چاړه چاقو دې د پاره ږدي چې بيريان ئې ونه ويروي بيا چې لوې شي نو د خپل حق غوښتلو لپاره ئې استعمال کښې راولي نو په دې بنيادپښتون په فطري توګه سياسي شعور لري
--س
ستاسو به خيال پښتو کښی روماني شاعري څومره ده او د کوم معيار ده ؟
--- ج
روماني شاعري ښه ده خو دغه قسمه شاعرئ باندې هر سرى نه پوهيږى-- غنى خان ډير ا يډوانس سړى وو خورهر وخت به ملا سره به جنګ وو --دغه شان اشرف مفتون سره هم آزادي شته خو ښه خبره داده چې دواړورڅه وئيلي دي نو کاواکه شوي نه دي او انداز ئې هم خپل منفرد -ساتلی دی

س
تاسو روماني شاعري ښه ګڼئ که مقصدي او ترقي پسنده؟
--- ج
خبره داده چې فرض کړه دلته مونږ لس کسان يو او د هر چا شکل بدل دی خو بدرنګ چا ته هم نه شو وئيلی-- د هر چا خپله ښکلا ده رومانويت پخپله يو مقصديت دے خو مقصديت داسي پکار دی چې څوک ګمراه نه کړي شاعري ډيره زورداره ذريعه ده -ذدې نه څه مقصدی کار اخستل پکاردی
: س
ځنې خلق ستاسو او د حمزه بابا د شاعرانه چشمک يا مقابلي خبره کوي -- دې کښې څومره صداقت شته؟

:ج
داخبره بلکل غلطه ده چې زه به د حمزه بابا غونډې عظيم شاعر سره د مقابلی يا چشمک تصور هم وکړم--ما ټول عمر د حمزه بابا احترام کړی دی . ټول عمر کښې مې ورسره څه هم اختلاف نه دی راغلی- ما يو شی هم د هغه د مقابلی دپاره نه دی ليکلی زمونږ د شاعرئ ميدانونه جدا دي. هغه بل څه وائي او زه بل څه-- هغه ډير همه ګير دی او زه محدود - زه د هيچا عظمت نه هم انکار نه کوم بلکې زما نظرئيه داده چې چرې هم ځان ته دروند او بل ته سيک نظر ونه شی او بيا د حمزه بابا غونډې ستر شخصيت سره د مقابلی په سوچ کولو به هم زه ځان ګناهګار وګنم. که څوک خامخا زما شاعري د هغوئ په مقابله کښې پيش کوي نو دا د هغوئ خپله ذمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



س
تحقيق ، تنقيد او نثر وغيره مو ولې ونه ليکل ؟
---ج
دې لړ کښې زه هيڅ جواز نه لرم چې ما ولې دا کار ونه کړی شو خو دا به ووايم چې زه ناراسته انسان يم. اکثر خلق راته په کتاب د ديباچې وغيره د ليکلو وايي خو نه شم ليکلی پخوا مې د اولسي ادبي جرګې رودادونه ليکل خو په صحيح طريقه مې نثر خصوصا تحقيق او تنقيد وغيره په ليکلي شکل ونه کړی شول چې ماته يې يقينا افسوس دی.

: س
ستاسو په خيال په موجوده شکل کښې پښتو ادب د عالمي ادب سره سيالي کولی شي؟
:ج
زمونږ اصلي مقابله اُردو سره ده او اردو قابضه ژبه ده. زمونږ د پښتو ادب معيار اوچت دی خو ددې د مقبوليدو ذريعې نشته بله خبره داده چې د اردودانو آزادانه مزاج هم مونږ نه شو خپلولی چې د ترقۍ لپاره مدد ورکوي-- د پښتو د خپل مزاج ثقافت او تقاضو مطابق زمونږ د ادب معيار ډير ښه دی. نن سبا چې څوک څه ليکي نو د موجود ماحول او ژوند د ترجمانۍ مطابق يې ډير ښه ليکي-- کيدی شی د موجوده ادب . دا تقاضې نه وي-- دغسې ادب په پخوانۍ تله هم نه دی تلل پکار زمونږ په ادب که درمعيار اعتراض کيږي نو هغه پاېندو او حالاتو ته هم کتل پکار دی چې ددې ادب د معيار په لاره کښې ئې بنديز راوستی دی. او دې سره سره خپل کلچر او ماحول ته هم کتل پکار دي-- د موجوده ادب معيار نه زه مطمئن يم.
س
عالمي ادب کښې چا نه مطمئن او متاثر يئ؟
ج
د چا انفرادي تاثر را باندې نشته د هر چا هر څه نه متاثر نه يم خو د څنو عالمي اشخاصو د څنو ليکونو د مجموعي اثر نه متاثر يم.

--س
ستاسو په خيال د ادب مقصد څه پکار دی؟
--- ج
د ادب د تخليق په وخت د تخليق کارر‌په مخکښې مقصد نه وي -سړی اول شاعر شي بيا وروستو د مقصد تعين کوي- زما په خيال بې مقصده هيڅ شی او هيڅ ادب نه وي- زه خو دا هم وايم چې د ادب برائے ادب، او ادب براۓ زندګی نظريې هم بې ځايه جوړې شوې دي-- که ادب برائے مرګ وی او د خود کشۍ تلقين پکښې شامل وی نو بيا جواز جوړيدی شو خو هر کله چې ژوندی سړی ادب تخليق کوي نو د ژوند لپاره يې کوي نو زما نظريه دا ده چې هر ادب چې تخليق کيږي د يو مقصد لپاره کيږی.
س
- د ازاد نظم هائيکو وغيره رواج پښتو ته وده ورکولی شي که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج
ضرور وده ورکولی شي- زه د هرې ښائسته خبرې په حق کښې يم د ښائسته خبرې د هر انداز قائل يم نو که څوک ښه خبرې دازاد نظم يا ها ئيکو په شکل کښي وکړي نو ضرور به پښتو ادب ته وده ورکوي-- زما په خيال خو دا نوي صنفونه د پښتو ادب په چمن کښې نوي ګلونه دي-- د دې نوو او ښائسته ګلونو چې څومره اضافه وشي د چمن ښائست به پرې زيا تيږي--

س :
صحافت سره مو رشته پاتې شوې که نه؟
ج
پاتې شوې ده د ر سالی نوم رانه هير دی خو يو درېمياشتنی ړساله مو ويستې وه -- دا مجله به وړاندې يو اپريدي چلوله، زه ورته يوسف خان اورکزی مجبور کړی وم- ريډيو له مې ډيره موده سکرپټ ليکلی دی - شهباز اخبار له مې کالم ليکلو-- ريډو ته هم د شهباز اخبار په وجه راغلی وم .

س:
ايينده موڅه اراده ده چې خپلو ادبي سرګرمو ته به وده ورکوئ که نه ؟
ج ---
ما سره څه ګډې وډې غزلې شته که مې را غونډې کړی شوې نو چاپ به يې کړم-- ګنی که يو شعر مې هم ژوندی پاتې شو نو کافی ده.
س نوو ليکونکيو ته به څه مشوره ورکوئ؟

ج---
نوي ليکونکي چې هر څه ليکي نو مطمئن کيدل پرې نه دي پکار ګنې ښه تخليق به ونه کړی شي د ماضی او نن رابطه هم پکار ده --د ماضی د ادب مطالعه او د نن د حالاتو مشاهده ډير ضروري څيز دی-- نوو ليکوالو ته پکار دي چې په معاشرتي تبديلو او رجحاناتو هم نظر ساتي او په زده کړه هيڅ شرم محسوس نه کړي-- که داسې وکړي نو زما په خيال به معياري ادب تخليق کړی---.

د مرکې نيته--کتاب مخ په مخ ----99-3-18---

---

خپل صورت کړه ګل و خشت قصر يې ګوره
رسيدلی ورته څوک په کمند نه دی

وضاحت--
دا شعر د شيدا په اسانو شعرونو کښې دی شايد چې ملګري پرې بغير تشريح هم په اسانه پوهه شي خو په تشريح کښې يې د شعري تکنيک نه خوند اخلو--
ګل و خشت--- يعنې خټه او خښته--ګل د ګ په زير دی--فارسی کښې خټې ته وايي -- او خشت فارسی او پښتو دوارو کښې خښتې ته وايي--

(c) ketabton.com: The Digital Library



**--قصر--- اوچتي ماڼی یا دنګ محل ته وایي**
**کمند--- د اوسپني یا فولادو نه جوړه هغه پنجه چې اوږد پړی وړپوړې تړلی وي او خلق پرې پاس**
**--محلونو او قلاګانو ته خیژي**
**--شعر کښې پیغام خو د عاجزۍ او انکسارۍ خپلولو ورکړی شوی دی خو انداز ته یې وګورئ چې**
**خپل صورت یعني خپل ځان ختِه او خښته کړه نو بیا د خپل شخصیت عمارت ته ګوره چې څومره**
**دنګ دی--- دومره اوچت چې څوک ورته په هیڅ شان نه شي رسیدی--- که څوک په دغه عمارت**
**---د کمند اچولو هڅه هم وکړي خو بیا به هم څوک ور ونه رسي**
**خټه او خښته دواړه د خاورې نه جوړیږي او خاوره د عاجزۍ علامت دی--- بیا همدغه ختې**
**خاورې نه قصر او دنګ عمارت جوړیږي چې د اوچتوالي--لوې والي-- عظمت او وقار علامت**
**دی--- ګویا د دغه عظمت او اوچتوالي اصلي بنیاد په ختِه او خښته یعني خاوره ولاړ دی---یا دا چې**
**د شخصیت لوې والی او دنګ والی په عاجزۍ او انکسارۍ ولاړ دی--- نو که خپل صورت دې ختِه**
**خښته او خاوره کړو نو بیا د خپل شخصیت عمارت ته هم وګوره چې اخر څوک به ستا قد ته در**
**ورسي--بې شکه کمند دې هم په دغه عمارت واچوي--یعني د دولت شهرت طاقت مکر او فریب**
**پنجې دې هم په دغه عمارت ښخې کړې خو بیا به هم څوک در ونه رسي-- په عاجزۍ کښې د لوې**
**والي او عظمت راز ښودلو د پاره رحمان بابا په خپل انداز کښې ویيلي دي چې**
**ژوندی ځان په زمکه ښخ کړه لکه تخم**
**که لویي غواړې د خاورو په مقام شه**
**علامه اقبال سره په غلطۍ منسوب شوی شعر دی چې اصلي شاعر یې سید محمد مست کلکتوي**
**--دی-- هغه هم ویيلي دي چې**
**مٹا دے اپنی هستی کو اګر کچهه مرتبه چاهے**
**که دانه خاک مین ملکر ګل و ګلزار هوتا هے**
**بس دغه د عاجزۍ طاقت او قوت دی چې مختلفو شاعرانو په خپل خپل انداز ښودلی دی او د شیدا**
**---پکښې خپل انداز دی**
**زما مغروره او کبرژن ملګري دې خپل ژوند کښې چرته په عاجزۍ تجربه وکړي او دغه سکون او**
**---مسرت دې محسوس کړي نو د شیدا د شعر په مفهوم به په درسته او کامله معنا پوهه شي**

---

**شعر څه وي او ښه شعر څنګه وي--- ښه شعر د پاره پوهه پکار ده که نه دا فطری شی دی-- د**
**شعري تکرار نه به ځان څنګه ساتو -- نثري شاعري څنګه وي او ځنې نورې خبرې مې زلمي**
**--- طارق وزیر سره په دې مرکه کښې کړې دي-- د مینه والو په خدمت کښې**

**حنیف خلیل سره د شعر په اړه مرکه**
**مرکه کوونکی--- طارق وزیر**

**په دې مرکه کې مې د شعر اړوند ځینو مهمو مسایلو په اړه پروفېسر ډاکټر حنیف خلیل صیب**
**لري او فی الحال د اسلام اباد قائداعظم پوهنتون ډایرېکټر phd پوښتلی، خلیل صیب په ادبیاتو کې**
**.دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



طارق وزیر: ځيني شاعران په دې نظر دي چې د شعر لپاره مطالعه اړينه نهٔ ده،ځکه داسې ښهٔ شاعران هم لرو چې حتی لیک او لوست يې هم زده نهٔ دی؛ څهٔ فکر کوئ چې د اوسني دور د غوښتنو مطابق شاعر باید علمي او فلسفي پوهه ولري او که خپلې تجربې يې کافي دي؟
حنیف خلیل: دا پوښتنه باید په دوو برخو ووېشل شي، یوه دا چې شاعران باید مطالعه ولري او کنه؟ یعنې مطالعه ضرور ده که له مطالعې بغیر هم شاعري کېدلی شي؟ ځکه ځيني شاعران لرو چې بغیر له مطالعې هم ښه شاعري کوي.
ددې برخې په جواب کې به دومره ووایم چې د شاعرۍ هم دوه برخې دي؛ یوه برخه يې د خیال،فکر، مضمون او محتوا برخه ده، چې هغه د مطالعې سره زیاته اړه نهٔ لري، خو مطالعه پکې وسعت او پراختیا راوستی شي.
دوهمه برخه يې بیخي مطالعې ته محتاجه ده،دوهمه برخه يې د جوړښت او د شاعرۍ د هنر ده، نو کوم شاعر چې د شعر د تکنیک مطالعه نهٔ لري، نو هغه یوازې په خپل خیال او فکر شاعري نهٔ شي کولی، باید دا ولري.
مطلب دادی چې د شاعرۍ په دواړو برخو کې د مطالعې ضرورت دی.
دغه ځيني شاعران چې له مطالعې بغیر ښه شاعري کوي، نو که غور وکړئ د هغوی شاعري به د فن، هنر او تکنیک له مخې ښه شاعري نهٔ وي، په هغې کې به فني خامۍ او کمزورۍ وي؛ ځکه دی به د شعر په تکنیک نهٔ پوهېږي چې په یو شعر کې صنعت څنګه راځي،تلازمه څنګه راځي،نوي تشبیه،استعاره او علامت څنګه پیدا کېدلی شي، نو ددې نه به بې تعلیمه شاعر عاري وي ځکه زهٔ فکر کوم چې د شعر دپاره په دواړو برخو کې مطالعه پکار ده.
باید یو شاعر دا معلومات ولري چې زما نه مخکې دور کې کوم خیالونه،فکرونه او مضامین بیان شوي دي او کوم نوي دي، نو له تکرار به بچ کېږي.
د هنر په حواله بیخي ضرور ده، که موږ د غزل شاعري کوو نو د غزل په تکنیک پوهه پکار ده،که نظم لیکو،ازاد لیکو،معرا لیکو،یا بل کوم صنف لیکو چې د هغه صنف غوښتنې مو نهٔ وي لوستي نو په هغه صنف کې به شاعري څنګه کوو؟
بیا خصوصاً غزل خو د ډېرو فني باریکیو غوښتنه کوي، کوم شاعران چې په نن دور کې رحمان بابا لولي، کاظم خان شیدا لولي،یا حمزه بابا لولي نو تاسې ته به اندازه وشي چې د هغوی د غزل تکنیک ډېر مضبوط دی.
خو کوم شاعران چې دغه استاد شاعران نهٔ لولي نو د هغه د غزل فني خواوې به کمزوري وي.
د پوښتنې دوهمه برخه داده چې شاعرانو  ته فقط خپلې تجربې کافي دي ، کنه فلسفي او علمي لوسته هم ضروري ده؟
د فلسفې لپاره د مطالعې نه زیات د مشاهدې ضرورت وي او دا یوازې د شعر لپاره اړتیا نهٔ ده چې موږ ووایو چې دا د شاعر خپلې تجربې دي، نو دا فلسفي تجربې دي او باید په شعر کې راشي، فلسفیانه سوچ له شاعرۍ بغیر هم کېدلی شي چې مشاهده ورته پکار ده.
څوک چې فلسفه مطالعه کوي هغه فلسفي نهٔ جوړېږي،بلکې د علم الکلام استاد او ماهر جوړېږي.
علم الکلام دې ته وايي چې کوم خلک خپل تخلیقي غور نهٔ کوي یا تخلیق نهٔ شي کولی او په زړو فلسفو ځان پوهوي، نو دا فلسفي نهٔ دی؛ فلسفي هغه سړی وي چې په خالي ذهن سره د خپلې مشاهدې په رڼا کې نتیجې ترلاسه کړي او بیا يې بیان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهمه داده چې شاعر دې ټولنيزه مشاهده ولري، جامعي تجربې دې ولري،د ټولنې درد دې حس کړي، خو دغه احساس چې کله په ښهٔ شعر کې وړاندې کوي نو بيا ورته د شاعري مطالعې، ضرورت دی، بيا ورته د شاعري چوکاټونو او نزاکتونو باندې د پوهې اړتيا ده.
خلاصه دا چې بغير د مطالعې نه،د شعري تکنيک د پوهې نه، د شعر د ژانرونو،صنفونو او د شاعرۍ د فني نزاکتونو نه د لوړ معيار شاعري نهٔ شي کيدلی؛ وجه داده چې د شعر په پوره ارتقايي سفر يو نظر پکار دی، هله به شعر په دواړو حوالو مضبوط وي، هم به فکر و خيال نوی او نادر وي او هم به د بيان انداز هنري او تکنيکي وي.
طارق وزير: موږ ځينو شعرونو ته فلسفي وايو، تصوفي وايو؛ غني خان ته فلسفي شاعر وايو يا استاد غضنفر دغه اصطلاح د اشرف مفتون لپاره مناسبه بللې؛ نو د هغه شاعرانو شعرونه چې سياسي اړخ لري ولې يې سياسي شاعر نهٔ بولو او که د فلسفي او صوفي شاعرانو اصطلاحاوې غلطې دي، خو که وکارول شي کومې ستونزې پيښوي؟
حنيف خليل: ستاسې دويمه پوښتنه ډېره زياته ښکلې او اهمه ده، چې موږ د شاعرانو لپاره ځينې اصطلاحات راوړو لکه فلسفي شاعر او صوفي شاعر، ماته دا اصطلاحات ډېر مناسب نهٔ ښکاري.
لکه تاسې چې پوښتنه کې ويلي چې بيا موږ ولې سياسي شاعر، مذهبي شاعر، ساينسي شاعر او نور اصطلاحات نهٔ کاروو.
دا فلسفي او صوفي شاعر هم بايد ونهٔ کارول شي؛ موږه چې د شاعرۍ کوم معروف اصطلاحات لرو، هغه داسې دي چې: کلاسيکي شاعر، رومانوي شاعر،مقصدي شاعر.
که دغه شان د هرې موضوع دپاره يو اصطلاح وضع کوو، نو بيا به د محتوا، فکر وخيال په حواله په لسګونو نورو اصطلاحاتو ته اړتيا ولرو.
ډېر داسې اصطلاحات به وي چې هغه به بيا ځان ته نوم غواړي.
نو زما خيال دی چې موږ بايد همدغه مروج اصحلاحات راوخلو، چې هغه له ادبي او شعري تحريکونو سره اړه ولري؛ يعنې کلاسيک يو دور ؤ او دا يو کلاسيکي تحريک تېر شوی دی، رومانوي تحريک د ادب يوه برخه ده، مقصديت تحريک د ادب برخه ده، ترقي پسند تصور د يو فکري تحريک نوم دی؛ نو که دې سره موږ د يو شاعر پېژندګلو وکړو نو ماته زياته مناسبه ښکاري.
پاتې شوه دا چې شاعر فلسفي يا تصوفي دی، ګوره دا فلسفه او تصوف يوازې د شعر دپاره نهٔ دي، بغير له شاعرۍ هم کيدی شي.
که بيا کوم ليکوال نثر ليکي نو موږ به ووايو چې فلسفي يا تصوفي نثر يې ليکلی دی، خو بيا به راته لس،شل نور نومونه پکار وي، چې دا سياسي که مذهبي يا بل ډول؛ نو دا به مشکل پيدا کړي او په دغه اصلاحاتو کې دوه زيات معروف دي، فلسفي او تصوفي شاعر؛ له دې دواړو هم بايد تېر شو او د کلاسيکي شاعر، رومانوي ، مقصدي او ترقي پسند شاعر اصطلاحات ووايو نو شايد مشکل پيدا نهٔ کړي.
دا ځکه مشکل نهٔ پيدا کوي چې هغه د رجحاناتو او تحريکونو نومونه دي او يوازې په پښتو کې نه بلکې په نړۍ دغسې ده، يعنې په يونان کې خپل کلاسيک دی نو د هغوی کلاسيکي شاعران دي، په مغرب کې د انګريزي، فرانس،جرمن ... خپل کلاسيک دی ،هغوی هم په کلاسيک پېژندی شي، رومانوي په رومانويت پېژندی شي، رياليسټ يعنې حقيقت نګاری ولا شاعران هم په رياليسټ پېژندی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسي پوښتنې کې دا ځواب موجود دی چې د فلسفي او تصوفي شاعر اصطلاحات ستونزې پېښوي.
طارق وزیر:ځینې شاعران فکر کوي چې که د نورو شاعري مطالعه کړو، نو تاثير يې راباندې لوېږي او زموږ شعر د هغوی رنګ اخلي، نو ځکه يې نهٔ لولي؛ خو دلته مهمه مسئله داده چې که مطالعه يې نهٔ کړي نو زده کړه له څهٔ شي کوي او بل له دود هم قطعاً بېلیدلی نهٔ شي؛ نو داسې لاره شته چې شاعر له نورو زده کړه وکړي او هم يې شاعري د چا تر اغېزې لاندې نهٔ شي؟
حنیف خلیل: دا پوښتنه هم له ړومبو سره لږ ډېر نزدېکت لري چې ځینې شاعران داسې رایه لري، چې هغوی مطالعه دې ډېاره نهٔ کوي چې د هغوی په شعر د نورو اثرات را نهٔ شي.
زما وايم چې دا درسته خبره او مناسب سوچ نهٔ دی،دا هېڅ امکان نهٔ لري چې یو شاعر دې د هیچا شاعري ونهٔ ګوري او دی دې خپله شاعري بلکل ځانګړې وکړي او بیا هم پرې د چا تاثیر نهٔ وي، په چوکاټ به هم پوره وي،په فني لوازماتو به هم پوره وي، دا ممکنه نهٔ ده.
شاعر باید مطالعه او شعري شعور ولري، شاعر باید پوهه وي چې کومې خبرې زما څخه مخکې شوي دي او ماته کومې خبرې کول پکار دي.
که یو شاعر بیخي نور شاعران نهٔ ګوري،نو له هغهٔ خو په نهٔ کتلو کې هم ډېرې خبرې تکرارېږي،هغه به د نورو د نهٔ مطالعه کولو باوجود ۵۰ فیصده داسې خبرې کوي، چې نورو شاعرانو کړي وي، نو دا خو اپوټه عمل شو.
کوم شاعر چې د ځان نه مخکې شاعران لوستي وي، هغه د تکرار نه ځان بچ کولی شي، نوي او خالصې خبرې راوړلی شي، د نوو خبرو لپاره تخیل پکار راوستلی شي، ځکه د هغهٔ په تېرو خبرو نظر دی.
که خبرې نوي نهٔ وي نو انداز نوی ورکولی شي،  خو چې کوم شاعر د شعري بهیر هېڅ مطالعه نهٔ لري نو هغه به د تکرار نه څنګه ځان بچ کوي؟ ځکه دهٔ ته خو پته نهٔ شته چې دا خبره شوې ده او که نهٔ ده شوې؟
زهٔ که شعر لیکم او ما حمزه بابا نهٔ وي لوستی، نو زهٔ په خپل چورت کې روان یم او ما د پښتونوالۍ، رومانویت، جمال او فلسفي هغه شعرونه ولیکل، زما خیال به دا وي چې دا زما خپل سوچ دی خو که دا ۱۰۰فیصده له حمزه بابا سره یو رنګ راغلل بیا به څهٔ کوم؟ خو که ما حمزه بابا لوستی وي نو زما په ذهن کې به دا خبره پرته وي، چې دا خبره زهٔ په شعر کې ولې ځای کړم چې حمزه بابا کړې ده؛ زهٔ ولې هغه څهٔ تکرار کړم چې رحمان بابا،خوشال بابا او ځینو نورو کلاسیکو او د خپل دور شاعرانو زما نه مخکې دا خبرې کړې دي.
دا چې څوک سوچ کوي چې زهٔ مطالعه نهٔ کوم او نوي خبرې به وکړی شم، د اغېز او اثر نه به بچ شم دا غلط سوچ دی، بلکې دا ځان پخپله تکرار ته اړ کول دي.
له داسې شاعر سره  شعور نهٔ وي چې کومې خبرې يې زړې او کومې نوي دي، دهٔ ته خپلې ټولې خبرې نوي ښکاري خو امکان لري چې ۸۰فیصده زړې وشي.
کوم شاعر چې د شعري بهیر ،سفر او د تاریخ مطالعه لري، هغه ځان په ډېره ساتلی شي، ځکه نوي او زړې خبرې پېژني.
بله خبره داده چې د کوم شاعر په شاعرۍ د نورو شاعرانو اثر وي هم، نو هغه به یا د خیال او یا به د جوړښت وي؛د خیال او فکر اثر بده خبره نهٔ ده، ځکه دا اثر فطري دی،یو خیال د بل نه پیدا کېږي او یو خیال د بل سره توپیر هم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د تکنیک، جوړښت او د پېشکش چې کوم انداز دی هغه ځانګړی پکار دی، باید نوي ترکیبونه پیدا کړو، نادرې استعارې پیدا کړو؛ اګر چې نوي استعارې او تشبیهات پیدا کول ډېر ګران کار دی خو که موږ کوم نوی کار په جوړښت کې کولی شو، هغه د ترکیبونو کارول دي، ځکه موږ سره مفردات او ټکي موجود دي خو که د هغو ټکو نه مرکب جوړوو، نو کولی شو نوی ترکیب جوړ کړو؛ دوه داسې ټکي راواخلو چې له موږ مخکې نهٔ وي شوي، نو بیا د مطالعې ضرورت دی او خپل انداز او بیان کې نویوالی هم راوستی شو.

زما مطلب دادی چې کومې خبرې شاعران کوي، هغه خبرې که ټولې شوي وي، اصل شاعري داده چې زړې خبرې په نوي انداز وکړی شي او ډېر شاعران شته چې انداز او اسلوب یې نوی دی.

د اردو د یو شاعر حواله درکومه، سیف الدین سیف د اردو شاعر دی؛ هغه یو شعر ویلی چې:

سیف انداز بیان رنګ بدل دیتا هی

ورنا دنیا می کوی بات نهی بات نهی

مانا یې داده چې: سیف اندازِ بیان رنګ بدلوي، ګني دنیا کې نوې خبره اډو شته نه.

مطلب دا شو چې خبرې خو زړې دي خو انداز نوی پکار دی او دغه خبره حمزه بابا هم یو شعر کې کړې ده، مطلب یې دادی چې خیال و فکر دې زوړ وي خو لباس دې نوی وي.

شاعري خپل انفرادیت په پرزېنټېشن،جوړښت او تکنیک ترلاسه کوي.

کوم شاعران چې دا سوچ لري چې زهٔ نور ځکه نهٔ مطالعه کوم چې نوي خبره کول غواړم، دا غلط فهمۍ کې دي او تېروتي دي.

تاسې تجربه وکړئ چې کومو شاعرانو د نورو شاعرانو ژوره مطالعه کړې ده، نو هغه په خپل شعر کې د پېشکش او جوړښت په نوي اسلوب اختیارولو کې کمیاب شوی دی.

کوم شاعران چې بې مهاره ور ګډ وي نو غلط فهمۍ کې وي او فکر کوي چې زهٔ څهٔ وایم دا زما دي، خو د هغهٔ نه مخکې شلو کسانو دا خبره کړې وي.

نو اخري جمله داده چې که څوک د خیال او جوړښت دواړو په لحاظ نوی شعر ویل او نوی انداز غواړي، نو د زړو خبرو نه خبرتیا،د زړو تراکیبو انداز، له تشبیهاتو او نورو تکنیکي لوازماتو نه خبرتیا ورله ضروري ده، ځکه چې دې نه په ډېره وي نو نوی انداز به خپل کړي.

طارق وزیر: زموږ ډېره شاعري خاصتاً د ځوانانو شاعري د موضوعاتو او د بیان د طرز له مخې تکرار ده، خو که څوک انتقاد وکړي ځینې یې ځواب دا وايي چې ژوند ټول تکرار دی او شاعري هم د ژوند له مسایلو سره تړلې ده.

ستاسې په نظر تکرار او بې نوښته شاعري شعر وژنه ده او که مشکل نهٔ لري؟

حنیف خلیل: دا څلورمه پوښتنه هم د ځینو اجزاوو وضاحت غواړي، یعنې چې څوک وايي چې ټول ژوند تکرار دی نو په شاعرۍ کې به هم تکرار راځي؛ دغه فکر او رسایي مناسبه نهٔ ده.

که ټول ژوند تکرار دی هم، خو په دې ژوند کې تنوع څومره ده.

ژوند په ټاکلي حد کې راګېر نهٔ دی، یو ماشین نهٔ دی او نهٔ په یو دور کې ولاړ دی؛ ژوند د اوبو تلاب نهٔ دی سمندر دی، روانې اوبهٔ دي او روانو اوبو کې حرکت او حرارت وي، ولاړو اوبو کې خبره ولاړه وي.

وګورئ! چې په دې ژوند کې څومره اړخونه دي ،څومره ټولنیز علوم دي،چېرته نفسیات،چېرته جمالیات،چېرته سماجیات،چېرته مذهبیات،چېرته فلسفه،چېرته ساینس او چېرته نورې بلا خبرې دي؛ ژوند ډېر پراخ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دا رایه ولرو چې ژوند تکرار دی، ددې مطلب به دا وي چې په ټوله دنیا کې دې شعر ودرېږي، ځکه ژوند کې چې څۀ ؤ، هغه وویلی شو بس نور به تکرار ته کېنو.
خبره داسې نۀ ده، تخیل دې ته وایي چې د یوې خبرې نه بله پیدا کړی شي، د کایناتي اجزاوو نه نوی تصویر پېش کړی شي، نوی تصویر پېش کول د تخیل کار دی.
د شاعرۍ تکرار په دې ختمیدی شي چې زړې خبرې په نوي انداز وشي.
جام دې نوی وي زړه صهبا پکار ده》لکه د حمزه خبره مو چې مخکې وکړه》.
ځینو ځایونو کې ممکن انداز هم بدل نۀ شي لکه زموږ په کلاسیک کې بلا شعرونه داسې دي چې د خوشال بابا،رحمان بابا،علي خان،حمید،کاظم خان،حافظ الپوری او نور کلاسیکو شاعرانو خیال بلکل نزدې کېږي او له خیال سره کله کله اسلوب،انداز یا ډېکشن، لفظیات او یا جوړښت سره ورته والی لري.
که د یو شاعر ټوله شاعري تکراري ووینو، دغه شاعري ارزښت نۀ لري، خو که په یو دیوان لس،شل یا یو څو شعرونه له نورو شاعرانو سره سمون وخوري، نو دا خو څۀ خبره نۀ ده ځکه انسانان ځینې مشترکه خبرې کولی شي، البته ډېر شاعران داسې هم شته چې نوی رنګ ورکوي.
یو دوه مثالونه پېش کوم چې یو شاعر د بل شاعر له زوړ خیال نه نوی ځنګه پیدا کوي، اثر یې اخلي خو د بیان انداز کې انفرادیت راولي.
کاظم خان شیدا وایي چې:
ستا چشمان به څۀ نګاه کا په خاکسارو
چې له کبره دې بانۀ ګوري اسمان ته
ښکلی خیال دی چې د محبوب بانه چې اسمان ته دي، دا له ډېره کبره دي او د ځمکې په خلکو به څۀ نظر وکړي؟
اوس د حمزه بابا یوه نقطه خوښه شوي ده چې بانه چې د اسمان په لور کاږۀ دي نو دا کبر کوي، دا خبره یې له شیدا  اخیستې او بیا یې خپل نوی رنګ اختیار کړی یا اضافه یې کړي ده،چې تخیل یې پکار راوستی او شعر کې یې ساده ګي هم شته.
یاره چې اسمان ته دې بانه ګوري
سترګې دې زما په مخ کې څۀ ګوري
که حمزه بابا شیدا نۀ وای لوستی نو هغه به د بانو اسمان د کتو استعاره ځنګه پیدا کوله او نوي اضافه یې ځنګه کوله؟
هغه شاعر چې وایي چې ژوند تکرار دی او موږ به تکرار شاعري کوو، نو دا شاعر دې شاعري پرېږدي، ځکه چې موږ ته د دغسې تکرار ضرورت نۀ دی چې فکر هم تکرار کړه او جوړښت هم تکرار کړه، بیا یې د شعر ضرورت څۀ دی؟ ځکه دا خبرې مخکې شوي او له دۀ نه په ښۀ انداز شوي.
که تۀ انداز بدلولی شې او یا زوړ خیال ته نوی رنګ ورکولی شې، نو تا ځان له تکرار نه په ډېره وساتلو یا تکراري خیال ته نوی انداز ورکړ، جوړښت،ترانم،تراکیب،استعاره یا بل څۀ کې دې نوی بدلون راوست، نو بیا دې ته موږ تکرار نۀ وایو.
خلاصه دا که هغه شاعر چې نۀ نوی خیال لري او نۀ نوی انداز، شعري بهیر ورته ضرورت نۀ لري؛ خو که زوړ خیال ته نوی رنګ ورکوي یا انداز بدلولی شي بیا سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي هم کیږي چې یو شاعر خپل خیال دوباره تکراروي، کاظم خان شیدا نه داسې شوي، چې یو خیال یې په بل شعر کې هم وي، خو انداز،استعارې،علامت او تراکیب یې د دواړو شعرونو بدل وي، نو بیا ویلی شو چې استاد شاعر دې ته وایي، ځکه د لومړي او دوهم شعر خیالونه یو دي خو بیا هم بدل ښکاري.

نو که شاعر له تکرار ځان بچ کول غواړي، نو تېز تخیل او نوی انداز ورته پکار دی.

طارق وزیر: که یو شعر د اصولو په تله پوره وخېژي، خو کوم فکر پکې نهٔ وي او فقط د خوند لپاره وي؛ دا ښهٔ شعر کیدلی شي؟

حنیف خلیل: دا پنځمه پوښتنه کې ډېرې ښې خبرې ته اشاره شوي او دا باید راوسپړلی شي زموږ ځیني شاعران د غلط فهیمو ښکار دي، یعنې هغوی دا وایي چې شعر چې په شعري اصولو برابر وي نو دا شعر دی او ښهٔ شعر دی.

خو زهٔ بلکل ورسره متفق نهٔ یم، له شعري اصولو د دوی مراد شعري پېمانه ده، شعري پېمانه خو متعین ده مثلاً غزل لیکو د هغهٔ شعرونه وي،مطلع او مقطع وي،هر شعر بحر وزن لري،ردیف او قافیه ده، نو که موږ یوازې دا شاعري ګڼو نو غلط فهمی کې یو.

شاعري یوازې په چوکاټونو کې د بې ځایه او بې مقصده خبرو اچولو نوم نهٔ دی،شاعري د فکر نوښت او رفعت نوم دی او داده چې ستا په شعر کې تخلیقي زور څومره دی.

که موږ صرف اصولو ته راشو چې مثلاً د شعر اصول بحر، وزن دي دا به یا غزل وي یا نظم ازاد یا معرا نظم وي او معرا خو صرف وزن پکار دی؛ که داسې وي نو موږ پاکستاني مکتبونو کې پاړې ویلې، بیا خو پاړې هم شعر دی: ایک دوني دوني، دو دوني چهار، تین دوني چه، چهار دوني اټ هره مسره وزن لري نو دې ته به هم معرا نظم وایو؟

که غزل داسې ووایو چې په ټولو اصولو برابر وي،قافیه،ردیف،وزن او د پېماني غوښتني ټولې درستې وي نو موږ به بیا هم ورته شعر وایو چې هغه فکر نهٔ لري؟ نهٔ دا شاعري نهٔ ده.

مثلاً که زهٔ ووایم چې: د لرګي کټوۍ کې څیز کله پخیږي_چې څیزونه اور نه مخکې وسوځیږي قافیه پکې راغله(پخیږي او سوځیږي) وزن هم لري، دې ته اوس څوک شاعري وایي؟

شعر په وزن او پېمانه شعر نهٔ دی بلکې په تخیل، تفکر، نوښت او په هنري چوکاټ شعر دی.

که شعر په شعري اصولو او پېمانه برابر وي خو چې تخیل ،مشاهده او نوښت پکې نهٔ وي،پاروونکی فکر او احساس نهٔ لري، نو بیا شاعري نهٔ شي کیدی.

اصول ګِلکاري ده، ګِلکار دا کوي چې کومه خښته چېرته کېږدي، دیوال به څنګه مستقیم وي،بحر وزن به څنګه وي؛ که داسې شي نو بیا شعر نهٔ دی ځکه شعر فکر،تخیل،جذبې،احساس او نوښت ته ضرورت لري.

کوم څیز ته چې موږ شاعري وایو، دا په نثر کې هم کیدی شي، شاعري صرف منظومات نهٔ دي، د منظوماتو مثالونه مې درکړل چې هغسې منظومه ده خو شعر نهٔ دی.

ځیني خیالات او تفکرات به منظوم نهٔ وي خو شعر به وي، یعنې په نثر کې داسې خبرې کولی شو چې فکر،خیال،جذبه او احساس لري او د نورو احساس راپارولی شي، دا نثري شاعري ده، مشران ورته سپین شعر وایي.

نو شعر او منظومه بېل دي، شعر په تخیل او تفکر ولاړ دی، خو منظومه په وزن،بحر، قافیه او ردیف ولاړه ده.

طارق وزیر: په شعر کې هنري ابهام ته ضرورت شته ،که واضح بیان پکار دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حنيف خليل: د شعري ابهام په نوعيت بايد پوه شو، کله کله موږ ابهام دې ته وايو چې شعر دومره پیچلی کړو، چې په هېڅ طور ترې مانا نهٔ راوځي او مانا د شاعر په خېټه کې پاتې شي.
لکه عرب چې وايي(المعناء فی بطن الشاعر) مانا د شاعر په خېټه کې ده، نو دا بيا ولې وليکلی شو او د چا دپاره شو؟ دغه ابهام غير ضروري، غير افادي او بې مقصده دی او له دغسې ابهام نه واضح شعر غوره دی.
که ابهام په ايهام بدل شي نو ايهام پخپله يو شعري صنعت او تکنيک دی او ايهام دې ته وايي چې ابهام ښکلی کړی شي. دغه ډول ابهام خپل لوستونکی په ژور فکر مجبوروي،چې غوټې پرانيزي په علامتونو او استعارو پوه شي، نو بيا د ابهام د غوټې د پرانيستلو نه پس د شعر خوند يو په لس شي؛ دغه ابهام د شعر حسن دی او پرته له ابهام شاعري پروپاګنډه جوړېږي.
سيېده ساده خبرې خو سياست دان،ملا او ژورنالېست هم کوي چې استعارې،علامتونو او تلازمې پکې نهٔ وي دا خو بيا شعر نهٔ دی.
شاعري د علامت،تکنيک،استعارو،تشبيهاتو،بدايعو ژبه ده.
مثلاً که سياست دان خبره کوي هغه به داسې وي چې په کشمير د هندوانو قبضه پکار نهٔ ده ځکه دلته مسلمانان زيات دي؛ خو يو شاعر علامت او استعاره راوړي همدا خبره حمزه بابا په شعر کې کوي:
ځير دې يم زلفو ته د مخ په تمه
زهٔ د هندوانو نه کشمير غواړم
اوس غور وکړئ چې د هندوانو او کشمير دپاره يې د زلفو او د مخ استعارې راوړې او دا د شاعر کار دی، يعنې مخ سپين دی د کشمير له ښکلا سره تشبيه دی، زلفې تورې دي تشبيه يې له تورو هندوانو سره ده؛ نو چې تورې زلفې په سپين مخ راخورې وي مطلب يې دادی چې هنداونو کشمير قبضه کړی.
ابهام درجې لري چې بيا د لوستونکو د ذوق درجې غواړي، مثلاً که ددې لږ زيات ابهام راواخلو نو بيا به د کاظم خان شيدا شعر وايو چې:
شګفته کړه لکه لمر جبين هر چاته
چې په تلهٔ دې سياه پوش تمام جهان شي
خبره په ابهام کې شوي خو غوټې يې پرانيستلی کيږي او ابهام ابلاغ ته رسيږي نو لوستونکی د شعر په خوند پوهيدلی شي.
شيدا ويلي دي چې خپله تنده د لمر غوندې روښانه کړه، ځکه چې ستا د مرګ او پرېوتو نه پس ټول جهان تاپسې خپه وي، که لمر پرېوزي جهان تيارهٔ شي ټول جهان تور لباس اغوندي او لمر پسې خپه وي؛ ددې علامت مطلب دادی چې که ستا تنده روښانه وه نو ستا له مرګ وروسته به هم ټول جهان تورې جامې اغوندي.
دا ښکلی ابهام دی پرانستلی کيږي او ابهام د ايهام او ابلاغ مقام ته رسيږي.
ابهام تر دې هم اوچتې درجې لري په خپله رحمان بابا کې ګران شعرونه شته او شيدا خو داسې شعرونه لري چې هغه ډېر فني نزاکت غواړي، عام او سطحي ذوق لرونکي ته به يې هر شعر ابهام ښکاري.
شيدا وايي چې:
ما لباس ورپسې رنګ د ګل په شان کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه بوی هسې مې ووت له اغوشه
دا بیت عام لوستونکي ته ابهام ښکاري، خو پوه او با ذوقه يې غوټې پرانيزي او ابلاغ ته رسيږي
.نو هلته معلوميږي چې شعر څنګه وي
:شيدا بل ځای وايي چې
چې سرور په مستعار کا شيدا واوره
د دهقان په دانه رقص د اسيا کا
اوس د عام ذوق لرونکي ته شيدا مشکل پسند او شعر مبهم ښکاري، خو د لوړ ذوق لوستونکی يې
.غوټې پرانيزي
سرور په رقص کې دی او ځيني رقصونه داسې وي چې په خپل مزاج نهٔ کيږي ،په مستعار طبيعت کيږي او مستعار طبيعت دپاره شيدا مثال ورکړی چې "د دهقان په دانه رقص د اسيا کا" اسيا يعنې د ژرندې پل هم چورلي خو هله رقص کوي چې دهقان دانې ورته راوړي، شيدا د انساني ټولنې خبره کوي چې مستعار رقص مه کوه، څوک چې مستعار سرور حاصلوي يعنې د مفتو شراب څښني او مفت رقص کوي؛ په رقص کې هم چورلک وي، په ميکده کې چې ساقي جام ګرځوي نو هغې کې هم ګردش وي او د ژرندې پل کې هم ګردش وي؛ دا ټول ګردشونه په يو بيت کې راغونډول د استاد .شاعر کار دی او دا هغه ابهام دی چې ايهام او ابلاغ ته رسي او د لوړ ذوقه لوستونکو لپاره وي
څوک چې په نظم کې ساده خبره کوي دهٔ سره شعر نهٔ شته، خو څوک چې په منظوماتو کې تکنيک راولي، نو دغه تنکيک که څهٔ هم د مبتدي لوستونکي دپاره به ابهام وي، خو د لوړ ذوق لرونکي .دپاره به شعري تکنيک وي
البته د مشکلې ژبې نه ځان په ډېره ساتل پکار دي، يعنې د ژبې مشکل دا چې موږ سره پښتو ساده او سوچه ټکي شته؛ نو ژبه کې ګنجلک، ټکي په زور راوړل، له نورو ژبو د هغو ټکو راوړل چې .خپله ژبه کې بديل لري، پکار نهٔ دي
حمزه بابا يوه مسره داسې ده چې: ستا به جوهر د سخن دا وي چې ساده کړه ژبه
!په ساده ژبه کې پوره تکنيک راولئ،علامتونه،تلازمې او استعارې راوړئ
:د حمزه دې شعر کې ژبه ساده خو شعري ټکنيک لري
ګوره سترګې چې مې ډکې ډکې کيږي
نوم د تګ په خولهٔ وانخلې باران راغی
ژبه يې اسانه ده خو دوه تصويرونه پکې دي ،يو دادی چې چې محبوب د تګ اجازت غواړي خو مين ورته وايي چې تهٔ مهٔ ځه! دوه قسمه باران راغلو؛ يو خو چې تهٔ رخصتيږې نو د ډکو سترګو .باران رادرومي ، بل خوا بهر هم باران وريږي او باران کې څوک نهٔ ځي
:حمزه بابا وايي چې
اشنا چې راشي خطا وار شي زما
حمزه! تر څو به خطا وار اوسمه؟
د لومړي خطا وار هدف وارخطايي ده او دوهم خطا وار د غلطي کوونکي مانا لري؛ يو خطا وار يې .په دوو ماناوو کې استعمال کړ او ژبه ساده ده
اخري دا چې ژبه دې ساده وي خو تکنيک دې موجود وي، شعر دې نبغ په نبغه نهٔ وي، شعر بايد د سياست دان،ملا او خبريال خبره نهٔ وي، بلکې بايد د شاعر خبره وي او شاعر خبره په علامتونو، .رمز او کنايه کې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



----چرته غور مو پرې کړی دی

دا چې په ټرکونو-- ویګنونو--داټسنو--رکشو--او نورو ګاډو یې لیکلي وي چې-- بري سرکار---
بري لجپال--دمادم مست قلندر-- مولا علي--خیر نال ا خیر نال جا-- مان کی دعا جنت کی هوا--راځه
--راپسې د سترګو توره--- پام کوه اشنا
په اورتیک مې خفه نه شې
--په ما ناوخت دی د خپل یار دیدن له ځمه
ځنې سیاسي نعرې--- او ځنې شعرونه--رحمان بابا ته منسوب د ځانه جوړ شوي شعرونه--- او
--داسې نور ډیر لیکونه او خبرې---چې مونږ یې په دغو ګاډو لیکونو کښې وینو
دغه ټرانسپورټي ادب ته له کومو کومو زاویو نه کتلی کیدی شي او په کومو کومو ټولنیزو علومو
--کښې یې تحلیل او تجزیه کیدی شي-- زما فکر خو دا وایي
نفسیات
دغه ټرانسپورټي ټولنه څه رنګه سوچ کوي---خواهشات یې څه وي--- د خواهشاتو په پوره کیدو
او نه پوره کیدو یې ردعمل څه وي-- اطمینان او محرومی یې څه وي - وغیره
کلتور
دغه خلق د کوم قسمه ټولنیز ژوند ترجماني کوي-- د ژوند مشغلې یې څه وي--د کار دوران کښې
وخت څنګه تیروي--- خوراک جامه پیزار یې څنګه وي-- وغیره
اقتصاد
دغه خلق په کومه طریقه خلق ځان ته مایل کوي چې ګټه وټه او مزدوري وکړي-- په ګاډو دغه
لیکونه یې په ګټه وټه څنګه اثر غورزوي- د ابادۍ کمی یا زیاتوالی پرې څه اثر غورزوي-- ملکي
او حکومتي حالات پرې څه اثر غورزوي --په زیاتو غریبو او کمو غریبو سیمو کښې یې صورت
حال څه وي --وغیره
ژبه
په دغو ګاډو لیکونه په څنګه ژبه او لهجه کښې وي--- پښتو نه علاوه نورې کومې ژبې کاروي---
-او په کومو سیمو کښې یې کاروي
ادب
په دغو ګاډو لیکونو کښې نثر او نظم په کوم تناسب وي- ټپو نه علاوه څنګه او څومره شعرونه
راوړي-- د کومو ژبو شعرونه راوړي--شعري ذوق یې څومره وي رحمان بابا او احمد فراز پورې
هسې جوړ شوي شعرونه تړي او په رښتیا د کومو ادبي او اولسي شاعرانو شعرونه راوړي-د پښتو
--نه علاوه د کومو ژبو شعرونه راوړي او په کومو سیمو کښې یې راوړي
هنر او خطاطي
--په دغو ګاډو لیکونه په کوم کوم ډیزاین او د خطاطی په کومو قسمونو کښې شوي وي
تقابل
د پښتنې سیمې نه علاوه په نورو ملکي سیمو کښې د دغه ټرانسپورټي ادب صورت حال څه دی او
ایا د ملک نه بهر په یورپ امریکه وغیره کښې هم داسې شته-- که شته نو تناسب یې څه دی-- او
--محرکات یې څه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ټولنيز علوم
دغه ليکونو کښې د مذهب -- سياست--جغرافيي--تاريخ --ټولن پوهنې-- وغيره برخه څومره --وي--څنګه وي-- او ولې وي
زما خيال دی دغه لور ته هم سنجيده توجو پکار ده--څيړنې پرې پکار دي--تحليل او تجزيه يې --پکار ده
د نورو ملګرو د رايې سوچ او فکر نه خبر نه يم چې هغوئ به څه وايي--- ما صرف خپل خيال --ملګرو سره شريک کړو

---

نومورې رومانوي او باغي شاعر اشرف مفتون د کوم مذهب منونکی وو-- د ډارون د ارتقا په نظريه يې څه رايې وه-- د غني خان د شاعرۍ په حقله يې څه نظر وو-- پخپله د چا نه متاثر وو-- سياسي نظريه يې څه وه -- د فن تصور يې څه وو-- د حسن تصور يې څه وو-- او ځنې نورې ادبي ---او تاريخي خبرې يې په دې مرکه کښې کتلی شئ--- شپږ ويشت کاله پخوا د مفتون خبرې

اشرف مفتون سره مرکه
مرکه کوونکی--- حنيف خليل

اشرف مفتون د پښتو شاعرۍ د روماني مکتب تر ټولو لوی نماينده دی لوستی سړی دی ، مغربي رومانی تحريک نه هم خبر دی او فطرت يې هم رومانيت او ښکلا خوښونې ته مايل دی ، د دې هر څه انعکاس يې په شاعرۍ کښې ښه واضح ښکاري ، درې څلور شعري مجموعې يې چاپ کړې دي چې د دې ټولو نه د کليات په شکل يوه مجموعه يې د سکوندارۍ په نوم چاپ کړې ده . د سکونداري مجموعې شاعري يې د فکري بغاوت ، فطرت پالنې او جمالياتي اقدارو د شوخو رنګونو امتزاج وړاندې کوي او همدغه څيز يې دپښتو په روماني شاعرانو کښې تر هر چا ممتاز کوي ، ريډيو کښې پروډيوسر هم پاتې شوی دی ، ځنې ډرامې او افسانې يې هم ليکلي دي ، خو خپله ټوله توجه يې شاعرۍ ته وقف کړې ده او هم د شاعرۍ په حواله يې ډېر لوی نوم ګڼلی دی ، زما په خيال د روماني شاعرۍ په حواله دپښتو شاعران خو څه چې د اردو ځنې شاعران يې هم سيالي نه شي کولی ، د شاعرۍ ابتدا يې په اسلاميه کالج کښې د طالب علمی په دوران کښې کړې ده او لومړنی شعري مجموعه د شاعر دنيا » يې په هغه وخت کښې چاپ کړې وه چې پښتو کښې د نوې . شاعرۍ دګوتو په شمېر مجموعې موجودې وې

: پوښتنه
په ادبی سرګرمو شروع موڅنګه وکړه ؟

: ځواب
زه وړومبی کالجيت سکول کښې داخل شوم ، بيا اسلاميه کالج ته لارم ، هلته مې څو کاله سبق ووې ، د سکول په وخت کښې مې شاعری کوله او تقريبا يو کتاب مې هم تيار کړی و. دا غالباً د کال ۱۹۴۴ خبره ده . بيا چې کالج ته راغلم نو د کتاب چاپ کولو شوق مې نور هم زيات شو . په کال۵ ۱۹۴ کښې مې يو خواخوږي له پيسي ورکړې چې زما کتاب چاپ کړي ، خو بيا مې نه کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وليدو او نه پيسي په اسلاميه کالج کښې په دغه زمانه کښې خيبر ميګيزين کښې زما نظمونه او غزلې چاپ کيدلى ، زما د دغه وخت ملګرى سيد رسول رسا ، يونس خليل او سمندر خان سمندر وو ، دوئ ته به چې ما خپله شاعري واوروله نو ورته به څه نوى غوندې ځيز ښکاره شو او ما ته به يې ويل چې ته څه عجيبه شاعري کوې-- هر څو که ما دخپل تعليم ابتدا په جماعت او اسلامى او قرآنى تعليم نه کړې وه خو شاعري مې د پخوا نه د ملا او اسلام پورې محدوده نه ده ساتلې ، بيا په کال ۱۹۴۷ کې زما وړومبى کتاب د شاعر دنيا » چاپ شو ، کتاب کښې د کتابت و غيره ډيرې غلطۍ هم وې . يونس خليل زما کتاب سره يوه غلطنامه هم تياره کړې وه خو د هغې باوجود پکښې غلطيانې ډيرې وې، زما شاعري به چې زما ملګرو کتله نو هغوئ به ويل چې داسې شاعري مخکښې پښتو کښې نه ده شوې ، يونس به دا هم ويل چې پښتو سانت او معرى نظم د مفتون نه مخکښې نه و ، خو ماته دا اندازه نه وه شوې چې زه معرى نظم ليکم که سانت. خو بس د خپلو خيالا تو اظهار به مې کولو ، آزاد نظمونه مې هم ليکلي دي چې يونس خليل او رسا به يې ستاينه کوله . د ر سا ډيره زياته مطالعه وه ، د غنى خان شاعرئ کښې هم ډير څه شته خو درهغه مطالعه نه وه ، بلکې په دغه وخت کې بغير د رسا نه د چا هم خصوصي مطالعه نه وه . اکثرو ديني او مذهبي غوندې مطالعه لرله . غنى د علامه اقبال د بانګ درا نه ډيره استفاده کړې ده ، د غنى دا شعرونه چې پکښې بې ويلي

دى !

حسن له زوال شته ، مينه نه لرى زوال » د علامه اقبال د بانګ درا نه يو نظم ترجمه شوى دى ، زما خيال دى چې علامه اقبال هم دبانګ درا نه پس ښه شاعري نه ده کړې او غنى خان هم د وړومبى شاعرئ نه پس يې تبليغ شروع کړو ، اقبال د اسلام تبليغ شروع کرو او اصل شاعري ترې پاتې شوه او غنى خان هم د اسلام او پښتون تبليغات کړي دي او ترانې يې ليکلې دي خو شاعري پکښې ډيره کمه ده ، زما په خيال چې چا ته افاقي شاعر ويل پکار دي هغه غالب دى . د غالب شعرونه د متل به طور استعماليږي هر ښه شعر د متل ځاى نيسى، غنى خان د اقبال نه علاوه د عمر خيام وغيره نه هم متاثره وو ، نو ما به دغه رنګ شاعري کوله ، د تعليم نه پس ريډيو ته د ملازم په حيثيت را غلم دلته مى هم د شعر و شاعرى شغل جارى وو ، تقريباً دوه ويشت کاله مې ريډيو کښې ملازمت وکړو خو دلته مې هم دا محسوس کړه چې مونږ آزاد نه يو ، انسان غلام دى او زما درغلامى ماحول کښې سا ډوبيږي ، بس ريډيو نه مى هم استعفى ورکړه ځکه چې دغه ماحول کښې څوک د خپلو هيروګانو قدر نه شي کولى . د خپل قام لوى شخصيتونه ستايلى نه شي او زما خو دا نظريه ده چې هر قام آزاد پيدا دى نو ځکه مې د دغه پابند ماحول نه ځان آزاد ماحول ته راوستو . زه چې څنګه پښتون آزاد غواړم . دغه شان پنجابى ، سندهى او بلوچى هم آزاد غواړم زه د انسان د پابند ساتلو قايل نه يم ، ريډيو نه مې چې کله استعفى ورکړې ده هغې نه پس مې دريډيو مخه نه ده کړې ، کلي کې مې هم ژوند تيرول خوښ نه وو ، ځکه چې ماته د خلقو له خوا دې خان خان ويلو مزه نه راکوله بس د کلي نه هم را ووتم او د ښار ماحول کښې مې يو خواته ځان ميشته کړو. ريډيو نه د استعفى کيدو نه پس مې بل څه کار نه دى کړى ، بس خپل د شعر و شاعرى شغل سره مشغول يم او زما په خيال هم دې کښې ما ته سکون دى ، هم دې دپاره مى تنهايى هم ډيره خوښه ده .

پوښتنه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د فن پحقله ستاسو څه تصور دی ؟**
**: ځواب**
**فن کښې د ازم قائل نه یم ، فن آزاد او افاقي پکار دی ، زما په خیال فن تبلیغ نه منی په تیچنګ او پرمختک کښې فرق دی فن یو پیغام خو درکوی ولی تبلیغ پکښې نه ځاییږي ، مثلا د اقبال دبانګ درا نه پس شاعري د اسلام تبلیغ دی ، فن پکښې ډیر کم لیدی شی ، وروستو اقبال د نیچې او نورو مغربی فلسفیانو نه متاثر شو او ایګو ، خودی او اسلام یی خپل کړل خو فن ترې پاتې شو ، دغه شان فیض احمد فیض چې په « نقش فریادي کښې کوم فن پیش کړی دی وروستو ترې پاتې شوی دی او د کمیونیزم وغیره نه متاثر شوی دی او د هغې تبلیغ یې کړی دی. که څوک حمد لیکي یا نعت لیکي نو په مسلمانانو کښې به د خلقو خوښ وي ، که مرثیه لیکي د شیعه ګانو به خوښ وي او که دبلې کومې فرقې یا ګروپ نمایندګي کوی نو هغوئ کښی به محبوب وي خو ښه فن د دې هر څه نه آزاد وي او د ټول انسانیت علمبردار وي که هغوئ هر مذهب او فرقې سره تعلق لري خو ښه فن یې ترجماني کوي ، لکه د غالب شاعري .**
**: پوښتنه**
**فن او ژوند څه نسبت لري ؟**
**: ځواب**
**فن او ژوند هیڅکله هم بیلیدی نه شی ، فن به خامخا د ژوند ترجمان وي ، د ترقی پسند ادب اصطلاح هم زما خوښه نه ده ، ولې فیض ترقی پسند وو او غالب نه و ، د هر چانه زیات خو غالب ترقی پسند وو نوزه وایم چې فن خامخا د ژوند عکاس پکار دی ګنې ښه فن نه دی .**
**: پوښتنه**
**تاسو خپله شاعري یا فن د چا نه متاثر ګڼئ؟**
**: ځواب**
**زما د شاعری پحقله چې تا لیکلي دي چې د بایرن نه متاثره ده نو په دې خبره زه خوشحاله شوم خو بایرن په دې نقطه نظر ما تر اوسه نه دی لوستی او نه ترې زما شاعري متاثره ده -- ز ما انګریزي هم کتابي ده ، زه دومره زیات په انګریزۍ پوهیږم هم نه -- دغه شان را ته یو ځل ولی خان ویلي وو چې ستا شاعریرملتین نه متاثره ده خو زما په خیال د ولی خان دومره ادبی مطالعه نشته نوځکه زه ستا او د ولي خان دواړو سره اتفاق نه لرم .**
**: پوښتنه**
**په عالمي ادب کښې ستاسو د چا فن خوښ دی ؟**
**: ځواب**
**زما د اردو او پښتو مطالعه کمه ده خو چې څه مې لوستي دي په هغې کښې مې غالب ډیر خوښ دی. په نثر کې مې منټو خوښ دی او دانګریزۍ څه مخصوص شاعر مې نه دې خوښ کړی ، هر چا چې خوند راکړی دی خوشړشوی می دی .**
**--- پوښتنه**
**تاسو په فن کښې د کومې عقیدې خورونه کوئ ؟**
**: ځواب**
**په فن کښې د عقیدې د تبلیغ قایل نه یم . البته پخپله د بده مت او انسان شاعریم . مینه پسند او امن پسند انسان یم؛ انسان پرست یم ، حسن پرست یم ، د ذهني مساواتو قایل نه یم ، انسان صرف په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال اوچت ګڼم . دنیچر مطالعه کول می خوښ دي، زما په خیال مذهب د ثقافت برخه ده. ثقافت د مذهب برخه نه ده، خو زه خپله شاعري د دې قسمه هر سوچ نه آزاده کوم-- انسان مې هغه خوښ دی چې په انسان احسان وکړي د انسان د تعمیر دپاره څه کار وکړي که هغه د هر مذهب سره تعلق لري . ډاکټر فیمن مي په دې خوښ دی چې د انتی بیاټک موجد دی : نهرو او مهاتما ګاندهي می هم د انساني خیر خواه په حیث ډیر خوښ دي او بیا خصوصاً باچا خان د انسان د بقا دپاره چې کومې قربانۍ ورکړې دي د هغې ډیر زیات قایل یم .

پوښتنه :

سیاست سره مو تر کومه حده تعلق پاتی شوی دی؟

ځواب :

زه صرف د نظریې تر حده سیاست سره تعلق لرم او نظریه مي د باچاخان ډیره خوښه وه . باچاخان به هر انسان ته په یو نظر کتل . په خپل فوج کښې یې د معمولي نسل خلقو ته غټي عهدې ورکولې چې دوئ د احساس کمترۍ ښکار نه شي. باچاخان مسلمان وو خوتنګ نظره نه وو ، هغه به دا هم ویل چې زه د پاکستان مخالف نه یم ، بلکې زه خو دا وایم چې دومره کمه رقبه کښې دومره زیات مسلمانان نه شي ځای کیدی ، باچاخان د سیاسی لیډر نه علاوه روحاني مشر هم وو او خلقو به ورته ډیر په درنه سترګه کتل ، زما هم د باچاخان دغه رویه خوښه وه چې هر انسان ته یې خپل حق ورکولو ، باقی که ما له څوک غته سزا را کول غواړي نو ماته دې سیاسي عهده راکړي ، د وزیر اعظم ګورنر او نورې سیاسي عهدې ما دپاره یوه سزا ده ، یو قید دی ، دغه قسمه سیاست نه زما خوښ دی او نه خپل ژوند ورکولی شم .

پوښتنه :

ستاسو په خیال یوه ژبه او ادب څنګه ترقي کولی شی ؟ ځواب :

زه خو وایم چې ژبه په زور او زر ترقي کوي -- کومې ژبې ته چې د زرو سرپرستي حاصله وي او یا ورسره د زور سرپرستي وي نو هغه ضرور ترقي کولی شي- فارسي ژبی سره دا دواړه څیزونه وو . ځکه هغې ډیره زیاته ترقی وکړه مونږ چې متل وایو چې مړه خیته فارسي وایي ، نو مطلب یې دا دی چې فارسیوان په خیته ماړه خلق دي-- مغلو هم فارسی ته ډیره وده ورکړې ده ، دغه شان دانګریز ثقافت او ادب هم و منلی شو ځکه چې زور او زر ورسره وو خو پښتو ژبې ته نه پخوانو بادشاهانو توجه کړې ده او نه ورته اوس سرپرستي حاصله ده . په ادب کښې نن خلق دانګریزي او فارسي د شاعرانو مثالونه ورکوي خو د خوشحال ، رحمان او شیدا مثال څوک هم نه ورکوي . داځکه چې دې ژبې سره زر او زور نه پخوا وو او نه اوس شته

پوښتنه :

د پښتو د موسیقی په حقله مو څه خیال دی ؟

ځواب :

د پښتو شاعري او موسیقي دواړه یو څیز دی ، دواړه د نورو ژبو د موسیقۍ او شاعرۍ نه بیخی جلا دي ، مثلاً د پښتو ټپه چې کومه موسیقي او وزن لري دیوې ژبې موسیقي هم ورسره سیالي نه شي کولی ، دغسې بدله نیمکی ، چاربیته وغیره هم خپله خاص موسیقي لري . د رحمان بابا کلام ته چې خلق رباعي وایي نو دا خو رباعی نه دي ځکه چې رباعي خو د ربع نه ده او څلور مصرعو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وایي خو د رحمان بابا غزلو ته چې رباعي ویلی شي دا د رباعی د خاص موسیقی به وجه-- نو
. زه وایم چې د پښتو د شاعری غوندې یې موسیقي هم ځانله رنګ لري
: پوښتنه
سرکاری اداري تر کومه حده د پښتو خدمت کوی ؟
: ځواب
پښتو اکیدمی ته زه په ټول عمر کښې دوه درې ځله تلی یم . د کار نه یې خبر نه یم خیر خو دوئ
کښې به سید انوار الحق کاکاخیل د پښتو لغت لیکلو نو ما یو ورځ مولانا عبدالقادر ته هم ووې چې
تاسو په اکیډمی کښې په ناسته څنګه د پښتو لغت لیکئ ، ټکي خو د هرې سیمې جدا جدا وي ،
تاسو وریسي خومره وګرځیدئ -- بله خبره دا ده چې دا دومره بوډا سټاف به په مختلفو علاقو لغت
دپاره څنګه وګرځي ، دې د پاره خو ځوان زلمي خلق پکار دي او یو کس دوه نه ، بلکې پوره ټیم
پکاردی ؛ هله به لغت لیکل صحیح وي . داسې په اکیډمی کښې په ارام ناستي سره تاسو د مختلفو
سیمو د خلقو نمایندګي څنګه کولی شئ ، دغه شان د نورو ادارو حال هم دی-- نو زما خیال دی
چې پښتو ته
.هیڅوک توجه نه کوي
: پوښتنه
: تاسو نثر ته ډیره کمه توجه کړې ده ، څه وجه کیدی شی ؟ ځواب
نثر لیکلو سره زما فطري شوق نشته ، پخوا مې څو ډرامې لیکلې وې خو په هغې مې هم هسې
ځان مشغولولو دغه ډرامې چاپ هم شوي خو بیا مې لوستې هم نه دي البته یو بل څیز مې اوس په
نثر کي لیکلی دی چې په هغې کښې مې کوشش کړی دی چې په فیکشن کښې د فلسفې درس
ورکړی شی ، بلکې دا ویل پکار دي چې دا کتاب د « ټو ټیچ فلاسفی ان فیکشن مصداق دی . دغه
فیکشن کتاب کښې کردار نګاري هم شته او د ، **To teach Philosophy in Fection**
ډرامې او افسانې یو ګډون غوندې دی . کتابت یې شوی دی خو لا چاپ نه دی- دې نه علاوه د نثر
. نورو قسمونو لیکلو ته می زړه نه کیږي . دا مې هم د فلسفې د تدریس لپاره لیکلی دی
: پوښتنه
ستاسو په خیال د انسان او نورو مخلوقاتو د تخلیق مقصد شه دی ؟
: ځواب
زما خیال دی چې دا څومره مخلوقات دې دنیا کښې تخلیق شوي دي ، د دوئ د تخلیق مقصد راته
څه عجیبه غوندې ښکاري ، ځکه چې کله کله زه ووینم چې یو زورور او غټ ځناور وړوکی او
کمزوری ځناور وخوري نو زه فکر کوم چې د وړوکي ځناور د تخلیق مقصد دا وو ؟ دغه شان چې
انسان هم بل انسان وژني نو حیران شم چې د مقتول انسان د تخلیق مقصد د وو چې په هغه دې
ژوند تنګ شي ، د تخلیق مقصد چې هر څه دی خو زه د زورور ظلم په کمزوري زیاتی ګنم او دا نه
شم لیدی -- هر تخلیق ته د خپل ژوند نه تسکین
. او مزه اخیستل پکار دي
: پوښتنه
د حسن په حقله ستاسو څه تصور دی ؟
: ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حسن په حقله دهر چا تصور جدا وي ، د افريقي د خلقو د حسن تصور سپين نه دی، هغوئ ته چي د حضرت عيسی او مريم مجسمي وښودلی شوې چي دا پيغمبر دی او تاسو عيسايان شئ نو هغوئ  ووې چي دا مجسمي خو سپيني دي مونږ دا پيغمبر نه منو . خو کله چي دغه مجسمو ته تور رنګ ورکړی شو نو د افريقي خلقو پيغمبر ومنلو او عيسايان شول ، دا ځکه چي دهغوئ د حسن تصور په تور رنګ کښی وو  د ښځي خربيلی سر او غټي شونډې هم د هغوئ دحسن تصور دی ، نو ځکه زه وايم چي د هرې سيمي او هر قوم د خلقو د حسن معيار جدا وي ، زه خپله هم د حسن يو تصور لرم ، روحاني حسن مي ډير خوښيږي ، کله چي ځان روحاني طور محتاج محسوس کړم نو عبادت ته مي ډير زړه کيږي چي د حسن عبادت و کړم ، دښځي حسن نه ډير زيات متاثره يم ، ډارون چي د انسان پحقله ويلي دي چي دی د بيزو يا شادو ترقی يافته شکل دی نوزه ورسره اتفاق نه کوم زما په خيال که هر څوک د بيزو اولاد وي خو دومره ښکلي ښځي د  بيزو اولاد هيڅکله نه شي کيدی . حسن زما په خيال د روح غذا ده --دې نه علاوه د فطرت په مطالعه او مشاهده کښي هم يو حسن او تسکين پروت دی، موسيقی اوريدو کښي يو خپل خوند دی او بيا ما د پاره خو د بده مت با مهاتما بده پحقله تصور او مطالعه او مشاهده کښي چي کوم تسکين دی بل څه کښي نشته نو ځکه زه ځانته حسن پرست او انسان پرست وايم .

**29-4-98**

---

**د همت په مخکښي کوم کارونه لوې شي**
**پياده د دې بساط اخر فرزين دی**
**-نوټ--- پياده به درې چپو کښي وييل غواړي-- پي-- يا-- ده**
**----وضاحت**

دې شعر نه به زيات خوند هغه ملګري اخستی شي چي يو خو د شطرنج په لوبه پوهه وي--او بل يې د عامر خان فلم --لګان-- کتلی وي-- ساده مفهوم خو يې دا دی چي د همت په مخکښي يو کار هم لوې يا ګران نه دی-- همت کوونکی که کمزوری هم وي خو لوې کارونه بيا هم تر سره کولی شي--- اوس د شيدا هنري نزاکت او مشاهدې ته ځير شئ--پياده هسې هم کمزوری او سور طاقتور وي-- خو دلته خبره د شطرنج د بساط شوې ده--- د شطرنج په ميدان دوه قسمه ګيټی يا مهرې وي-- يو ته پياده وايي دا په شمار اته ګيټی وي--او بل ته فرزين وايي---پياده کمزورې ګيټئ وي--مخالف لوبغاړی يې زر يوسي -- خو فرزين طاقتوره ګيټئ وي چي وړل يې هم ګران وي او فرزين د خپلو پياده ګيټو حفاظت هم کوي-- تر دې چي لوبه ګټونکي کيټی هم دغه فرزين وي-- کله کله داسې وشي چي کومه پياده ګيټی د خپل فرزين په مرسته او تحفظ د لوبې تر اخره ژوندئ پاتې شي او  ټوله لوبه دغه پياده ګيټئ وګټي-- ګويا پياده ګيټئ د کمزورې کيدلو باوجود همت نه بايللو نو پياده اخر هم فرزين شوه او ټوله بازي يې وګټله-- ګويا په انساني ټولنه کښي هم ګټه د هغه چا --وي چي همت ناک وي--لويه حوصله او برداشت لري او د هر قسمه حالاتو د مقابلې توان لري اوس د عامر خان فلم لګان راياد کړئ--- انګريزانو سره د غريبو هنديانو کسانانو د کرکټ ميچ وي چي د حکومتي لګان معاف کول د دغه ميچ ګټلو سره مشروط وي-- دغه ميچ کښې ټولو نه تکړه لوبغاړی عامر خان وي او ټولو نه کمزوری يو معذوره وي چي هلته يې نوم --کچره --وي---عامر خان ګويا د شطرنج فرزين وي چي د خپلو نورو لوبغاړو حوصله پورته کوي او کچره ګويا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شطرنج پیاده وي چې د ټولو نه کمزورۍ لوبغاړی وي خو همت نه بایلي-- او دغسې میچ په اخري -بال د کچره په ذریعه وګټلی شي**
**اوس موازنه وکړئ د شطرنج د لوبې او لګان فلم-- او بیا د شیدا پیغام او شعري تکنیک ته هم غور وکړئ چې کمزورو خلقو ته د همت ورکولو د پاره یې کوم اسلوب خپل کړی دی-- ګني خبره --هم هغه د خوشال بابا ده چې**
**که اسمان دې د زمري په خله کښې ورکړي**
**د زمري په خله کښې مه پرېږده همت**

---

**نن نه پنځه ویشت کاله مخکښې مې اروابناد اجمل خټک سره یوه مرکه کړې وه چې نن یې د ----فیسبک ملګرو سره هم شریکول غواړم**

**اجمل خټک سره مرکه**
**مرکه کوونکی ---حنیف خلیل**

**اجمل خټک د پښتو با شعوره شاعر، زیرک محقق، سپیځلی نقاد، سنجیده صحافی او پوهه سیاستدان دی. د اولسي ادبي جرګې د سیوري لاندې ئې د کا کاجی صنوبر حسین مومند، حمزه شینواری، او دوست محمد کامل په ادبي صحبت کښې ناسته کړې ده چې له دغو درېو شخصیتونو نه د ډېرڅه زده کولو پخپله هم معترف دی. هسې خو د دوئ شخصیت کڼ اړخیز دی- څه ئې چې لیکلي دي ډېر معیاري ئې لیکلي دي خو بنیادي طور دوئ د یو زیرك شاعر په حیث ډېره لوبه نامه ګټلې ده. ګل پرهر، تکلونه او د غیرت چغه ئې د پښتو شعري مجموعې دي او جلا وطن کی شاعری یی د اردو شاعرئ مجموعه ده. په شاعرئ کښې ئې د پښتون اولس د درد د مظلوم مرسته او ظالم خلاف د احتجاج غږ په غورځنګونو دی. په بنیادي توګه بو حقیقت پسند او ترقي پسند شاعر دی. د ژوند نغمه ډېره په فني پیرایه کښې د وئیلو قدرت لري. د پښتو ډېر شاعران د دغه ترقي پسند فکر را وړاندې کولو کوشش کوي خو په دغه فکر راوړاندې کولو کښې ترې شاعري تبلیغ او پروپیګنده جوړه شي او جمالیاتي اقدار او فن ترې په خاې پاتې شي. اجمل صاحب د خپل حقیقت پسند فکر اظهار په انتهائی فنی او جمالیاتي پیرایه کښې کړی دی چې زما په خیال پښتو شاعرئ کښې په صحیح معنو کښې هم د ده امتیاز دی (خصوصاً د نظم په حواله)-- اجمل صاحب نن سبا ادب نه یو ډېې ته دی او د ځنو مصلحتونو په وجه د خپل فطري مزاج خلاف ئې ټوله توجه سیاست .ته ورکړې ده**
**پوښتنه**
**د ځنو خلقو دا خیال دی چې ستاسو سیاست، ستاسو ادبي سرګرمو ته زیان رسولی دی یا دا چې ستاسو سیاست د ادب په لاره کښې خنډ جوړ شوی دی، ستاسو دې راې سره څومره اتفاق شته؟**
**:جواب**
**زمونږ مجموعي سیاست د خپل تاریخ، ثقافت، ادب، ژبې او ملي حقیقي حق او ساتنې لپاره دی زمونږ په مخالفت کښې چې څوک کوششونه کوي هغوئ د ژوند په هر اړخ کښې زمونږ د ملي اهدافو خلاف په هره سطح تش د وروستو کولو نه بلکې زمونږ د ورکولو او هیرولو کوشش کوي. د دې مقابله که په سیاست ونه شي نو په حکومتي اقتصادي او ثقافتي سطح زمونږ کوششونه به**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځاۍ نه نیسي - ځکه چې د ژوند په هر اړخ دغه مخالفین قابض دي-- مونږ په ذاتي ډلیز او جماعتي کوششونو ځان سترې کړو خو چې څومره مو کوشش وکړو هغه هومره په میدان کښې عملاً زمونږ د ملي تشخص حق لا نتیجه نه ده ښودلې اوس ضرورت ددې خبرې دی چې د ژوند په نورو میدانونو کښې اختلافاتو باندې تېره کیږدو او به اتفاق سره د ملي تشخص ژبې، تاریخ ، ثقافت ، ادب، فن او روایاتو لپاره واقعي خدمت وکړو. د افغانستان د ګډ وډ کیدو سره زمونږ حالت کښې هم فرق راغی نو دا مو نوره هم دغه خدمت کښې بد قسمتی شوه زه به دا ووایم چې زمونږ د ژوند ملی تشخص او د ژوند د هر اړخ بقا لپاره زمونږ ژبه ثقافت او خپل حیثیت ضروري دی او ورسره په دې نتیجه هم رسو چې ددې علاج د دې د ساتنې او روزنې سره سره بنیادي ضرورت په هغه سیاسي قدرت قبضه یا حق اخستل دي کوم چې زمونږ نقصان یا تباهی ته متوجه دی. په دې حقله مونږ په سیاسی سطح کوششونه وکړل خو مونږ کښې کورنی نفاق هم زمونږ مخالفینو پیدا کړو او زمونږ غوندې نورو مظلومو قومونو چې د احساس او شعور په بنیاد د مشترک کوشش کومې ارادې لرلې په هغې هم تیره موده کښې حملې وشوې دغسې مونږ د خپل مرام په لور بیا هم مخکښې نه شو. بلکې نن چې څومره محروم او تباه یو او مستقبل او بقا ته مو خطره ده دومره هیچرې نه وه. د سیاسي جدوجهد په لړ کښې ما تر خپله وسه د ملک نه بهر او دننه چې څه کولی شول هغه مې وکړل زه چې هر چرته وم هلته مې د ادب او ثقافت تجربې حاصلیدې د دغو تجربو په نتیجه کښې په دې نتیجه و رسیدم چې که زمونږ د ژوند او مستقبل لپاره دغه خدمت وشی نو په دې کښې به نننی پاکستان او موجوده حالاتو کښې مونږ له خپل مرام په لور کامیابی حاصلولو لپاره زمونږ غوندې د نورو مظلومو قومونو سره قدم او اواز یو کول پکار دی-- نو اوس مو د محرومو قومونو د تحریک به نوم د پښتنو ، بلوچو، سندهیانو سرائیکیانو او د پنجاب با شعوره او محکومو خلقو سره دقومونو د حقوقو لپاره یو تحریک جوړ کړی دی. دا مونږ د خپلې ملي تجربې، شعور، احساس او ملي اهدافو د حصول لپاره د شراکت لار غوره کړې ده کوشش مو دی چې نه خپل حق بل چاته پریږدو او نه د بل چا حق وخورو د دې جدوجهد دمخکښې تګ سره سره ماته دا احساس او افسوس دی د هغه میدان او ملګرو نه بیل شوم چې د هیچا نه کم نه بلکې زیات زمونږ د ملي تشخص ژبې ، ثقافت ، تاریخ ادب فن او روایاتو لپاره لګیا دي په سختو او نازکو حالاتو کښې هر ډول جدوجهد کوي او د حالاتو په سیلۍ کښې دا د ملي مرام ډیوه د فکر او قلم به زور بله ساتلې ده --زه دغه ملګرو سره د شریک جدوجهد په میدان کښې هغه هومره برخه نه شم اخستی څومره چې حق دی. ولې ملي شعور وینه غیرت درد او خپل ژوند راته هر وخت دې طرفته د خدمت زورونه را کوي په دې حالاتو کښې زما ضمیر ذهن او هڅې په دې اطمینان سستې نه کوي. چې د ملي --تشخص کامیابی او مستقبل لپاره دې زما هیڅ قسم قرباني پاتې رانه شي

:س

ستاسو په خیال ادب او سیاست یوځاۍ تلی شي او که نه؟ ج

ادب او سیاست پکار ده چې یوځاۍ روان شي او تلی شي خو زمونږ پښتنه معاشره د خپلو ملي او تاریخي بنیادونو په ځاۍ دبیروني او اخوا دیخوا اثراتو لاندې چې څنګه پکار وه په هغسې سوچه بنستونو چا پرې نه ښوه- حالات داسې جوړ شو چې دملی ژوند تولو اړخونو او تقاضو باندې د یو مرکز نه او په یو رفتار عملي کیدو په ځځاۍ هر څه تس نس او ځان ځاني شوه-- ځکه چې دلته څنګه د ادب میدان کښې کار کیږي ورسره د سیاست میدان کښی هم جدوجهد روان دی او په ظاهره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیل بیل ښکاري خو زما یقین دی چې لا تر اوسه دواړو کښې ژور احساس موجود دی او زمونږ کوشش دی چې ادبي او ثقافتي خدمت او سیاست خپل لازمی فرض و ګڼو-- دواړو کښې ترنن ورځې ملي قوت متحرکه هم یو دی سره د دې چې په هر اړخ زمونږ د مخالفت کوششونه کیږي او کامیابیدی نه شي  زه به دا ووایم چې اوس خو خبره دې ته راغلي ده چې په تور سورنګ کښې سپینه رڼا ښکاری.

: س
ختک صاحب تاسو د سیاسي پلیت فارم نه په حکومتي سطح تر اوسه د پښتو ژبی ، ادب او ثقافت د روزنې او پالنې لپاره څومره عملی کوششونه کړي دي؟

ج
زمونږ په صوبه کښې چې د نیپ او اسلامي جمعیت علماء (مفتی محمود صاحب )شریک صوبائي حکومت جوړ شو نو پښتنو لیکوالو او ادیبانو په یوه شریکه اجتماع کښې د حکومت نه د ژبې ادب د خدمت مطالبه وکړه دا د دې لیکوالو یو ډیر ګټه ور قدم وو- مونږ او زمونږ حکومت هغه مطالبه وستایله او دلته مو د پښتو د ساتنې او پالنې لپاره یوه اداره جوړه کړه خو زمونږ حکومت زر ختم شو او اداره هم و نه چلیده بیا حالات ډیر بدل شول اوس نوو حالاتو کښې په اسمبلو کښې مونږ په دغه لړ کښې کوششونه کوو خو افسوس دا دی چې څومره پکار ده هغه هومره کامیابي را ته نه حاصلیږي. دې لړ کښې صرف مخالف مرکزي حکومت باندې الزامونه لګول کافي نه دی. ښه به دا وي چې که زمونږ ملګري یا زه په دې لړ کښې څۀ خدمت کول غواړو نو باید چې خپله توجه زیاته دې طرفته وګرځوو. او بیا زمونږ لیکوال هم باید چې زمونږ توجه را ګرځولو لپاره ډیر څۀ وکړی.
:س
اجمل صاحب د پښتو ژبې او ادب د بقا دپاره چې د پښتنو لیکونکو یو مرکزی تنظیم د پښتانه لیکوال په شکل کښې موجود وو داسې حالاتو کښې ستاسو دملګري لیکوال د جوړولو څۀ ضرورت وو؟
:ج
زه چې کله کابل نه راغلم نو زما د ژوند د مطالعې او تجربې نچور دا وو چې بنیادي ضرورت او خدمت د ادب او ثقافت په میدان کشي پکار دی ما د پښتنو ټولنو او شخصیتونو سره د رابطې کوشش و کړو خو زه ګنم چې زما په سیاسي میدان کښې مصروفیت ما ته د کامیابیو موقع را نه کړه څۀ موده پس د ملګري لیکوالو تجویز پیش شو ما ورسره په دې بنیاد اتفاق وکړو چې د ادبي ټولنو او شخصیتونو په مشوره یو داسې ادبي تحریک جوړ کړو چې هغه زمونږ دملی مستقبل د تقاضو مطابق خدمت وکړی او په دغه بنیاد زمونږ پارټی د ملګري لیکوالو یو تنظیم جوړ کړو زما به کوشش وي چې دا په ملي سطح د ټولو پښتنو لیکوالو شریک شکل اختیار کړي.

---س
تاسو په ابتدا کښې د تحقیق او تنقید په میدان کښې هم کار کړی دی خو وروستو مو په دغه میدان کښې څۀ خاص اضافه و نه کړی شوه ددې څۀ وجه کیدی شی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



:ج
زما ادبی سرګرمیو نه باشعوره لیکوال ښه خبر دي او ډیر ادبي ملګري مې اوس هم ژوندي دي خو زما د سیاسي ژوند خصوصاً افغانستان ته دتګ نه پس داسې فضا جوړه شوه چې زه دلته په ادبي فضا کښې یاد پاتې نه شوم او زما څه قلمي ادبي او ثقافتي هغه زیار او منډې چې مونږ کولې نه هغه چا یادې کړې نو ځکه زه اوس وایم چې ددې میدان نوو زلمو ته به دا نوې خبرې ښکارې-- په دې خوشحه نه وایم خو دا یقین لرم چې فضا بدله شي هرڅه به مخې ته راشي دا هم وایم چې زه کابل ته نه وم تلی نو هیڅ ادبي او ثقافتي محفل داسې نه وو چې په هغې کښې زما خدمت او رول زما د لیونتوب مطابق، روښانه وړاندې او موثر نه وو او غټه خبره زه دا ګڼم چې مونږ د ژبې ادب، ثقافت او ملي تشخص کوم رخ روان کړی وو هغه شان و نه ساتلی شو او په هر اړخ نوی دور غالب شونو ماته ځان ډیر ګرم ښکارې چې هغه قلم او میدان نه زه یو اړخ ته ولې شوم. --
:س
ستاسو پحقله د ځنو ناقدانو دا رائې ده چې د غیرت چغه» نه پس ستاسو د شاعرۍ معیار هغه پاتې نه شو کوم چې مخکښې ؤ --ستاسو څه خیال دے؟
:ج
د غیرت د چغې ماحول او زمونږ د جدوجهد لپاره زما د ژوند لارې هغه شان پاتې نه شوې او زه په عملي سیاسي ژوند کښې زیات ورننوتم نو که په زړه ذهن او وینه کښې مې جذباتو احساساتو او شعور طوفانونه جوړول خو زه هغه شان لیکلو ته موقع او وخت نه شم پیدا کولی.
--س
ترق پسند ادب لکه د اردو پښتو ته هغسې وده ورنه کړی شوه څومره چې توقع وه. ستاسو څه رائې ده؟

--ج
د ترقی پسند ادب په نوم چې کوم تحریک متحده هندوستان کښې شروع شوی و هغه د هغه وخت یو ډیر بنیادي او حقیقي ضرورت وو د هندوستان د تقسیم نه پس مغربي پاکستان کښې هغه تحریک هغه شان پاتې نه شو بلکې دلته سیاست به نشت حساب وو صرف پښتنو کښې سیاست وو-- په دې ملک کښې ژوند او سیاست څه عجیبه غوندې روان شو هرڅه د ملک د تا ریخي جغرافیائي ثقافتي او روایتي تقاضو مطابق روان نه وو بلکې بلخوا روان شو چونکې دغه تحریک زیات اثرات د سیاست نه اخستي وو ځکه ترقي پسند تحریک هم ددغه مرض ښکار شو او د ترقي پسند تحریک په نوم لکه چې د دې تحریک بنیادونه ایښی شوی وو چې د ټولو قومونو، ژبو او ثقافتونو د خدمت لپاره ئې ملاتړلې وه د هغې په ځاې ادب هم د حکمرانانو د مصلحتونو نه قربان شو چونکې پښتنو کښې سیاسی شعور وو لکه یو خت پښتو ته دغه تحریک خپل اثرات ننویستي وو ترقی پسند تحریک د ټولو ژبو او ثقافتونو سره سره د پښتو ژبې او ثقافت ته هم ددې د سوچه والي او اهمیت په وجه ډیره توجه ورکوله او بیا داسیمه خو د دغه تحریک لپاره دومره زرخیزه وه چې دفیض احمد فیض غوندې ترقی پسند لیکوال به هم وئیل چې زه پیښور ته راشم نو زما د شعر چینه تانده شی خو ولې وروستو بیا دغه شان حالت پاتې نه شو او ترقي پسند ادب هم د مخصوصو مصلحتونو د پاره دقربانۍ د ګډوري شان حلالیدل شروع شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مرکې نیټه-------19-1-99**

---

**رقاصي په مشتِ خاک لکه ګردباد کړې**
**که په مزکه یې مسرور صاحب سریره**

**وضاحت.......**
**رقاصي --- یعنې رقص او اتڼ کښې د ډیرې مستۍ نه چورلک وهلی شي.**
**مشت خاک -- مطلب موټې خاورې یعنې معمولی او حقیر څیز .**
**ګردباد-- ته مونږ د پیر یانو ډولی وایو چې موټی خاورې د باد په وجه په زمکه په خپل ځای چورلک خوري .**
**دشیدا دې شعر کښې په سرور او سریر هم غور پکار دی. سرور خوند لذت او مستي ده چې د رقص او اتڼ په وخت محسوس کولی شي.او سریر تخت بادشاهت او اختیار ته وایي چې پخپله د خوند لذت او مستی احساس ورکوي. په زمکه ګرد هم چې چورلي ګویا رقص کوي-- مستي کوي. زمکه پخپله هم چورلي ګویا رقص کوي -- مستي کوي-- د زمکې دغه چورلک سره زمانه حرکت کوي شپې او ورځې اوړي راوړي چې صاحب سریر خلق یعنې د اختیار او تخت خاوندان ورسره شپه ورځ مست وي.دغه شان په میخانه کښې د میخوارو مستي او سرور هم د جام ګردش او پخپله د میخوارو رقص سره تړلې وي.**
**--درې ګردشونه څومره په مهارت یاد شوي دي**
**د زمکې چورلک او د اسمان ګردش یعنې زمانه تیریدل**
**د ګرد ګردش یعنې ګردباد یا د پیریانو ډولی**
**میخانه کښې د جام ګردش**
**او دغه درې واړه ګردشونه د رقص یا اتڼ سره نسبت کښې یاد شوي دي او خپل مفهوم یې ښودلی --دی**
**شیدا دغه پس منظر کښې د تخت او اختیار خاوندانو ته وایي چې دا د تخت او بادشاهت په نشه کښې ته د مستۍ په کوم رقص او چکر کښې یې دا ډیر معمولي حقیر او عارضي سرور دی. دومره معمولي لکه موټې خاورې .څکه چې ګردباد خو هم په دې زمکه چورلي رقص کوي مستي کوي سرور اخلي -- خو ورته پته نه وي چې دغه سرور د څو لمحو دی.دغسې په هم دې چکر وهونکې زمکه د سریر یعنې تخت د خاوندانو د بادشاهۍ سرور هم د څو لمحو دی.څکه چې د زمکې چکر یعنې زمانه به یې دغه سرور ډیر زر انجام ته ورسوي -- نو اسان مطلب دا شو چې د تخت خاوندان په خپل اختیار مست دي او که نه لکه د ګرد باد دغه عارضي مستي یې د څو لمحو او لکه د موټې --خاورې معمولي څیز دی. څرګنده ده چې دغه رقص او مستي د څو لمحو ده**
**خبره اسانه ده خو د شیدا د بیان انداز بیا هم د غور وړ دی.**

---

**نورالامین یوسفزے صیب راته د پخوا راسې ډیر ګران دے-- د هغوئ د درونږ او مینه ناک شخصیت په وجه هم او د هغوئ د علم او حلم په وجه هم- د ټولو نه څرګنده حواله خو یې د افسانه نګارۍ ده چې زه یې د تیرو دیرشو کالو نه لوستونکی او ستاینونکی یم-- خو دې سرې کښې نورې ډیرې زړه راښکونکې ځانګړتیاوې دي -- تحقیق تنقید تبصره او تجزیه هم په داسې انداز کوي چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غیر معمولي ډول د خلقو توجو ځان ته راکاږي--په لیک کښې هم او په وینا کښې هم---تیره یوه میاشت کښې یې دوه داسې کتابونه په چاپ صورت کښې مخې ته راغلل چې دواړه ځانګړي دي--- پښتون دانش دویمه برخه او اقبال او افغان--- ما یې د پښتون دانش وړومبی برخه هم کتلې وه -- په دواړو برخو کښې یې د پښتنې کلتور او فوک لور په اړه ډیرې نوې خبرې کړې دي - د خپلې پراخه مطالعې نه علاوه ډیره اوریجنل مشاهده یې هم ورانديې کړې ده-- اوس مې د هغوئ نوے کتاب اقبال او افغان وکتو--- په همدغه عنوان مې د پروفیسر فتح محمد ملک اردو کتاب هم یو وخت کښې کتلی وو--- نورالامین صیب د د دغه کتاب په موجودګی کښې هم نوې خبرې په ډیر زړه راښکونکي ډول کړې دي---هر څو که دا سړے راته دومره ګران دے چې د زړه نه ورته احترام لرم خو د فن او فکر په حقله یې بغیر د کومې مبالغې وایم چې نورالامین صیب زمونږ د عصر یو بې بدله لیکونکی او عالم فاضل شخصیت دے--الله پاک د کمال حافظه او فصیحه ژبه ورکړې ده-- چې یو وار په سټیج اودریږي نو په ګهنټو ګهنټو به د پوره حوالو سره خبرې کوي او څوک به سټرتیا ته هم نه ورکوي--- زه خو یې د خپلې درنې پښتو د پاره نعمت او غنیمت ګنم--- او تل به ورته زړه کښې احترام او درناوے لرم-- د الله کریم نه ورته روغ صورت او سوکاله ژوند غواړم-- پښتون دانش دواړه برخې او اقبال او افغان یې ضرور ولولئ چې دا یې تازه علمي هڅې دي---

---

**نوټ----**

نن نه دیرش کاله مخکښې مې قلندر مومند سره د هغوئ د ژوند او ادبي خدماتو په اړه یوه مرکه کړې وه چې په هم هغه ورځو کښې په جرس مجله کښې چاپ شوې وه -- بیا زما د مرکو کتاب --مخ په مخ-- کښې چاپ شوه-- ښاغلي شپون مومند په خپل فیسبک وال دغه مرکه په قسطونو کښې خوره کړې ده چې دوه قسطونه یې ما وموندل او دلته یې خپلو ملګرو سره په نیمګړي شکل شریکوم---

د قلندر مومند سره مرکه

مرکه کونکے ډاکټر حنیف خلیل

د مرکې نیټه ۲۱فروری کال ۱۹۹۴

حنیف خلیل؟

د محمدی صاحبزاده د شاعرئ نه علاوه د هغوی په ادبی خدماتو هم خلق خاموش دے د دی څه وجه کیدے شی ؟

قلندر --

ځکه چې د بدقسمتی سره ما دهغه دیوان چاپ کړے دے -

دوئ دا وائی چې که مثلاً په هغهٔ څوک لیک کوی نویوه کربښه کښې خو به دا هم راځی چې دا کتاب قلندرمومند دریافت کړے دے

حنیف خلیل ؟

د باړه ګلی املا زمونږه اِملائی مسئلی حل کوی که نه ؟

قلندر ـ بلکل نه -- مسئلی زیاتوی ـ دا اِملا چې چا جوړه کړی ده بغیر د تقویم صیب نه ټول جاهلان دی جاهلان خو ځکه دی چې پهٌ واو ٌ معدوله باندی نه پوهیږی

حنیف خلیل ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو اکيډميۍ نه تاسو څومره مطمئن يئ ؟
قلندر ـ
پښتو اکيډميۍ نه زما هيڅکله هم دا اُميد نۀ وو ، چې دا سردار رشيد مرحوم جوړه کړې وه هغه چې وفات شو نو ما ليکلی وو چې د هغه يوه کارنامه دا هم چې پښتو اکيډمي ئې جوړه کړې ده مونږه ته دا سياسی تحريک ښکاريدو ځکه چې په هغه وخت کښې په افغانستان کښې دا کار شروع وو چې د پښتو کتابونه ئې چاپ کول نو دوئ هم خپل افضل کولو د پاره دا اِداره جوړه کړه دوئ له خداے پاک مولاناعبدالقادر ورکړے وو چې په حکومتی اِدارو کښې معروف وګڼی نو ادبی لحاظ سره د هغه څه خاص **contribution** نۀ وو ـ يوځل ماته صاحبزاده ادريس وئيلی وؤ يو ځل د سينډيکيټ يو ممبر اؤوئيل چې دا د پښتو اکيډمی به کار کوی خلقو وئيل چې بلکل ـ بيا ئ وئيل چې که مولاناعبدالقادر پکښې وی نو هغه خو د کار سړے نۀ دے ګپ شپ د پاره ډير ښه دے
حنيف ؟
د پښتو غزل په عروج کښې د تصّوف عموماً او د وحدت الوجود خصوصاً څومره لاس دے
قلندر ---
صرف پښتو غزل کښې نه بلکې هر غزل کښې داسې وی ځکه چې د غزل يو خصوصيت د دې ايما ده تصّوف په هره ښه شاعرۍ کښې ضروری څيز دے او دا د غزل نه علاوه په نظمونو کښې هم کيدے شی لکه محمسات وغيره
حنيف ؟
قلندرصيب حمزه بابا دوه ورځې مخکښې مونږه نه جدا شو ستاسو په خيال هغوئ په خپل تقريباً أووه اتيا کاله عمر کښې پښتو غزل ته څه ورکړل ؟
قلندر ـ
حمزه صيب پښتو غزل ته وسعت ورکړو ، د هغه هومره غزلونه چا نۀ دی ليکلی زما په خيال په مشرانو کښې د ټولو نه زيات غزلونه محمدی صاحبزاده ليکلی دی. د حمزه صيب سره يو ډير لوی ناچاپ مجموعه کلام وو ، دا أوس ئ چې څومره غزلی چاپ کړی دی د دی په څلور هومره ورسره نوری هم وی هغوی خپلی دغه غزلې کامل صيب مرحوم له انتخاب د پاره ورکړی وې-
چونکی هغوئ سره وخت نه وو نو ځکه ماته راکړی د هغوئ دا غزونې زما انتخاب دے بلکې داسې مې هم کړی دی چې په يو غزل کښې نهه شعرونه نو دوه مې ترينه ويستې دی او أووه پاتې شوی دی حمزه صيب له دا په کار وو چې په خپل ژوند ئ دا وضاحت کړے وے
حنيف ؟
آخون درويزه چې په مخزن کښې د بايزيد متعلق څه وائی دغه ټول رښتيا کيدے شی ؟
قلندر ـ
ټولی خبری بغير د پيغمبر نه د هيچا رښتيا نه شی کيدے ، بد قسمتۍ سره تا به زما کتاب د خيرِالبيان تنقيدی مطالعه ـ نۀ وی لوستے ، ما په هغی کښې وئيلی دی چې دی کښې ځنې خبری داسې دی چې د اخون درويزه د شان سره نه ښائی

دويمه برخه

حنيف خليل--

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اولسي ادبی جرگې متعلق اکثره دا خبره کيږی چې پښتنو اديبانو کښې تنقيدی شعور بيدار کړو، ايا د دې جرگې نه وړاندی پښتنو کښې تنقيدی شعور نه وو؟

قلندر--

زما خيال دا دے چې په داسې صورت کښې نه وو ـ زمونږه څه خاص رساله هم نه وه نو تنقيد به مو په څه کښې کولو ځنې خلق خفه شوی هم وو لکه زه چې اوس په مرکه کښې وايم چې څوک زمونږ د تنقيدی انداز نه خبر نه وی هغوئ دی فی الحال څه نه راوړی--

کاکاجی اوگوره ؟ يو ځل ما په رحمان بابا تنقيد اوکړو نو کاکا جی دا خبره په زړه کښې ساتلی وه چې په يوه بله موقع وائی چې دے خو زما په رحمان تنقيد کوی. ما ورته وئيل کاکاجی. دا رحمان بابا ستا څنگه شو ، کلے خو ورسره زما نزدې دے زما پټی او د هغه خپلو کښې يو ځائ دی نو رحمان بابا زما شو که ستا شو ،

حنيف ؟

تاسو د ساهو ليکونکومرکې ته دومره وخت ورکړے دے ستاسو په دې مرکه باندې د اولسې ادبی جرگې تنده ماتيږی که نه؟

قلندر

زما خيال دے چې مرکه په ډيرو لحاظونو د اولسی ادبی جرگې نه ډيره وړاندی ده. ړومبی خبره خو دا ده چې ما بل چا ته لانۀ دی وئيلی چې په اولسی ادبی جرگه يو ډير منظم کوشش دا کيدو چې د دی جرگې آئين دې جوړ نۀ کړے شي

چې ما به وئيل د دی جرگې دې يو داسې آئين وی چې د هغې ماتحت انتخابات وشی نو کاکاجی کامل صيب حمزه صيب دری واړو مرحومينو به وئيل نه. بلکې کله کله به ما نه خفه هم شو چې تۀ ولې هر وخت د ائين خبره کوې

د مرکې برتری خو دا ده چې آئين لری ـ دويمه خبره دا ده چې هغه وخت کښې زه د شلو کالو وم اوس زه د شپيتو کالو يم نو دی څلويښتو کالو کښې ما هيڅ ترقی نه ده کړې ،هغه وخت کښې چې ما کوم تنقيد کولو هغې نه اوس ښه تنقيد کوم دويم دا چې اوس ما سره کوم ملگری دی چې په اولسی ادبی جرگه کښې نۀ وو او دوئ سره د خپل علمه راغلی وی ، سره د خپلې تنقيدی سرمائی راغلی دی نو خامخه به ښه تنقيد کيږی

حنيف ؟

تاسو د آئين خبره وکړه نو دا آئين د حکومت د ويرې خو به پاتې نه وو ؟

قلندر -

د حکومت نه يو هم نه ويريدو خو د دی نه ويريدل چې خپلو کښې به وران شی ځکه چې د جرگې په ممبرانو کښې د جماعتِ اسلامی کيمونسټ پارټی او د خدائی خدمت گار ټولو خلق شامل وُو ـ د ممبرانو دا خيال وو چې دے قلندرمومند کوم آئين جوړوی نو خامخه به ځنو کسانو ته قابلِ قبول نه وی

خنيف ؟

د تول پارسنگ نه تاسو څومره مطمئن يئ؟

قلندر -

زه تری بلکل مطمئن نه يم ځکه چې دا کتاب هغه پخپله ليکلے نۀ دے ـ

حنيف ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو جدا بحث دے چې کتاب چا لیکلے دے خو اوس چې کتاب په کوم شکل کښې دے هغه څنګه دے ؟

قلندر۔

ګوره کتاب یې محض د دې د پاره لیکلے دے چې زما کردارکشي اوشي د دې د پاره یې نه دے لیکلے چې زما د تنقیدونو جواب دې وکړی ۔

ګوره زه یې درته یو ثبوت ښایم ۔ کوم ټکی چې د ځانه جوړ شوی دی په هغی کښې ږومبنے ټکے هیواد دے ، هیواد باندی دهٔ بحث کړے دے خو یو څو شعرونه یې پیش کړی دی او ما چې په نثر کښې دومره اوږد بحث کړے دے هغه یې په ځائ پریښے دے که یوه صفحه وے نو سړے غلطیدے شی ، په هغی خو ما ډیر اوږد بحث کړے دے

حنیف ؟

لکه تاسو وائی چې د کوم څیز جواب نه شو کیدے هغه بې پریښے دے

قلندر ۔ بلکل

حنیف ؟

هغوی چې کوم څلور بابونه پرېښې دی هغه خو جدا خبره ده ؟

قلندر ۔

هغه پریږده په دی موجوده کتاب کښې یې دا کار کړے دے

حنیف ؟

تاسو په کوم بنیاد دا وئیلے شئ چې دا کتاب یواځې همیش صیب نه دے لیکلے ؟

قلندر ۔

هغه ځکه چې یوه صفحه وګورې نو ډیره ترخه ژبه وی او ماته به ئ کنځل لیکلی وی او بله صفحه چې وګورې نو شریفانه لهجه وی یو هغه سړے دے چې ماسره نفرت لری او دویم هغه سړے دے چې صرف خپل **veiw point** څرګندوی خو ماته خرابه لهجه کښې څه نه لیکی بله خبره داده چې په دې کتاب کښې د عربی کار شوے دے اوس همیش صیب په عربی څه پوهیږی دې کښې فارسي شته نو همیش صیب په فارسی څه پوهیږی ۔ خاص طور عربی او فارسی کړی دی کیدے شی چې زه غلط یم

حنیف ؟

ځنئی ادیبان دا دعوه لری چې کامل صیب مرحوم هغه ته په یوه مرکه کښې وئیلی وو چې پټه خزانه جعلی کتاب نه شی کیدے ستاسو څه خیال دے ؟

قلندر ۔

ما خو په دې موضوع ډیر غټ مضمون لیکلے دے ۔ مرکه کښې مې تنقید ته هم پیش کړے وُو.ته جوړی په هغه ورځ نهٔ وی راغلے ته داسې کار وکړه چې د مانه هغه روداد یا مقاله واخله هغه مقاله کامل مرحوم او پټه خزانهً چاپ شوی هم ده ۔ کامل صیب خو ابتدا کړی وه چې د رحمان بابا د وفات تاریخ ۱۱۱۸ هجری ځکه غلط دے چې هغه د شاه عالم ذکر کوی نو معلومیږی چې هغه مړ دے او هغه په ۱۱۱۹ کښې ژوند کولو ۔ د هغی نه پس د ګل خان او جمال د واقعی ذکر په تاریخ مرصع کښې ۱۱۲۳ هجری راغلے دے نو د پټې خزانې د غلطو نه به دوئ څنګه انکار کوی ځکه چې ټول دلائل د هغوی برخلاف ځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رحمان بابا د وفات تاریخ باندی زما اعتراض دادے چې په ۱۱۱۹ کښې میرویس نیکه واقعه په پټه خزانه کښې بیان شوی ده چې هغوی وائی چې رحمان بابا قدس سره رحمان بابا د پاره د دی لفظ مطلب دادے چې د هغه ګور دی مقدس شی مطلب دا شو چې د هغه ګور موجود وو یعنی هغه وفات شوے وو

حنیف ؟

ستاسو متعلق دا خبره کیږی چې تاسو افغانانو لیکونکو سره کینه لرئ دا خبره په کوم بنیاد کیږی ؟

قلندر ـ

دا خبره صرف [بریالی ] کړی ده هغه وائی چونکی زه احمدی یم او د افغانستان حکومت احمدیان سنګسار کړی ؤو نو اوس زه ترې هغه بدل اخلم ـ زه خو پیدائشي احمدی یم او بله دا چې زما په افغانستان کښې ملګرو سره دوستئ وې او اوس هم شته د افغانستان نه راغلی یو لیکونکے [ د افغانستان خلق لیکونکی ته لیکوال وائی خو زه لیکوال لفظ غلط ګنم هم دا نه شی ثابتولے چې ما ورسره جنګ کړے وی یا مې د بنۀ اخلاقو مظاهره نۀ وی کړې خدائ دې نۀ کړی چې زه هغو سپک وکړم

نوره به انشاءالله بیا کخیر وې--شپون مومند

خو نوره برخه په کمپوز شکل په فیسبک په لاس رانغله--دغه ټوله مرکه به کمپوزوم--

انشاالله--حنیف خلیل--

---

راست بازان کوي ګریز له کج طبعانو

د کمان له شسته غشے په فرار دے

وضاحت---

د شیدا د یو اسان خو ډیر معنا خیز شعر نه به خوند واخلو--

راست بازان------- یعني ربنتوني خلق-- په نیغه لاره-صادقان-سوچه او ساهو خلق--

کج طبعان-------- کج کوږ ته وايي او طبعان یعني طبیعت لرونکي-دغسي کج طبعان هغه خلق وي چې طبیعت کښې یې کجي وي-- کج فطرته-- کاږه-- بد خویه چې هیڅ قسمه خبره پرې اثر نه کوي او په خپل کوږ فطرت روان وي--

اوس شیدا وايي چې راست بازان خلق- صفا سوچه او ایغ نیغ صادقان خلق- د کج فطرته خلقو نه ځان ساتي--ګریز ترې کوي-- په ډډه ترې اوسي بلکې لرې ترې تښتي- فرار ترې کوي- دغه مفهوم بیانولو د پاره د شیدا مشاهدې- استعارو او فني تکنیک ته غور وکړئ-- کمان لیندې ته وايي چې غشے پرې لرې ویشتلے شي--او شست د کمان هغه حلقي یا پټارې ته وییلے شي چې د غشي ویشتلو په وخت پکښې د غشي یو سر ایښودلے شي او غشے بلکل نیغ وي یعني راست باز وي-- دغسي په کمان غور وکړئ چې راتاو شان کوږ وي-- یعني کج فطرته او کوږ طبیعته وي--- او د غشي ویشتو په وخت خو کمان نور هم راکوږ شي تر دې چې دواړه سرونه یې یو بل ته نزدې شي-- اوس چې کمان کښې څومره کجي یعني کوږوالے راځي نو غشے ترې هغه هومره په تیزئ زغلي او فرار کوي-- یعني غشے ګریز کوي--ځان ترې په ډډه ساتي-- کمان سره نه پاتي کیږي-- دا ولې-- دا ځکه چې غشے نیغ دے نو راست باز دے او کمان چې کوږ دے نو کج فطرته دے-- نو بس راست بازان خو بیا کج فطرتو نه ګریز کوي لرې ترې تښتي-- انساني ټولنه کښې هم داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کيږي-- راست باز- ايغ نيغ--صفا او صادق خلق تل د کج فطرته-- بد خويه -- او بد ذاته خلقو نه گريز کوي-- ځان ترې لرې او په ډېره ساتي--- بس د شيدا د انساني ټولنې مشاهده او په انساني نفسياتو ژور نظر چې د هغه د شعري تکنيک برخه شي نو بيا يې د غزل او تغزل کمال دغسې وي--**

---

**د يو ملحد فلسفي فکري استدلال---**

**په ډېرو نوموړو فلسفيانو کښې برټرينډ رسل 1872--1970 تقريباً يوه صدي عمر لرلو چې پکښې د نيمې صدۍ نه زيات عمر يې د فلسفې-طبيعاتو-نفسياتو-رياضۍ منطق-مذهب او ساينس په مطالعه او پلټنه کښې تير کړی وو---هغه په ډېر شدت سره او څرګند ډول د مذهب مخالف وو-په خپل کتاب why I am not a christian کښې يې په څرګند ډول ليکلي دي چې د نړۍ ټول لوې مذهبونه بده مت-هندومت-عيساييت-اسلام او اشتراکيت-غلط او مضر دي-خو دغه د مذهب شديد مخالف د نيمې صدۍ نه د زياتې مودې څيړنې او مطالعې باوجود چې د حقايقو د پيژندلو د پاره د استدلال کوم انداز اختياروي نو خپل ډېر اهم کتاب-**

**my philosophical development**

**کښې بيا دې نتيجې ته رسي چې---**

**؛؛د نتيجې اخذ کولو ډېر شکلونه داسې دي چې په تجربه به نه ثابتيږي خو حقيقت ته به دومره نزدې وي چې قبلول يې ضروري وي؛؛--**

**د رسل خپل الفاظ داسې دي--**

**I do think that there are forms of probable inference which must be accepted although they cannot be proved by experience.**

**د غور خبره دا ده چې د مذهب منلو د پاره هم استدلال همدغه دی کوم چې رسل يادوي نو بيا هغه د مذهب په منلو کښې خپل دغه استدلال ولې نه خپلولو--د عيساييت نه د هغه بغاوت خو عقل منې چې د انساني لاس وهنې په وجه دغه تعليمات په خپل اصلي شکل پاتې نه وو خو اسلام يې ولې غلط او مضر ياد کړی دی---اسلام خو د رسل د استدلالي معيار نه هم يو قدم وړاندې عقلي خبره کوي چې د هر قسمه سوال پورته کولو دعوت هم ورکوي--- قران حکيم وايي --فاسءلو اهل ذکر---يعنې اهل ذکر يا اهل علم نه سوال کوئ او د دليل راوړلو بلنه هم ورکوي---هاتو برهانکم--- نو يو دين چې د سوال پورته کولو تاکيد هم کوي او د دليل راوړلو غوښتنه هم کوي نو دې نه زيات عقلي او منطقي دين به کوم يو وي-- علامه اقبال د نطشې په حواله هم ويېلي وو چې هغه فرنګي مجذوب که د اقبال په دور کښې موجود وی نو اقبال به ورته ويېلي وو چې مقام کبريايي څه شی دی- يعنې د دين اسلام روح به يې ورته تشريح کړی وو--**

**ځکه زما خپل خيال دادی چې رسل نه خو پخپله د اسلام دغه اصلي روح ته د رسيدلو هڅه کړې ده او نه ورته د اسلام عالمانو دغه اسلامي روح په درسته پيمانه تشريح کړی دی-ګنې شايد چې رسل بيا د مذهب په مخالفت کښې دومره شدت نه وی اختيار کړی--زه دا ځکه وايم چې رسل ماته څنګه خپل الحاد سره مخلص ښکاري شايد داسې به د مذهب او دين په تفهيم کښې هم مخلص وو---او که داسې نه وی نو بيا خو به رسل هم د ضدي اناپرست او نام نهاد فلسفيانو په قطار کښې وو او زه د رسل غونډې کثيرالمطالعه دانشور او فلسفي باندې د دغه قسمه بدګمانۍ جرات نه شم کولی---او يا بيا داسې ويېلی شم چې هر څومره لوې ملحد وي خو د هغه په ذات او داخلي وجود کښې د رشتوني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهب یو منونکی هم موجود وي چي کله کله د هغه په لفظونو او اظهار کښي ځان ښکاره کوي---
لکه چي د -- الستو بربکم--- غږ یي روح کښي ازانګي کوي--

---

هسي مي په زړه کښي کله کله یوه ارزو راپورته شي چي کاش دا کاظم خان شیدا خو زمونږ په عصر کښي ژوندے وے او ما ورته د هغه د شعرونو دغه خپلي شرحي او تشریحات اورولے وے--- هغه نه مي پکښي اصلاح هم اخستے وے او د هغه رای مي هم پوښتلے وے چي هغه به څه وییل--- بس روح یي ښاد اوسه-- که جنت کښي مو یو ځاے کیدل نصیب کښي وو--ضرور به تري پوښتنه کوم او تازه غزلي به تري هم اورم---

---

هسي زیب کا په بیاض د رحمان شعر
لکه زلفي د خوبانو په رخسار
هسي خو خلقو رحمان بابا نه هغه صوفي شاعر جوړ کړی دی چي بیخي یو مجذوب او دنیا نه غافل سړی یي ښایي او د حسن و جمال تصور ته یي غور نه کوي --د رحمان بابا یو نیم اسان شعر هم عجیبه خوند لري چي یو زړه راښکونکی تصویر او تخیل پکښي ښکاري یا د شعري محاکات ښکلي نمونه ورته وییلی شو-- لکه دغه شعر ته یي فکر وکړئ- هسي زیب کا-- نه مراد دی --داسي ښایسته ښکاري---اصل نکته پکښي داده چي په عربی کښي چي تور رنګ ته اسود وایي نو دغسي سپین رنګ ته --ابیض-وایی او د دغه ابیض په مناسبت سپین کاغذ ته -بیاض-وایی---نو د محبوب سپین مخ د سپین کاغذ سره تشبیه کوي ---او د دغه ابیض په مناسبت په سپین کاغذ لیکلي مصرعي چي په توره سیاهی لیکلی شي نو د محبوب توري زلفي ورسره مشابه کوي-- د شعر مصرعي په توره سیاهی لیکلو نه علاوه لکه د تورو زلفو اوږدي غزیدلي هم وي او لکه د شعر د فکري باریکی نرۍ او باریکي هم وي-اوس په سپین کاغذ د رحمان بابا د شعر په توره سیاهی لیکلو مصرعو ته--او د محبوب په سپین مخ تورو غوړیدلو زلفو ته غور وکړئ او تصویر په تصور کښي راولئ نو رحمان بابا ته به ضرور تحسین وړاندي کوئ---مست او د جمال نماینده رحمان ته درناوی-- روح یي شاد--

---

څو رشته وینم په دوک د چرخ له جوره
چي په شان د ګهر در د ګنبد باز کړم

وضاحت-----
دا شعر په ریښتیا هم ګران دی بار بار غور غواړي --خو چي د شعر غوټي پرانستی شي نو د شیدا تکنیک ته سړی ګوته په خله پاتي شي- وړومبی د ټکو په معنو غور وکړئ-
رشته --- یعنی تار-
دوک--- هغه لرګی چي تار تري تاوولی شي-
چرخ ---څرخي ته هم وایی چي تار پرې جوړولی شي او اسمان ته هم وایی-څرخه هم تاویږی او چکر وهي او د اسمان ګردش یعني د زماني د چکر په وجه اسمان ته هم چرخ وایی-
ګهر--- یعنی ګوهر یا ملغلره-
ګنبد--- یعني د اسمان بره سر-

(c) ketabton.com: The Digital Library



باز -- یعنې واز مطلب بیرته کول یا پرانستل.
در ---- یعنې ور یا دروازه.
جور --- یعنې جور و ستم ظلم زیاتی.
اوس راځو د شعر مفهوم ته.څرخه چې تاویږی نو دغه چکر سره تار جوړیږي او د یو لرګي نه تاویږي ګویا په دغه لرګي ظلم او جور و ستم کیږی چې لرګی په دغه تار تیزندی کولی شي.اسمان هم چې ګردش کښې وي یعنې زمانه هم خپل چکر کښې وي نو ګویا اسمان هم خپل ګردش او چکر سره په مظلومانو ظلم او جورو ستم کوي. ګویا اسمان د مقدر په شکل ملګرتیا نه کوي--خو کله چې مظلوم د بې انتها جور و ستم زغملو نه پس اسمان یعنې خالق ته د خپل درد او اه د پاره خله پرانیزي نو د اسمان ګنبد هم ورته واز شي-- ګویا د مظلوم فریاد د اسمان دروازه پرانستی شی--- د اسمان زړه کښې هم لاره اوشي او د مظلوم د زړه اه نیغ خالق ته ورسي. شیدا دغه مظلوم زړه د سیپی او کنجکي سره تشبیه کوي او دغه زړه کښې پروت اه د ملغلرې سره.څنګه چې کنجکه یا صدف اسمان ته خله وازه کړی نو اسمان پرې ورحمیږي او څاڅکی یی خله کې ور ګوذار کړی چې ملغلره ترې جوړه شي --- ګویا د صدف فریاد د اسمان ګنبد کښې لاره پیدا کړی.دغه پس منظر کښې شیدا وایی چې تر څو په لرګي د څرخې د چکر په وجه د تار د تیزندۍ جور او په ما د اسمان د ګردش یعنې زمانې د چکر جور وستم جاري وي نو اخر به خبره دې ته رسي چې بیا به لکه د صدف خله فریاد ته پرانیزم او بیا به ضرور د اسمان ګنبد هم په خپل فریاد وازوم.
دې ته هم غور وکړئ چې د تار او ملغلرې هم خپلو کښې دا نسبت دی چې د ملغلرو امیل هم د تار نه جوړولی شي .په دغو نسبتونو یی نور هم بحث کیدی شي خو دغه لړه فنی تنده یی لوستونکو ته پرېږدم او د شیدا په پوهه او فن افرین وایم.

---

ستا محل خو می په خپلو اوړو جوړ کړو
که پخپله زه خلیل خانه بدوش یم

نن د مزدورانو نړیواله ورځ نمانځلے شي-- ماته په ټولو انسانانو کښې مزدوران او خواري کښ د ټولو نه عظیمه طبقه ښکاري--- که مزدور نه وے نو نړۍ کښې به نه دغه ښکلا وه او نه تهذیب او ترقي-- په دې ورځ زه د خپلې ماضي په دریچو کښې په زیات شدت سره ګورم ځکه چې زه هم یو مزدور وم او د مزدور پلار بچے یم--- خپلو اوقاتو نه چرې نه اوځم او خپل مزدورانه حیثیت چرې نه شم هیرولے--- نن که زه په اسلام اباد کښې د ملک د ټولو نه اوچتې قاید اعظم یونیورسټۍ کښې د پروفیسر او د یوې څانګې د سربراه په توګه خپله وظیفه تر سره کوم نو یو وخت کښې په شل روپۍ ورځ دیاړي مار مزدور هم وم--- دومره سختې ورځې مې لیدلې دي چې د غربت په وجه به مو په خشکه روټۍ او بغیر پیو چاې سره ناشته کوله--- پلار مې چې بټۍ کښې خښتې اچولې نو ما به ورسره ړلولې جوړولې-- چې کله یې د خاورو ختو کچه دیوالونه وهل نو ما به خټه ورکوله-- چې کله یې ټانګه چلوله نو ما به دمه ورکوله-- چې کله یې کلي کښې اټی شروع کړه نو زه هم اټیوال شوم-- چې په درې میاشتو چټیانو کښې خپله دیاړي مې شروع کړه نو سحر وختې به د مزدورانو قطار کښې د سپین جمات چوک کښې ناست وم چې چرته موټر والا به زمونږ خوا کښې ودریدو نو ورمنډه به مو کړه چې ګوره که ځان سره مو دیاړی له بوځي---څه وخت مې د چتونو شیټرنګ والا سره دیاړی وکړې--- یو وخت کښې ما او زما کلیوال شاعر ملګري مصطفی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالک په شریکه د بورډ دفتر مخې ته اخبارونه خرڅول شروع کړل خو کامیاب نه شو-- کالجیټ سکول او اسلامیه کالج کښې به راته فیس معاف وو او د ماښام به مې ماشومانو ته په سل روپۍ میاشت ټیوشن کولو--- په ټول ژوند کښې مو نه څوک د سفارش وو او نه مو د رشوتونو وس وو--- زما په کورنۍ کښې د تعلیمي لاربښودنې هم څوک نه وو--- زه د خپلې کورنۍ وړومبے تعلیم یافته فرد وم او بیا زما کشر ورور یوسف چې نن انجنییر ډاکټر یوسف خلیل دے او د یو سائنسدان په حیث یې سائنسي تحقیق په یورپ امریکه چاینه او نوره مغربي نړۍ کښې خور دے--- نو زه به خپله ماضي څنګه هیره کړم--- که د کوم نفسیاتي مرض ښکار وے او د افسرانو اداکاري مې کولے نو دغه مصنوعي ژوند کښې به څومره په عذاب وم--- خپل ځان او ضمیر نه به مې خپل حیثیت څنګه پټولو--- نو ښه نه ده چې فطري ژوند تیر کړم او په خپل محنت او مزدورۍ فخر وکړم--- خپل ځان ته زه دغه ایینه په یو بل شکل هم ږدم--- اوس هم کله کله هم هغه سپین جمات چوک ته لاړ شم--یو شیبه مزدورانو سره په زمکه پرلت ووهم--هسې ګپ شپ ورسره شروع کړم او په دغه بهانه د خپلې ماضي ایینه کښې ګورم--- د کوم مزدور په څهره کښې راته د خپل پلار تصویر ښکاري او کوم کښې خپل عکس وینم--- بس ما ته په دې کښې سکون دے چې زما مزدورانه احساس دې تل ما سره وي--- ځکه چې زه نن هم مزدور یم خو په جدا انداز او اسوده حال کښې----

---

**کنځل**

مونږ کنځلو ته یواځې د غیر سنجیده زاویې نه ګورو--- زما خیال دے چې دې اړخ ته سنجیده توجو هم کیدے شي--- دریو غټو زایو نه د کنځلو تحقیقي جاج اخستلے کیدے
شي--نفسیاتي--کلتوري--او ادبي---دغو دریو زایو نه علاوه هم تاریخي تناظر--تعلیمي پس منظر او معاشي صورت حال-- درې نورې زاویې دي چې د کنځلو سره څه نا څه تړون لري--- که داسې یوه څیړنه یا زیاتې څیړنې اوشي چې په مغربي نړۍ کښې د کنځلو شرح څومره ده او مشرقي نړۍ سره یې موازنه وشي---او وجوهات یې وښودلے شي-- بیا په مشرقي نړۍ کښې هم مختلفو تهذیبونو کښې د کنځلو جرړې تاریخي پس منظر او محرکات ولټولے شي او خپلو کښې یې موازنه هم وشي-- او بیا پښتو کښې د کنځلو په دغو ټولو زاویو څیړنه اوشي چې ما ورته اشارې وکړې نو زما خیال دے چې په ځانګړې ډول به هغه--نفسیاتي-- کلتوري -- او ادبي اړخونه جوتول ډیرې ګټورې نتیجې رامخې ته کړي--
کمزوري ولې کنځل زیات کوي--- د ماشومانو--ځوانانو--او بوډاګانو کنځلو کښې څه فرق وي او ولې وي--- د ښځینه له خوا کنځل څنګه وي او د ښځینه نه نارینه ولې کنځل زیات کوي-- دغه ټولې زاویې نفسیاتي دي----
نارینه چې کنځل کوي نو ښځه ولې ټارګټ کوي--- طلاقه شوې ښځه وي او --طلاق-- سرې د پاره کنځل شي--- په ښهري او کلیوالو سیمو کښې د کنځلو نوعیت کښې فرق هم وي او تناسب یې هم کلیوالو او قبایيلي سیمو کښې زیات وي چې دا ولې-- د نورو ټولنو په مقابله کښې پښتنو کښې د کنځلو تناسب زیات ښکاري چې دا ولې--- او داسې نورې نکتې هم شته-- دغه یې کلتوري اړخ دے چې د انتهراپالوجي موضوع هم ده او فوک لور سره هم اړه لري---

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کنځلو ژبه او الفاظ څه وي--- په کنځلو کښې منظوم هم شته او منثور هم-- تر دې چې ماشومان هم ځنې کنځل په شاعرۍ کښې کوي-- د کنځلو په لفظونو کښې پوره معنوي نظام هم موجود وي او ذومعني مفاهیم هم-- او داسې نورې نکتې هم شته--- دغه يې ژبنيز او ادبي اړخ دے---
او مونږ ته دا هم پته ده چې کومه ټولنه په معاشي توګه وړاندې وي یا يې تعليمي شرحه بره وي نو هلته هم د کنځلو شرحه کمه وي-- ګویا معاشیات او تعلیم هم د کنځلو د موضوع سره د بحث موضوع جوړیدے شي--- ځکه زه وایم چې په کنځلو تکلونه خو ډیر لیکلے کیدے شي خو سنجیده څیړنه پرې هم پکار ده چې زمونږ پښتنه ټولنه کښې ورته شاید په ښه نظر ونه کتلے شي -- خو په خصوصي حواله د نفسیات---سماجیات--عمرانیات--- کلتور او فوک لور--تاریخ او ادب سره تړلي ډیر موضوعات د کنځلو--په اړه څیړني رامخې ته کولے شي---

---

زه د خپل فلاخن سنګ په ډیر هراس کړم
چې پیاله مې لکه چرخ مینایي شوه
فلاخن---- مچوغڼه--چې کاڼے پکښې لرې ویشتلے شي
سنګ---کاڼے
هراس--- خوف- ویره
چرخ-- اسمان-- د استعارې په توګه مقدر
مینایي پیاله--- د شرابو پیاله--
نوټ---
پرون ملګرو د شیدا دا شعر تشریح د پاره وړاندې کړے وو-- ګران ډاکټر جهان عالم يې تشریح کړې هم ده--- زه ورته نن سم شوم--
وضاحت----
شیدا وایي چې اسمان یعني مقدر ته هډو زما فریاد رسي نه--- دا ځل مې خپل فریاد نه کاڼے جوړ کړو چې مچوغڼه کښې يې واچوم او مچوغڼې له ښه تيز تاو او چکر ورکړم چې فریاد مې تر اسمانه ورسي--دغه عمل نه مخکښې مې مینایي پیاله هم راواخسته یعني د روحانیت شراب مې هم هم وڅښل--- خو مینایي پیاله هم راته لکه د چرخ جوړه شوه یعني پیاله مې هم لکه د اسمان شوه او په ما يې زما د یو کاڼي په بدل کښې په زرګونو کاڼو راورولو ته نیت وکړو --ګویا مقدر راته بیا نیت خراب کړو --نو بس زه په مچوغڼه کښې خپل دغه د فریاد کاڼي ایښودلو په هراس کړم یعني د ویرې سره يې مخ کړم----
اوس غور وکړئ---مچوغڼه کښې چې کاڼے ویشتلے شي نو په لاس کښې مچوغڼې له تاو او چکر ورکولے شي-- ګویا مچوغڼه په ګردش کښې شي---بل خوا په میکده کښې مینایي پیاله هم ګردش کښې وي چې ساقي يې په خپل وار میخوارو ته رسوي---او بیا دا هم وګورئ چې اسمان هم په ګردش کښې وي یعني وخت روان وي او اسمان خپل ګردش سره ډیر خلق له ځان سره اوړي یعني هر چا ته خپل مقدر رسي---درې ګردشونه--- د مچوغڼې--- مینایي پیالې--او اسمان ګردش---
اوس یو بلې زاویې ته فکر وکړئ--- د مچوغڼې پټاره چې کاڼے پکښې ایښودلے شي--- د پیالې---او د اسمان --درې واړو شکل هم یو رنګ راګول او لږ شان ژور وي---یو بل اړخ ته يې غور وکړئ چې د مچوغڼې پټاره کښې خو یو کاڼے ایښودلے شي خو د اسمان پټاره کښې خو په زرګونو کاڼي دي د ستورو په شکل چې اسمان پرې خلق اولي--- یو بل رخ يې وګورئ چې اسمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د مقدر استعاره ده خو ستورو کښې د قسمت ستوري هم وي چې نسبت يې بيا مقدر سره دے-- نو بس شيدا هم چې ميناېي پياله څښې نو د پيالي دغه گردش ورته سم لکه د اسمان گردش جوړ شي--- او اسمان خو د مقدر په شکل د مينو ياري نه کوي--ځکه شيدا چې خپل فلاخن يعنې مچوغنه کښې کاڼے ايږدي نو ورسره په هراس شي چې زما د يو کاڼي په جواب کښې راباندې اسمان په زرگونو کاڼي وروي--- ځکه چې د اسمان پټاره خو هم خالي نه ده--دا چې په زرگونو ستوري يې د کاڼو په مثال دي--- بس شيدا يو وار بيا مقدر نه شکست وخوري--- او خپل فلاخن کښې د کاڼي ويشتل يې همدغه خوف و هراس سره مخ ساتي---

---

بار محيط د ريزه سنگ په سر وانه خست
له سخت رويه سره وايه انسان څه کا
بار ---وزن يا بوج۔
محيط--- يعنی احاطه کوونکی مطلب لوۍ سمندر۔
ريزه سنگ ---يعنې ذره کاڼے۔
وضاحت---
دا ټول توری فارسی دی۔ د شيدا شعر ته د دغو تورو معنوي تناظر کښې غور وکړئ ۔وايی چې د سمندر سينه ډيره لويه وی هر څه زغملے شی او کاڼے که يوه ذره هم وي خو سخت وی ځکه د سمندر تل کښې وي--- د سمندر سر ته نه شی راتلے-- يعنی سمندر د خپلي لويی سينې لرلو باوجود يو ذره د کاڼی بوج په خپل سر نه اخلی--- نو کوم انسان چې لکه د کاڼي سخت رويه وي --رو-- په فارسی کښې مخ ته وايي-مطلب د مخ نه يې سختي او نحوست څرگنديږي --يعنی په کامله توگه بد اخلاقه وي بد تميزه وي--بد تهذيبه وي--لچک او نرمي پکښې نه وي---خپله کوي او د بل نه اوري-- خپله ورته درنه ښکاري او د بل نه--- -سخت دريزه وي -- په خپل د جهل او سخت رويی بوج باندې ولاړ پاتې کيږي او د نورو د سمندر غوندې لوۍ زړه او پراخ نظر نهويني--- نو د هغه د بد اخلاقی بوج به اخر څوک په سر واخلي او څنگه به يې په سر واخلي-- داسې سخت رويه سره به وايه انسان څه کا۔
دې شعر کښې د شيدا کمال خو هم د کتو دے خو ورسره دا هم چې د شيدا په عصر کښې هم دغسې سخت رويه او سخت دريزه بد اخلاقه خلق وو---

---

کتاب---قانون او قاعده--

نن د کتاب نړيواله ورځ ده نو ملگرو سره د کتاب په اړه څو خبرې شريکول غواړم- د کتاب د پاره دوه توري په ټوله نړۍ کښې زيات مستعمل دي---په مغربي نړۍ کښې **book** او په مشرقي نړۍ کښې --کتاب---وړومبے د انگريزۍ تورے دے او دويم د عربی-- د انگريزۍ **book** د پاره گڼ شمير مخففات ښودلے شي چې د کتاب معنا او مفهوم ترې څرگند شي- لکه **b o o k** .....

**bio optical organized knowledge**
**bundle of outstanding knowledge**
**big ocean of knowledge**
**bolit on organized knowledge**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**bank of oppurtunistic knowledge**
**binary on off keying**

**د دغو شپږو مخففاتو خپلې معنې دي چې د کتاب مفهوم څرګندوي -- لکه د وړومبي مخفف ترمخه-- ساینسي او تکنیکي منظمه پوهه---- د دویم تر مخه---د عالي پوهې مجموعه--- د دریم ترمخه-- د پوهې لوې سمندر--- دڅلورم تر مخه---په منظمه پوهه کښې د ګولۍ په شان تیزي---د پنځم تر مخه-- د موقعي مناسبت سره د پوهې خانه یا بینک-- او د شپږم تر مخه--- د دوو متضاد نظریو د تړلو او پرانستلو چابي---**
**دغه ټول وضاحتونه خپل خپل مفهوم لري خو دا وروستو جوړ شوي تعبیرونه دي چې مختلفو دانشورو جوړ کړي دي او یوه ستونزه دا هم پیښوي چې د انګرزی book-- د جرمن ژبې نه انګریزۍ ته راغلے دے او هلته buch دے چې صرف د b په مناسبت bibliography یعنې کتابیات ته وییلے شي -- نو ځکه د انګریزۍ ټولې معنې وروستو او د ځانه جوړې شوې ښکاري-- البته د کتاب مشرقي مفهوم ته چې راشو نو خبره معنوي لحاظ سره زیاته مناسبه ښکاري--- کتاب د عربۍ تورے دے خو په نورو مشرقي ژبو کښې هم مستعمل دے--- په عربۍ کښې یې مفهوم د کتابت یعنې لیکلو سره تړلے بیانیږي--مطلب کتابت شوے او لیکلے دستاویز--- خو دا باید نظر کښې وساتو چې دا په عربۍ کښې وړومبۍ او لغوي معنا ده--- اصلي او اصطلاحي معنا یې ده--- قانون-- روش ضابطه--طریقه--- چې د قران ځنو ایتونو نه یې دغه اصلي مفهوم څرګندیږي --- چرته چې وییلے شي-- کتب علیکم الصیام--- یا --کتب علیکم الصلواه---- نو دغلته مفهوم د کتابت یا لیکلو نه وي--- بلکې دا وي چې تاسو د پاره صیام یا صلواه یعنې روژه یا مونځ  د یو قانون -- روش-- ضابطې--په حیث لازم کړے شو--- نو ځکه د ذالک الکتاب--- مفهوم کښې هم د لیک او کتابت نه علاوه دغه مفهوم پروت دے چې ---دې کتاب یعنې دې قانون قاعدې روش او اصول کښې هیڅ شک نشته--- خدای دې وکړي چې مونږ د کتاب تش لیکلي عبارت او تلاوت پورې محدود نه شو بلکې د یو قانون او ضابطې په توګه یې په خپل ژوند عملي اطلاق وکړو--- او دا به هله کیږي چې د کتاب په لیکلي عبارت پوهه هم شو---**
**ورسره زما د ذاتي کتابتون دغه عکس هم وکورئ---**
**ژوند کتاب کتاب--- په مینه او درناوي--**

---

**نن د علامه اقبال د وفات په ورځ به مینه والو ملګرو سره د اقبال هغه نظم خپلې پښتو ترجمې سره شریک کړم چې د خوشحال بابا په وصیت یې لیکلے وو----**

**د خوشحال خان وصیت**

**قبیلې دې واړه یو موټی شي قام شي**
**چې اوچت د افغانانو ننګ و نام شي**

**مینه هغه شازلمو سره کوومه**
**چې کمند یې پاس د ستورو په مقام شي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مغلو نه په څۀ به وایه کم وي**
**کۀ د غرونو بچي پورته شامدام شي**

**ګرانه واوره ځایي هغه به یې خوښیږي**
**د خوشحال چې ابدي پکښې ارام شي**

**د پښنو دوړه یې چې باد چرې رانۀ وړي**
**د مغل د اسپو چرته چې خرام شي**

**اردو نظم---**

**خوشحال خان کی وصیت ----علامه اقبال**

**قبائل ہوں ملّت کی وحدت میں گم**
**کہ ہو نام افغانیوں کا بلند**

**محبت مجھے اُن جوانوں سے ہے**
**ستاروں پہ جو ڈالتے ہیں کمند**

**مغل سے کسی طرح کمتر نہیں**
**قہستاں کا یہ بچہَ ارجمند**

**کہوں تجھ سے اے ہم نشیں دل کی بات**
**وہ مدفن ہے خوشحال خاں کو پسند**

**اُڑا کر نہ لائے جہاں بادِ کوہ**
**مغل شہسواروں کی گردِ سمند**

---

**پښتونخوا**

**د کال ۲۰۱۰ ننیٔ ورځ وه یعنې ۱۹ اپریل وو چې دې وطن کښې د پښتنو صوبه د-- این ډبلیو ایف پي-- غونډې مجهول نوم نه د --خیبر پښتونخوا-- په نوم ونوموله شوه--دې سره داسې دعوې هم رامخې ته شوې چې صوبې ته مو خپل نوم ورکړو خو دې ته یې نه کتل چې پښتونخوا خو د پښتنې سیمې تاریخي نوم دے چې څلور زره کاله زړه ریښنه لري-- په رګوید کښې چې د پښتنو سیمې ته --پکهت-- ویلے شوي دي نو ریښنه خو یې همدغه پښتنه ده--- په ایراني نوشتو او اوستا کښې-- بخد-- په یوناني لیکونو کښې-- پکتویک-- هم دغه پښتنه ریښنه لري-- چې وروستو ترې د پکتیکا او پکتیا نومونه هم راوتي دي--- بیا سلیمان ماکو چې کال ۶۱۲ هجري کښې خپل کتاب تذکره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاولیا کښې دغه سیمې ته --پښتنخا--ووییل نو دا خو نیغ په نیغه همدغه پښتونخوا نامه وه خو په ډرګند ډول د-- پښتونخوا-- تورے په وړومبي ځل د اخون درویزه په مخزن کښې راغلے دے-- بیا خوشال بابا هم وییلي دي چې--
نوره واړه پښتونخوا په ځای میشته ده
خو یو زه دې زماني پکښې منصور کړم
احمد شاه بابا هم وویيل چې--
د ډیلي تخت هیرومه چې رایاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
نو دغه نامه د دې وطن سیاستدانانو څنګه صوبې ته ورکړه--- البته دغه نامه یې چې بحال کړه دا یې هم د قدر وړ کارنامه ګڼم --- خو عجیبه خبره دا ده چې په صوبه کښې ډیر وړوکي اقلیت هندکیانو په هره موقع د پښتونخوا د نوم مخالفت ولې کړے دے--- جواز یې څه وو--- د وطن د هرې صوبې په نوم کښې د اکثریتي ابادئ پیژندګلو شتون لرلو لکه پنجاب سند او بلوچستان -- خو په هغې اعتراض نه وو--- هندکیانو ته په خپله هزاره کښې د سر ایبټ په نوم ایبټ اباد قبول وو--- د مان سنګهه په نوم ورته مانسهره قبوله وه--- د هري سنګهه نلوه په نوم ورته هري پور قبول وو-- خو د پښتون په نوم ورته پښتونخوا نه وه قبوله--- خو بیا هم چې د پښتنو دا سیمه په نهم نومبر ۱۹۰۱ کښې د پنجاب صوبې نه رابیله شوه نو یوه کامله صوبه بیا هم نه وه--- صوبایي حیثیت ورته پیرنګي په کال ۱۹۳۵ کښې ورکړو چې د مجهول این ډبلیو ایف پي په نوم به یادیدله--- ښه شوه چې په نولسم اپریل ۲۰۱۰ خو-- خیبر پښتونخوا-- شوه - خیبر هم د پښتنو تاریخي پیژندګلو ده - خو مونږ ورته صرف پښتونخوا وایو ځکه چې دا یې خپل نوم دے او دا یې تاریخي نوم دے--- کے پي کے ورته وییل هم درست نه دي--- یو خو دا د دوو تورو مرکب دے--- خیبر او پښتونخوا--- نو بیا خو -- کے پي-- شو-- خو د کے پي -- هم ضرورت نشته--- زمونږ پښتونخوا--- د رګوید --پکهت--- د اوستا --بخد-- د یونانیانو-- پکتویک-- نه راوتي نامه ده چې د سلیمان ماکو -- پښتنخا-- ده او د اخون درویزه--خوشال بابا او احمد شاه بابا پښتونخوا ده--- او تل به وي--

---

نوټ--- دا پوسټ مې څو کاله مخکښې په خپله هغه زړه ایي ډي کړی وو چې اوس راته ګران رفیق الوت راولیږلو نو خپلې دې اوسنئ ایي ډي نه یې هم د څو جملو د اضافې سره خپروم ---

د غزل مقدمه

نه پوهیږم چې زمونږ ځنې جدت پسند زلمي پښتو کښې د غزل مخالفت ولې کوي او د غزل په مخالفت کښې د نوو صنفونو د رواج لارې لټوي. نوي صنفونه راځي او چې زور پکښې وي نو مقبولیت هم ترلاسه کوي خو د زوړ صنف سره یې د مقابلې ضرورت نه وي-- ایا مونږ پښتو کښې په غزل د بحث او تبصرې حق ادا کړو -ایا مونږ د خوشال بابا او رحمان بابا د غزل دمقام تعین وکړی شو او نور یې په ځایې پریږدو-ایا مونږ دحمبد علی خان کامګار  کاظم خان او داسې په شلګونو کلاسیکي شاعرانو د غزل فني باریکیو ته ورسیدو-ایا دا حقیقت نه دی چې مونږ دړې سوه کاله پس هم دشیدا د شعر په فني تکنیک او فکري ژورتیا نه پوهیږو-- د غزل په یو شعر کښې چې کوم څه په څومره تکنیک او فني باریکیو بیانیږي په اوږدو نظمونو کښې هم هغه په هغسې خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شي بيانيدى--- شاعري نه خو صحافت دى او نه خبرنامه يا سياسي تقرير -- شاعري خپل فني نزاکتونه لري چې تر هر صنف زيات په غزل کښې ليدى شي.د غزل داسې سرمايه لرو او قدر يې نه کوو.نوي دور ته به راشو د حمزه بابا نه علاوه چا د سيف الرحمان سليم فيضي قلندر ګران صيب سايل صيب پسرلي صيب درد صيب او بې شميره نورو د غزل فني او فکري څيرنه کړې ده چې دغزل مقام يې جوت شي. منم چې غزل د فارسې نه راغلى دى خو د فارسې نه مخکښې هم تللى دى. دومره مخکښې چې غزل اوس زمونږ خپل صنف دى.زما دعوا ده چې د غزل د فن په معيار لوې شاعر دې څوک د کاظم خان شيدا غوندې د ټولې نړۍ په ادب کښې وښايى.ډير کم امکان لري. داسې قيمتي اثاثه لرو اوچې حق يې ادا کولى نه شو نو مخالفت يې کوو. حق يې که ادا نه هم شي خير دى نوي صنفونه دې بيا هم راځي خو د غزل مخالفت راته بې تکه ښکاري--

نوي صنفونه په سر سترګو خو چې مثال يې د چرګو د مشيني بچو غوندې نه وي چې نه يې مور معلومه وي نه پلار. د روايت سره تړون داصليت اوفطرت نخښې ښايى او ترې انکار شناخت ختموي.د ګران شاهد قماش خبره مونږ ديورپ په کباړي کوټونو سر ماتوو چې هلته ردي شي مونږ ته نوى شي.دکباړ کوټ که ډير چمک دمک ولري خو د پښتون څادر بيا هم څادر وي د رواياتو امين.

بس دومره عرض دي چې دجدت په نوم هر څه کوئ خو د روايت سپکاوى نه دى پکار.غزل زمونږ د رواياتو امين دى. بايد چې خپل د غزل استاذان درانه کړو. استاذان خو يو خوا که غزل کښې جدت هم کتل غواړئ نو کاروان ولولئ شاه سعود وګورئ ممتاز اورکزى راواخلئ.او داسې نور.مينه او احترام.

---

نوټ--- د پښتنو سيمه د قبل مسيح دور نه د علم وفن ادب او فکرو دانش مرکز پاتې شوى دى چې ډيرې نخښې يې اوس د ارکيالوجي او جيالوجي په مرسته لاس ته راځي--- تر دې چې د ساينس او په ځانګړې توګه د رياضى او فطري علومو نخښې دلته شتون لري--- د صوابې د پانيني د ژبنيزو او تهذيبي علمونو نه علاوه هم په قبل مسيح دور کښې د علم و فن نخښې تر لاسه شوې دي چې يوه پکښې دغه بخشالي قلمي نسخه ده-- د دغه نسخې په اړه مې دغه مختصر ليک کړى وو چې زما زړې ايې ډي سره ورک شوى وو او ګران رفيق الوت راپيدا کړو نو ملګرو سره شريکول مې ضروري وګڼل----

"تيره ورځ راته ګران او محترم افراسياب خټک يوه ويډيو راوليږله، ماچې واوريده نو ورپسې مې نوره پلټنه وکړه-په انټر نټ راته دغه ويډيو سره سره ځنې نور تفصيلات هم مخې ته راغلل ورپسې مې چې يو نيم کتاب هم وکتو نو مناسبه مې وګڼله چې دغه معلومات خپلو مينه والو لوستونکيو سره هم شريک کړم-

بخشالى زمونږ د پښتونخوا د مردان ضلعې يوه علاقه ده چې د دغه علاقې نه په کال ۱۸۸۱ کښې يو انتهايي قيمتي قلمي نسخه تر لاسه شوې ده--دومره قيمتي او نادره نسخه چې اوس د اکسفورډ يونيورسټۍ په بودليين کتابتون کښې د بخشالي مينو سکرپټ په نوم ساتلى شي- په دغه نسخه بنيادي څيرنه خو جرمن دانشور ډاکټر روډالف کړې ده چې په کال ۱۸۸۷ کښې يې چاپ کړې ده-بيا وروستو په کال ۱۹۲۷ کښې د اکسفورډ يونيورسټۍ له خوا د انګريز محقق هارنل د تحقيق سره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپ شوه-- د دغو څیرونکیو تر مخه د دې نسخې زمانه ۳۸۳ تا ۲۲۴ قبل مسیح ده---د نسخې ژبه سنسکرت ده--او په اویا صفحو مشتمله ده-
هسې خو دا نسخه په بنیادي توګه د ریاضي الجبرا او جیومیټري په علم او اصولو مشتمله ده خو دې نه علاوه هم غیر معمولي اهمیت لري چې مونږ یې د دریو ځانګړو زاویو نه وضاحت کولی شو-
۱- د دې نسخې تاریخ او قدامت--چې د حضرت مسیح نه تقریبن درې سوه کاله مخکښې زماني سره تعلق لري---او د حضرت مسیح نه شپږ سوه کاله اګاهو د راماین زماني---ټیکسلا پوهنتون او د پشکلاوتي ابادۍ ته هم اشارې کوي
۲-دویم د دې نسخې لیکدود یا سکرپټ دی چې د همدغه نسخې ترمخه پکښې د لیکدود پنځه شکلونه راوړلی شوي دي-تولو نه زوړ براهمي بیا شاهراده بیا سداماتریکا بیا دیوناګري او بیا سوترا چې نوی شکل یې ګورمکهي لیکدود دی-په دغو لیکدودونو کښې هغه زمانه کښې شاهراده لیکدود په کشمیر کښې او سداماتریکا لیکدود په پخواني کابل کښې رواج وو-
۳-دریمه زاویه یې د مضمون او موادو ده چې د ټولو نه اهمه ده-اصل کښې دې نسخه کښې د ریاضۍ اصول د الجبرا فارمولې او د جیومیټري قوانین بیان شوي دي چې په هغه دور کښې ورسره د هندسو یعنې شمیر استعمال او د صفر تصور هم پیش شوی دی---دې نه علاوه ځنې نور ساینسي قوانین هم ښودلی شوي دي---د ریاضۍ مسلو ته پنځه ځانګړي مقامات یا سټپونه هم ورکړی شوي دي چې د سوترم--تاده--سټانیم--کرانم-- او پراتایم په نومونو یاد شوي دي-دا داسې اصول او سټپونه دي چې وروستو ترې نامور ساینسدان ګلیلیو هم استفاده کړې ده-په دغه اهمه بخشالي نسخه وروستۍ څیرنه په اکسفورډ یونیورسټۍ کښې په کال ۲۰۱۷کښې شوې ده او لا پرې څیرنې رواني دي، په دغه موضوع په لیکلو اثارو کښې دا نسخه د نړۍ قدیم ترینه نسخه ده- زما خیال دی چې د پښتنو څیرونکیو له خوا په دغه نسخه د تفصیلي څیرنې ضرورت دی---

حنیف خلیل

---

چې سرور په مستعار کا شیدا واوره
د دهقان په دانه رقص د اسیا کا
وضاحت........
سرور -- مستۍ خوند او لذت ته وایی چې د رقص او اتڼ په وخت چورلک کښې محسوسیږی
مستعار-- یعني قرض-- مطلب بل ته محتاجی او خپل جوهر نه لرل .
اسیا -- فارسی کښې د ژرندې پل ته وایی--
اوس د شیدا شعر ته ځیر شئ -- وایی چې چورلک خو د ژرندې پل هم وهی-- یعنی رقص کوی-- مستی کوی-- خو دغه چورلک رقص او مستی یی هله وی چې دهقان ژرندې ته داني راوړی او اسیا یا د ژرندې پل پرې وچورلی او رقص وکړي-- ګویا د څو لمحو دغه رقص یی د دهقان دانو ته احتیاج لری او بس-- نو دغه رقص او سرور خو مستعار شو -- قرض شو -- د دهقان دانو ته محتاج شو -- ګویا د ژرندې پل پخپله رقص نه شي کولی ځکه خپل سرور او مستي نه لري-- دغه شان کوم انسان چې خپل صلاحیت نه لری خپله مستي نه لري-- په خپله مرضی رقص نه شي کولی او سرور اخستلو کښې هم نورو ته محتاج وی -- په هر کار کښې ورته د نورو عارضی او وقتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اداڼو ضرورت وی -- نو بس دا خو د اسیا یعنی د ژرندې د پل رقص او چورلک دی چې یو بې احساسه بې جذبې کانی دی خپله هیڅ مستی ژوند حرکت او حرارت نه لری---بس داسې ده لکه چې-- د دهقان په دانه رقص د اسیا کا-- غور وکړې د شیدا مشاهدې ته او د هغه شعري تکنیک او انداز ته-- نادره مشاهده او بې مثله اسلوب--**

---

**چین-- او--.چنګ-- د شیدا په شعر کښې--**

**یوه ورځ ما د شیدا د دغه شعر تشریح کړې وه چې پکښې ---چنګ--توری راغلی وو--**
**په شفق یی د حنا آتش زني کړه**
**هغه شوخ لکه افتاب نګارین چنګ وو.**
**د لوړ ذوق ملګرو په دغه تشریح ډیرې ښکلې او قیمتي رایی ورکړې وې. ما چې ---چنګ--- د چیني مصور--- ماني-- د شاهکار تصویرونو مجموعه یاده کړې وه نو ورسره ځنو ملګرو دغه چنګ د موسیقۍ په لور بوتلی وو او ځنو ترې نور تعبیرونه اخستي وو--- ځنو دا خدشه هم څرګنده کړې وه چې د شیدا په دور کښې د چین تذکره یا د چین د مصورۍ روایت ته اشاره هم ناممکنه شان ښکاري چې د ابلاغ ذریعې لکه د نن تیزې نه وې ---ځکه ما دې لړ کښې مزید وضاحت ضروري وګڼلو---**
**یو خو د چین اوسنی تصور نه بلکې د چیني تهذیب زرګونه کاله زوړ روایت که نظر کښې وساتو نو بیا به عقل ومني چې ځنګه ټوله نړۍ دغه چیني روایت نه د سوونو کالو راسې خبر ده دغسې ترې شیدا هم خبر وو--ځکه خو د هغه په یو شمیر نورو شعرونو کښې هم دغه چیني روایت او بیا د چین د مصورۍ او خطاطۍ روایت او بیا په خصوصي توګه د چیني مصور -ماني --هنر ته ګڼې اشارې شوې دي--او مختلف شعري رعایتونه او نسبتونه ورسره راوړلی شوي دي---لکه د چین بادشاه د پاره چې په عمومي توګه د -خاقان-نوم مشهور وو نو شیدا وییلي دي چې---**
**دا صحرا په نقش پا کړه ګل زمین چا**
**سربلند کړهٔ له خاقانه هر ګل چین چا**
**یا دا چې--**
**شګفته به دې جبین وي تل بې چینه**
**حواله کړه دا غمونه و خاقان ته**
**اوس به راشو نیغ په نیغه د چین مصور -ماني ته-چې ځنو لیکونکیو ایرانی هم ګڼلی دی--**
**شیدا یوه رباعي کښې د سبک هندي نازکخیال شاعر غني کشمیري د شعر په ستاینه کښې وایی---**
**اثر جوشي یی د مضامین ده**
**خطه یی ګوره چې ګل زمین ده**
**قلم غني ته ماني عطا کړ**
**که په کشمیر کښې قطعه د چین ده**
**او دا شعر یی هم وګورئ**
**که دهند آب و رنګ ستا په صورت شهٔ**
**خپل قلم ورته ماني راوړو له چینه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به یو څو خبرې په --چنګ --هم وکړم--لیکونکیو د چنګ مختلفي معنې کړې دي---زمونږ د خلیلو سیمه کښې ---چنګ د ينګي یا جمعې د پاره هم استعمالیږي لکه جې چا سره ډیر مال یا پیسی وي نو وییلی شي چې --چنګ ورسره دی---چنګ یی یوړو---یا چنګ یی ووهلو-- مونږ به چې ماشوموالي کښې ښه ډیرې کانچې وګټلې نو هم به مو وییل --چنګ--مې ووهلو---خو د شیدا شعر کښې د چنګ دغه مفهوم قرینه نه لرې---دغه شان ---چنګ-- د موسیقې یوه آله هم ده چې د شپیلۍ غوندې په پوکي وهلو غږولی شي او وروستی سر یی راکوي شان وي---ډیره زړه آله ده ځکه د رباب یا شپیلۍ سره پو ځای یادولی شي---چنګ رباب---یا ---چنګ ونی---علامه اقبال یی داسې یادوي---

رنګ هو یا خشت وسنګ
چنګ هو یا حرف و صوت
معجزه فن کی هی
خون جګر سی نمود

مونږ پښتو کښې چې د زیاتو پیسو بې ځایه خرچ کولو د پاره محاوره استعمالیږي نو وایو---پیسې یی --چنګ رباب کړې---دشیدا په شعر کښې د چنګ دغه معنا هم قرینه نه لري.
اوس که د شیدا شعري مزاج او پورتني پس منظر ته وګورو نو ذوق په اسانه دا مني چې د شیدا شعر کښې---چنګ---هم هغه د چیني مصور د کتاب یادونه ده چې په فارسې او ترکی ژبو کښې ورته---ارژنګ---او-- ارجنګ---هم وایی---مینه او مننه---

---

زما څو پخواني شعرونه د ملګرو په خدمت کښې---په مینه--

هغه چې نشته دی سپرلی هم په نظر نه راځي
هغه چې نه راځي ملګرو نو اکثر نه راځي

دا د کوم تور دې سزاوار یم چې بانه دې نیغ شول
مړ مې که خیر دی خو یو قتل له لښکر نه راځي

مانه رښا د عاجزۍ په بادشهی اخَلي
ښه ده چې سیوری د هما زما په سر نه راځي

چې د ماشومو تلوسو مې تنده ماته نه شوه
چا وې چې بیا به یزید نه راځي شمر نه راځي

دلته لاسونه د یو بل په وینو سرهٔ دي غم دی
،،نکریزې مه راوړه دې کلي ته اختر نه راځي،،

---

خدای دې مین ډیر کړي چې ښیرې کوي
ما له خو نور چل د دعا نه راځي--- حمزه بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پوسټ د خپل وال نه د دوو داسې مينه والو د رايو په احترام کښې خپروم چې ما سره په ډيرو موقعو د راي اختلاف لري خو ما سره مينه هم لري--- ګران خالد خان خالد او ګران زرک مديخيل دوه داسې درانه مهذب او لوستي ليکونکي دي چې د راى اختلاف يې تل خوشحالي راکړې ده--- ځکه چې روغ نيته او مثبت فکر لري--- او ډيره د چا پروا هم نه کوي-- دغسې يو مينه وال د --همه تن ګوش-- په قلمي نوم بل هم لرم--- داسې د راې اختلاف لرونکي دې خداى ډير کړي--- په دغه پوسټ کښې د دواړو راې شاملې دي چې دلته اختلافي نه دي-- زه يې درناوى او قدرداني کوم----

---

تر هلک نوخط غرور لري حنانه
تر غزال د چين اهو زغلي بالا
حنان بارکزی

نوټ ---- حنان بارکزی په نازکخيالو شاعرانو کښې ډير اهم شاعر دی چې د هندي سبک نه يې اثر اخستی دی---- د هغه په دغه شعر به خوند واخلو چې د فني نزاکت غوره نمونه ده---
وضاحت ----
د حنان دې شعر کښې د معنوي نزاکت سره سره د تورو د استعمال نزاکت هم غور غواړي.وړومبۍ مصرعه کښې د ښايست دوه مثالونه پيش شوى دي---هلک--او نوخط..هلک هغه چا ته وايی چې د تنکي عمر په داسې مرحله کښې وي چې په مخ يی لا تور خط نه وي زرغون شوی--او نوخط د عمر هغه مرحله وي چې عمر لږ زيات شي نو په مخ تور نوی خط زرغون شي. نوخط يعنې نوی خط زرغونيدل.هسې خو بې خطه صفا مخ ښايسته وي ځکه غرور او نخره يی هم زياته پکار وي خو حنان وايی چې په سپين مخ تور خط راشي نو ښايست لا زيات شي ځکه د ښکلو غرور لا زيات شي.د ښايست دغو دوو مرحلو د پاره حنان د غزال او اهو د رفتار مثالونه ورکوي.غزال په عربی کښې د اهو يعنې هوسۍ بچي ته وايی.ګويا د کم عمر په مرحله کښې غزال وي او چې عمر يی لږ زيات شي نو اهو شي او بيا منډه يی هم تيزه شي.اوبيا دغه غزال او اهو دحسن سره سره د خوشبو علامتونه هم دي چې دختن --خطا او چين سيمې د اهو او غزال د ښايست سره سره د خوشبو د پاره هم شهرت لري ځکه حنان ورسره د چين تخصيص هم کړی دی.ګويا حنان دا وايی چې څنګه د کم عمره غزال نه د زيات عمره اهو منډه تيزه ده او غرور پرې کوي دغسې د کم عمره هلک نه د نوخط يعنې زيات عمره محبوب ښايست زيات دی ځکه غرور پرې پکار دی.هر څو که په عام توګه د صفا مخ کم عمره هلک زيات حسين ګڼلی شي خو د ميينانو په قانون کښې حقيقت د دې اپوټه دی. او دې ته هم غور وکړئ چې په مخ خط راوچتيږي نو ورسره د چين اهو د بالا زغل نسبت هم راوړی شوی دی يعنې په مخ خط بالا کيدل او د اهو په زغل کښې بالا تلل. او بيا دې ته هم غور وکړئ چې غزال يا اهو منډه وهي نو ورپسې شاته د تور ګرد يوه کرښه شان هم جوړه شي نو دغه د ګرد توره کرښه حنان د محبوب په مخ تور خط سره تشبيه کړې ده--- دغه فني نزاکتونه زمونږ د کلاسيکي شاعرۍ خاصه ده --- چې حنان بارکزي يې هم څرګندوته کړې ده---

---

چې هلال ته لکه ستوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر په غټو سترګو ګوري
په رويت يې مسرور تر شي
په عجلت يې زر اختر شي

وضاحت......
شيدا دغه مشاهده د شعر نه د معنا راويستلو او ترې خوند اخستلو د پاره بيان کړې ده.هلال د سپوږمۍ د نرۍ کرښې په شکل هغه حالت وي چې په اسانه په نظر نه راځي. ليدل يې ډېر دقت غور او توجه غواړي ګويا په غټو سترګو ورته د کتلو ضرورت وي. ستوري غټ وي لکه د غټو سترګو -- او رڼا هم کوي لکه د غټو سترګو نظر. خو د دغو غټو سترګو ځلا هله زياتيږي چې تياره راخوريږي او چې تياره راخوريږي نو ورسره هلال هم ورو ورو راښکاره کيږي .دا داسې ده لکه ستورو چې په ډېر دقت او توجه په غټو سترګو هلال ته کتل او چې هلال يې تر نظره شو د هلال رويت يې وکړو نو سرور او مسرت يې محسوس کړو او بيا نور هم وپړقيدل بلکل همداسې لکه چې د اختر په شپه انسانان په غټو سترګو کتلو سره د هلال رويت وکړي يعنې د اختر د شپې سپوږمۍ ووينې نو مسرور شي خوشاله شي او پرې اختر شي-- او بيا د اختر په موقع پاکو نوو جامو کښې لکه د ستورو وځليږي. پخوا به خلقو د اختر په موقع جامې هم سپينې او د بوسکي اغوستلې چې لکه د ستورو به پړقيدل-- دغه د اختر غوندې سرور به د شعر نه هم هله اخستلى شي چې شعر کښې پټ پروت د هلال غوندې نازک او رنګين مفهوم ته رسايي ممکنه شي . دا رسايي به هم هله ممکنه کيږي چې دشعر مفهوم ته په غټو سترګو کتلى شي يعنې په غور دقت او توجه د معنا او مفهوم ځلا ته رسايي وشي.نو بس همدغه د لوستونکي يا نقاد سرور هم دى او د عجلت يعنې تيزۍ او تلوار اختر هم دى.
اختر هم راروان دى خو چې د هلال رويت ته لکه د ستورو په غټو سترګو متوجه شو.

---

زمونږ کلاسيک او زمونږ د عصر دانشور.

زه چې د پښتو کلاسيکي غزل په فني باريکيو تکنيکي نزاکتونو رمز و اشاريت صنعت او رفعت تلازمه اونسبت او د تغزل په نورو رنګونو غور کوم . د خوشال بابا رحمان بابا حميد کاظم خان علي خان کامګار او نورو کلاسيکي شاعرانو يو يو شعر ته ځير کيږم نو په بار بار لوستو راته نوې نوې معنې راکوي. د شاعرۍ دغه تکنيک په مغربي ادب کښې خو هسې هم نشته چې غزل ورسره نشته -- خو په مشرقي ژبو کښې هم د غزل دغه معيار خصوصاً د شيدا معيار خو راته په يو شعري ادب کښې هم نه ښکاري خو د عربې دانشورو خپل شعري معيار په ټوله نړۍ منلى دى .فارسيبانو د خپل هر يو کلاسيکي شاعر سره سره په يو بيدل دهلوي په ګڼو جلدونو کښې نقد بيدل ليکلى دى -- تر دې چې پرونۍ ژبه اردو کښې د غالب ديارلس شرحې خو ما کتلې دي.او بلخوا چې خپلو پښتنو دانشورو ته ګورم نو فکر مې يوسې چې دغزل د خوند نزاکت تکنيک معيار تغزل او لوړ شان سره سره د فکري تنوع معنوي پراختيا او تخيلي رفعت ترجمان کلاسيک په حواله زمونږ عصر د ځيرنې او کره کتنې په ميدان کښې څومره د جمود ښکار دى.په دغه حواله زمونږ ذوق څومره شنډ دى. څلور سوه کاله خو اوشو چې خوشحال بابا به د خپل معنويت او تنوع سره کله دريافت کوو-- د رحمان بابا حميد کاظم خان او نورو په شلګونو کلاسيکي شاعرانو فني امتياز او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقام به د خپلو تفصيلي او فني تجزيو سره کله په نړۍ ورپيژنو --- څومره موده به نور هم د دغو شاعرانو دغه تکراري شعرونه په خپلو مقالو کښې اړوو را اړوو--- نوې خبرې او تجزيې به کله رامخې ته کوو--- د دغه کلاسيک تفصيلي شرحې به کله کوو -- ما ته خو خپله دانشوره طبقه داسې ملامته غافله او بې حسه شان ښکاري او يا بې صلاحيته او نا اهله --چې دغسې د لوړ معيار کلاسيک مو څلور سوه کاله پس هم را ونه سپړدلی شو--- پته نشته چې په کومو کندو کړرو سر يو--- خزانه لرو او په استعمال يې نه پوهيږو--- دا چې تر اوسه مو د کلاسيک په حواله د تحقيق او تنقيد په نوم څه کړي دي ما ته خو بيخي هيڅ ښکاري---- په بخښنې سره---

---

خدايي خدمتګار تحريک او پښتو ادب

کله چې باچا خان په ۱۹۲۱ کښې انجمن اصلاح الافاغنه تنظيم جوړ کړو او بيا په ۱۹۲۹ کښې خدايي خدمتګار تحريک ته بدل شو نو چا ته پته وه چې-- پښتو ته به ډرامه دا تحريک ورکوي--- پښتو ته به رپورتاژ د باچا خان د خپل رپورتاژ --د شلمې پيړۍ تهذيب او زمونږ جيلخانې-- په شکل دا تحريک ورکوي--- پښتو کښې د تاريخي افسانه نګارۍ روايت به دا تحريک جوړوي-- پښتو ته به ترقي پسند ادب د هندوستان د انجمن ترقي پسند مصنفين د قيام ۱۹۳۵ نه هم مخکښې دا تحريک ورکوي--- پښتو ته به د تنظيم سازۍ او ادبي ټولنو روايت دا تحريک ورکوي--- پښتو ته به د ادبي صحافت ورکړه د پښتون مجلې په شکل دا تحريک کوي--- پښتو کښې به د انګريزۍ نه علاوه د هند بنګال او ترکي ادب د پښتو ترجمو په صورت کښې دا تحريک راوړي او ورسره به د ترجمه نګارۍ روايت هم عام کوي-- پښتو کښې به د مکتوب نګارۍ روايت ته وده دا تحريک ورکوي--- پښتو ته به د حقيقت نګارۍ ادبي روايت دا تحريک ورکوي--- پښتو کښې د ښځينه ليکوالو تربيت به دا تحريک کوي--- پښتو کښې د انعامي مشاعرو اغاز به دا تحريک کوي--- پښتو کښې د ادب نه علاوه د نورو فنون لطيفه يا ښکلو هنرونو لکه موسيقي اداکاري مصوري ستيج وغيره روزنه به دا تحريک کوي--- پښتو ادب کښې د سياسي شعور بيداري به دا تحريک راولي-- د پښتو ژبې د ودې او بقا عملي هڅې او نصابي هڅونه به دا تحريک کوي--- پښتو ته د مقصدي شاعرانو او اديبانو يو لښکر به دا تحريک ورکوي-- دا فهرست خو ډير اوږد دی خو هغه کوم علمي او ادبي ميدان دی چې د خدايي خدمتګار تحريک کردار پکښې اساسي نه دی-- خو بيا هم چې د پښتو د ادبي تحريکونو ذکر کيږي نو خدايي خدمتګار تحريک پکښې نه وي-- هر څو که څو سندي مقالې پرې ليکلی شوې دي خو زما خيال دی د دې تحريک په ادبي خدماتو انګريزۍ او نورو نړيوالو ژبو کښې کار پکار دی چې نړۍ خبر شي چې دا يواځې سياسي تحريک نه وو بلکې يو لوی ادبي تحريک هم وو چې هر ميدان کښې د اوليت څهره يې هم په سر ده---

---

خپلو مينه والو سره خپل څو شعرونه شريکوم-- د هغو ملګرو نه بخښنې سره چې چا مخکښې اوريدلي وي ځکه چې شعرونه پخواني دي----

ښه ده رهبري ستاسو کولی شم
خپله قافله خپله لوټلی شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخته زه څه کانی خو دسیند نه یم
داسې چې په شور او شر کښې غلی شم

کله شم یوسف کله قابیل شمه
ورور مې وژني زه هم ورور وژلی شم

خیر دی که یی نه اوري تورغوږي دي
لا خو سپینې سپینې زه ویيلی شم

سر ته مې نشه د خودۍ وخته
اوس د زورور په سر ختلی شم

سپکو ورکو ځان کښې راپیدا کړئ زور
لا خو مو درانه نور هم زغملی شم

ته کره اورونه دخلیل په لار
زه په خپل مسلک کلک اودریدلی شم

---

ترجمه او تخلیق

په سرسري نظر خو داسې ښکاري چې ترجمه د تخلیق سره څه اړه نه لري ځکه چې ترجمه کښې د نورو خلقو اولسونو او ملتونو علم او فکر وړاندې کولی شي--- خو په ژور نظر کتلو سره بیا داسې نه ده--- ترجمه د تخلیق سره ډیر نزدې تړون لري--- یو دا چې د ترجمې په لاره د نړیوال ادب نه خبرتیا تر لاسه شي نو په خپله ژبه کښې بیا هغه ادب په تخلیق کښې نه تکراریږي--- تخلیق کار مجبور وي چې خپل تخیل نوو راوړنو ته اماده کړي--- دویم دا چې د نورو فکرونو او تخیلاتو نه په اثر اخستلو هم تخیل د نوو موضوعاتو په لور تللی شي-- دریم دا چې د ترجمې په لاره د نړیوال ادب نه خبرتیا په تخیل کښې پراختیا هم راولي چې تخیلي قوت ورسره وده مومي او نوي مضامین پیدا کولو کښې مرسته ترلاسه کوي---
دغه خبرې که نظر کښې وساتو نو ترجمه نه یواځې علمي پنګه زیاتوي بلکې نوو نکتو ته لاره هم خلاصوي -- ترجمه علمي او ادبي تنوع او رنګارنګي هم ځان سره راوړي-- د علومو او فنونو ګڼ اړخونه هم روښانه کوي--- د نړیوالو تهذیبونو خپلو کښې د نزدې کولو وظیفه هم تر سره کوي--او بیا چې تخیلي قوت جلا ومومي نو کله کله مترجم خپله ترجمه کښې د تخلیق نه هم زیات تاثیر پیدا کولی شي--- ګویا اصلي تخلیق وروستو پاتې شي او ترجمه د تخلیق په بام نوره هم بره لاړه شي---د نړیوال علم او ادب تاریخي شالید هم دا ښایي چې کومو ژبو کښې ترجمې زیاتې او د لوړ معیار شوې وي د هغه ژبې د ادب تخلیقي معیار هم اوچت وي---- عربي چې د یونان ترجمې وکړې--فارسي چې د ټول مغربي او مشرقي ادب ترجمې وکړې او انګریزۍ چې د نړۍ د غټو ژبو سره سره د وړو ژبو ترجمې هم وکړې نو خپل تخلیقي معیار یې هم په ټوله نړۍ ومنلو--- دغسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرنچ جرمن روسي او ځني نورې ژبې هم واخلئ--- پښتو چې زرګونه کاله زړه ده--- لوړ کلاسیک هم لري خو په ترجمه کښې لا په دغه لار نه ده نو نړۍ یې د ډیر غني ادب نه هم ناخبره ده --- ځکه چې وړومبی به نړیوال ادب خپلې ژبې ته راوړل وي چې ورسره تخلیقي معیار هم اوچت شي نو بیا به نړۍ ستا په ژبه کښې علم او ادب ته په هغه لوړه پیمانه توجه کوي--- زما خو دغه خیال دی نورو ملګرو نه نه یم خبر-----**

---

**ستا په ملا کښې دی کمند د زړونو ټګه**
**که دې راغلې تورې زلفې تر کمره**
**وضاحت----**
**د شیدا دا شعر ساده او اسان دی خو فني ښایست یې بې مثله دی.په شعري نسبتونو یې خصوصي توجه وکړې.ملا باریکه هم وی اوپکښې خم او لچک هم وي چې ورسره نسبت کښې شیدا د کمند ذکر کړی دی- د کمند غاښې هم نري او راتاو وي لکه نرۍ ملا.کمند غله او ټګان د غلا په وخت استعمالوی چې د اوچتو عمارتونو بره سر ته یې ور اچوی او پاس پرې خیژي.غلا د شپې کیږي او شپه توره وي نو ورسره شیدا د تورو زلفو نسبت راوړی دی.او زلفې چې اوږدې وي نو کمند سره تړلې اوږدې رسۍ سره یې هم نسبت دی.اوس تصور اوکړئ چې حسین محبوب خپلې اوږدې تورې زلفې خپلې نرۍ لچکدارې ملا ته رازوړند کړي نو ښایست خو به یې دا کانې کوی چې د مینانو زړونه ځان سره یوسي ګویا په دغه ډول او سینګار خو د زړونو غلا کوي ځکه ورته شیدا د زړونو ټګ وایی.او چې د محبوب د حسن عمارت د هغه رخسار دی نو رخسار خو بره وي ګویا د ملا نه تر رخسار پورې تورې زلفې د کمند هغه رسۍ دي چې ټګان پرې د عمارت سر ته ځان رسوي- او مینان خو هم د زلفو په لار د رخسار دیدار ته خپل نظر رسوي.رسۍ او تورې زلفې .تورې زلفې او توره شپه.توره شپه او د ټګانو غلا- د رسۍ اوږدوالی او د زلفو اوږدوالی او بیا د دې ټولو علامتونو او پس منظر سره د حسینانو ډول سینګار سره د مینانو د زړونو غلا کول.غور وکړئ چې د محبوب د حسن تعریف به په دوو مصرعو کښې بغیر د شیدا نه څوک داسې وکړی شي-**
**د محاکات یعنې لفظي تصویر کشۍ او رومانویت څومره ښکلې نمونه ده دا شعر او صرف دوو مصرعو کښې څومره لوې معنوي جهان راګیر کړی دی شیدا ----**

---

**د جرمني معروف شاعر او دانشور Johann wolfgang von goethe 1749...1832 په جرمنۍ ژبه کښې یو نظم د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم په حقله د Mohamets gessang په نوم لیکلے وو jones jolle په دغه نظم انګریزۍ کښې تفصیلي لیک هم وکړو او انګریزي ترجمه یې هم د Song for Mohammad په نوم وکړه --**
**ما دغه انګریزي نظم پښتو کښې ترجمه کړی دی--- د ملګرو په خدمت کښې په مینه-- د انګریزي متن سره---- مخکښې مې د علامه اقبال فارسي نظم-- جوی اب-- سره شریک کړی وو--**

**د ژوند چینه ---**

**د ژوند چینې ته ګوره**
**څومره ژورو کښې هم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځي او په مخکښې درومي
په میدانونو کښې هم
یا په ټولي کښې ستورے
چي ځان له لار اوباسي
ځان په تلوار اوباسي

د اسماني اوریځو
زانګو کښې پروت اودهٔ وو
ژوند به جوتې خوړلې
چې یې له شوقه سترګې
له خوبه وغړېدې
په غیږ د غرونو کښې وو
په ګردشونو کښې وو

ژوند شو سرور کښې روان
د لارې کاڼو نه هم
یو موسیقي زیږوي
ټنده یې هم روښانه
پرې ملغلرې سپینې
لکه رڼه هنداره
تهٔ یې په لاره ځاره

دغه د ژوند چینه خو
د یو پراخ سمندر
په لوري درومي زغلي
په خپل وجود کښې فنا
خبر له ځانه نهٔ وي
د خپل منزل په لوري
درومي بهیږي شوري

دغه چینې ته په لار
سپرلي فضا جوړه کړه
د ښاپیرو د وطن
نرګس او نور ګلونه
دي هرکلي ته ولاړ
سلام له لرې وایي
سپرلے سندرې وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلاب رامخکښې شولو
وايي زما سره شه
د څو لمحو د پاره
غوټۍ هم شوله مسکۍ
زما ځواني ده تنکۍ
سپرلے يي راوستلو
څادر يې واغوستلو

د شين لباس د ښکلا
د جلوه ګرو نه هم
ده ناخبره چينه
پروا د چا نهٔ کوي
درومي په مخکښې درومي
دشتو ته لاره کوي
غرونو د پاره کوي

بس د پراخ سمندر
په لوري درومي زغلي
په خپل وجود کښې فنا
په خپل منزل يې نظر
وروستو په شا نهٔ ګوري
درومي بهيږي چينه
زر به رسيږي چينه

شنو ميدانونو نه هم
د سردرو نه چې هم
دا په سوونو چينې
يې ملګرتيا له راځي
نو ورته داسې وايي
تا ته راغلي زمکه
ده غوړيدلې زمکه

اوبهٔ هم نشته دلته
شاړه پرته ده دشته
چې په هر لور دي شګې
په مونږ نظر ولره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو خوږ د مينې نظر
د رڼا څرک نشته دے
چرته درک نشته دے

چينې سينه پرانسته
د شرق او غرب هوا ته
سترګي ستومان لاروي
يې راترغاړه ويستل
لکه د ګورې ونې
سيورے يې خور کړو ورته
زړګے يې کور کړو ورته

د خپل منزل په لورې
د سمندر په لورې
کۀ دردانې ورسره
سل زره نورې هم وي
ټولې يوې ته ګورې
څۀ مستانه خو درومي
دغه دانه خو درومي

تۀ سمندر ته ګوره
هم يې سفر ته ګوره
دے په غورزنګ چې روان
ورته خنډونه هيڅ دي
کاڼي او غرونه هيڅ دي
ښۀ بې مهاره درومي
په خپله لاره درومي

لکه سيلاب په غورزنګ
لوړې ژورې ورته
دواړه هوارې پرتې
دا د شاهانو ماڼۍ
هم قلاګانې دنګې
هر څۀ کړي زير او درومي
په بڼ شي تير او درومي

يو ولوله بې تابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوے ځيګر ناقرار
د جوش نه ډکه جذبه
ډيره چابکه جذبه
درومي په مخکښې درومي
زوږ تصور بدلوي
خپل مقدر بدلوي

د لويې درياب په لوري
څهٔ مستانه خو درومي
په خپل ايمان او يقين
په يو وجود انجمن
ښهٔ په شدت حرارت
درومي او درومي درومي
ځکه منزل ومومي

**Stream of life.... Goethe**

**?Behold how deeply engrossed the stream of life moves onward**
**!Slashing through meadows, it moves like the Milky Way galaxy**

**;It was sound asleep in the cradle of the heavenly clouds**
**!And it opened its curious eyes in the lap of the mountains**

**;Its graceful motion strikes music from pebbles on its way**
**!Its forehead shining like white pearl and spotless mirror**

**;Towards the infinite ocean how fully engrossed it steadily flows**
**.Absorbed unto itself and completely focused on its goal, it flows**

**;In its path, spring created a heavenly fairyland to entice it**
**.Narcissus, tulip, and jasmine bloomed to attract its attention**

**;The rose tempted it and said: Stay with us here for a while**
**.And the rosebud laughed and pulled its cover amorously**

**,Completely unmindful of green-robed beauty merchants**
**.It passed through desert; and it rent asunder mountains**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**;Towards the infinite ocean how fully engrossed it steadily flows**
**.Absorbed unto itself and completely focused on its goal, it flows**

**;A hundred brooks from plains and meadows, from vales and dales**
**!Joining it, and said: “O thou for whom the earth is a wide expanse**

**;Stricken with drought, we have fallen by the way“**
**”!Protect us from the pillage of the sandy waste**

**;It opened its breast to the winds of the East and the West**
**!Pulling the weak and wailing fellow-travelers, on its way**

**;Towards the infinite ocean how fully engrossed it flows**
**.Carrying a hundred thousand unique shining pearls, it flows**

**;The surging river flowed with vigor, over dams and barriers**
**.It pushed through the narrow gorges of valleys, hills, and dales**

**;Whether low or high, it levelled all in its path by it powerful force**
**!Flattening king’s palaces and ramparts; fields, and orchards alike**

**Passionate and fierce, eager and heart-warming; it boldly journeys ;onward**
**Creating fresh new human period of glory, bypassing old decadent !world**

**;Towards the infinite ocean how fully engrossed it steadily flows**
**.Absorbed unto itself and completely focused on its goal, it flows**

---

**ساینس او الحاد**

**خبر شوم چې نن د الحاد نړیواله ورځ ده--- پته نشته چې د دې به څه مقصد وي خو په دې ورځ مې دغه څو خبرې خپلو مینه والو سره شریکول وغوښتل---**
**زمونږ زیات دانشوران صاحبان ساینس د دین په ضد کښې اودروي او د الحاد په لور یی بیایی خو دې ته نه ګوري چې د ساینسدانانو هم مختلفې ډلې او درجې دي---**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱--- يوه ډله داسې ده چې د ساينس په نړۍ کښې د الحاد سره مخ دي--او يا بيا په الحاد کلک ولاړ هم دي---
۲---بله ډله وايي چې خداى عقيده او مذهب د ساينس موضوع نه ده---ساينس د مشاهدې او تجربې نه پس خپله نتيجه ښايی---
۳---دريمه ډله داسې ده چې د خپلو ساينسي تجربو او مشاهدو په بنياد د خداى -- دين او عقيدې په لور راغلي دي--- دا هغه ډله ده چې په عمومي ډول لوی ساينسدانان دغه حقيقت ته د ډير محنت رياضت او تحقيق نه پس رسيدلي دي-- ما څنو دغسې ساينسدانانو ته مخکښې هم اشارې کړې دي-- زمونږ ډير پاکستاني --لوکل-- يا د کور کلي دانشوران صاحبان بيا په دغسې د عالمي معيار په منلی شوو ساينسدانانو هم اعتراض کوي تر دې چې ساينسي خدمات يې هم ناقص ګڼي يا پرې رنګ رنګ طنزونه کوي---خو زه وايم چې د کشش ثقل دريافت کوونکي او د ساينسي نړۍ لوی نوم آيزک نيوټن ؛۱۶۴۲...۱۷۲۷ څه د کلو کوڅو ساينسدان نه وو ---د نيوټن شاهکار کتاب-The mathematical principles of natural philosophy که چا کتلی وي او پرې لږ هم پوهه شوي وي نو ورته به د کتاب په وروستۍ برخه کښې د نتيجې په توګه دا هم مخې ته راغلي وي چې نيوټن کاينات ---ستورو ---سيارو---کهکشانونو---نبيولاز---کلسټرز---سپر کلسټرز وغيره د رياضياتي توازن او حساب کتاب نه پس دا وايي چې-----په دغه هر څه د خداى حکمراني ده---چې يواځې د نړۍ روح نه بلکې د هر څه بادشاه يې خالق او مالک دی--او په خپل دغه سلطنت کښې بايد چې هغه ذات مالک خداى يا ابدي او افاقي حکمران وګڼلی شي--دغه له هر څه طاقتور خداى ابدي لامحدود او په کامله توګه اکمل دی---
د نيوټن د ۵۸۰ صفحو په دغه کتاب کښې په صفحه ۵۰٤ د هغه خپل الفاظ هم کتلی شی---

**This being governs all things not as the soul of the world but as Lord over all and on account of his dominion he is wont to be called Lord God or universal ruler, the supreme God is a being ......eternal infinite absolutely perfect**

دا منم چې د نيوټن نه پس هم ساينس ډيره ترقي کړې ده خو دا هم حقيقت دی چې د نيوټن نه پس هم ډير ساينسدانان د الحاد نه د عقيدې په لور راغلي دي--- هر څو که ساينس او عقيده بلکل بيل بيل څيزونه هم دي---

---

۲۳ مارچ او بهګت سنګهه

نن درويشتم مارچ دی-- په دې ورځ کال ۱۹۳۱ کښې د پيرنګي د ظلم او جبر په نتيجه کښې د ازادۍ پتنګ بهګت سنګهه او د هغه دوو ملګرو سکديو او راج ګورو ته د پهانسی سزا ورکړی شوې وه---دا وخت بهګت د څلور ويشت کالو زلمی وو- بهګت او د هغه يادو شوو دوو ملګرو نه علاوه جيتن داس --اجهی کمار ګهوش-- او --دت-- درې نور د ازادۍ داسې پتنګان وو چې پښتنو سرتيرو سره يې يو ځايی د پيرنګي خلاف مبارزه کوله---کاکاجي صنوبر چې په کال ۱۹۲۴ کښې کوم انجمن زميندارن جوړ کړی وو او بيا د عبدالرحيم پوپلزئ او څو نورو پښتنو سرتيرو په مرسته د نوجوان بهارت سبا په نوم بدل شو نو پنجاب کښې يی نمايندګي دغو هندو او سکهانو سرتيرو کوله -- جيتن داس په کال ۱۹۲۹ کښې په جيل کښې د -- بهوک هړتال--له مخه سترګې پټې کړې او دت وروستو د بهګت په ملګرتيا کښې د پيرنګي د ظلم ښکار شو -- دغه ورځو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړ مخکښې پښتون اشفاق الله خان هم د پيرنګي د جبر ښکار شوی وو- پښتنو سره په ملګرتيا کښې د نيتهاجي سبهاش چندر بوس بهګت رام او څو نورو هندوانو قرباني هم د تاريخ برخه ده چې ګور چرن سنګهه يې خپل کتاب--وه بهي دن سن-- کښې ذکر کړی دی خو جتن داس دت او بهګت زمونږ پښتنو شاعرانو په خپلو شعرونو کښې هم ياد کړي دي-- د ۱۹۲۹ د پښتون مجلې يوه ګڼه کښې سمندر خان سمندر جتن داس او غازي علم دين شهيد ته په يو ځايی خراج وړاندې کوي-
دخپل قوم په غم شه داس چې مشهور شي
علم دين شه ننګيالی شه چې مغفور شي
او د همدغه کال د پښتون مجلې يو بل نظم کښې د سوات صادق نومې شاعر د دت او بهګت قرباني د ازادي خوښو د ايمان برخه ګڼي او ورته داسې خراج وړاندې کوي-
چې د دت بهګت ايمان ځان کښې پيدا کړې
پس له هغې ځان ته وايه مسلمان
او سيد رسول رسا هم وييلي دي چې-
معشوقه د ازادی به دې نصيب شي
چې پيدا شي درکښې دت او بهګتونه
يو خوا د پيرنګي خلاف د هغه وخت د هندوانو او سکهانو د ازادۍ او قربانۍ جذبه وه او بل خوا زمونږ اوسنی حالت دی چې پټ او پنا نه دی---برصغير که ازادي موندلې ده نو پکښې د داسې سرتيرو وينې شاملې دي----
د بهګت سنګهه د مړينې په ورځ يوه لنډه يادونه د ملګرو په خدمت کښې--- دغه سربازان د هيرولو نه دي---

---

ځنې ملګري رانه د شعرونو شريکولو غوښتنه هم کوي نو دغه يو زوړ غزل په مينه د ملګرو په خدمت کښې-- ودان مومند ته دې ډالۍ وي---

جنګ چې کړي د سترګو اثر پيژنم
امن راولي دغه شر پيژنم
کله د کوم لوري بام ته خيژې ته
زه خو نمرخاته د سحر پيژنم
ګرانه د دوستۍ په معنا نه رسم
بس قربانول مې د سر پيژنم
څومره چې ستم په حافظه مې کړې
بيا به هم حسين او شمر پيژنم
بيا يې بانه نيغ شول لګوي څه تور
بيا په ما حمله کړي لښکر پيژنم
مه وژنه غريب د خپل ستم په باد
لا به راژوندی شي شرر پيژنم
دواړه د صنم د لاسه اور کښې دي
دومره بس خليل او اذر پيژنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

**چې په ګنج يې مدام مار وی لکه شمع**
**اور يې اولګه شيدا په سرو او سپينو**

**وضاحت----**
**شمعې سره د سرو او سپينو زرو خزانه ده ځکه چې په سر  يې بله شوې شعله سره ده او موم يې سپين دي---خو په دغه خزانه د تور مار قبضه ده ځکه چې د شمعې منځ کښې کوم اوږد تار دی د هغې څوکه توره ده-- نو تور مار شو چې د شمعې په سرو سپينو مسلط دی--**
**شيدا وييل خو دا غواړی چې چا سره  مال مال دولت يعني سره او سپين زر زيات وی او ورسره د دولت خزانه وی خو چې خرچ کوی يی نه شومتيا کوی نو د داسې دولت مند په دولت دې اور پورې شی . خو شيدا دا مضمون څنګه بيانوی غور ورته اوکړئ.**
**په خزانه مار کښيناستل محاوره ده يعنی مال دولت بل چا ته نه پريښودل.اور دې اولګی -- هم محاوره ده يعنې-- ورک دې شی-- نه مې دی پکارـد شمعې په سر اور بل وی چې سور رنګ لری نو شيدا يی تشبيه سرو زرو سره ورکوي . د شمعې موم سپن وی نو تشبيه يی سپينو زرو سره ورکوی -- سره او سپين يعنی مال دولت.او د شمعې په منځ کښې کښې چې کوم تار وی او په سر يی اور بل وی نو د تار سر هم تور وی چې تشبيه يی د تور مار يا تورې بلا سره ورکوی. اوس غور وکړئ چې شمعې سره مال دولت يعني سره او سپين ډير وی -- ګويا د دولت خزانه ورسره وی خو د تور اوږد تار په شکل پرې تور مار مسلط وی او په شمع چې اور بل وی نو د شمعې اور سره په مناسبت کښې شيدا وايی چې په داسې دولت دې هم اور ولګی چې مدام پرې تور مار مسلط وی.ګويا دولت چې په هر شکل وی د ضرورت مند پکار دې راشی ګنې اور دې پرې پورې شی.**
**يوه ساده او اخلاقي خبره په دومره هنر کول د شيدا فنی کمال دی چې د هغه په شعر کښې يی خوند پيدا کړی دی خو  دغه فني نزاکت تشبيهات او شعري مناسبتونه يې درک کول ډير ضروري دي---**

---

**دا احساس دی د خودی کمر زما**
**دی په ښکته که شته پورته پر زما**
**حمزه بابا**

**وضاحت----**
**خدای خبر چې د دې شعر ليکلو په وخت به حمزه بابا د کوم احساس سره مخ وو--- خو ما چې ترې کوم مفهوم اخستی دی ملګرو سره يې شريکوم--**
**کمر لوړې ډېکې ته وايي---حمزه بابا وايي چې زه د خودئ داسې احساس کوم چې ځان راته د خودئ په لوړ کمر محسوس شي يا ګويا د خودئ په دنګ غر ولاړ يم-- خو چې لاندې وګورم نو د خپل اصليت په لور راشم--- زما اصليت خو زمکه دی --- زه خو خاوره يم---ګرد يم يا باد يم--- او خاوره ګرد يا باد چې ډير هم پورته والوځي نو اخر هم لاندې زمکې له راځي--- د خپل اصل په لور--- د عاجزئ په لور ---نو ځکه دويمه مصرعه کښې مخې سره ووايي چې زه هر څو که د پورته پرواز وزر لرم خو د پرواز نتيچه مې بيا هم په ښکته راتلل وي---**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوې بلې نکتې ته هم غور وکړئ چې مارغه د پورته لوري نه لاندې راځي نو وزرې يې حرکت کښني هم نه وي او د خپل جسم نه يې وزرې پورته هم وي--- گويا وزرې يې پورته وي خو پرواز په ښکته--يعني پرواز يې هم د دغه مصرې تصوير وړاندې کوي چې---
---دی په ښکته که شته پورته پر زما--
حمزه بابا صوفي هم وو---- د تصوف په اصطلاح کښې دې ته --تنزلات سته-- وايي--- يعني د خالق شپږ درجې لاندې راتلل--- مطلب ناسوتي مخلوق او خپلو بندگانو ته په شپږ درجې زيات متوجه کيدل--- او دا په هغه وخت کيږي چې بنده هم د عاجزۍ په انتهايي درجه راغلی وي--- لکه حمزه بابا چې يو بل شعر کښې وييلي دي چې--
بنده فاعل د بندگۍ ته وايي
ما بندگۍ کښې سر بلند ونه ليد
په شاعرۍ کښې د بندگۍ او عاجزۍ دغه مقام نورو شاعرانو هم بيان کړی دی-- شيدا وايي--
تواضع د بلندۍ پايه داري ده
لکه سر د کوه قاف شه بې دماغه
او رحمان بابا بيا داسې وايي
ژوندی ځان په زمکه ښخ کړه لکه تخم
که لويي غواړې د خاورو په مقام شه

---

گران واجد ځلاند او گران بلال احمد زما د دغه غزل غوښتنه کړې ده او گران ودان مومند يې يو بيت شريک کړی وو نو نن د هغوئ د مينې په احترام کښې خپل غزل ملگرو سره شريکوم---- زما د زلميتوب د وخت غزل دی--

که مستي د پيغلو نه وی په گودر کښې
هيڅ مزه به پاتې نه وه مازيگر کښې

د وصال په شپه قيدونه په ما مه ږده
گناهگار وي چې روژه نيسي اختر کښې

مخ او زلفې علامې د خير او شر دي
نه مې خير کښې څه حاصل کړه نه په شر کښې

مينه وي به زوروره خو تيټ نه شوم
دومره اوس هم زه نشه لرمه سر کښې

په پرده کښې حسن وينم حسن بين شوم
عقابي تاب مې پيدا شولو نظر کښې

اعتراف يې ښه ډاډه وکړه خليله

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سخن ور شوې په صحبت د قلندر کښې**

---

**قوم**

**خيل يا قبيله نسل امت او قوم ټول بيل بيل دي-- ډير خلق خيل يا قبيلې ته هم قوم وايي او نسل يا امت ته هم--- د قوم تعريفونه هم په سياسي مذهبي او ټولنيزو علومو کښې بيل بيل دي--- چرته د مذهب او عقيدې په بنسټ--چرته د جغرافيې -- چرته د ژبې او چرته د وينې په بنياد--- خو دغه ټول تعريفونه په څه نا څه حواله بيا هم نيمګړي پاتې شي-- ما ته پخپله د روسي ليکونکي سټالن تعريف د نورو په نسبت زيات عقلي او مناسب ښکاري--- هغه شپږ داسې بنيادي نکتې په ګوته کړې دي چې د انسانانو د يوې ډلې نه قوم جوړوي---وړومبی دا چې دغه انساني ډله د يو تاريخي تسلسل نه راتيره وي---دويم دا چې دغه تاريخي تسلسل يو اوږد دوام هم ولري-- دريم دا چې دغه ډله يوه شريکه ژبه هم ولري-- څلورم دا چې دغه ډله شريکه او تړلې سيمه يا جغرافيه هم ولري---پنځم دا چې دغه ډله مشترکه معاشي نظام او شريک مفادات يا شريکې ګټې هم ولري-- او شپږم دا چې دغه ډله يوه شريکه نفسياتي رغاونه هم ولري چې د اولس د کلتوري او تهذيبي ژوند نه يې وجود موندلی وي---**
**دغو نکتو سره اختلاف هم کيدی شي خو په يوه انساني ډله کښې که دغه ټولې نکتې شتون ولري نو قوم بللی کيدی شي--که يوه نکته هم پکښې کمه وي نو بيا قوم نه دی--په دغه پيمانه مونږ پښتانه په کوم مقام يو -- دا مونږ پخپله غور کولی شو--- البته خوشال بابا دغو کښې څو نکتو ته ډيره پخوا اشاره کړې وه چې ځنې يې په دې يو شعر کښې هم درک کولی شو--**
**درست پښتون له کندهاره تر اټکه**
**سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار**

---

**د شيدا نازک مضمون کودن ته لولې**
**د هلال رويت دې وسپاره شبکور ته**

**نازک مضمون ---- يعنی د نازک خيال شاعری۔**
**کودن---- فارسی ده يعنی ناپوهه جاهل چې د شعر په خوند نه پوهيږی۔**
**هلال ----يعنی د وړومبی شپې نری او نازکه سپوږمی۔**
**شبکور ---- فارسی ده چې د شپې د چا نظر نه لګی نو شبکور ورته وايي -- شمکور هم ورته وييلی شي۔**
**وضاحت ----**
**شيدا وايی چې زما شاعرانه خيال او مضمون خو لکه د هلال يا د وړومبی شپې د نری او باريکې سپوږمی نازک او باريک دی--- کودن او نا پوهه ته زما د شاعری لوستل او بيا ترې هغه نازک خيال راويستل او درک کول خو داسې ده لکه چې شبکور ته ووييلی شی چې د وړومبی شپې نری او نازکه سپوږمی راته په نخښه کړه------ غور وکړئ سپوږمی د شپې راخيژی او د شبکور د شپې نظر نه لګی نو دومره باريکه سپوږمی چې تيز نظره انسان يی هم په مشکله درک کوی نو شبکور به يی څنګه درک کړی۔ د شيدا د شعر نازک مضمون درک کول هم دغه حيثيت لری چې پوهه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکی سړی هم په مشکله د شعر هغه باریک خیال ته رسیدی شي نو ناپوهه او کودن به بیا دغه باریکی څنګه درک کړی شي ګویا شیدا یواځې د باذوقه او سخن شناسو خلقو شاعر دی د بد ذوقه او ناپوهه خلقو نه . ځان پرې پوهول ضروری دی-- د شیدا د تخیل مقام ته رسیدل ضروري دي-- د هغه د شعر غوټې سپړدل پکار دي او فني باریکیو ته یې د رسیدلو صلاحیت پیدا کول پکار دي -- په دې کار نه کیږي چې پوهه پرې نه شو نو وایو شیدا ډیر مشکل پسند شاعر دی--

---

ازاده لکه افتاب په تنهایی کښې
په فقدان د مشتری ګرم بازار کا

ازاده ---مطلب ازادی سره . یواځې . تن تنها.
فقدان -- یعنی کمی نشت یا لرې والی-
مشتری--- دملغلرو خریدار ته هم وایی او د نمر نه چورلیدونکي یوې سیارې نوم هم دی.
وضاحت----
راځو د شعر وضاحت ته شیدا وایي چې زما محبوب نمر دی چې ښایسته او روښانه دی او نمر چې ګرم دی نو په تنهایی کښې یې هم د حسن بازار ګرم وي - ځکه چې مشتری سیاره هر څو که د نمر نه ډیره لرې ده خو بیا هم د نمر نه چاپیره چورلی طوافونه یې کوی-- ګویا منت زاری او چاپلوسی یې کوی او ورسره نورې سیارې خو هم نمر نه چاپیره چورلي --دغسې د نمر د حسن بازار هر وخت ګرم وی لکه څنګه چې د نمر غوندې چمکدارې ملغلرې نه مشتریان یعنې خریداران چاپیره چورلی او د ملغلرې د اخستونکو بازار هم ګرم وی. ګویا د شیدا محبوب لکه د نمر هم ښایسته دی چې مشتری سیاره ترې چاپیره چورلی--- او دغه د نمر غوندې ښایسته سپین پرقنده محبوب ملغلره هم ده چې د مشتریانو بازار یې ګرم دی او چا پیره ترې چورلی-- خو په دغه ګرم بازاری کښې هم محبوب ازاده یعنې لرې یواځې او لکه د نمر او ملغلرې له هر چا بې پروا دی.
غور وکړئ--- چې د نمر ګرمۍ سره د ګرم بازاری اصطلاح راوړل---- د مشتري سیارې نمر نه چاپیره چورلیدلو سره د زار قربان او منت زاری تصور راوړاندې کول--- د نمر ازاده او د تنهایۍ ذکر سره د حسینانو په خپل حسن ناز کول او د خپلو مینانو پروا نه کول--- او همدغه مشتري سره د ملغلرو د خریدار تصور هم راوړاندې کول---- څومره د کمال ښودنه کوي--
او بیا دې ته هم غور وکړئ چې مشتري سیاره هر څو که په ساینسي تحقیق کښې د ګلیلیو تحقیقاتو سره په ۱۶۱۰ کښې دریافت شوې وه خو د نمر نه چکر سره نور تفصیلات یې د فلکیاتو ماهر سیموییل هنرچ سچاوبی په ۱۸۳۱ کښې عام کړې وو---- د شیدا د وفات کال ۱۷۸۰ عیسوي دی--- نو هغه د مشتري د نمر نه چکر او نمر نه لرې والي ته ډیره مخکښې اشاره کړې ده---- مونږ ته پته ده چې مشتري د شمسي نظام ټولو نه غټه سیاره ده چې زمکې نه دیارلس سوه واره غټه ده--- او نمر نه د لرې والي په وجه یخه سیاره هم ده -- دغه دغه د لرې والي او یخ والي په لور یې هم یوه پټه اشاره د شیدا شعر کښې محسوسیدی شي ځکه چې د نمر د ګرمۍ په مقابله کښې او د نمر د ازاده --لرې-- او تنهایۍ خبره هم شیدا کړې ده--- خو د شیدا کمال دا دی چې دغه ساینسي تصور یې ټولنیز تصور ته غاړه ویستی دی او د مشتري سیارې چکر او ګردش یې په ټولنه کښې د ملغلرو اخستونکي مشتري سره نسبت کښې راوړی دی چې سوچه او قیمتي پرقنده ملغلرې نه تاوېږي راتاویږي چې څنګه به یې واخلم--- هغه زمونږ حمزه بابا هم ویلي دي کنه---

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ته یې چې قدر هیڅ زما د اوښکو نه کړې
وایه کنه څومره مشتري درله پیدا کړم

---

دا تصویر مې مخکښې هم خپل هغه زوړ فیسبک وال نه شریک کړی وو--- دا ځل ورسره تړلې څو یادونه هم شریکوم --- د ۱۹۹۰ زمانه وه -- اسلامیه کالج کښې د دویم کال لوستونکی وم--- د پښتون سټوډنټس فیډریشن سکتر هم وم--- لږ وران او جنګیالی هم وم--- کلاس کښې به هم هر وخت غیر حاضر وم--کله کله به د اروابناد ولي خان لیدو له ولي باغ ته هم راتلو--- زمونږ پرنسپل اروابناد ارباب سکندر حیات وو چې کلک پیپلی وو او پخپله ډیر تریخ شان سړی وو--- زما په دغه سرګرمو یې زه نظر کښې اخستی وم--- یوه ورځ یې راته ووې چې دغه سرګرمۍ دې پریږده نو د خیبر مجلې مدیر به دې وټاکم خو ما پرې غوږ ونه ګرولو--- دغو ورځو کښې چې د کالج مجله خیبر چاپ شوه نو فرنټییر پوسټ اخبار ته مې یو لیک ولیږلو چې دا څومره غیر معیاري مجله ده چې ټول لیکونه پکښې راغلا شوي دي او په خپلو نومونو پردي لیکونه پکښې چاپ دي--- د مجلې د پښتو برخې پروفیسر مدیر فرمان الدین بخشالی صیب وو--- ورپسې کال د پاره مجلې د پاره مې هم لیکونه ورکړي وو چې هغه به د کالج سپرنټنډنټ مقیش ملاکوري کټل او منتخب کول-- ملاکوري صیب به مرسته زمونږ ادیب او محقق اسلم تاثیر صیب نه اخسته-- یو ورځ راته تاثیر صیب وویل چې هلکه لیکونه دې خیبر مجلې د پاره راغلي دي خو ته بدنام یې وایي چې دا هلک درنه مجله کښې را نه شي--او بیا هغه زما د فرنټییر پوسټ اخبار لیک هم فرمان الدین صیب پرنسپل ته ورسولو او هغه یې راته نور هم غصه کړو--- چې --ایف ای --نه ووتم نو بس په --بي ای --کښې یې کالج کښې داخله نه راکوله--
چې ماته پته ولګیده چې فرمان صیب خو سخت باچاخانی دی نو ورته مې ووې چې سر ستاسو باچاخاني به زما کله پکار راځي--- هن دا تصویرونه وګوره چې زه ولي خان سره څومره مینه لرم--- بس پروفیسر صیب مخې سره لارې ته راغلو--- وې هلکه ته خو ډیر په سمه لار روان یې--- بس پرنسپل ته یې زما تعریفونه او سفارشونه شروع کړل---- بي ای --کښې یې داخله هم راکړه--- بیا یې د هم هغه خیبر مجلې د پښتو برخې مدیر هم کړم کومه کښې چې زما لیک هم چاپ کیدی نه شو--- کلونه پس راسره فرمان صیب بیا کابل ته یو سیمینار له یو ځایې تلی وو--- ریټارډ شوی هم وو--- ورته مې وې فرمان صیب کالج کښې درنه سخت تنګ وم-- شکر چې بیا قیصه روغه شوه --- وې د ولي خان سر ته دعا کوه ګنې دا اوسنی دانشوري به دې هم نه وه او اوس به ما سره کابل ته داسې علمي سیمینار له هم نه وې روان----
ارباب سکندر حیات--- فرمان صیب--مقیش ملاکوری-- ټول وفات دي--- الله دې ټول وبخښي او اسلم تاثیر صیب دې راته الله لري---

---

ستا په مخ باندې ښکاره خطِ سیاه شهٔ
کهٔ غبار دی مګر سور د نیمروز شاه شهٔ
خط سیاه ---- تور خط --په سپین مخ تور ویښته زرغونیدل-
غبار--- ګرد-- توره شان دوړه یا د تور ګرد نرۍ کرښه--
نیمروز-- د یو وطن نوم هم دی--- او نیمروز نیمې ورځې یعنې د غرمې وخت ته هم وایي چې نمر پکښې تک سپین هم وي او پوره جلال هم لري--

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضاحت......په اسانو ټکو کښې خو په دې شعر کښې شیدا د محبوب په سپین مخ د تورو ویښتو یعنی خط زرغونیدلو سره د هغه حسن ستاییل غواړی چې د کلاسیکی شاعرۍ عام مضمون دی.خو د دې شعر په خوند پوهیدلو د پاره په څو اهمو نکتو پوهیدل ضروری دی. نیمروز یو وطن دی چې سیستان هم ورته وایی -- د نیمروز شاه یعنی د سیستان بادشاه به ډیر طاقتور وو او چې په اس به سور شو او پوره قوت سره به یی اس زغلولو نو په اس پسې به یی د الوتونکی تور ګرد یو نرۍ کرښه جوړه شوه.شیدا د ګرد دغه نرۍ کرښې ته د محبوب په مخ تور خط سره تشبیه ورکوی-- نیمروز نیمي ورځې ته هم وایی یعنې د ورځې دولس بجې چې نمر پکښې په پوره قوت اوتک سپین وی .شیدا د محبوب مخ ته د نیمې ورځې دغه سپین نمر سره تشبیه ورکوی چې د حسن پوره جلال او قوت سره خپله جلوه ښایي -- په دغه پس منظر کښې شیدا وایی چې دا ستا په سپین چمکدار او قوت ناک مخ تور خط زرغون شو که نه دنیمروز وطن طاقتور بادشاه په خپل تیز او طاقتور اس سور شو چې د تیز زغل سره ورپسې د تور ګرد نرۍ لیکه جوړه شوه.ګویا د محبوب حسن کښې دومره جلال پیدا شو لکه د نیمې ورځې جلالی نمر کښې او د نیمروز وطن د بادشاه په رعب او دبدبه کښې چې څومره جلال وو-- د محبوب د سپین مخ جلالي حسن د پاره د نیمې ورځې د جلالي نمر او نیمروز وطن د جلالي بادشاه د سورلۍ په وخت جلال لرل مشابهت کښې راوړل--- او بیا د سپین مخ تور خط د پاره زغلیدونکي جلالي اس پسې الوتونکی تور ګرد په تشبیه کښې راوړل څومره نادره مشاهده ده چې شیدا وړاندې کړې ده-- ورسره د شیدا تاریخي شعور هم د ستایلو دی--- په داسې حال کښې چې محبوب خو هم د تازه ځوانۍ په عمر کښې د خپل جلالي حسن په مست اس سورلي کوي----

---

زه منم چې د هرې ژبې خپل مزاج قانون قاعده ګرامر او اصول وي او په دغه قانون قاعده کښې کله کله څه استثنايي خبرې هم وي--- خو دغه استثنا چې د کامن سنس یا عقل عام نه بیخي اپوټه شي نو بنده حیران شي--- د اردو ژبې دغسې یوه نیمه استثنا مې د حیرت سره مخ کوي--- اردو ډیره خوږه او زما خوښه ژبه ده--- دومره خوښه چې ما د خپل ژوند وړومبی کتاب اردو کښې لیکلی وو او ورپسې مې نور څوارلس کتابونه هم اردو کښې ولیکل خو دغه اپوټه مزاج یې راته عجیبه ښکاري--- د مثال په توګه چې مونږ پښتو کښې وایو چې راغلم نو اردو کښې وایو چې اګیا--- خو چې د دې متضاد مونږ وایو چې درغلم نو اردو کښې ورتلو د پاره هم وایو -- اګیا---په جمله کښې خو به یې معنا سمه کړو چې-- اپ کی طرف اګیا--- یعنې ستا په لور درغلم--- خو یواځې --درغلم-- د پاره به څه کوو--- نو تله او راتله خو خپلو کښې متضاد دي--- خو اردو کښې تلو له هم--اګیا-- او راتلو له هم--اګیا---
اوس د عربۍ توری دی---مشکور-- نو عربۍ کښې خو یې معنا معلومه ده چې هغه څوک چې شکریه یې ادا کیږي--- بلکل همداسې چې ظالم ظلم کوونکی او مظلوم چې ظلم پرې کیږي--قاتل قتل کوونکی او مقتول چې قتل کیږي--عابد عبادت کوونکی او معبود چې عبادت یې کیږي--او داسې نور--- نو د دې قاعدې تر مخه خو شاکر شکر کوونکی یا شکریه ادا کوونکی او مشکور چې شکریه یې ادا کیږي--- خو اردو کښې خبره اپوټه ده--- څوک چې ما سره نیکي وکړي نو باید چې ورته ووایم چې زه دې شاکر یم او ته مې مشکور یې یعنې زه شکریه ادا کوونکی یم او ته هغه څوک یې چې زه دې شکریه ادا کوم--- خو اردو کښې چې چا سره نیکي وکړې نو هغه به درته وایي--- مین اپ کا مشکور رهونګا--- مونږ به سکول کښې د رخصت درخواست کښې هم دا لیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ماته رخصت راکړه ---مین بهت مشکور رهون ګا--- نو دا خو داسې شوه چې ما ته رخصت هم راکړه نیکي هم راسره وکړه او زما شکریه هم ادا کړه یعني ما خپل مشکور هم ومنه--پکار خو دا ده چې که د فارسی انداز کښې وایو نو چې ووایو --مین اپ کا شکر ګذار رهونګا--او که د عربی اصلي معنا کښې توری راوړو نو چې ووایو-- مین اپ کا شاکر رهونګا--- یا اپ میری مشکور رهینګی--- خو اردو کښې بیخي اپوټه ویلی شي--- پته نشته چې زما دماغ الټه دي که د اردو مزاج الټه دی--- خو زه بیا هم وایم او د زړه نه وایم چې اردو ډیره خوږه او پسته ژبه ده--

---

احاطه د نوی خط ده ښکلیه مخه
که په خله کړه اژدها ماهٍ نخشبه
وضاحت.....
د دې شعر په مفهوم پوهیدل به هله اسان شی چې د-- ماه نخشبه-- اصطلاح واضحه شی.نخشب د ترکستان د یو ښار نوم دی. حکیم ابن عطا په دې ښار کښې د پارې او نورو اجزاو د ګډون نه یوه مصنوعي سپوږمی جوړه کړې وه. د نخشب ښار کښې د صیام په نوم یو غر دی چې دغه سپوږمی به د دغه غر نه راښکاره کیده.سپوږمی تکه سپینه او غر تور هیبتناک--- غر سره د پیریانو دیوانو او اژدها تصور هم تړلی وی.شیدا دغه ټول پس منظر د شعر په دوو مصرعو کښې د تلمیح په توګه څنګه رابند کړی دی غور وکړئ.شاعری کښې په سپین مخ دتور خط یعني تازه ویښتو زرغونیدلو مضمون به ډیرو شاعرانو بیان کړی وی خو شیدا ته هم غوږ شئ.غر هم تور او هیبت ناک--- تور مار یا اژدها هم توره او ویرونکې-- بل خوا سپوږمی تکه سپینه.د نوی تازه تور خط تشبیه د تور هیبتناک غر شا ته توری تیرې سره او د سپینې سپوږمی تشبیه د سپین مخ سره ورکوی خو په داسې انداز چې دا د محبوب په سپین مخ نوی تور خط راغلو که تورې بلا یا اژدها په خله کښې د نخشب سپینه سپوږمی نیولې ده -- ځکه چې د سپین مخ نه تور خط راتاو دی لکه د تور مار-- د نخشب سپینې سپوږمی نه چې د صیام د غر شا ته خوره توره تیاره چاپیره وی او دغه انداز سره سپوږمی سر ښکاره کوی نو منظر به هم دغه جوړیږی کوم چې شیدا په دوو مصرو کښې بیان کړی دی او څومره ښکلی یې بیان کړی دی. د کمال تصویر کشي او محاکات او د کمال نادره مشاهده په دوو مصرعو کښې--- جار د شیدا له فني نزاکتونو---

---

د کال ۱۹۸۱ نننی ورځ وه چې دغه ستر انسان له مونږ جدا شو خو مونږ ته یې د خپل فکر او علم دومره څه پریښول چې په ویښ ژوندي او باضمیره اولس کښې به تر ابده  ژوندی وي---البته زمونږ یو غفلت بیا هم شته چې مونږ د هغه فکر او علم نه هغسې ګټه هم وانه خستی شوه او هغسې درناوی مو هم ور نه کړی شو څنګه یې چې حق وو--- تر دې چې نوی نسل د هغه د شخصیب او کارنامو د اهمیت نه سم خبر هم نه دی---
اروابناد دوست محمد خان کامل هغه انسان دی چې په کال ۱۹۳۸ کښې چا لسم هم نه شو پاس کولی نو کامل پکښې د علي ګړ پوهنتون نه قانون او فلسفه کښې د ماسټر سندونه راول--
کامل هغه محقق او عالم دی چې په خوشحال بابا او رحمان بابا یې مونږ ته د کره څیړنې لارې خلاصې کړې ---
کامل مرحوم په تاریخ مرصع د شپږ نیم سوه صفحو مقدمه او د تاریخ مرصع د اصلي متن نه هم زیات تشریحات ولیکل چې دغه کار شاید د کامل صیب نه علاوه بل یو پښتون هم نه وی کړی---

(c) ketabton.com: The Digital Library



کامل هغه محقق دی چې په خوشحال بابا د مستشرقینو د اعتراضاتو غاښ ماتوونکی جواب یې د خپل انګریزي کتاب--ان ای فارن اپروچ ټو خوشحال-- کښې ورکړو--
کامل هغه محقق دی چې مونږ د هغه په شوي تحقیق تر اوسه د یوې نکتې هم اضافه ونه کړی شوه--- د هغه تحقیقات تکراروو او په خپلو نومونو یې وړاندې کوو--
کامل هغه خود داره انسان دی چې د صدر ضیالحق په لاس یې د صدارتي ایوارډ او اعزاز نه هم ځکه انکار وکړو چې وییل یې زه د ډیکټیټر د لاس اعزاز اعزاز نه ګڼم---
کامل صیب د ریاکاری او شهرت پسندی نه دومره لرې وو چې د ریډیو او ټي وي پروګرامونو کښې د ګډون نه یې په کامله توګه ځان په ډډه ساتلی وو او ټول ژوند یې لیک او تحقیق ته ورکړی وو---
کامل صیب د کاکاجي صنوبر او حمزه بابا په ملګرتیا نه یواځې د اولسي ادبي جرګې جوړول ممکن کړل بلکې پښتنو ته یې د تنقید او تحقیق هنر هم وروښودلو--
کامل هغه سړی وو چې په پښتو اردو انګریزی او فارسی ژبو کښې خو یې کتابونه چاپ دي خو ورسره په عربی سنسکرت هندی او پنجابی ژبو یې هم عبور لرلو--
په سیاسي توګه د مسلم لیګ سره وو خو د هغه هومره پښتون قامپاله به ډیر کم ولیدی شي--داسې به یې وییل --
زما خاوره پښتنه پښتو مې خوئ دی
د وفا خوئ مې اخلی ځان و تن کښې
اوس دغه لوې انسان ته د خپل عصر لویو خلقو خو خراج تحسین پیش کړی دی خو زمونږ غفلت هم هغسې دی--د کاکاجي صنوبر غوندې مشر وایي چې--
تا خو صنوبره هیڅ غزل نه وې
دا خو د کامل او حمزه چارې دي
د حمزه بابا غوندې لوې شخصیت ورته په نثر کښې ځاي په ځاي درناوی وړاندې کړی دی--
قلندر مومند په ګڼو شعرونو کښې د کامل نه د تاثر اخستلو-- زدکړې --او استفادې اعتراف کړی دی--یو شعر کښې وایي--
د کامل همنشینی برکتي کړم
تجربې مې په غزل کښې روایات شي
دهمیش خلیل غوندې محقق یې خپل استاد ګڼي او په شلګونو لیکونه یې پرې کړي دي چې د هغه د وفات په موقع یې دا هم وییلي دي
یو انسان وې چې کامل وې
خیر رسانو کښې شامل وې
اوس به مونږ د خپل ځان او خپل نوي نسل نه پوښتنه وکړو چې مونږ او تاسو کامل صیب څومره پیژنو--- د هغه کار وزیار نه څومره خبر یو --هغوي ته مو څومره خراج تحسین وړاندې کړی دی--- مونږ پرې څومره کار کړی دی--- او د کامل مرحوم په پښتو ژبه او پښتون اولس د کوم احسان بدله مو ورکړې ده--- زما خیال دی چې د غفلت او ملامت نه سیوا به هیڅ ونه وییلی شو---- روح یې ښاد---

---

توسن د فلک-- درحمان بابا او شیدا په شعر کښې--

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي توسن د فلک زين کاندي له نازه
دا هلال يې په ځای راشي د رکاب
رحمان بابا
چي توسن د فلک ګرځي بې لګامه
شهسوار به يې څه حظ واخلي له ګامه
شيدا
هلال -- د ورومبو شپو سپوږمۍ --چې د ربا يوه نرۍ راتاو شوې کرښه ليدی شي--
توسن او فلک---فلک خو اسمان ته وايي او توسن د اس هغه زلمي بچي ته وايي چې مست وي--
څوک يې قابو کولی نه شي او تيز زغلي--
زين---- د سورلۍ د پاره د اس په ملا د څرمني ګدۍ-- يا
اس سورلۍ ته تيارول-- پښتو کښې تيار او تابعدار سړي د پاره محاوره هم شته--- زين کړی اس--
يا کته کړی خر--
رکاب--- په اس د سورلۍ د پاره د ورختلو وخت کښې چې پښه کوم ځيز کښې ايښودلی شي دغه
رکاب وي چې د اوسپنې نه جوړ وي او نری راتاو شان شکل لري--
وضاحت---
رحمان بابا چې د ښايسته محبوب حسن ښايي نو سپوږمۍ هر څو که د ښايست علامت دی خو د
خپل محبوب د حسن نه يې ډيره کمه ګڼي-- فلک چې د اوچت والي کبر او غرور او جلال علامت دی
نو رحمان بابا وايي چې زما حسين او په خپل حسن غره محبوب خو هسې هم ښايسته دی خو کله
چې ډول سينګار هم وکړي او نور تياری کوي نو دا داسې ده چې ګويا د جلالي مست او ګرځيدونکي
يا زغليدونکي اسمان اس سورلۍ د پاره تياروي--- او چې د کبرو غرور په دغه اسمان سوريږي
نو د حسن علامت سپوږمۍ هم د پښو لاندې کوي--- سپوږمۍ يې د رکاب حيثيت اختياروي-- دومره
په خپل حسن غره وي او دومره يې ناز وي--- شعري کمال يې هم وګورئ چې د نرۍ سپوږمۍ او
رکاب شکل هم يو شان وي - يو بل شعر کښې سپوږمۍ سره د حسن بل څرګند علامت نمر هم د
خپل محبوب د حسن نه سپک او کمتر ګڼي --وايي-
ما چې ستا ښايست او نمر سپوږمۍ سره په تول کړه
تللي تر اسمانه په ميزان کښې سپوږمۍ نمر دي--
غالب هم وايي چې--
حسن ماه ګرچه به هنګام کمال اچها هی
اس سی ميرا مه خورشيد جمال اچها هی
اوس شيدا ته هم غور وکړئ چې د ---توسن د فلک --ذکر څنګه کوي--
چي توسن د فلک ګرځي بې لګامه
شهسوار به يې څه حظ واخلي له ګامه
د اسمان ګرځيدل درې څرګندې معنې لري--- يوه شعري-- چې اسمان پکښې د جلالي حسن کبر
غرور او عظمت علامت وګڼلی شي---دويمه کلتوري او ټولنيزه معنا --چې د اسمان ګردش يا
ګرځيدل د زمانې تيريدلو د پاره راوړلی شي-- چې دغه د اسمان ګردش د وخت تيريدو سره په چا
رحم کوي او په چا ظلم--د تقدير يا مقدر اصطلاح هم دغو معنو کښې راوړلی شي -- دريمه ساينسي
معنا چې په فضا کښې ټولې کرې ستوري او سياري په حرکت چکر او ګردش کښې دي----د شيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر کښې دغو درې واړو معنو ته توجو پکار ده---دلته هغه --توسن د فلک--پخپله د اسمان مستۍ چکر او زغل په معنو یادوي-- بیخي د مست اس غوندې بې لګامه او بې قابو---اوس حسین محبوب خو هم د خپل حسن په نیلي سور دی---سورلي کوي او شهسواري کوي-- خو کله چې ورته احساس وشي چې د اسمان اس هم بې لګامه دی--د قابو نه بهر دی---ډیر حسینان مغروران او شهسواران یې هم د خپلې ملا نه وغورزول--او د مرګ په خوب یې اوده کړل--- نو دغه حسین محبوب هم ویریږي--- د خپل حسن په اس سور ښایسته محبوب دغه د اس د ګام نه هډو حظ یا خوند اخستلی نه شي--- د اس ګام یې خپله دغه د حسن ادا ده خو محبوب ترې ځکه محظوظ کیدی نه شي چې د فلک توسن هم بې لګامه ویني--- ګویا په حسن غرور هم نابود دی ځکه چې حسن له هم یوه ورځ خو زوال شته--- د غني په وینا--
حسن له زوال شته مینه نه لري زوال

---

نن د خوشحال بابا د وفات ورځ ده--- پښتانه بویه چې بیا چرته خوشحال پیدا کړي--- بلکې په نړیوالو شخصیاتو کښې بویه چې خوشحال پیدا شي--- په یو وخت--- جنګجو --سپه سالار-- سیاستدان-- سردار--ښکاري--د طب ماهر--مفکر --د مذهب او فقهي مسلو ماهر--- فلسفي-- نفسیات دان-- تاریخ دان-- --جغرافیه دان --مترجم او ادیب---- ګویا ادب د بابا د ژوند یو جز وو--خو دغه جز یې هم د کل حیثیت لرلو---نثر لیکونکی او شاعر دواړه---په شاعرۍ کښې بیا نه یواځې د خپل دور هره موضوغ بلکې د راروان وخت موضوعاتو ته هم اشارې--ګویا د خپل وخت نه په سوونو کاله مخکښې پیدا شوی شخصیت--- چې نړۍ نن هم د هغه فکر ته نه ده رسیدلې--په هر څه کښې اول---خوشحال بابا نه مخکښې د پښتو شعري کتابونو او دیوانونو کښې صرف یوه موضوع وه--تصوف او وحدت الوجود---خوشحال بابا پښتو د هر نوي مضمون او صنف سره مخ کړه--- په هر څه کښې وړومبی---سوات نامه وړومبی سفرنامه لیکونکی او وړومبی جغرافیه دان--هندوکوه نامه وړومبی رپورتاژ لیکونکی---تاریخ مرصع کښې د هغه د بیاض برخه وړومبی تاریخدان-- دستارنامه---وړومبی نقاد او محقق--- او په شاعرۍ کښې هره تولنیزه موضوع او صنف پښتو کښې په وړومبي ځل د بابا بخښنه--- بنده حیران شي چې په یو وجود د سلو شخصیاتو کار څنګه ممکن شو---د نړۍ په ادب د هغه فکري اثرات دي خو مونږ پښتنو لا دریافت کړی نه دی--- هغه د رحمان بابا خبره چې---
زه په واړو کښې اول یم دویم نه یم
روح یې شاد--

---

خدایی زده چې څه راز دی په بابا او په ماما کښې
ورد وي د ماشوم دغه الفاظ په ابتدا کښې
ښکاري راته دا چې فطرتي ژبه پښتو ده
ګویا د ازل نه انساني ژبه پښتو ده
حمزه بابا
نن د حمزه بابا د تلین د ورځې په مناسبت د پښتو ژبې په اړه د هغوئ یو زړه راښکونکي تصور ته د ملګرو توجه را اړول غواړم---حمزه بابا د --بابا--او --ماما--الفاظ په بنیادي توګه د پښتو ګڼي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیا وایي چې د نړۍ د هر تهذیب او سیمې د ماشوم په خله ابتدا کښې همدغه د پښتو الفاظ راځي چې دې کښې به څه راز وي بغیر د دې نه چې پښتو د ازل نه فطرتي او انساني ژبه وګڼلې شي--- په وړومبي نظر خو د بابا دغه تصور جذباتي او پښتو سره د مینې نتیجه ښکاري خو که د دغه تصور علمي تجزیه وکړې شي نو دې تصور ته د دوو اړخونو مرسته هم حاصله ده---یوه ژبنیزه اړانه او دویمه ټولنیزه نفسیاتي اړانه---راځئ چې غور پرې وکړو-

ژبننیزه اړانه--

دا خو تجربې نه جوته ده چې د نړۍ د هر تهذیب د ماشوم په خله وړومبی هغه مختصر ترین اواز راتلی شي چې شونډې پرې رایوځایی شي او هغه په څرګند ډول---با--او --ما-- کیدی شي---بیا د څه وخت د ریاضت نه پس ماشوم دغه با او ما---غبرګ هم وییل شروع کړي لکه-- بابا---او ماما--هر څو که دغه مرحله کښې ماشوم سره د دغو لفظونو د معنا شعور نه وي---

اوس که وګورو---په عربۍ کښې د مختلفو رشتو د نومونو ابتدا د----ب-- په ځایی--الف نه کیږي---لکه مور د پاره---ام--پلار د پاره---اب--ورور د پاره --اخ---نو ځکه دا بابا او ماما د عربۍ توري خو نه دي---په فارسۍ کښې د بابا ماده ---باب--دی چې --پاپ--هم تلفظ کیږي--چې اردو او هندۍ کښې---باپ--دی--او په یونانۍ کښې-- پاپاس-- دی --همدغه-- پاپا--بنګالی کښې ماشوم یا زلمي ته هم وایي چې انګریزۍ کښې بیا ماشوم ته--بیبي---وایي---غرض دا چې په--بابا-- او --ماما --کښې د پلار نیکه یا مشر بزرګ په معنا دغه تلفظ په کامل ډول بغیر د پښتو نه یوه ژبه کښې هم نشته نو بیا دې مونږ د دغو تورو مونډ او جرړه د پښتو ولې ونه ګڼو---او که مونډ یې د پښتو وي نو د هر تهذیب د ماشوم په خله په فطري ډول ابتدا کښې دغه الفاظ راتلل خو بیا همدا ښایي چې پښتو فطرتي ژبه هم ده او انساني ژبه هم---

ټولنیزه نفسیاتي اړانه---

ما د معروف نفسیات دان جی ایف سټورټ په کتاب --ګرینډ ورک اف سایکالوجي---اردو ترجمه --علم النفس--کښې یوه حواله کتلې وه چې د ماشوم په ابتدایي ژبنیزه سایکالوجي تجربه کوي----هغه ماشوم ته د ابتدایي شعور په مرحله کښې وایي چې د---بابا--پوزه کومه ده---نو بابا یا بیبي خو مغربي ټولنه کښې ماشوم ته وایي پکار ده چې ماشوم خپلې پوزې ته اشاره کړې وی---خو ماشوم په جواب کښې د پلار پوزې ته اشاره کوي ګویا د ماشوم په جبلت کښې --بابا--پلار د پاره تصور لري---او پښتو کښې هم داسې ده--

نو ځکه زه وایم چې د ژبنیزې او نفسیاتي دواړو حوالو نه پس د حمزه بابا په دغه تصور غور پکار دی چې ایا په رښتیا هم د انسان جبلي او فطري ژبه پښتو خو نه ده---

---

نن د مرزا اسدالله خان غالب د وفات ورځ ده د هغه د مشهور اردو غزل پښتو ترجمه د مینه والو په خدمت کښې چې ځایې په ځایې پکښې مرګ ته اشارې شوې دي--- د هغه د مرینې د ورځې په مناسبت----

یہ نہ تھی ہماری قسمت کہ وصالِ یار ہوتا
اگر اور جیتے رہتے، یہی انتظار ہوتا

تِرے وعدے پر جِئے ہم، تو یہ جان، جُھوٹ جانا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کہ خوشی سے مرنہ جاتے، اگراعتبار ہوتا

تِری نازُکی سے جانا کہ بندھا تھا عہدِ بُودا
کبھی تو نہ توڑ سکتا، اگراستوار ہوتا

کوئی میرے دل سے پوچھے ترے تیرِ نِیمکش کو
یہ خلِش کہاں سے ہوتی، جو جگر کے پار ہوتا

یہ کہاں کی دوستی ہےکہ، بنے ہیں دوست ناصح
کوئی چارہ ساز ہوتا، کوئی غم گسار ہوتا

رگِ سنگ سے ٹپکتا وہ لہوکہ، پھر نہ تھمتا
جسے غم سمجھ رہے ہو، یہ اگر شرار ہوتا

غم اگرچہ جاں گُسل ہے، پہ کہاں بچیں کہ دل ہے
غمِ عشق گر نہ ہوتا، غمِ روزگار ہوتا

کہوں کس سے میں کہ کیا ہے، شبِ غم بُری بلا ہے
مجھے کیا بُرا تھا مرنا، اگر ایک بار ہوتا

ہوئے مرکے ہم جو رُسوا، ہوئے کیوں نہ غرق دریا
نہ کبھی جنازہ اٹھتا، نہ کہیں مزار ہوتا

اسے کون دیکھ سکتا کہ یگانہ ہے وہ یکتا
جو دوئی کی بُو بھی ہوتی توکہیں دوچار ہوتا

یہ مسائلِ تصّوف، یہ ترا بیان، غالبؔ
تجھے ہم ولی سمجھتے، جو نہ بادہ خوار ہوتا

پښتو ترجمه

زما دومره نصیب چرته --- چې دیدن به د یار وکړم
که ژوندی یم تر ابده --- تل عمري انتظار وکړم

په لوظونو به دې پایم---ګله څه ښکلي دروغ دي
مړ چې نه شم خوشالۍ نه --- کۀ په تا اعتبار وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نزاکت دې د مزاج دی --- چې وعدې کوې نازکې
داسې کلکه وعده وکړه--- لکه زهٔ چې اقرار وکړم

چې لینده کښې غشی سم کړې ---د زړهٔ حال نه مې خبر شه
دغه درد له کومه راغی --- چې ځیګر ته پرې لار وکړم

دا لا څنګه رفاقت دی --- چې ملګری مې ناصح شو
په مرستیال به تسله کړم --- په دردمند به قرار وکړم

په رګونو کښې د کانو --- به هم وینې بهیدلې
کهٔ دې غم ته هم نسبت زه ---د بڅرې د نار وکړم

غم له تنه سا وباسي--- خو دی زړهٔ سره څهٔ وکړم
غم د مینې کهٔ ونهٔ کړم ---نو به غم د روزګار وکړم

چا ته څهٔ ووایم څهٔ ده ---د غم شپه بده بلا ده
بس که یو ځلې مرګی وي ---زهٔ به هم ورته وار وکړم

چې په مرګ باندې رسوا شوم ---کاش لاهو په سمندر وی
نهٔ به شور د جنازې او --- نهٔ چرچه په مزار وکړم

هغه څوک چرته لیدی شي ---چې ځانګړی او یکتا دی
د دویئ کهٔ څرک درک وی ---زه یې څه سروکار وکرم

باریکئ د تصوف چې ---ستا په خله راشي غالبه
سم ولې یې; تغافل کهٔ ---ستا له خوئ د خمار وکړم

---

سکون او رفتار--- د مادیت او روحانیت استعاره--

رحمان بابا د کمال شاعر او د تغزل بادشاه دی--- ټکو تورو سره لوبې کوي--- د مادي ژوند د پاره یې د --سکون-- توری او روحاني پرواز د پاره یې د --رفتار-- توری څومره په هنر راوړی دی--په مادي ژوند کښې د خودداری درس چې ورکوي نو وایي---

نه مې ښکته ملک لیدلی دی نه پورته
خبر نه یم په یمین او په یسار
اب و خور لکه اسیا په ځایې رارسي
په خپل کور کښې مې سکون دی هم رفتار

(c) ketabton.com: The Digital Library



يمين او يسار يعني ښي او ګس لوري نه ناخبره يم او دغه وجه ده چې نه مې ښکته ملک ليدلی دی او نه پورته--ګويا په هيچا پسې نه ګرځم--له هيچا څه نه غواړم--- رزق خدای پاک په خپل کور رارسوي -- بس هم دغه په کور ناسته او سکون زما حرکت او رفتار هم دی--بيخي هم داسې لکه چې اسيا يعني د ژرندې پل په خپل ځای چورلي نو ګويا دغه چورليدل يې رفتار هم دی-- چې له خپله ځايه چرته هم نه ځي او اب و خور يعني اوبه او خوراک په خپل ځايې ور رسي---غور وکړئ د ژرندی پل کښې ژوند او حرکت د همدغو اوبو او دانو په وجه وي چې دواړه ورته په خپل ځايي رارسي-- خو دا د --توکلت علی الله-- خبره ده او د خود داری درس دی-- د محنت او جدوجهد نه فرار نه دی---ګنې محنت د پاره خو رحمان بابا په څرګند ډول ويیلي دي چې --

ماته ملا په مشقت په محنت ښه ده

نه حرامه هميانی د چا تر ملا

دغه د رحمان بابا په کلام کښې د مادي ژوند تصوير دی--- اوس يې د روحانيت تصور ته غور وکړئ--- د روحاني تصور د پاره د زړه او روح اصطلاحات راوړي او وايي چې په مادي وجود خو په خپل کور کښې ساکن هم يم --نه مې ښکته ملک ليدلی دی نه پورته --خو زړه او روح مې د هندوستان او خراسان سيل او سفر کوي چې يو ښکته ملک دی او يو پورته--- او بيا دې کمال ته يې وګورئ چې د هندوستان ښکلي توربخن او سکاڼ دي نو رحمان بابا يې د يار تورو زلفو د پاره علامت کوي---او خراسان چې د سپين بخن حسن د پاره مشهور دی نو رحمان بابا يې د يار مخ د پاره علامت کوي--- دغه پس منظر کښې يې د مادي وجود د سکون او خلوت سره د زړه د دنيا سيل او سفر ته ځير شئ---

چې د يار زلفي رخسار مې په زړه نقش شو

خپل خلوت مې خراسان او هندوستان شو

د يار د دغو تورو زلفو او سپين رخسار د پاره يې د هندوستان او خراسان استعاره يواځې د زړه په مملکت نه ده خوره-- بلکې روح يې ورته هم ناقراره کړی دی- - دومره ناقراره چې په مادي توګه په خپل کور کښې ناست رحمان په روحاني توګه د هندوستان او خراسان سفرونه کوي--غور وکړئ---

ستا په زلفو په رخسار پسې رحمان يم بې وطنه

مسافر د هندوستان او خراسان دی زما روح

بس دغه شعري کمال دی زمونږ د کلاسک او بيا د رحمان بابا چې زمونږ نقادان او دانشوره طبقه يې بايد په ښايسته توګه راوسپړي

---

سکون او رفتار--- د ماديت او روحانيت استعاره--

رحمان بابا د کمال شاعر او د تغزل بادشاه دی--- ټکو تورو سره لوبې کوي--- د مادي ژوند د پاره يې د --سکون-- توری او روحاني پرواز د پاره يې د --رفتار-- توری څومره په هنر راوړی دی--په مادي ژوند کښې د خودداری درس چې ورکوي نو وايي---

نه مې ښکته ملک ليدلی دی نه پورته

خبر نه يم په يمين او په يسار

اب و خور لکه اسيا په ځايي رارسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل کور کښې مې سکون دی هم رفتار
يمين او يسار يعني ښي او ګس لوري نه ناخبره يم او دغه وجه ده چې نه مې ښکته ملک ليدلی دی او نه پورته---ګويا په هيچا پسې نه ګرځم---له هيچا څه نه غواړم--- رزق خدای پاک په خپل کور رارسوي -- بس هم دغه په کور ناسته او سکون زما حرکت او رفتار هم دی---بيخي هم داسې لکه چې اسيا يعنې د ژرندې پل په خپل ځای چورلي نو ګويا دغه چورليدل يې رفتار هم دی-- چې له خپله ځايه چرته هم نه ځي او اب و خور يعني اوبه او خوراک په خپل ځايي ور رسي---غور وکړئ د ژرندی پل کښې ژوند او حرکت د همدغو اوبو او دانو په وجه وي چې دواړه ورته په خپل ځايي رارسي-- خو دا د --توکلت علی الله-- خبره ده او د خود داری درس دی-- د محنت او جدوجهد نه فرار نه دی---ګني محنت د پاره خو رحمان بابا په څرګند ډول ويلي دي چې --
ماته ملا په مشقت په محنت ښه ده
نه حرامه هميانی د چا تر ملا
دغه د رحمان بابا په کلام کښې د مادي ژوند تصوير دی---- اوس يې د روحانيت تصور ته غور وکړئ--- د روحاني تصور د پاره د زړه او روح اصطلاحات راوړي او وايي چې په مادي وجود خو په خپل کور کښې ساکن هم يم --نه مې ښکته ملک ليدلی دی نه پورته --خو زړه او روح مې د هندوستان او خراسان سيل او سفر کوي چې يو ښکته ملک دی او يو پورته--- او بيا دې کمال ته يې وګورئ چې د هندوستان ښکلي توربخن او سکاڼ دي نو رحمان بابا يې د يار تورو زلفو د پاره علامت کوي---او خراسان چې د سپين بخن حسن د پاره مشهور دی نو رحمان بابا يې د يار مخ د پاره علامت کوي--- دغه پس منظر کښې يې د مادي وجود د سکون او خلوت سره د زړه د دنيا سيل او سفر ته ځير شئ---
چې د يار زلفې رخسار مې په زړه نقش شو
خپل خلوت مې خراسان او هندوستان شو
د يار د دغو تورو زلفو او سپين رخسار د پاره يې د هندوستان او خراسان استعاره يواځې د زړه په مملکت نه ده خوره-- بلکې روح يې ورته هم ناقراره کړی دی- - دومره ناقراره چې په مادي توګه په خپل کور کښې ناست رحمان په روحاني توګه د هندوستان او خراسان سفرونه کوي--غور وکړئ---
ستا په زلفو په رخسار پسې رحمان يم بې وطنه
مسافر د هندوستان او خراسان دی زما روح
بس دغه شعري کمال دی زمونږ د کلاسک او بيا د رحمان بابا چې زمونږ نقادان او دانشوره طبقه يې بايد په ښايسته توګه راوسپړي

---

نن د لوې ترقي پسند شاعر فيض احمد فيض د زيږون ورځ ده---- په دغه مناسبت به د هغه يو اردو غزل د خپلې پښتو ترجمې سره خپلو ملګرو سره شريک کړم--- روح يې شاد---

دونوں جہاں تیری محبت میں ہار کے
وہ جا رہا ہے کوئی شبِ غم گزار کے

ویراں ہے مے کدہ خم و ساغر اداس ہیں

(c) ketabton.com: The Digital Library



تم کیا گئے کہ روٹھ گئے دن بہار کے

دنیا نے تیری یاد سے بیگانہ کر دیا
تجھ سے بھی دلفریب ھیں غم روزگار کے

اک فرصتِ گناہ ملی وہ بھی چار دن
دیکھے ھیں ہم نے حوصلے پروردگار کے

بھولے سے مسکرا تو دیے تھے وہ آج فیض
مت پوچھ ولولے دلِ نا کردہ کار کے

پښتو ترجمه

ستا په مینه یې لوګی دین او دنیا کړه
یو سرې زړه چاودې توره شپه سبا کړه

میکده ورانه ساغر او خم خفه دي
د سپرلي ورځو هم تا پسې ژړا کړه

ستا د یاد نه دنیا داسې نا اشنا کړم
ستا نه هم د روزګار غم زیاته ځلا کړه

د ګناه موقع یې راکړه خو دوه ورځې
د خالق په حوصله هم سترګې وا کړه

بې خیالۍ کښې خو مسکی شوله نن فیضه
چپ شه زړه مې ورپسې جوړه غوغا کړه

یادونه------د څلورم شعر د اردو ---چار دن-- مې پښتو کښې په---دوه ورځې---ځکه اړولی دی
چې پښتو کښې راته دغه معني خیز ښکاریدو---

---

د ارتقا نظریه او غلط فهمۍ-نن د ډارون د زیږون ورځ هم ده

د ارتقا نظریه معروف حیاتیاتي ماهر او ساینسدان چارلس ډارون د نوم سره زیات شهرت لري...هر څو که د دغه نظریې جرړې په قبل مسیح دور کښې د یوناني مفکرینو خصوصاً د انیکسي ماندر اوامپیډوکلیز په افکارو کښې تر نظره کیږي او بیا په اتمه عیسوي صدۍ کښې د مسلمانانو ساینسدانانو خصوصاً ابو عثمان جاحظ او ابن مسکویه او څو نورو مفکرینو په افکارو کښې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظره کيږي خو په زيات ساينسي او تجرباتي انداز دغه نظريه د مغربي دانشور ليمارک د تحقيق سره رامخې ته شوه چې د حيواناتو په فلسفه يې په ۱۸۰۹ کښې خپل کتاب رامخې ته کړو.بيا په کال ۱۸۵۹ کښې چې د ډارون کتاب ــاوريجن آف سپيشيز بايی ميينز آف نيچرل سليکشنــمخې ته راغلو نو بس دغه نظريه د ډارون سره داسي منسوب شوه چې تر ننه منسوب ده او د ډارونزم په نوم ياديږي چې د مزيد تحقيق نه پس پکښې د نيو ډارونزم مکتب هم مخې ته راغلو...
ډارون د دغه کتاب نه پس هم درويشت کاله ژوندی وو.په دغه موضوع يی يو بل کتاب ـډيسنټ آف آډم. هم ليکلی دي.د هغه په ژوند هم د هغه په نظريه د ساينس په تناظر کښې اعتراضونه وشول چې ډارون يی جوابونه هم کړي دي او وروستو هم د تنقيد او اعتراض دغه لړی روانه پاتې شوه.
په کال ۱۹۰۱ کښې چې د فرانسيسي دانشور هيوګودي ورايز د ــميوټيشن تهيوريــمخې ته راغله چې د جينز او کروموسومز د بنيادي يونټ نه د نوي ژوندي نسل په لور د فطري قوانينو د تنوع ځيرنه پکښې شوې وه نو دا د ډارون په نظريه يو غټ علمي تنقيد وو چې د ـقانون وراثتـساينسي ماهر جان مينډل د تحقيق نه يی نور هم تاييد کيدلو.
زه دلته د ډارون په نظريه بحث او تجزيه خو نه شم کولی البته دې لړ کښې د لوستونکيو ځو غلط فهميو ته اشاره کول مې مقصد دی...
۱ــيو دا چې ډيرو کسانو بس تش د ډارون او ارتقا نوم اوريدلی دی نور يی پخپله هيڅ نه دي کتلي او په ډارون اعتراض کوي چې هغه ويلي دي چې انسان د بيزو اولاد دی.نو خبره داسې نه ده.ډارون د وړوومبۍ خليې نه شروع کړې ده...د يوني سيلولر مادې نه د ملټي سيلولر مادې په لور د ارتقا خبره يی کړې ده او بيا يی د انواع يا نسلونو د ورايټي يا رنګارنګۍ خبره کړې ده چې لړۍ يی انسان ته رسولې ده ..او دغه ځيرنې د پاره هغه پنځه کاله په بحري جهاز يا کشتۍ کښې نوکري او سفرونه کړي دي.سمندري سالرونکي يی د خپلو تجربو بنياد جوړ کړی دی او بيا د خشکۍ سالرونکيو د ارتقا په لور تلی دی..
۲ــدغو خلقو کښې داسي هم شته چې د ډارون د کتاب نوم هم نه ورځي يا يې نوم غلط اخلي خو په ډارون به بحثونه او تبصرې کوي.
۳ــيو شمير داسي دي چې د ترجمو او ثانوي حوالو په لاره يی دغه نظريه کتلي ده او خپلی عالمانه تبصرې پرې کوي.او که څوک ترې پوښتنه وکړي نو د خپلو تبصرو نه هم سم نه وي خبر.
٤ــيو شمير داسي دي چې په ډارون شوی علمي او ساينسي تنقيد يی نه دی لوستی او د ډارون نظريی ته يی يا خو حرف اخر ويلي دي او يا يی د عقيدې درجه ورکړې ده..
٥ـداسي هم شته چې د ډارون کتاب يی انګريزۍ کښې هم کتلی خو وي خو د خپلی مذهب ويزارۍ د پاره يی ډارون ډهال جوړ کړی دی او د ساينس په نشه کښې د خالق د قانون تخليق نه انکار کوي...حال دا چې ډارون پخپله چرته هم د خدايی د قانون تخليق نه انکار نه دی کړی..
٦ــوروستي خبره دا ده جې ډارون پخپله د ابتدايی تخليق کرشمې خدای پاک ته منسوبوي خو زمونږ دغو دانشورو صاحبانو ته ښکاري نه...دا اقتباس يی وګورئ چې ښکاره يی ويلي دي او د کتاب وروستی پيراګراف او نتيجه يی همدغه ده چې...
ـــــد ژوند په تصور کښې يو داسې کمال مخې ته راځي چې ګڼ شمير تخليقي قوتونه چې وړومبۍ بنيادي سا يی اخستي ده يعنې ژوند يی موندلی دی نو د خالق له مخه...په ګڼو شکلونو کښې يا په يو شکل کښې...
د ډارون په الفاظو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**There is grandeur in this view of life,with its several powers,having been origionally breathed by the creater into a few forms or into .one**

---

**زر به رسوا شي د مضمون دزده**
**جامه غمازه د جامه دز ده**
**کله پټېږي له مبصره**
**متاع په بلخ کښې چې د قندز ده**

**دزده---- دزد غل ته وايي---يعني د مضمون فکروخيال غله**
**غمازه--- غمازي کوونکې---خبر ورکوونکې---حال ويونکې--**
**مبصر-- تبصره کوونکی--- نقاد--**
**متاع--- مال--دولت---جنس يا څه څيز--**
**جامه دز--- جامه جوړونکی--- درزي---خياط--**
**وضاحت.....**
**مضمون نه مراد شاعرانه خيال فکر اوشعری تکنيک دی.دزد-- فارسی کښې غل ته وايی.جامه دز-- يعنی د جامې کپړې جوړونکی درزي يا خياط. بلخ او قندز د افغانستان د دوو ښارونو يا سيمو نومونه دی. دې شعر کښې دغه دوه ښارونه يا سيمې يادول يو تاريخی پس منظر لری.بلخ د ازبکستان په سرحد پروت دی او قندز د تاجکستان.قندز يخ اوسرسبزه ښار دی چې سبزۍ او ميوې زياتې پيدا کوی او ورسره د جامې کپړې دپاره هم مشهور دی.په يو وخت کښې به د سبزۍ او ميوې نه پرته د اعلی قسم جامه کپړه هم د قندز نه بلخ ته تله چې بلخيانو به وييل چې دا زمونږ د بلخ خپل پيداوار دی خو چې جامه به جوړه شوه او وا به غوستی شوه نو د ډير ښه معيار په وجه به پرې خلقو تبصره کوله چې دا خو دومره اعلی ده لکه د قندز نه چې راغلې وی.يعنې د جامې معيار به پخپله غمازی کوله چې دا د بلخ نه بلکې د قندز ده.دې پس منظر کښې شيدا غل شاعر ته وايی چې ته د مضمون فکر خيال او تکنيک غلا خو کوې خو لکه د بلخيانو به ډير زر رسوا شې ځکه چې د شاعرۍ اسلوب او انداز خو هم د شعر جامه اولباس دی.دا جامه يعنې شعری اسلوب خو پخپله حل وايی او غمازی کوی چې اصلی خيال او مضمون د چا دی او چا غلا کړی دی .لکه د بلخ د مبصر دشاعرۍ نقاد نه هم دغه غلا شوی مال متاع يعنی مضمون پټيدی نه شی .صفا پته لګی چې د قندز مال بلخ ته رسيدلی دی.نو ضرور به د شعر دغه غله هم ډير زر رسوا کيږی لکه خوشال بابا چې دستارنامه کې هم ويېلی دی چې ---څوک چې غلا کا ځان به رسوا کا--خو کاظم خان شيدا په کومه سليقه وييلی دی غور پرې وکړۍ.**

---

**اردو کښې د تذکير او تانيث قاعده او پښتانه---**

**اردو ويونکي اکثر د پښتنو په اردو وييلو اعتراض کوي چې پښتانه اردو کښې مذکر مونث غلط وايي---- خو دغو اردودانو نه زما هم څو پوښتنې دي----**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ژبه کښې د تذکير او تانيث يوه قاعده وي--- اردو کښې هم شته-- د اردو د قاعدې او قانون تر مخه چې کوم توري په ليکلو کښې په -- ت-- ختم شي نو مونث وي-- لکه غيرت-- طاقت--
شجاعت-- دولت حکومت وغيره---- نو بيا ---شربت-- ولې مذکر دی---- دغسې کوم توري چې په ليکلو کې په غونډه --ي-- ختم شي هغه هم مونث وي-- لکه چهوټي--بړي--لړي-- کهاني --پراني وغيره---- نو بيا--پاني-- ولې مذکر دی--- تر دې چې ---ادمي -- خو هم بيا مونث پکار وو--- ګنې د ادمي په ځايې--- ادما-- پکار وو----
مطلب دا چې د اردو دغه قاعده ناقصه ده--- خير دی ناقصه دې وي خو بيا کامن سنس **comen sense** خو يې سم پکار وو---- چې کومو څيزونو کښې رعب جلال او عظمت وي هغه مذکر--- او کومو کښې چې ښايست-- نرمي او نزاکت وي نو هغه مونث پکار وو---ځکه چې په عمومي ډول د مذکر او مونث خصوصيات همدغه دي--- خو د اردو نازک او ښايسته-- چاند-- هم مذکر دی---
عجيبه دا ده چې-- غيرت-- او --طاقت --يې مونث دي---خو --ډر-- او-- خوف-- يې مذکر
دي---غټ --بس -- يې مونث ده او وړه-- رکشه-- يې مذکر دی--- پګړي -- چې سړی په سر ږدي نو مونث ده--او --دوپټه-- چې ښځه په سر ږدي نو مذکر دی--- نوره عجيبه دا ده چې د پردو ژبو تورو او څيزونو له هم پخپله خوښه جنس بدلوي--- کتاب-- چې د عربی توری دی نو هلته مذکر دی خو اردو ته چې راشي نو مونث شي--- پوليس--چې د انګريزئ توری دی--- په خپله ژبه کښې مذکر دی خو اردو ته چې راشي نو مونث شي---- نو عجيبه نه ده چې نه خپله قاعده درسته--- نه کامن سنس مناسب--- نه نورو ژبو نه اخستی شوو تورو سره روا رويه---- بيا اعتراض هم د پښتنو په اردو ويبلو چې مذکر مونث غلط وايي--- نو چې د اردو ټوله معامله الټه ده نو پښتون خو مجبور دی چې ووايي --
شکيله اګيا---- او سمندر خان چلي ګئ--- ځکه چې اردو په خپله الټه معامله د پښتنو سايبکي هم الټه کړې ده--- بلکې د پښتنو مازغه يې خراب کړي دي چې دې اردو کښې خو هر څه اپوټه دي---- بس شاعری کښې به هم اوس نازکي محبوبا ته سپوږمی نه وايو---- دا خو مذکر وختو---

---

دې څو ورځو کښې زما تفصيلي سريزو سره څلور داسې کتابونه چاپ شو چې په سريزو ليکلو يې ما ډير مسرت محسوس کړی دی --- دغو کښې يو کتاب د ګران نورالاسلام سنګر---امتزاج-- دی چې د نړيوال ادب نه منظومې ترجمې دي---دويم د ګران جاويد احساس شعري مجموعه --ايينه--- دريم د ګران حيدر بنګش شعري مجموعه-- دولابي يون -- او څلورم کتاب د ګران رشتين خټک --- د خيال رڼا--دی- چې دغو ټولو کښې ګران رشتين داسې شخص او شاعر دی چې هغه او د هغه باباجان اروابناد ډاکټر راج ولي شاه خټک ته د ډير نزديکت باوجود زه تر ډيرې مودې نه وم خبر چې ښاغلی رښتين په کم عمر کښې دومره د پوخ فکروفن ترجمانه سنجيده او ساهو شاعري کوي چې فني او فکري بلوغت به يې ما د ډير خوشګوار حيرت سره مخ کوي--- د خيال رڼا-- چاپ شو--- ښاغليو ډاکټر اباسين يوسفزي --نورالاسلام سنګر--او هنرمند شاکر زيب پرې هم لنډ تاثرات ليکلي دي او زما تفصيلي رايې به لوستونکي زما سريزه کښې ولولي--- دلته بس دومره وايم چې د رومانويت نه د مقصديت په لور قدم--- د داخليت نه د خارجيت په لور سفر --- او د نفسياتو نه تر عمرانياتو پورې حرکت او حرارت که څوک د شعر په خوږه ژبه--- زړه راښکونکي اسلوب--- او خوږ ترنم کښې کتل او محسوسول غواړي نو د خيال رڼا دې ضرور ولولي--- ما چرته د کوم کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سفارش او وکالت نه دی کړی او نه مي کوم داسي ځانګړی پوسټ کړی دی خو --- د خیال رڼا---
ته مي زړه اوشو---- ګران رښتين ته دې مبارک وي---**

---

**تهیه د اسپ و فیل ده بی حاصله
یو بساط دی د شطرنج میدان زما
وضاحت......
اسپ او فيل د شطرنج د لوبي دوه داسي مهرې دی چي عمومن پرې د شطرنج د لوبي ميدان ګټلی شی.خو لوبه بیا هم لوبه وی چي قسمت دې یاری نه کوی نو د دغو مهرو د لرلو باوجود هم د شطرنج بازی ګټل ګران شی.بل خوا اسپ اس ته او فيل هاتی ته وایی چي دجنګ میدان پرې ګټلی شی خو دغه د جنګ میدان ګټلو د پاره د اسونو او هاتیانو تیارول یعني طاقت کښي ساتل ضروری وی.تهیه په فارسی کښي تیاری او امادګی ته وایی.
اوس شیدا دغه پس منظر کښي د خپلي میني کشمکش ته د دواړو میدانونو پس منظر کښي ګوری او وایی چي لکه د جنګ د میدان ګټلو ما د خپلي میني د میدان ګټلو پوره هڅي وکړې په دغه میدان کښي مي د وفا صداقت او ایثار ټول اسونه او هاتیان ښه تیار کړل او اومي زغلول.بار بار ناکام شوم.بس نور ددغو اسونو او هاتیانو تهیه او تیارئ بی حاصله دي. اوس خو خبره د شطرنج مهرو والا اسپ او فيل ته پاتي ده.اوس زما د میني میدان هم د شطرنج میدان یا بساط دی.که قسمت یاری وکړه نو د شطرنج اسپ وفيل به زما جانان زما کړی او دا میدان به وګټم او که مقدر مي ملګرتیا نه کوی نو د شطرنج اسپ و فيل هم زما دا بازی نه شی ګټلی.
دې بیت کښي د شیدا د فن ځني نکتي نظر کښي ساتل ضروري دي--- د شطرنج بساط هم لکه د میدان غوړیدلی وي او د جنګ یا مقابلې میدان هم غوړیدلی وي---
د شطرنج میدان کښي هم ګټه د اسپ او فيل مهرو په وجه کولی شي او د جنګ میدان کښي هم د ګټي زوروره وسیله د اسونو او هاتیانو استعمال وي---
په جنګونو کښي هم کله چي مقدر یاري وکري نو د ګټي مادي اسباب برابر شي او لږ خلق په ډیرو طاقتورو فتح ترلاسه کړي او د میني میدان کښي هم ګټه د بختورو وي--کله کله طاقتور هم ماتي وخوري---
او بیا دغه دومره پراخ پس منظر صرف په دوو مصرعو کښي راګیرول--- نو دا هم بیا یواځي د شیدا کمال کیدی شي----**

---

**د غزل تکنیک او زمونږ کلاسک---**

**په ټولنه کښي نورو انسانانو ته خوشالی ورکولو د پاره پخپل ځان سخته تیرول او خپل صلاحیت د انسانیت پکار راوستل د کلاسیکي شاعری یو اهم اخلاقي مضمون دی چي هر استاذ او د شعري تکنیک ماهر شاعر ورته د خپلي خپلي زاویې نه ګوري او خپلي خپلي مشاهدې ته د هنر خواږه وربخښي----خوشال بابا د ښه سرې د پاره د میوه دارې ونې مثال ورکوي.
په بارداره ونه تل وریږي کاڼي
ورته ګوره چي بارداره ونه څه کا..**

(c) ketabton.com: The Digital Library



.خبره د نیکۍ د تلقین ده خو په ساده اسلوب کښې---که اسلوب لړ شان تکنیکي شي نو د رحمان بابا مشاهدې ته به ځیر شو--سمندر کښې چې طوفان راځي نو تشي او سپکې کشتۍ لاهو کوي خو د بوج نه ډکې درنې کشتۍ نه شي اړولی--نو د انسان زړه هم که لکه د دغه درنې کشتۍ د نورو دردمندو انسانانو بوج په خپل وجود کښې ځایی کړي نو د زماني د طوفانونو نه به په امان پاتې شي.دغه مشاهده رحمان بابا داسې شعر کوي.

هغه زړه به له طوفانه په امان وي
چې کشتۍ غوندې د خلقو باربردار شي

او که په ټولنه کښې څوک غواړي چې د هغه د شخصي وقار له مخه دې هر وخت نور خلق په هغه قربانیږي او ترې دې چاپیره چورلي نو هغه دې په محفل کښې خوږې خبرې کوي--خوږ مجلس دې کوي.دغه مشاهده بیا حمید بابا داسې شعر کوي.

په هغه لکه مچان خلق بنیږي
چې په خله کښې غړوي نباته ژبه

د دغو درې واړو استاذانو اسلوب ساده او عام فهم دی--د همدغه قسمه اخلاقي مضمون په بیان کښې به اوس شیدا ته غوږ شو--

افروخته یی وي محفل په شان د شمعې
چې سوخته د بل په کار کښې خپل دماغ کا

د شمعې محفل تل روښانه او اباد وي--پتنګان هم ترې چاپیره چورلي--وجه یی داده چې شمعې اور په خپل سر بل کړی وي او رڼا نورو ته ورکوي--دغه رڼا ویشل د شمعې جوهر دی چې نورو د پاره یی استعمالوي او هغه هم په خپل سر د اور بلولو په نتیجه کښې--په انساني ټولنه کښې داسې انسان چې په سر کښې عقل او دماغ لري یعني جوهر او صلاحیت لري خو هغه دغه صلاحیت د بل په کار راولي یعني دماغ سوزي خپله کوي او لکه د شمعې د رڼا فیض یی نورو ته رسي نو بیا د داسې فرد محفل خو به هم افروخته یعني اباد او ودان وي --خلق به ترې لکه د شمعې د پتنګانو تاویږي--یعني ترینه به زاریږي قربانیږي---

اوس غور وکړئ چې یو عام اخلاقي مضمون د تغزل رنګ څنګه اخلي او هغه هم د جدا جدا زاویو نه د جدا جدا مشاهدې سره---د ملګرو د ذوق له پاره--په مینه--

---

له چا مه غواړئ قران تهي دستانو
په بدن د حباب کوم پیراهن تنګ شه

قِران--- په ایران او افغانستان کې ورته --غیران --وایی یعنی یوه پیسه یا ټکه ---
تهی دستان --- تهي خالي ته وایي او دستان د دست جمع ده چې فارسی کښې لاس ته وایي--یعنی خالی لاسونه - مطلب غریب مفلس.
پیراهن --- جامه یا لباس
وضاحت -----

حباب یعنی بربوکی په سمندر کښې وي ---ګویا ښه ډیرې اوبه ورسره څنګ کښې وي خو بیا هم خالی لاس وی - ځکه چې دننه تشه وی او شکل یی هم لکه د تش تلی وی بیا نرۍ جلۍ یی د حباب لباس وی چې فارسی کښې پیراهن دی -- ګویا حباب په دومره ډیرو اوبو کښې هم سمندر نه یو څاڅکی اوبه نه غواړي او تل خالي لاس وي --- په دغه خالي لاس هم پرې خپله جامه او لباس

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابر وي--- خپل دغه نازک او عارضي لباس کښې يې ژوند ډير کم وي خو ژوند يې د خو دارئ وي --- د سمندر نه هيڅ نه غواړي---

نو اوس پرې غور وکړئ چې ددې دنيا مثال خو هم لکه د حباب د څو لمحو دی --- خودداره غريبو خلقو ته شيدا وايي چې چا نه يوه ټکه هم مه غواړئ حباب خو هم خالی لاس دی خو په بدن يی خپل عارضی لباس هم برابر دی-- په تش لاس د څو لمحو عارضی ژوند تيروي خو د ډک سمندر نه اوبه نه غواړی -- په تش لاس د څو لمحو عارضی ژوند يی قبول دی خو د خودداری--- دلته دا هم نظر کښې ساتل پکار دي چې سمندر د پاره څاڅکی اوبه چې څومره معمولي خبره ده دغسې دولت مندو سره هم که د دولت سمندر وي خو ---قيران-- يا غيران-- هم په دولت کښې د ټولو نه وړه او کمه پيمانه ده چې دولت مند د پاره د سمندر د څاڅکي حيثيت لري---- خو خود داره انسان ته شيدا وايي چې دغه يو قيران هم له چا مه غواړئ--- ستاسو په بدن به هم کوم لباس تنګ نه شي لکه د حباب په بدن چې هم کوم لباس تنګ نه شو----

---

د افغان ټي وي مشر عدنان شوکت--- او مينجنګ ډايريکټر سيد عدنان شاه د خپل پوره تکنيکي او علمي تيم سره د پښتو په تاريخ کښې نوی باب رقم کوي چې د بريښنايي خپرونو سره سره يې د علمي او ادبي کتابونو د چاپولو لړئ هم پيل کړې ده--- زما په خيال د پښتو په ټي وي چينلونو کښې دغسې په تسلسل دا امتياز يواځې د افغان ټي وي برخه ده چې په دې توګه يې د يو علمي او اشاعتي ادارې شکل هم واخستو -- دا لړئ يې زما کتاب---- ژوند کتاب کتاب-- نه رانښلولې وه او اوس هر کال درې علمي او ادبي کتابونه مخې ته راوړي--- د دې کال درې کتابونه يې بازار ته راورسيدل چې پکښې يو د عدنان شاه کتاب --- د پښتو نوميالي--- د روان عصر نوميالو ادبي شخصياتو سره مرکې دي--- دويم زما او د ډاکټر شهاب عزيز ارمان شريک کتاب--- ادب کور دويمه برخه --- چې د پښتو په جديد ادب او د سرکرده شخصياتو په کار او زيار تبصره او تجزيه ده---- دريم کتاب--- ادب شناس حنيف خليل --- زما په هلو ځلو د ډاکټر شهاب عزيز ارمان تاليف دی چې د ګولډن جوبلي په مناسبت تقريبن د شپيتو ليکوالو راغونډ شوي ليکونه او نظمونه دي----درې واړه کتابونه د افغان ټي وي دفتر او --- د کتابونو هر لوې دکان کښې دستياب دي خو فلحال صرف پيښور کښې---افغان ټي وي به په دغه علمي او ادبي اشاعتي کار د ادبي تاريخ برخه وي---- دا لړئ دې دوامداره اوسي-

---

د معروف هندو شاعر او اديب جګن نات ازاد دغه اردو نعت مې له مخه تير شو او ډير مې خوښ شو-- زره مې وغوښتل چې پښتو کښې يې ترجمه کړم او خپلو ملګرو سره يې شريک کرم ---

سلام په هغه ذات' هغه چې فخر د دوران دی
راغلی په زر واره يې احسان لاندې جهان دی

په مرسته کښې ولاړ لکه د غر' د کم بختانو
اسره د مفلسانو' د سر سيوری د خوارانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستیال د غریبانو او کمزورو عاجزانو
زرو له اډانه او ستر محسن د صادقانو

سلام وایم هغه ته چي رحمت د عالمین دی
راوړی یې پیغام لکه صادق او د امین دی

سلام چې په خپل نور یې نړی هم رڼا رڼا کړه
سلام چې د بیان سحر کښې ګیره یې دنیا کړه

سلام چې یې خاموشه ژبې هم واړه ګویا کړې
سلام چې حوصلې یې ناتوانانو ته عطا کړې

چې زړونو کښې یې بل د معرفت کړل مشالونه
د حق سجدو د پاره یې لیواله کړل سرونه

سلام چې یې د حق غوښتونکي واړه مستانه کړل
راغونډ یې د حکمت په میو مسته پیمانه کړل

چې ذوق د ورورولۍ یې لوې وړوکي کښې پیدا کړو
نړۍ نه د اقا او د بنده فرق یې فنا کړو

سلام چې بادشاهي په ملنګۍ کښې یې کوله
چې تل یې خاقاني دبدبه پښو کښې رغړیدله

سلام چې د خضرا ګنبد د لاندې یې ارام دی
نن هم یې در' ته ټیټ د وخت تندی په احترام دی

سلام چې د ظلمونو په زغملو یې رضا وه
په سپکو اوریدو' کاڼو خوړلو یې دعا وه

سلام په هغه ذات خو دې تېول عمر جاودان وي
سلام دې د ازاد او د هغه شیرین بیان وي
صلی الله علیه و اله وسلم

اردو نعتیه کلام ---- جګن نات ازاد

سلام اس ذات اقدس پر، سلام اس فخر دوراں پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ہزاروں جس کے احسانات ہیں دنیائے امکاں پر

سلام اس پر جو حامی بن کے آیا غم نصیبوں کا
رہا جو بیکسوں کا آسرا، مشفق غریبوں کا

مددگار و معاون بےبسوں کا، زیردستوں کا
ضعیفوں کاسہارا اور محسن حق پرستوں کا

سلام اس پر جو آیا رحمتہ للعالمیں بن کر
پیام دوست لے کر، صادق الوعد و امیں بن کر

سلام اس پر کہ جس کے نور سے پرنور ہے دنیا
سلام اس پر کہ جس کے نطق سے مسحور ہے دنیا

سلام اس پر کہ جس نے بے زبانوں کو زباں بخشی
سلام اس پر کہ جس نے ناتوانوں کو تواں بخشی

سلام اس پر جلائی شمع عرفاں جس نے سینوں میں
کیا حق کے لیئے بیتاب سجدوں کو جبینوں میں

سلام اس پر بنایا جس نے دیوانوں کو فرزانہ
مئے حکمت کا چھلکایا جہاں میں جس نے پیمانہ

بڑے چھوٹے میں جس نے اک اخوت کی بنا ڈالی
زمانے سے تمیز بندہ و آقا مٹا ڈالی

سلام اس پر فقیری میں نہاں تھی جس کی سلطانی
رہا زیر قدم جس کے شکوہ و شان خاقانی

سلام اس پر جو ہے آسودہ زیر گنبد خضری
زمانہ آج بھی ہے جس کے در پر ناصیہ فرسا

سلام اس پر کہ جس نے ظلم سہہ سہہ کر دعائیں دیں
وہ جس نے کھائے پتھر، گالیاں، اس پر دعائیں دیں

سلام اس ذات اقدس پرحیات جاودانی کا
سلام آزاد کا، آزاد کی شیریں بیانی کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(مجموعہ کلام : بیکراں)**

---

**د دې لوی انسان خان عبدالغفار خان د سیاسي اصلاحي او تعلیمي ژوند او هڅو قیصه چې څومره سبق اموز ده هغه یو خوا -- په ځانګړي ډول د پښتو ژبې او ادب د پاره جدوجهد یې لا زیات په پښتون اولس احسان دی----**
**د انګریزي نظام په موجودګی کښې په خپلو ازادو مدرسو کښې پښتو د تعلیم او تدریس ژبه ګرځول د دې سرې کارنامه ده---**
**د انګریز سرکار سره هر وخت د پښتو ژبې د پاره په عملي میدان کښې اودریدل د دې لوې سړي رویه وه--**
**د انجمن اصلاح الافاغنه د سیوري لاندې د پښتو شاعري په کلي توګه د مقصدیت ټولنیز شعور او ترقي پسند تصور سره مخ کول د دې سړي ورکړه ده----**
**د مقصدي او ترقي پسند سوچ نماینده شاعرانو یو پوره نسل تیارول او پښتو ته ورکول د دې لوې انسان بخښنه ده--**
**پښتو د پاره د انجمن په صورت کښې د تنظیمي سرګرمیو باقاعده اغاز کول د دې سړي د فکر نتیجه ده---**
**پښتو ته وړومبی ډرامه او بیا د سټیج ډرامو یو بهیر ورکول د دې ستر شخصیب د محرکي جذبې ورکړه ده---**
**پښتو کښې د سټیج ډرامي د اداکاری--- هدایت کاری--- او نورو هنري صلاحیتونو ته لارې خلاصول د دې سړي بخښنه ده**
**پښتو کښې د یوې مکملې مجلې --پښتون --په شکل د باقاعده مجلاتي او ادبي صحافت د اغاز څهره د دې سړي په سر ده---**
**د پښتون مجلې په ذریعه د ترکي د خالده ادیب خانم--- د بنګال د رکهشیت رایې غوندې لیکونکي تر دې چې پیرنګي لیکونکي پښتو او پښتنو ته متوجه کول د دغه لوې سري کمال دی---**
**په هغه سختو حالاتو کښې پښتنې تور سرې مقصدي شاعري او نثر ته اماده کول--حوصله افزایی یې کول-- او د تحریک برخه یې جوړول د دې سړي د ذات کمال دی---**
**پښتو ته وړومبی باقاعده رپور تاژ د خپل تاریخي لیک --- د شلمي پیړی تهذیب او جیل خانې--- په شکل وربخښل د دې لوې انسان کارنامه ده---**
**پښتو کښې د خپل معروف کتاب زما ژوند او جدوجهد --- نه علاوه--- د ګڼ شمیر مقالو او د پښتون مجلې د اداریو په شکل د روان او مقصدي نثر لیکل د دې سړي د صلاحیتونو نتیجه ده----**
**ګویا د بابا یواځې پښتو ژبې او ادب د پاره د هڅو دا قیصه دومره اوږده ده چې نورې حوالې یې راوړل خبره اوږدوي نو د سیاسي جدوجهد قیصه خو یې بیا یو پوره عهد او عصر ته اشاره کوي---- ځکه زه وایم چې د بابا سیاسي نظریې او سوچ سره که څوک اختلاف هم لري خو پښتو ژبې او ادب د پاره عملي او قلمي جدوجهد کښې خو یې بې له قدروني مننې او ستاینې بله لار نشته---روح یې شاد--**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



**علامه اقبال په ځنو نظمونو کښي خپل خالق سره هم شوخي کړې ده --- دا يو فارسي نظم يې هم دغو کښې شامل دی--- د خدای او انسان په مکالمه کښي د انسان په حيث خدای ته هم په شوخۍ سره مخاطب کيږي چې خدای به هم د -- فی احسن تقويم -- دغه شوخي يا ناز څنګه اخلي ---- د دغه نظم بحر هم ډير جلالي دی--- ما يې پښتو کښي د ترجمې هڅه هم دغه بحر ته نزدې انداز کښې وکړه چې زما راروان د ترجمو کتاب کښې يې شامل کړم---**

**د خدای او انسان تر مينځه مکالمه**

**خدای**

**ما د خاورو اوبو' څه جهان کړلو جوړ**
**تا ترې زنګ او تاتار' او ايران کړلو جوړ**
**ما له خاورو پيدا' کړو فولاد په څه شان**
**تا تفنګ او شمشير' او سنان کړلو جوړ**
**تبر جوړ کړلو تا' چې پرې بڼ کړې تالا**
**دا د مستو مارغانو' قفس جوړ کړو چا**

**انسان**

**تا که شپه کړه پيدا' ما کړه سازه ډيوه**
**تا کړه خاوره پيدا' ما کړه جوړه پياله**
**تا خو شاړه ميدان' بيابان کړل پيدا**
**ما په بڼ کښې د ګل' کړه ترې جوړه وړمه**
**جوړوي چې له کاڼي' هنداره ' يم زه**
**زهر هم د شربت' کړي په لاره' يم زه**

**نوټ----په دويمه مصرعه کښي زنګ نه مراد زنګيان يا حبشي نسل دی---او د څلورمې مصرعې --شمشير و سنان--- د اقبال د يو بل نظم يوې مصرعې نه اخستی شوی دی-----**
**شمشير و سنان اول طاوس و رباب اخر**

**محاوره مابين خدا و انسان**

**خدا**
**جهان را ز يک آب و ګل آفريدم**
**تو ايران و تاتار و زنګ آفريدی**
**من از خاک پولاد ناب آفريدم**
**تو شمشير و تير و تفنګ آفريدی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تبر آفریدی نهال چمن را**
**قفس ساختی طایر نغمہ زن را**

**انسان**

**تو شب آفریدی چراغ آفریدم**
**سفال آفریدی اياغ آفریدم**
**بیابان و کہسار و راغ آفریدی**
**خیابان و گلزار و باغ آفریدم**
**من آنم کہ از سنگ آئینہ سازم**
**من آنم کہ از زہر نوشینہ سازم**

---

**زما نوی کتاب ----کامل په تصور کښې--- پريس ته ورسيدو-- انشاالله يوه هفته کښې به دوکانونو ته راشي---- دې کتاب کښې زما او د محترم هميش خليل صيب منثور او منظوم ليکونه شامل دي چې د اروابښاد دوست محمد خان کامل صيب د ژوند او کار په مختلفو اړخونو شوي دي---- ملګرو ته دا هم بايد ووايم چې په اروابښاد کامل صيب دې نه مخکښې هم زما دوه کتابونه چاپ دي يو --ماه کامل-- پښتو کښې او دويم --خطوط کامل-- اردو او انګريزی کښې---- زما يقين دی چې دغه درې واړه کتابونه به د کامل صيب عقيدت مندو د ادب زده کونکيو او د تحقيق ذوق لرونکيو د پاره ګټور وي---نوی کتاب --- کامل په تصور کښې--- به ډير زر انشاالله د مينه والو په لاسو کښې وي--- د يونيورستي پبلشرز ---ګران مراد علي کتوزئ---او ګران صهيب ګل د چاپ په زيار ممنون يم----**

---

**د زړه حال مې لکه شمع ظاهر نه شه**
**پيچيده مکتوب مې سوی په مضمون دی**
**وضاحت----**
**د شيدا د شعر بنيادي مفهوم ته رسيدل تر هغې ګران وي چې تر څو د هغه د شعري مزاج او اسلوب سره سم د هغه اشارو کنايو استعارو او تشبيهاتو استعمال ته رسايی ونه شي۔**
**دې شعر کښې د دويمې مصرعې دوه توري ۔پيچيده۔او ۔۔مضمون۔ راسپړدل ډير ضروري دي۔۔مکتوب خو خط ته وايی يعنې چا ته خط ليږل او هغې کښې خپله مدعا رسول۔۔پيچيده په دوو معنو دی۔۔يو دا چې خط لوستلو کښې ګران وي۔او په اسانه څوک مفهوم ته نه رسي۔۔دويم پيجيده خط رابند شوي او فولډ شوي خط ته وايی۔۔پخوا به چې خط وليکلی شو نو ګول شکل کښې به راتاو شو او د سپين کاغذ په وجه به دغه راتاو شوي خط د سپينې شمعې غوندې شکل اختيار کړو۔۔ مضمون د عربی توری دی چې معنا يی ده ۔په ضمن کښې۔يعنې په منځ منځ کښې۔۔اوس هم چې مونږ ليک کوو نو وايو چې مضمون يی څه دی يعنې د لفظونو په منځ منځ کښې يا د لفظونو دننه معنا او مدعا څه بيان شوې ده۔۔په سپين کاغذ ليک يا مدعا په توره سياهی ليکلی شي او لکه د شمعې په شکل فولډ کولی شي۔۔۔او اصلي شمعې ته غور وکړئ۔۔شمع لکه د سپين کاغذ سپينه وي او په منځ منځ کښې يی تار د تور رنګ وي۔۔تار سوزي او سپينه شمع د موم په شکل اوښکې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځځوي---او شمع په دغه دومره سوزيدو کښې او دغه دومره اوښکو کښې هم دا څرګنده نه کړی شي چې دا سوزي ولې او اوښکي ولې ځځوي ګويا توله وسوزي خو د زړه حال يی جوت نه شي---اوس شيدا څه وايی---وايی چې زما د زړه حال زما مدعا او بنيادي مضمون هم يو پيچيده خط کښې په توره سياهی درج دي خو دغه مضمون مې داسې سوزيدلی دی لکه د شمعې تور تار---نو تار خو هم د شمعې په منځ کښې وي او زما سوزيدلی مضمون هم په توره سياهی ليکلی شوی پيچيده خط يعنې د فولډ شوي خط منځ کښې دی---خو نه د شمعې مدعا ظاهره شوه او نه زما مدعا تر محبوب ورسيده-ګويا زما ژړا فرياد وفا ايثار سوزيدل اوښکې ځځول هيڅ هم په محبوب اثر نه کوي---او دويمه معنا دا هم ده چې زما د شعر مضمون او مفهوم هم په لفظونو کښې مقيد پاتې شو---معنويت يی چا ته ونه رسيدو--- او بيا دا هم نظر کښې ساتل پکار دي چې شيدا خپل مضمون او مدعا ته سوی په دې وجه هم وايي چې هغه د خپل سوي زړه فرياد ليکلی دی --- او دغه مضمون يې په دې وجه هم پيچيده دی او لوستلو کښې ګران دی چې د مکتوب ليکلو په وخت يې د سترګو نه د شمعې د سپينو مومو د څاڅکو په شان سپينې اوښکې څڅيدلې نو په مکتوب پريوتلې او هغه ليک يې هم داسې اوبه اوبه کړو چې لوستلو کښې ګران شو او پيچيده شو ځکه نو د شيدا د پيچيده خط او شمعې يو حال دی---دواړه ژاړي او سوزي خو مدعا او مضمون يی په چا ظاهريږي نه----دغسې د شيدا مضمون سوی شو او مکتوب يې پيچيده شو نو بس د زړه حال يې هم لکه د شمعې ظاهر نه شو---- چې څه يی په زړه وو په زړه پاتې شو---دغه حال د هر مېين وي---

---

زما د ترجمو راروان کتاب د پاره مې د احمد فراز د دې اردو غزل ترجمه کول هم ضروري وګڼل -- د قافيې د قدغن له مخه يې ترجمه ګرانه هم وه خو بس ترجمه مې کړو او ملګرو سره يې شريکول هم غوارم----

ته چې محفل کښې يې او بيا هم چې رڼا کړي ډيوې
څه ساده خلق دي چې نمر ته هم نما کړي ډيوې

د محرومۍ دغه احساس سره کچه پيکه وي
خپلې لري نه ' نورې هم ګل کړي بې سا کړي ډيوې

چې کلې کور مو لرې کيږي له يو بله ورو ورو
هره لمحه به مو له سترګو نه فنا کړي ډيوې

خبر خو نه دي چې لمنې هم لمبې اخلي
که د وختونو د سيلو نه ځوک په شا کړي ډيوې

که قسمتونه مو دي تور خو ضميرونه رانه
مونږ خو هغه يو چې تيرو کښې هويدا کړي ډيوې

څه که کورونه مو په ستورو او سپوږمۍ جوړ کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مخ د زمکه درنه تته چې ځلا کړي ډيوې

داسې بې درده شو اوس کله هم زمونږ په چمن
شړق چې راپريوځي نو زندان کښې مو پرقا کړي ډيوې

تيبرې مو سترګو کښې ميشته شوې څه دا رنګې فراز
شپه خو لا شپه ده چې د ورځې تمنا کړي ډيوې

اردو غزل ---- احمد فراز

تیرے ہوتے ہوئے محفل میں جلاتے ہیں چراغ
لوگ کیا سادہ ہیں سورج کو دکھاتے ہیں چراغ

اپنی محرومی کے احساس سے شرمندہ ہیں
خود نہیں رکھتے تو اوروں کے بجھاتے ہیں چراغ

بستیاں دور ہوئی جاتی ہیں رفتہ رفتہ
دم بہ دم آنکھوں سے چھپتے چلے جاتے ہیں چراغ

کیا خبر ان کو کہ دامن بھی بھڑک اٹھتے ہیں
جو زمانے کی ہواؤں سے بچاتے ہیں چراغ

گو سیہ بخت ہیں ہم لوگ پہ روشن ہے ضمیر
خود اندھیرے میں ہیں دنیا کو دکھاتے ہیں چراغ

بستیاں چاند ستاروں کی بسانے والو
کرۂ ارض پہ بجھتے چلے جاتے ہیں چراغ

ایسے بے درد ہوئے ہم بھی کہ اب گلشن پر
برق گرتی ہے تو زنداں میں جلاتے ہیں چراغ

ایسی تاریکیاں آنکھوں میں بسی ہیں کہ فرازؔ
رات تو رات ہے ہم دن کو جلاتے ہیں چراغ

---

کا اثر د درد ناله په سختو زړونو
تل د دف په وهل چغې جلاجل کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وضاحت....**
**ناله --- فارسي ده--- اواز --شور او فریاد ته وایي**
**دف ---- تمبل**
**جلاجل--- ګنګروګان**
**د یو دردمند زره اواز څومره زړ اثر کوي --په دې موضوع ډیرو شاعرانو شعرونه ویيلي دي---**
**شیدا دغه پورتني شعر نه علاوه هم په یو بل شعر کښې ویيلي دي --**
**چې نفس زما د آه سرکشي وکا**
**فلک لاندې خپله شمع تر دامان کا**
**خو په دغه سر کښې راوړلی شوي شعر کښې یې په بیل انداز د نوو استعارو سره کمال کړی دی او بیخي ځانګړې مشاهده یې وړاندې کړې ده--- غور ورته وکړئ--**
**دف تمبل ته وایی او جلاجل هغو ګنګروګانو ته چې د اوسپنې او فولادو نه جوړ وې او د ډول سینګار د پاره د تمبل غاړو ته لګیدلی وی کله چې د تمبل پستې څرمنې ته ډب ورکولی شی نو تمبل نه د سوز او درده ډک اواز خیژي-- خو ورسره چې د تمبل په غارو کوم سخت ګنګروګان لګیدلي وي هغو ګنګروګانونه هم اواز خیژی -- ګویا د تمبل د نرمې پردې د درد نه ډک اواز سره د اوسپنې سخت ګنګروګان هم شور کوی لکه چې په ګنګروګانو هم د تمبل د نرمې پردې د دردناک او سوز نه ډک اواز اثر وشو --ځکه شیدا وایی چې د درد ناله په سختو زړونو هم اثر کوی --- دغسې په انساني تولنه کښې هم د یو دردمند زړه فریاد د کاڼی زړه هم نرموی ------- بس د شیدا مشاهدې---استعارو-- او شعري باریکیو ته سری ګوته په خله شي نو------**

---

ناسوت ملکوت او الهام

هر سحر ملک د شعر کړي حمزه ته الهامونه
کیف پکښې ملکوتي وي ناسوتي سوز په سخن کښې

دحمزه بابا دغه شعر کښې ځنې داسې اصطلاحات استعمال شوي دي چې ډیر لوستونکي پرې د مغالطې ښکار کیدی هم شي.اصل خبره خو د شاعرانه الهام ده خو مخکښې ترې د ملکوت او ناسوت د متصوفانه اصطلاحاتو وضاحت هم ضروري دی.په صوفیانه مباحثو کښې ملکوت هغه کیفیت یا تاثر ته ویيلی شي چې انساني معلومات د فکري رنګ اخستلو نه مخکښې مطلق وجود ولري چې صوفیان ورته ---عین-وایي چې جمع یې--عیان-- ده -دغه عیان چې د فکر شعور یا حافظې برخه جوړیږي او بیا معنوي کیفیت ته راځي نو صوفیان ورته د-- عالم ملکوت- نوم ورکوي.....دغه ملکوتي کیف چې الفاظو ته راځي نو ګویا چې معنویت د مادیت لباس اغوندي نو دغه مادي جهان د -----عالم ناسوت ---په نوم یادیږي . په اسانو ټکو کښې ملکوتي فکر معنویت دی او د الفاظو او ډکشن مادي لباس یې ناسوت یا شکل او هییت دی---نور په اسانو ټکو کښې فکر او معنویت چې ملکوتي دی نو ګویا ملک ملایک یا فرشته یی راوړي-دغه تعبیر ته شاعران او صوفیان الهام وایی یعنې شاعر ته خیال فکر مضمون او معنویت د شعر فرشتې د خالق له خوا راوړی دی-دغه د الهام تصور ګڼو شاعرانو وړاندې کړی دی-غالب هم ویيلي دي چې-
آتی هین غیب سی یه مضامین خیال مین

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب صریر خامه نوایی سروش هی.
دغه تصور د یونیانیانو افلاطون او ارسطو هم وو. دغه ټول اصطلاحات که محض علامتونه وګڼلی شي او د شاعرانه موډ او کیفیت سره یی نسبت وګڼلی شي نو څه مسله نه پیدا کوي -- خو که الهام ملک او فرشته هم هغو د عربۍ اصلي معنو کښې واخستلی شي نو خلق د مغالطي ښکار کوي.ورومبی خو د الهام مطلب د خیر د صلاحیت سره سره دشر صلاحیت هم دی. د تقوا سره سره د فجور صلاحیت هم د الهام برخه ده چې قران حکیم یی داسې وضاحت کړی دی..فالهمها فجورها و تقواها..یعنې بیا مي الهام کړل فجور او تقوی یا د بدۍ او نیکۍ صلاحیت---.او بیا دغه صلاحیت یواځې شاعر او فنکار د پاره نه دی بلکي د ټول انسانیت د پاره دی..نو بیا شاعر ته د شعر د فرشتي د راتللو او د خدایي الهام کیدلو څه معنا ؟..ځکه د شعر جوهر لرلو ته یو تخلیقي صلاحیت داخلي رجحان ذوق او وجداني قوت ویبل پکار دي چې د الهام سره یی هیڅ نسبت نشته.دغه تخلیقي قوت او صلاحیت هم د خالق ورکړه ده خو ورسره ډیر څه د ټولنیزې مشاهدې ماحول او زدکړې نه هم اخستلی شي --- الهام په خپلو بنیادي معنو کښې نه شاعر ته کیدی شي او نه صوفیانو بزرګانو او اولیای کرامو ته--ځکه چې الهام خو د تقوا نه علاوه د فجور یعنې شر قوت هم دی نو بیا پیرانو فقیرانو صوفیانو او شاعرانو ولیانو پورې یي چې مخصوص کوو نو هغه د فجور او بدۍ الهام به هم دغو نیکو خلقو سره منسوب کول غواړي...ځکه چې قران حکیم خو د بدۍ صلاحیت هم الهام یاد کړی دی او د نیکۍ یا تقوی نه یی مخکښې یاد کړی دی..... ګویا د شاعرانو الهام په عام مروجه معنو کښې اخستل پکار دي---اصل کښې دغه شاعرانه صلاحیت او جوهر دی چې د وخت سره سره زیاتیدی هم شي او لا زیات خلاند کیدی هم شي----

---

موږ خپل کاکاجي ونه پیژندو

کوم کاکاجي چې د بې پنا صلاحیت او قابلیت سره هم خپلې زدکړې د لسم صنف نه پس د غربت په وجه دوامدارې ونه ساتلے شوې.... خپله د تدریس سرکاري وظیفه یي د خپل انقلابي فکر له مخه قربان کړه او د عملي جدوجهد او سیاست میدان ته په کچه زلمیتوب کښې راغلو چې خپل غلام اولس د پیرنګي د غلامۍ نه خلاص کړي...هغه کاکاجي موږ ونه پیژندو...
کوم کاکاجي چې د خپل کلي کښې ولې یوې پښتنې سره کوژدن کړې وه... او هم د دغه کلي یوه هندوه جینۍ هم د هغه په مینه کښې زړه بایللے وو خو کاکاجي دغو کښې یوې سره هم واده ونه کړے شو چې ویبل به یې زما ژوند د ازادۍ جدوجهد ته وقف دے...تر څو چې مې وطن د پیرنګي د غلامۍ نه ازاد شوے نه وي زه واده نه شم کولے او دغسې زه د غلامانو په شمیر کښې اضافه نه شم کولے. ځکه یې تر مرګه واده ونه کړو....دغه کاکاجي موږ ونه پیژندو....
کوم کاکاجي چې د خپلې ځوانۍ اتلس کاله په جلاوطنۍ کښې د باجوړ په سوال قلا کښې د فرار په ژوند کښې تیر کړل ...خو هلته یې هم د سیلاب... شعله... او سرفروش غوندې انقلابي مجلې د پښتون اولس د بقا او ازادۍ د اواز پورته کولو په خاطر چاپ کولې....موږ دغه کاکاجي ونه پیژندو....
کوم کاکاجي چې د حاجي صاحب ترنګزئ ښے لاس او د اعتبار وړ مشاور وو... د ګنداو او نورو مهماتو عملي مجاهد وو... د صاحبزاده اسلم او نورو وفادارو ملګرو د شهادتونو قرباني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوونکے وو...هر وخت خپل سر په تلي کښې ایښودونکے وو... د پښتنو او خوار اولس د بقا او ازادئ د پاره... دغه کاکاجي مونږ ونه پیژندو...
کوم کاکاجي چې د لوې هندي مبارز سبهاش چندر بوس مرستیال او د بوس په فرار او حفاظت کښې لوې مشاور وو...هغه کاکاجي مونږ ونه پیژندو...
کوم کاکاجي چې د روس جرمني او هند سیاسي لیډرانو او حکمرانانو د خپلې مبارزې په سبب پیژندو... مونږ هغه کاکاجي ونه پیژندو...
د کوم کاکاجي د لیدو خواهش چې په هند کښې د ترقي پسند تحریک باني سید سجاد ظهیر لرلو...
کوم کاکاجي چې هندي دانشورو او سرفروشانو رام سرن نګینه..ګرچرن سنګه...بهګت رام...او لوې دانشور او ادیب احمد ندیم قاسمي خپل مربي او لارښود ګڼلو...مونږ خپل دغه کاکاجي ونه پیژندو...
د کوم کاکاجي په وجه چې سوال قلعه د ماسکو او هند نه پس د کامریډانو دریم اهم مرکز ګرځیدلے وو...او په هره مرحله به د کاکاجي نه لارښودنه او مشوره غوښتلے شوه...مونږ دغه کاکاجي ونه پیژندو...
کوم کاکاجي چې د پارټۍ په لکونو روپو فنډ کښې د یوې روپۍ لرے برے ونه کړے شو... تر دې چې د دمې د مرض لرلو باوجود یې خپل علاج هم ونه کړے شو...مونږ دغه کاکاجي ونه پیژندو...
کوم کاکاجي چې د اولسي ادبي جرګې په قیام د مختلفو او متضادو سیاسي نظریو لرونکي پښتانه لیکونکي راغونډ کړل او د نوي تنقیدي روش بنیادونه یې کیښودل ... او پښتو ژبې او ادب ته یې یو لوستے او باشعوره نسل ور وبخښلو... مونږ دغه کاکاجي ونه پیژندو...
کوم کاکاجي چې د ..اسلم .. مجلې په شکل د پښتو ادبي صحافت کښې سا پوک وهله او د یو پوره علمي او ادبي نسل روزنه یې وکړه ...مونږ دغه کاکاجي ونه پیژندو...
کوم کاکاجي چې دیارلس علمي ادبي تاریخي اقتصادي تخلیقي ترجمه شوي او تحقیقي کتابونه پښتو ته ورکړل خو مونږ اتیا کاله پس هم د دغو کتابونو د چاپ کولو جوګه نه شو ... نه مونږ په کاکاجي د کومې پي ایچ ډي یا لوړ معیار د تحقیقي کار جوګه شو سیوا د څو ایم فل مقالو نه... نو څرګنده ده چې مونږ خپل کاکاجي ونه پیژندو....
د کاکاجي صنوبر حسین مومند په اړه زمونږ د غفلت دغه قیصه ډیره اوږده ده... دغه نکتې او حوالې ډیرې زیاتې دي...ځکه زه د دغو نکاتو رابرڅیره کولو په ځایې د خپل ځان او خپل اولس د ناقابل معافي غفلت اعتراف کوم... د عظیم کاکاجي د روح نه د بخښنې خواستګار یم...او ورته دا هم وایم چې تا د کوم اولس د ازادئ د پاره خپله ځواني لوګے کړې وه .. ستا هغه اولس نه یواځې هم هغسې غلام دے بلکې غافل او احسان فراموش هم دے... ستا اولس ستا د دغو قربانو نه منکر هم دے... ستا په نیت او نظریه شکونه او اعتراضونه هم کوي... او ډیر خو داسې دي چې تا هډو پیژني هم نه... ستا د وفات په ورځ دریمه جنورئ به یې که کال په کال یادولې اوس هغه هم نه کوي ... نو د نړئ نور ډیر لوې خلق که تا پیژني او تا مني هم ..خو خپل اولس ته مونږ نن هم په دې وییلو مجبور یو چې...
مونږ خپل کاکاجي ونه پیژندو....

---

صفر له کومه راغلو او څه د پاره...

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفر د پاره په زره سپینش-اطالوي او فرنچ ژبو کښې د -زیرو-توری کارولی شي چې انګریزۍ هم خپل کړی دی--د خالي ځایی-هیڅ نه-یا د انګریزۍ Nothingness په معنو کښې دغه توری ډیر زوړ تاریخ لري چې د یو مخصوص علامت په توګه استعمال کښې راروان دی--- مغربي دانشور رابرټ کیپلن د
The nothing that is: the natural history of zero په نوم یو کتاب لیکلی دی چې کال دوه زرم کښې اکسفورډ چاپ کړی دی--کیپلن نه وروستو د-چارلس سییف یو کتاب هم د--
Zero: The biography of a dangerous idea
په نوم چاپ شو---د دغو محققینو تر مخه د صفر وړومبی نخښې تقریباً څلوره زره کاله پخوا په میسوپوټامیا-سومیري تهذیب کښې لیدی شي خو هلته زیرو د حسابي شمیر کوم علامت نه وو بلکې د -خالي ځایی یا هندسو کښې د فاصلې یو علامت وو--- بیا په بابلي تهذیب کښې په دریمه قبل مسیح پیړۍ کښې هم د صفر استعمال د کوم عدد یا شمیر په حیث نه کیدو--- صفر چې هندي تهذیب ته راورسیدو نو د یو عدد شکل یې واخستو او بیا دغه عددي مفهوم سره عربو هم خپل کړو چې بیا په هند کښې ورسره د حسابي نظام نورې اضافي هم وشوې لکه د منفي نظام کښې چې کومه شمیره د خپل ځان نه منفي شي نو حاصل به صفر وي او ورسره د عربو په پیروۍ کښې د
---اکایی-دهایی-سینکړه ---نظام هم مروج شو--په عربي نړۍ کښې دا اضافي الخوارزمي او څو نورو ریاضي دانو په اتمه عیسوي صدۍ کښې وکړې او په هند کښې دغه نظام ته براهم ګپتا د عربي نړۍ نه هم مخکښې تقویت ورکړی وو-په قدیم سومیر او بابل کښې به د شمیر د هرې درجې د پاره جدا جدا علامت وو چې غټ شمیر لیکل به پکښې ګران وو---دغه ګرانوالی څه خو په رومن علامتونو کښې اسان شو خو نوره اساني پکښې هندي حساب دانانو د صفر په عددي استعمال پیدا کړه--ګویا مخکښې چې کوم عشري نظام وو یعنې یو علامت به داسې کارولی شو چې وړومبی به اکایی وه نو ورپسې هم هغه علامت به لس شو بیا هم هغه علامت سل بیا زر--- یعنی داسې---۲۲۲---وړومبی ۲ دوه اکایی-دویم ۲ دوه دهایی-دریم ۲ دوه سینکړې او داسې ورپسې مخکښې ځه-هندي حساب دانانو دغه د یو عدد تکرار ختم کړو او د صفر استعمال یې شروع کړو او اوس -اکایی-دهایی-سینکړه -داسې شو--- ۱۰۰۰ --- د صفر دغه نوی استعال او د یو ځانله عدد حیثیت مغرب ته په دولسمه عیسوي پیړۍ کښې اطالوي دانشور فیبوناسي متعارف کړو-- او اوس نزدې نزدې په ټوله نړۍ کښې رواج لري-مغرب کښې د زیاتو ژبو خصوصاً انګریزۍ سکرپټ یعنې لیکدود د ګس نه ښي طرف ته لیکلی شي خو د ---اکایی دهایی سینکړه -نظام یې نن هم د مشرقي او عربي نړۍ په پیروۍ کښې د ښي نه ګس طرف ته دی---ګویا د صفر د یو جدا عدد په حیث راتلل او د اکایی دهایی سینکړه نظام کښې د صفر استعمال مغربي نړۍ ته د مشرقي او عربي نړۍ بخښنه ده--- او دغه بخښنه بیا د هند نه چین بیا مدل ایسټ او دغسې په ټوله نړۍ خوره شوې ده چې نن په ټوله نړۍ کښې دغه نظام د نورو حسابي مساواتو او الجبرا قوانینو سره رایج دی او د فزکس او کمسترۍ محققین ترې هم مرسته اخلي---
ګویا د صفر په شکل د-- نشت--- دا سفر دومره اهم مقام ته راورسیدو چې اوس د دغه صفر نه بغیر ډیر علوم هډو پرمخ تک نه شي کولی--- تر دې چې د فزکس ماهرین وایي چې د کاینات ټوله توانایي هم پوره نیمه مثبت او پوره نیمه منفي ده او دغسې بنیادي نکته یا د ترون نکته یې صفر ده---

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فیسبک یو ګروپ کښې پوښتنه شوې وه چې ژبې څنګه پیدا شوې او انسانانو څنګه زده کړې---
--- ما مناسبه دا وګڼله چې د ژبپوهنې د علمي او دقیقو نظریو او بحثونو په ځایې که لنډه او اسانه خبره وشي نو شاید زیات خلق پرې پوهه شي نو دغه کمنټ مې وکړو چې ګروپ کښې به ډیرو خلقو کتلے وي خو دلته یې خپلو ملګرو سره هم شریکول غواړم---

------د ژبې د پیدا کیدو په اړه نظریې ډیرې دي خو دوه پکښې غټې او جوتې نظریې دي---- یوه الهامي یا مذهبي چې ژبه د انسان پیدا کیدو سره سمه پیدا شوې ده او وړومبي انسان ته د خالق له خوا ورکړے شوې یا الهام شوې ده--- او دویمه نظریه ساینسي ده چې انسان په ارتقایي شکل د حیوانیت نه د انسانیت په لور سفر کړے دے او دغه ارتقایي سفر کښې یې ژبه هم تدریج سره د ټولنیزې مشاهدې نه زده کړې صفا کړې او خوره کړې ده--- وړومبي اوازونه یې چې د یو څیز په لیدو له خلې وتي دي هغه یې پاخه علامتونه جوړ کړي دي--- دغسې یې د وخت تیریدو سره د لفظونو ذخیره زیاته شوې ده ..جملې یې جوړې کړې اوږدې کړې او صفا کړې دي او د یوې بلیغې ژبې مقام ته رسولې دي چې زرګونه کلونه پرې لګیدلي دي---- شروع کښې چې انسانان شمیر کښې کم او محدوده جغرافیه کښې وو نو ژبه هم یوه وه--- انسانان چې زیاتیدل او جغرافیه یې خوریدله او بدلیدله نو یوې ژبې نه لهجې وتلې او بیا ځانله ژبې جوړیدلې او خبره تر دې راغله چې اوس په اربونو انسانان دي او په زرګونو ژبې دي-----

---

چې پریووځي یې هر دم د خوناب څاڅکي
عجب برق لګه سحاب په زړه کباب کړم
خوناب---فارسي ده---اصل کښې د خون او اب مجموعه ده چې خوناب ترې جوړ شي -یعنې وینې او اوبه چې سره ګډې شي---مطلب د وینو اوښکې څڅول---یعنې ډیر لوې درد او غم نه ژړا کول او اوښکې څڅول--
سحاب---عربی کښې اوریځ ته وایې---
برق--- یعنې بجلي---اسماني پرق یا اور--
وضاحت------
اسان مفهوم یې دا دی چې د عشق اور راله زړه لګه د کباب سوزولی دی ځکه هر دم د وینو اوښکې څڅوم---ګویا د خپل چاودلي دړدیدلي او سوزیدلي زړه درد او بوج په خپلو اوښکو څڅولو سپکوم---خو دا مفهوم شیدا په کوم تکنیک او کایناتي مشاهدې سره بیانوي---غور ورته وکړئ---
اور او اوبه د یو بل ضد دي----خپلو کښې دښمنان دي---اوبه د اور د مرګ ذریعه ده---یعنې په اور چې اوبه واچولے شي نو اور مړ شي- نو پکار ده چې اور هم د اوبو د مرګ ذریعه وی --خو شیدا وایې چې عجب کار دا دی چې اور اوبو ته ژوند ورکوي--- هغه څنګه---هغه داسې چې یو د کاینات په قانون او فطرت کښې اور اوبو ته ژوند ورکوي--- او بل په انساني ټولنه کښې هم د مینې په قانون او فطرت کښې اور اوبو ته ژوند ورکوي--- کایناتي قانون کښې داسې ژوند ورکوي چې اوریځ هغه وخت کښې د باران څاڅکو کښې بدله شي چې کله ورسره اسماني برق ټکر
وخوري---او اسماني برق خو اور دی نو ګویا چې د اسماني برق دغه اور کله د اوریځو زړه وچوي نو د وریځو په زړه اور بل کړي---او بیا اوریځ هم له ډیره سوخته د باران د څاڅکو شکل واخلي---یعنې د اوریځو سوزیدلی او دړدیدلی زړه د اوښکو غوندې د څاڅکو په شکل خپل درد غم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بوج سپک کړي ---ځکه نو دا عجبه ده چې اور اوبو ته ژوند ورکړو---انساني تولنه کښې د مينې قانون هم دغسې اپوته دی---د محبوب جور جفا ظلم ناکردې چې لکه د اسماني بجلی د شړق د ميين په زړه راپريوځي نو لکه چې د مېين په زړه اور بل شي--په نتيجه کښې يې څه کيږي---مېين هم دغه بوج د غم درد د اوښکو څڅولو په شکل سپکوي--ګويا دلته هم اور اوبو ته ژوند ورکړو---نو بيا عجب کار وشو---بس د مينې قانون دغسې عجب دی چې شيدا ورله مثال په کاينات کښې هم پيدا کړی دی---د اسماني برق په اور د اوريځو نه څاڅکي پيدا کيدل--او د عشق په اور د سوزيدلي زړه له تاثيره اوښکې پيدا کيدل دواړه داسې دي چې اور اوبو ته ژوند ورکوي ګنې اوبه خو اور ته مرګ ورکوي نو ځکه دا عجب کار کيږي چې په داسې حال کښې د خوناب څاڅکي پرووځي ځکه خو شيدا دغسې عجب برق په زړه کباب کړی دی--بس څه به وايو د شيدا د کايناتي مشاهدې--کمال کوي خو چې د فکر سپړدنه يې وشي--- د رحمان بابا په ژبه به په اسانو ټکو کښې ووايم چې----
په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا يم---

---

د کارلايل شپږ ليکچرونه---

کارلايل (1795...1881) د سکاټ ليند نړيوال شهرت لرونکے تاريخدان مفکر او دانشور دے چې د ګڼ شمير خدماتو سره يې يوه کارنامه د هغه په شپږو ليکچرو اډانه انګريزي کتاب --آن هيروز --- دے--- هغه د نړۍ په تاريخ کښې شپږ داسې شخصيات چوڼ کړي دي چې د ډېر معمولي طاقت نه يې خپل کمال او طاقت هغه مقام ته رسولے دے چې په نړۍ کښې يې په خپل خپل ميدان کښې په ډېره لږه موده کښې ډېر لوې انقلابات راوستي دي---- دغه ټول ليکچرونه هغه د مۍ په مياشت کال ۱۸۴۰ کښې ورکړي دي او بيا کال ۱۸۴۱ کښې کتابي صورت کښې چاپ شوي دي---- دغو ليکچرو کښې وړومبے د --اوډين--- په حقله دے چې په جرمن ميتهالوجي کښې د يو ديوتا نوم دے او جوړه ديوي يې فريګ نوميده-- دغه اساطيري کردار کارلايل د عام انسان په شکل پيش کړے دے---- دريم ليکچر کښې يې د شاعرانو نه د ډانټے انتخاب کړے دے --- څلورم ليکچر کښې يې د جان ناکس انتخاب کړے دے څوک چې د سکاټ ليند لوې مذهبي دانشور مصلح او پادري وو--- پنځم ليکچر کښې يې د لوې اديب او ليکونکي جانسن روسو انتخاب کړے دے--- شپږم ليکچر کښې يې د انګلستان لوې جنګيالي او حکمران اوليورکروم ويل انتخاب کړے دے--- او په دويم ليکچر کښې يې د يو عظيم انسان په حيث د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم انتخاب کړے دے---
د حضور ص سيرت پاک او د ژوند کارنامې ډېرو خلقو په ګڼو ژبو کښې ليکلې دي خو عيسايي کارلايل چې دغه عظيم انسان څومره په عقيدت او احترام په انګريزۍ ژبه کښې پيش کړے دے او د ځنو مستشرقينو د تنقيدونو جوابونه يې په کوم رسا استدلال سره کړي دي شايد ډېرو کمو ليکونکيو دغسې کړې وي---
کارلايل په خلاصه کښې دا هم وييلي دي چې ---يو انسان په خالي لاسونو څنګه په دې وتوانيدو چې د يو بشر په حيث يې د عربو جنګي قبيلو او لوفرو بدوانو نه د شلو کالو نه هم کمه موده کښې يو ډېر طاقتور او مهذب قوم جوړ کړو--- د کارلايل په ټکو---

(c) ketabton.com: The Digital Library



**How one man single handedly could weld warring tribes and wandering bedouins into a most civilized nation in less than two .decads**

**د کارلایل د دغو شپږو لیکچرو پښتو ترجمې ته هم اراده لرم خو دې وخت کښې مې خپلو لوستونکیو سره دغه لنډ شان معلومات شریکول غوښتل چې د ګټې نه به خالي نه وي---- د کتاب د وړومبي چاپ عکس هم درسره وګورئ---**

---

**هر چې مات د زنګ لښکر کا سکندر شي**
**د خاطر جوهر صفا د سجنجل کا**

**وضاحت----**
**زنګ-په دې شعر کښې په دوو معنو راغلی دی---زنګ یعني توروالی---او زنګ-یعنې زنګیان یا تور نسلونه---**
**سکندر نه مراد لوې فاتح سکندر اعظم دی---**
**خاطر زړه یا طبیعت ته وایی--**
**جوهر یعني صلاحیت---**
**سجنجل عربۍ کښې ایینې یا هنداري ته وایي---**
**اوس دوه خبرې نظر کښې ساتل ضروري دي---یو د ایینې په مخ زنګ او ګرد و غبار----دویم زنګیان یعني تور نسلونه--**
**د شعر اسان مطلب دادی چې څوک زنګیانو یعني تورو نسلونو ته ماتې ورکولی شي نو هم هغه سکندر جوړیدی شي---او بیا دغه فتحې سره یی زړه یا طبیعت د غصې د ګردوغبار نه داسې صفا شي لکه د آیینې د مخ نه چې ګرد صفا شي او دغسې د ایینې جوهر یا د عکس ښودلو په صلاحیت کښې اضافه وشي---**
**دا شعر د خپل تکنیک له مخه لږ نور هم غور غواړي----د زړه نه زنګ لرې کیدل-- د زړه سپکولو او غصې لرې کیدلو مفهوم لري نو داسې وییلی شي چې طبع یی صفا شوه--دغه کیفیت د پاره شیدا د آیینې د مخ صفا کیدل اصطلاح راوړې ده--بیا دې ته هم غور وکړئ چې د آیینې مخ څومره صفا وي او اپوټه اړخ یی څومره د زنګ نه تور وي هومره دآیینې طبع صفا وي او عکس هم صفا ښایی---او دغه زنګ چې په اپوټه اړخ وي نو ګویا چې زنګ په شا تللی دي او ماتې یی خوړلې ده څکه خو د ایینې طبع صفا ده زړه یې سپک شوی دی نو ورسره د زنګیانو یعني تورو نسلونو د ماتې او شکست خبره شوې ده----په دغه تناظر کښې شیدا د سکندر اعظم زنګیانو ته د ماتې ورکولو تاریخي واقعه بیان کړې ده چې زنګیان یې په شا تمبولي وو-- دغه فتح په ډیره ګرانه تر لاسه شوې وه نو څکه پرې د سکندر زړه یخ شوی یعنې طبع یې هم صفا شوې وه او په جنګي جوهر او صلاحیت کښې یی نوره هم اضافه شوې وه لکه د آیینې چې تور زنګ شاته اوړلو سره طبع صفا شي او د عکس ښودلو جوهر کښې یی اضافه وشي---**
**مجموعي پیغام دادی چې دنیا کښې هر مشکل کار تر سره کیدی شي او هم هغه سړی لکه د سکندر کامیاب دی چې مشکل نه مشکل کار تر سره کړي----**
**نوټ----۱---جوهر په صوفیانه اصطلاح کښې د عرض متضاد هم دی--چې مفهوم یی ما پریښی دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲---د آییني او سکندر سره د---آیینهٔ سکندري---روایت هم ترلی دی چې زه تري راتیر شوم---**

---

د پښتنو قبیلو یو موټے کولو او یو ملت جوړولو تصور خوشحال بابا وړاندې کړے وو چې علامه اقبال ورته خپل نظم --- خوشحال خان کی وصیت --- کښې اشاره کړې وه او ما دغه نظم پښتو کښې ترجمه کړے هم دے چې زما مینه والو لوستے دے--- د خوشحال بابا نه هم مخکښې د پښتون قامیت تصور وړاندې کول د لوې پښتون حکمران شیر شاه سوري سره تړلے شي --د روایت په توګه خو وییلے شي چې دغه تصور شیرشاه په خپل دربار کښې د یو چا د پوښتنې په جواب کښې وړاندې کړے وو خو په تاریخي بنیاد یې په لیک کښې ماته کومه حواله نه ده معلومه --- البته اقبال د شیر شاه سوري دغه د --پښتون نیشنلزم-- په تصور هم نظم لیکلے دے چې ما پښتو کښې ترجمه کړو او خپلو مینه والو سره یې شریکوم ----

دا خبره د شیرشاه په ګل بدله
په نفاق خواره وې ډله او ټپله

د وزیر او د محسود نامه خوږه ده
خو جامه به د افغان اغوندې کله

دا د غرهٌ مسلماني خو زر ټوټې شوه
خپل خپل بت پسې چې هره ډله تلله

حرم هاغه لات منات پکښې هغه دي
خو څوک نشته چې یې توره شړنګوله

اردو کلام ---- علامه اقبال

یہ نکتہ خوب کہا شیر شاہ سوری نے
کہ امتیاز قبائل تمام تر خواری

عزیز ہے انھیں نام وزیری و محسود
ابھی یہ خلعت افغانیت سے ہیں عاری

ہزار پارہ ہے کہسار کی مسلمانی
کہ ہر قبیلہ ہے اپنے بتوں کا زناری

وہی حرم ہے، وہی اعتبار لات و منات
خدا نصیب کرے تجھ کو ضربت کاری

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صورت یی لګي اور له خپله تنه
چې ظالم ځي لکه برق تحت الثرا ته
وضاحت......
د شیدا د دغه شعر ساده مطلب خو دادی چې ظالم ظلم کوي او دغه ظلم یی له حده تیر شي نو یوه ورځ پخپله هم د ظلم ښکار شي ګویا په صورت یی له خپله تنه اور ولګي...خو د شیدا انداز بیان ته غور وکړئ...تحت الثرا د زمکې تل یعني اخري ژور حد ته وایی..زمکه چې ګول ده نو ګویا دغه ژور ترین تل په اصل کښې د زمکې دننه مینځ دی...او مونږ ته دا هم پته ده چې زمکه د خپل کشش په زور هر څه ځانته راکاږي...د ساینس د تحقیق تر مخه د کشش ثقل بنیادي مرکز همدغه د زمکې مرکز دی چې د راښکون د ټول قوت محرک دی...بل خوا ظلم هم زیاتي ته وایی یعني ظالم د خپل زور او طاقت استعمال په زیات شدت سره کوي...
په برق هم غور وکړئ...برق د اسمان د لوري یعني پورته فضا نه راځي ځکه ورته اسماني بجلي وایی...دغه بجلي جوړیږي څنګه...پاس فضا کښې د ګیسونو په شکل د زیات قوت توانایی نیمه منفي اونیمه مثبت وي ...د توانایی د دغه منفي او مثبت قوت د ټکراو نه بجلي جوړیږي او په تیزئ سره د زمکې په لور راځي....دغه بجلي هم ماده ده او ماده نه ختمیږي او نه فنا کیږي...نو بیا دغه ماده چرته ځي...دا ماده د زمکې کشش ځان ته راکاږي او په زمکه کښې جذب کیږي ګویا د زمکې تل ته رسي...
اوس د شیدا شعر ته غور وکړي چې وایی د ظالم د ظلم قوت او طاقت کښې چې اضافه وشي لکه د برق قوت او طاقت کښې چې اضافه کیږي نو بیا څنګه چې برق له خپله تنه اور اخلي یعني د مثبت او منفي د ټکر نه لمبه کیږي نو ظالم به هم دغسې د خپل ظلم د قوت نه اور اخلي او سوزي به...بیا څنګه چې د برق ټول طاقت او شدت د زمکې تل ته رسیدو سره سوړ شي دغسې به د ظالم د ظلم شدت هم تحت الثرا ته رسیدلو سره سوړ شي. ځکه چې د مرګ په خوب اودهٔ شو ..بل خو دا اشاره هم د غور وړ ده چې ظالم د مرګ نه پس هسې هم د زمکې لاندې کیږي خو د دوزخ په شکل به بیا د اور سره هم مخ کیږي چې ګویا دغه اور یی هم لکه د برق له خپله تنه اخستی دی یعني دا یی د خپل ظلم انجام دی..بس داسې وګڼئ چې رحمان بابا کومه خبره ساده کوي چې
ته چې بل په غشو ولې هسې پوهه شه
چې همدا غشی به ستا په لور ګذار شي
نو شیدا دغه خبره د خپل ځانګړي تکنیک له مخه لږه په ګران انداز کوي او بیا دغه مشاهده یی په حیرت انګیز ډول د ساینسي تحقیق نتیجو سره هم سمون خوري.

---

د پښتو ژبې څو حیرانوونکي ځانګړتیاوې...

پښتو د ژبې په حیث څو حیرانوونکي ځانګړتیاوې لري چې شاید د نړۍ په نورو ژبو کښې شاذ و نادر ولیدے شي... یو دا چې د پښتنو سیمه د دوو لرغونو هندي او ایراني تهذیبونو سره لګیدلې ده نو یو خوا که د ژند یا اوستا ټول غږونه ادا کولے شي نو ورسره د هندي مدنیت سنسکرت غږونه ټ.. ډ..ړ..او ګ.. هم ادا کولے شي...تر دې چې د سامي ژبو د غږونو ادا کولو او بیا د مغربي اوازونو ادا کولو صلاحیت هم لري...چې پکښې فرنچ غږ ..ژ.. هم شامل دے... نورې ژبې د غږونو د دغه قسمه پراختیا نه محرومې دي.... تر دې چې د عربی او فارسی غوندې غني ژبې هم دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاحیت نه لري.... دې سره سره د پښتو خپل غږونه د ..ځ.. څ.. ږ...او ښ ..داسې غږونه دي چې د جنوبي پښتونخوا اولس یا د قندهارۍ لهجې ویونکي یې د خپلې وینا تر مخه سم ادا کوي او نور پښتانهٔ پخپله هم پکښې ستونزه لري.... بیا د لهجو څومره پراختیا چې پښتو کښې ده شاید دا هم نورو ژبو کښې نه وي .... د دوو غټو لهچو قندهارۍ او پیښورۍ یا یوسفزۍ چې نورې ویشلے شوې څومره لهچې دي شمیره یې د سلو نه هم اوړي .. . یوه بله حیرانوونکې ځانګړتیا یې دا ده چې پښتو کښې د تورو پیل د ساکنو یا خاموشه او بې حرکته اوازونو نه هم کیدے شي چې دغه صلاحیت په مغربي ژبو کښې انګریزي لري او په مشرقي ژبو کښې یې پښتو نه بغیر بله یوه ژبه نه لري...تر دې چې د یو ساکن حرف نه واخله تر څلورو ساکنو پورې توري لرل یواځې د پښتو ځانګړتیا ده ...لکه ...مٌږه..کښې یو ساکن ...م..دے او په پیل کښې دے.. مٌرٌمه...کښې وړومبي دوه حرفونه ...م..او..ر .. ساکن دي او پیل کښې دي.. مٌرٌسٌته.. کښې وړومبي درې ساکن .. م... ر... او..س .. ساکن دي او پیل کښې دي....بٌرٌنٌدٌ یا ژٌمٌنٌځٌ..کښې څلور توري دي او څلور واړه ساکن یا غیر متحرک دي... دغه صلاحیت خو ما د نړۍ یوه ژبه کښې نه دے لیدلے په کومو چې زه خبر یم.. ځکه زه یې د پښتو حیرانوونکې ځانګړتیا ګڼم ....

زه د پښتو کومه جذباتي برتري ثابتول نه غواړم ... پښتو به ځنې کمۍ هم لري خو د دغو څو ځانګړو صلاحیتونو په بنیاد یې د نړۍ ډیره ځانګړې ژبه ضرور ګڼم ... او ورسره یې د نړۍ ډیره غني او غټه ژبه هم ګڼم ... تر دې چې بغیر د کومې حکمرانې سرپرستۍ د زرګونو کلونو راسې ژوندۍ او غني ژبه ده.....

---

د مبارز مینه ......

د مومندو پت منې خاورې د ایمل خان مومند نه راواخله تر مبارز مومند پورې داسې مبارزین زیږولي دي چې د خپلې عملي مبارزې او یا قلمي مبارزې په وسیله یې د تاریخ په پاڼو کښې هم ځاې نیولے دے او د اولس په زړونو کښې هم.ګران مبارز مومند مې په زړه کښې ځایې نیولے دے او په ځانګړي ډول مې ځکه یاد کړو چې د مینې انداز یې هم ځانګړے دے.... د څه مودې نه یې راته وییل چې زما حجره کښې به زما میلمه کیږي او شپه به راوړې... ما وې په سر سترګو..تیره هفته یې وییل چې بس نزدې نیټه تهٔ راکړه او ستا راوستلو له به درپسې اسلام اباد ته زه درځم... ما وې نه پخپله به درځم او ستاسو په وینا به د غرهٌ سر ته هم درځم.. پرون د خپلو ملکرو ډاکټر شهاب عزیز ارمان او کشر عباس خلیل په بدرګه کښې غلنۍ ګندف ته ورغلم او په ربښتیا د غرهٌ سر ته ورغلم ... څه عجیبه خوږ او دروند سړے دے.... د میلمستیا نه علاوه یې راته د شاعرانو بهیر راغونډ کړے وو.... د داسې خوږو خلقو تر منځه یې کښېنولم چې ډیر مې لا لیدلي هم نه وو خو لیدل یې زما خواهش وو... دغه خو یو خوا...غونډه یې زما په درناوي کښې راجوړه کړې وه او زه ترې خبر هم نه .... زما د پنځوس کلن جشن په ویاړ ګڼ شمیر دستورې وشوې خو په یوه مې هم کوم ځانګړے پوسټ نه دے کړے... دا ځل د مبارز مینه څه داسې وه چې زه یې دغه لنډ د مننې تاثر ته اړ کړم... د وصال مومند...علي مومند..غزل مومند...شباب مومند.. حیران مومند.. افتاب بدر... ډاکټر شهاب عزیز ارمان.. لیکونو او تاثراتو او بیا د اقبال کوثر لیکلې خاکې او پخپله د مبارز مومند خبرو او زما د مودو اشنا روښان یوسفزي صدارتي وینا کښې د صادقانه مینې اظهار داسې پوروړے کړم چې د مینې پور به یې په مودو مودو خلاص نه کړے شم..... د دغه رنګینې شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواږهٔ او د ګران مبارز مومند د مینې یادونه مې له ځانه سره راوړل چې زړه ذهن او روح مې پرې سرشار دے ---زما ملګري جوهر خلیل او شیر احمد خلیل مو هم په هره لمحه یاد ساتل چې د څه مجبورو په وجه راسره نه وو تلي----مومند ادبي ټولنه-- د مومندو پت منه خاوره او د مومندو هر وګړے دې سر بالا وي--- زما د ژوند د ټولو نه غټه سرمایه همدغه د مینه ناکو ملګرو مینه ده چې ورسره وخت په وخت مخ کیږم--- خو بس د مبارز د مینې انداز بیا بل رنګ دے---

---

شیدا کوهٔ به تمام آب لکه دریا شي
که تفهیم د معنا وکا په صدا کښې
وضاحت-----

د شیدا په ساینسي شعور مونږ مخکښې هم خبره کړې ده -نن یې د جغرافیې د علم په رڼا کښې دغه شعر ته نظر کوو--او ورسره څو نورو زاویو ته هم ځیر کیږو--

کوه--- غر ته وایی-تفهیم-- د فهم په بنیاد پوهیدلو ته او صدا اواز ته وایی--- د اواز او غر نسبت په څو حوالو جوت دی--په هر اواز کښې یوه معنا پټه وي خو اډانه یی د دغه معنا په تفهیم یا پوهه وي--- غر د کاڼي وي او په کوم انسان چې خبره اثر نه کوي نو ویلی شي چې سم کاڼی دی خبره پرې اثر نه کوي--ځکه چې کاڼي ته د خبرې یا اواز د معنا تفهیم نه کیږي--دغه روایت د غر سره هم تړلی دی--یعني څنګه چې د کاڼي غوندې بې حسه انسان په خبره نه پوهیږي دغسې د کاڼي غر هم نه پوهیږي-- څنګه چې د دغه بې حسه انسان په حقله ویيلی شي چې خبره په یو غوږ اوري په بل یی وباسي--- دغسې غر هم د معنا د تفهیم نه کیدلو په وجه هر اواز په شا تمبوي --اواز بغیر د تفهیم نه واپس کوي او د اواز د ګونج یو منظر د غریزې سیمې خاصه جوړیږي--

خو شیدا څه وایی---هغه وایی چې که د اواز په معنا کښې زور وي نو بیا د کاڼي غوندې بې حسه انسان زړه هم نرموي او د غر غوندې سخت مخلوق کښې د تفهیم صلاحیت هم پیدا کوي---غور وکړئ--قران حکیم د غر په حواله هم ویيلي دي چې دا قران که په غر نازل شوی وی نو غر به هم له خوف او ویرې ریزه ریزه شوی وو--ګویا غر هم د خپل مزاج او معیار تر مخه د تفهیم صلاحیت لري--خالق چې د انسان نه علاوه کاینات او نور مادي مخلوق ته کوم قوانین ورکړي دي نو ورسره یی --د طوعاً و کرهاً--الفاظ راوړي دي --یعني د دغه مخلوقاتو که خوښه وي او که نه خو د خالق د حکم تعمیل به کوي--- ګویا خالق چې کوم قوانین ورکړي دي نو د دغو قوانینو مطابق به چلیږي--مطلب دا چې د دغو مخلوقاتو او بیا غر هم د خپل مزاج او جبلت تر مخه د تفهیم صلاحیت شته-- یا قوانین لري--

اوس راځو اصل خبرې ته شیدا وایی چې زما شاعری یا اواز کښې د پټې معنا تفهیم که کوه یعنی غر ته هم وشو نو دغه غر به هم لکه د دریاب اوبه اوبه شي--دغه مفهوم کښې یو نکته خو ژبني اړخ سره تعلق لري یعني اوبه اوبه کیدل چې د ډیرې حیا نه کیږي--یا په اردو کښې محاوره---شرم سې پاني پاني هونا--او اوبه یا آب هسې هم د شرم و حیا د پاره استعاره ده--ګویا د شیدا په اواز یا شاعری کښې به داسې نادره او ژوره معنا وي چې غر به هم د حیا نه اوبه اوبه شي--نو انسان خو لا پریږده--که د اواز تفهیم یی وشي نو بیا به غر هم د شیدا اواز لکه د بې حسه انسان واپس کوي نه بلکې حیا به ورځي چې دومره شیرینه او حسینه معنا ده د شیدا په اواز کښې--او بیا جغرافیایی پوهې ته یی هم ځیر شی--دا چرته چرته چې غرونه دي په دغو مقاماتو د سمندرونو دور تیر شوی دی--- یعني دا غرونه د سمندرونو نه راوتي دي او دا بیا هم سمندري دور سره مخ کیدی شي--ګویا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه د غرونو اوبه کيدل دي--بيا دا هم وګورئ چې دا موجوده دريابونه هم د غرونو د سرونو واورې ويلې کيږي او چې لاندې راځي نو دريابونه ترې جوړيږي--نو شيدا په خپل شعر يا اواز کښې پروت ژور مفهوم له جواز دا جوړوي چې دا غرونه هم چې اوبه راپريږدي ګويا اوښکې څڅوي او زما د اواز په تفهيم کښې د اوښکو دريابونه بهوي ځکه چې زما اواز صدا يا فرياد کښې د پروت درد تفهيم ورته وشو--نو اوس غور وکړئ چې شيدا په کوم انداز او د کومو زاويو نه دخپلې شاعرۍ د معنويت خبره کوي او د کاينات نه کوم کوم مثالونه راخلي چې دغه خاصه د هندي سبک د شاعرانو ده--خو خبره هم هغه د شيدا د معنويت د تفهيم ده--خوند به ترې هغه څوک اخستلى شي چې چاته يې د صدا د معنويت تفهيم کيږي---

---

ځيني ناقدين د شعر د شرحو اوتشريحاتو په حق کښې نه وى--وايى چې شعر د لوستونکيو خپل مزاج او ذوق ته پريښودل پکار دي ---ځنې وايي چې تشريح سره د شعر خوند پيکه شي --- --د کاظم خان شيدا په حقله خو مي دا هم تر نظره شوي دي چې بس په شيدا کار مکمل شو --نور کار پرې نه دے پکار--- شايد دوئ به هم درست وايي خو زه داسې محسوسوم چې په خصوصي توګه د کاظم خان شيدا شعر چې تر څو تشريح شوى نه وي نو ډير کم خلق ترې خوند اخستى شي---البته تشريح چې داسې وشي چې زياتې فني غوټې يې پوره جمالياتي خوند او فني مهارت سره پرانستى شي نو ايله د شيدا د شعر خواږه او د هغه فني کمال جوت شي---خو شيدا د بد ذوقه کودن او حاسد نقاد نه ډيره کول غواړي-وايي-

ګيله من يم له حاسده

ښه متاع کاندي کاسده

او نقاد چې د لوړ ذوق وي نو د شيدا غونډې د فن پير کامل بيا خپل شعر کښې د اصلاح اجازت هم ورکوي---

د شيدا رنګين اشعار د ګل خرمن دى

په اصلاح يې کړه تازه دهقان پيره

د اصلاح غوښتنه خو د شيدا خاکساري ده يا د هغه فني لوې والى--څوک هم دغه مقام ته لا نه دي رسيدلي خو د هغه د شعر شرح او تشريحات زه د وخت يوه اهمه غوښتنه ګنم او داسې ګنم چې د هغه د شعر خوند د تشريح سره يو په دوه شي--- نو بس زه خو د اعتراض کوونکيو يا نقادانو صاحبانو د اعتراض او تنقيد باوجود د شيدا د شرحو او وضاحتونو نه منع کيدى نه شم --- ځکه چې ما خو د تيرو لسو کالو راسې خلق برداشت کوي او د شيدا شرحو ته مې هرکلي وايي-- چې تر څو زما لوستونکي دغه ليکونه لوستل غواړي او خپله مينه پکښې څرګندوي نو بس زما او د شيدا دوستانه به دوامداره وي -----

---

د اشفاق طمع به څه کړې له اخوانه

نتيجه يې ورکيده وي له کنعانه

وضاحت----

په دې شعر د خبرو نه مخکښې بايد يو وضاحت وکړم چې شيدا په هلکوالي کښې د خپل وطن سراې اکوړي نه د هند په لور تللى وو---- ټول ژوند يې د هند په رامپور کښې تير کړى وو او هم هلته دفن شوى دى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیدا د دغه شعر نه زما ذهن ځنو داسې خبرو ته ځي چې زمونږ د محققینو نه لږ فرق لري--زمونږ محققین وایی چې د شیدا خپل پلار افضل خان ختک سره ناچاقي راغله نو د خپلې برخې جایداد یې هم ورپریښنو او هند ته مرور لاړو--زه وایم چې وړومبی خو افضل خان د شیدا پلار نه دی--دې خبرې د پاره هیڅ سند نشته--راورتې هم دا خبره بې سنده کړې ده او زموږ محققینو یی پیروي کړې ده--بل دا چې دلته شیدا خپل نسبت د حضرت یوسف علیه السلام سره راوړي او په ښکاره ګیله د --اخوان--یعنې وړونو نه کوي--نو ښکاري داسې چې یو خو د شیدا پلار سره کومه شخړه نه وه ځکه چې یوسف هم د پلار د سترګو تور وو--بل دې شعر کښې چې د --اشفاق--یعنې شفقت توری راغلی دی نو د شفقت طمع د مشرانو نه کیږي--ګویا ځنګه چې یوسف نه وړونه مشران وو دغسې شیدا نه هم وروڼه مشران وو--بل دا اندازه کیږي چې شیدا له کوره پخپله مرور نه دی تلی بلکې ځنګه چې مشرانو ورونو یوسف په سازش او پلار ته په دهوکه ورکولو د خپل وطن --کنعان--نه ورک کړی دی بیخي همدغسې خبره شیدا هم کوي چې --
نتیجه یی ورکیده وي له کنعانه--
ګویا شیدا هم د کشري بچي په حیث لکه د یوسف په خپل پلار ګران وو خو د ورونو په سازش د خپل وطن --سرایی --نه ورک کړی شوی دی--چې پلار به ورپسې ضرور خفه وو لکه د حضرت یعقوب چې یوسف پسې خفګان وو--بله زړه راښکونکې خبره داده چې د شیدا د وفات نه دوه کاله پس چې هندوستاني تذکره نګار قدرت الله شوق رامپوري دشیدا په شخصیت څه لیکلي دي هغې کښې یی د شیدا اخلاقي حسن سره سره دهغه دشکل وصورت د حسن هم پریمانه ستاینه کړې ده او رامپوري د شیدا همعصر هم وو چې دا د شیدا د یوسفي حسن سره یو بل مناسبت دی--نو نتیجه دا راوځي چې--
١--د شیدا پلار چې هر څوک وو خو د شیدا ورسره اختلاف نه وو--
٢--دشیدا ټوله لانجه ورونو سره وه او وړونه ترې مشران وو--
٣---شیدا د وطن نه پخپله مرور نه وو تلی بلکې د ورونو د ظلم او سازش ښکار شوی وو---
٤--شیدا د اخلاقي حسن سره سره په شکل و صورت هم ډیرحسین وو--
٥--او دا هم چې د شیدا مشران وروڼه به هم لکه د یوسف د ورونو میرني وو---
او داسې ځنې نور مناسبتونه هم د حضرت یوسف سره ---چې عام انساني مناسبتونه ورته ویيلی شو---

---

د جرمني معروف شاعر او دانشور **Johann wolfgang von goethe 1749...1832** په جرمنی ژبه کښې یو نظم د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم په حقله د **Mohamets gessang** په نوم لیکلے وو **jones jolle** په دغه نظم انګریزی کښې تفصیلي لیک هم وکړو او انګریزي ترجمه یې هم د **Song for Mohammad** په نوم وکړه -- علامه اقبال د دغه نظم په تاثر کښې فارسي کتاب -- پیام مشرق -- ولیکلو او د دغه نظم یوه فارسي ترجمه یې هم د --جوے آب ---په نوم په شپاړسو بیتونو کښې وکړه چې اقبال ورته تخلیقي یا ازاده ترجمه وایي --- ما د اقبال د شپاړسو بیتونو پښتو ترجمه د معرا نظم په شپاړسو بندونو کښې وکړه چې د هر بند اوهٔ اوهٔ مصرعې دي او د هر بند وروستی دوه مصرعې رانه پخپله قافیه لرونکې هم شوې ---خو ورسره مې انګریزي ترجمه هم نظر کښې ساتلې وه نو ځکه زما پښتو ترجمې هم د تخلیقي ترجمې شکل واخستو --- د ګویټے دغه نظم د عجیبه زړهٔ راښکونکیو استعارو او علامتونو په مرسته لیکلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شوے دے چې حضور اکرم ص او د هغو انقلاب ته يې --- د اوبو چينه -وييلې ده او ځنو نورو مفاهيمو د پاره يې نورې استعارې راوړې دي----خپله پښتو ترجمه او د اقبال فارسي ترجمه ملګرو سره شريکوم----**

**د اوبو چينه ---**

**د ژوند چينې ته ګوره**
**څومره ژورو کښې هم**
**ځي او په مخکښې دورمي**
**په ميدانونو کښې هم**
**يا په ټولي کښې ستورے**
**چې ځان له لار اوباسي**
**ځان په تلوار اوباسي**

**د اسماني اوريځو**
**زانګو کښې پروت اودهٔ وو**
**ژوند به جوتې خوړلي**
**چې يې له شوقه سترګې**
**له خوبه وغړيدې**
**په غيږ د غرونو کښې وو**
**په ګردشونو کښې وو**

**ژوند شو سرور کښې روان**
**د لارې کانړو نه هم**
**يو موسيقي زيږوي**
**ټنده يې هم روښانه**
**پرې ملغلرې سپينې**
**لکه رڼه هنداره**
**تهٔ يې په لاره څاره**

**دغه د ژوند چينه خو**
**د يو پراخ سمندر**
**په لوري دورمي زغلي**
**په خپل وجود کښې فنا**
**خبر له ځانه نهٔ وي**
**د خپل منزل په لوري**
**دورمي بهيږي شوري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه چيني ته په لار
سپرلي فضا جوړه کړه
د ښاپيرو د وطن
نرګس او نور ګلونه
دي هرکلي ته ولاړ
سلام له لرې وايي
سپرلے سندرې وايي

ګلاب رامخکښې شولو
وايي زما سره شه
د څو لمحو د پاره
غوټۍ هم شوله مسکۍ
زما ځواني ده تنکۍ
سپرلے يي راوستلو
څادر يې واغوستلو

د شين لباس د ښکلا
د جلوه ګرو نه هم
ده ناخبره چينه
پروا د چا نۀ کوي
درومي په مخکښې درومي
دشتو ته لاره کوي
غرونو د پاره کوي

بس د پراخ سمندر
په لوري درومي زغلي
په خپل وجود کښې فنا
په خپل منزل يې نظر
وروستو په شا نۀ ګوري
درومي بهيږي چينه
زر به رسيږي چينه

شنو ميدانونو نه هم
د سردرو نه چې هم
دا په سوونو چينې
يې ملګرتيا له راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ورته داسې وايي
تا ته راغلې زمکه
ده غوړېدلې زمکه

اوبهٔ هم نشته دلته
شاړه پرته ده دشته
چې په هر لور دي شگې
په مونږ نظر ولړه
يو خوږ د ميني نظر
د رڼا څرک نشته دے
چرته درک نشته دے

چينې سينه پرانسته
د شرق او غرب هوا ته
ستړي ستومان لاروي
يې راترغاړه ويستل
لکه د گورې ونې
سيورے يې خور کړو ورته
زړگے يې کور کړو ورته

د خپل منزل په لوري
د سمندر په لوري
کهٔ دردانې ورسره
سل زره نورې هم وي
ټولې يوې ته گوري
څهٔ مستانه خو درومي
دغه دانه خو درومي

تهٔ سمندر ته گوره
هم يې سفر ته گوره
دے په غورزنگ چې روان
ورته خنډونه هيڅ دي
کاڼي او غرونه هيڅ دي
ښهٔ بې مهاره درومي
په خپله لاره درومي

لکه سيلاب په غورزنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړې ژورې ورته
دواړه هوارې پرتې
دا د شاهانو ماڼۍ
هم قلاګانې دنګې
هر څهٔ کړي زير او درومي
په بڼ شي تير او درومي

يو ولوله بې تابه
سوے ځيګر ناقرار
د جوش نه ډکه جذبه
ډيره چابکه جذبه
درومي په مخکښې درومي
زوړ تصور بدلوي
خپل مقدر بدلوي

د لوی درياب په لوري
څهٔ مستانه خو درومي
په خپل ايمان او يقين
په يو وجود انجمن
ښهٔ په شدت حرارت
درومي او درومي درومي
ځکه منزل ومومي

جوے آب-فارسي----علامه اقبال

بنگر کہ جوئے آب چہ مستانہ می رود
مانند کہکشان بگریبان مرغزار

در خواب ناز بود بہ گہوارہ سحاب
وا کرد چشم شوق بآغوش کہسار

از سنگریزہ نغمہ کشاید خرام او
سیماے او چو آئینہ بے رنگ و بے غبار

زی بحر بیکرانہ چہ مستانہ میرود
در خود یگانہ از ہمہ بیگانہ میرود

(c) ketabton.com: The Digital Library



در راه او بهار پریخانہ آفرید
نرگس و دمید و لالہ و دمید و سمن دمید

گل عشوه داد و گفت یکے پیش ما بایست
خندید غنچہ و سر دامان او کشید

نا آشنائے جلوه فروشان سبز پوش
صحرا برید و سینہ کوه و کمر درید

زی بحر بیکرانہ چہ مستانہ میرود
در خود یگانہ از ہمہ بیگانہ میرود

صد جوئے دشت و مرغ و کہستان و باغ و راغ
گفتند اے بسیط زمین با تو سازگار

ما را کہ راه از تنک آبی نہ برده ایم
از دستبرد ریگ بیابان نگاه دار

وا کرده سینہ را بہ ہوا ہائے شرق و غرب
در بر گرفتہ ہمسفران زبون و زار

زی بحر بیکرانہ چہ مستانہ میرود
با صد ہزار گوہر یک دانہ میرود

دریائے پر خروش ز بند و شکن گزشت
از تنگنائے وادی و کوه و دمن گزشت

یکساں چو سیل کرده نشیب و فراز را
از کاخ شاه و باره و کشت و چمن گزشت

بیتاب و تند و تیز و جگر سوز و بیقرار
در ہر زماں بتازه رسید از کہن گزشت

زی بحر بیکرانہ چہ مستانہ میرود
در خود یگانہ از ہمہ بیگانہ میرود

---

ما چې ستا ښایست او نمر سپوږمۍ سره په تول کړهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تللي تر اسمانه په میزان کښې سپوږمۍ نمر دي.**

**شرح----**

**نن به د رحمان بابا د یو شعر په راسپړدنه خوند واخلو.دکلاسیکي شاعرۍ یو خاصیت دا دی چې پکښې شاعر د خپل محبوب د ښایست تصویر کولو د پاره د کاینات مشاهده کوي او د تشبیه استعارې په توګه د کاینات نه مثالونه راخلي لکه په زمکه کشمیر- بخارا -سمرقند- کوه قاف- ختن وغیره او په اسمان کښې نمر سپوږمۍ وغیره.د مبالغې انداز یې داسې وي چې نور شاعران ترې عاجز پاتې شي لکه د فارسۍ حافظ شیرازي چې د سمرقند او بخارا د ښایست مثال ورکوي او د محبوب د زنې په یو تور خال یې قربانوي نو وایي چې----**

**اگر ان ترک شیرازي بدست اورد دل ما را**

**بخال هندوش بخشم سمرقند و بخارا را**

**او بیا خوشال بابا د دې نه هم زیاته حسن مبالغه کوي او وایی---**

**سمرقند و بخارا څه هغه زه یم**

**چې جهان بخښم د ښکلي مخ په خال.**

**اوس رحمان یابا ته غور وکړئ چې هغه د محبوب د حسن تصویر کشۍ د پاره د کاینات مشاهده او بیا تمثیل نګاري د حسن مبالغې په کوم انداز وړاندې کوي.هر شاعر نمر او سپوږمۍ د حسن علامت ګڼي خو رحمان بابا یې دمحبوب د حسن په مقابله کښې دومره حقیر او سپک ګڼي چې د میزان یعنې تلې په یو چابړې کښې یې دمحبوب ښایست اچولی دی او بل کښې د ښایست علامتونه نمر او سپوږمۍ او بیا جواز دا پیش کوي چې دا نمر او سپوږمۍ چې دومره اوچت دي او پاس اسمان کښې دي نو دا ځکه چې د تلې مخالف چابړې کښې ورسره زما د محبوب حسن پروت دی. یو چابړی دومره دروند چې په زمکه یعنې زما محبوب او بل چابړی خپل حسن کښې دومره سپک چې اسمان ته ورسیدو.نو بس نمر او سپوږمۍ دغه سپک چابړې کښې اسمان ته ورسیدل.**

**دا انداز دی د رحمان بابا د خپل محبوب د حسن د ستاییلو. زما په خیال چې هر شاعر به دغه انداز نه عاجز وي ځکه خو رحمان بابا وایی----**

**چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي**

**دا دې شعر دی رحمانه که اعجاز.**

---

**زما ملګرو او لوستونکیو ته پته ده چې ما خپله د ترجمو لړۍ اودرولې ده خو تیره ورځ زلمي ظفران خان غوښتنه وکړه چې د علامه اقبال هغه درې فارسي شعرونه هم ترجمه کړه چې د خوشال بابا په ستاینه کښې یې لیکلي دي نو بس ترجمه مې کړل او ملګرو سره یې شریکوم هم----په مینه.**

**د خوشال خان ختک په حقله---- دا عنوان ما ورکړے دے.**

**هغه سندریز شاعر افغان ښهٔ پیژندلو**

**څهٔ یې چې لیدل نو باک یې نهٔ وو په ویيلو**

**هاغه د افغان ملت حکیم د حکمتونو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هاغه یو طبیب د افغانانو د رنځونو**

**تل به راز د قوم بیانولو کښې بې باک وو**
**بس خو په رښتیا وینا به مست وو په زړهٔ پاک وو**

**فارسي کلام ---- علامه اقبال**

**خوش سرود آں شاعر افغان شناس**
**آن کہ بیند باز گوید بے ہراس**

**آن حکیم ملت افغانیاں**
**آن طبیب علت افغانیاں**

**راز قومے دید و بے باکانہ گفت**
**حرف حق با شوخی رندانہ گفت**
**( جاوید نامہ )**

---

**چې له زخمه یې مرهم د کافور ریژي**
**بیکسي د کهکشان په تیمار کس شي**

**وضاحت....**
**هسې خو دې شعر کښې د زخم.مرهم..او تیمار توري یو تصور ضرور مخې ته راولي خو چې کله ورسره د کایناتي مشاهدې په حواله د کهکشان نسبت وتړلی شي نو شعر نه معنا راویستل ستونزه پیښنوي...له هر څه زیاته ستونزه د دویمې مصرعې ..کس..توري پیدا کړې ده چې د همدغه مصرعې د وړومبي توري ..بیکسی..سره په مناسبت د خلقو توجه دې ته راولي چې ..کس.. نه به مراد ..سړی ..فرد یا انسان وي ..او که دغه مراد واخلو نو دغه یو توری د شعر ټول معنویت په بل لور بوځي...کس..اصل کښې د ..ک.. په زبر نه بلکې په غړوندې دی...او مطلب یې فرد یا سړی نه بلکې کسل یا کتل دی...لکه مونږ چې وایو ..کسه ورته..یعنې ګوره ورته.. د ..کس.. نه علاوه چې د نورو ټکو معنې هم نظر کښې وساتو نو خبره به اسانه شي...**
**کافور هم هغه د سپین رنګ مواد دي چې خوشبویه وي ..یخ وي..او په زخم د پټی په حیث ایښودلی شي ..ګویا د زخم د پاره د مرهم کار ورکوي..تیمار هم هغه تیمار داری ته وایی یعنې د زخمي د زخم دوا دارو کول...بیکسي یعنې بې یارو مددګار...اوس به راشو د شیدا شعر ته....ساده مفهوم خو یی داسې دی چې..**
**د کهکشان بیکسي هغه وخت د کتو وي چې د زخم نه یې د کافور مرهم یا پټی رژیږي...غورزیږي یا پریوځي...**
**خو دغه ساده مفهوم نور هم غور غواړي...کهکشان د ستورو انجمن یا ټولي ته وایی او دغسې د کهکشان دوه حالتونه وي..یو دا چې ستوري د خلا او پړقا نه بغیر سوروالی لري او د زخم رنګ هم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سور وي۔ دویم دا چې ستوري کله ځلنده وي یعني سپیني شغلي ترې چاپیره وي نو د ستورو هغه سوروالی پټ وي او سپین رنګ پرې غالب وي۔نو ورسره د کافورو رنګ هم سپین وي۔۔ګویا دغه سپیني شغلي د کافورو مرهم یا پټي ده چې د ستورو په سور او تازه زخم لګیدلي ده۔۔اوس دې ته غور وکړئ چې مرهم یا پټی خو په زخم انښلي او زخم دغه پټی نه د دوا یا دارو اثر ځان ته راکاږي خو د کهکشان زخم سره اپوټه عمل کیږي ۔۔خپلې سپیني شغلي ترې لرې تښتي لکه د کافور هم چې خاصیت دی لرې تښتیدل یا الوتل۔۔هر څو که کهکشان دومره طاقتور وي چې هر څه ځان ته راکاږي خو په زخمي حالت کښې یې دغه بیکسي د کتو ده چې د کافور په رنګ خپلې سپیني شغلي هم ځان ته نه شي راښکلی چې د کافور غوندې یې د زخم د تیمار یا دوا دارو سبب شي۔
که ساینسي توجیه ته یې غور وکړو نو د کهکشان ټول ستوري د یو بل په راښکون یعني ګریویټي قایم وي او ټول کهکشان د خپل بلیک هول په ګریویټي قیام و دوام لري خو د دغه راښکون باوجود د ستورو رڼا په یو سیکنډ کښې د یو لاک شپږ اتیا زره میله په رفتار له ستورو نه زغلي او لرې تښتي۔۔او دغه رڼا په خپل تیز رفتار کښې د ګیسونو شکل هم اختیاروي۔۔بلخوا کافور هم چې د رڼا غوندې سپین رنګ هم لري خو ورسره د الوتلو او لرې تښتیدلو خاصیت هم لري او د ګیس صورت هم اختیاروي ۔۔ نو دلته د ستورو د رڼا سره تشبیه شوي دي۔حال دا چې د ستورو رڼا د ستورو د وجود برخه ده خو په زخمي حالت کښې ورسره دغه رڼا هم وفا نه کوي او لرې ترې تښتي لکه کافور چې د زخم نه رژیږي او لرې تښتي۔
دغه حال په انساني ټولنه کښې هم د هغو زخمي افرادو وي چې د زخمي حالت نه مخکښې د کهکشان غوندې طاقت رعب او جلال هم ولري خو د ژور زخم په حالت کښې یې بیکسي د کتو وي چې د کافورو مرهم دوا او دارو هم ورسره مرسته نه کوي۔لرې ترې تښتي۔۔داسې حالت کښې یې ټول طاقت او جلال په بیکسی بدل شي۔۔۔
د شیدا دوه مصرعې او دومره لوې جهان راګیرول۔ کمال کوي شیدا۔۔په ایمان۔۔۔

---

پښتو د فارسی مور که لور۔۔۔۔

د ژبو زیات ماهرین وایي چې پښتو د فارسی نه راوتلې ژبه ده خو زما فکر د دې اپوټه دے۔۔۔۔ زه وایم چې فارسي د پښتو نه راوتلې ژبه کیدے شي ۔۔۔ د دې فکر مرسته د تاریخي او لساني دواړو حوالو نه کیدے شي۔۔۔په تاریخي حواله د پکهتین اولس او د هغوئ د ژبې پکهتي یا پکهتو ذکر په ویدي ادب کښې شتون لري چې څلور زره کاله زوړ ادب دے۔ دغه دور کښې نه خو د فارسی ذکر شته او نه یې د زړو نومونو پهلوي یا ژند نوم او نشان شته ۔۔۔په لساني حواله هم که تجزیه وشي نو فارسي چې څومره زوړ او پخواني دور ته ځي نو پښتو ته نزدې کیږي ګویا په قدیم ترین دور کښې پښتو کښې ورګډیږي ۔۔۔د مثال په توګه د فارسی په کلاسیکي ادب کښې ځنې ټکي خو داسې راغلي دي چې فارسی کښې که اوس هم نه دي بدل شوي خو په اصلي بڼه د پښتو ټکي دي۔لکه ۔۔۔ دعاګو یم۔۔کښې د ۔۔۔یم۔توړے حافظ شیرازي داسې راوړے دے۔
اګر دشنام فرمایی وګر نفرین دعا ګو یم
جواب تلخ می زیبد لب لعل شکر خا را
دغه شان د۔۔۔ تهٔ یې۔۔۔ توري په فارسی کښې شمس تبریز د تویی۔۔په شکل داسې راوړي دي
ادم با صفا تویی یوسف مالقا تویی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خضر راه خدا تویی دم دمه دم علي علي
خو دغو مثالونو نه زیاته د خوند خبره داده چې د فارسی ځني توري په اوسنی فارسی کښې بدل شوي دي او په زړه فارسی کښې یې شکل هم هغه د پښتو والا پاتې دے..لکه اوسنی فارسی کښې چې ---ختم شد .. دے نو زړه فارسی کښي دغه ---شد --- شو --دے---او اوسنی فارسی کښې ---نه شد---په زړه فارسی کښې هم د پښتو غونډې ---مهٔ شو-دے
د فارسی مصرعه ده چې
اے عقل تو ز شوق پراگنده گوے شو
یواځې دغه نه بلکې--- د اوسني فارسی ---شدم---په زړه فارسی کښې
----شوم--دے---اوسنے---شدی---په زړه فارسی کښې--- د پښتو غونډې --شوی --- دے--- او داسې نور ټکي----
یوه خبره بله ورزیاتوم چې د فارسی په کلاسیک ادب کښې د بلخ د مولانا روم غونډې خلق د افغانستان یعنی د پښتون وطن پیداوار دے----د هند فارسي کلاسیک هم د هغه سیمې پیداوار دے چرته چې پښتنو حکمرانی کړې دي----نو ایران که د طنز نه دغه فارسی ته دري وایي خو اصلي کلاسیک یې په همدغه ژبه کښې دے چې د افغانستان یا توران یا ماورالنهر فارسي پاتې شوې ده----او چې د کلاسیک نه هم پخواني دور ته لاړ شې نو فارسي به پښتو ته نوره هم نزدې کیږي چې په یو مقام به په پښتو ورگډیږي----ځکه زه وایم چې فارسي د پښتو لور کیدے شي خو مور نه----گني کشره خور به یې وگڼو خو مور یې نه شي کیدے----

---

راشه گوره د کاکل سیه مستی ته
یو قدم په لاره تلی نه شي بې دوشه

وضاحت-----د حسینانو د زلفو درې مخصوص اندازونه وي---یو دا چې د سر د وړومبۍ برخې ویښته چې مخامخ په خپل رخسار راواړوي--دغه وخت کښې ویښته خواره وي یعني زلفې پریشاني وي---نو د محبوب د ښکلا عکس خو پیش کوي خو زلفو سره پریشاني هم ملګرې وي---د زلفو دغه تصور او تصویر ته کاکل وایی---دویم صورت یې دا وي چې کله همدغه د سر د وړومبۍ برخې ویښته په شا واړولی شي نو شاته د اړولو په مناسبت ورته پیچک یا پیچکی وییلی شي یعنی اردو کښې ---پیچهی هټانا---یا د څټ په لور د ویښتو اړولو همدغه تصور او تصویر ته څټوکی هم وییلی شي---دې تصور کښې زلفې پریشاني خو نه وي زړه یې جمع وي خو د ښکلا درجه یې کمه شي---یو منځنی صورت دی چې د محبوب د ښکلا انتها پکښې لیدی شي---یعنې زلفې په اوږو اچول-- دوش په فارسی کښې اوږو ته وایی---دا هغه مقام دی چې زلفې پکښې مستي هم کوي ---څنګه مستي---دا به د شرابي د کیفیت نه څرګند کړو چې شیدا هم ورته اشاره کړې ده----
د شراب خور هم درې کیفیتونه وي---یو مستي ده---چې شراب خور دخپل سرور په وړومبۍ درجه کښې وي او په هوش او حواس کښې وي---دویم سیه مستي ده ---چې شراب خور د سرور په اوچت کیفیت کښې وي---هوش او حواس یې هم کار کوي خو په لاره تلی نه شي--ټالی یا جوتې وهي نو د تلو په وخت د نورو په اوږو چې لاسونه واچوي هله قدم اخستی شي--- یعنې دواړه لاسونه یې د دوو کسانو په اوږه اچولي وي او قدم اخلي---دا دویم کیفیت دی چې د سرور د ټولو نه اعلا کیفیت دی---دریم کیفیت ته یې بدمستي وایی --- دې کیفیت ته فارسي وان --خراب-- وایی چې شرابخور د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښئلو انتها کړې وي نو هوش او حواس یې هم لاړ شي او سرور یې هم ګډ وډ شي--دزلفو د دریو تصویرونو---او د شرابخور د دریو کیفیتونو د وضاحت نه پس اوس راځو د شیدا شعر ته..
شیدا وایې چې د حسین محبوب د زلفو یعنې کاکل هم لکه د شرابخور دویم او منځنی کیفیت دی--د سیه مستۍ کیفیت..څنګه چې شرابي د سیه مستۍ په کیفیت کښې د سرور د ټولو نه اعلا مقام کښې وي ---دغسې د محبوب کاکل هم د حسن په اعلا درجه کښې لیدی شي---څنګه چې شرابخور د سیه مستۍ کیفیت کښې په لاره یو قدم پخپله نه شي اخستی او د نورو په اوږو اړانه وي--دغسې د محبوب کاکل هم د هغه په اوږو پراته یعنې اړانه دي---څنګه چې شرابي په دغه کیفیت کښې په لاره د قدم اخستو کښې ټالی وهي یا جوتې خوري..دغسې د محبوب کاکل هم په اوږو ټالی وهي--دې ته هم غور وکړئ چې کاکل د سیه مستۍ دغه کیفیت سره ولې مخ دي---ځکه چې دغه کاکل د حسین محبوب د رخسار نه را اوچت کړی شوي دي نو رخسار خو د ټول سرور مرکز دی ګویا میخانه ده--نو کاکل به سیه مستي خو کوي چې د میخانې نه راتیر شوي دي--او بیا دې ته هم غور وکړئ چې د سیه مستۍ اصطلاح کښې ..د سیه--معنا ده تور او زلفې هم تورې دي--نو دغه مناسبت یې اضافي شعري نزاکت دی--- ورسره یو بل اضافي نزاکت ته غور وکړئ چې شرابي د سیه مستۍ په حالت کښې دواړه لاسونه د دوه کسانو په اوږو اچولي وي نو تورو زلفو هم ځان په دوو اوږو اړانه کړی وي ځکه چې شرابي هم د میخانې نه راتیر شوی وي او زلفې هم د ښکلي مخ د سرور نه راتیرې وي.. او بیا دا اضافي نزاکت یې لا زیات د کتو دی چې میخانه کښې شراب هم سور رنګ لري او د ښکلي مخ اننګي هم سور رنګ لري--بس اوس خبره صفا شوه چې تورې زلفې چې د محبوب د رخسار د میخانې نه راتیرې شوې نو د سیه مستۍ کیفیت ته یې اوس ګوره چې --بې دوشه--یعنې د اوږو د اړانې نه بغیر یو قدم هم په لاره تلی نه شي او لکه د سیه مست زانګي هم ټالی هم وهي---همدغه د محبوب د حسن لاثاني تصویر دی او د حسن او ادا انتها ده چې شیدا په دوو مصرعو کښې دا هر څه راګیر کړي دي او مونږ ته یې پیش کړي دي خو چې مونږ ترې هم دغه سرور واخستی شو---
ما د شیدا د شعر نه دغه مفهوم واخستو--نور ملګري یې د نورو زاویو نه وضاحت کولی شي---

---

روح او روحانیت

د روح مطلب معنا او مفهوم په عمومي ډول ډیر پیچلے دے.عموماً د مادیت او قالب په متضاد معنو کښې راوړلے شي او ورسره د مادي او روحاني اصطلاحات یا د مادیت او روحانیت اصطلاحات هم راوړلے شي خو د عربۍ دغه.روح.ته چې د قراني مفهوم تر مخه غور وکړو نو معنې به یې د دغه مروجه مفهوم نه بدلې ګنې او متنوع ښکاره شي.قران حکیم وړومبی خو د سوره بني اسراییل په اوولسم ایت کښې وییلي دي چې ..اے نبي دا خلق به تا نه د روح په حقله پوښتنه کوي دوئ ته وایه چې روح زما د رب د امر نه دے او تاسو ته ډیر لږ علم درکړے شوے دے---دغې نه علاوه قران حکیم ملایکو ته هم روح وییلے دے---جبراییل ته هم--وحي ته هم--حضرت عیسی علیه السلام ته هم--- د روح الامین او روح القدس اصطلاحات هم راغلي دي او ملایکو سره بیل د روح تورے هم راغلی دی. قران انسان د پاره د ..نفخت من روحی--اصطلاح هم راوړې ده چې انسان کښې مو روح پوک وهلو--عربۍ کښې د روح لغوي معنا ده.باریکه نرۍ او لطیفه هوا--په دغه پس منظر که غور کوو نو د باریکي او لطیفې هوا په معنو کښې د عربۍ روح د خدایی قوت او طاقت مفهوم ادا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي چې کله د ملایک په شکل د دغه قوت اظهار کیږي کله د جبراییل په شکل کله د روح الامین او روح القدس په شکل او کله د لطیف باد پوک وهلو په شکل. اصل کښې د روح دغه مفهوم خالق د آیات متشابهات یعنې تشبیهاتو په ذریعه انسان ته ښودل غواړي چې اصلي حقیقت ته رسیدلو د پاره یې انساني علم احاطه نه شي کولے--روح د ژوند سا یا لایف د پاره هم استعمالیږي او د انساني ذات د پاره هم چې دغه یې بنیادي مفهوم نهٔ دے بلکې عمومي مفهوم دے--ژوند او سا خو نباتاتواو حیواناتو کښې هم شته خو دغه روح نه دے--انسان هم چې د حیواني یا محض حیاتیاتي وجود نه بیلیږي او د انسان درجې ته رسي نو د روح په وجه--ګویا نباتاتي او حیواني ژوند ته هم روح وییل درست نهٔ دي--دغسې یوه اصطلاح د نفس هم ده چې دا هم هغه انساني ذات دے خو د روح د بنیادي مفهوم تر مخه روح سره فرق لري--په همدغه مناسبت د نفس علم ته نفسیات یا سایکالوجي خو ویيلے شي خو-- روحیات-- ورته نهٔ شي ویيلے ځکه چې د روح مطالعه هیڅ امکان نهٔ لري. په سایکالوجي کښې-سایکي-د یوناني میتهالوجي د خداینې نوم دے -په لاطینۍ کومه اصلاح مستعمل ده د هغې مطلب هم نرۍ هوا ده--او د انګریزۍ د **soul**کښې چې د --سول-مطلب هم دغه لطیفه هوا ده--- **spirit**

د دې بحث مطلب دا شو چې روح په خپلو اصلي معنو کښې نهٔ شي تشریح کیدلے او په متشابهات کښې ورته نفس ژوند سا انساني ذات انساني انا د انسان داخلي جهان وغیره ویيلے شو خو دغه ټولې معنې یې د انساني تفهیم د پاره عمومي معنې دي اصلي او بنیادي نه--او دغسې د روحانیت اصطلاح هم مونږ په خپلو اصلي معنو کښې نه بلکې په عام مروجه مفهوم کښې استعمالوو--

البته په قران حکیم کښې د سوره السجده په اووم اتم او نهم ایت کښې د مفهوم نه زهٔ دې نتیجې ته مایل یم چې روح په ټولو مخلوقاتو کښې یواځې انسانیت سره تعلق لري د جناتو بحث دلته پریږدو--او بیا د انسانیت هغه درجې سره تعلق لري کله چې د انسان داخلي شعوري نظام یعنې د غوږونو سترګو او قلبي یا شعوري صلاحیت کار شروع کړے دے نو ګویا په دغه مرحله کښې ورسره روح ملګرے شوے دے---دغه مرحلې نه مخکښې چې کوم حالتونه دي هغه روح نهٔ دے--نور څه دي---د ایتونو مفهوم داسې دے----

هغه ذات هر څه احسن پیدا کړي دي--او د لوندې خټې نه یې د انسان تخلیق وکړو--بیا یې دغه تخلیق د معمولي ځاڅکي اوبو په ذریعه په نسلي توګه وړاندې بوتلو-- بیا یې هغه برابر یا سم کړو---او خپل روح نه یې پوک ورکړو----او هغه ته یې د اوریدو لیدو او پوهې ورکړه وکړه--تاسو ډیر لږ شکر کوئ----

غور وکړئ دلته د روح پوک وهل په هغه درجه کښې شوي دي چې انسانیت وړومبے د خټې نه پیدا دے--- بیا د نر او مادې د ملاپ یا انټرکورس نه--بیا چې برابر شوے دے نو د روح پوک وهلو خبره شوې ده---او همدغه روح راتللو نه پس یې د داخلي او پوهې د نظام د فعالیت خبره شوې ده----

دغه زما سوچ دے چې دغو قراني ایتونو نه مې اخستے دے---نور والله اعلم----

---

## مینه والو ته درناوے

په فیسبک زما درنو لوستونکیو او خوږو مینه والو--- زما د ترجمو منصوبه تکمیل ته ورسیده---ما څو میاشتې مخکښې د خوند د پاره د ترجمو یوه لړۍ د غالب فارسي غزل او اقبال د اردو کلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ترجمې ته راشروع کړې وه چې زما مينه والو پکښې ډېره مينه څرګنده کړې وه او د کتاب مرحلې ته رارسولو مشوره يې هم راکړې وه.....دغه ترجمې پنځوسو ته ورسيدې چې پکښې د اردو فارسی عربی او انګريزی نه نيغ په نيغه پښتو کښې منظومې ترجمې او د پښتو نه فارسی او اردو کښې منظومې ترجمې شاملې دي...اوس ورسره اصلي متن هم ملګرے کوم او د ملګرو چوڼ کمنټونه او رايې ورسره هم شاملوم چې د يو نيم سلو صفحو کتاب به ترې جوړ شي... ما د ترجمو دغه رياضت نه ډېر خوند واخستو او ورسره مې د مينه والو پريمانه صادقانه مينه هم وليده... د دغه خوند او مينې سره مې دغه لړۍ سر ته ورسيده....چې دلته خپلو مينه والو ته درناوے وړاندې کول په ځان لازم ګنم.... د ترجمو کتاب ته به لنډ شان انتظار کوو او په فيسبک د ترجمو خوروڵو او شريکولو نه نور د خدايې په امان.... ټول راته ښاد اباد او بريالي اوسئ او ما ته د دومره وخت راکولو.لوستلو.مينې او درناوي رابخښلو مو يو جهان مننه او درناوے....

---

د هندوستاني شاعر سدرشن فاخر ګڼ شمير کلامونه جګجيت او ملکه اختر د لازوالې موسيقۍ سره ويېلي دي.شعري کتاب يې هم چاپ دے.څنو هندي فلمونو له يې د سندرو سره سره قيصې او مکالمې هم ليکلي دي چې پکښې يلغار فلم زيات جوت دے... خو بيا هم ډېر خلق يې د شاعر په حيث نه پيژني ... ما يې د دغه يو کلام پښتو ترجمه کړې ده چې جګجيت او چترا ويېلے دے.ملګرو ته يې وړاندې کوم...

راځه چې کړو شروع له هغه ځايه زندګي
هر څهٔ چې راته ښکلي وو مونږ خپلو کښې پردي

هر څو که مو راوړي وو خوبونه د جنت
خوبونه د ګلانو ولولې د محبت
اوس چرته ده په هر څهٔ کښې هم هاغه رنګيني

سرشار به اوسيدلو د خيالونو په دنيا
راګير يو مونږه نن چې د سوالونو په دنيا
لمحې راته يادېږي نن هم هاغه جنتي

ښکارېږي چې خوړلے مو دے تير د زمانې
رنګونه د وفا چې شولو ډير د زمانې
د اوښکو دې پرقا نه خو وه ښهٔ هغه ګرمي

اردو کلام .....سدرشن فاخر

اس موڑ سے شروع کرے پھر یہ زندگی
ہر شے جہاں حسین تھی ہم تم تھے اجنبی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لے کر چلے تھے ہم جنہیں جنت کے خواب تھے
پھولوں کے خواب تھے وہ محبت کے خواب تھے
لیکن کہاں ہے ان میں وہ پہلی سی دلکشی

رہتے تھے ہم حسین خیالوں کی بھیڑ میں
الجھے ہوئے ہیں اج سوالوں کے بھیڑ میں
انے لگی ہے یاد وہ فرصت کی ہر گھڑی

شاید یہ وقت ہم سے کوئی چال چل گیا
رشتہ وفا کا اور ہی رنگوں میں ڈھل گیا
اشکوں کی چاندنی سے تھی بہتر وہ دھوپ ہی

---

که ښکاره لکه شعاع د رخسار خط کا
په فلک به معطل کښيني دبيره

-د رخسار خط----په سپين مخ تور ويښته
د فلک دبير----دبير په عربۍ کښې کاتب--خطاط--محرر يا منشي ته وايي---او د فلک دبير نه مراد دی ---عطارد ستوری  يا سياره--چې د خپل حرکت او فضا کښې سفر دوران کښې ورپسې د -سپينې رڼا يوه کرښه جوړه شوې وي---ګويا په فلک کښې يی خطاطي کړې وي

وضاحت-----د شيدا په دغه شعر کښې ساده مفهوم خو دا دی چې هغه د خپل محبوب د ښايست په ستاينه کښې وييل غواړي چې زما حسين محبوب که د خپل رخسار د خط پرقيدونکې کرښه يا شعاع ښکاره کړي نو په اسمان کښې عطارد يا د اسمان دبير به هم له شرمه اودرېږي او خپلې شعاګانې به نه ښکاره کوي----خو د دغه ساده مفهوم تشريح هم له څو ځانګړو زاويو نه کيدی شي----غور -ورته وکړئ
عطارد--په ساينسي علومو کښې سياره ده---او په علم نجوم کښې ستوری دی---- د شيدا په دغو دواړو زاويو نظر دی----په ساينسي علومو کښې عطارد نمر ته د ټولو نه نزدې او د ټولو نه وړه سياره ده چې د نمر نه خپل چکر د زمکې په حساب اتۀ اتيا ورځو کښې پوره کوي----لکه د نورو سيارو عطارد هم رڼا د نمر نه اخلي---د زمکې نه دا سياره ډيره کمه ښکاره کيږي ځکه چې ډيره وړه ده خو چې کله ښکاره شي نو ډيره پرقيدونکې د رڼا کرښه ورپسې ښکاري چې دغه کرښه د ----عطارد خط او شعاع ګڼلی شي
په علم نجوم کښې عطارد يو ستوری دی چې د اسمان په دريم برج کښې دی---دا ستوری که د برج ثور يا سنبله يا جوزا په خوا کښې وي او د کوم فرد د پيدايش په زايچه کښې شتون ولري نو دغه ----فرد سره دا روايت منسوب شي چې دی به ليکونکی خطاط شاعر او دانشور جوړيږي
اوس يو بل اړخ ته هم متوجه شئ---شعاعي خط د يو رسم الخط نوم هم دی چې ليک پکښې د --اوږدو کرښو يا شعاګانو غوندې ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې نه علاوه --خط-- او ---شعاع---د جیومیټري اصطلاحات هم دي---چې خط په ځایی ولاړ او ----محدود وي او شعا مخ په وړاندې ځي او لامحدوده وي
دغه تولی زاویې چې په نظر کښې وساتو نو د شیدا په شعر به پوهه شو----څنګه چې د ساینسي علم تر مخه عطارد خپله رڼایي کرښه یا جلوه کمه ښایي نو ګویا نایاب یا کمیاب جلوه ده او اهمیت یی زیات دی نو دغسې د محبوب د رخسار خط هم چې جلوه ښایی نو کمیاب وي او اهمیت یې زیات وي--- عطارد سیاره چې توره ده او رڼا د نمر نه اخلي او د همدغې رڼا په طفیل ځان پسې د رڼا یوه پرقیدونکې کرښه یا شعاع پریږدي نو د محبوب خط یا زلفې هم تورې دي او لکه د نمر غوندې سپین رخسار نه ځلا اخلي او پرقا کوي----د عطارد د رڼا کرښه چې اوږده شعاعي بڼه لري نو د ----محبوب زلفې هم اوږدې شعاعي رنګ لري
نو اوس عطارد که هر څو په خپل شعاعي خط غره وي خو د حسین محبوب په سپین رخسار چمکدارې شعاعي زلفې چې خپله کمیابه جلوه ښکاره کړي نو بس عطارد هم د حیرت نه اودریږي---د حیا نه معطل شي--- او د حسین محبوب د شعاعي خط د ښکلا سره سیالي نه شي کولی---ګویا توره ډال د لاسه وغورزوي--- څنګه چې د عطارد دغه پس منظر سره د خط وکتابت روایت تړلی دی--- او خط وکتابت هم لکه د تورو زلفو په توره سیاهۍ کولی شي--- نو ستر خوشال بابا هم دغه روایت ته د هغه د زوی بهرام خان د دغه هنر په اعتراف کښې اشاره کړې ده چې----
عطارد دې نور قلم له لاسه کیږدي
چې په دا خوبۍ بهرام املا انشا کړه
شیدا ته مو پام دی چې څومره کمال کوي

---

د زړه حال مې لکه شمع ظاهر نهٔ شهٔ
پیچیده مکتوب مې سوی په مضمون دی

د شیدا د شعر بنیادي مفهوم ته رسیدل تر هغې ګران وي چې تر څو د هغه د شعري مزاج او اسلوب سره سم د هغه اشارو کنایو استعارو او تشبیهاتو استعمال ته رسایی ونه شي-
دې شعر کښې د دویمې مصرعې -پیچیده-او ---مضمون-توري راسپړدل ډیر ضروري دي---مکتوب خو خط ته وایی یعنې چا ته لیکلی خط لیږل او هغې کښې خپله مدعا رسول--پیچیده په دوو معنو دی---یو دا چې خط لوستلو کښې ګران وي-او په اسانه څوک مفهوم ته نه رسي--دویم پیجیده خط رابند شوي او فولډ شوي خط ته وایی--پخوا به چې خط ولیکلی شو نو ګول شکل کښې به راتاو شو او د سپین کاغذ په وجه به دغه راتاو شوي خط د سپیني شمعې غوندې شکل اختیار کړو--مضمون د عربۍ تورې دی چې معنا یی ده -په ضمن کښې-یعنې په منځ منځ کښې--اوس هم چې مونږ لیک کوو نو وایو چې مضمون یی څه دی یعنې د لفظونو دننه معنا او مدعا څه بیان شوې ده--په سپین کاغذ لیک یا مدعا په توره سیاهۍ لیکلی شي او لکه د شمعې په شکل فولډ کولی شي---او اصلي شمعې ته غور وکړئ--شمع لکه د سپین کاغذ سپینه وي او په منځ منځ کښې یی تار د تور رنګ وي--تار سوزي او سپینه شمع د موم په شکل اوښکي څڅوي---- ګویا شمع خپل صلاحیت او کمال بل د پاره وقف کړی وي خو په بې حسه اولس شمع په دغه دومره سوزیدو کښې او دغه دومره اوښکو کښې هم دا څرګنده نه کړی شي چې دا سوزي ولې او اوښکې ولې څڅوي-- ګویا ټوله وسوزي خو د زړه حال یی جوت  نه شي--اوس شیدا څه وایی--وایی چې زما د زړه حال زما مدعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بنيادي مضمون هم يو پيچيده خط کښې په توره سياهۍ درج دي خو دغه مضمون مې داسې سوزيدلی دی لکه د شمعې تور تار..نو تار خو هم د شمعې په منځ کښې وي او زما سوزيدلی مضمون هم په توره سياهۍ ليکلی شوی د سپين کاغذ پيچيده خط يعنې فولډ شوي خط کښې دی...خو نه د شمعې مدعا ظاهره شوه او نه زما مدعا تر محبوب ورسيده..ګويا زما ژړا فرياد وفا ايثار سوزيدل اوښکې څڅول هيڅ هم په محبوب اثر نه کوي ..ځکه چې بې حسه دی....او دويمه معنا دا هم ده چې زما د شعر مضمون او مفهوم هم په لفظونو کښې مقيد پاتې شو...معنويت يې چا ته ونه رسيدو....ځکه نو د شيدا د پيچيده خط او شمعې يو حال دی...دواړه ژاړي او سوزي خو مدعا او مضمون يې په چا ظاهريږي نه....
زما خيال دی چې شعر راوسپړدی شي نو ورسره د شيدا شعري کمال هم په ښه شان څرګند شي....

---

د مولانا جلال الدين رومي د يو فارسي غزل ترجمه ملګرو سره شريکوم ....

عبث نه ده چې کوڅو او، په بازار ټکرې خورم
په جذبه زما د مينې، او ديدار ټکرې خورم

خدايه رحم په ما وکړې، يم بې شانه پريشان
خطاکار او ګناه ګار يم، خواروزار ټکرې خورم

زه ګوټم شراب د مينې، طوافونه کړم د يار
که سندرې وايم مستې، خو هوښيار ټکرې خورم

دې پراخه سمندر کښې، غوپې زر ځله وهم
ملغلرو د معنو پسې بار بار ټکرې خورم

کله خاندم کله ژاړم، پريوتل او پاسيدل
زما زړهٔ کښې مسيحا دے، خو بيمار ټکرې خورم

راشه جانه مهربان شه، تهٔ د روم په مولانا
د تبريز د غلامانو، چې په لار ټکرې خورم

فارسي غزل .... مولانا روم

نہ من بيہوده گرد کوچہ و بازار می گردم
مذاق عاشقی دارم پےِ ديدار می گردم

خدايا رحم کن بر من پريشاں وار می گردم
خطا کارم گنہ گارم بہ حال زار می گردم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شراب شوق می نوشم بگرد یار می گردم
سخن مستانہ می گویم ولے ہشیار می گردم

ہزاراں غوطہ ہا خوردم دریں دریائے بے پایاں
برائے گوہر معنی بہ دریا قعر می گردم

گہے خندم گہے گریم گہے افتم گہے خیزم
مسیحا در دلم پیدا و من بیمار می گردم

بیا جاناں عنایت کن تو مولانائے رومیؒ را
غلام شمسؒ تبریزم قلندر وار می گردم

---

په دولت کښي راحت نشته رشته گوره
په گوهر کښي يی ورک کله پيچ و تاب شهٔ
وضاحت---ډيرې ورځې پس د شيدا د شعر نه خوند اخلو-رشته--تار ته وايی-فارسي ده--
گوهر يعني ملغلرې---
بيچ وتاب-فارسي ده-پيچ يعني تاو راتاو--تاب يعني گرمي --چې پښتو کښې ورته مونږ --تاو--هم وايو--او --تاو --تاوولو ته هم وايی--گويا --پيچ وتاب --تاو راتاو او ---تاو يعني گرمي لرونکی--ځکه د فارسی پيچ و تاب د غصې پريشانی او د مزاج د گرمی له مخه بې ارامی ته وايی--او دې ته هم غور وکړئ چې د جنگ يا مقابلې په وخت د چا ځټ يا مرۍ تاوولی شي نو گويا دغه سړی د ډيرې غصې د مزاج د گرمۍ او بې ارامی د حالت نه تيريږي----بل خوا د ---راحت --توری د سکون اطمينان او خوشالی د پاره راوړلی شي---
د شيدا شعر ته راځو--گوهر ملغلرې ته وايی چې د بيش بها قيمت له مخه د دولت نخښه ده او چې چا سره وي هغه په ظاهره سکون او اطمينان کښې گڼلی شي--شيدا وايی چې دغه دولت کښې سکون او اطمينان يا راحت نشته-مثال ته يی وگورئ--د دولت علامت ملغلرې وي-- ملغلرو نه چې اميل جوړولی شي نو تار کښې پيللی شي--خو تار کښې چې د ملغلرو يوه يوه دانه اچولی شي نو هرې دانې د پاره د تار ځوکه گوتو کښې مروړلی شي چې د تار ځوکه نيغه شي او د ملغلرې دانه پکښې اچول اسان شي گويا دغه عمل د پاره د تار مرۍ تاوولی شي يعني تار د پيچ د مرحلې نه تيريږي او دغه تاوولو سره تار گرم هم شي گويا د تاب د مرحلې نه هم تيريږي--ځومره ځله چې تار کښې ملغلرې اچولی شي هومره ځله تار د پيچ و تاب د مرحلې نه تيريږي --يعنې ځومره چې تار سره د ملغلرو دولت زياتيږي هومره يی-- پيچ و تاب -- يعنې غم وغصه او بې ارامۍ کښې اضافه کيږي---دغسې په ظاهره خو د تار نه گير چاپيره د ملغلرو دولت وي خو په حقيقت کښې يی دغه دولت پيچ وتاب او پريشاني ختمولی نه شي--نو بس د دولتمند سړي حال هم دغسې وي چې د هغه دولت د هغه بې ارامي ختمولی نه شي- بلکې هم دغه دولت يی د سکون او راحت دشمن وي---تر دې چې يوه ورځ يی د همدغه دولت د پاره ځوک مرۍ راتاو کړي ځنگه چې د گوهرو د پاره د تار مرۍ تاوولی شي--- د يو اخلاقي مضمون بيانولو د پاره د شيدا انداز ته د هغه شعري تکنيک ته او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه تغزل ته فکر وکړئ...همدغه دی د شیدا کمال....چې د شعر راسپړدلو نه پس یې سمه اندازه کیدی شي...**

---

**د شیخ سعدي شیرازي د یو مست فارسي غزل پښتو منظومه ترجمه به ملګرو سره شریکه کړم ...**

**وینمه صوفیان هم په محفل کښې د میخوار مست**
**ګوره میینان تش په وعده وي د دیدار مست**

**مست وي میینان او محبوبان د خپل خپل راز سره**
**پیر مست وي او میر مست وي هم شیخ په خپل اسرار مست**

**ما خو محتسب هم میکده کښې مست لیدلے دے**
**مست وي انګړ خلق مست وي بس خو ټول بازار مست**

**هر چا ته چې باغ کښې ګورم مست وي بې خبره وي**
**دا د غرهّ لمنه ده که باغ ګل و ګلزار مست**

**مست په خپل خپل حال کښې چې شاهان هم غریبان وینم**
**ښکلي په نازونو مست میین دي په دیدار مست**

**یار مې په مستۍ راغلو سرې وینې یې له شونډو څي**
**زلفې مستې خال مست او په سر چې وي دستار مست**

**یه سعدي شراب د مینې پاتې چرته نشته نور**
**ورځې شپې هم مستې دي د میاشت او کال رفتار مست**

**فارسي غزل .....سعدی شیرازی**

**خوش بدیدم صوفیاں را صحبت خمار مست**
**عاشقاں با صدق مانده وعدۂ دیدار مست**

**مست عاشق مست معشوق ہم باندر راز خود**
**پیر مست و میر مست و شیخ و اسرار مست**

**محتسب را مست دیدم درمیان مے کده**
**صحن مست و خلق مست و جملګی بازار مست**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ہر کہ را در باغ دیدم مست بود و بے خبر
راغ مست و باغ مست و غنچہ و گلزار مست

پادشاہاں مال مست و ما غریباں حال مست
خوب رویاں ناز مست و عاشقاں دیدار مست

یار بر من مست آمد خوں ز لب ہا می چکید
زلف مست و خال مست و طره و طرار مست

سعدیاً باقی نمانده از شراب عشق فضل
سال مست و ماه مست و روز و شب ہموار مست

---

د ګران جوهر خلیل په غوښتنه مې د عربي دغه معروف نعت پښتو کښې ترجمه کړو چې ګڼ شمیر نعت خوانانو په ښکلي انداز وییلے هم دے ... نیغ په نیغه مې د عربۍ نه ترجمه کړې ده ..که څه کمي کوتاهي پکښې شوې وي نو د عربۍ د عالمانو نه بخښنه د مخکښې نه غواړم ... ما د قران حکیم ترجمه او تفسیر وییلے دے او د عربۍ ژبې کومه باقاعده زدکړه مې نه ده کړې...دغه ترجمه ملګرو سره شریکوم ...

که سحر دے غوړیدلے په جلوت له هغه مخه
شپه له زلفو ځلا اخلي په قیمت له هغه مخه

سربالا په رسولانو، دے افضل د مرسلانو
دا چې لارې دي روښانه ، دلالت له هغه مخه

خزانه، کرم یې عام دے، چې ښتن د هر انعام دے
دے لاربنود د امتونو، شریعت له هغه مخه

څومره پاک یې چې نسب دے، هومره پورته په حسب دے
ټول عرب چې یې ولاړ دي، په خدمت له هغه مخه

ونې بوټي لاس په نام دي، کاڼي لوټې چې ګویان دي
دا سپوږمۍ چې دوه ټکړې شوه، اشارت له هغه مخه

جبراییل یې راغے خوا ته، وې د شپې سفر مولا ته
دا چې رب یې ځان ته غواړي، حلاوت له هغه مخه

چې وقار یې دے موندلے، الله شرف دے وربخښلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خطاګانې يې چې معاف شوې د امت له هغه مخه**

**محمد نبي سردار دے، هم هغه خو مو سالار دے**
**دا زمونږه چې پريمانه، دے عزت له هغه مخه**
**صلى الله عليه و آله وسلم**

**عربي متن ---- شرف الدين بوصيرى**

**الصبح بدا من طلعته**
**والليل دجا من وفرته**

**فاق الرسلا فضلا و علا**
**اهدى السبلا لدلالته**

**كنز الكرم مولي النعم**
**هادى الامم لشريعته**

**اذكى النسبِ اعلى الحسب**
**كل العرب فى خدمته**

**سعت الشجر نطق الحجر**
**شق القمر باشارته**

**جبريل اتى ليلة اسرى**
**والرب دعى لحضرته**

**نال الشرفا والله عفا**
**عن ما سلفا من امته**

**فمحمدنا هو سيدنا**
**والعز لنا لاجابته**

---

**د اقبال د شپږو ليکچرو خاکه او پښتانه**

**د اسلامي تعليماتو د نوي تعبير په اړه د علامه اقبال د معروف انګريزي کتاب وړومبى نوم**
**--سيکس ليکچرز آن ريکنسټرکشن اف ريليجيبيس تهاټس ان اسلام --وو--بيا ترې د سيکس ليکچر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سابقه ختم کړی شوه--خو زه دغه انګریزي کتاب نه یادوم---زه د پښتنو په اړه د اقبال د شپږو لیکچرو خاکي ته اشاره کوم چې اقبال دغه خاکه په پښتنو د څیړنې د پاره تیاره کړې وه---
مونږ ته پته ده چې په کال نولس سوه درې دیرشم کښې اقبال په افغانستان کښې افغان حکومت ته او افغان څیړونکي عبدالحی حبیبي صیب ته د پښتو او پښتنو په اړه ډیرې ګټورې مشورې ورکړې وې ---خو د دې نه هم اووه کاله مخکښې یې د ترکي حکومت ته ځنې مشورې ورکړې وې چې پکښې یې د شپږو لیکچرو دغه منظمه خاکه هم پیش کړې وه---د خاکي ترتیب داسې وو---
وړومبی لیکچر ---په افغان نسل څیړنه
دویم لیکچر----اسلام قبلولو نه پس د پښتنو په تاریخ یو نظر
دریم لیکچر---د پښتنو د یو موټي کولو هڅې
څلورم لیکحر---د پښتنو دودونه--اداري او جرګې مرکې
پنځم لیکچر---موجوده افغان کلتور فنون لطیفه-موسیقي مصوري او نور
شپږم لیکحر- د پښتنو مستقبل او منصوبه بندي

دغه خاکه اقبال د خپل یو خط سره په کال نولس سوه شپږ ویشت کښې په ترکیه کښې د اسلامي علومو او ژبو د اداري مشر او ترک عالم خلیل خالد بے ته لیږلې وه او د ترکي حکومت نه یې غوښتنه کړې وه چې په دغه خاکه که کار وشي نو دې سره به د ترکي حکومت په عزت او وقار کښې ډیره اضافه وشي-- د اقبال دغه خط محمد حسین خان زبیري په ---ایجوکیشنل کانسپټ اف کریټ مین کښې--چاپ کړی دی چې زمونږ میر عبدالصمد خان ترې هم استفاده کړې ده-- کاش چې دغه خاکه د اقبال په ژوند عملي شکل اخستی وی نو دا به یې د -ریکنسټرکشن- نه علاوه یو بله نه هیریدونکې کارنامه وه---
زه چې دغه پس منظر او د اقبال جذبې ته ګورم نو حیران شم چې اقبال سره د پښتنو څومره فکر وو-پښتانه یې په نړۍ کښې ځلول غوښتل--په خپلو لیکونو کښې یې په انګریزۍ -فارسۍ-او اردو درې واړو ژبو کښې ستایلي دي خو دغه نړیوالې منصوبې یې پښتنو سره د بې مثله مینې او نړون نورې حوالې دي--- د پښتنو او پښتو دومره غم خو مونږ پښتنو هم نه دی ژړلی خو په غیر پښتنو کښې ما د پښتنو غمخوار  د اقبال نه لوې بل څوک نه دی لیدلی---- نن د اقبال ورځ ده زه یې روح ته دعا کوم ---او ټولو پښتنو ته یې په دغه سپیڅلې جذبه د غور کولو بلنه ورکوم---

---

د مولانا روم د مثنوي د وړومبي دفتر د وړومبۍ برخې ترجمه مکمل شوه -دغه وروستي اته بیتونه یې هم راسره وګورئ ---

عشق هر څو که دی بې نیازه، له هر څه نه بې خطر دی
خو الوت یې ګران دی بیا هم، یو مارغه دی بې وزر دی

وړاندې وروستو چې نظر کړم، هوش لړم خو څه به وایم
د ړڼا غونډې جانان چې، نه لرم نو بې نوا یم

عشق خو غواړي چې خبره، له زړګي نه رابهر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايينه چرته غمازه، مې د زړه په حال خبر شي

ولې نه ده ايينه دې، ستا په حال باندې غمازه
چې څهره يې د خپل زنګ نه، چرې نه شوله ممتازه

واوره هغه ايينه چې، له خپل زنګه راجدا ده
د خالق د نور له نمره، ښه معموره ده رڼا ده

ورشه زنګ خو يې له مخه، ښه په مينه باندې پاک کړه
بيا يې ځير شه ښکلي مخ ته، د رڼا يې ښه ادراک کړه

حقيقت د زړه په غوږو، باندې واوره ځان خبر کړه
د اوبو خاورې پيکر نه، ځان په ويښه رابهر کړه

که شعور لرې نو روح ته، ښه څرګنده ورکړه لاره
له دې پسته ښه په شوق دې، خپله لاره ياره څاره

فارسي متن ـ مولانا رومي

چون نباشد عشق را پرواى او
او چو مرغى ماند بى‌پر واى او

من چگونه هوش دارم پيش و پس
چون نباشد نور يارم پيش و پس

عشق خواهد کاين سخن بيرون بود
آينه غماز نبود چون بود

آينه‌ت دانى چرا غماز نيست
زآن که زنگار از رخش ممتاز نيست

ائنہ کز زنگ و آلائش جداست
پرشعا نور خورشيد خداست

رو تو زنگار از رخ او پاک کن
بعد ازاں آن نور را ادراک کن

(c) ketabton.com: The Digital Library



**این حقیقت را شنوا از گوش دل**
**تا بروں ائی بکلی ز آب گل**

**فہم گر دارید جان را ره دہید**
**بعد ازاں از شوق پا در ره سنہید**

---

**د مولانا رومي د مثنوي نور لس شعرونه او د هغې ترجمه راسره وګورئ ... دې نه پس به نور اته شعرونه وړاندې کوم نو د وړومبي دفتر وړومبی برخه ټول اته دیرش شعرونه به مکمل شي ...**

**حریصانو له د سترګو ، کوزه ډکه چرې نه شوه**
**خو چې صبر سیپی وکړو، هله سا یې را په زړه شوه**

**هر هغه د چا لباس چې، په جذبه د عشق کښې چاک شو**
**هم هغه سړی په هر رنګ، د حرص له رنځه پاک شو**

**عشقه تل خوشاله اوسې، تل چې مل مې د جنون یې**
**ته طبیب مې د رنځونو، ته زما د زړه سکون یې**

**ته دارو د تکبر یې، ته علاج مې د ناموس یې**
**عشقه ته مې افلاطون یې، او هم ته مې جالینوس یې**

**خاکي جسم ستا له مخه، پورته لاړو په افلاک شو**
**غر ته ګوره په اتڼ شو، ګوره غر څومره چالاک شو**

**دا خو عشق دی چې یې طور هم، په یوه جلوه مدهوش کړو**
**طور چې مست شو نو موسی یې، په یوه لمحه بیهوش کړو**

**که له ما سره همځنګ وی، دا خوږې شونډې شکرې**
**د شپیلی غوندې به ما هم، کړې خوږې خوږې خبرې**

**کوم اواز چې خپلې ژبې، او خپل روح نه راجدا شو**
**بس بې ژبې شو بې روحه، که په سل ژبو ګویا شو**

**هغه ګل او ګلستان چې، رسیدلی تر انجامه**
**د بلبل د اوریدلو، قیصه لاړه شوه تمامه**

**دا هر څه که معشوقه ده، نو عاشق یوه پرده ده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**معشوقه خو ژوندۍ ګرځي، د عاشق خونه خوره ده**

**اصلي فارسي متن ... مولانا رومي**

**کوزه‌ی چشم حریصان پر نشد**
**تا صدف قانع نشد پر در نشد**

**هر که را جامه ز عشقی چاک شد**
**او ز حرص و عیب کلی پاک شد**

**شاد باش ای عشق خوش سودای ما**
**ای طبیب جمله علت‌های ما**

**ای دوای نخوت و ناموس ما**
**ای تو افلاطون و جالینوس ما**

**جسم خاک از عشق بر افلاک شد**
**کوه در رقص آمد و چالاک شد**

**عشق، جانِ طور آمد عاشقا!**
**طور، مست و خرَّ موسی صَاعِقا**

**با لب دمساز خود گر جفتمی**
**همچو نی من گفتنی‌ها گفتمی**

**هر که او از هم‌زبانی شد جدا**
**بی‌زبان شد گرچه دارد صد نوا**

**چون که گل رفت و گلستان درگذشت**
**نشنوی زآن پس ز بلبل سر گذشت**

**جمله معشوق است و عاشق پرده‌ای**
**زنده معشوق است و عاشق مرده‌ای**

---

**----- د مولانا رومي د مثنوي د وړومبي دفتر نور لس بیتونه او د هغي ترجمه راسره وګورئ**

**شپیلۍ هر هغه سره ده' چې له یاره په بیلتون دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يې واړه پردې وا کړې' په اواز کښې يې سکون دی

نۀ زما غوندې ليدلي' به چا زهر او ترياق وي
نۀ ليدلی به چا دوست وي' نۀ زما غوندې مشتاق وي

دا شپيلی چې په هر وخت کښې' يو بيان د ځيګر خون کړي
چې قيصې به راته هر وخت' بس د مينې د مجنون کړي

په دې راز چې پوهه څوک دی' بس نو واوره چې بېهوش دی
د دې ژبې اخستونکی' خو يو غوږ دی هم آغوش دی

زما غم کښې ډيرې ورځې' شولې تيرې بيګانه شوې
زما سوز سره ملګرې' ډيرې ورځې جانانه شوې

ورځې تيرې شوې که ډيرې' داسې وايه پروا نشته
تۀ هغه يې سپينې ورځې' بله پاکه له تا نشته

بې له کبه خو يې واړه' په اوبو باندې ماړۀ شو
چې روزي يې نۀ لرله' هغه هسې هم زاړۀ شو

د هوښيارو حال به څنګه' کړې معلوم چې خيال يې خام وي
لنده دا چې دغو واړو' ته زما دې هم سلام وي

زولنې ماتې کړه زويه' ازادې واخله که ځوان يې
په پنجره کښې د سرو سپينو' به تر کومې بنديوان يې

سمندر که په کوزه کښې' څوک راګير په ډير حکمت کړي
راته وايه څومره برخه' به د يو ورځ په قسمت کړي

فارسي متن ------ مولانا رومي

نی حريف هر که از ياری بريد
پرده‌هايش پرده‌های ما دريد

همچو نی زهری و ترياقی که ديد
همچو نی دمساز و مشتاقی که ديد

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نی حدیث راه پر خون می‌کند**
**قصه‌های عشق مجنون می‌کند**

**محرم این هوش جز بیهوش نیست**
**مر زبان را مشتری جز گوش نیست**

**در غم ما روزها بیگاه شد**
**روزها با سوزها همراه شد**

**روزها گر رفت گو رو باک نیست**
**تو بمان ای آن که چون تو پاک نیست**

**هر که جز ماهی ز آبش سیر شد**
**هرکه بی روزیست روزش دیر شد**

**در نیابد حال پخته هیچ خام**
**پس سخن کوتاه باید و السلام**

**بند بگسل باش آزاد ای پسر**
**چند باشی بند سیم و بند زر**

**گر بریزی بحر را در کوزه‌ای**
**چند گنجد قسمت یک روزه‌ای**

---

**نۍ نامه د مولانا جلال الدين رومي شاهکار او د نړيوال شهرت مثنوي ده چې ورته مثنوي معنوي هم وييلی شي --- د نړۍ په شلګونو ژبو کښې د دې مثنوي ترجمې او شرحې شوې دي --پښتو کښې يې يوه خلاصه عبدالاکبر خان اکبر ليکلې ده چې ورسره يې د څنو چوڼ کړی شوو بيتونو نثر ----کښی ترجمه هم ورکړې ده**

**مولانا روم د شمس تبريز مريد او د علامه اقبال روحاني مرشد وو --- هغه ګڼ شمير کتابونه ليکلي دي خو د عالمګير شهرت ذريعه يې دغه مثنوي جوړه شوې ده -- د دې مثنوي ټول بيتونه شپږ ويشت زره شپږ سوه شپيته دي چې په اوو برخو يا دفترونو کښې ويش دي دغو کښی شپږ دفترونه وړومبی او بيا اووم دفتر د مولانا د ناروغۍ په وجه څه موده پس ليکلی شوی دی ---- د وړومبي دفتر وړومبۍ برخه يې اته ديرش بيتونه لري چې ما يې پښتو کښې منظومه ترجمه کړې ده ----دغه ټول اته ديرش بيتونه دلته راوړل به لوستونکيو ته ګرانه پيښوي څکه يې زه هره ورځ لس لس بيتونه ملګرو سره شريکوم چې لوستل يې اسان شي --- ياده دې وي چې مولانا روم په شپږ سوه څلورم هجري کښې بلخ کښې زيږيدلی او په شپږ سوه دوه اويا هجري کښې وفات شوی ---- وو چې مزار يې په ترکي کښی دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه غوږ کیږده شپیلۍ ته'حکایت به ترینه واورې
د مینو د بیلتون نه' شکایت به ترینه واورې

چې د کله نه له ښاخه 'یې زه یمه راریبلې
هر سړی مې له فریاده 'هم تورسرې ژړیدلې

یوه داسې سینه غواړم 'چې چور چور وي له فراقه
چې قیصه ورته زه وکړم' د ډیر درد له اشتیاقه

هر هغه چې په خپل ژوند کښې' لرې شوی وي له اصله
په لټون د هغه وخت وي' چې تر غاړه شي له وصله

زه په هر محفل کښې هر وخت' په هر حال کښې په ژړا شوم
که خوشحال وي که خفه وي' زه یې هر وخت همنوا شوم

هر سړی به په خپل خیال کښې' جوړ پخپله زما یار شو
خو زما په زړه کښې راز نه' ناخبره شو ویزار شو

زړه کښې راز مې له اوازه' لرې نه دی خو آ نشته
اوس په سترګو په غوږونو' کښې هم هغه ځلا نشته

تن له روحه روح له تنه 'چرته پټ او پنا نه دی
خو لیدل لکه د روح چې' بس هیچا ته روا نه دی

د شپیلۍ دغه اواز خو' لکه اور دی څه باد نه دی
دغه سوز چې چا کښې نه وي' هغه هیچا ته یاد نه دی

اور د مینې یې چې بل دی 'د شپیلۍ په ولوله کښې
جوش د مینې سر اوچت کړو' د شرابو په پیاله کښې

اصلي فارسي متن---وړومبي لس بیتونه

بشنو از نی چون حکایت می‌کند
از جدایی‌ها شکایت می‌کند

کز نیستان تا مرا ببریده‌اند

(c) ketabton.com: The Digital Library



**در نفیرم مرد و زن نالیده‌اند**

**سینه خواهم شرحه شرحه از فراق**
**تا بگویم شرح درد اشتیاق**

**هر کسی کو دور ماند از اصل خویش**
**باز جوید روزگار وصل خویش**

**من به هر جمعیتی نالان شدم**
**جفت بدحالان و خوش‌حالان شدم**

**هر کسی از ظن خود شد یار من**
**از درون من نجست اسرار من**

**سر من از نالهٔ من دور نیست**
**لیک چشم و گوش را آن نور نیست**

**تن ز جان و جان ز تن مستور نیست**
**لیک کس را دید جان دستور نیست**

**آتش است این بانگ نای و نیست باد**
**هر که این آتش ندارد نیست باد**

**آتش عشق است کاندر نی فتاد**
**جوشش عشق است کاندر می فتاد**

---

**خدای**

**څو ورځې مخکښې مې د -خدای-- د عنوان لاندې یو پوښتڼ کړی وو چې د ځنو حوالو په بنیاد مې ویلي وو چې دا توری اصل کښې د پښتو دی چې د --خوتایی-- یعني خو--ته--یی--په شکل تقریبن اته زره کاله زړه ریښنه لري--- د څو لغتونو حوالې هغه پوښتڼ کښې شته---اوس په دغه حقله د ---نورې مطالعې په نتیجه کښې څو نورې خبرې هم کول غواړم چې د هغه تیر پوښتڼ تسلسل دی په نړۍ کښې زیات مشهور زاړه تهذیبونه د مصر دي چې ورسره بابل اشور اکاد سومیر وغیره شامل دي--دغسې نور سامي تهذیبونه هم دي --او هند چې ورسره نیپال او چین وغیره شامل دي--بیا ورسره یونان او ایران هم زمونږ مخې ته دي---دغو ټولو سره مذهبي تصورات شامل دي چې یو بنیادي تصور پکښې د خدایي هم دی---د دغو تهذیبونو د ځیرونکیو تر مخه د --الله--نوم د قران د نزول نه مخکښې هم موجود دی---ځکه خو عبدالمطلب په خپل زوی ---عبدالله --نوم ایښی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو---د الله نه علاه د --اله--تصور هم د عربو د جاهليت د دور شاعرئ کښې شته تر دې چې د مکي مشرکينو کښې هم د الله او اله د نوم اصطلاح او تصور شتون لرلو--- عربئ نه مخکښې په عبرانئ ژبه کښې خداې ته---د --يهوا --او ځنو نورو نومونو نه علاوه --ايلوهيم-- وييلې شوي دي چې د الله --اله--يا الهي زوړ شکل دی--په ارامي ژبه کښې هم- اله-- وو--په اشوري کښې-- ايلو-- وو په فونيقي کښې---ايلون--وو- په يوناني کښې د ځنو نورو نومونو سره --ايلي--وو--چې دغه ټولو کښې دعربئ د-- الله-- ريښه موجوده ده---سنسکرت او بيا هندئ کښې ايشور---پرميشور--او --ځنې نور نومونه راغلي دي

يونانئ کښې يو نوم---اوراتهوس--هم شته چې زمونږ د پښتو --خوتايي---ته نزديکت لري---اوراتهوس نه --او ته يې-- هم جوړيدی شي-- او د موجوده فارسئ-- او را توست -- يعنې هغه ته يې-- ترې هم جوړيدی شي-- دغه شان په زړه فارسئ يا زرتشتي تهذيب کښې د -- اهورا مزدا --او --يزدان-- نه علاوه يو نوم د --پرورتار---هم شتون لري چې---مونږ يې اوس-- پروردگار--وايو -- دا نوم هم د پرورده يعني ساتونکي او پالونکي په معنو کښې د عربئ -- رب -- سره معنوي نزديکت لري---ډيره زړهٔ راښکونکې خبره داده چې په تاومت کښې خدايي د پاره --- تاو -- نوم راوړلی شوی دی چې د پښتو---ته يې--يا --خوتای-- سره ډير نزديکت لري او يا ترې تا وې ---- او ---ته وې --- هم جوړيدی شي -----او بيا په انجيل مقدس کښې چې د ځنو سامي نومونو نه علاوه يو نوم-- تهيوس-- راغلی دی نو دا هم د يونانئ---اوراتهوس--او د پښتو--ته ---يې--يا خوتايي--سره او يا د فارسئ ----توست--- سره ډير نزديکت لري

د دې مطلب دا شو چې د نړئ په مختلفو ژبو تهذيبونو او مذهبونو کښې د خدايي تعالی نه يواځې تصور يو بل ته ډير نزدې او مشترک دی بلکې نومونه يې هم يو بل ته ډير نزدې دي--- په رښتيا ----چې ټول ښايسته نومونه الله لره دي----له الاسماالحسنی

---

ګران ډاکټر لياقت تابان راته دغه پخوانی عکس راوليږلو ---ما وې چې ورسره تړلې د خپلې ماضي څو ادبي خبرې وليکم---دا د پيښور صدر شفيع مارکيټ ته د ننوتو لاره ده چې زمونږ خوږ دوست باز محمد عابد به ورسره د سګريټو کوکه لګولې وه---څه کم ديرش کاله زړه خبره ده---- خوږ پير محمد کاروان هم ځوان زلمی وو چې تازه تازه له برې پښتونخوا راکوچيدلی وو----دلته نزدې د چايو يو هوټل کښې به راغونډيدلو چې په ناستو کښې به مو نورالحبيب نثار او مصطفی سالک هم پاخه غړي وو ---بيا راسره سيد شاه سعود --راشد خټک --کلي وال خټک ---هم ملګري شول---په افغانانو ملګرو کښې به عبدالاحد پيغام--امان الله ساهو---- اسدالله غضنفر ---عبدالوکيل سوله مل --تاج محمد ياري او بريالی باجوړی هم راتلل---لړئ مو تر مشرانو هم وغزوله---محمد صديق پسرلی او ډاکټر مجاور احمد زيار هم پيښور صدر کښې وسيدل نو هغوئ له به هم ورتلو---حبيب ----الله رفيع اصف صميم---زلمي هيوادمل او محی الدين هاشمي سره مو هم اړيکې وې

بس له دغه پيښور صدر له بازاره د چايو هوټل کښې مو د في البديه مشاعرو لړئ پيل کړه چې روداد به يې پريشان داودزي وحدت ورځپاڼه کښې چاپولو---دغه لړئ مو د افغان ادبي بهير جوړولو ته راورسيده چې د پيښور او نورو سيمو مشرانو ليکونکيو به پکښې ګډون کولو---په افغانانو مشرانو کښې به محمد رحيم الهام او شپون صيب هم راتلل---د بهير په نامه مو مجله هم شروع کړه چې پسرلی صيب يې مشر مدير او زه او کاروان صيب يې مرستيالان وو--- دبهير دغه لړئ پيښور کښې په کلونو وغزيده او چې کله افغانان ملګري او مشران مو افغانستان ته لاړل نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هلته یې د بهیر غونډې شورو کړې چې تر دې دمه دوام لري او اوس د بهیر ځانګې د افغانستان ګوټ ګوټ کښې شتون او فعالیت لري بلکې اوس بهیر د یو غورزنګ شکل اخستی دی---زه د دې هر څه محرک ګران بازمحمد عابد او د هغه د سګریټو دکان ګڼم---دغه وو زمونږ عکس او څو --خبرې د ماضي**

---

**د ساغر صدیقي د دغه مشهور غزل په پښتو ترجمه کښې مې ردیف--- یاد نه وي--- ځکه وساتلو چې اردو ردیف ---یاد نهین --- سره یې صوتي اهنګ هم برابر راشي -- ترجمه ملګرو سره ---شریکوم**

**دعا مې یاده وي خو حرف د دعا یاد نه وي**
**هنر د غږ زما سندرو ته بیا یاد نه وي**

**د چا د پاره مو چې لاره کښې شیندلې وینې**
**وایي چې ما ته هغه لوظ د وفا یاد نه وي**

**هره لمحه مې د ژوندون لکه سزا تیره کړه**
**چې په کوم جرم باندې خورمه سزا یاد نه وي**

**ما خو یې ور د خپلو سترګو په بڼو ټکوو**
**فقیر کړي څنګه اواز ما ته خو دا یاد نه وي**

**څنګه راډکې له ماښامه د چا سترګې شولې**
**څنګه د ستورو رپیدله ځلا یاد نه وي**

**بس خو رڼا به مې لیده د پریوتونکیو ستورو**
**څوک شو او کله شو له ما نه خفا یاد نه وي**

**راشه سجده خو یوه وکړه چې خمار یې کله**
**خلق خو وایي چې ساغر ته مولا یاد نه وي**

**اردو غزل -----ساغر صدیقي**

**ہے دعا یاد مگر حرفِ دعا یاد نہیں**
**میرے نغمات کو اندازِ نوا یاد نہیں**

**ہم نے جن کے لیے راہوں میں بچھایا تھا لہو**
**ہم سے کہتے ہیں وہی عہدِ وفا یاد نہیں**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زندگی جبرِ مسلسل کی طرح کاٹی ہے
جانے کس جرم کی پائی ہے سزا، یاد نہیں

میں نے پلکوں سے درِ یار پہ دستک دی ہے
میں وہ سائل ہوں جسے کوئی صدا یاد نہیں

کیسے بھر آئیں سرِ شام کسی کی آنکھیں
کیسے تھرائی ستاروں کی ضیا یاد نہیں

صرف دھندلائے ستاروں کی چمک دیکھی ہے
کب ہوا کون ہوا مجھ سے خفا یاد نہیں

آؤ اک سجدہ کریں عالمِ مدہوشی میں
لوگ کہتے ہیں کہ ساغر کو خدا یاد نہیں

---

دغه دوه نعتیه شعرونه شیخ سعدي ته هم منسوب ګڼلی شي او شاه عبدالحق محدث دهلوي ته هم ---درې مصرعې یې عربی کښې دي او وروستۍ مصرعه فارسی کښې ---- زما خیال دی چې دغه یوه فارسي مصرعه به د سعدي وي او نور کلام به د شاه صاحب وي --- زه عربۍ نه استفاده کولی شم خو نیغ په نیغه ترې ترجمه راته ګرانه ده --- بس دغه څو مصرعې مې پښتو کښې ترجمه کړې -- چې ملګرو سره یې شریکوم

یه ښښتنه د جمال او یه سرداره د بشر
ستا له مخه رڼا اخلي دغه پرقنده قمر

ناممکنه دې ستاینه چې پرې حق شي ستا ادا
پس له خدایه خو بس ته یې قیصه لویه یو یې سر

عربي کلام ---.شاه عبدالحق محدث دهلوي

یا صاحب الجمال و یا سید البشر
من وجهک المنیر لقد نور القمر

لا یمکن الثناء کما کان حقہ
بعد از خدا بزرگ توئی قصہ مختصر

صلی الله علیه و اله وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستر پښتون مبارز " انقلابي او ولوله انګیز شاعر د نظم بادشاه ولي محمد طوفان لکه چې پښتنو هیر کړی دی خو د هیرولو نه دی --- په پښتونخوا د هغه شاهکار پښتو نظم مې اردو ته ترجمه کړی دی ----- زه د اردو په فاعلاتن فاعلات سم نه رسم خو چې څنګه بحر کښې د طوفان مرحوم پښتو نظم وو هغې ته ورته بحر کښې یې ما اردو کښې د ترجمې هڅه وکړه ---مینه وال ملګري ---- دې یې راسره وګوري او د کمۍ کوتاهۍ دې را ته بخښنه هم کوي**

**-----پختون خوا**

**تو ہے فخر وطن ،تو ہے غیرت حیا**
**پختونخوا، پختونخوا پختونخوا پختونخوا**

**تیرے پتھر ہیں لعل،تو میرا بدخشاں**
**تیرے ذروں پہ وار،تو ہی ہے کہکشاں**
**تیرے بلبل ہیں ہم،تو جو ہے گلستان**
**چشمۂ تو جمال، أئینۂ زیبا**
**پختونخوا پختونخوا، پختونخوا پختونخوا**

**تیرے دریا ہیں کوثر ،پہاڑ تیرے طور**
**ہیں کہن سال شیر،نوجواں ہیں باتور**
**تیری غیرت میں دیکھ ،طفل بھی ہیں منصور**
**تو ہے مثل گہوارۂ ،زیست بقا**
**پختونخوا پختونخوا، پختونخوا پختونخوا**

**تیرے کہسار کے سنگ، مثل یمن**
**گرد تیرے ہوں جسے آھوۓ ختن**
**پر و پرواز مور بھی، ہوں جسے زغن**
**تیرا کوا بھی شاہیں، جری ہے هما**
**پختونخوا پختونخوا، پختونخوا پختونخوا**

**تیرے دروں میں سب مانگتے ہیں امان**
**تیرے کھڈ کو سمجھتے جو ہیں قبرستان**
**بھاگ جاتے ہیں سارے حملہ آوران**
**یہاں بابر و اورنگ، کو ہے واویلا**
**پختونخوا پختونخوا، پختونخوا پختونخوا**

**خار خوشحال خان کے ہاتھوں کے لئے**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیغ خنجر بنے دشمنوں کے لئے
مثل مقتل ہیں باغ، رہزنوں کے لئے
ہے ارادہ جہاد اور عمل ہے غزا
پختونخوا پختونخوا، پختونخوا پختونخوا

صبح یرغل جو ہو، بھاگی تاریکیاں
پیچھے رہ جائیگے، رات کے کاروان
زیست گر اگے ہو، پشت پر قبرستان
بڑھتے ہی جائیگے، سوئے نور و جلا
پختونخوا پختونخوا، پختونخوا پختونخوا

ہم سدا ہوں فدا دین اسلام ہے
ساقئ یثربی، ہاتھ میں جام ہے
جاگزین روح میں، رب کا پیغام ہے
اسی قرآن ہی نے تو بخشی جلا
پختونخوا پختوخوا، پختونخوا پختونخوا

منتشر نہ رہیں، کریں عام اتحاد
تیرے اجداد کا تھا پیام اتحاد
ملتوں کی بلندی کا نام اتحاد
پائی کس قوم نے عروج وحدت بنا
پختونخوا پختونخوا، پختونخوا پختونخوا

اصل پښتو نظم---ولي محمد طوفان

پښتونخوا

يې وطن د ناموس د غيرت د حيا
پښتونخوا پختونخوا ' پښتونخوا پښتونخوا

ستا د کاڼو نه ځار بدخشان يې زمونږ
له ذرو دې لوګی کهکشان يې زمونږ
مونږ يو ستا بلبلان ته بوستان يې زمونږ
سرچيني د ښايست ايينې د ښکلا
پښتونخوا پښتونخوا ' پښتونخوا پښتونخوا

هر يو سيند دې کوثر هر يو غر دې يو طور

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر بوډا دې زمری هر زلمی دې باتور
ستا په پت او په ننګ هر بچې دې منصور
ای زمونږه زانګو د ژوندون د بقا
پښتونخوا پښتونخوا" پښتونخوا پښتونخوا

د غرهٔ کاڼې دې خدایګو یمن لټوي
تل غبار دې هوسی د ختن لټوي
طاوسان دې وزر د زغن لټوي
هر یو زاغ دې شاهین توریالی دې هما
پښتونخوا پښتونخوا" پښتونخوا پښتونخوا

سردرو کښی دې سوال کړي غلیم د امان
هر ګړنګ دې مزار ګڼي تل دښمنان
ځي په تیښته له تا د یرغل په ارمان
هر بابر په فریاد هر اورنګ په ژړا
پښتونخوا پښتونخوا" پښتونخوا پښتونخوا

هر ازغی دې منګول د خوشحال کښې دی شل
هره تیغه دې لاس کښی خنجر د ایمل
د شوکمارو د پاره هر باغ دې مقتل
هر تکل دې جهاد هر عمل دې غزا
پښتونخوا پښتونخوا" پښتونخوا پښتونخوا

ګډ ناتار پرې سحر کړه تیرې شا ته ځي
د درنې تورې شپې قافلې شا ته ځي
د ژوندون په یرغل ادیرې شا ته ځي
مخ په وړاندې روان یو په لار د رڼا
پښتونخوا پښتونخوا" پښتونخوا پښتونخوا

په اسلام یو مېین دین اسلام دی زمونږ
د یثرب د ساقي لاس کښې جام دی زمونږ
پوخ ایمان د الله په کلام دی زمونږ
د قران دی هر توری زمونږ سپین سبا
پښتونخوا پښتونخوا" پښتونخوا پښتونخوا

کړئ خورو پښتنو خپل مرام اتحاد
د زړو پلرګنو مو پیغام اتحاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دنيا غوره بويه د قام اتحاد
کله پايي چې قام کړي يووالي ته شا
پښتونخوا پښتونخوا" پښتونخوا پښتونخوا

---

**خدای**

**خدای --د پاره عربۍ کښې قران حکيم --الله-توری راوړی دی-دا توری دومره کامل او اکمل دی-- چې هر څومره تجزيه يی وکړې معنا يی په هر صورت کښې کامله وي-الله-نه که وړومبی --الف--اخوا شي نو ---لِله-به پاتې شي مطلب الله د پاره-که- لِله- نه هم وړومبی -ل-اخوا کړې نو- لهٌ -به پاتې شي نو مطلب يی شي هغه ذات د پاره--او که --لهُ --نه هم وړومبی -ل-اخوا کړې نو --هُ-به پاتې شي مطلب-هغه ذات-د دغه الله توري ريښه په سامي ژبو ارامي عبراني او سرياني کښې هم شته--**
**الله د پاره زمونږ په مشرقي ژبو کښې ګڼ شمير توري مستعمل دي چې ټولو نه زوړ توری يی --خدای-دی-د ژبو ماهرين وايی چې دا توری نژدې نژدې اته زره کالو راسې مستعمل دی--په يو شمير لغتونو لکه فرهنګ نظام --غياث اللغات-سراج اللغات-وغيره کښې د --خدای-د توري ماده او زوړوالی ښودلی شوی دی --فرهنګ نظام کښې راځي چې-- ريشه لفظ خدا در اوستا است بمعنی بخودی خود و در سنسکرت-سوته-بهمان معنی است--ګويا اوستا کښې دا توری خدای دی او سنسکرت کښې ---سوته--دی--اوِستا د زرکاله قبل مسيح ژبه ده او سنسکرت دوه زره کاله قبل مسيح-اوِستا ته --ژند --هم وييلی شي چې د زرتشت د کتاب نوم هم دی او د دغه ژند تفسير او شرح د-- پاژند- په نوم يادېږي--چې وروستو بيا دغه ژبې ته د پهلوي او بيا د فارسي نومونه ورکړی شوي دي-- د خدای دا نوم په پاژند کښې خدای --پهلوي اشکاني کښې خودهای--او پهلوي ساساني کښې-خوتای-راغلی دی--دغه --خوتای-په قديم ژند او پاژند کښې --خو ته يی--راغلی دی--بلخوا په سنسکرت هم غور پکار دی چې هلته --سو ته--راغلی دی--دې لور ته د چا هم پام نه دی چې دغه زوړ ترين نوم--خو ته يی--اصل کښې د پښتو توری دی---د ژند او پهلوي د خودای معنا --بخودی خود--يعني پخپله يا له خپله ځانه موجود ښودلی شي--دغسې د خدا معنا--خود آ-يعنې پخپله راشه ښودلی شي-- او د سنسکرت توری ---سو ته-- چې د دوو تورو نه جوړ دی هم دا معنا ورکوي چې --بس ته يا يواځې ته--خو د دغه لفظ زياته فصيح معنا پښتو کښې ده--پښتو کښې دا توری د دريو تورو مجموعه ده-خو-ته-يی---يعنې--خوته يی--مطلب بس ته يی-- بل څوک نشته--دغسې د--- خو ته يی--نه خوتايی او بيا خدای جوړ شوی دی چې د خالق مالک بادشاه قادر مطلق په معنو کښې تر ننه استعمالېږي--**
**دلته يوه اندازه دا هم کېږي چې د پښتو توری ---خوته يی- يعنې--- خدای--- که اتهٔ زره کاله زړه ريښه لري نو بيا پښتو ژبه هم انداذاً اتهٔ زره کاله زړه ده----**

---

**علامه اقبال د مسلمانانو د زوال او تباهۍ درې غټ اسباب ښودلي دي --- د خلافت نه ملوکيت او بادشاهت ته راتلل --- د ملا په پنجه کښې راګيريدل --- او د بې عمله پيرانو صوفيانو په لاره تلل --- دغه تناظر کښې يې خپل يو نظم کښې مسلمانانو ته د يو غيبي اواز په علامتي انداز کښې د خپلې باوقاره ماضي ياد د پاره ډير ښکلی نظم په ډير جلالي انداز کښې ليکلی دی چې ما يې په هم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه اسلوب او بحر کښې د ګران باچاجي په غوښتنه پښتو کښې د ترجمې هڅه کړې ده ----ملکرو ---- سره يې شريکوم**

**---- غيبي اواز**

**سحر سبا رادرومي له اسمانه يو اواز**
**تا څنګه وبايللو هنر هاغه د ادراک**

**ستا څنګه شوله پسه هغه توره د تحقيق**
**دا ولې له تا نۀ شولو د ستورو ځيګر چاک**

**ظاهر او په باطن يې تۀ څښتن د خلافت**
**لمبې هم چرته کړې غلامي ده د خاشاک**

**دا ستوري نمر سپوږمۍ دې ولې نه دي لاس په نام**
**ستا ولې له نظره چې لرزيږي نه افلاک**

**منم چې په رګونو کښې دې وينه ځي راځي**
**نۀ هغه ولوله شته او نۀ سوچ هغه بې باک**

**رڼا به لري ډيره خو جهان نۀ شي ليدی**
**پردې د کومو سترګو چې نظر نۀ لري پاک**

**دا ځکه خو شوې خلاص له ايينه غوندې ضمير**
**راګير چې په حلقه شوې د سلطان ملا او پير**

**اردو نظم ----اواز غيب ---علامه اقبال**

**آتي ہے دم صبح صدا عرش بريں سے**
**!کهويا گيا کس طرح ترا جوہر ادراک**
**کس طرح ہوا کند ترا نشتر تحقيق**
**ہوتے نہيں کيوں تجھ سے ستاروں کے جگر چاک**
**تو ظاہر و باطن کي خلافت کا سزاوار**
**کيا شعلہ بهي ہوتا ہے غلام خس و خاشاک**
**مہر و مہ و انجم نہيں محکوم ترے کيوں**
**کيوں تري نگاہوں سے لرزتے نہيں افلاک**
**اب تک ہے رواں گرچہ لہو تيري رگوں ميں**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نے گرمي افکار، نہ اندیشہ بے باک**
**روشن تو وہ ہوتي ہے، جہاں بیں نہیں ہوتي**
**جس آنکھ کے پردوں میں نہیں ہے نگہ پاک**
**باقي نہ رہي تیري وہ آئینہ ضمیري**
**اے کشتۂ سلطاني و ملائي و پیري**

---

**شیدا ولې یې صدف د محیط بولي**
**غوږ نیولی دی ګوهر دِتا سخن ته**
**وضاحت.....**
**محیط.احاطه کوونکی یعنې سمندر...**
**صدف---- ملغلره....**
**تاسو ته پته ده چې ملغلرې په سمندر کښې د صدف په خله کښې پیدا کیږي...د صدف کنجکي یا سیپی شکل د غوږ غوندې بیضوي انداز کښې ګول وي...د صدف خله هم وازه وي او غوږ هم پرانستی وي.صدف د باران څاڅکي ته خله وازه نیولې وي چې د باران څاڅکی د صدف خله کښې پرویوځي.تل ته یې کوز شي او ملغلره شي...او غوږ هم ښکلي اواز ترنم او سخن ته پرانستی منتظر وي چې دغه اواز نغمه ترنم شعر یا سخن پرې لکه د ملغلرې ولګي....**
**شیدا په دغه تناظر کښې وایی چې دا خو د ګوهر غوندې قیمتي او باذوقه انسان غوږ ستا سخن یعنې شاعرۍ ته پرانستی منتظر دی او ته وایې چې ګنې دا صدف د باران څاڅکي ته خله وازه نیولې ده چې پکښې څاڅکی ملغلره شي...ولې ستا شاعري د ملغلرو نه کمه ده څه.... د شیدا کمال ته وګورئ چې د غوږ او خلې په نسبتونو یې د خپل سخن او شعر خبره خو کړې ده خو موږ ته دا هم پته ده چې حسینان د خپل سینګار د پاره په غوږونو د سرو سپینو د والیو په ځایی د ملغلرو میخکي هم اچوي.ګویا د غوږ او ملغلرو دغه نسبت هم د شیدا په ذهن کښې وو ځکه یې د خپل سخن دپاره دومره نادر شعري رعایتونه راوړي دي او یو قسم شاعرانه تعلي یې کړې ده..... نو بس چې د شیدا شاعري سخن یا خبرې ملغلرې دي نو ځکه خو ورته موږ غوږ نیولی دی --- او پکار ده چې حسینان هم په خپلو غوږونو د مادي ملغلرو په ځایې د شیدا د سخن معنوي ملغلرې سینګار ----کړي یعنې د شیدا سخن ته غوږ ونیسي او خپل غوږونه د خوند او مسرت په کالیو سینګار کړي**

---

**په انګلستان کښې د --ګرین وډ -- په نوم یو ځنګل وو چې اوس نشته--په دغه ځنګل کښې د پر امن او شریفو خلقو یو ټولي چې --ایمي ینټ ---به یې بللو ' ژوند تیرولو او د انساني ټولنې د شور و شر نه لرې به یې د فطرت د رنګینیو او ښایسته موسم نه خوند اخستو-- هسې ګرین وډ په انګریزۍ کښې د سپرلي موسم ته هم ویېلی کیدل خو دغه سپرلی به هم ډیر یخ وو--- د انګریزۍ ایز-- as you like it ---- لوې ډرامه نګار او شاعر ویلیم شیکسپیر چې خپله مشهوره ډرامه یو لایک ایټ---لیکله نو تر منځه یې پکښې شعرونه او سندرې هم ورکړې دي ---دغه یوه سندره یا نظم یې د دغه ډرامې د دویم ټوک پنځمه ننداره کښې راغلی دی چې انګریزي یې هم د شیکسپیر د زماني ده -- ما یې دیرش کاله پخوا ترجمه کړې وه او نن یې ملګرو سره شریکوم چې د لفظي --- ترجمي نه مې ډډه کړې ده اومرکزي خیال مې خپلو لفظونو کښې ترجمه کړی دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د شینکۍ ونې د لاندې**

**په یوهٔ شین ځنګل کښې-- له ابادۍ نه لرې**
**هم خاموشي خوره ده -- هم د بلبل سندرې**
**شنې پیغلې ونې لاندې -- زهٔ زندګي تیروم**
**ایله مې شونډه شنه ده --خپله ځواني تیروم**
**داسې څوک شته دی کهٔ نه --چې دا لحظې خوښوي**
**چې بلبلانو سره --- وییل نغمې خوښوي**
**بې له یخنۍ له موسم ---دوستي له هر څهٔ لرم**
**دلته انسان نشته دی --ځکه دښمن نشته دی**

**داسې به څوک وي اخر ---چې عیش عشرت نهٔ غواړي**
**چې کیف سرور نهٔ غواړي -- ارام راحت نهٔ غواړي**
**پلوشو سپینو د نمر --- سره چې کور کوي څوک**
**بیا نو پروا د خلقو ---چرته د تور کوي څوک**
**دلته یو نوی راحت -- دلته یو نوی سرور**
**څوک چې صابر انسان وي --دلته به ژوند کړي ضرور**
**بې له یخنۍ له موسم --- دوستي له هر څه لرم**
**دلته انسان نشته دی ---- ځکه دشمن نشته دی**

**BY WILLIAM SHAKESPEARE**
**(from As You Like It**

**Under the greenwood tree**

**Who loves to lie with me,**
**And turn his merry note**
**Unto the sweet bird's throat,**
**Come hither, come hither, come hither:**
**Here shall he see**
**No enemy**
**But winter and rough weather.**

**Who doth ambition shun**
**And loves to live i' the sun,**
**Seeking the food he eats,**
**And pleased with what he gets,**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Come hither, come hither, come hither:**
**Here shall he see**
**No enemy**
**But winter and rough weather.**

---

**ستر خوشال بابا دا وصیت کړی وو چې--- زما مزار دې داسې ځايي کښې جوړ کړی شي چرته چې د مغلو شاهسوارو په اسونو د سورلۍ په وخت د اسونو د پښو نه پورته شوی ګرد هم زما په مزار نه پريوځي ----- هر څو که دغه وصیت د خوشال بابا په لیکلی شوو اثارو کښې چرته پیدا نه شو او نه بل چرته يې درک شته ---ځکه زه دغه وصیت د علامه اقبال امیجري يعنې تصوریه ګڼم چې د خوشال بابا د افکارو نه يې اخذ کړې ده ---خو اقبال په دغه وصیت نظم ډیر شاهکار لیکلی دی ---- چې ما يې پښتو کښې ترجمه کول هم ضروري وګڼل -ملګرو ته دې ډالۍ وي**

**د خوشحال خان وصیت**

**قبیلې دې واړه يو موتی شي قام شي**
**چې اوچت د افغانانو ننګ و نام شي**

**مینه هغه شازلمو سره کوومه**
**چې کمند يې پاس د ستورو په مقام شي**

**د مغلو نه په څۀ به وايه کم وي**
**کۀ د غرونو بچی پورته شامدام شي**

**ګرانه واوره ځایي هغه به يې خوښیږي**
**د خوشحال چې ابدي پکښې ارام شي**

**د پښو دوړه يې چې باد چرې رانۀ وړي**
**د مغل د اسپو چرته چې خرام شي**

**---اردو نظم**

**خوشحال خان کی وصیت ----علامه اقبال**

**قبائل ہوں ملّت کی وحدت میں گم**
**کہ ہو نام افغانیوں کا بلند**

**محبت مجھے اُن جوانوں سے ہے**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاروں پہ جو ڈالتے ہیں کمند

مغل سے کسی طرح کمتر نہیں
قہستاں کا یہ بچہَ ارجمند

کہوں تجھ سے اے ہم نشیں دل کی بات
وہ مدفن ہے خوشحال خاں کو پسند

اُڑا کر نہ لائے جہاں بادِ کوہ
مغل شہسواروں کی گردِ سمند

---

د اردو دا مشهور غزل د موسيقۍ سره عابده پروين او ځنو نورو سندرغاړو ويلی دی چې خلق يې د نامتو شاعر ناصر کاظمي غزل ګڼي خو دا اصل کښې د حکيم ناصر غزل دی چې ما يې د زلمي ---- بلال احمد په خواهش پښتو کښې د ترجمې هڅه وکړه ----ملګرو سره يې شريکوم

چې ستا له مخه ليونتوب مې مشغولا ساتلې
هر سړي تيږه ده په لاسو کښې رسا ساتلې

کوم اذيت به يې د مينې وي تير شوی په زړهٔ
مينې د پاره يې نامه چې ده سزا ساتلې

کاڼو نو تاسو ولې نن زما په سر وريږئ
ستا درجه مې وه يو وخت کښې د مولا ساتلې

ټوله دنيا مې ننداره کوي چې تا ته ګورم
لکه چې زهٔ دې يم د مينې تماشا ساتلې

خير که د کور ډيوې مې مړې کړلې بادونو د وخت
ما خو په زړه کښې هم يوه ډيوه رڼا ساتلې

ښهٔ په خندا د تورو ورځو تراخهٔ ځښه ناصره
خداې خو په درد کښې هم مزه بې انتها ساتلې

اردو غزل ---- حکيم ناصر

جب سے تو نے مجھے دیوانہ بنا رکھا ہے
سنگ ہر شخص نے ہاتھوں میں اٹھا رکھا ہے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اس کے دل پر بھی کڑی عشق میں گزری ہو گی
نام جس نے بھی محبت کا سزا رکھا ہے

پتھروں آج میرے سر پر برستے کیوں ہو
میں نے تم کو بھی کبھی اپنا خدا رکھا ہے

اب میری دید کی دنیا بھی تماشائی ہے
تو نے کیا مجھ کو محبت میں بنا رکھا ہے

غم نہیں گل جو کیئے گھر کے ہواؤں نے چراغ
ہم نے دل کا بھی دیا ایک جلا رکھا ہے

پی جا ایام کی تلخی کو بھی ہنس کر ناصر
غم کو سہنے میں بھی قدرت نے مزہ رکھا ہے

---

------ د غالب د مشهور اردو غزل پښتو منظومه ترجمه د ملګرو په خدمت کښې

په هره اشاره کښی چې لري نشان بدل
که مينه هم کوي زړه ته راځي ګمان بدل

په خدايه نه پوهيږي په ساده سپينه وينا
يا دهٔ له زړه بدل کړې يا مې کړې بيان بدل

د وروځو د ليندۍ د نظر غشي څه ترون
دی غشی خو راولي خو لري کمان بدل

بيا غم د څه چې ته راته په ښار کښې يې موجود
بازار نه ځان له رابه وړم زړه او ځان بدل

بتانو ماتولو کښې که ډير شومه ماهر
په لاره کښې پراته راته نور هم خندان بدل

د زړه وينې په جوش دي زړه به سپک وو په ژړا
ای کاش چې مې لرلی داسې ډير چشمان بدل

بس مرمه په اواز دې که مې سر له تنه ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جلاته غږ دې پورته کړه لرمه توان بدل**

**ډېر خلق يې په سوز او څړيکو تير اوخوري د نمر**
**داغونه چې د زړه کړم هره ورځ عيان بدل**

**دا زړه که مې درکړی نه وی وم به په سکون**
**څو ورځې به مې نور کړی وو های سوران بدل**

**اوبهٔ که لاره نه مومي نو هم وباسي لار**
**طبيعت په تپه اودريږي بيا شي روان بدل**

**دنيا کښې خو نور هم سخنوران شته د کمال**
**خو وايي د غالب انداز بدل بيان بدل**

**اردو غزل ----مرزا اسدالله خان غالب**

**ہے بس کہ ہر اک ان کے اشارے میں نشاں اور**
**کرتے ہیں مَحبّت تو گزرتا ہے گماں اور**
**یا رب وہ نہ سمجھے ہیں نہ سمجھیں گے مری بات**
**دے اور دل ان کو، جو نہ دے مجھ کو زباں اور**
**ابرو سے ہے کیا اس نگہِ ناز کو پیوند**
**ہے تیر مقرّر مگر اس کی ہے کماں اور**
**تم شہر میں ہو تو ہمیں کیا غم، جب اٹھیں گے**
**لے آئیں گے بازار سے جا کر دل و جاں اور**
**ہر چند سُبُک دست ہوئے بت شکنی میں**
**ہم ہیں، تو ابھی راہ میں ہیں سنگِ گراں اور**
**ہے خونِ جگر جوش میں دل کھول کے روتا**
**ہوتے جو کئی دیدۂ خوں بانہ فشاں اور**
**مرتا ہوں اس آواز پہ ہر چند سر اڑ جائے**
**'جلاّد کو لیکن وہ کہے جائیں کہ 'ہاں اور**
**لوگوں کو ہے خورشیدِ جہاں تاب کا دھوکا**
**ہر روز دکھاتا ہوں میں اک داغِ نہاں اور**
**لیتا۔ نہ اگر دل تمھیں دیتا، کوئی دم چین**
**کرتا جو نہ مرتا، کوئی دن آہ و فغاں اور**
**پاتے نہیں جب راہ تو چڑھ جاتے ہیں نالے**
**رُکتی ہے مری طبع تو ہوتی ہے رواں اور**
**ہیں اور بھی دنیا میں سخنور بہت اچھّے**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کہتے ہیں کہ غالبؔ کا ہے اندازِ بیاں اور

---

**د جبین ترشي يې نخښه د خامۍ ده**
**چې کباب وخوري په زړهٔ تیرهٔ سیخونه**
**وضاحت......**
**د شیدا دې شعر کښې د وړومبۍ مصرعې وروستی تورۍ-خامۍ-زیات غور غواړي.**
**خامي-په دوه معنو کښې استعمال شوی دی-یوه خامي د کمي یا نقص او کمزورۍ په معنا او دویمه معنا د --خام--یعنې کچه او ناپخته ده.**
**ترش جبین یا تریو تندی د غصې په حالت کښې وي-او دا د هغه چا شیوه وي چې فکر یې خام وي د ژوند د تودو سړو او مختلفو تجربو او مرحلو نه هم نهٔ وي راتیر شوی-دغو مرحلو نه راتیر شخصیت کښې زغم او برداشت ډیر وي . په هره خبره تندی تریو کوي نه.**
**بلخوا کباب ته وګورئ چې کچه غوښه یا قیمه وي نو ذایقه کښې یې ترش والی یا تریو والی زیات وي خو چې تیرو سیخانو کښې د تومبلو نه پس د تیز اور د مرحلو او تودو سړو نه راتیر شي نو هله کباب شي او هله یې ذایقه هم برابره شي ترش والی یې هم ختم شي-ګویا چې په اور پوخ شي نو خاموالی یعنې کچه والی یې هم ختم شي او د ذایقې خامي یعنې خرابي کمي اونقص یې هم ختم شي.**
**دغه مشاهده شیدا د انساني رویيو د پاره هم پکاروي او وایي چې ترڅو لکه د کباب د زماني پلکونه تیره سیخونه تیز اورونه او تکلیفونه ونه زغمې نو لکه د کچه کباب به ترش جبین هم یې او په خوئ خصلت خام هم---همدغه خو دې د خامۍ یعنې د کچه فکر یا کمۍ او نقص نخښه ده.**
**په دوو مصرعو کښې دومره معنوي پراختیا نادره مشاهده او شعري تکنیک--- بس دغه کمال کوي --- شیدا**
**نوټ----مینه وال دې یواځې سیخ کباب نظر کښې وساتي چپلي کباب نه ------ پخواني ادب کښې ---چې چرته هم د کباب ذکر دی نو مراد ترې سیخ کباب دی**

---

**د اردو د نومیالي کلاسک شاعر خواجه میر درد دا غزل مې په دې هم ډیر خوښ دی چې د کمال --- رواني او چست بحر سره د تغزل ډیر خواږه هم لرې ---پښتو ترجمه یې ملګرو سره شریکوم**

**څه خو رشته د صنم شته زما د ځانه سره**
**د زړه درزا مې ده تړلې د جانانه سره**

**د لیونو غوندې لاسونه زورور لرمه**
**چې تیوله شپه مې وي پرزولې د ګریوانه سره**

**د جفاکارو زړه به خامخا د کاڼي خو وي**
**توره هم کار لري د کاڼي د سووانه سره**

**مسیحایي که دې ته وایي نو مطربه ښه ده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند به کوو ستا د رباپ د هره تانه سره

درده هر څو که په ښکاره یمه کمزوری میږی
خو ولي شخړه مي راغلي سلیمانه سره

اردو غزل ----خواجه میر درد

ربط ہے ناز بتاں کو تو مری جان کے ساتھ
جی ہے وابستہ مرا ان کی ہر اک آن کے ساتھ

اپنے ہاتھوں کے بھی میں زور کا دیوانہ ہوں
رات دن کشتی ہی رہتی ہے گریبان کے ساتھ

جو جفا جو ہیں انہیں سنگ دلی لازم ہے
کام تلوار کو رہتا ہے سدا سان کے ساتھ

گر مسیحا نفسی ہے یہی مطرب تو خیر
جی ہی جاتے ہیں چلے تیری ہر اک تان کے ساتھ

دردؔ ہر چند میں ظاہر میں تو ہوں مور ضعیف
زور نسبت ہے ولے مجھ کو سلیمانؔ کے ساتھ

---

نه خلاصیږي پرګویان له ګوشمالیه
رامعلوم شول د رباب له قیل و قاله
وضاحت......
پرګویان په فارسی کښې په منفي معنو کښې استعمالیږي یعني هغه څوک چې ډیرې خبرې کوي خو د پرګو مثبت معنا داده چې هغه څوک چې ثقه خوږې او ښایسته خبرې کوي.شیدا دغه توری د رباب د قیل وقال په مناسبت مثبت معنو کښې راوړی دی خو د شعر دویمه معنا کښې خپل منفي مفهوم هم لري.ګوشمالي غوږونو تاوولو ته وایی.په منفي معنا کښې شکست ورکولو او خاموش کولو ته وایی.
اوس د شعر دواړو معنو ته راځو.مثبت مفهوم یی دا دی چې رباب چې غږیږي ګویا ښایسته خبرې کوي - ښایسته او خوږ قیل و قال کوي اوریدونکیو ته تسکین ورکوي او په بدذوقه تولنه کښې د داسې ښایسته هنر او هنر مند مخالفت کولی شي - ګویا ګوشمالي یی کولی شي.غور وکړئ چې د رباب د سر او تال برابرولو او ترې ښایسته مترنم اواز ویستلو د پاره د رباب غوږی تاوولی شي ګویا ګوشمالي یی کولی شي.څومره چې دغه رباب سور کړی شي هومره یی قیل وقال یعنې اواز اوخبرې زیات اثر کوي .د زیاتې ګوشمالی سره رباب زیات پرګو جوړیږي او رحمان بابا هم ویلي دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر مطرب چې غوړۍ تاو کړي د رباب
په دا تاو کښې زما زړه کاندي کباب
ګويا د شيدا د شعر يو مفهوم دادی چې د هنر او هنرمند په بدذوقه ټولنه کښې مخالفت کيږي او ګوشمالي يی کيږي۔
دويم مفهوم يی دادی چې د ډيرو خبرو کولو والا انسان ګوشمالي او مخالفت د هغه د زبان درازۍ په وجه کيږي لکه رباب چې ډيرې خبرې يا قيل و قال وکړي نو تارونه يی سست شي او بيا يی د غوږي د تاوولو او راښکلو ضرورت وي -ګويا د ګوشمالۍ يې ضرورت وي۔
زه دغه دواړه معنې دشيدا د نادرې مشاهدې او د موسيقۍ د هنر سره د نزديکت عکاسې ګڼم۔

---

د خيبر په تاريخي دره ډيرو شاعرانو نظمونه ليکلي دي خو د حفيظ جالندهري دغه نظم د کمال دی---ما يې پښتو کښې د ترجمې هڅه کړې ده ---زما لوستونکيو او مينه ناکو ملګرو ته يې ډالۍ -----کوم

د خيبر دره

نه ګيا پکښې ټوکيږي' نه ګلونه زرغونيږي
خو دې سيمې ته پام وکړه' اسمانونه راټيټيږي

د اسمان د پړقيدونکي بجلۍ زړه دلته درزيږي
اوريخ هم په ډډه درومي' باد له ويرې نه رپيږي

دا د تورو زيګو غرونو' دنګې څوکې چې خورې دي
دې کښې پټې د اسلافو' مو پرتې ډيرې قيصې دي

ژوند کښې نخښې د رنګونو' خو همدغه کړې لارې
د ملت د نصيب کرښې' دي هم دا د وينو دارې

دا درې د لارويو' لوړ همت ته په خندا دي
د پرون قيصې چې وايي' خو د نن په خله ګويا دي

داسې ښکارې دغه کاڼي' چا په لتو دي وهلي
د چا داسې اور ورينو' د پښنو لاندې دي راغلي

په دې ورانه ويرانۍ کښې' چې د حشر هنګامې دي
په دې شاړه کښې خو دفن' د دنيا ډيرې قيصې دي

دا له خوف او ويرې ډکه' يوه داسې ويرانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بې شميره شور انګيزه' تهذيبونو افسانه ده

يو کاروان د اريينو' په دې سختو لارو تللی
چې د هند په دغه زمکه' يو اسمان هم دی راغلی

دغه سيمه سکندر ته' ايينه ده لا تر اوسه
د هم هغه سيلۍ دوړه' خو پرته ده لا تراوسه

مومنانو په دې لاره' خپلې تورې شړنګولې
تکبيرونو به ډغرې' د فولاد سره وهلې

فلک څو واره محمود او' هم جنګونه يې ليدلي
د غوريانو بهادرو' قسمتونه يې ليدلي

دغه خاوره په کلونو' قافلو الوزوله
يو لوګی لکه د اه به' په اسمان کښې خوريدله

تيمور هم کړه د پښو لاندې' بابر لتې ورکړې لار کښې
يو ذره فَرَق رانغلو' د دې خاورې په وقار کښې

په دې لاره تيرې شوې' قافلې د بزرګانو
دغه خاورې دي ښکل کړي' قدمونه د شاهانو

اوس نو هغه جلال څه شو' چې نادر ابدال لرلو
سبق' پښو لاندې راغلو' کانو هم ترې اخستلو

دا هغه د غنو شپول دی' شوې تناکې پکښې ماتې
خو ازغي يې لا تر اوسه' سلامت شولو راپاتې

د اردو نظم ------حفيظ جالندهري

---

زما ترجمي

څو مياشتې مخکښې مې د خوند د پاره د غالب او علامه اقبال د فارسی او اردو يو يو کلام پښتو کښې منظومه ترجمه وکړه چې خوند يې هم راپريښنو او د مينه ناکو ملګرو پرې ډير د قدر وړ عکس العمل هم راغلو نو بس لړۍ مې دوامداره وساتله چې ډيرو ملګرو په کتابي شکل د چاپ کولو مشوره هم راکړه---دې دوران کښې د ګران جوهر خليل هڅوني او د ګران نورالاسلام سنګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له خوا په نورو پاڼو شریکولو زما حوصله نوره هم اوچته کړه-----ګران ساحل دراني ګران حبیب عابد او ګران ماڅور کرمیوال هم دغه ټولي ترجمي په تسلسل سره خپلو پاڼو نه شریکي کړي-- او څو نورو مینه والو تري منتخب ترجمي خپلو پاڼو نه شریکي کړي---- اوس دغه ترجمي څلوېښتو ته رسیدلي دي چي پکښي د فارسی اردو او انګریزی نه پښتو ته --- او د پښتو نه فارسی او اردو کښي ترجمي شاملي دي ---لس ورسره نوري کوم او کتاب ته یي د اوریجنل کلام سره یو ځایي تیاروم----دي کتاب سره به د مینه ناکو ملګرو د کمنټونو او فیسبک رایو یو انتخاب هم شاملوم--- دلته د عالي ذوقه ملګرو د میني هڅوني او ستایني مننه او درناوی کول ضروري ګنم او خپل دغه راتلونکی کتاب به همدغو درنو ملګرو ته ډالی کوم چي په فیسبک یي د خپلو رایو په صورت کښي ----محبت او درناوی راپیرزو کړی دی----ټول دي شاد او اباد اوسي**

---

**د انګریزی د فطرت نګار رومانوي شاعر ویلیم ورډز ورت دغه معروف نظم مي دیرش کاله مخکښي د اسلامیه کالج د لوست دوران کښي ترجمه کړی وو -- د فیسبک ملګرو سره یي نن شریکوم**

**------یوائینی لوګري**

**ملګرو غوږ شئ ورته**
**هغه د غرونو جینی**
**ځان له پټو کښي اخته**
**لو کړي سندره وایي**
**په خپل سرور کښي مسته**
**خبر له ځانه نهٔ ده**

**ملګرو ورو تیریږئ**
**چي چرته پوهه نه شي**
**دغه له درده ډکه**
**سندره غور غواړي**

**لږ شان خو صبر وکړئ**
**لږه مزه خو واخلئ**
**ګورئ د دي سندري**
**شور سردرو کښي خور شو**

**د یو بلبل سندره**
**دومره تاثیر نه لري**
**دا د عرب په شګه**
**په خشکه خشکه صحرا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړي ستومان مسافر
ته 'ستړی مشې' وايي

ما د سپرلي موسم کښی
دومره پرسوزه نغمه
د يو خوږ ژبي مارغهٔ
نه هم وا نهٔ وريدله

سمندرونو کښې چې
په جزيرو کښې چې هم
دا خاموشي ماته ده
د دې نغمې اثر دی

ملګرو دا مهٔ وايئ
چې دې نغمه کښې څه دي
دا د دردمنو پيښو
دا د زړو واقعو
چې ډير جنګونه شوي
دا د هغو عکسونو
يو ايينه ښکاريږي

يا خو د دې زمانې
د موجوده حالاتو
چې په فطرت کښې ګډ دي
د زړهٔ چوونکيو هيلو
چې پخوا هم پيښې وې
او بيا به هم پيښيږي
يوه قيصه ښکاريږي

چې دغه پيغله جينۍ
نغمه کښې هر څه وايي
خو بس چې ختمه نه شي
د زړګي سود مې وشي
ورته په خير ګورمه
لو کړي سندره وايي

زه چې په غرونو خيژم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان سره زړه کښې اوږم
د دې نغمې ترنم
د دې نغمې موسيقي
دومره مزه راکوي
چې نور څه نه اورمه
تر ډيره وخته پورې
هم دا نغمه اورمه

-----د انګريزی نظم

**The Solitary Reaper......**

**William Wordsworth**

**Behold her, single in the field,**
**Yon solitary Highland Lass!**
**Reaping and singing by herself;**
**Stop here, or gently pass!**
**Alone she cuts and binds the grain,**
**And sings a melancholy strain;**
**O listen! for the Vale profound**
**Is overflowing with the sound.**

**No Nightingale did ever chaunt**
**More welcome notes to weary bands**
**Of travellers in some shady haunt,**
**Among Arabian sands:**
**A voice so thrilling ne'er was heard**
**In spring-time from the Cuckoo-bird,**
**Breaking the silence of the seas**
**Among the farthest Hebrides.**

**Will no one tell me what she sings?—**
**Perhaps the plaintive numbers flow**
**For old, unhappy, far-off things,**
**And battles long ago:**
**Or is it some more humble lay,**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Familiar matter of to-day?**
**Some natural sorrow, loss, or pain,**
**That has been, and may be again?**

**Whate'er the theme, the Maiden sang**
**As if her song could have no ending;**
**I saw her singing at her work,**
**And o'er the sickle bending;—**
**I listened, motionless and still;**
**And, as I mounted up the hill,**
**The music in my heart I bore,**
**Long after it was heard no more.**

---

**د حضرت علي كرم الله وجهه په مدحه كښې د فارسی د صوفي شاعر  شمس تبريز دغه صوفيانه كلام د قوالی په شكل ډير ويېلی شوی او مشهور شوی دی -----ما يې پښتو كښې د ترجمې هڅه هم --- په داسې انداز كړې ده چې قوالۍ سره وويلی شي**

**وفادار ساقي زه يم**
**وايم څكه په هر دم**
**علي علي به كوم**
**صوفي زړه صفا لرم**
**علي علي به كوم**

**زه مېين په مرتضا**
**چې په لاره يم رسا**
**رباپي يم خوش نوا**
**علي علي به كوم**
**وايم څكه په هر دم**

**ته ادم غوندې صفا**
**د يوسف د مخ ځلا**
**لكه خضر رهنما**
**علي علي به كوم**
**وايم څكه په هر دم**

**ايينه يې د عيسى**
**يې يو نور د مجتبى**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې يې شير خدا
علي علي به کوم
وايم څکه په هر دم

ته بادشاه د شريعت
ته يې پير د طريقت
حق له تا په حقيقت
علي علي به کوم
وايم څکه په هر دم

ته خو يې شمس او قمر
ته هم بحر يې هم بر
ته مالک د خشک و تر
علي علي به کوم
وايم څکه په هر دم

دوست د سيدالبشر
نمر سپوږمۍ نه منور
د حسن حسين پدر
علي علي به کوم
وايم څکه په هر دم

د نبي دغه وينا
زما زويه د کاکا
ته خو وينه يې زما
علي علي به کوم
وايم څکه په هر دم

ستا پاکي او صداقت
ته يې تاج د ولايت
دی ګواه چې پرې ايت
علي علي به کوم
وايم څکه په هر دم

ستا خادم چې وو قنبر
شمس غلام د هغه سر
سلامي دا ستا په در

(c) ketabton.com: The Digital Library



**علي علي به کوم**
**وایم ځکه په هر دم**

**فارسي کلام -----شمس تبریز**

**ساقیِ با وفا منم، دم ہمہ دم علی علی**
**صوفیء با صفا منم، دم ہمہ دم علی علی**

**عاشقِ مرتضیٰ ًمنم، دم ہمہ دم علی علی**
**مطربِ خوش نوا منم، دم ہمہ دم علی علی**

**آدمً با صفا توئ، یوسفِ مہ لقا توئ**
**خضرً راہِ خدا توئ، دم دمہ دم علی علی**

**عیسیً مریمی توئ، احمد ّہاشمی توئ**
**شیرِ نرِ خدا توئ، دم ہمہ دم علی علی**

**شاہِ شریعتم توئ، پیرِ طریقتم توئ**
**حق بہ حقیقتم توئ، دم ہمہ دم علی علی**

**شمس توئ قمر توئ، بحر توئ و بر توئ**
**مالک ِ خشک و تر توئ، دم دمہ دم علی علی**

**ہمدمِ سیدً البشر ، راجع شمس و القمر**
**بابِ شبیرً و ہم شبّرً، دم ہمہ دم علی علی**

**سیدِ سرورؐکرم، گفتہ بہ تو اے ابنِ عم**
**لحمک لحمی، دمکُ دم، دم ہمہ دم علی علی**

**آیہء اِنّما برت، تاج ز لا فتیٰ سرت**
**شمس غلامُ قنبرت،دم ہمہ دم علی علی**

---

**د سختۍ په پیچ و تاب د مرد نرمي ځي**
**چې په دوک شي پومبه ځان کاندي رشته**
**وضاحت....**
**یوه خبره ------داسې نه وي چې زما مینه وال او د شیدا عقیدت مند محسوس کړي چې شیدا مې ------ هیر شو -----شیدا د هیریدو چرته دی د یو عالي شعر په شرحه به یې خوند واخلو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیدا په دوو مصرعو کښې څه نادره مشاهده او څومره نازک خیال راګیر کړی دی بنده ورته حیران شي ـ وړومبی به یی ګران ټکي اسان کړو---

پیچ و تاب فارسي ده---پیچ غوټې خم یا تاو راتاو ته وایی---

تاب ---- تاو تپش ګرمي قهر غصې او غرور ته وایی---

دوک ------ فارسي ده څرخه کښې هغه آله چې د تاویدو او چکر په ذریعه د پومبې نه تار جوړوي او دوک هغه لرګي ته هم وایی چې تار ترې تاوولی شي---

رشته ----- فارسی کښې تار ته وییلی شي---

اوس په شعر غور وکړئ-- پومبه نرمه او پسته وي ـ خو چې د څرخې د چکر نه تیره شي یعنې د پیچ و تاب د مرحلې نه تیره شي نو تار ترې جوړ شي او تار بیا هغسې نرم او پوست پاتې نه شي لکه پومبه چې وي ـ ګویا نرمه پومبه چې په کلک تار بدله شي نو نرمي یی ختمه شي ـ شیدا دغه مشاهده د انسان خوئ خصلت رویې او اخلاقو د پاره وړاندې کوي او وایی چې انسان هم چې د پیچ و تاب نه ځان ساتي یعنې دقهر غصې غرور د ګرمی تاو تریخوالي او ګونجې تندي د رویې نه ځان ساتي نو لکه د پومبې به نرم وي خو که د پیچ وتاب مرحلې ته رسي نو همدغسې به یی نرمي ځي لکه د پومبې نرمي چې د څرخې د پیچ وتاب د مرحلې نه پس ختمه شي او بیا دغه کلک تار چې د دوک یعنې لرګي نه تاوولی شي نو د لا زیات پیچ و تاب سره مخ کیږي

غور وکړئ ـ د پومبې د څرخې د چکر په ذریعه د پیچ وتاب دمرحلې نه تیریدل د انساني رویو د نرمی او سختۍ سره مشابه کول او بیا رویه کښې پیچ وتاب د څرخې د تارونو پیچ وتاب سره مشابه کول یعنې غوټو او د تار سختوالي سره مشابه کول یی څومره نادره مشاهده ده چې پیغام دا وړاندې کول غواړي چې انسان باید رویه نرمه وساتي نو د پیچ وخم او غوټې غوټې سخت ژوند نه به خلاص وي. په ژبني حواله هم پرې غور وکړئ---تندي کښې غوټې هم د غصه ناک او بد اخلاق سړي د پاره ویيلی شي ---او ګونجې تندی هم دغو معنو کښې راوړلی شي چې دغه دواړه د ---پیچ و تاب سره سمون خوري

---

حسن له زوال شته ------په دې موضوع علامه اقبال ډیر زړه راښکونکی نظم لیکلی دی چې ما یې --- پښتو کښې د ترجمې هڅه کړې ده ----مینه والو ملګرو سره یې شریکوم

د حسن حقیقت

خدایې نه ښایست په یوه ورځ داسې یو سوال وکړو
دنیا کښې ولې دې زما داسې زوال وکړو

جواب یې دا وو چې دنیا تصویر خانه ده ګوره
د اوږدې شپې د نشت یو داسې افسانه ده ګوره

چې د رنګونو په بدلون کښې صداقت ولري
ښایست هغه وي چې زوال کښې حقیقت ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرته نزدې نه دا خبره چې قمر واوریده
خوره فلک کښې شوه چې ستوري د سحر واوریده

د سحر ستوري نه خبره تر شبنم راغلله
د راز خبره د فلک" زمکې ته هم راغلله

اوښکې د ګل سترګو کښې راغلې دې پیغامه سره
د غوټۍ نرم زړه اوبهٔ شو د انجامه سره

فضا سپرلي نه د چمن په انګولا لاړه
ځواني چې سیل له وه راغلې په ژړا لاړه

اردو نظم----حقیقت حسن---اقبال

خدا سے حُسن نے اک روز یہ سوال کیا
جہاں میں کیوں نہ مجھے تُو نے لازوال کیا

مِلا جواب کہ تصویر خانہ ہے دنیا
شبِ درازِ عدم کا فسانہ ہے دنیا

ہوئی ہے رنگِ تغیّر سے جب نمود اس کی
وُہی حسیں ہے حقیقت زوال ہے جس کی

کہیں قریب تھا، یہ گُفتگو قمر نے سُنی
فلک پہ عام ہوئی، اخترِ سحر نے سُنی

سحَر نے تارے سے سُن کر سُنائی شبنم کو
فلک کی بات بتا دی زمیں کے محرم کو

بھر آئے پھُول کے آنسو پیامِ شبنم سے
کلی کا ننھّا سا دل خون ہو گیا غم سے

چمن سے روتا ہوا موسم بہار گیا
شباب سیر کو آیا تھا، سوگوار گیا

---

حسن اکبر کمال د انګریزۍ پروفیسر او د اردو ښکلی شاعر وو د هند په اګره کښې ۱۹۴۶ کښې پیدا شوی وو - پاکستان ته یې هجرت کړی وو او په ۲۰۱۷ کښې وفات شوی دی-- درې څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شعري مجموعې یې هم چاپ دي --هندي او پاکستاني فلمونو له یې ګڼ شمیر سندرې لیکلي دي خو بیا هم ډیر خلق ترې سم خبر نه دي ---- هندي فلم-- نکاح-- د پاره یې دغه غزل د فلمي سندرې په حیث لیکلی وو چې د پاکستان هنرمندې سلمی اغا پرې فلم کښې اداکاري هم کړې وه او اواز هم د سلمی اغا وو--- یاده دې وي چې سلمی اغا د پښتون هنرمند رفیق غزنوي نمسی د اداکارې زرمینې لور او د اداکار خیام سرحدي د ترور لور ده ----- ما د حسن کمال دغه اردو غزل پښتو ----- کښې ترجمه کړی دی چې ملګرو سره یې شریکوم**

**ټول ارمانونه مو په اوښکو کښې روان پاتې شو**
**که مو وفا وکړه خو بیا هم تش د ځان پاتې شو**

**زمونږه ژوند دی په مثال د جل وهلي تنده**
**چې داستانونه مو نیمګړي په میدان پاتې شو**

**ما د وروستي ستم په طمع هر ستم زغملو**
**د ستمګر خو ستمونه جاودان پاتې شو**

**مونږ خپل وجود پکښې فنا کړو د قربت د پاره**
**زمونږ تر مینځه سرحدونه هغه شان پاتې شو**

**اردو غزل ----حسن کمال**

**دل کے ارمان آنسوؤں میں بہہ گئے**
**ہم وفا کر کے بھی تنہا رہ گئے**

**زندگی ایک پیاس بن کہ رہ گئی**
**پیار کے قصے ادھورے رہ گئے**

**شاید ان کا آخری ہو یہ ستم**
**ہر ستم یہ سوچ کہ ہم سہہ گئے**

**خود کو بھی ہم نے مٹا ڈالا مگر**
**فاصلے جو درمیاں تھے رہ گئے**

---

**اصف خان---جمیل بابر او امان داسې درې اداکاران او فلم سټار دي چې زه یې د پخوا راسې خوښوونکی یم----د دغو درې واړو د فلمونو کتلو د پاره مې د پلار د کریانه دوکان نه د سکول او کالج په زمانه کښې ډیرې پیسې پټې کړې دي---په سوونو فلمونه مې کتلي دي --- د نوښار اصف خان-- د پیرپایي جمیل بابر او د بنو امان باندې داسې میین وم چې اخر مې درې واړه خپل دوستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جوړ کړل-- درې واړه په وړومبي ځل په پښتو فلم دره خیبر کښی په ۱۹۷۱ کښي راغلي وو او بیا درې واړو په اردو او پنجابي فلمونو کښی هم یادگار کردارونه وکړل---- زه ورسره د تیرو تقریبن شلو کالو راسې رفاقت او راشه درشه لرم ---الله دې اوږد ژوند ورکړي چې د مینې رشته مې ورسره دغسې دوامداره وي--- د خپلې ماضي د څنو یادونو او اواره ژوند د خاطرو خوندي ساتلو د پاره مې دغه عکسونه شریک کړل----**

---

**د هندي سبک د نوموړي شاعر صایب تبریزي د فارسي کلام د پښتو ترجمې هڅه د ملګرو په خدمت کښی ----**

**اوبهٔ د خضر او د میو پیمانه یوه ده**
**تلپاتې عمر او مستي خو جانانه یوه ده**

**خوبانو ټولو چې په زړه مې دی نظر لرلی**
**غشي ویشتونکي سل دي' ګوره نشانه یوه ده**

**د هغو مړو سترګو په وړاندې به نو څه ووایم**
**بس د مېین د درد قیصه او افسانه یوه ده**

**یو مرحله کښې کهٔ پرې غور وکړې نو پوهه به شې**
**د دریاب څاڅکی او چپه یې باغیانه یوه ده**

**دغه کثرت د تخلیق هم لکه وحدت وګڼه**
**وړې زرګونه هم کهٔ وي پکښې دانه یوه ده**

**چابیرې په تله کښې د کفر او دین دوه کهٔ ښکاري**
**نزدې کوونکې یو ډنډه یې تر میانه یوه ده**

**لاروي هم کهٔ چرته ځي په خپله نیغه لاره**
**بیا نو د ټولو منزل یو دی نشانه یوه ده**

**کهٔ په زرګونو بلبلان دي په دې بڼ کښې ګوره**
**د دغو واړو نغمه یو ده ترانه یوه ده**

**د نمر رڼا کښې خو نهٔ بره وي نهٔ ښکته نسبت**
**ما ته خو تخت او د غریبو استانه یوه ده**

**هغه مېین له' چې غیرت په خپله مینه کوي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د وروځو خم او یوه تیزه تازیانه یوه ده**

**خوشحالي هم د سترګو اوښکو کښې وي پټه پرته**
**غم او ښادي خو په موجوده زمانه یوه ده**

**هغه مارغۀ ته" چې زړې سترې وزرې لري**
**صایبه قید او باغ او خپله اشیانه یوه ده**

**فارسي غزل ---- صایب تبریزي**

**آب خضر و می شبانه یکی است**
**مستی و عمر جاودانه یکی است**
**بر دل ماست چشم، خوبان را**
**صد کماندار را نشانه یکی است**
**پیش آن چشمهای خواب آلود**
**ناله عاشق و فسانه یکی است**
**در مقامی که غور باید کرد**
**قطره و بحر بیکرانه یکی است**
**کثرت خلق، عین توحیدست**
**خوشه چندین هزار و دانه یکی است**
**پله دین و کفر چون میزان**
**دو نماید، ولی زبانه یکی است**
**رهروانی که راست چون تیرند**
**همه را مقصد و نشانه یکی است**
**گر هزارست بلبل این باغ**
**همه را نغمه و ترانه یکی است**
**نشود نور مهر پست و بلند**
**پیش ما صدر و آستانه یکی است**
**عاشقی را که غیرتی دارد**
**چین ابرو و تازیانه یکی است**
**خنده در چشم آب گرداند**
**ماتم و سور این زمانه یکی است**
**پیش مرغ شکسته پر صائب**
**قفس و باغ و آشیانه یکی است**

---

**غالب د کمال شاعر دی--- دغه د کمال غزل یې باکماله هنرمند جګجیت سنګهه پوره هنري کمال سره ویلی دی ---ما یې پښتو کښې د ترجمې هڅه کړې ده چې ملګرو سره یې شریکوم --**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپوږمۍ حسن خو منم چې په کمال ښه دی
خو له دې هم مې د نمر مخې ترې جمال ښه دی

پېه به نه ورکوي بیا یې هم په زړه وي نظر
زړه کښې به وايي چې د مفتو دی نو مال ښه دی

بس خو که مات شولو نو بل به له بازاره راوړم
جام د جمشید نه خو مې لوښی د کولال ښه دی

څومره به خوند کوي چې ورکړه بې غوښتنې کوي
ملنګ هم هغه چې خوئ نه لري د سوال' ښه دی

راته چې وګوري د مخ سرخې مې وغوړېږي
ځان سره وايي د رنځور لکه چې حال ښه دی

ګورو چې څومره مینان له ښکلو ګټه اخلي
یو برهمن خو دې وییلي چې دا کال ښه دی

د شیرینۍ فرهاد خبرې د تیشې برکت
خو چې په هر شکل څوک ولري کمال' ښه دی

څاڅکی چې لاړ شي سمندر ته' سمندر شي ترې جوړ
انجام د هر هغه کار ښه دی چې یې حال ښه دی

خضر سلطان لرې هر وخت تروتازه خالقه
د بادشاه بڼ کښې چې تازه بوټی وي نال ښه دی

ښه پرې پوهېږمه چې څه دی حقیقت د جنت
زړه به خوشاله کړو غالبه دغه خیال ښه دی

نوټ ------ خضر سلطان د مغل بادشاه بهادرشاه ظفر زوې وو چې د پیرنګې په قید کښې وو ---

اردو غزل ----مرزا غالب

حسنِ مہ گرچہ بہ ہنگامِ کمال اچّھا ہے
اس سے میرا مۂ خورشید جمال اچّھا ہے

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوسہ دیتے نہیں اور دل پہ ہے ہر لحظہ نگاہ
جی میں کہتے ہیں کہ مفت آئے تو مال اچّھا ہے

اور بازار سے لے آئے اگر ٹوٹ گیا
ساغرِ جم سے مرا جامِ سفال اچّھا ہے

بے طلب دیں تو مزہ اس میں سوا ملتا ہے
وہ گدا جس کو نہ ہو خوئے سوال اچّھا ہے

ان کے دیکھے سے جو آ جاتی ہے منہ پر رونق
وہ سمجھتے ہیں کہ بیمار کا حال اچّھا ہے

دیکھیے پاتے ہیں عشّاق بتوں سے کیا فیض
اک برہمن نے کہا ہے کہ یہ سال اچّھا ہے

ہم سخن تیشے نے فرہاد کو شیریں سے کیا
جس طرح کا کہ کسی میں ہو کمال اچّھا ہے

قطرہ دریا میں جو مل جائے تو دریا ہو جائے
کام اچّھا ہے وہ جس کا کہ مٰل اچّھا ہے

خضر سلطاں کو رکھے خالقِ اکبر سر سبز
شاہ کے باغ میں یہ تازہ نہال اچّھا ہے

ہم کو معلوم ہے جنّت کی حقیقت لیکن
دل کے بہلانے کو غالب یہ خیال اچھا ہے

---

د اردو د نومیالي غزلګو مومن خان مومن د معروف اردو غزل د پښتو ترجمي هڅه مي کړې ده چې د هر شعر په وړومبی مصرعه کښي مې برغه قافیه په شعوري توګه ساتلې ده ---ملګرو سره یې شریکوم ---

هغه قول زما او ستا' تا ته یاد دي او که نه
هغه لوظ دې د وفا' تا ته یاد دي او که نه

تا وې مینه به کوم' زما حال باندې کرم
هر څه یاد مي دي رسا' تا ته یاد دي او که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ورځ نوې ګيلې' څه د خوند به وې قيصې
چې خفه به شوې له ما' تا ته ياد دي او که نه

په محفل کښې دې نخرې' پټې پټې اشارې
شوه به مينه مو رسوا' تا ته ياد دي او که نه

يو ناڅاپه ملاقات' د وفا د دعوو زبات
ګيله خپلو نه زما' تا ته ياد دي او که نه

که خبره به زما' خوښه نه کړه چرې تا
ما به هيره کړه پخوا' تا ته ياد دي او که نه

آ د ميني زمانه' زمونږ لاره جانانه
ته زما چې وې اشنا' تا ته ياد دي او که نه

مودې وشوې چې وعده' کړې تا وه ما سره
درته ياده کړله ما' تا ته ياد دي او که نه

ما به زړه کړلو صفا' ستا به وه داسې وينا
شه خبر مې ترې بلا' تا ته ياد دي او که نه

د وصال په شپه تکرار' ستا له هر څه نه انکار
ستا په هره لحظه نا' تا ته ياد دي او که نه

هغه تا چې پيژندو' وفادار دې يادوو
مومن ګډ په واويلا' تا ته ياد دي او که نه

اردو غزل ----مومن خان مومن

وہ جو ہم میں تم میں قرار تھا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو
وہی یعنی وعدہ نباہ کا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو

وہ جو لطف مجھ پہ تھے بیشتر وہ کرم کہ تھا مرے حال پر
مجھے سب ہے یاد ذرا ذرا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو

وہ نئے گلے وہ شکایتیں وہ مزے مزے کی حکایتیں

(c) ketabton.com: The Digital Library



وہ ہر ایک بات پہ روٹھنا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو

کبھی بیٹھے سب میں جو روبرو تو اشارتوں ہی سے گفتگو
وہ بیان شوق کا برملا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو

ہوئے اتفاق سے گر بہم تو وفا جتانے کو دم بہ دم
گلۂ ملامت اقربا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو

کوئی بات ایسی اگر ہوئی کہ تمہارے جی کو بری لگی
تو بیاں سے پہلے ہی بھولنا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو

کبھی ہم میں تم میں بھی چاہ تھی کبھی ہم سے تم سے بھی راہ تھی
کبھی ہم بھی تم بھی تھے آشنا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو

سنو ذکر ہے کئی سال کا کہ کیا اک آپ نے وعدہ تھا
سو نباہنے کا تو ذکر کیا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو

کہا میں نے بات وہ کوٹھے کی مرے دل سے صاف اتر گئی
تو کہا کہ جانے مری بلا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو

وہ بگڑنا وصل کی رات کا وہ نہ ماننا کسی بات کا
وہ نہیں نہیں کی ہر آن ادا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو

جسے آپ گنتے تھے آشنا جسے آپ کہتے تھے با وفا
میں وہی ہوں مومنؔ مبتلا تمہیں یاد ہو کہ نہ یاد ہو

---

**ترجمه..ټرانسليشن..او ژباړه..**

**ترجمه د عربۍ د..رجم..نه اخستی شوی توری دی چې معنا يی ده..په کاڼو ويشتل او بدې ردې وييل.. عربۍ کښې دا توری همدغه معنو کښې ..ترجم..هم راغلی دی خو دا توری که.. تُرجِم..وليکلی شي نو معنا يی شي..ګډول او را يوځايی کول...په دې معنو کښې دا د ترجمې مفهوم ادا کوي چې دغسې دوه ژبې رايو ځايی کولی شي..ګډولی شي يا نزدې کولی شي... او بيا همدغه ترّجِم نه ترجمه جوړ شوی دی..د انګريزۍ ..ټرانسليشن اصل کښې د لاطينۍ د ټرانسليشيو نه جوړ دی..چې د دوو تورو مرکب دی...د.. ټرانس..مطلب دی راوړل او د ..ليشيو ..مطلب دی زوړ يا پخوانی ..لکه د انګريزۍ ..late يا past..دغسې دا توری هم د ترجمې مفهوم ادا کوي يعنې د وړاندې نه موجوده يا زړې ژبې نه علم او معلومات موجوده ژبې ته راوړل..اوس پاتې شوه زمونږ د پښتو ...ژباړه...په دې زه پوهه نه شوم چې د دې توري ماده څه ده..دا ترکيب دی که مفرد...د جوړښت قاعده يی څه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده.که د ژباړه مطلب وي.. د ژبې په اړه.یعنې د ژبې په حقله .نو بیا هم د ترجمې مفهوم نه ادا کوي..او که مطلب یې واخلو..ژبه اړول.نو بیا یې د جوړښت قاعده او ماده راته سمه نه ښکاري یا که سمه وي نو زه پرې نه رسم. په پښتو کښې د .ړه..لاحقې سره نور توري هم شته لکه خراړه..کرواړه..وغیره ..خو دغه توري مفردات دي مرکبات نه دي..او خپلې څرګندې معنی لري..په عربې کښې ..ترجمه یا مترجم د پاره د ..ترجمان اصطلاح هم شته چې په فارسی کښې..تر زبان..دی یعنې لونده ژبه..او مونږ پښتو کښې وایو چې ..لونده ژبه ده په هر لور اوړي...نو دغسې ..تر زبان فارسی کښې خو ډیرو خبرو یا تیزو خبرو والا ته وایی خو د ترجمه کوونکي مفهوم پکښې هم پروت دی چې لونده ژبه په هر لور اوړي نو ترجمه کښې هم د یوې ژبې مفهوم علم یا معلومات بلې ژبې ته را اوړي.دغه تناظر کښې زه وایم چې زمونږ پښتو کښې یا خو د ..ژباړه ..توري..قاعده او جوړښت واضح شي او یا مونږ پښتو کښې هم د عربې نه پرته لکه د نورو مشرقي ژبو همدغه..ترجمه...اصطلاح..وکاروو..دغه تجویز ما خپل کتاب..پښتو ادب او ترجمه نګاري..کښې هم ورکړی دی.. چې شاید د.. ترجمه نګاري ..اصطلاح مې هم نه وی راوړی که دغه ..ژباړه.. باندې سم پوهه شوی وی.. او بیا د عربې په سوونو توري چې هسې هم زمونږ د پښتو برخه جوړه شوې ده..زمونږ کلاسیکي ادب ترې ډک دی نو بیا دغه توري..ترجمه ..راوړلو سره به هم شاید کوم تاوان ونه شي--- البته زه د ژباړه توري هم مخالف نه یم که څوک یې کاروي او ورته یې د جوړښت ټولې خواوې روښانه وي نو هم سمه ده...دغه زما رایې ده چې د هر چا له خوا منل یې اړین نه دي ---

د ترجمې د نړیوالې ورځې په مناسبت مې دغه څو نکات ملګرو سره شریکول غوښتل--- چې د ټرانسلیشن---ترجمه ---او ژباړه--- توري راته جوت شي-

---

حضور نبي کریم صلی الله علیه وسلم

ستا کردار لکه پستې اوبۀ په غرۀ کښې
لاره وباسي په کاڼي کاڼي زړۀ کښې

---

پرون ما د ساحر لدهیانوي د مشهور نظم --تاج محل --- پښتو ترجمه شریکه کړې وه ---- دغه نظم ساحر لدهیانوي د شکیل بدایوني د یو نظم په جواب کښې لیکلی وو چې د هغې عنوان هم --تاج محل -- وو- بدایوني په خپل نظم کښې د تاج محل او شاه جهان ډیره ستاینه کړې ده --- نن مینه والو سره د شکیل بدایوني د دغه نظم پښتو ترجمه هم شریکوم -----

یو شهنشاه داسې حسین وو تاج محل جوړ کړی
ټولې دنیا ته یې د مینې نشاني ورکړې
د محل سیوري کښې به تل قیصې د مینې کیږي
ختم به نه شي هغه داسې کهاني ورکړې
یو شهنشاه داسې حسین وو تاج محل جوړ کړی

ده یوه شمع د الفت صنم خانه کښې بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پتنګانو کښې يې خوار هم شته زردار هم شته
سنګ مرمرو کښې انغښتي د خوبونو قسم
ډېر پړاوونه که اسان دي نو دشوار هم شته
زړه ته يې جوش او ارادو ته يې ځواني ورکړې
يو شهنشاه داسې حسين وو تاج محل جوړ کړی

د چا شاعر يو تصور دی دغه تاج محل
چې افسانه يې حقيقت نه بغير بل څه نه دي
څوک يې چې هم غېږې ته راشي ورته ښکاري داسې
لکه چې ژوند د محبت نه بغير بل څه نه دي
دهٔ خو چپو د محبت ته رواني ورکړی
يو شهنشاه داسې حسين وو تاج محل جوړ کړی

دا ښکلې شپه او دا خوشبويه شان روښانه فضا
که اجازت وي' زړه د مينې چې اظهار خو وکړي
مينه انسان نه خو انسان به په هر حال جوړوي
حوصله څوک لري' د مينې چې انکار خو وکړي
نن مقدر چې يوه شپه ده نوراني ورکړې
يو شهنشاه داسې حسين وو تاج محل جوړ کړی

اردو نظم---تاج محل ---شکیل بدایونی

اک شہنشاہ نے بنوا کے حسیں تاج محل
ساری دنیا کو محبت کی نشانی دی ہے
اس کے سائے میں سدا پیار کے چرچے ہوں گے
ختم جو ہو نہ سکے گی وہ کہانی دی ہے
اک شہنشاہ نے بنوا کے حسیں تاج محل

تاج وہ شمع ہے الفت کے صنم خانے کی
جس کے پروانوں میں مفلس بھی ہیں زردار بھی ہیں
سنگ مرمر میں سمائے ہوئے خوابوں کی قسم
مرحلے پیار کے آساں بھی ہیں دشوار بھی ہیں
دل کو اک جوش ارادوں کو جوانی دی ہے
اک شہنشاہ نے بنوا کے حسیں تاج محل

تاج اک زندہ تصور ہے کسی شاعر کا
اس کا افسانہ حقیقت کے سوا کچھ بھی نہیں

(c) ketabton.com: The Digital Library



اس کے آغوش میں آ کر یہ گماں ہوتا ہے
زندگی جیسے محبت کے سوا کچھ بھی نہیں
تاج نے پیار کی موجوں کو روانی دی ہے
اک شہنشاہ نے بنوا کے حسین تاج محل

یہ حسین رات یہ مہکی ہوئی پر نور فضا
ہو اجازت تو یہ دل عشق کا اظہار کرے
عشق انسان کو انسان بنا دیتا ہے
کس کی ہمت ہے محبت سے جو انکار کرے
آج تقدیر نے یہ رات سہانی دی ہے
اک شہنشاہ نے بنوا کے حسین تاج محل

---

د فارسي او اردو غزلو ترجمې مې ډيرې وکړې -- دا ځل مې د علامه اقبال د معروف اردو نظم --ستاره --ترجمه وکړه چې موضوع يې ده ---په کاينات کښې جامد هيڅ نشته --هر څه د حرکت بدلون او يو نوي ژوندون سره مخ دي--- زه دا ترجمه خپل ديرينه دوست د اسلاميه کالج پوهنتون د اردو څانګې پروفيسر اقبال شناس سيد عطاالله شاه بنوري ته په مينه او درناوي ډالۍ کوم ---

ستورى

د سپوږمۍ وييره ده که وييره د سحر تا ته
که د ښايست د انجام راغللو خبر تا ته

د لوټ کيدلو وييره تا ته د رڼا پيښه ده
لکه بڅري ته چې وييره د فنا پيښه ده

تا ته اسمان' زمکې نه لرې ښکلى کور درکړو
لکه سپوږمۍ يې زرزري لباس پرې نور درکړو

عجيبه نه ده چې بيا هم سا دې له تنه اوځي
ټوله شپه ريږدې او خوله دې له بدنه اوځي

يه ځليدونکيه مسافره دلته حال دى عجب
د يو عروج چې وينې بل لره زوال دى عجب

ستوري لکونه ورک کړي دا د نمر هستي ده کنه
خوب د فنا غيږه کښې هم يوه مستي ده کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غوټۍ له ژونده که رخصت اخلي نو ګل غوړېږي**
**د نشت هنداره کښې تصوير به درته بل ځلېږي**

**سکون خو چرته د قدرت په کارخانه کښې نشته**
**بې له بدلونه خو ثبات په زمانه کښې نشته**

**اردو نظم ----علامه محمد اقبال**

**ستاره**

**قمر کا خوف کہ ہے خطرۂ سحر تجھ کو**
**مآل حسن کی کیا مل گئی خبر تجھ کو؟**

**متاع نور کے لٹ جانے کا ہے ڈر تجھ کو**
**ہے کیا ہراس فنا صورت شرر تجھ کو؟**

**زمیں سے دور دیا آسماں نے گھر تجھ کو**
**مثال ماہ اڑھائی قبائے زر تجھ کو**

**غضب ہے پھر تری ننھی سی جان ڈرتی ہے!**
**تمام رات تری کانپتے گزرتی ہے**

**چمکنے والے مسافر! عجب یہ بستی ہے**
**جو اوج ایک کا ہے ، دوسرے کی پستی ہے**

**اجل ہے لاکھوں ستاروں کی اک ولادت مہر**
**فنا کی نیند مے زندگی کی مستی ہے**

**وداع غنچہ میں ہے راز آفرینش گل**
**عدم ، عدم ہے کہ آئینہ دار ہستی ہے**

**سکوں محال ہے قدرت کے کارخانے میں**
**ثبات ایک تغیر کو ہے زمانے میں**

---

**د حضرت مولانا عبدالرحمان جامي دغه قبول عام نعتيه کلام ډېرو نعت خوانانو ويیلی دی خو ام حبيبه په ځانګړي کمال سره ويیلی دی---زه يی د ربيع الاول په دې مقدسه مياشت کښې د خپلې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پښتو ترجمې سره ملګرو سره شريکوم چې د ترجمې هڅه يې په هم دغه بحر او انداز کښې شوې ده----**

**ګل واخسته له تا چې څه نازک بدني ده**
**بلبل تا نه زده کړی څه شيرين سخني ده**

**هر چا چې دې غمی شونډې ليدلې شو ګويا**
**تراشلې په هنر يې دا عقيق يمني ده**

**درزي د ازل ساز ورله جامه کړه ستا په قد**
**له تا د بڼ ښکلا ده چې دا شنه رنګيني ده**

**ستا مينه کښې يې مات کړل خپل غاښونه په الفت**
**خرقه دې رسيدلې تر اويس قَرَني ده**

**زما د خوار جامي هم سلامي خو ورکوه**
**ستا هلته حاضري که په دربار مدني ده**

---

**د هندی سبک د نوميالي نازکخيال شاعر غني کشميري د يو فارسي غزل پښتو ترجمه د ملګرو د ذوق له پاره ----چې دا د غني کشميري د ديوان وړومبی غزل هم دی----**

**ليونتوبه چرته ورک يې' چې له عقله ځان رها کړم**
**زولنې د خپلو پښو چې' زه لمنه د صحرا کړم**

**د ميخوارو په محفل کښې' درناوی د محتسب وي**
**څنګ چې راشي شيشه وايي' زه به ځايي ورته صفا کړم**

**که هوس لرې شهرت ته' ځان دې قيد په ګمنامی کړه**
**هغه ورک چې په پرواز دی' زه نامه به يې عنقا کړم**

**هر ديوال چې يې رژيږي' زماني داسې بدحال کړم**
**بس د مخ رنګ ته مې ګوره' حال د خوني به افشا کړم**

**څو مې تن کښې سا غړيږي' روح اسمان ته ختی نه شي**
**کوم مارغه چې له پښو ښکيل وي' هغه څنګه په هوا کړم**

**تورې ورځې د سپين ږيرو' په کنعان کښې تماشه کړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼايي چې وه د سترګو" پيدا چرته زليخا کړم**

**فارسي غزل ------غني کشميري**

**جنونی کو کہ از قیدِ خرد بیرون کشم پا را**
**کنم زنجیرِ پای خویشتن دامانِ صحرا را**

**بہ بزمِ مَی پرستان محتسب خوش عزتی دارد**
**کہ چون آید بہ مجلس، شیشہ خالی می کند جا را**

**اگر شہرت ہوس داری، اسیرِ دامِ عزلت شو**
**کہ در پرواز دارد گوشہ گیری نامِ عنقا را**

**شکست از ہر در و دیوار می ریزد، مگر دوران**
**زِ رنگِ چہرہء ما ریخت رنگِ خانہء ما را**

**ندارد رہ بہ گردون روح، تا باشد نفَس در تن**
**رسائی نیست در پرواز مرغِ رشتہ بر پا را**

**غنیؔ روزِ سیاہِ پیرِ کنعان را تماشا کن**
**کہ نورِ دیدہ اش روشن کُنَد چشمِ زلیخا را**

---

**د احمد فراز د تغزل نه يک دغه اردو غزل ترجمه ډيره ګرانه وه خو ما يوه هڅه وکړه --- ملګرو سره يې شريکوم---**

**لړۍ دې ټولې کړلی ماتې په اسانه ګوره**
**چې تله راتله خو مو تر منځه وی جانانه ګوره**

**د شپې تييرې نه د ګيلې نه خو به دا هم ښه وه**
**د خپلې برخې که يو شمع کړې روښانه ګوره**

**ځومره اسانه وه که ستا په جدايۍ کښې مړ وی**
**عمر يې واخستو چې سا وته له ما نه ګوره**

**د مقتولانو جشن جوړ نه شولو مونږ ته ګنې**
**په زولنيو کښې اتڼ به وو پريمانه ګوره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خو پرېږده د وفا لوظ ته ګوري که نه
ته خو به نه تلې له دې خپل عهد و پيمانه ګوره

اردو غزل ----- احمد فراز ---

سلسلے توڑ گیا، وہ سبھی جاتے جاتے
ورنہ اتنے تو مراسم تھے، کہ آتے جاتے

شکوۂ ظلمتِ شب سے، تو کہیں بہتر تھا
اپنے حِصّے کی کوئی شمع جلاتے جاتے

کتنا آساں تھا ترے ہجر میں مرنا جاناں
پھر بھی اک عمر لگی، جان سے جاتے جاتے

جشنِ مقتل ہی نہ برپا ہوا، ورنہ ہم بھی
پابجولاں ہی سہی، ناچتے گاتے جاتے

اِس کی وہ جانے اُسے پاسِ وفا تھا کہ نہ تھا
تم فراز! اپنی طرف سے تو، نبھاتے جاتے

---

د خوشال بابا پيشن ګويي او د رحمان بابا کرامت

خوشال بابا چې په کومو شعرونو کښې چا ته پاوی او چاته نيم پاوی وييلی دی هغې کښې يې دولت لوانې ته درې پاوه وييلی دی او ځان يې ترې څو شرشاهي زيات بللی دی-
بل فقير دولت درې پاوه
زه ترې څو شرشاهي تير
په همدغو شعرونو کښې يې پيشن ګويي کړې ده چې يو قرن پس به سرايي کښې پوره سير هم پيدا شي----
پس له قرنه به پيدا شي
بيا په سرايې کښې پوره سير
که قرن يعنې يوه پيړۍ يا صدي او سرايی په نظر کښې وساتو نو د خوشال بابا دغه پيشن ګويي په پوره معنا د کاظم خان شيدا په شکل پوره شوې ښکارې چې پيدا شوی هم په سرايی يعنې اکوړې کښې دی او زمانه يې هم د بابا نه يوه سليزه وروستو ده--او بيا د شيدا شاعرانه وزن ته چې ګورو نو د خوشال بابا په بزرګۍ مو يقين هم پوخ شي----زړه راښکونکې خبره داده چې شيدا په يوه موقع هم خوشال بابا د ځان نه لوې شاعر نه دی ګڼلی--بابا ته يې د سرايی مطلع هم وييلې ده چې ګويا د پښتو شعر نمر د سرايې نه راخيژي او په ټول عالم رڼا خوروي
سرايې مطلع د دې افتاب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په عالم یی هر ځایې تاب دی**
**خو چې خپل ځان سره یې یو ځایی یادوي نو وایي چې خان بابا به هم د شاعرانو میر زه جوړولم**
**شیدا خان به دې کا میر د شاعرانو**
**که مزار وته یی عرض دتا انشا شي**
**او خان بابا که د سرایي زبان اور یادوي نو ورسره د پیښور سلطنت رحمان بابا ته وربخښي**
**یو په سرایی زبان اور دی**
**دویم ځایې یې پیښور دی**
**او دا دې هم نظر کښې ولرو چې شیدا پیښور یا باګرام سره سرایی خو څه چې توله پښتونخوا یا روه هم نه برابروي-**
**دا د روه قطعه تمامه**
**کله رسي تر باګرامه**
**د خوشال بابا که په خپل ځان کومه برتري یا شرف مني نو هغه هم د ادب او احترام په حواله -ځکه چې نیکه یی دی-**
**د افغان له شعرا په شیدا باندې**
**د ادب په مقتضا د خان شرف دی**
**د خپل فن د ستاینې توقع د رحمان بابا او حمید مومند نه هم کوي او د خپل شعر د فهم معیار وربخښي**
**په دا وقت کښې که شیدا دواړه مومند وی**
**ثنا خوان به وو هر دم ستا د وییلو**
**خو په داسې صورت حال کښې بیا د دغو دوو مومندو د شعري معیار اعتراف هم تر دې حده کوي چې شعر ته یې سحر او جادو وایي--**
**چې مومندو قیل و قال کړو**
**یعنې دوي سحر حلال کړو**
**دلته بیا په خصوصي توګه د رحمان بابا د شعر کرامت ته هم غور وکړئ چې په خپل فن غره شیدا د رحمان بابا په یوه مصرعه خپل زړه بایلي-**
**د رحمان په دا مصرعه د شیدا زړه دی**
**ته پري یی که اهو یی که جادو کړې-**
**ځکه د شیدا د فکر په رڼا کښې خو زه د خوشال بابا پیشن ګویی ته هم ګوته په خله یم او د رحمان بابا د شعر کرامت ته هم--لکه چې معزالله خان مومند درست وییلي وو چې**
**که د شعر کرامت د چا نه غواړې**
**معزالله د رحمان شعر کرامت دی**

---

**د امیر خسرو دهلوي د یو فارسي نعتیه کلام پښتو ترجمه د ربیع الاول په مقدسه میاشت کښې د مینه والو په خدمت کښې**
**خدایی زده څه رنګه فضا وه' تیره شپه چې چرته وم**
**د زخمي زړونو نڅا وه' تیره شپه چې چرته وم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاپيري وو چنار قدي' هغه تک سرهٔ رخسارونه
زما زړه لره بلا وه' تيره شپه چې چرته وم

رقيبان غوږ وو هغه ته' زه له ويرې رپيدمه
ځومره ګرانه به وينا وه' تيره شپه چې چرته وم

خدايې پخپله لامکان کښې' وو سالار د هغه بزم
محمد (ص ) چې يې رڼا وه' تيره شپه چې چرته وم

سوز د مينې مې لمنه' اى خسروه سوزوله
محمد (ص) چې يې رڼا وه' تيره شپه چې چرته وم

فارسي کلام -----امير خسرو دهلوي

نمی دانم چہ منزل بود شب جائے کہ من بودم
بہ ہر سو رقص بسمل بود شب جائے کہ من بودم

پری پیکر نگارے سرو قدے لالہ رخسارے
سراپا آفت دل بود شب جائے کہ من بودم

رقیباں گوش بر آواز او در ناز و من ترساں
سخن گفتن چہ مشکل بود شب جائے کہ من بودم

خدا خود میر مجلس بود اندر لا مکاں خسروؔ
محمدؐ شمع محفل بود شب جائے کہ من بودم

مرا از آتش عشق تو دامن سوخت اے خسروؔ
محمدؐ شمع محفل بود شب جائے کہ من بودم

---

قتيل شفايي د اردو شاعرانو کښی د رومان او ترنم شهزاده شاعر دی----د هغه د يو اردو غزل پښتو منظومه ترجمه د ملګرو په خدمت کښې----

د تن په جام کښې غوړيدلې د ګلاب غوندې ده
اورم له خلقو چې ځواني يې د شراب غوندې ده

ګلاب ګلاب سر نه تر پښو غزل غزل ځهره
بس خو بيخي د يو شاعر د حسين خواب غوندې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د هر چا د پارسايۍ نه تيرې وتښتوي
هغه بشره خو په رښتيا چې د مهتاب غونډې ده

دڅوارلسمې شپه ' د جام او د پيالې نه بغير
د چا غريب زېلي ژوند او د شباب غونډې ده

نه شاعري نه محبت نه چې وي جام واعظه
ستا هم د ژوند قيصه بيخي د يو عذاب غونډې ده

قتيله ما چې مينه کړې ستمګر سره ده
دغه يوه خطا مې خدايګو د ثواب غونډې ده

اردو غزل------قتيل شفايي

بدن کے جام میں کھِلتے گلاب جیسی ہے
سنا ہے اس کی جوانی شراب جیسی ہے
کنول کنول ہے سراپا، غزل غزل چہرہ
وہ ہوبہو کسی شاعر کے خواب جیسی ہے
اندھیرے دور کرے سب کی پارسائی کے
وہ ایک شکل کہ جو ماہتاب جیسی ہے
بغیر جام و سبو، چاند رات کی حالت
کسی غریب کے عہدِ شباب جیسی ہے
نہ شاعری، نہ محبت، نہ جام، اے واعظ
یہ زندگی بھی تِری اک عذاب جیسی ہے
قتیلؔ میں نے کیا پیار اک ستمگر سے
یہ وہ خطا ہے جو کارِ ثواب جیسی ہے

---

لکه حرف چې سيه پوش وي په بياض کښې
په ښادۍ کښې ماتميان کا ماتمونه
وضاحت-----
دا شعر ګران نه دی خو تکنيک يی غور غواړي- سيه پوش تور لباس اغوستلو ته وايی او تور لباس اغوستل د ماتم کولو علامت دی--- بياض د عربۍ توري --ابيض--نه جوړ دی---ابيض سپين ته وايی چې مقابله کښې يی --اسود--تور ته وايی لکه تور کاڼي ته چې حجر اسود وايی--- دغسې د سپين رنګ په مناسبت د ابيض نه بياض جوړ دی چې د سپين کاغذ کاپۍ ډايرۍ يا نوټ بک ته وييلی شي او بيا همدغه تناظر کښې شاعران خپل د شاعرۍ کتاب يا ليکونکي خپل نثري کتاب ته هم بياض وايی--دې ته هم متوجه کيدل پکار دي چې څنګه تور لباس د ماتم علامت دی دغسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین لباس د خوشالۍ علامت دی ځکه به په عمومي ډول په واده ښادۍ کښې سپین لباس اغوستلی شي---
اوس راځو شعر ته--- شیدا په ګنو موقعو دا ګیله کړې ده چې زما د حرفونو معنویت ته خلق نه ور رسي بس په لفظونو تیریږي او د معنا تل ته نه ورکوزیږي --دې شعر کښې یې دا خبره په جدا انداز کړې ده--وییلي یې دي چې زما بیاض یعني د سپین کاغذ کتاب کښې په توره سیاهۍ لیکلي حرفونه داسې دي لکه چې تور لباس یې اغوستی وي او ماتم کوي چې په مونږ به خلق کله پوهیږي---د دغو حرفونو تل ته چې څوک نه رسي--د معنوي ښایست نه یې خوند نه شي اخستی نو ضرور به ماتم کوي--- او بیاض چې د سپین کاغذ دی نو ګویا چې دغه د ښادۍ سپین لباس دی---په توره سیاهۍ لیکلي دغه حرفونه چې د ماتم تور لباس کښې ملبوس دي او د سپین کاغذ بیاض ته راغلي دي نو ګویا ښادۍ ته راغلي دي خو په دغه ښادۍ کښې هم لکه د ماتمیانو په خپل حال ماتم کوي--- لکه شیدا چې په یو بل شعر کښې د سیه پوش توري په راوړلو د تور لباس ماتمي رنګ ښودلی دی او وییلي یې دي چې--
شګفته کړه لکه نمر جبین هر چا ته
چې په تله دې سیه پوش تمام جهان شي
دغه شان د خپلو حرفونو معنوي تل ته د نه رسیدلو شکوه یې هم داسې کړې ده--
هر مضمون مې لکه ګنج پوشیده پروت دی
د سطور ماران یې کا نګهباني
دې شعر کښې خو خپل مضمون او معنا ته ګنج سره او سطور یعني تورو کرښو یا د شاعرۍ مصرعو ته تورو مارانو سره تشبیه ورکوي خو پورتني شعر کښې په اسانو ټکو کښې وییل غواړي چې په سپین کاغذ لیکلي زما په توره سیاهۍ لفظونه د تفهیم نه کیدلو په وجه داسې دي لکه چې څوک په واده ښادۍ کښې ماتم کوي---

---

د پښتنو په تاریخي قدامت ښاغلي حمایت یعقوبي څو پوښتنې پورته کړې دي چې پښتانه دومره زوړ تاریخ نه لري---هغوۍ ته مې یو کمنټ وکړو چې دلته یې ملګرو سره هم شریکول غواړم
ګران حمایت د تاریخ ښه مطالعه لري خو دلته یې خبرو سره اختلاف کیدی شي---د یو انساني ټولنې د قدامت د پاره دا خو ضروري نه ده چې هغو کښې دې په هغه زوړ دور کښې هم کوم تاریخدان ساینسدان ریاضي دان سیاستدان وغیره معلوم او مشهور وي---دا هم ضروري نه ده چې هر زوړ قوم دې حکمران هم وي---قدامت د پاره سند او حوالې پکار دي---نو سند او حوالې خو شته---دوه زره قبل مسیح کښې رګوید---زر کاله قبل مسیح کښې اوستا---درې سوه کاله قبل مسیح کښې یوناني سیلګري او جغرافیه دان وغیره خو تاریخي او دستاویزي حوالې دي---په همدغه قبل مسیح دور کښې د صوابۍ پانیني او د هغه ګرامر یې لساني حواله ده---ټیکسلا--تخت بهاي--سوات--اراکوزیا وغیره کښې پیدا شوي اثار کندرات---مکانات--وغیره یې د ارکیالجي حوالې دي---ګندهار تهذیب یې تهذیبي حواله ده---د سرخ کوتل کتبه او ځنې نورې کتبې بې د جیالوجي او لسانیاتو شریکې حوالې دي---نو زه خو وایم چې دا کافي دي ګنې سندونه او حوالې نورې هم شته---څه وشو که د قبایلي او غرییز ژوند په وجه یې ترقي تیزه نه ده کړې خو په تاریخي قدامت کښې خو بې څه مسله نه محسوسوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګران حمایت الله متعلقه پوسټ دا دی چې ما یې ردعمل کښې کمنټ کړی دی -----

جو نام نہاد پختون دانشور دعوی کر رہےہیں کہ پختونوں کی تاریخ 5000 سال پرانی ہے وہ ہمیں بتا دیں کہ اتنی لمبی تاریخ کے ساتھ ھم نے اقوام عالم کو کیا دیا ہے. ادب, تاریخ, فن و ثقافت میں ہمارے آباؤ اجداد کی نشانیاں کیوں نہیں ہیں. آرکیالوجیکل باقیات میں ہماری نشانیاں کیوں نہیں ہیں. کوئی عمارت, کوئی مخطوطہ, کوئی قابل ذکر کارنامہ, کوئی نامی گرامی لیڈر، کوئی نامی گرامی مفکر، تاریخ دان ماہر معیشت یا سائنسدان یا قانون دان یا ریاضی دان کیوں نہیں ہے. پکھت, بخد, پکتویس, اباگن وغیرہ کے نام رگ وید, اویستا یا یونانی لکھاریوں کی کتابوں میں ضرور ہوں گیں لیکن اس کا ہر گز یہ مطلب نہیں کہ اس وقت ہمارے آباؤ اجداد حکمران تھے یا ہم من حیث القوم موجود تھے. پختونوں کی معلوم تاریخ نویں, دسویں صدی عیسوی کے پیچھے نہیں جاتی ہے. اور جس دور میں پختونوں نے اپنی تاریخ کو اجاگر کیا اور اپنے لئے ایک الگ شناخت اور مقام پیدا کیا وہ سلاطین دہلی کا زمانہ تھا. اس سے پہلے کا دور اندھیرے میں چھپا ہوا ہے. پختونولی ایک سماجی نظام کی حیثیت سے سولہویں صدی میں وقوع پذیر ہوا جب مختلف قبائل پختون خوا کے علاقوں میں آکر آباد ہوئے. اب بھی پختون قومیت کے ارتقائی مراحل میں ہے. ہر اہم واقعہ کی طرف پختونوں کا ردعمل آج کے دور میں بھی اجتماعی نہیں قبائلی ہوتا ہے. لہذا یہ کہنا کہ پختون تاریخ 5000 سال پرانی ہے ایک غلط اور بے بنیاد نظریہ ہے.

پروفیسر حمایت اللہ

---

د غالب د لنډ بحر د یو اردو غزل پښتو ترجمه ملګرو سره شریکوم -----

مینه دې نه وي نو وحشت خو دې وي
زما وحشت دا ستا شهرت خو دې وي

بس خو رشته راسره مه پریکوه
که څه هم نه وي عداوت خو دې وي

زما وجود دې رسوایي څنګه شوه
مړه مجلس نه نو خلوت خو دې وي

زه هم څه ستا دښمن خو نه یم ګله
په تا د غیرو محبت خو دې وي

زما وجود نه دې وي' هر څه چې وي
شعور که نه وي نو غفلت خو دې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر که درومي د بجلۍ په رفتار
زړه چې اوبه کړمه فرصت خو دې وي

ما څه وفا خو پريښودلې نه ده
مينه که نه وي مصيبت خو دې وي

يه بې انصاف فلکه څه خو راکړه
فرياد د پاره لږ مهلت خو دې وي

زه د منلو به خصلت خپل کړم
ته يې بې نيازه ستا عادت خو دې وي

بس خو مانۍ دې يار نه لاړ شي اسد
که ديدن نه وي نو حسرت خو دې وي

اردو غزل -----مرزا اسدالله خان غالب ---

عشق مجھ کو نہیں وحشت ہی سہی
میری وحشت تری شہرت ہی سہی

قطع کیجے نہ تعلّق ہم سے
کچھ نہیں ہے تو عداوت ہی سہی

میرے ہونے میں ہے کیا رسوائی
اے وہ مجلس نہیں خلوت ہی سہی

ہم بھی دشمن تو نہیں ہیں اپنے
غیر کو تجھ سے محبّت ہی سہی

اپنی ہستی ہی سے ہو جو کچھ ہو
آگہی گر نہیں غفلت ہی سہی

عمر ہر چند کہ ہے برق خرام
دل کے خوں کرنے کی فرصت ہی سہی

ہم کوئی ترکِ وفا کرتے ہیں
نہ سہی عشق مصیبت ہی سہی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کچھ تو دے اے فلکِ نا انصاف
آہ و فریاد کی رخصت ہی سہی

ہم بھی تسلیم کی خو ڈالیں گے
بے نیازی تری عادت ہی سہی

یار سے چھیڑ چلی جائے اسد
گر نہیں وصل تو حسرت ہی سہی

---

د کلاسک نه علاوه د نوي دور شاعري هم خپل رنګ او اهنګ لري---معروف نعت خوان او شاعر مظفر وارثي سره مې ديرش کاله مخکښې څو نشستونه شوي وو --نن يې د يو مشهور اردو غزل ترجمه ملګرو سره شريکوم -

مونږ چې دليل سره خبره کوو رد وي پيره
د هغه شونډې چې خاموشه وي سند وي پيره

سا اخستونکي انسانان هم د لاشونو په څير
اوس که درزيږي هم د زړونو يو لحد وي پيره

مونږه که چغه خپله تيره کړه هم نه ور رسي
د چا د سترګو اشارو کښې هم رسد وي پيره

پرې په غاړه چې د چا وي هغه لوې سړی وي
دلته رسۍ هومره اوږدې څومره چې قد وي پيره

ډير مداريان هم په جامه د خطيبانو کښې وي
خبرې جهل کړي بدنام به پرې خرد وي پيره

څوک که څه نه وايي نو هم بايلي هنر د بيان
زغمل د ظلم هم ظالم سره مدد وي پيره

اردو غزل------- مظفر وارثي

ہم کریں بات دلیلوں سے ،تو رد ہوتی ہے
اس کے ہونٹوں کی خموشی بھی سند ہوتی ہے

(c) ketabton.com: The Digital Library



سانس لیتے ہوئے انساں بھی ہے لاشوں کی طرح
اب دھڑکتے ہوئے دل کی بھی لحد ہوتی ہے

اپنی آواز کے پتھر بھی نہ اس تک پہنچے
اس کی آنکھوں کے اشارے میں بھی زد ہوتی ہے

جس کی گردن میں ہے پھندا وہی انسان بڑا
سولیوں سے یہاں پیمائش قد ہوتی ہے

شعبدہ گر بھی پہنتے ہیں خطیبوں کا لباس
بولتا جہل ہے بدنام خرد ہوتی ہے

کچھ نہ کہنے سے بھی چھن جاتا ہے اعزاز سخن
ظلم سہنے سے بھی ظالم کی مدد ہوتی ہے

---

خپلو ترجمو کښې مې یوه تجربه وکړه -- د ستر غني خان پښتو کلام مې اردو ته ترجمه کړو ---د اردو شاعر نه یم که څه غلطۍ رانه شوې وي د مخکښې نه بخښنه غواړم --- د مینه والو په خدمت کښې یې پیش کوم ----

کہتا تھا غنی یار بے انداز جیسے ہو
ادب نہیں تجھ میں زبان دراز جیسے ہو

ویراں تیرے کھیت ہیں پگڈنڈیاں ٹیڑھی
پر کاشت کیے پھول حسن ساز جیسے ہو

کمان ہے بوسیدہ تیرے تیر بھی لاغر
جو وار کیا تو نے تیر انداز جیسے ہو

مال و متاع ستائش و شہرت سے مستغنی
دامن تہی کے ساتھ بے نیاز جیسے ہو

استاد کے بغیر یہ رنگ و سخن کا ذوق
اپنے ہی دھن میں مست سخن ساز جیسے ہو

یہ کیا ہوا نہ خان بن سکے نہ تم ظریف
ہاں اسی دو پیازہ میں سہ پیاز جیسے ہو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیا عشق ہے خدا بھی تیرا ہے جد و جاناں
تم اس لیے بِن تول و بے انداز جیسے ہو

---

د غني خان پښتو کلام ----

ما وې غني یار څه بې اندازه غونډې یې
ادب دې در کې کم زبان درازه غونډې یې

پټې دې وران ویجاړ دي او کړې وړې دې پولې
کرې پکښې ګلونه حسن سازه غونډې یې

لینده دې ماته ګوډه او شډل مډل دې غشی
خو غزار دې رسا لګي تیر اندازه غونډې یې

دولت وي که صفت وي که ناموس وي که شهرت
په وړي خیټه موړ او بې نیازه غونډې یې

که رنګ وي که تراش وي که چاربیته که بدله
په خپله لار روان یې بې استازه غونډې یې

قیصه ده ګډه وډه نه سم خان شوې نه ټوقي شوې
خو ته دې دوپیازه کې څه درې پیازه غونډې یې

په مینه یې مئین او خداي ته پلار او جانان وایې
دا ځکه خو بې توله بې اندازه غونډې یې

---

د امیر خسرو دغه فارسي غزل مې ډیر خوښ دی ---مایی پښتو کښې د ترجمې هڅه کړې ده ملګرو ته یې پیش کوم----

یاران مې خبر نه یمه 'چې څه شو او د چا شو
یه خدایه کومه ورځ وه' چې زما نه ټول جدا شو

سپرلي که پیښه وکړه 'د یارانو یې پوښتل
نو ووایه ای باده ' ټول ګلونه وو ګیا شو

له زمکې راغلې ګله 'هغه ځنکه وو ګلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخونه هغه ښکلي 'چې په خاورو کښې فنا شو

د خلقو د سر تاج چې به وو هغه سرداران
اوس ګوره کنه څنګه' هغه واړه خاک پا شو

دنیا خو بس د خلقو خون بها ده نن سبا
بلا ډیر د دنیا په سر' ته ګوره خون بها شو

د نمر غوندې به وو خو' شو له خاورو لاندې زیر
ذرې غوندې چې سپک شو' د هوا سره هوا شو

دولت د زماني ده ' یوه لوبه د ماشوم
بې عقله سړي واړه په دې لوبه مبتلا شو

اوس هغه سړی څه شو' چې مراد ته رسي نه
نو ګویا خازنان د فلک واړه بې نوا شو

خسروه خان په څنګ کړه' وفا نشته په دنیا
وګړي د دنیا لکه دنیا ښه بې وفا شو

فارسي غزل---امیر خسرو دهلوي

یاران که بوده اند ندانم کجا شدند؟
یارب، چه روز بود که از ما جدا شدند؟
گر نوبهار آید و پرسد ز دوستان
گو، ای صبا، که آن همه گلها گیا شدند
ای گل، چو آمدی ز زمین گو چگونه اند؟
آن رویها که در ته گرد فنا شدند
آن سروران که تاج سر خلق بوده اند
اکنون نظاره کن که همه خاک پا شدند
دنیاست خونبهای بسی خلق، وین زمان
بسیار کس که بر سر این خونبها شدند
خورشید بوده اند که رفتند زیر خاک
آن ذره ها که چون همه اندر هوا شدند
بازیچه ایست طفل فریب این متاع دهر
بی عقل مردمان که بدین مبتلا شدند
کس را چه شد که نقد مرادی نمی رسد

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مانا که خازنان فلک بینوا شدند**
**خسرو، گریز کن که وفا نیست در جهان**
**زاهل جهان که همچو جهان بی وفا شدند**

---

**د غالب د معروف اردو غزل پښتو ترجمه مینه والو ته په مینه----**

**زوې د مریم چې په رښتیا څوک دي**
**زما د زخم چې دوا څوک دي**

**شرع دستور که وي موجود دواړه**
**داسې قاتل له د سزا څوک دي**

**رفتار د غشي يې د تيزې ليندې**
**زړه ته چې رامې شي رسا څوک دي**

**ژبه مې غوڅه کړي په يو خبره**
**خو تا چې اوري په بيا بيا څوک دي**

**په ليونتوب کښې خو اپلتې وايم**
**پوهه پرې نه شي خدايه دا څوک دي**

**مه اوره څوک که ګډې وډې وايي**
**ستا نو په سپکو د وينا" څوک دي**

**چې په غلطه درومي مه يې پريږده**
**چې يې ونه بخښي خطا" څوک دي**

**څوک دي چې دلته به محتاجه نه وي**
**دلته د چا حاجت روا څوک دي**

**څه وکړل خضر سکندره سره**
**دلته قابل د رهنما څوک دي**

**اميد چې ختم شي غالبه د چا**
**څه به ګيله کړي څوک له چا څوک دي**

**اردو غزل----مرزا اسدالله خان غالب**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن مریم ہوا کرے کوئی
میرے دکھ کی دوا کرے کوئی

شرع و آئین پر مدار سہی
ایسے قاتل کا کیا کرے کوئی

چال جیسے کڑی کمان کا تیر
دل میں ایسے کے جا کرے کوئی

بات پر واں زبان کٹتی ہے
وہ کہیں اور سنا کرے کوئی

بک رہا ہوں جنوں میں کیا کیا کچھ
کچھ نہ سمجھے خدا کرے کوئی

نہ سنو گر برا کہے کوئی
نہ کہو گر برا کرے کوئی

روک لو گر غلط چلے کوئی
بخش دو گر خطا کرے کوئی

کون ہے جو نہیں ہے حاجت مند
کس کی حاجت روا کرے کوئی

کیا کیا خضر نے سکندر سے
اب کسے رہنما کرے کوئی

جب توقع ہی اٹھ گئی غالبؔ
کیوں کسی کا گلہ کرےکویی

---

**مذهب ' فلسفه او فلسفیان-----**

**مذهب د وحي په ذریعه ځنو کایناتي حقیقتونو ته اشاره کوي او فلسفه د عقلي استدلال جستجو او لټون په لاره کایناتي حقیقتونو ته د رسیدلو هڅه کوي--ډیر خلق یا د فلسفي لوستونکي فلسفه د مذهب متضاد ګڼي خو زه یی نه ګڼم-د کایناتي حقیقتونو لټون ساینس هم کوي ځکه زه ساینس هم د مذهب مخالف نه ګڼم--ساینسي علوم پخپله د فلسفې نه زیږیدلي دي-ځکه فلسفه د ساینسي علومو مور ګڼلی شي--بلکې زه خو د کایناتي رازونو د لټون په وجه فلسفه یو مقدس او سپیځلی مضمون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګنم--خو مسله هلته پیدا کیږي چې د فلسفې مبتدي چنې چې دوه څلور کتابونه ولولي یا یی نومونه زده کړي نو د مذهب بیزاری په لور مایل شي--دا عمل د ناپوهۍ او جهالت په وجه هم کیږي او د فیشن په توګه هم-وجه یی دا وي چې د فلسفې د څو ابتدایی کتابونو یی تش تلاوت کړی وي په مفهوم او مقصد یی سر نه وي خلاص او بس غټ غټ بیانات جاري کړي--دې شوق کښې هر بې معنا او مبهم لیک یا تصور ته هم د فلسفې نوم ورکوي-- بل خوا ځنې لوې لوې پوهه او زیرک فلسفیان د څپل ژوند په وروستي پړاو کښې د الحاد نه د مذهب په لور مایل شوي دي--

دا هر څه که زه په خپله حواله ووایم نو شاید چې ډیر راته غوږ ونه نیسي بلکې بد رد هم راپسې ووایی چې ته کوم د فلسفې ماهر یی-ځکه زه د دغه خبرو په تایید کښې د داسې فلسفي رایی وړاندې کول غواړم چې د هغه افکارو نیمه نړۍ د خپل اثر لاندې راوستې ده او د فلسفې سره سره د ادب مذهب قانون او ساینس په میدان کښې هم لوې نوم وو-- نن نه تقریباً څلورنیم سوه کاله مخکښې د انګلینډ معروف فلسفي او ساینسدان فرانسس بیکن 1561-1626 یو داسې مفکر وو چې د حقایقو په لټون کښې د ساینسي طرزفکر د نماینده په حیث یی شهرت ګټلی وو-هغه ګڼ شمیر کتابونه لیکلي دي چې یو پکښې-The essays or counsels civil and moral..دی-دغه کتاب کښې بیکن د خپل ژوند د یو اوږد تحقیقاتي ریاضت نه پس دې نتیجې ته رسیدلی دی چې--

د فلسفې سرسري یا سطحي مطالعه د سړي ذهن الحاد ته مایل کوي خو ژوره مطالعه او پوهه یی انساني ذهن مذهب ته راولي-د هغه څلورنیم سوه کاله زړه انګریزی کښې الفاظ دا دي--

**A little philosophy inclineth mans mind to Atheism;but depth in philosophy ,bringeth mans mind to religion.**

داسې مذهب او فلسفه یو بل ته څومره نزدې کیږي--او د فلسفې ناپوهي سړی د مذهب نه څومره لرې کوي--د بیکن دغه قول سره به ډیر خلق د اختلاف په موډ کښې هم وي خو داسې حال کښې اختلاف لرونکي ته د خپل ځان او د بیکن د معیار او اوقاتو فرق هم نظر کښې ساتل ضروري دي-البته د روغ نیت سره د فلسفې زده کوونکیو او پرې پوهیدونکیو ته د مخکښې نه خراج تحسین وړاندې کوم--

---

د علامه اقبال د یو فارسي غزل د پښتو ترجمې هڅه د مینه والو په خدمت کښې----

نوټ---- څلورم شعر کښې د --خیبري کرده ---نه اشاره مرحب کافر ته ده چې د خیبر جنګ کښې یې حضرت علي کرم الله وجهه سره مقابله وه---- او شپږم شعر کښې-- نشتري-- نه مراد دی په نشتر یا چاقو جراحي کول---

نور د ایمان لري خو زړه مې کافري هم کوي
سجده حرم ته' د بتانو چاکري هم کوي

د عبادت ګټه چې تل په خپله تله تلي
لکه بازار کښې د قیامت سوداګري هم کوي

زمکه اسمان د خپل خواهش په ایینه کښې ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لارې ګرد چې له تقديره همسري هم کوي

کله د حق ملګرى کله يې خلاف وي ولاړ
که حيدري کوي ' لمحه کښې خيبري هم کوي

دې بې رنګۍ کښې به هم سحر خپل جوهر خو ښايي
پيغمبري کوي کليم خو ساحري هم کوي

نظر يې عقل ته هم ذوق د جنون وبخښلو
خو د جنون سره پتنه کښې نشتري هم کوي

ځان ته به څنګه رسي دغسې زړه سترى په لار
چې په زرګونو کاله ناست وي ازري هم کوي

فارسي غزل---- علامه محمد اقبال

دل بی قید من با نور ایمان کافری کرده
حرم را سجده آورده بتان را چاکری کرده
متاع طاقت خود را ترازوئی بر افروزد
ببازار قیامت با خدا سوداگری کرده
زمین و آسمان را بر مراد خویش می خواہد
غبار راه و با تقدیر یزدان داوری کرده
گہی با حق درآمیزد گہی با حق درآویزد
زمانی حیدری کرده زمانی خیبری کرده
باین بی رنگی جوہر ازو نیرنگ می ریزد
کلیمی بین کہ ہم پیغمبری ہم ساحری کرده
نگاہش عقل دور اندیش را ذوق جنون داده
ولیکن با جنون فتنہ سامان نشتری کرده
بخود کی می رسد این راه پیمای تن آسانی
ہزاران سال منزل در مقام آزری کرده

---

چې نفس زما د آه سرکشي وکا
فلک لاندې خپله شمع تر دامان کا
وضاحت.....
دې شعر کښې دامان د فارسی دامن يعني لمن د پاره راغلی دی.نفس يعني سا اخستل اصطلاح کښې اسويلي کول فرياد کول. د اسمان لمن محاوره هم ده خو اسمان ښکاري هم داسې غوړيدلی لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړیدلي لمن. د اسمان شمع نمر ته اشاره ده.یعني څنګه چې بله شمع رڼا کوي دغسې سپین نمر هم رڼا کوي.د نمر دغه رڼا د ورځې وي چې شپه شي نو د نمر رڼا ختمه شي .
اوس راځو شیدا ته.شیدا وایی چې زما په زړه هم ډیر بوج دی.ډیر درد دی. دغه درد کمولو دپاره زه آه و فریاد هم کوم.کله کله مې دغه آه و فریاد بیخي سرکشه شي.او آه و فریاد زیات کیږي هم په شپه کښې.
نو دشپې چې دا تیاره وي دا ځکه چې اسمان په خپله شمع لمن غوړلې وي .او دا جوته ده چې نفس یعنې سا اخستلو سره د درد نه ډک ساړه اسویلي کولی شي پوکي وهلی شي نو په دغه قسمه پوکو کښې خو شمع هم بله نه شي پاتې کیدی.ځکه شیدا وایی چې زما د آه فریاد او درد و الم پوکي چې کله سرکشه شي نو دغه آه بیا اسمان ته هم په دومره شدت سره رسي چې اسمان خپله شمع هم د لمن لاندې کړي چې دغه اسویلي یی مړه نه کړي ګویا د شپې چې د نمر رڼا نه وي نو دا اسمان خپله شمع د شیدا د اسویلو نه خپله لمن کښې پټه کړې وي .چې ورځ شي د دردمند شیدا اسویلي بند شي نو د اسمان شمع یعنې نمر بیا د ورځې رڼا خورول شروع کړي خو د شپې د شیدا د اسویلو سره مخ وي نو اسمان یی بیا د تیارې لمن کښې پټوي. څومره زور دی د دردمند او مظلوم انسان په سرکشه آه کښې او څومره زور دی د شیدا په شعري اظهار کښې.

---

د مولانا روم د یو اوږد فارسی غزل نه د څو چونې شوو شعرونو پښتو ترجمه --یوه هڅه د مینه والو د ذوق د پاره --

لبان وا کړه خواږه چې ' فراوان غواړمه زه
دا مخ دې راڅرګند کړه ' ګلستان غواړمه زه

چې یو لاس کښې مې جام وي ' په بل لاس زلفې د یار
یو داسې مست اتڼ خو ' په میدان غواړمه زه

"ما مه تنګوه درومه " چې له ډیره نازه وایې
دا ټکي خو دې مخکښې' له خفګان غواړمه زه

ای عقله کله کله خو' له شوقه شه بدحال
ای عشقه ستا بیان خو' پریشان غواړمه زه

دا رزق له اسمانه خو' سیلاب دی بې وفا
چې کب شمه نهنګ شم' هسې خوان غواړمه زه

دا زړه مې ډیر خفه دی' له ستمه د فرعون
نُور هاغه د موسی ابن عمران غواړمه زه

بیګا چې شیخ په ښار کښې' ګرځیدو ډیوه په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې تنګ شوم له چار پایو' بس انسان غواړمه زه

ناراسته لارویو' نه مې زړه شولو راتنګ
ملګري د علي رستم' په شان غواړمه زه

وییل مې هغه نشته' چې یې غواړمه له زړه
وییل یې هغه "نشت "خو' په هر ان غواړمه زه

فارسي غزل------مولانا روم

بکشاے لب کہ قند فراوانم آرزوست
بنمای رخ کہ باغ و گلستانم آرزوست

یک دست جام باده و یک دست زلف یار
رقص چنیں میانہ میدانم آرزوست

گفتی ز ناز بیش مرنجاں مرا برو
آں گفتنت کہ بیش مرنجانم آرزوست

اے عقل تو ز شوق پراگنده گوے شو
اے عشق نکتہ ہائے پریشانم آرزوست

ایں آب و نان چرخ چو سیل است بیوفا
من ماہیم، نہنگم و عمانم آرزوست

جانم ملول گشت ز فرعون و ظلم او
آں نور جیب موسی عمرانم آرزوست

دی شیخ با چراغ ہمی گشت گرد شہر
کز دیو و دد ملولم و انسانم آرزوست

زیں ہمرہان سست عناصر دلم گرفت
شیر خدا و رستم دستانم آرزوست

گفتم کی یافت می نشود جستہ ایم ما
گفت آنکہ یافت می نشود آنم آرزوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرزا غالب د يو مشهور اردو غزل پښتو ترجمه د مينه والو په خدمت کښې ---
ګونجې تندې نه مې پټ غم ورته عيان ښکاره شو
راز پرې افشان شو چې ګډ وډ د خط عنوان ښکاره شو

د ايينې د زنګ الف لا صفا شوی نه دی
څيرې کوم يی حقيقت چې د ګريوان ښکاره شو

د زړه د قيد وضاحتونه رانه مه غواړه نور
زړه مې راتنګ شو دومره ' سم راته زندان ښکاره شو

شک مې دا هم نه زغمې ' يار که وې مصروف په خرام
چې هر يو څاڅکی يی په مخ ' کسی حيران ښکاره شو

د عاجزۍ نه مې څرګنده شوه بدخويه به وې
زه خار و خس ' او هغه اور راته سوزان ښکاره شو

د مينې سترې سفر داسې تن اسانه کړمه
په هر قدم چې راته سيوری شبستان ښکاره شو

زړه مې تر مرګه بوړنيدو تيرو ښو نه د يار
د قضا غشی تمبول راته اسان ښکاره شو

چې درته پته وه اسده زړه دې ولې ورکړو
تا ته کافر په خطا څنګه مسلمان ښکاره شو

اردو غزل مرزا اسداللہ خان غالب

وہ میری چینِ جبیں سے غمِ پنہاں سمجھا
رازِ مکتوب بہ بے ربطیٔ عنواں سمجھا
یک الِف بیش نہیں صقیلِ آئینہ ہنوز
چاک کرتا ہوں میں جب سے کہ گریباں سمجھا
شرحِ اسبابِ گرفتاریٔ خاطر مت پوچھ
اس قدر تنگ ہوا دل کہ میں زنداں سمجھا
بدگمانی نے نہ چاہا اسے سرگرمِ خرام
رخ پہ ہر قطرہ عرق دیدۂ حیراں سمجھا
عجزسے اپنے یہ جانا کہ وہ بد خو ہو گا
نبضِ خس سے تپشِ شعلۂ سوزاں سمجھا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سفرِ عشق میں کی ضعف نے راحت طلبی**
**ہر قدم سائے کو میں اپنے شبستان سمجھا**
**تھا گریزاں مژۂ یار سے دل تا دمِ مرگ**
**دفعِ پیکانِ قضا اِس قدر آساں سمجھا**
**دل دیا جان کے کیوں اس کو وفادار، اسدؔ**
**غلطی کی کہ جو کافر کو مسلماں سمجھا**

---

**ما چې ستا ښايست او نمر سپوږمۍ سره په تول کړه**
**تللي تر اسمانه په ميزان کښې سپوږمۍ نمر دي.**
**رحمان بابا**

**شرح....دکلاسيکي شاعرۍ يو خاصيت دادی چې د خپل محبوب د ښايست تمثيل کولو د پاره د کاينات مشاهده کوي او د تشبيه استعارې يا علامت په توګه د کاينات نه مثالونه راخلي لکه په زمکه کشمير بخارا سمرقند کوه قاف ختن وغيره او په اسمان کښې نمر سپوږمۍ وغيره.د مبالغې انداز يی داسې وي چې نور شاعران ترې عاجز پاتې شي لکه د فارسی حافظ شيرازي چې د سمرقند او بخارا د ښايست مثال ورکوي او دمحبوب د زنې په يو تور خال يی قربانوي**
**اګر ان ترک شيرازي بدست اورد دل ما را**
**بخال هندويش بخشم سمرقند و بخارا را**
**او بيا خوشال بابا د دې نه زياته حسن مبالغه کوي او وايی**
**سمرقندوبخارا څه هغه زه يم**
**چې جهان بخښم د ښکلي مخ په خال.**
**اوس رحمان يابا ته غور وکړئ چې هغه د محبوب د حسن تصوير کشی د پاره د کاينات مشاهده او بيا تمثيل نګاري د حسن مبالغې په کوم انداز وړاندې کوي.هر شاعر نمر او سپوږمۍ د حسن علامت ګڼي خو رحمان بابا يی دمحبوب د حسن په مقابله کښې دومره حقير او سپک ګڼي چې د ميزان يعنې تلې په يو چابړي کښې يی دمحبوب ښايست اچولی دی او بل کښې د ښايست علامتونه نمر او سپوږمۍ او بيا جواز دا پيش کوي چې دا نمر او سپوږمۍ چې دومره اوچت دي او پاس اسمان کښې دي نو دا ځکه چې د تلې مخالف چابړي کښې ورسره زما د محبوب حسن پروت دی.يو چابړی دومره دروند چې په زمکه يعنې زما د محبوب ښايست او بل چابړی خپل ښايست کښې دومره سپک چې اسمان ته ورسيدو يعنې نمر او سپوږمۍ - دا انداز دی د رحمان بابا د خپل محبوب د حسن د ستاييلو چې زما په خيال هر شاعر به ترې عاجز وي ځکه خو رحمان بابا وايی ---**
**چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي**
**دا دې شعر دی رحمانه که اعجاز.**

---

**ساينس د مذهب خلاف دی که نه---**
**دا څرګنده ده چې د ساينس او مذهب اپروچ جدا دی--- د تفهيم انداز يي جدا دی او حقيقت ته د رسيدلو لارې يی هم جدا دي خو بيا هم ساينسي تحقيقاتو د خدای او مذهب په تفهيم کښې ډيره لويه مرسته کړې ده او کوي يی -.په شلګونو ساينسدانان دي چې د خپلو ساينسي تحقيقاتو په لاره خدايی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مذهب ته نزدې شوي دي--دغو کښې یو د فزکس ماهر او پروفیسر لارډ کیلوین 1824-1907 هم دی چې په عیسایی مذهب کښې یی سترګې غړولې وې خو ماهر د فزکس کیمیا او ریاضۍ وو-پلار یی ویلیم تهامسن هم د ریاضۍ پروفیسر وو چې د انګلینډ نه سکاټ لینډ ته کوچیدلی وو- کیلوین د ډارون همعصر او د هغه د ارتقا د نظریی مخالف وو-تنقید یي دا وو چې ډارون په خپله نظریه کښې د نیچر ارتقایی توازن او تنظیم نظر انداز کړي دي--د کیلوین بنیادي کار د--لا آف تهرمو ډاینیمکس--په موضوع وو چې توانایی څنګه د تپش نه اخذ کیږي--د خپل دغه ساینسي او کیمیایی تحقیق دوران کښې هغه دې نتیجي ته رسیدلی وو چې خپل کتاب-کیلوین لیکچرز اینډ ماډرن تهیوریټیکل فزکس--کښې یی دا هم وویل-

**If you think strongly enough ,you will be forced by science to the belief in God, which is the foundation of all religions...**

یعني ژور سوچ سره به ساینسي پوهه تاسو مجبوروي چې په خدایی عقیده ولرئ کومه چې دټولو مذهبونو بنیاد دی-

دا خبره په هره لمحه نوي ساینسي تحقیقات ثابتوي-د دې ویر کاینات د ټولو نه وړه ماده ذره ده بلکې د ذرې تقسیم هم ممکن دی چې په خوردبین یی مشاهده کیږي-او د کاینات ټوله ماده د مالیکیولز او ذراتو مجموعه ده- په هره ذره کښې درې قسمه برقي اجزا د توانایۍ په شکل حرکت کوي-الیکټران-منفي پروټان --مثبت او نیوټران-د منفي او مثبت مرکب--دغو کښې پروټان او نیوټران د ذرې په مرکز یعني نیوکلس کښې وي او الیکټران ترې چاپیره چکر وهي چې خپله مناسبه فاصله یی هم ساتلې وي او بیا دغو عناصرو کښې د راښکون مقناطیسي صلاحیت هم وي --په یوه ذره کښې دا هرڅه همیشه د ټاکلی شوي قانون تر مخه کیږي -دا هر څه څنګه ممکن شو -دغه قوانین په وړومبي ځل څنګه متعین شو ساینس سره ددې جواب نشته--د ذرې دغه قوانین د کاینات په وسعتونو هم لاګو دي--هر ستوری او ستورو سره سیارې -د ستورو کهکشانونه--نیبیولا -کلسټر-- سپر کلسټر-سپر نووا--او لامحدود کاینات کښې په کهربونو مادي جسمونه د همدغو قوانینو لاندې روان دي--اوس سوال دا دی چې ماده خو بې شعوره ده--د شعور او فهم نه بغیر یی خپل ځان ته دا قوانین -ترتیب -توازن او دوام څنګه ورکړو- بې شعوره ماده خو دا هم نه شي کولی چې که د یو ناچاپ ډکشنرۍ پاڼې د چا د لاسه وغورزیږي او بیا پاڼې راغونډې شي نو پخپله یی ځان ته هم هغسې الفبایی ترتیب ورکړی وي--نو د ذرې نه د کایناتو تر وسعتونو دغه ترتیب او تنظیم به ماده له خپله ځانه څنګه وکړي بې له حکیم او علیم خدایه--ځکه زه وایم چې خبره هم هغه د لارډ کیلوین ده چې ساینسي اګاهي څومره زیاتیږي انسان به خدایی او مذهب ته نزدې کیږي--غور وکړئ ساینس خدایی او مذهب ته څومره مضبوطه اډانه ورکوي-خو خبره د نیت صداقت او دیانت ده او د ساینس د رسا پوهي ده-- ځکه زه دا هم وایم چې ساینس د مذهب مخالف نه دی صرف لاره یی جدا ده ----

---

د رحمان بابا د ځانګړي انداز د مشهور پښتو غزل په فارسۍ کښې د ترجمې هڅه مې په هم هغسې اسلوب کښې کړې ده-

فارسي ترجمه----

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرِ ما سامانِ ما ____ صدقۂ جانانِ ما
صدقۂ جانانِ ما ____ سرِ ما سامانِ ما

زیانِ ما، نقصانِ ما ____ کُل است هجر یار من
کُل است هجر یار من____ زیانِ ما، نقصانِ ما

مشکِ ما، زعفرانِ ما ____ خاکِ کوچۂ شما
خاکِ کوچۂ شما ____ مشکِ ما، زعفرانِ ما

گلِ ما، ریحانِ ما ____ رخِ تست، زلفانِ تست
رخِ تست، زلفانِ تست ____ گلِ ما، ریحانِ ما

فکرِ ما و توانِ ما ____ نہ رسید بہ غمِ تو
نہ رسید بہ غمِ تو ____ فکرِ ما و توانِ ما

آہِ من فغانِ ما ____ هیچ بر تو اثر نہ کرد
هیچ بر تو اثر نہ کرد ____ آہِ من فغانِ ما

دلِ ما، چشمانِ ما ____ بدونت حال ندارد
بدونت حال ندارد ____ دلِ ما، چشمانِ ما

این جمله پیرانِ ما ____ نہ رسید بہ غمِ تُو
نہ رسید بہ غمِ تُو ____ این جمله پیرانِ ما

باغِ ما، بوستانِ ما ____ بدونت بے نخل اَست
بدونت بے نخل اَست ____ باغِ ما، بوستانِ ما

وصلِ ما هجرانِ ما ____ خیر است عبدالرحمان
خیر است عبدالرحمان ____ وصلِ ما هجرانِ ما

پښتو غزل---- رحمان بابا

سر زما سامان زما--ځار شه تر جانان زما
ځار شه تر جانان زما---سر زما سامان زما
زیان زما نقصان زما--واړه د یار هجر دی
واړه د یار هجر دی---زیان زما نقصان زما
مشک زما زعفران زما--ستا د کوڅې خاورې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستا د کوڅې خاورې دي---مشک زما زعفران زما**
**ګل زما ريحان زما--ستا رخسار و زلفې دي**
**ستا رخسار و زلفې دي---ګل زما ريحان زما**
**فکر زما توان زما--ستا په غم کښی نه رسي**
**ستا په غم کښی نه رسي---فکر زما توان زما**
**اه زما فغان زما--هيڅ په تا اثر نه کا**
**هيڅ په تا اثر نه کا--اه زما فغان زما**
**زړه زما چشمان زما--بې تا هيڅ حال نه لري**
**بې تا هيڅ حال نه لري--زړه زما چشمان زما**
**دا پيران شيخان زما--ستا په غم کښې نه رسي**
**ستا په غم کښې نه رسي--دا پيران شيخان زما**
**باغ زما بوستان زما--بې تا ميوه نه نيسي**
**بې تا ميوه نه نيسي--باغ زما بوستان زما**
**وصل هم هجران زما--ای رحمانه خير دی**
**ای رحمانه خير دی---وصل هم هجران زما**

---

**د مرزا اسدالله خان غالب دغه اوږد غزل يو عجيبه کيف او ترنم لري ما يې د پښتو ترجمې هڅه کړې ده ---مينه والو ته يې ډالۍ کوم -----**

**ټول چرته يو څه د ګل په پاڼو کښې عيان شو**
**څه ښکلي مخونه پټ په خاورو د انسان شو**

**هغه رنګارنګ چې د يارانو محفلونه وو**
**هغه ښايستونه مې له ياده ګريزان شو**

**دا د پروين ستوري چې د ورځې په پرده کښې وو**
**څه يې زړه ته راغلل چې د شپې راته عريان شو**

**قيد کښې اخستلو نه' يعقوب که د يوسف خبر**
**کسي يې سوري په ديوالونو د زندان شو**

**ورک دې رقيبان شي خو بس يو د مصر ښځې نه**
**ډوب چې نظرونه يې ښايست کښی د کنعان شو**

**دې د هجر شپه کښې دې د سترګو نه روان وي رود**
**بس خو ګويا دواړه مشالونه چراغان شو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو پریزادو نه جنت کښې به بدل اخلو
خداې که هلته حورې کړې او یا چرته غلمان شو

خوب هم د هغه دی' هم دماغ او هم یې شپې خپلې
هاې په کومو لیچو چې زلفان دې پریشان شو

زه چمن ته څه لاړم چې باغ هم تنی پرانستې
واړه بلبلان زما فریاد ته غزلخوان شو

هغه نظرونه خدایه ولې راته زړه ځیري
کوم چې له تور بخته راته جوړ لکه مژګان شو

ما منع کول خو راوتل د زړه نه وار په وار
ستنه او تار جوړ مې اسویلي چې د ګریوان شو

ورغلم خو څه به یې جواب د زیرو وکړمه
ضایع اثرات چې د دعا مې په دربان شو

ژوند کښې یې سرور وي خو چې جام د چا په لاس کښې وي
دا مې د لاس کرښې که رګونه مې د ځان شو

مونږه خدایې پرسته د مسلک رسمونه نه منو
ورک هغه قومونه شو اجزا چې د ایمان شو

غم سره بلد چې شي نو غم له سړي لرې شي
درد مې دومره ولید تکلیفونه مې اسان شو

یه خلقه غالب که داسې هر وخت په ژړا وي نو
ګورئ دغه کلو ته اباد چې وو خو وران شو

اردو غزل---مرزا غالب

سب کہاں؟ کچھ لالہ و گل میں نمایاں ہو گئیں
خاک میں کیا صورتیں ہوں گی کہ پنہاں ہو گئیں!

یاد تھیں ہم کو بھی رنگارنگ بزم آرائیاں
لیکن اب نقش و نگارِ طاقِ نسیاں ہو گئیں

(c) ketabton.com: The Digital Library



تھیں بنات النعشِ گردوں دن کو پردے میں نہاں
شب کو ان کے جی میں کیا آئی کہ عریاں ہو گئیں

قید میں یعقوب نے لی گو نہ یوسف کی خبر
لیکن آنکھیں روزنِ دیوارِ زنداں ہو گئیں

سب رقیبوں سے ہوں ناخوش، پر زنانِ مصر سے
ہے زلیخا خوش کہ محوِ ماہِ کنعاں ہو گئیں

جُوئے خوں آنکھوں سے بہنے دو کہ ہے شامِ فراق
میں یہ سمجھوں گا کہ شمعیں دو فروزاں ہو گئیں

ان پری زادوں سے لیں گے خلد میں ہم انتقام
قدرتِ حق سے یہی حوریں اگر واں ہو گئیں

نیند اُس کی ہے، دماغ اُس کا ہے، راتیں اُس کی ہیں
تیری زلفیں جس کے بازو پر پریشاں ہو گئیں

میں چمن میں کیا گیا گویا دبستاں کُھل گیا
بلبلیں سُن کر مرے نالے غزل خواں ہو گئیں

وہ نگاہیں کیوں ہُوئی جاتی ہیں یارب دل کے پار؟
جو مری کوتاہئ قسمت سے مژگاں ہو گئیں

بس کہ روکا میں نے اور سینے میں اُبھریں پَے بہ پَے
میری آہیں بخیئہ چاکِ گریباں ہو گئیں

واں گیا بھی میں تو ان کی گالیوں کا کیاجواب؟
یاد تھیں جتنی دعائیں صرفِ درباں ہو گئیں

جاں فزا ہے بادہ جس کے ہاتھ میں جام آ گیا
سب لکیریں ہاتھ کی گویا، رگِ جاں ہو گئیں

ہم موحّد ہیں ہمارا کیش ہے ترکِ رسُوم
ملّتیں جب مٹ گئیں اجزائے ایماں ہو گئیں

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنج سے خُوگر ہُوا انساں تو مٹ جاتا ہے رنج
مشکلیں مجھ پر پڑیں اتنی کہ آساں ہو گئیں

یوں ہی گر روتا رہا غالب تو اے اہل جہاں
دیکھنا ان بستیوں کو تم کہ ویراں ہو گہیں

---

**د حافظ شیرازي د مشهور فارسي غزل پښتو ترجمه خپلو مينه والو ته وړاندې کوم---په مينه او درناوي----**

**نوټ-----**
**رکناباد ----شيراز سره نږدې يوه سيمه چې پکښې يخې خوږې اوبه بهيږي او خلق سيل و تفريح ته ورځي-**
**مصلا-----ايران کښې يوه عيدګاه چې حسين عمارت لري--**

**منظومه ترجمه---**

**هغه ترکې د شيراز نه---به دا خپل زړګی فدا کړم**
**په تور خال به صدقه يی--- سمرقند او بخارا کړم**

**ساقي نور هم شراب راکړه--- بيا به نه وي په جنت کښې**
**چې اوبه د رکناباد وي--- سيل سفر د مصلا کړم**

**داسې شور دی شرير ښکلي--- لکه وران ښار کښې فساد کړي**
**صبر داسې د زړه لوټ کړي--- دسترخوان لکه تالا کړم**

**د نيمګړې مينې حال نه ---- د يار حسن بې نياز دی**
**څه حاجت دی ښکلی مخ چې--- ډول سينګار سره اشنا کړم**

**هغه حسن ته هم ګوره ---- چې يوسف په مخ لرلو**
**عشق پرده د عصمت وا کړه---ګړمه څنګه زليخا کړم**

**که خيرې کړې که بد وايې--- زه به تا ته دعاګو يم**
**تريخ جواب د خوږو شونډو---- سره ښايي که رښتيا کړم**

**نصيحت ته مې غوږ کيږده---- وي له ځانه ورته ګرانه**
**ښه ځوانانو ته به ياده ---- زه د پير بزرګ وينا کړم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنیا رازونه ځانه ----په مستۍ کښې به فاش کیږي
چا په عقل خو حل نه کړه --- زه چې یاده معما کړم

غزل وايي که در پیلي ---- راشه ووایه حافظه
فلک وايي چې قربان به --- ستا په نظم ثریا کړم

فارسي غزل-----

اگر آن ترک شیرازی به دست آرد دل ما را
به خال هندویش بخشم سمرقند و بخارا را

بده ساقی می باقی که در جنت نخواهی یافت
کنار آب رکن آباد و گلگشت مصلا را

فغان کاین لولیان شوخ شیرین کار شهرآشوب
چنان بردند صبر از دل که ترکان خوان یغما را

ز عشق ناتمام ما جمال یار مستغنی است
به آب و رنگ و خال و خط چه حاجت روی زیبا را

من از آن حسن روزافزون که یوسف داشت دانستم
که عشق از پرده عصمت برون آرد زلیخا را

اگر دشنام فرمایی و گر نفرین دعا گویم
جواب تلخ می‌زیبد لب لعل شکرخا را

نصیحت گوش کن جانا که از جان دوست‌تر دارند
جوانان سعادتمند پند پیر دانا را

حدیث از مطرب و می گو و راز دهر کمتر جو
که کس نگشود و نگشاید به حکمت این معما را

غزل گفتی و در سفتی بیا و خوش بخوان حافظ
که بر نظم تو افشاند فلک عقد ثریا را

---

ستا د زلفو په لور زړونه خرام کاندي
که د روم قافله درومي هندوستان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وضاحت....**

**ساده خبره خو دومره ده چې...دا د مینو زړونه دي چې ستا د زلفو ښاست او خوشبو یې ځان ته راکاږي او دغسې زړونه ستا د زلفو په لور درومي او که دا د روم قافله ده چې د هندوستان په لور درومي.....خو خبره دومره ساده هم نه ده.دې شعر کښې زلفو ته هندوستان سره تشبیه ورکړې شوې ده او زړونو ته روم سره.هسې خو دا عام تشبیهات ښکاري خو دا عام تشبیهات نه دي.د دې تشبیهاتو شا ته یو لوی تهذیبي او تاریخي روایت پروت دی.په عام اصطلاح کښې زړه ته بادشاه وییلی شي ځکه چې زړه د چا نه مني صرف خپله مني.زړه د ټولو خواهشاتو سوچونو او فکرونو په نړۍ حکمراني کوي نو ځکه یې د روم سره تشبیه ورکړې شوې ده چې روم په یو وخت کښې نزدې نزدې په ټوله نړۍ حکمراني کوله.دغه روم په سوونو کاله د ترکانو په ولقه کښې وو ځکه به ترک بادشاه ته سلطان روم وییلی شو.ترک د پښتو او فارسۍ په کلاسیکي شاعرۍ کښې د ښاست علامت هم دی.نو دغسې د مینې په سلطنت هم د ښاست حکمراني وي-- دې نه علاوه د روم خلق سره سپین دي او زړه هم د سرې ویني مرکز دی.دغه پس منظر کښې زړه ته روم یا ترک سره نسبت ورکول پخپله دغه تاریخي پس منظر رامخې ته کوي.بلخوا چې شیدا زلفو ته هندوستان سره تشبیه ورکوي نو زلفې هم تورې وي او د هند معنا هم تور ده.یعني تور یا سکاڼ نسلونه.لکه حافظ شیرازي چې د محبوب د مخ تور خال ته ..هندو.. خال وایی او ترک د ښایست علامت ګڼي.**

**اگر آن ترک شیرازی بدست آورد دل ما را**

**بخال هندوش بخشم سمرقند و بخارا را**

**زلفې چې د توروالي نه علاوه د ښایست او خوشبو علامت هم وي نو هندوستان هم زرخیز سرسبز او د ښایست وطن دی.بیا روم چې کله په ټوله نړۍ حکمراني کوله نو یو دور کښې یې د دغه ښایسته زرخیز او خوشبویه هندوستان په لور هم پیش قدمي کړې وه.ګویا دروم قافله د هندوستان په لور تللې وه.**

**نو اوس دغه پس منظر کښې د شیدا په شعر غور وکړئ چې د مینو د زړونو د محبوب د خوشبویه زلفو په لور مایل کیدلو ته ولې د روم د قافلې هندوستان ته تللو سره نسبت ورکوي او په دې هنر د خپل محبوب ښایست ستایی .د زلفو یی ښکلا څرګندوي او د مینو د زړونو د دغه زلفو په لور خرام یعنې په مزه مزه پیش قدمۍ ته اشاره کوي.**

**په دوه مصرعو کښې دومره لوی جهان .قربان.**

---

**د علامه اقبال دې شاهکار غزل رانه زړه وړی دی--شبنم مجید یی موسیقۍ سره په ویيلو کمال کړی دی--- ما یی پښتو کښې د ترجمې هڅه کړې ده --- ګران باچاجي ---زلمي ساجد علي او ما ته ګران جوهر خلیل ته یي ډالی کوم -**

**بیا راوړه هغسې باده او هغه جام ساقي**

**بیا چې تر لاسه کړمه هغه خپل مقام ساقي**

**درې سوه کاله اوشو بندې میخانې دي د هند**

**اوس خو لازمه ده چې ورکړه دې وي عام ساقي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه څو څاڅکي د غزل په پيمانه کښې پاتې
شيخ راته وايي چې دا هم به وي حرام ساقي

اوس خو زمرو نه د لټون هغه ځنګل خالي دی
اوس د صوفي او د ملا شولو غلام ساقي

عشقه چې ستا هغه تيره توره چا يوړه له تا
علم ته پاتې دی په لاس کښې تش نيام ساقي

زړه کښې رڼا چې وي هنر کښې ولوله وي د ژوند
بې له رڼا خو هنر مري به شامدام ساقي

زما يوه شپه د مهتاب نه چې محرومه نه کړې
پياله دې ډکه لکه وي ماه تمام ساقي

اردو غزل----علامه اقبال

لاپھر اک بار وہی بادہ و جام اے ساقی
ہاتھ آ جائے مجھے میرا مقام اے ساقی
تین سو سال سے ہیں ہند کے میخانے بند
اب مناسب ہے ترا فیض ہو عام اے ساقی
مری مینائے غزل میں تھی ذرا سی باقی
شیخ کہتا ہے کہ ہے یہ بھی حرام اے ساقی
شیر مردوں سے ہوا بیشۂ تحقیق تہی
رہ گئے صوفی و ملا کے غلام اے ساقی
عشق کی تیغ جگردار اڑا لی کس نے
علم کے ہاتھ میں خالی ہے نیام اے ساقی
سینہ روشن ہو تو ہے سوز سخن عین حیات
ہو نہ روشن ، تو سخن مرگ دوام اے ساقی
تو مری رات کو مہتاب سے محروم نہ رکھ
ترے پیمانے میں ہے ماہ تمام اے ساقی

---------------------------

د مير تقي مير د دې اسان او روان غزل ترجمه مې د زلمي يونس شناس په غوښتنه وکړه

سترګو کښې نم کله زما نه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینې چې څاڅي په ربښتیا نه راځي

هوش خو مې کله هم له تنه نه ځي
خو چې هغه راشي نو بیا نه راځي

هجره یو صبر مې همدرد ګڼلو
مودې شوې تیرې چې په ما نه راځي

کومې ارزو مې زړه نه کډه وکړه
ژړا خو هسې خامخا نه راځي

بس خو یو شرط مینه کښې زغم دی ګنې
چا وې سوچه کره وینا نه راځي

ګرانه په زړه مې څه دي څه خبر یې
خو بس په شونډو مې رسا نه راځي

خاوره د تن مې هم ورتلی نه شي میر
بې عشقه دا مقام په چا نه راځي

اردو غزل ----میر تقی میر--

اشک آنکھوں میں کب نہیں آتا
لہو آتا ہے جب نہیں آتا

ہوش جاتا نہیں رہا لیکن
جب وہ آتا ہے تب نہیں آتا

صبر تھا ایک مونس ہجراں
سو وہ مدت سے اب نہیں آتا

دل سے رخصت ہوئی کوئی خواہش
گریہ کچھ بے سبب نہیں آتا

عشق کو حوصلہ ہے شرط ورنہ
بات کا کس کو ڈھب نہیں آتا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جی میں کیا کیا ہے اپنے اے ہمدم
پر سخن تا بہ لب نہیں آتا

دور بیٹھا غبار میرؔ اس سے
عشق بن یہ ادب نہیں آتا

---

**د غالب د اردو غزل پښتو منظومه ترجمه د مینه والو د ذوق نذرانه -------**

**بیا د لوندو سترګو اثر رایاد شو**
**زړه کښې مې هغه شوروشر رایاد شو**

**لا خو قیامت سا هم اخستې نه وه**
**بیا هغه وخت دې د سفر رایاد شو**

**زما ارزو ' او سادګي يې ګوره**
**چې فریبې يې د نظر رایاد شو**

**زړه مې غوښتله ښه په زوره ژړا**
**خو راته خپل سترى ځیګر رایاد شو**

**ژوند هسې هم په خپله لاره تللو**
**چې بیا دې ولې راهګذر رایاد شو**

**څه به رضوان سره جنګونه کوم**
**جنت کښې ستا که بام و در رایاد شو**

**اوس د فریاد مې حوصله چرته ده**
**زړه نه راتنګ شومه ځیګر رایاد شو**

**ستا د کوڅې په لور مې فکر درومې**
**ورک شوی زړه مې راته زر رایاد شو**

**چې چار چاپیره ویرانی ته ګورم**
**د خپل مسکن حالت بتر رایاد شو**

**په ماشومتوب کښې مې مجنون ویشتلو**
**کانی مې پورته کړو نو سر رایاد شو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اردو غزل---مرزا غالب---**

پھر مجھے دیدۂ تر یاد آیا
دل جگر تشنۂ فریاد آیا

دم لیا تھا نہ قیامت نے ہنوز
پھر ترا وقت سفر یاد آیا

سادگی ہائے تمنا یعنی
پھر وہ نیرنگ نظر یاد آیا

عذر واماندگی اے حسرت دل
نالہ کرتا تھا جگر یاد آیا

زندگی یوں بھی گزر ہی جاتی
کیوں ترا راہ گزر یاد آیا

کیا ہی رضواں سے لڑائی ہوگی
گھر ترا خلد میں گر یاد آیا

آہ وہ جرأت فریاد کہاں
دل سے تنگ آ کے جگر یاد آیا

پھر ترے کوچہ کو جاتا ہے خیال
دل گم گشتہ مگر یاد آیا

کوئی ویرانی سی ویرانی ہے
دشت کو دیکھ کے گھر یاد آیا

میں نے مجنوں پہ لڑکپن میں اسدؔ
سنگ اٹھایا تھا کہ سر یاد آیا

---

**د علامه اقبال د یو اردو غزل د پښتو ترجمې هڅه مې کړې ده - زمونږ د عصر خوږ او پیاوړي مترجم ښاغلي جوهر خلیل ته یې ډالۍ کوم----**

مینه کښې ستا چې انتها غواړمه
ځومره ساده یم څه له تا غواړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که وي ستم او که وعده د دیدار
ازمیښت د صبر مې اشنا غواړمه

جنت زاهد ته مبارک شه ګله
زه د صحبت دې مشغولا غواړمه

وړوکي زړه کښې مې شوخي دومره ده
د لن ترانې غږ دې بیا غواړمه

یارانو زه د څو لحظو میلمه یم
د سحر شمع یم فنا غواړمه

د راز خبره مې محفل کښې وکړه
ډیر بې ادبه یم سزا غواړمه

اردو غزل ----علامه اقبال -----

ترے عشق کی انتہا چاہتا ہوں
مری سادگی دیکھ کیا چاہتا ہوں

ستم ہو کہ ہو وعدۂ بے حجابی
کوئی بات صبر آزما چاہتا ہوں

یہ جنت مبارک رہے زاہدوں کو
کہ میں آپ کا سامنا چاہتا ہوں

ذرا سا تو دل ہوں مگر شوخ اتنا
وہی لن ترانی سنا چاہتا ہوں

کوئی دم کا مہماں ہوں اے اہل محفل
چراغ سحر ہوں بجھا چاہتا ہوں

بھری بزم میں راز کی بات کہہ دی
بڑا بے ادب ہوں سزا چاہتا ہوں

---

چې لويې په ارتفاع کښې د جاه نه کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا هنر وینم په وضع د سها کښې**
**وضاحت.....**
**ارتفاع عربي ده...رفعت اوچتوالی..**
**جاه..فارسي ده..یعنې لوې والی ..کبر..غرور..جاه وجلال...وضع...یعنې دود..طریقه..روش..قاعده..آیین و منشور..**
**په دې شعر پوهیدلو د پاره د دغو پورتنو ټکو په مفهوم پوهیدلو سره سره ..د سها..په معنا پوهیدل ډېر ضروري دي...سها اصل کښې د یو ستوري نوم دی چې د بنات النعش برخه ده..اوس.. بنات النعش.. څه شی دی..بنات..عربی کښې د دریو ستورو ټولي ته وایی او نعش د څلور ستورو یو بل ټولي ته وایی...دغه دواړه ټولي چې یوځایی شي نو د اوو ستورو ټولی ترې جوړ شي او په بنات النعش یادیږي..چې د اوو ملګرو ګروپ هم ورته وایی...سها.. د دغه ګروپ دټولو نه وړوکی ستوری دی خو د ټولو د پاسه ښکاري...دغه د نعش څلور ستوري د زمکې مخلوق ته داسې ښکاري لکه د څلورو خپو کټ...او د سها ستوری په داسې زاویه کښې ښکاري لکه د څلورو خپو کټ ته چې خدمتګار ولاړ وي...دا هر څه د زمکې مخلوق د خپل روایتي دود له مخه متعین کړي دي چې د سوونو کالو راسې دغه روایت موجود دی...هسې خو د ساینسي تصور له مخه د ستورو ټولی یا ګروپ یا کهکشان په کروړونو ستورو مشتمل وي خو د زمکني مخلوق د تهذیبي روایت تر مخه دغه ټولی د اوو ستورو دی..چې پروین هم ورته وایی...اوس دغه د ستورو ګروپ کښې د ..سها ..وضع روش او طریقه دا وي چې د ټولو نه اوچت وي نو دا یی د شیدا په قول ارتفاع ده  یعنې رفعت او اوچتوالی ..خو په جسامت کښې چې ټولو نه وړوکی وي نو د شیدا په قول دا یی عاجزي ده چې د ارتفاع او اوچت والی باوجود ځان ته غټ نه ګوري..او د څلورو ستورو د کټ شکل ته چې ولاړ ښکاري دا یی د خدمتګارۍ علامت دی...ګویا د اوچت والي باوجود چې ځان وړوکی ګڼي او تابعداري کوي نو دا هنر صرف د..سها.. په وضع روش او طریقه کښې ښکاري...په انساني ټولنه کښې د عاجزۍ خاکسارۍ او خدمتګارۍ مفهوم ډیرو شاعرانو بیان کړی دی خو دغه مفهوم بیانولو د پاره د شیدا کایناتي مشاهده او استعارې یو جدا خوند او رنګ لري چې دغه مشاهده شیدا د همدغه مفهوم د پاره په یو بل شعر کښې داسې بیان کړې ده**
**ما په وضع د پروین کړه**
**دلجمعي زما آیین کړه..**

---

**د مرزا غالب معروف اردو غزل مې پښتو کښې ترجمه کړی دی  ---ملګرو سره یی شریکوم----**

**عمر به غواړي اسویلی چې مې اثر ته رسي**
**څوک به ژوندي وي چې قیصه د زلفو سر ته رسي**

**هره چپه کښې د سیند دام دی نهنګان هم تیار**
**ګوره په څاڅکي څه تیریږي چې ګوهر ته رسي**

**مینه که زغم غواړي ارزو خو ناقراره اوسي**
**زړه سره څه وکړم چې وینه یی ځیګر ته رسي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو منمه چې غفلت زما په حال نه کوې
خو زه به خاورې يم خبر چې مې ستا در ته رسي

لکه قطرې ته چې پيغام د فنا ' نمر ورکوي
زما د ژوند انجام به هم ستا يو نظر ته رسي

که د هستئ يوه لمحه مې هم غافله نه ده
خو د محفل گرمي بس يو رقص د شرر ته رسي

د هستئ غم خو بې له مرگه بل علاج نه لري
شمع به سوزي په هر حال کښې چې سحر ته رسي

اردو غزل -------

آہ کو چاہیے اِک عُمر اثر ہونے تک
کون جیتا ہے تری زُلف کے سر ہونے تک

دامِ ہر موج میں ہے حلقۂ صد کامِ نہنگ
دیکھیں کیا گُزرے ہے قطرے پہ گُہر ہونے تک

عاشقی صبر طلب ، اور تمنّا بیتاب
دل کا کیا رنگ کروں خونِ جگر ہونے تک

ہم نے مانا کہ تغافل نہ کرو گے ، لیکن
خاک ہو جائیں گے ہم، تم کو خبر ہونے تک

پرتوِ خُور سے ، ہے شبنم کو فنا کی تعلیم
میں بھی ہوں ، ایک عنایت کی نظر ہونے تک

یک نظر بیش نہیں فُرصتِ ہستی غافل !
گرمئِ بزم ہے اِک رقصِ شرر ہونے تک

غمِ ہستی کا ، اسدؔ ! کس سے ہو جُز مرگ ، علاج
شمع ہر رنگ میں جلتی ہے سحر ہونے تک

---

فلسفه ساينس او الهيات

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عمومي حواله الهيات هم د فلسفيانه مباحثو برخه ده او د ساينسي تحقيقاتو جرړې هم فلسفې نه رانښلي ـ ـپه خپل وجود کښې درې واړه د حقايقو د لټون او نتيجو ته د رسيدلو وظيفه تر سره کوي خو انداز او طريقه يې بيل بيل دي ـ ـالهيات د وحي الهام او تنزيل په لاره راغلي حقيقتونه مخې ته راولي ـ ـفلسفه يې د امکان تر حده د انساني عقل او پوهې په نتيجه کښې انکشاف کوي او ساينس دغه عقل او پوهې سره د تجرباتي عمل نه هم تيريږي ـ ـخو مقصد او منزل د درې واړو يو دی ـ ـځني دانشور دغه درې واړه د يو بل تضاد ګڼي ـ ـاو انساني عقل ـ کل ـ ګڼي ـچې په نتيجه کښې يې فلسفه او ساينس د مذهب او دين په مقابله کښې اودروي اوبيا دغه تناظر کښې يو شمير فلسفيان او ساينسدانان د الحاد او انکار د مرحلې نه هم راتيريږي ـ ـ ـ

د دې مسلې حل هغو مسلمانانو فلسفيانو په ښه توګه وړاندې کړي دی څوک چې د ساينس او الهياتو هم ماهران دي او د مغربي الحاد زده فلسفيانو نه ډير پخوا يې خپل افکار او نظريات وړاندې کړې دي ـ د يوناني او هندي فلسفيانو نه پس الکندي ـ ١٨٥هجري تا ٢٦٠ هجري ـ ـداسې فلسفي دی چې د ساينس او الهياتو هم ماهر دی ـد هغه تقريباً دوه نيم سوه کتابونو کښې ديرشو ته نږدې فلسفې سره تعلق لري ـاو نور يې طب رياضی طبيعاتو فلکياتو منطق نفسياتو سياسياتو هييت نجوم موسيقۍ او نورو علومو سره تعلق لري ـ ـ هغه په خپل کتاب ـ ـکتاب الفلسفه الداخله والمسايل المنطقيه و ما فوق الطبيعات ـ ـکښې وايی چې عقل په خيل ذات کښې پخپله اولوهي او الهياتي دی ځکه د حق او حقيقت لټون يې فطري دی البته د نتايجو انکشاف يې محدود او مرحله وار وي ځکه کله کله خپل نتايج پخپله رد کوي هم ـ ـدغه د نتايجو د ترديد مرحله هلته اختتام ته رسي چې سمون يې الهياتي نتيجو سره راشي ـ ـدغه مرحله کښې عقل سره هم نور څه نوې نتيجه نه وي ـ ـدا کوم فلسفيان چې د الهياتي نتيجو سره متضاد نتيجې ښايی ګويا د دوي د تحقيق لړۍ لا منطقي انجام ته نه وي رسيدلي خو دوي يې انجام او اختتام وګڼي او د مذهب او الهام د ترديد اعلان وکړي ـدا عمل ساينسدان هم کوي ـ ـد الکندي د دغه فکر تاييد نورو مسلمانانو فلسفيانو الفارابي ابن مسکويه ابن الهيثم ابن سينا ابن باجه ابن رشد ابن طفيل تر دې چې ابن خلدون هم کړی دی البته الغزالي زيات عقليت پسندۍ ته مايل دی ـ ـ ـ

که غور وکړو نو فلسفه او ساينس د وحي الهام او مذهب ډيره مرسته او تاييد کوي چې د الهياتي حقايقو توثيق کوي خو شرط دادی چې مذهب او وحي هم د انساني لاس وهنې نه پاک په خپل اصلي شکل کښې محفوظ پاتې وي ـ ـدغسې فلسفه او ساينس د کفر او الحاد مخه نيسي ـ ـبلکې کوم فلسفي او ساينسدان چې د خپل تحقيق په نتيجه کښې وحي الهام او مذهب قبول کړي هغه د روايتي او موروثي قبوليت نه زيات مضبوط وي ـ ـځکه خو زه فلسفه او ساينس د الحاد او انکار په لاره کښې غټ خنډ ګڼم نه چې د مذهب او وحي مخالف او متضاد ـ ـ ـ ـ

---

په رخسار دې جلوه ګر شهٔ مشکين خط
کهٔ قاصد راوړو و روم ته د چين خط

وضاحت ـ ـ ـپه وړومبي نظر خو د شيدا دا شعر ډير ساده او اسان ښکاري او مطلب يې هم په اسانو ټکو کښې دا دی چې دا د ښکلي محبوب په مخ د ويښتو تور خط زرغون شو که قاصد روم ته د چين خط راوړو ـ ـګويا د محبوب په سپين مخ د تور خط زرغونيدلو سره د محبوب د ښايست تذکره د تشبيهاتو په مرسته کول غواړي چې د کلاسيکي شعري روايت برخه ده ـ ـخو شيدا چرې هم سرسري او سطحي خبره نه کوي ـ ـد هغه د تشبيه تر شا کله کله پوره تاريخي روايت او نادره تلميح

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم شتون لري----دې شعر کښې خط په دريو معنو راغلی دی---خط يعنې ليک يا مکتوب ليږل --خط يعني خطاطي يا د خطاطی فن --او خط يعني تور پشم يا ويښته په مخ زرغونيدل---تلميح پکښې داده چې روم د نقاشی او مصوری فن کښې کمال ته رسيدلی وو --بل خوا چين هم د مصوری او خطاطی د فن عروج ته رسيدلی وو---نو چين په دغه تناظر کښې روم ته د مقابلې بلنه ورکړه او دې مقصد دپاره يی د قاصد په ذريعه روم ته خط وليږلو---مقابله مقرر شوه---د مقابلې په وخت د پردې يو خواته د چين خطاطانو خطاطي وکړه او د پردې بل خوا ته د روم نقاشانو نقاشي وکړه--چې پرده له منځه اخوا شوه نو د چين د خطاطانو د خطاطی پيرک د روم په نقش و نګار پريوتو چې دغه نقاشي يی لا زياته ښکلې کړه او دغسې ګويا د چين خط د خطاطی په شکل هم روم ته ورسيدو----
اوس د شيدا شعر ته غور وکړئ---په سپين مخ زرغون شوي ويښته تور وي او خط هم په توره سياهی ليکلی شي----ويښته خوشبويه وي او چين کښې د ختن او خطا سيمې د مشکو د خوشبو د پاره شهرت لري نو شيدا چين نه راغلي خط ته هم-- مشکين خط -- وايی- يعنی د مشکو غوندې خوشبويه خط--- او د روم خلق چې سره سپين دي نو په دغه مناسبت يی د محبوب سور سپين مخ ته د روم سره تشبيه ورکړې ده--- بل خوا دې ته هم غور وکړئ -چين نه چې د مقابلې خط يعني مکتوب روم ته راليږلی شوی دی نو شيدا پکښې د خط راليږلو مفهوم ته هم اشاره کړې ده--دچين د خطاطی اثر چې د روم په نقاشی شوی دی نو شيدا دغه روايت ته هم د تلميح په شکل اشاره کړې ده--او بيا د تجاهل عارفانه په انداز کښې وايی چې دا د محبوب په سپين رخسار د خوشبويه ويښتو تور خط زرغون شو او که روم ته د چين نه قاصد خوشبويه خط راوړو --ګويا د محبوب د حسن ستاينه په دغه انداز کول غواړي---نو په دوو مصرعو کښې به دومره لوې جهان څوک رابند کړي بغير د شيدا نه----

---

شاعرانه فطرت جبلت او وجدان

زمونږ زيات لوستونکي د فطرت توری د يو الهامي کيفيت په معنا اخلي او ورسره د جبلت او وجدان اصطلاحات هم نزدې نزدې په دغو معنو کښې استعمالوي-خو د فطرت بنيادي مفهوم د تخليق په معنو کښې دی --هغه تخليق چې بيخي په وړومبي ځل وشي او مادي مساله يی هم په وړومبي وار تخليق شوې وي لکه کاينات او د هغې اجزا زمکه اسمانونه غرونه ابشارونه چمنونه وغيره چې تخليق شوي دي - خالق په همدغو معنو کښې فاطرالسموات والارض دی---ځکه فطرت په خپل بنيادي مفهوم کښې د هغو څيزونو وي چې عقل شعور اختيار او اراده نه لري لکه حيوانات نباتات او جمادات يی چې نه لري نو ځکه دغه هر څه د خپل تخليقي فطرت تر مخه حرکت کوي-تر دې چې د ګډې بچی به د پيدايش سره خپل خوراک ته پخپله ورځي د چرګې بچی به پخپله خپل د تحفظ ځايی ته رسي او د مرغابۍ بچی به پخپله اوبو ته وردانګي-دغه شان نباتات او جمادات به هم بغير د عقل شعور او ارادې نه د خپل تخليقي فطرت تر مخه په حرکت کښې وي او دا روش به بدليږي هم نه-ځکه وييلی شي چې فطرت نه بدليږي-انسان خو عقل شعور او اراده لري نو د هغه داخل کښې چې کوم بې پنا صلاحيتونه ايښودی شوي دي هغه يی په خپل عقل او اراده استعمالولی هم شي او بدلولی هم شي-ګويا دغه انساني صلاحيت فطرت نه دی بلکې مناسب اصطلاحات ورله د جبلت وجدان سرشت خلقت طبيعت مزاج وغيره استعمالول پکار دي چې د دغو بې پنا صلاحيتونو استعمال انسان په خپله اراده کولی هم شي او بدلولی هم شي---نو په دغه بنياد د شاعرانه فطرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصطلاح مناسبه نه ښکاري.او دا هم سمه خبره نه ښکاري چې شاعري صرف هغه څوک کولی شي چې په فطرت کښې یې شاعرانه صلاحیت وي.یواځې شاعري نه بلکې د ټولو ښکلو هنرونو زړي د ټولو انسانانو په مزاج او داخل کښې پراته وي خو چې چا ته د خارج نه یعنې د ټولنیزو حادثاتو نه تحریک ملاو شي نو د هغه دغه پټ صلاحیتونه راویښ شي او د فنونو یا شاعرۍ په شکل یې اظهار وشي..د وجدان او جبلت هم دغه معنا ده چې په زور اومصنوعي زدکړه نه بلکې د خارجي تحریک په وسیله د انسان داخلي صلاحیت د کوم فن په شکل خپل نمود وکړي..ګویا د شاعرۍ شروع کیدل خو د خارجي حادثې او تحریک په زور پخپله وشي خو د فني معیار او معراج ته رسول یې بیا هم مشق ریاضت مطالعه اختیار او اراده غواړي.. نو په داسې حال کښې هم وییل پکار دي چې دغه انسان د شاعرۍ مزاج جبلت یا وجداني قوت لري .نه چې شاعرانه فطرت لري...بس دغو پټو وجداني او جبلي قوتونو ته د خارج یا ټولنې نه د مناسبې موقعې او تینګړۍ ضرورت وي....حمزه بابا وایی کنه....
انګیزه یی د اشنا د تبسم نه
خو په چا کښې چې خپل اور وو اور پرې بل شو....

---

د ګران جاوید احساس په وینا د ال پاکستان پښتون تهنکر فورم په طرحه می همدا اوس غزل ولیکلو چې ملګرو سره یي هم شریکوم-----

د خپل هدف په لور په ګرانه به په لاره اوځي
:په دې هجوم کښی چې کوم ستوری له مداره اوځي:
که د یوسف د اخستو قیمت لري او که نه
چې ولوله نه لري بیا خو به له شماره اوځي
زما د درد قیصه هر څو که ژبه نه لري خو
غوږ ورته اونیسه چې سانده له ستاره اوځي
سر به هغه لري سردار به هم هغه سړی وي
سر په تلي کښې ګرځوي چې څوک تر داره اوځي
چې د قامي وحدت نه ځان رابیلوي نو مري به
لکه بڅری چې د اور له سور انګاره اوځي
هره لمحه د ژوندانهٔ مې شه له قامه لوګی
ایله به سا رانه ملګرو په قلاره اوځي
چې خلیلي جذبه لري او دین یی هم وي حنیف
سرخرویه ځکه خو د وخت له هره ناره اوځي

---

شعور لاشعور او حافظه د تخیل په تسلسل کښې......

د شعور لاشعور او حافظې په حواله زه خپل مزید وضاحت هم مخې ته ایښودل غواړم.......د اروا پوهنې له رویه حافظه د شعور او لاشعور سره د تړون نه بغیر ځانله محکم مقام نه شي لرلی.د مشاهدې او مطالعې نه ترلاسه شوي مواد یا معلومات وخت په وخت د لاشعور برخه جوړیږي یا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاشعور په غير مريی يا غير مادي خانه کښې جمع کيږي.دغه لاشعور نه صرف هغه مواد د شعور سطحي ته راوچتيږي چې شعور يی د خپل غلبيل نه چاڼ کړي ګويا شعور د لاشعور په خانه کښې د موجوده موادو د څوکيدار وظيفه تر سره کوي او محض هغه مواد دغه خانې نه بهر راوتی شي چې شعور اجازت ورکړي او بيا د شعور د غلبيل نه راوتي مواد د حافظې په حفاظت کښې ورکوي.دغه ځايی نه د حافظې کار شروع کيږي چې بيا کله فنکار شاعر يا تخليق کار اظهار کوي نو دغه مواد د حافظې نه راخلي چې حافظې ته پخپله د لاشعور او شعور د تدريجي مرحلو نه رارسيدلي وي. د تخيل کار بيا دې نه پس شروع کيږي يعنې تخيل که قوت او صلاحيت لري نو د اظهار په وخت حافظې نه راخستي مواد د نوي ترتيب او تنظيم سره په نوي تصوير کښې وړاندې کوي خو دا ټول تدريجي عمل محض په څو لمحو کښې کيږي چې د کمپيوټر په اصطلاح کښې ورته د سافټ ويير عمل هم وييلی شو--او حافظې ته د کمپوټر د --ريم--يا ميموري سپيس.سره تشبيه ورکولی شو--نور پرې خپله غور وکړئ--

---

تخيل او تفکر
زمونږ زيات پوهان خيال او فکر هم عموماً په يوه معنا کښې کاروي او تخيل او تفکر هم.خو خبره داسې نه ده.د سوچ صلاحيت چې د يو ټاکلي حقيقت د لټون هڅه کوي نو دا تفکر دی چې يو حقيقي او جامد تصوير وړاندې کولی شي خو اختراعي او نوی تصوير نه شي پيش کولی.دغه تفکر اصل کښې د تخيل وړومبۍ پوړۍ ده چې کالرج ورته اولي تخيل وايی او دا د خيال کولو مترادف دی خو تخيل د خيال کولو په ځايی د خيال جوړولو کار کوي.ګويا په حافظه کښې موجوده عناصرو او مشاهده کښې راغلو نوو اجزاو ته د تخليقي قوت په زور نوی ترتيب ورکول نوی شکل ورکول او نوی خيالي تصوير جوړول تخيل دی چې مبالغه هم ولري او د حقيقي تصوير نه هم زياته ښکلا ولري .که کوم فنکار دا نه شي کولی نو ګويا د تخيل قوت نه لري. د تخيل قوت ټول خيالي مواد ګډ وډوي اوبيا نوی ترتيب او تنظيم ورکوي خو د تفکر قوت دا هر څه نه شي کولی.د نوي خيالي ترتيب او تنظيم نه جوړ شوي تصوير کښې که جدت او تخليقيت کم وي نو دې ته محاکات وايی او که دغه جدت او تخليقيت پکښې انتها ته رسيدلي وی نو دا بيا تخيل دی. نتيجه دا شوه چې د سوچ صلاحيت کله د ټاکلي حقيقت لټون کوي نو دا به تفکر وي چې دا عموماً په فلسفه منطق او علم الکلام وغيره کښې په کار راځي او د سوچ صلاحيت چې د ټاکلو حقيقتونو نه ازاد او د نوي سره د نوي ترتيب او تنظيم سره نوی تصوير پيش کوي نو دا به تخيل وي چې په ټولو لطيفو فنونو لکه مصوری سنګتراشی موسيقی او شاعری وغيره کښې پکار راوستلی شي. د تفکر د پاره د -ژور تفکر--او تخيل د پاره د -لوړ تخيل --اصطلات زيات مناسب دي چې د تفکر نتيجه حقيقيت ته رسيدل وي او د تخيل نتيجه د نوي جهان سيل کول وي--خو د دغو اصطلاحاتو يو منطقي او نفسياتي ربط هم شته چې حافظه د تحت الشعور او بيا د شعور د خانو نه مواد يا خام مال راخلي د حافظې په حفاظت کښې يی ورکوي واهمه دغه مواد يا خو ګډ وډ کړې او يا منظم--د اظهار په وخت که دغه مواد ګډ وډ وو نو توهم دی که دغه مواد منظم وو خو تصوير حقيقي وو نو دا تفکر يا د کالرج په قول اولي تخيل او يا خيال کول دي او که دغه مواد د نوي سره نوي تنظيم سره نوي اختراعي تصوير پيش کړي نو تخيل ترې جوړ شي.نو دغسې توهم تفکر او تخيل تدريحي کړۍ دي.

---

په ريا مې کړه ښکاره و خاص وعام ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د غرهٔ سر مي لکه مهر سجده گاه شهٔ**
**وضاحت.......**
**د شعر لفظونه خو اسان دي خو د خيال نزاکت او علويت يی د کمال دی....مهر فارسی کښې نمر ته وايی او سجده گاه د سجدې کولو ځايی ته....په اسانو ټکو کښې خو شيدا دا ويیل غواړي چې سجده يو داسې عبادت دی چې انسان پکښې خپله انا جلال رعب دبدبه تر دې چې خپل ذات هر څه نفي کړي. دغه هر څه د خالق په کبريايی کښې فنا کړي خو د ذات دغه نفي او فنا يی په اصل کښې د بندګی ثبات او بقا وي....او که دغه سجده د ريا وي د ځان ښودنې په نيت وي نو د ذات او جلالي رعب د فنا سره سره يی د بندګی ثبات او بقا هم ځان سره لاهو کړي ....ګويا د ريا سجده هر څه زايل کړي.....اوس د شيدا دخيال علويت مشاهدې او مثال ته غور وکړئ.....نمر د رعب او جلال علامت دی ..بې شانه توانايی طاقت او تپش لري او دومره رڼا لري چې ټول عالم ته ځرګند او جوت وي....په دغه ښکاره ځرګند او جوت وجود د پوره طاقت رعب او جلال سره چې نمر د غروب په وخت د غره سر ته راشي نو ننداره يی وکړئ داسې ښکاري لکه غر ته چې سجده کوي.لکه چې دغه د غره سر يی سجده ګاه وي او چې نمر ټول عالم ته ښکاره وي نو دغه سجده يی هم د ځان ښودنې شوه د ريا شوه....نو اوس د ريا د سجدې نتيجه هم وګورئ .لږه شيبه کښې د نمر پريوتل غرقيدل او فنا کيدل.....بس دغه نتيجه د ريا کار انسان د سجدې هم ده....غرقيدل اوفنا کيدل.ګويا د ټولو اعمالو زايل کيدل او ضايع کيدل....**

---

**شاعرانه الهام**
**هر سحر ملک د شعر کړي حمزه ته الهامونه**
**کيف پکښې ملکوتي وي ناسوتي سوز په سخن کښې**
**دحمزه بابا دغه شعر کښې ځنې داسې اصطلاحات استعمال شوي دي چې ډير لوستونکي پرې د مغالطې ښکار کيدی هم شي.اصل خبره خو د شاعرانه الهام ده خو مخکښې ترې د ملکوت او ناسوت د متصوفانه اصطلاحاتو وضاحت هم ضروري دی.په صوفيانه مباحثو کښې ملکوت هغه کيفيت يا تاثر ته ويیلی شي چې انساني معلومات د فکري رنګ اخستلو نه مخکښې مطلق وجود لري چې صوفيان ورته ....عين.جمع ..عيان.. وايی.دغه عيان چې د فکر برخه جوړيږي او معنوي کيفيت ته راځي نو صوفيان ورته د... عالم ملکوت. نوم ورکوي....دغه ملکوتي کيف چې الفاظو ته راځي نو ګويا چې معنويت د ماديت لباس اغوندي نو دغه مادي جهان د .....عالم ناسوت ...په نوم ياديږي . په اسانو ټکو کښې ملکوتي فکر معنويت دی او د الفاظو او ډکشن مادي لباس ناسوت يا شکل او هييت دی....نور په اسانو ټکو کښې فکر او معنويت چې ملکوتي دی نو ګويا ملک ملايک يا فرشته يی راوړي.دغه تعبير ته شاعران او صوفيان الهام وايی يعنې شاعر ته خيال فکر مضمون او معنويت د شعر فرشتې د خالق له خوا راوړی دی.دغه د الهام تصور ګڼو شاعرانو وړاندې کړی دی.غالب هم ويیلي دي چې.**
**آتی هين غيب سی يه مضامين خيال مين**
**غالب صرير خامه نوايی سروش هی.**
**دغه تصور د يونانيانو افلاطون او ارسطو هم وو. دغه ټول اصطلاحات که محض علامتونه وګڼلی شي او د شاعرانه موډ او کيفيت سره يی نسبت وګڼلی شي نو څه مسله نه پيدا کوي خو که الهام ملک او فرشته هم هغو د عربی اصلي معنو کښې واخستلی شي نو خلق د مغالطې ښکار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي.وړومبی خو د الهام مطلب د خیر د صلاحیت سره سره دشر صلاحیت هم دی. د تقوا سره سره د فجور صلاحیت هم د الهام برخه ده چې قران حکیم یی داسې وضاحت کړی دی...فالهمها فجورها و تقواها...او بیا دغه صلاحیت یواځې شاعر او فنکار د پاره نه دی بلکې د ټول انسانیت د پاره دی...نو بیا شاعر ته د شعر د فرشتې د راتللو او د خدایی الهام کیدلو څه معنا ؟..بس دې ته یو تخلیقي صلاحیت داخلي رجحان ذوق او وجداني قوت وییل پکار دي چې د الهام سره یی هیڅ نسبت نشته.دغه تخلیقي قوت او صلاحیت هم د خالق ورکړه ده خو الهام په مروجه معنو کښې نه شاعر ته کیدی شي او نه صوفیانو بزرګانو او اولیای کرامو ته.الهام خو د تقوا نه علاوه د فجور یعنې شر قوت هم دی نو بیا پیران فقیران صوفیان شاعران او ولیان پرې ولې بدناموو...قرآني مفهوم ته ولې نه ځو.....

---

اسلوب رومانویت او انقلاب

ډیر ملګري رومانویت هم یو اسلوب ګڼي چې دا درسته نه ده.رومانویت یوه فکري حواله ده.د یو سوچ فکر او رویيې نوم دی د یو مکتبه فکر یا سکول أف تهاټ نوم دی چې په مغرب کښې د یو تحریک په شکل د کلاسیکي قیدونو په ضد یی د فکري ازادی په تناظر کښې سر ښکاره کړی وو خو داخلیت مبالغه او د تخییل پرواز یی دومره بې مهاره شو چې د زمکې په ځایی یی د اسمان سیلونه شروع کړل نو د رومانویت په ضد کښې د حقیقت پسندی یعنې ریيلزم او مقصدیت تحریک هم په زور او شور کښې شو.

په ادب کښې انقلابي رنګ او زمکني حقیقتونه څرګندول د دغه ریيلزم موضوع وه چې ترقي پسندو ترې هم استفاده کوله.د رومانتیزم خیالي دنیا او ریيلزم حقیقي دنیا کښې د تضاد او اختلاف باوجو ...انقلاب .. دواړو کښې مشترک وو. درومانویت د نورو توکو فطرت نګاری او حسن کاری سره سره یوه حواله فکري ازادي وه چې انقلاب او فکري بغاوت هم دغه عنصر لرلو خو په بغاوت او انقلاب کښې هم فرق نظر کښې ساتل ضروري دي.باغي یواځې مروجه نظام ماتول غواړي خو انقلابي ورسره نعم البدل هم پیش کوي.نو دغه ټولې حوالې چې فکري دي نو بیا اسلوب نه دی بلکې د اسلوب د یوجز په حیث د اسلوب برخه جوړیدی شي .او دا هم چې انقلاب د زمکني حقیفت کیدلو باوجود یوه رومانوي رویيه ده خو یوټوپیا نه.

Style romanticism and revolution

Many friends also consider romance to be a style that is not correct. Romance is an intellectual reference. The name of a thought or attitude is the name of a school of thought or school of thought that is a movement in the West in classical terms. The antagonism was manifested in the context of intellectual freedom, but the internal exaggeration and the flight of imagination became so uncontrollable that instead of the earth, it began to skyrocket, so .did the realism movement against romance. It was loud and noisy

The expression of revolutionary colors and terrestrial realities in literature was the subject of this realism which was also used by the progressives. Both had in common. Romanism, in spite of the

(c) ketabton.com: The Digital Library



**beauty and beauty of other things, was a reference to intellectual freedom. Revolution and intellectual insurrection also had this element, but it is necessary to keep in mind the difference between insurrection and revolution. Insurgents only want to break the conventional system. So all these references that are intellectual are not style but can be part of style as a combination of style. And also that revolution is a romantic attitude despite being a ground .reality but not utopia**

---

**د مرزا اسدالله خان غالب د مشهور اردو غزل د پښتو ترجمې هڅه مې کړې ده چې شاید دوه شعرونه پکښې کم دي---**

**پښتو ترجمه**

**ګرانه ده ډیره چې هر کار درته اسان ښکاره شي**
**بویه چې زوې د ادم هم درته انسان ښکاره شي**

**دغه مې شوق د لیونتوب دی چې په هره لمحه**
**ورځم پخپله او خپل ځان راته حیران ښکاره شي**

**چې کوم سرور به وي دې قتل کښې بس چپ شه کنه**
**بربنده توره د اختر د میاشت په شان ښکاره شي**

**ما تورو خاورو ته په زړه د ارزو داغ یوړلو**
**ستا به په مخ سرخي په رنګ د ګلستان ښکاره شي**

**ذرې ذرې زخمي زخمي زړه به قرار ومومي**
**چې په هر زخم یی د مالګې پوخ نشان ښکاره شي**

**زه یی چې قتل کړم توبه یی له جفا وویسته**
**خدایه نو څه ووایم اوس که پښیمان ښکاره شي**

**هغه لباس باندې به هم کوم افسوس غالبه**
**چې نصیبه یی د مینو د ګریوان ښکاره شي**

**اردو غزل----**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسکہ دشوار ہے ہر کام کا آساں ہونا
آدمی کو بھی میسر نہیں انساں ہونا
وائے دیوانگئ شوق کہ ہر دم مجھ کو
آپ جانا اُدھر اور آپ ہی حیراں ہونا
عشرتِ قتل گہِ اہل تمنا، مت پوچھ
عیدِ نظّارہ ہے شمشیر کا عریاں ہونا
لے گئے خاک میں ہم داغِ تمنائے نشاط
تو ہو اور آپ بہ صد رنگِ گلستاں ہونا
عشرتِ پارۂ دل، زخمِ تمنا کھانا
لذت ریشِ جگر، غرقِ نمک داں ہونا
کی مرے قتل کے بعد اس نے جفا سے توبہ
ہائے اس زود پشیماں کا پشیماں ہونا
حیف اُس چار گرہ کپڑے کی قسمت غالبؔ!
جس کی قسمت میں ہو عاشق کا گریباں ہونا

---

جاپاني صنف هایکو او غلط فهمۍ

د هایکو په حقله زمونږ دانشور وايي چې په دریو مصرعو کښې لیکلی شوی نظم هایکو وي که بحر یې هم هر څنګه وي ---- خو اصلي خبره داسې نه ده---- د هیرالډ ګولډ هینډرسن د څیړنې تر مخه هایکو د زوړ جاپاني صنف رینګا نه رابیل شوی وړومبی بند دی چې وړومبی د هوکو په نوم بیا د هایکایي په نوم او بیا د هایکو په نوم یاد شو---هایکو ته نزدې په جاپاني ادب کښې د --چوکو-- ---ټانکا--او--هایکا--په نوم صنفونه د هایکو نه مخکښې موجود وو-- او د-- ټایکي--په نوم صنف د هایکو نه پس پیدا شوی دی---چې هایکو ته نزدې دی---

په جاپاني ادب کښې هایکو خپل مخصوص فارمیټ او مخصوص بحر لري---فارمیټ یې هلته د دریو مصرعو نه دی بلکې هلته هایکو یوه مصرعه ده چې په دریو برخو تقسیم ده---بحر یې نه خو لکه د اردو فارسۍ د فاعلاتن فاعلات دی او نه لکه د پښتو او انګریزۍ د سیلابونو دی---هلته د وزن د پاره د --ان--- او---مورا سسټم دی---ان یې اوږدې چپې ته وایي او مورا لنډې چپې ته----نو داسې وګڼۍ چې د یوې اوږدې مصرعې یوه هایکو په دریو برخو کښې د پنځه--اووه--پنځه---په ان یا مورا کښې راځي----د دغه فارمیټ او بحر نه خارج نظمونه جاپانیان پخپله هم هایکو نه ګڼي---هغوي ورته بیا-- سینریو-- وایي چې دغه سینریو سره په معنوي حواله د طنز او مزاح عنصر هم شریک شي---

هایکو دریو بیلو مصرعو او د خپلې خوښې بحر ته انګریزي ادب راوستی ده چې د چاپاني هییت نه یې انحراف کړی دی او بیا د دغه انحراف پیروي زمونږ د پښتو په شمول نورو ګنو ژبو هم کړې ده ---جاپانیانو چې هم یوه مصرعه کښې د پنځه اووه پنځه یعنې ټوټل اوولسو چپو یا مورا نه په کم بحر کښې کومې هایکو لیکلې دي نو دغې ته یې ازادې هایکو هم وییلي دي خو شمار کړې یې بیا د هایکو په ځایی په سینریو کښې دي---

اردو دانو هم دغه د بحر او فارمیټ نه خارخ هایکو ته --ثلاثي--ویيلي ده یا یې نور نومونه ورکړي دي---خو مونږ پښتانه ښه په چرت کښې پردی صنف په خپل فارمیټ او د خپلې خوښې په بحر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کښې لیکو او نوم ورته هم هغه د جاپانی هایکو ورکوو---نو که نور چا زمونږ تپه د خپلې خوښې په بدل فارمیټ جدا مصرعو او جدا بحر کښې ولیکله او بیا هم وایي چې دا تپه ده نو دا خو ورسره نه منو---که زمونږ د رباعی مخصوص بحر څوک بدل کړي نو ورسره به یې ونه منو---خو جاپانی هایکو سره په خپله خوښه هر څه روا ګڼو او لا د پاسه پرې دا چې د خپلې سرزورئ وکالت هم کوو---**

---

**شعریت او شاعري**

**د شعریت توری هر څو که د عربی د-- شعر-- په مناسبت اردو او نورو ژبو ته راغلی دی خو دا په عربی کښې مستعمل نه دی ځکه چې دغه توري د شعر د لغوي معنی نه د اصطلاحي مفهوم پورې یو اوږد سفر کړي دی.مروجه معنا خو یی د شعر حسن زړه راښکون او شعري لطافت ده.خو د شعر ابتدایی بنیادي او لغوي معنا ده پوهه او شعور.-شعر چې په عربی کښې په زبر-شَعَر-ولیکلی شي نو معنا یی شي-ویښته یا ریښمي کپړه.دا توری که په عربی کښې-- شعرا-شي نو مطلب یی شي -روښانه غټ ستوری--او که دا په عربی کښې --شِعار-شي نو مطلب یی شي-علامې---خو په عربی کښې --شعر --په اصطلاحي معنو کښې داسې کلام د پاره استعمال شوی دی چې پکښې مبالغه او دروغ ګویی وي--د قران په سوره الشعرا کښې په هم دغه د مبالغې او دروغ ګویی په معنو کښې راوړلی شوی دی چې دا مبالغه په نظم کښې هم کیدی شي او نثر کښې هم خو مونږ په عمومي توګه صرف منظوم کلام ته شاعري وایو چې دا درسته نه ده.همدغه د مبالغې او دروغ ګویی مفهوم چې د منفي نه د مثبت معنو په لور سفر کړی دی نو ښه شعر هم هغه ګڼلی شوی دی چې پکښې مبالغه او دروغ ګویی زیاته وي-فارسي کښې د ښه ښعر وصف دا بیان شوی دی چې ---احسن اوست که اکذب اوست--یعنې ښایسته شعر هغه دی چې پکښې دروغ زیات وي-دغه د مبالغې او دروغو غیر حقیقي لفظي تصویر ته د فن په ژبه کښې تخیل وایی-نو ګویا که په نثر کښې هم لوړ تخییل او لفظي تصویر پیش کړی شي نو دا به شاعري یا شاعرانه نثر وي او یا به دغه نثر هم شعریت لري-ځکه چې د نثر ضد شاعري نه ده بلکې منظوم کلام دی او هر منظوم کلام شاعري نه وي او نه پکښې شعریت وي-دا عمل د مشرق نه علاوه په مغرب کښې هم دی---مغرب کښې د--- پویټري ضد --پروز---یعنې نثر نه دی بلکې-ورس---یعنې --منظومه-- دی . ځکه خو هلته پروز پویټري یعنې نثري شاعري رواج لري-څکه خو کالرج ویلي وو چې شاعري د نثر نه بلکې د سائنس ضد ده ځکه چې سائنس کښې مبالغه او دروغ نه وي-مډلټن مری هم ویلي دي چې شاعري د جذبې د شدت نوم دی---نو دا هر څه خو په نثر کښې هم کیدی شي-او بیا په منظوم کلام کښې هم که دا هر څه نه وي نو بیا خو د منظوم کیدلو باوجود شاعري نه ده چې تخییل نه لري یا شعریت نه لري-نو اوس په هر لحاظ پوره دې منظوم کلام ته به څنګه شاعري ووایو چې**

**د لرګي کټوئ کښې ځيز کله پخیږي**
**چې د ځيز نه کټوئ مخکښې وسوزیږي**
**منظوم کلام خو دا هم دی چې**
**ایک دونې دونې**
**دو دونې چار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مقابله کښې یی د همیش خلیل صیب د افساني.. ډیوه مړه شوه... د اختتام جمله وګورئ چې
څومره شعریت لري چې غریبه ښایسته پیغله ..ډیوه ..چې د یو جاګیردار د هوس ښکار کیږې او
هغه یی بالا خانې ته رسوي نو د افسانې وروستی جمله داسې وي...
په دغه حقله زما د ذهن ډیوه لا نه وه بله چې د بالا خانې ډیوه مړه شوه.

---

اسلوب او ډکشن.....
زمونږ ډیر ادب پوهان دغه دواړه توري د یو مفهوم د پاره کاروي کله اسلوب ته ډکشن وایی او کله
ډکشن ته اسلوب وایی.ډکشن د انګریزی توری دی چې په لیک او ادب کښې یواځې د تورو انتخاب
او مناسب استعمال ته وایی یعني زبان وبیان.خو اسلوب د لیک یا فنپارې د دواړو اړخونو احاطه
کوي یعني خیال فکر مضمون موضوع او ماهییت سره سره د ژبې بیان تورو انتخاب او د فنپارې
هییت هم نظر کښې ساتلی شي.ګویا اسلوب د هیت او ماهییت ګډون دی او ډکشن یواځې هییت.
اسلوب عربي ده چې انګریزی کښې ستاییل دی.دعربی سبک هم دغه مفهوم ادا کوي چې فارسی ته
هم راغلی دی. داسلوب او سبک دواړو لغوي معنا ده اوسپنه یا دهات ویلې کول او نوی شکل
ورکول.دغسې چې خیال فکر او مضمون هم ویلې کړی شي او دتخییل په زور نوي شکل کښې
وړاندې کړی شي نو دې ته د لیکونکي اسلوب یا سبک وییلی شي چې انفرادیت هم ولري.دغه
اسلوب دپاره د اظهار د طرز انداز روش سلیقې او طریقې نومونه هم مروج دي .په سنسکرت کښې
ورته شیلي وییلی شي چې د ..شیل... نه جوړ دی او شیل هم هغه ویلې کولو او نوې سانچه کښې
اچولو ته وییلی شي. خو ډکشن یواځې د سانچې یا لوښي نوم دی چې په لیک او ادب کښې یی
محض د الفاظو د انتخاب او مناسب استعمال یا زبان وبیان سره نسبت وي خیال اوفکر په دغه
سانچه یا لوښي کښې پیش کولی شي.....کاظم خان شیدا وایی کنه.
مضمون دشعر لکه پیکر وي
رنګین الفاظ یی رخت و زیور وي
ورته ضرور دي دا دواړه څیزه
پیکر که هر څو دلربا تر وي.

---

استاد ګوهر رحمان ګهر مردانوي ډاکټر حنیف خلیل ته منظومه ډالۍ په فارسی ژبه کښې پیش کړې
!! ده، تاسو ئې هم ولولئ

لائق و فائق معلم خاکسار
بنده ئے خاکش یګانہ روزګار

مصلح ناقد ، محقق باکمال
صاحب کردار۔ مرد بیمثال
قابلِ عزت۔ برای نونهال
نی یکی ثانی بهم شد برمهال

مقتدر،مخلص، صفاتٍ بیشمار

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مشفق و مونس عزیزم کار دار**

**مکتبِ عالی  برای تشنگان**
**بابصیرت، باہنر چون مهربان**
**عاقل و دانا فقط عالم  یگان**
**یک درخت سبزیخمش سائبان**

**فطرتِ خالص طبیعت بردبار**
**یک حنیف ابن خلیلٍ ذی وقار**

**دیدهء بینا اگر پیدا شود**
**یا دروں سوزِجگر پیدا شود**
**جذبها بارِ دگر  پیدا شود**
**باسیانِ خوش نگر پیداشود**

**شهرِ عرفان رهنما  سینه  فگار**
**در  دلانِ  نابغه  ای  روزگار**

**من پیاده ئے ادب هستم اخیر**
**پیش کردد گرچه نذرانه حقیر**
**نی نوشتہ نی  کلامِ  دل پذیر**
**خادم گوهر قفط  ادنی  سفیر**

**احقر و ناقص فهم من  نابکار**
**گر خطا باشم،حقیرِم خواستگار**

**ختم شد**

---

**په کلام د شیدا پوه شو کودن کله**
**که هر حرف یې په زړهٔ پروت لکه نګین دی**
**وضاحت....کلام نه مراد خبرې هم دی خو دلته ترې مراد شاعري ده....**
**کودن یعنې ناپوهه بد ذوقه غبي د شعر له خونده ناخبره جاهل...**
**نګین یعنې غمی ملغلره قیمتي څیز....**
**شیدا خپل شعر ته نګین غمی یا ملغلره وایی.او د داسې قیمتي ملغلرو قدر بدذوقو سره نه وي.نګین یا غمی چې ګوتمه کښې لګولی شي . نو دا عموماً په کاڼي یا تانبه وغیره کښې ځایې کولی شي لکه د کاڼي په زړه چې ایښودلی شي او کاڼی یا تانبه خو سخت وي جذبات نه لري ځکه ورسره د نګین قدر هم نه وي .د کودن یا بدذوقه جاهل زړه هم لکه د کاڼي وي د ملغلرو غوندې قیمتي کلام پرې هم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثر نه کوي ځکه شيدا د خپل کلام يا شاعرئ د پاره هم وايی چې دا غمی يا ملغلره هم د کودن په کاڼي زړه داسې پرته ده چې هيڅ اثر پرې نه کوي او نه يی د قدروقيمت نه خبر دی ـبيخي همداسې لکه د ګوتمې په کاڼي چې ملغلره يا غمی لګيدلی وي خو کاڼي يی د قدروقيمت نه هډو خبر نه وي۔نو په داسې حال کښې که د شيدا د کلام هر حرف د کودن په زړه پروت وي خو هغه يی په خوند او قدروقيمت چرته پوهيږي لکه نګين چې ګوتمه کښې د کاڼي په زړه پروت وي خو د قدر نه يی ناخبره وي ځکه چې کاڼی وي-- نه خو جذبات لري او نه ذوق۔

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**